پښتنو ته ادبي سوغات

د خوشحال خان خټك مَرغَلرِي

قندهار ۱۳۱۷

عبدالحي حبيبي

د خوشحال خان خټك کليات

دا د پښتو لُومړی ادبي اثر، دَ پښتون ټولواک اعلحضرت محمد ظاهر شاه په عصر کښ په امر دَ ع، ش سردار محمد داود خان د قندهار ملکي او لښکري مشر، په هغو مصارفو چه دَ دارلحکومگي په واک کښ دِي، د قندهار په مطبعه کښ په تصحيح او تحشيه او احتمام دَ عبدالحی حبيبي مدير دَ طلوُع افغان چاپ او خپور شوُ.

دا کتاب له څلوروُ قلمي او ټولو چاپي نسخو څخه په ډير زيار نقل شوي، او تر پخوانيوُ چاپي نسخو خورا بشپړ او ډېر دي.

قندهار. غويی ۱۳۱۷

له ویونکو سره یَو څو خبري

د خوشحال خان خټك مرغلرى، یعني دَ پښتو دَ یوه نامتو او توریالي مشر وېناوي او اشعار لکه دَ پښتو ژبي نور خواږه او گرانبها ادبي آثار چه ورک او په هر گوټ کښ چه پاته دي دغه کتاب هم ورک او دَ پښتنو څخه لیري پاته وُ.

که څه هم په پښتونخوا کښ هري خوا ته د دې مرغلَروُ لاړونه یعني دَ خوشحال خان قلمي کلیاتونه او دېوانونه ډېر وه مگر بشپړ او صحیح دَ پښتنو له خوا نه وه چاپ او خپاره شوِي.

دَ پښتو دَ اوسني نسل ځلمو او دَ ملي ژبي پوهانو او قدر پېژندونکو چه دا دَ ژبي گرانبها ادبي اثر ور معلوم وُ، هر کله بې زړه غوښته چه نشر او خپور شي! او ما دا ډېر کلونه دغه ارمان په زړه کښ درلود.

دَ ۱۳۱٦ په دوبي کښ یوه ورځ دَ دغه اثر ذکر په قندهار کښ د دې ځاي د ځلمي او پښتون مشر والاحضرت سردار محمد داود خان په مخ کښ وشو، ځکه چه دُوي دَ پښتو ژبي دَ ژوندُون او خپورتیا سره دَ زړه مینه لَریي، نو ئې امر وفرمایه ، چه دغه کتاب دِ چاپ شِي، او مصارف دَ چاپ ئې هم له خپلي خوا ورته منظور کړه.

ما چه په کلو کلو دغه ارمان په زړه کښ درلود، ژر مي دَ دغه کتاب ډېر قلمي او چاپي نسخې له هره خوا سره را ټولي کړې (چه تفصیل بې په لمړېو مخو کښ دَ کتاب وکړم) او تقریباً یو کال مي د شپې او ورځي زیار وکېښ، چه ټوله نسخې مي سره مقابله کړې، او یو جامع او بشپړ اثر مي پښتنو ته وړاندي کي، که څه هم دغه کتاب به له اویا کلو څخه څو واره په هند کښ چاپ شوي دي، مگر یو بشپړ او صحیح نه وُ، دغه نسخه چه اوس پښتنو ته وړاندي کېږي، حتی المقدور بشپړه ده او یو بیت هم له قلمي نسخو څخه ندی پاته شوي، چه دلته نه وي راغلي.

په تصحیح کښ ئی ما هم ډېر زیار وکښل، ردیفونه مې برابر کړل، املا مي حتی المقدور سمه کړه او ځني گران لغات مي حل کړل، هغه چه زه نه په پوهیدم هغه مي پښتنو وروڼو ته پرېښووه. دا دي چه زه لمړى خوشحال خان په تاسي پېژنم، او د ده د ادب مقام در ښیم وروسته نو د ده مرغلري در وړاندي کوم، که څه غلطی را څخه پیښه شي، ښاغلي پښتانه چه بخښنه او ښندنه د دوی د پښتونوالي پلارنی مېراث دي، ما به وبخښې، د پښتونوالی په روڼه دنیا کښ ما ته دغه خوښي او افتخار بس دي، چه د پښتني لُمړى ادبي اثر پښتنو ته وړاندي کوم، او د پښتو او پښتونخوا په ادب کښ، په یوه کوچني خدمتگوټي ویاړم، او له دې ځایه د پښتو د پلار خوشحال خان ږغ په هغه شپېلی کښ پوکم، چه یو وخت ئې پښتانه په خواږه ږغ د مېني په نڅا او اتڼ کښېوته، او د لویو غرونو په درو کښ به ئې د خپلي مېني د عشق سندري ویلي، او د خپلي پښتونوالي انگروزه بې پر جهان پرې یسته!

هیله لرم چه ښاغلي پښتانه دغه زما زیار او مېښود، د نمنځني په سترگو وویني، او د پښتنوالي په دود ئې ومني ولي چه ما د دغه ادبي اثر په نشر کښ ډېري شپې وهلي او ورځي مي تیري کړي دي.

قندهار، دَ خواجه کلی، د کب شلمه شپه ۱۳۱٦
عبدالحی حبیبي د طلوع افغان مدیر او لیکونکي

هغه قلمي او چاپي نسخې چه دا کتاب ځني بشپړ شوي دئ:

د دې ادبي اثر د بشپړتيا او تکميل دپاره موږ هري خوا ته پلټنه او پوښتنه وکړه، او چاپي او قلمي نسخې مو را ټولي کړې، په چاپي نسخو کښ خو اساس او اصل هغه نسخه ده، چه په ٦٠٧ مخ کښ تقريباً اويا کاله دمخه په ۱۸۷۰ عيسوي کال له ۱۲۸۷ هجري د ډاکټربليو انگليس مستشرق له خوا د ده په تصحيح په اهتمام د سلطان بخش دا روغه د پېښور په جېلخانه کښ د هوې قلمي نسخې له رويه چه د افضل خان خټك په تصرف کښ وه، طبع او نشر شوې ده.

تر دغه وروسته چه ټولي نوري نسخې په پيښور کښ د دغه له رويه چاپ شوي دي، هر چا له ځانه لاس پکښي وهلې او تقريباً اصل کتاب ئې ورک کړي دي، موږ دغه نسخه اساس وگرزوله، او جناب امين الله خان زمريالي د کابل د پښتو ټولني عضو چه دغه نسخه ئې درلوده، موږ ته ئې راکړه،

دغه نسخه موږ د څلورو نورو قلمي او خوشخطو نسخو سره مقابله کړه، زوائد مو ټوله وليکل او هر ځاي مو زائد بيت ته چه په چاپې نسخه کښ نه وُ، په دې علامه (×) اشاره وکړه، او زياتي بدلي او رباعيات مو بيل بيل د کتاب په حاشيه کښ وښوول، اختلاف د نسخو مو حتی المقدور په حواشي کښ وليکه د قلمي نسخو تفصيل دا دي:

(۱) مهمه نسخه چه په تقريباً ۱۵۰۰ مخ کې پر اعلا زاړه کاغذ خورا خوشخط په ۱۱٤۲ هجري کال په اتلسم د جمادي الثاني د شيخ محمد اعظم نومسلم په خط په امر د اسد خان ليکلې شوې او بيا ملا عبدالحليم نامي حاشيه پر ليکلې او مشکلات ئې حل گړي دي.

دا نسخه په ترتيب کښ له نورو سره سمه ده، د ليکلو ځاي ئې ندي معلوم، په املا کښ هم له نورو قلمي نسخو څخه فرق نلري، د ځنو لغاتو په حل کښ موږ له دغي نسخې څخه کومك اخستي، او حواله مو ورته کړې ده، دا نسخه څلوېښت کاله پسله وفاته د خان ليکلې شوې ده.

(۲) دوهمه قلمي نسخه په تصرف د ع،ج، ا، ا نښان محمد گل خان وزير صاحب داخله ده چه ډېره خوشخطه او صحت ته نيژدې ده، دا نسخه په قندهار کښ ليکلې شوې ده، اما د ليکلو کال او ليکونکي ئې ندئ معلوم. ډېر زواېد هم لري، په خط او املا او ترتيب کښ له نورو قلمي نسخو فرق نلري.

(۳) دريمه نسخه په تصرف د پښتانه فاضل جناب مولوي ابو الوفاء صاحب قندهاري ده، چه موږ ته ئې له حيدر آباد دکن را ولېږله، دانسخه که څه هم په خط کښ تر نورو پاته ده، اما ډير زوايد لري او اکثر بيتونه ئې په نوروُ کښ نشته، او بشپړ ښکاره کيږي، د دې کتاب قطعات په غره د شعبان ۱۱۷۰ کال ، او رباعيات ئې په ۲۷ د ذيقعده ۱۱۷۱ کال او غزليات ئې په ۷ د ذيقعده ۱۱۷۱ کال او قصايد ئې په ۲٤ د شعبان ۱۱۷۰ هجري کال ليکل شوي دئ، د کتاب ليکوني ندئ معلوم، مگر د شاهجهان پور په ښار کښ ليکل شوي دئ، او دا ښکاره کيږي چه کاتب ئې په پښتو نه پوهېدې، محض ئې نقل اخېستي دئ، ولي چه ډېر ځاېونه سهو او خطا لري.

(٤) څلورمه نسخه په تصرف د جناب حاجي احمد على خان هوتك د قندهار وه، چه خورا خوشخطه او صحيح وه، ترتيب او ليك او املا ئې لکه نوري قلمي نسخې هغسي دي، فرق نه سره لري د کتاب د ليکلو کال او کاتب ئې ندئ معلوم.

تشکر

دلته به بې ورِه نه وئ، چه موږ له دغو محترمو پښتنو څخه چه خپلې قلمي نسخې ئې د نقل او مقابلې او سمون دپاره موږ ته را لیږلي دي، تشکر وکړو، او دا د دوي کومك په احیاء کښ د دې اثر، د پښتنوالي او پښتو غوښتو له پلوه د خوښی او تشکر په سترگه ووینو، چه د دې کتاب په نشر کښ دوئ لو برخه لري.

د کتاب ټوکونه

د خوشحال خان کلیات په اصلو قلمي نسخو کښ هم څلور ټوکه دئ، موږ هم پر هغه اساس سم چاپ کي لکه له فهرسته څخه چه څرگندیږي، لمړی ټوک ئې غزلیات دي، دوهم ټوک قصائد دي، دریم ټوک رباعیات او څلورم ټوک قطعات او متفرقات دي.

تعداد او زوائد

په دغه کتاب کښ د ډکټر ډبلیو بلیو انگلیس تر چاپي نسخه ۸٤ بدلي، او ۲۰۷ رباعیات او ۵ قصائد او مجموعاً ټوله ۱٤۰۰ بیتونه تر چاپي نسخه زیات له قلمي نسخو څخه را نقل شوي دئ. له دغه جهته نو موږ دا وېلاي شو، چه دا نسخه بشپړه ده، او تر اوسه د خان کلام په دغه بشپړتیا چا ندئ نشر کړي او نوري ټوله نسخې علاوه پر غلطی او اړولو د اصلي الفاظو لږ او کمي هم دي. او دغه نسخه له هره حیثه بشپړه گڼله کیږي.

غلطنامه

ځني سهوي او غلطی چه په مطبع کښ پېښې شوي دئ، په پاي کښ د کتاب ئې موږ غلطنامه هم ترتیب کړې ده، پښتانه به لمړی کتاب د علطنامې له رویه سم کړي، بیا به ئې نو ولولي.

ځني گران کلمات

د کتاب ځني گران لغات او کلمات موږ حتی المقدور حل کړه، او حاشیه مو پر ولیکله، د ع،ج، وزیر صاحب داخله سیند او د جناب راحت الله زاخیلي پښتو لغات، او د پښتو مرکې د قاموس یوه برخه چه زموږ څخه شته، او زموږ خپل له لغوي پښتو یاداشتونو څخه، خلاصه په هره توگه چه کوم لغت حل کیدي، ترجمه مو ورته وکښله.

سره د دغه هم ځني بیتونه او ځني کلمات دغسي حل طلب پاته شوه، چه بیتو ته مو (ح) لیکلې ده او په پاي کښ د کتاب مو یو د نادره جدول هم زیاتي کي، او هغه لغت چه د کتاب په ټولو مخو کښ راغلي دي موږ ئې مخ وښووي او د حل

طلبو لغاتو ترجمه مو پښتنو ته پرېښووه، ګُندي پښتانه داابيات او لغات حل کړي، او په دوهمه طبع کښ بيا ترجمه سره وليکي. هيله لرم، چه پښتانه له دې قصوره ما معاف کاندي.

د کتاب املا او رسم الخط

تر اوسه چه ما د خوشحال خان ياد دده د کورنی د ادباوُ قلمي دېوانونه ليدلي، ټوله په متحد رسم الخط او املا ليکلې شوي دي، داسي ښکاره کيږي، چه په هغه وخت کښ دغه املا مروجه وه، دوي د پښتو مخصوص حروف داسي ليکلي دئ:

ټ = طء مثلاً ټول = طول

څ = ثح څوک = چوک

ځ = ءح ځما = حما

ډ = ذٔ ډېر = ذٔېر

ړ = رٔ زړه = زرٔه

ڼ = نٔ رڼا = رنٔا

علاوه پر دې د (ښ) او (ږ) حروف لکه پارسي (ش) او (ژ) ليکي او د کاف او ګاف فرق هم نه کوي، د خوشحال خان ټوله قلمي دواوين او د عبدالقادر خان او علي خان او کاظم خان او اشرف خان هجري، چه ټوله له خان پښته دي، ديوانونه ئې ټوله په دغه املا ليکل شوي دي او رسم الخط د ټولو هم پارسي نستعليق دئ نه عربی، علاوه پر دغه د کتاب د املا په خصوص دا لاندينې ملاحظات وګوري:

(١) ئې چه ضمير د غايب دئ، په همزه بې ټکو ليکل شوې او (ی) يعني هستي چه له افعال ناقصه څخه ده مخاطب مخصوص دي په ټکو بې همزه ليکل شوي دي، مګر په ځنو ځايو کښ د مطبعې خطا په سبب د دغه کلمې سره ګډ شوي دي. ځکه چه له موقع څخه ښکاره کيږي، نو به ګُندي ويونکو ته اشکال نه پېښوي، په نورو ځايو کښ د دې دوو کلمو د شکل تميز شوې دئ (ئې، يی).

(٢) مفغن کلمات ټوله په پښتو املا او مفغنو حروفو ليکل شوې دئ، لکه کميس، کيسه، وخت او نور، چه په پيړيو پيړيو پښتنو دغه کلمات پخپله ژبه کښ را اړولي دي، او په قلمي نسخو کښ هم دغسي ليك دي.

(٣) کلمه د کښ د پښتو له ظرفی کلماتو څخه ده. په ټولو قلمي نسخو کښ په ياء (کښې) ليکلې ده، مګر اوس بی ياء مروجه ده، نو په هغه ځاي کښ چه قافيه نه ورانېده، موږ کښ بې ياء وليکله، او د ياء په قافيه کښ مو مجبوراً کښې د ياء سره وليکل، چه ترتيب ئی وران نشي.

(٤) ځني کلمات په اختلاف د محاورو لږ څه تغيير کوي، يا ئې املا ډېر فرق نه کوي، نو ئې املا پر يوه ډول نده راغلې. مثلاً ګوته، ګته، څو، سو، جنځي، چنجي، ورځه، وروځه، روييار، رېبار، توکي، توګي، ځکه چه دواړه محاورې ئې صحيحي دي، نو زما په عقيده دا اختلاف د املا ئې هم پروا نلري.

(٥) کلمه د خپور کله کله پر جلا محاوره برابر (خور) ليکلی او جمع ئی خواره راغلې ده چه له موقعه ښکاره کيږي، ځکه چه خور دوې معناوي لري او مورد د اشتباه لوېږي، نو موږ ئې املا خپور غوره کړه. که کوم ځاي خور ليکل شوې وي، تصحيح دي وشي. دغسي هم سپور په معنا د سوار کله کله سهواً سور ليکلې ده ځکه چه د سپور کلمه غوره ده، نو که

پښتانه تصحيح وکړي، ښه به وئ! ولي چه سپور وضعي، او سور تقريباً د مفغن شکل لري. دغسي هم کلمه د زر يعني زور که څه هم د ختيکو محاوره ده مگر په ځنو ځايو کښ چه اشتباه پېښېده، موږ ئې د قندهار محاوره ژر وليکله چه محل د اشتباه نه وُ، هلته زر هم راغلې ده.

خوشحال خان خټك

خوشحال خان خټك څوك و؟

خوشحال خان زوی د شهباز خان زوی د یحیی خان زوی د ملك اكوړي زوی د درویش محمد (مشهور په چنجو) زوی د تمن (اتمان) زوی د حسن زوی د شیخ علی زوی د عطا (هوتي) زوی د پټي زوی د اتو زوی د برګوېټ زوی د تري زوی د تورمان زوی د لقمان (مشهور په خټك) زوی د برهان زوی د ككي زوی د كرلاڼ دی، چې د خټكو په روایت د كرلاڼ (كرړان) پلار هوني نومېدی، او هوني د سړبن څخه بولي، ځیني مؤرخین یې د عبدالله اورمړ زوی ګڼي[1].

خوشحال خان په كرلانو كي یو صحیح النسب پښتون دی، چې د پلار او نیكه څخه د خټكو مشر او خان و، د ده پنځم نیكه ملك چنجو د مغولي اكبر پاچا په عصر كي (٩٦٣ _ ١٠١٤ هـ) په پښتنواله مشهور و، ملك اكوړی د ده زوی هم لكه پلار یو نومیالی پښتون و، چې د اكبر پاچا او د مغولو د امپراطورۍ له خوا د خپل قوم او د دغه ځای د پښتنو ملي مشر ګڼل كېدی، او د كابل د لاري ساتنه په ده اړه درلوده، ده سرای ودان كی، چې اكوړه یې هم بولي، تر ده وروسته یحیی خان او بیا یې لمسی شهبازخان د شاه جهان په عصر كي د پښتنو مشهور سردار او نامتو خان و[2] چې د مغولو تر امپراطورۍ لاندي یو امیر او د پښتنو مشر ګڼل كېدی.

تولد :-

د جهانګیر مغولي پاچا په عصر كي (١٠١٤ _ ١٠٣٧ هـ) چې شهباز خان د (٢٢) كالو و، د ده په كور په اكوړه كي په ربیع الثاني د ١٠٢٢ هـ كال سم له ١٦١٣ ع كال خوشحال خان وزېږېدی، چې وروسته نو دا سړی یو نامتو پښتون او غیور سردار سو، او په دنیا كي د پښتنوالي او د پښتو د ادب یې یو لوړ نوم پرېښو.

ملي مشر خوشحال خان :-

د خوشحال خان پلار شهباز خان خټك په ١٠٥٠ هـ كال چې عمر یې پنځوس كاله و په یوه جنګ كي د یوسفزو ټپي او په پنجشنبې اول د شوال وفات سو [3] د پلار تر مرګ وروسته د خوشحال خان درې نور كوچني وروڼه وو، جمیل بېګ، شمشېرخان، میرباز خان، مګر دی د مشرتوب له پلوه د قوم په خانۍ او سردارۍ وټاكل سو، او ټوله اولس په مشرتوب ومانه، شاه جهان مغولي پاچا هم دی د پښتنو خان كی، او د مشرتوب فرمان دده په نامه له ډهلي څخه صادر سو[4]، شاه جهان چې د خوشحال خان قدر او احترام په ښه ډول كاوه، او په مغولي دربار كي یې ډېر نفوذ او اقتدار درلود[5]، د اجمیر په جنګ كي چې د تاراګډهـ كوټ هیڅ چا نسوای فتح كولای، توریالي خوشحال خان دا كوټ مات كړ، او په لاهور كي د شاه جهان له حضوره څلور لكه روپۍ انعام وركړه سو، او د دوه نیم لكو روپو پټي وروبخښل سو[6].

خوشحال خان كه څه هم د مغولي دربار تر اثر لاندي و، او د مغولي پاچهانو په اطاعت یې ځان مكلف ګاڼه مګر ده د خپل قوم په منځ كي بشپړ استقلال درلود او د مغول مریي توب یې هیڅكله د خپل قوم له پاره نه خوښاوه، شاه جهان هم فقط د پښتنو آرامي غنیتمت ګڼلې او د دوی داخلي آزادي یې نه ور ورانول، خان پخپله وایي :-

د هـــــــغه دور پاچا و
قدردان شاه جـــــهان
د پلار ځای یې و ما راکړ
په اولس سوم حکــــمران
که د توري که د ورکـــړي
هیڅ مي پرې نښو ارمــان
واړه دېرش زره خټك دي
درست زما دي په فرمان
درست خټك ځما په دور
نامــور ســـــو په دوران

مگر تر شاه جهان وروسته چي د ده زوی اورنگزېب عالمگیر خپل پلار بندي کړ او نور وروڼه یې یا مړه یا مغلوب کړه او په ١٠٦٩ هـ کي پاچا سو، ده د خپل پلار طرفداران او درباریان ټوله ورکول، نو خوشحال خان خټك د پښتنو ملي مشر هم چي د شاه جهان له ملگرو او مقربانو څخه و، او اورنگزېب بېرېدی چي مبادا دی به د شاه جهان د خلاصۍ کوښښ وکي، نو یې وغوښته چي پښتانه مخذول کړي او خان هم ورك کړي.

پښتانه خو طبعاً آزادي غوښتونکي دي، او بل چاته سر نه کښته کوي، او پر خپل استقلال مین دي، خاص بیا خوشحال خان چي یو
صحیح پښتون سردار و، نو اورنگزېب خو دی په قوت سره نسوای ماتولای، له دغه جهته یې دروه او ټېټال ورسره وکړ، او خان یې په غوړه ژبه او احترام خپل دربار ته وغوښت، له بلې خوا یې د ده خپلوان
هم د خانۍ او منصب په ژمنه او رشوتو او روپو وغولول چي خان د پاچا دربار دهلي ته ورواستوي، خوشحال خان که څه هم ډېر پوه او تجربه
کار سړی و، مگر د پاچا په عهد او قول او د خپلوانو په اصرار وغولېدی، او یوازي پېښور ته ولاړی، د پېښور حاکم د مغولي دربار په نغوته دی بندي کړ، او تحت الحفظ یې دهلي ته واستاوه، خوشحال خان د روژې په منځ کي د ١٠٧٤ کال دهلي ته ورسېدی او دا د پښتونخوا د بڼ خوشنوا بلبل، هلته دمغولو په بند کي تر څلورو کالو پوري بندي پاته سو، که څه هم د ده قوم په اتفاق د ده د خلاصۍ له پاره ودرېدل او غوښته یې چي مسلح حرکت په دې باب کي وکي، مگر خان دوی منع کړل، او له جنگه یې وگرځول.

خوشحال خان خپل د بند حوادث په یوه حبس نامه کي چي (٢٢٠) بیته ده ویلي دي او په خپل بند کي یې د وطن په بېلتون کي ډېري سوځوونکي نارې او غلبلې وهلي دي :

د هیواد یاران مي هر زمـــــان یادیږي
چي یې مخ په خـوب کي ووینم وویاړم

خوشحال خان څلور کاله په ډهلي او رنتهبور کي بندي و، وروسته نو ایله سو اما هره ورځ به دربار ته حاضرېدی او د وطن د تگ اجازت یې نه درلود په دغه حال کي داسي شکوه کوي (٤ د رجب ١٠٧٧ هـ) :-

هـــــــره ورځ ورتله دربار ته
گــــــــوره دا څه مشقت دی
د بل حـــــكم پرې زندان سي
چي پر خپل حكم عادت دی
نه شيرين خواږه ياران سته
نه د چا ســـره صـحبت دی

په پای كي خوشحال خان په اگره كي په ملگري د خپلو خپلوانو فرصت وموندی او خپل وطن ته راغی، دلته نو بيرته خپل قوم پر ده راټول سو، او په وارو وارو يې د مغلو سره سخت او لوی جنگونه وكړل، او د پښتنوالي هوډ يې تر سره كړی، او پښتانه يې د خپلي آزادۍ د ساتني له پاره د مغولو په مخ كي ولاړكړه، مگر د يوې خوا د هند د دربار رشوتونو او روپۍ او د بلي خوا د خان د زامنو او خپلوانو نفاق، دی و كار ته نه پرېښو:-

زه غليم د اورنگزېب يم
ســــر په غره په بيابان
زه په ننگ د پښـــتانه يم
دوی نيولي مــــــغولان

مغوليه دربار ډېر مبالغ د پښتنو د بې اتفاقۍ او د خان د ناكامۍ له پاره وشيندل، او د خان زامن يې له ده څخه پر خلاف كړه، خوشحال خان غوښته چي دوی د پښتو ننگه او هوډ پر ځای كړي، مگر دوی د مغولي دربار په رشوتو او روپو له ده سره ملگري نه كوله، او پخپله عياشي بخت وه، له دغه سببه نو خان پخپل كلام كي هر ځای د دوی له لاسه شكوه كوي:

زويو مى خوی د خټكو نور كړ
ځما په نقش يې پوري اور كـــړ
وخت د گــــــــټني د نام و ننگ و
بدو زامنو راڅخه خــــــــپور كړ

خوشحال خان په دغه وخت كي چي دَ مغولو قوا دَ ده په بيرته نيو لو بخت وه هری خواته دَدُوی په مقابل كښ سفرونه اوتبليغو نه كړي دي څوچه په پاكي اورنگزېب پخپله ناچارسو، د ده مقابلې ته راووت.

اورنگزېب پاچا زړه ډك په لاهــــــــــورراغی
گوره كانده به څوك وران څوك به ودان سي

خوشحال خان تقريباً دوه كاله د مغولوله امپرا طورۍگ سره دمړانی مقابله وكړه دوه كاله پخپله اورنگزېب داټك پر غاړه ورته پروت
و:-

اورنگزېب راته يوكال وسو چه پرو ت دی
په صورت حيران پرېشان په زړه افـــكار

په پای کي چي د مغولو پاچا ، په قوه د پښتنو له ما تولو څخه عاجز سو، نو يې د رپو په زور پښتانه سره بېل کړه ، او د خان زامن او خپلوان يې پرده راولاړ کړه :-

خزانې د هندوستان دي راخورې سوي

سره مهران دي ننو زي په کـــــوهسار

خوشحال خان هرځای له خپلوانو او زامنو څخه شکوه کوي، او د مغولو د کامیابی او بري ذریعه هم دوی ګڼي:-

په بل غـشي بل ټوپك ويشتلی نه يم

كه ويشتلی يم خوبيا پخپل ټوپك يم

د خوشحال خان سوانح ټوله په مشقت او تکليف لړلي دي، د مغولی دربار د رقابت او مېرځی تاب په هغه وخت کي بي له دغسي مېړه او ټينګ پښتونه بل چانه درلود،دا ورنګزېب حکم د آمو له غاړي تربحر هنده پوري جاري و، او د مغولو د جهانګيرحرص او شهوت د پښتنو آزادي هم محو کوله، او نې غوښته چه دغه سپېڅلی او غيور قوم پخپلو غرو کي آزاد وي ، نو يې د خان و زو ی بهرام ته د خانی تطميع ورکی، چه خان ګرفتار کړي.

خوشحال خان چي اوس نو سپين ږيری اوزوړ سوی و، خپل مشر زوی اشرفخان متخلص په هجری ئې د قوم خان کړ، مګربهرام خان اشرف خان ونيولی او په ۱۰۹۳ هـ کي يې د مغولو په لاس ورکړ، چي لس کاله په بيجاپورکي بندی و، او آخرهم هوري مړشو[۷].

دلته نو بهرام خان د مغولو د لښکرو په قوت و غوښته چي خپل پلار ونيسی، سره د دغه چي خان خورا زوړ و د (۷۷)کالو و مګر ګرفتاريې نه کړ، او افريدي ته جنی ولاړ[۸] او انزوا يې غوره کړه، په ادبي ژوندون کي يې د کتاب او قلم په ملګري د خپل حيات اواخر تېرول.او د پښتنو په لويو غرو کي يې د ادب او علم په رڼا ژوندون کاوه :-

پسله بند دی دا عــــــــزم

د خوشحال د خـــــاطر جزم

يا نيولی مخ مـــــــــکې ته

يا مــــــــــــغلو سره رزم

يا يو کــــــــنج د غره نيولی

نمونځ، روژه د لــوستو بزم

عالم خوشحال خان :-

خوشحال خان په کوچنیواله کي د خپلی زمانې مروج علوم ټوله ويلي وه، د ده له کلام ښه ښکاره کېږي، چي ده اسلامي علوم لکه فقه، حديث، تفيسر، او نور عقلي او فسقې علوم لکه منطق، حکمت، او ادبي علمونه او د فصاحت او بلاغت اصول لکه معاني، بيان، عروض قافيه او نور ټوله ويلي او عالم و. خوشحال خان سني مذهب مسلمان او حنفي و، دی وائي:-

د مذهب څښتن څلور دي پنځه ندي

حنفي سني مذهب د دين په کــار يم

خوشحال خان په هرکار کي د اسلامي شريعت پيرو و، او د خرافاتو او مزخرفاتو چي په دين گډشوي دي، مخالف و، او هر کله يي په دغه لارکي ښوونه او تبليغ کاوه:-

هر چي شرع فرمايي په هغه کارکړه
مه عمل کـــــوه په رسم په دودونه

علاوه پردې خان په تصوف او روحاني خوا کي معلومات لري چي په نورو مخو کي بې تفصيل و سي.

شاعر او اديب خوشحال خان :-

پښتو شعر ترخان د مخه:-

هغه وخت چي خوشحال خان په دنيا کي د ادب، و پښتو ژبي ته يو مخلد او جاويد خدمت کاوه په دغه وخت کي د پښتو ژبي ادب ډېر محدود و، د پښتو د ادب د ژوندون تاريخ درې برخي لري.

(۱) لمړی دوره خوله ابتداء څخه بيا تر نهم هجري قرن پوري ده، چي په هند کي د مغلو او په ايران کي د صفوي کورنۍ پاچهي وه، تر دغه د مخه د پښتو اشعار ټوله طبيعي او غير مصنوعي وه، او هغه سندري او نارې وې چي د طبيعت تر اثر لاندي به پښتنو ويلې، د اتڼ نارې، لنډۍ، سپرې بدلي، او نور اقسام چي اوس هم سته، د دغه عصر ادبي آثار دي.

(۲) دوهمه دوره چي د مغولي بابر او د هند د پښتنو پاچهانو لودينا نوله آخره عصره څخه (۹۳۰هـ) بيا تر سنه (۱۰۰۰ هـ) پوري رارسېږي، دغه اويا يا اتيا کاله د پښتو شعر نيم مصنوعي دی، يعني نه پوره پرزاړه حال طبيعي دی، او نه پوره د صنعت او عروض او قافيه تر اثر لاندي سوی دی، په دغه دوره کي ډېر ادباء او ليکوونکی شته، لکه.

اخوند دروېزه د ننگرهار، شيخ ملي يوسف زی، اخوندقاسم، ملاالف هوتك،کريم داد، بازيد(پيرروشن) چي د دغوټولو آثار نه پوره عروضی اشعار دي او نه پوره طبعيی.

(۳) دريېمه دوره د پوره عروضي او مصنوعي اشعارو ده، چي پښتنو اديبانو خپل شعرپر عروض اوقافيه او فنو نو د بلا غت برابر ويلي دي ، او له دغه عصره څخه چي اوس درې نيم سوه کاله کيږی ، د پښتو اشعارو عروضي دوره شروع سوې ده ، په دغه دوره کي ترخوشحال خان د مخه ميرزاخان انصاري، او ارزاني او دولت، او واصل او قلندر تېر سوی دي، چي خان ئې پخپله ذکر کوي:-

د ميرزا دېوان مي ومانډه په گـــــوډي
مسخره مي ارزاني خوېشکي زمند کړ

خو شحال خان د ادبي مکتب مو سيس:-

تر خوشحال خان د مخه که څه هم څو تنو عروضي اشعار ويلي دي ، مگر هغه خدمت چي خان پښتو ته کړي او په دغه اندازه ډېر اشعار چي ده ويلي، او پرې يښي دي، له نورو څخه نه دي ليدل شوي ، د ده اشعار تقريباً څلوېښت زره بيته ته رسېږي هغه انقلاب چي ده د پښتو ژبي شعر ته ورکړی دی، نو دی هر کله په حيث د مؤسس او پلار د پښتو شعر منل کيږي. تر ده وروسته چي ټول ادباء راغلي دي په فکر او ډول کي يې دی مقتداء دی، د ده له نسله څخه نور مقتدر

ادیبان هم پیدا سوي دي ، چي موږ بې پر خپل موقع ذکر وکړو.

شعرا وشاعري خو د انسان په خټه اخښلې سوېده، او ادب د انسانیت یو لوی او مهم جز دي، لکه ارسطو د یونان فیلسوف چي ادب د
فطرت محاکات او نقلي د انساني تأثراتو بولي، دغسي هم د پښتو
ادب ټوله پر دغه علمي کلیه باندي بنا سوي دي خاص بیا د خوشحال خان ادبیات او آثار ټوله حاکي له هغو ذهني تاثراتو څخه دي چي
ماحول او محیط د ده په زړه کي کرله، دي د فطرت ترجان او د طبیعت ویونکې ژبه ده ، هر څه چي ویني، هغه په ښه ډول په وینا تصویر کولای سي!

خوشحال خان په هرراز شعرکي قوي لاس لري، عشقي، اجتماعي، فلسفي، وطني، اخلاقي او حماسي اشعار ډېر لري، د انساني فضائلو او دپښتنوالي د ښېګړو په بیان کي خو شحال خان یو پوره مو رالیسټ (اخلاقي) او ریالیسټ(حقیقي) ادیب دي، په نقد او ادبي شجاعت کي هم ساري نلري، اما په دنیا کي دخیالیت او ایډیالیزم هم دومره جګ دی، چي لږ څه نور څوك پسي رسېدلای سي!

خوشحال خان موسس د هغه ادبي مکتب دی، چي وروسته ټولو د پښتو ویونکو او ژبه ورو خلقو د ده تقلید کړی دی، دی د خپل سبك استاد دی، نو ځکه موږ ده ته د پښتو پلار ویلای سو.

ما خوشحال چي په ښتو شعر بیان کړ
د پښـــــتو ژبه به اوس په آبوتاب سي

موازنه اومقایسه :-

د پښتو شعر که څه هم په ډېرو شیانو او خواصو کي د پارسي او عربي اشعارو سره نژدېوالي او قرب لري، مګر بیا هم ځکه چي محیط او د قوم ذهني او روحي خواص پر ادب اثر لري،نو د خان په کلام کي د پښتنوالي ډېر مزایا لیدل کیږي، خان یو مبتکر پښتون دی، د ده فکر په دنیا کي د ادب یوازي مقلد نه دی، بلکي له ځانه هم مضمون را ایستلای سي، د دې خبري اثبات د ده دکلام مطالعه کوي، مګر دلته موږ لنډه اشاره ورته کوو.

د عشق دنیا او د میني نړۍ یوه بېله دنیا ده ، د عاشق قلبی وار دات او د ده تأثرات پر بل چا نه قیا سېږي، مګر ملي خواص او اولسي ممیزات هر کله په دغه دنیا کي هم او څارېږي، او لکه چي ادب د روحي تجلیاتو هنداره ده، دغسي ټوله ملي ښېګړی پکښي بریښي!

پښتانه خو په فطرت کي ملي غرور او د روح لوړ تیا لري، پښتون هیڅکله او په هیڅ ډول داسي خضوع نه کوي، چي د ده ملي غرور ته دي صدمه و رسېږي.

شبلي نعماني په شعرا لعجم کي لیکي، چي نسبت و پارسي شعر ته په عربي شعر کي شاعر هرځای غزت د نفس او غرور ساتي ، مین که څه هم وخپل محبوب ته اړ وي او وصال ئي غواړي، مګر دي دګدا په څېر نه دی ، البته جانباز دی ، مګر غلام نه دی، ومصیبت ته د میني تیار دی، مګرذلیل ندی.

مثلاً یو عرب ادیب خپلي میني ته داسي خطاب کوي:-

فلاتحسبي اني تخشعت بعد كم

ولا انني بالمشي في القيد اخرق

يعني: دا گمان مکوه ، چي زه په تاپسي خاشع سوم، او نه په بند سره زه له يو نه پاتېږم[٩] بل ځای عاشق وخپلي مینې ته داسي وايي، چي ضمناً د خپل قوم مېړا نه او توريالیتوب ورښکاره کوي:-

اذا اسودجنح الليل فلتات ولتكن

خطاك خفافاً فان حراسنا اسد[١٠]

يعني: چي ماښام د شپې وزر تور سي، نو راسه، مگر پلونه ورو ورو ږده چي زموږ ساتونکی زمری دی.

مگر په پارسي ادب کي عاشق د مینې په دنیا کي ځان دومره بایلي او بېخوده کیږي او د معشوق په مخ کي ځان دومره کښته کوي، چي ځان سپي هم بولي،

سحر آمدم بکويت بشــــــــــکار رفته بودی

تو که سگ نبر ده بودی به چي کار رفته بودی

حافظ وائي:-

شنيده ام که سگان راقلا ده مي بندی

چرا بگردن حافــــــظ نمی نهی دسنی

د پښتو شعر که څه هم له يوې خوا شدیداً د پارسي تر اثر لاندي سوی دی، او ادباو هرکله د غسي خيالات او افکار ذکر کړي دي، مگر بیا هم ځاي ځاي د پښتنو الي د روح لوړ تیا يې په کلام کي ښکاره کېږي، او پښتون عاشق هيڅکله ځان نه سپکوي، او خپل غرور او د نفس مناعت نه بايلي، په هغو ځايو کي چي د نورو په تقليد څه ويل سوي وي، دا سي اشعار بېل دي!

د خوشحال خان په کلام کي د پښتنوالي لوړ او ژوندي روح ښه ځلېږي، مثلاً په دې بیت کي د ځان لوړ تیا په څه ښه ژبه محبوب ته سي:-

مرگ لـــــره واړه د دهـــــــلي لښـــــــکر راغلی

ته لا د خوشحال په مرگ ځان روغ نه گڼې ننگ کړې

سربازي او توريالي توب په عشق کي هم د ده سره ملگري دي، او کورټ د ذلت او تحقيرکار نه مني :-

يا به سره د خپل ورمېږ په وينو رنگ کړم

يا به کُښل کړم دغه ستا شونډي ملوکي

يا :

مگر تا څخه ســـــــامان د سلطنت دی

چي په هوډ مي سپينه خوله غواړې ختکه

يا :

په درست جهان به نه وي يو دما غوندي رسوا بل
ورځم توره وکښــــلې چي مـــــين واروم پر تا بل

د پښتنو عشق هم ښکاره او سپېڅلی دی، پټ پټانه نه لري، په نره توره مينه کوي، د عشق په دنيا کي خو مين او معشوق ډېر د راز ساتنه او پټول خوښ لري، او نه غواړي چي څوك په خبر سي.

زشوق ميروم و سوی تو ننگرم در بزم
برای آنکه فتد غير در گـــــمان دگر

عاشق له بيري د اغيارو او رقيبانو د خپل محبوب حال هم په ښکاره نه پوښتي :

بهر مجلس که جا سازم حديث نيکوان پرسم
که حرف آن مه نامهربان را درمـــيان پرسم

مگر د پښتنوالي په دنيا کي دا پټ پټانی نسته، د پښتون مينه او ميرځي رډه بده ده، خوشحال هم وايي :

زه خوشحال کمزوری نه يم چي به ډار کړم
په ښکاره نارې وهم چي خـــوله يې راکړه

د خوشحال د عشق ميثاق داسي ټينگ دی :

که يې سر درومي له تنه، نـــور په نه سي
د خوشحال چي د خپل يار سره ميثاق دی

خلاصه :-

د خوشحال خان په کلام کي هر ځای د پښتنوالي روح ښکاره دی، هغه چي په تقليد د بل چا ويلي سوي دي، بېل دی.

که مي حلق له تندي وچ سي په همت کي
پروا دار کله په حوض د کـــــــــوثر يم

نور د ده پښتني ادبي مزايا، د پښتنوالي او حماست په بيان کي وگورئ :

په دغه ډول د خوشحال خان کلام معنوي او مادي مزايا لري، خاص بيا په علومو د فصاحت او بلاغت پوه دی، اسرار د بيان ورمعلوم دي.

صنعت او ابتکار :

د خوشحال خان په کلام کي علاوه پر نورو ښېگڼو او معنوي خواوو ظاهري بدايع او صنايع هم سته، د شعر ټوله اقسام لکه غزل، قصيده، مثنوي، رباعي، قطعه ، تخميس، تسديس، ترجيع او نور لکه حماسه، رثاء لري. معشر او مربع اشعار د ده ابتکار دی، چي په پښتو کي يې ويلي دي.

شعري صنعتونه او بدايع يې په کلام کي خورا ډېر دي، د (۱۰) مخ لومړۍ بدله او د (١٤) مخ (سترگي ستا) بدله د ذوالقافيتين مع الحاجب فن دی، په دغه ډول ذوقافيتين اشعار ډېر لري، په دې بيت کې صنعت د طباق راوستلی دی :

ښه چي سپين د زهد ليري له ما گـــــرځي
چي د تورو ته نژدي سي سپين هم تور کا

ته ښادي کړه زه به غم کړم
تا خندا زده زمـــــا ژړا زده

يو وصال د ښو يارانو بل هــجران دی
چي خوشحال يې په خندا په ژړا کړی

په دغه آخرني بيت کي صنعت د لف و نشر مرتب هم سته، په تجنيس کي هم خان ښه لاس لري :

دوې دي توري سترگي لکه دوې تــــوري بلا
دوې دي توري ورځي لکه دوې توري تر ملا

هغه کار لکه دوه تورو سترگو وکا
هسي کار نه سي په تورو په لښکر

چا به راکړه په پالنگ دا هسي کښلي
که مي نه وي په ازل په قسمت کښلي

د خان په کلام کي صنعت د ذولسانين هم ډېر راغلی، دی پښتواو پارسي او هندي گډوډ سره وايي، لکه په ٧١، ١٠٢،٢٠٧،٣٧٣،٣٨٦ مخو کي چي ليکلي دي، په (٣٣٧) مخ (راته نيسي الخ) او په (٢٣٤) مخ (ښايسته الخ) صنعت د ردالعجز علی الصدر دی. د (٨٥٤) مخ په آخرنۍ رباعي کي صنعت د درو ټکو کلمو دی، او په دې رباعي کي صنعت د لزوم د متصل الحروف او تجنيس مراعات سوی دی :

ښې چين چين ځني پښتنې جني
په شــــين شين ځي شين جــني
نن نغتي نشي تــشي پُښـــــتني
تشي پښتنې فتـــــنې شي ځني

دغسي هم د کتاب د پای په مخو کي صنعتونه د رقطا او غير منقوط او نور راغلي دي، خوشحال خان په ادا د نريو نريو خيالو او تازه افکارو غښتلی دی، ډېر ځله داسي مضامين وايي چي بالکل نوي وي، ابتکار د ده د کلام گېڼه ده، مثلاً په دې يوه بيت کي ده يو جهان ابتکار او ډېر مضمون ځای کړی دی.

د عشق په دنيا کي ماڼی، او د محبوب خوابدی دومره يو مبتذل او مستعمل مضمون دی چي هر شاعر څه پکي ويلي دي، محبوب چي خوابدی سي البته پر مين باندي ستم کوي، مگر د مين زړه چي هغه پرهارونه غواړي، هغه لا نه

مومي، ځکه چي د ميني پرهار تر هر څه خوږ او خوښ دی :

خويش را بر نوك مژگان ستم كيـــــشان زدم

آن قدر زخمی که دل ميخواست در خنجر نبود

د عشق دنيا عجيب نړۍ ده، ترخه پکي خواږه کيږي، او زهر پکي گنی ښکاره کيږي.ښکنځل خو ترخي دي، مگر د عشق په دنيا کي ښېل خوند لري :-

دشنام دهی و بر لب تو

روح القدس آفرين نويد

خلاصه چي په عشق کي د ماښي د دنيا واردات خورا ډول ډول او راز راز دي، خوشحال خان په دغه بيت کي اعجاز کوي :

په ماښي يې مرده شويو کره عيد وي

په خندا يې جــــــوهري کره ژړا وي

لومړی خو په دغه بيت کي صنعت د طباق او تضاد سته، د ماښي، اختر، خندا، ژړا تلازم ډېر خوږ دی، مطلب خو دا دی چي د عشق وژلی او د محبوب د مگاښي مقتولان خورا ډېر وي، ولي چي مقتولان ډېر سي البته مرده شوی خوښيږي او په خندا خو مرغلري له خولې څخه راتووي، نو چي مرغلري ډېري سي، البته وړيا کيږي، او د جوهري او مرغلري والا بازار کوټه کيږي، د کلام يوه لو برخه ساقطه ده، مگر مطلب ښه روښانه او اوڅار دی.

دا قدرت د بيان او په عين وخت کي فوق العاده بلاغت د خان د کلام له خصوصياتو څخه دی. په دې رباعي کي چي ابتکار سوی دی هم خورا خوږ دی :

چي آئينې ته ښـــــکاره ديدار کړي

آئينه درسته سره گـــــــــلزار کړي

چي شونډي کېږدي د جام پر مورگو

اوبه په جــــــــام کي رُب انار کړي

د فکر قهرمان :

د شاعر او اديب نظر تر نورو رسا دی، هغه چي شاعر يېويني هر څوك نه ويني، په پسرلي چي سره او زرغونه گلان له مځکي څخه راووزي، وگړي خو دا گلان د ننداړې او خوند په سترگه ويني، نشاط او خوښي ځني مومي، مگر شاعر عبرت ځني اخلي، او گوري چي دا خاوره چي نن گلان ځني غوټيږي، پرون د کوم انسان د بدن خاوره وه !

دا فکر په شاعر کي خورا زوړ دی، هر چا څه پر ويلي دي، ابوالعلاء معري (٤٤٩ هـ) د عربي مشهور فيلسوف ژبه ور وايي :

حفف الوطاء ما اظن اديم ال

ارض الامن هذه الاجـــــساد

و قبيح بناوان قدم الــــــعهد

و هو ان الآباء والاجـــــــداد

یعني : قدمونه پر مځکه ورو ورو یږده، ولي چي دغه مځکه زموږ د نیکونو بدنونه او اجساد دي. د ادباوو تر منځ توارد او د فکر توافق دی، عمر خیام بلخي هم دغه مضمون ښه ویلی :

هر سبزه که بر کنار جوئی رســــته است

گوئی زلب فرشته روئی رســــــته است

تا بر لب ســــــــبزه پا به خواری ننهی

کان سبزه زخاك لاله روئی رسته است

سعدي هم وایي چي یوه ورځ مي ترښخ پر مځکه ووهله، دا ږغ ځني راغی :

که زنهار اگر مردی آهســــــــته تر

که چشم و بناگوش و روی است وسر

د هندوستان مشهور ادیب غالب دهلوی هم دا مضمون داسي وایي :

سب کهان کچهـ لاله و گل نمایان هــــو گئین

خاك مین کیا صورتین هونگی که پنهان هوگئین

یعني په خاورو کي ښکلي بدنونه پټ سوي دي، له هغو څخه لږ اوس د غاټوی په شکل راوتلي دي.

د خوشحال خان زوی عبدالقادر خټك هم دا مضمون په پښتو داسي ویلي دي :-

قدم په ورو ورو په احــــتیاط یږده

چي توري خاوري ښکلي مخونه دي

مگر خوشحال خان په فکر کي مبتکر دی، دا زوړ فکر ده په نوي ډول اما خورا خوږ ادا کړی دی، چي زما په عقیده تر ټولو ادباوو اوړي، که د تقدیر په سترگه ورته وگورو، البته راښکاره به سي، خان وایي :-

چي هونبره ښه مخونه په دا خاورو کي په گور دي

چي دیو لره وردرومم گور و مــــــــا وته ارم دی

وگورئ مضمون هغه مبتذل او زوړ مضمون دی مگر د پښتانه فکري ابتکار خو د نورو تقلید نه مني، خان هغه مضمون په داسي ډول ادا کی، چي ساري نه لري.

نو خوشحال خان لکه د توري او میدان قهرمان چي دی، دغسي د فکر او ادب قهرمان هم دی که د خبرو له اوږدوالي څخه نه بیرېدای پر دغه موضوع به مو اوږده څېړنه کړې وای، مگر اوس په دغه قدر اکتفاء کوو.

نقاد خوشحال خان :-

نقد د ادب یو مهم ټوك دی، د نوي دنیا په اصطلاح ادب بې له نقده هیڅ قیمت نه لري، بلکي مؤثر او گټه زېږوونکی ادب هغه دی چي د نقد په گېنه ښکلی وي.

پوهان وایي : چي ادباء او شعراء په خپلو ادبیاتو او نارو او غلبلو سره ملتونه ویښوي حال یې وراړوي، او د لوړتیا پر خوا یې بیایي، رشتیا هم دا ده، ځکه تر هغو چي یو اولس پخپله کښته والي پوه نه سي، او خپل عیوب او گوډي

وراني ورښكاره نه سي تر هغو په اصلاح كي برى نه سي ميندلاى، ځكه نو نقد په ادب كي هم هغه موقع لري لكه په اجتماع كي چي يې ميندلى دى.

په دې باره كي د لويانو او تېرو مېړو څخه ډېر اقوال او د ګټي ډكي ويناوي سته، قولوالحق و لو على انفسكم، نبوي حديث شريف دى، چي دغه اساس ته نو په نوې ژبه ادبي شجاعت وايي.

خوشحال خان خو په نقد كي زيړه او قوي ژبه لري، خاص بيا د پښتنو معايب او ځني بد خويونه په غندنه سره يادوي، او هر ځاى زيار كاږي چي دوى پخپلو عيبونو وپوهوي او د اصلاح خواته يې راولي، د ده د نقد ژبه ډېره تېره ده، پخپله وايي :-

ځما ژبه نه ده اور ده

ګـــزارونه د ټوپك كا

خوشحال خان لكه د توري مېړه چي دى، قلم يې هم په نقد كي د توري كار وركوي، د توريالي قلم ښايي چي دغسي وي:-

آفرين دي پر ويلو سه خوشحـــاله

چي د توري رژول كړې په قلم كي

خوشحال خان هر كله د پښتنو پر تېر عظمت چي د آسيا د يوې لويي برخي شاهنشاهان وه، افسوس كوي او هغه په خورا حسرت يادوي، قوم ويښوي، او د دوى د زاړه عظمت پر تحصيل ګماري :-

كه رشتيا وايم شېرشاه دا هـــسي نه و

لكه موږ يو نه پيدا له كوهســــــــــتانه

پښتانه چي بې ننګي كا څوك يې څه كا

ګورستان لره به درومو له ارمـــــــــانه

د ختـــــــــكو د نفاق له ناپوهـــــــــيه

يا چي غـــــم لرم، له خــــــپله خـــاندانه

چاته وايم څه به كښم څه هـــونبره ندى

چي تمام سي له مذكــــــــــوره له بيانه

په نورو ځايو كي هم پر خپل قوم سخت تنقيدونه كوي، لكه : په ١٦٨، ٣٩٣، ٢٥١،٢٧٢،٣٨٥، ٧٢٧ مخو كي.

اخلاقي خوشحال خان :-

د خُلق په تعريف او د اخلاقو په خصوص كي د بشريت د پوهانو فكرونه مختلف او ډول ډول دي، چي موږ دلته لنډه اشاره ورته كوو، د انسانانو په زړو آثارو او هغو كتابونو كي چي اوس نو تر هغه زاړه كتابونه انسان ته نه دي پاته، مثلاً د هند په رګ ويد، او د زردشت په اوستا، او بيا په تورات شريف او د چين د كنفوسيوس او د بودا او نورو ټولو زړو آثارو كي اخلاق او د اخلاقو ښه ذكر سوى دى.

كه څه هم اخلاقيات د فلسفې يو مهم ټوك دي، مګر داسي ښكاره كيږي چي پر اخلاقي مسائلو تر فلسفيانه

بحث دمخه هم په انسان کي اخلاقي حس و، په ساده ژبه د اخلاقو تعریف داسي کیږي، سړی به څنګه عمل او څنګه ژوندون کوي؟ د انسان افعال تر مختلفو مؤثراتو او محرکاتو لاندي دي، محیط، ارث، تربیه، دودونه، رسوم دا ټوله پر اعمالو اثر کوي، نو اخلاق د عملي ژوندون له پاره ځني قواعد او ضوابط دي[۱۱].

په یونان کي د پوهانو نظریات د اخلاقو په باب کي یا دا وه چي اخلاق ټوله پر ذوق او خوند بناء دي، ٤۰۰ کاله تر میلاد دمخه ارسیتیبس پر خوند Hondonisme د اخلاقو سته ایښې وه، تر ده وروسته د ده نورو ملګرو یا شاګردانو لکه اپیکور (۳٤۲ _ ۲۷۱ ق.م) Epicur د ده نظریه تعدیل کړه، مګر یوه بله ډله چي د دوی مشر سقراط (٤۷۰ _ ٤۰۰ ق.م) Socrates او وروسته نو افلاطون Plato (٤۲۷ _ ۳٤۷ ق.م) او بیا ارسطو Aristotle (۳۸٤ _ ۳۲۲ ق.م) غونډي نامتو پوهان په دغه ډله کي دي، دوی هغه اخلاقي نظریه واړوله او ویې ویل چي زموږ په اعمالو او خواهشو کي مطلب زموږ سعادت دی، او سعادت هم په ښو اخلاقو اړه لري، ښه اخلاق په پوهنه (معرفت) سره مینديل کیږي، سقراط اجتماعي سعادت تر شخصي سعادت دمخه کوي، افلاطون له سقراط سره په دې نظریه کي چي پوهنه د ښو اخلاقو سته ده ملګری دی، او سعادت او ښه اخلاق هم غبرګولي سره بولي، ارسطو هم سعادت خیراعظم ګڼي[۱۲].

رواقیون (چي د یونان د فلاسفه وو یوه ډله ده) پخپله فضیلت بالذات مقصد او غرض ګڼي، چي په زیار سره یې انسان مینډلای سي، خلاصه د اخلاقو پر اصل د پوهانو آراء مختلف دي، مګر دغه خبره چي آیا اخلاق اکتسابي دي که ارثي هم تر څېړنه لاندي ده او پوهان ډول ډول آراء پکي لري، سقراط د فضیلت اساس عقل ګڼي، نه عادت او تربیت، مګر ارسطو وایي چي فضایل د عقل او حکمت په ښوونه تر تربیت او مشق او پالني لاندي موندل کیږي[۱۳] په اسلامي پوهانو کي شېخ محی الدین عربی (٥٦۰ هـ) وایي چي خُلق د نفس هغه حال دی، چي په انسان ټوله کارونه بې اختیاره کوي، خُلق ځیني وخت غریزي وي او کله کله په ریاضت او زیار مینده کیږي[۱٤] د اسلام بل اخلاقي فیلسوف ابو علي ابن مسکویه هم عیناً د ابن عربي ملګری دی، دی خیر هغه شی بولي چي انسان د خپل ژوندون مقاصد په حاصلوي، یا یې په تکمیل کوي، دی د ښو اخلاقو په فطریت او اکتسابیت کي جلا رأیه لري، وایي : چي ځیني خلك فطرتاً او په خټه کي فضیلت لري، ځیني بیا فطرتاً بدخُلقه وي، ځیني داسي وي چي نه ښه وي، نه بد، د دغه سړي نو په روزنه او تربیت او عادت سره ښه کېدلای سي[۱٥] د ابن مسکویه نظریه هغه ده، چي جالینوس یونانی فیلسوف یې هم دمخه ملګری و [۱٦] اوس نو دا خبره هم څېړنه غواړي چي آیا د انسان په خټه او سرشت کي ښه اخلاق اخښلي دي که بد؟

زیوس Zeus یونانی رواقي فیلسوف (۳۰۰ ق.م) ښه اخلاق طبیعي او بد خوی کسبي ګڼي، دی وایي انسان د ښو اخلاقو سره زېږي، بد اخلاق وروسته مومي[۱۷]. حضرت امام ابو حامد غزالي (٤٥۰ _ ٥۰٥ هـ) چي د اسلام یو اخلاقي فیلسوف او عارف دی هم وایي چي د سړي زړه یوه روڼه هنداره ده، او د بدو اخلاقو لوګی پر کېني، حضرت غزالي په دې فلسفه کي یو حدیث شریف هم راوړی چي "اتبع الحسنه السیئه لیمحیها" یعني په هر بد پسي ښه کوئ، چي هغه ورزدویي [۱۸]. حضرت امام د اخلاقو د ښېګڼي له پاره زیار او عادت او جهاد لازم ګڼي، او بد خویونه اکتسابي ګڼي، چي قابل د اصلاح دي[۱۹].

مګر بالعکس شېخ محی الدین ابن عربي د دې طرفدار دی چي بد اخلاق د انسان پر طبیعت غالب دي، او په جبلت کي یې بد اخلاق وراخښلي دي[۲۰].

تر دې پوهانو وروسته د اروپا فلاسفه او مفکرین هم په دغه موضوع کي متضاد افکار لري، ژون کوك (۱٦۳۳ _

۱۷۰۳ ع) د معرفت د نظريې خاوند وايي : چي انسان له هر معنوي او ارثي اثره څخه پاك زېږي، د ده طبع چي يوه پاكه هنداره ده وروسته په تربيه هر څه قبلوي، تر ده وروسته روسو د فرانسې نامتو فيلسوف Rousseau (۱۷۱۲ _ ۱۷۷۸ ع) هم د ده ملګرى دى[۲۱].

د پسيكولوژۍ علماء او ځيني نور فلاسفه لكه بركلي Berkely (۱٦۸٤ _ ۱۷۵۳ ع) او د ده ملګري خُلق د طبائعو مزاوجت او د نفس د خصائصو د نښتو نتيجه بولي، چي د خارجي عواملو تر اثر لاندي دي، چي دوى هم ګويا د روسو د فكر ملګري دي، اما مالبرانش Mallranche (۱٦۳۸ _ ۱۷۱۵ ع) فرانسوى فيلسوف وايي چي : ټوله ښه يا بد اخلاق د انسان سره يو ځاى زيږي، نفس هيڅ نوى شى په ده كي نه سي زياتي كولاى[۲۲]. كانټ Kant (۱۷۲٤ _ ۱۸۰٤ ع) او د ده ملګري لكه فخته Fichte (۱۷٦۲ _ ۱۸۱٤ ع) هيګل Hegel (۱۷۷۰ _ ۱۸۲۱ ع) د اخلاقو په اړولو قائل نه دي، او وايي چي د اخلاقو د اصلاح له پاره د نسل او د ټولو انسانانو اصلاح ضرور ده، كانټ، يو (اصلي صورت) فرض كړى دى، چې هغه نو فطريات او غرائز دي، چي د انسان د دماغي او عصبي ساختمان تابع دي[۲۳].

شوپنهاور (۱۷۸۸ _ ۱۸٦۰ ع) چي د متشائمينو فيلسوفانو مشر دى، هم د اخلاقو په تغير قائل نه دى، مګر وروستني هغه فلاسفه چي د پداګوژي يعني علم تربيت پوهان دي، لكه هربرت سپنسر H.Spencer (۱۸۲۰ ع) نيتشه Nietzche (۱۸٤٤ _ ۱۹۰۰ ع) او نور ... د اخلاقو د اصلاح له پاره د روزني د علم طرفداران دي، سپنسر وايي : د زمانو اوړدوالى او د خارجي قواوو تضيقات په اخلاقو كي تحول اچوي چي اجتماعي فلاسفه هم په دغه قايل دي.

اسلامي اخلاقي نظريه :

اوس چي موږ د دنيا د پوهانو اخلاقي نظريات لږ څه ذكر كړه، را به سو چي زموږ مقدس دين څه فرمايي؟

اسلام خو د اخلاقو بشپړ كوونكى دى، لكه چي حديث شريف دى : "انما بعثت لا تمم مكارم الاخلاق " يعني زه د اخلاقو د بشپړوالي له پاره راغلى يم[۲٤].

د اخلاقو بشپړوالى او تكميل خو په دې صورتو كي ممكن دى :

(۱) هغه اخلاق چي په ژوندون كي لازم دي، په يوه قوم كي له دغو څخه ځني لږ وي، نو چي هغه ومومي دا نو تكميل دى.

(۲) دوهم دا دى چي كوم خُلق په اندازه سره لازم وي، مګر په كوم قوم كي تر هغي اندازې ډېر وي، چي هغه ډېروالى يې لږ سي دا نو تكميل دى.

(۳) دېيم دا دى چي په يوه قوم كي د ژوندون لازمي اخلاق نه وي، نو چي دغه پكي موجود سي، تكميل ورته وايي.

اوس به نو وګورو چي اسلام څنګه د اخلاقو تكميل كړى دى :

(الف) اسلام چي دنيا ته راغى په انسانانو كي بد او ښه اخلاق ګډوډ وه، ځيني اخلاق تر اندازه ډېر او ځيني تر خپله ټكانه لږ وه، او ځيني ښه خويونه كورټ نه وه، نو د دې له پاره اسلام هغه خويونه چي په اندازه كي ډېر وه لږ يې كړه، او هغه چي لږ وه حد وسط ته يې راوسته، او ځيني اخلاقي لوازم چي نه وه، هغه يې بشريت ته تبليغ كړه، د اسلام اخلاقي اساس خو اعتدال دى، چي ټول فطري قوا په اعتدال سره استعمال سي، دا اعتدال چي د اخلاقو د فلسفې اصطلاح ده، د شريعت او قرآن عظيم په ژبه صراط مستقيم ورته وايي، چي په ډېرو آياتو كي د قرآن عظيم ستايلي سوي

دي (والذين اذا انفقوا لم يسرفوا ولم يقتروا و كان بين ذالك قواماً) يعنى د خداى مريى هغه دى چي په خرڅ كي اسراف او تنګي نه كوي، بلكي منځنى رفتار كوي.

په دې ډول اسلام خپله اخلاقي نظريه ټينګه كړه، او د انسانانو د اخلاقو د ښه كولو له پاره په تبليغ او ښوونه او تربيت قايل دى، اسلام وايي چي هر انسان د ښه او بد د تميز له پاره نفس لوامه لري، او پخپل ځان خبر دى [۲۵]، يعني د بدو په كړن كي نفس لوامه سړى ملامتوي، حضرت رسول په يوه حديث شريف كي فرمايي : (البر حسن الخلق و الاثم ما حاك فى صدرك و كرهت ان يطلع عليه الناس) يعنى : ښېګڼه ښه خوى دى، او ګناه هغه ده چي ته يې خوښه نه لرې، چي نور دي په خبر سي. د دې اخلاقي نظريې طرفداران په فلاسفه وو كي هم ډېر دي، د علم الاخلاق په اصطلاح كي دغه اخلاقي پټ ضمير، يعني نفس لوامه، وجدان يا اخلاقي حاسه بولي، اسلام دغه د فطرت نقاده قوه ټينګوي، او په تبليغ او ښوونه يې په خلكو كي كري، وروسته نو د دغي قوې ټينګار په يوه بله ذريعه كوي هغه نو احتساب دى، چي په اصولو د تلقين د علم النفس پر ډول سم، د نفس لوامه او وجدان تقويه او ملګري كوي، ځكه نو تبليغ او امر په معروف د اسلام يو مهم جز دى، يأمرون بالمعروف و ينهون عن المنكر و يسارعون فى الخيرات (آلايه).

د خوشحال تربيوي او اخلاقي نظريه :

خوشحال خان د انسان فطرت او ښېو و هر څه ته مستعده بولي، او د انسان د لوړتيا او سړيتوب له پاره روزنه ضرور ګڼي، دى وايي چي انسان هم كښته كېداى او هم لوړېداى سي او د فطرت هر راز ارتقاء ته مستعد وي :-

دا سړى چي فرشته دى هم شيطان دى
كه سړى و خپل عمل ته نــــګران سي
يو په بد عمل كي ځي تحت الـثراء ته
بل په ښه عمل كي پاسه په اسمان سي

په دې دوو بيتو كې د انسان د فطرت دوه پلوه وښوول، وروسته نو خپله تربيوي نظريه داسي څرګندوي :-

تربيت كه د باغوان له لاسه مــــومي
په هر ځاى باندي ګلونه د بوستان سي
هر استاد سره چي كښني يو څــو ورځي
د هغه هـــــنر په ده كي نمايان ســي
د نېكانو په صحبت كي به ښه كــېږي
اوليا له اوليا نه راعــــيان ســــــي
د مـــــغلو سره كېناسته مـــــغل سه
د افغان سره كه كښني نور افـغان سي
د خوشحال سره كه كښني يو څـو كاله
دا د غره ختك به واړه شاعــران سي

خوشحال خان وايي كه يو وار د سړي په بده تربيه سره بد خويونه په دماغ كي كېناسته، بيا يې بېول او لېرل

کول هم گران کار دی :-

که بد خوی په چا کي کېني نور عادت سي
عادت نه درومي له شـــــــــخصه په تعذير

په دې نظريه کي د ټينګار د اعتباد چي ګوستاولوبون د فرانسې وروستني فيلسوف يې طبيعت ثانوي بولي، خوشحال خان کټ مټ لکه د اوسنۍ زمانې د علم النفس او د روزني علماء دغسي تفکر لري، اما په نظريه کي د وراثت او فطريت د اخلاقو هم لکه ځيني فلاسفه چي دمخه مو نظريات ذکر کړه خان صائب نظريات لري، او په بديهي الفاظو او ښکاره تمثيلاتو خپله نظريه تمثيل کوي :-

چي وودلي وي په ذات توره شړۍ
سپينول يې و هر چا وته دي شــاق

يا :-

د عسل سره يې خوره خوږه به نه سي
مړغونې چي ترخه ده په ميــــــــثاق

يا :-

که کارګه غوندي يې فهم وي خوشحاله
هيـڅ استاد به شين طوطا نه کړي ناطق

دا نظريه کټ مټ د اوسنيو لويو علماوو او د روزني د علم د پوهانو لکه ويليام جيمس د امريکا او نورو ... نظريات دي، زموږ په مشرقي پوهانو کي هم اکثر پوهان خاص بيا سعدي په ډيرو ځايو کي د دې نظريې سيله کړې ده.

د خوشحال خان اخلاقي نظريات عيناً هغه نظريات دي، چي اسلام يې لري، د انسان د فطرت انحطاط او ارتقاء قرآن عظيم په دې ژبه ښيي (لقد خلقنا الانسان فی احسن التقویم، ثم رددناه اسفل السافلين) دا خو د انسان هغه لوړتوب او کښته والی دی چي خوشحال خان يې په لوړو بيتو کي له مشکوه الّٰهی څخه اقتباس کړی دی، وروسته نو په (الا الذين آمنوا و عملو الصالحات) کي چي د نبوت د تربيت نتايج دي بيا د روزني او پالني ګټي ښه ښکاره دي. خان پخپله اخلاقي او تربيوي فلسفه کي دغسي د خپل دين او قرآنه استفاده او استفاضه کړېده، او په دې ژبه دا آسماني اسرار او فيوض بيانوي :-

چي ظلوم جهول ياديږي، کُنت کنزاً هم پوهـــيږي
ته و دا ته نظر مکړه چي دا غوښي استخوان يې

دغه بدله ټوله په (٥٩١) مخ کي وګورئ. دغسي هم د ١١٧، ١٦٠، ٢٢٤، ٥١٧ مخو په بدلو کي دغه حقايق ښه بيان سوي دي.

ځکه چي خان په دنيا کي د اخلاقو د تبليغ او تربيت په ګټو پوه دی، نو دی هر کله پخپله کلام کي د ښو خويونو تبليغ او د بدو خويونو تقبيح کوي، او په ډول ډول اخلاقي مضامين لري، چي تاسي به په دې کتاب کي هر ځای خاص بيا په رباعياتو او قطعاتو کي وګورئ.

فلسفي خوشحال خان :-

فلسفه خو د انسان د ذهني ارتقاء سره يو ځای پيدا سوې ده، او د فلسفې خاوندان له ابتداء څخه تر اوسه پوري په بشر کي د لوړ مقام څښتنان دي.

په شاعري کي خو هم فلسفه له ابتداء څخه ګډه وه، بلکي فلسفه د ادب روح دی، او فلسفي افکار د ټولو ملتو په شاعري کي سته، فلسفه خو د شيانو د حقايقو درك دىكماهي او پېژندنه د هغو شيانو ده چي په عقل او خارجي حواسو اړه لري[٢٦] د فلسفې لومړی حد د علومو مينه او منځ يې حتی المقدور د موجوداتو د حقايقو پېژندنه ده او پای يې علم او عمل دی[٢٧] ځکه چي شعر هم د طبيعت ترجماني، او د فطرت او ضمير ږغ دی، او د شيانو په حقيقت کي تفکر هم د انسان په خټه اخښلی دی نو شعر او فلسفه پر يوه نقطه تقاطع کوي.

د مشرق ډېر شعراء او ويونکي سړي فلسفي افکار هم لري، په پارسي کي د سعدي، حافظ، بيدل، خيام او ابن يمين او نورو کلام د فلسفې څخه ډك دی. په عربي کي هم د اموي او عباسي دورو ويونکي په شعر فلسفه ګډوي، لکه ابوالعلاء او احظل، مهيار، بشار او نور د پښتو شعر هم په فلسفه کي د پارسي او عري سره نژدېوالی لري، شعراء ډېر ځله فلسفي افکار په خپلو ويناوو کي ښکاره کوي، د خوشحال خان اخلاقي او تربيوي فلسفه خو موږ دمخه وښووله، اوس به نو د مثال په ډول د ده ځيني فلسفي افکار هم ښکاره کړو :

معنوي فلسفه :-

لکه د اخلاقو په بحث کي چي وښوول سوه، د بشر د پوهانو ډلي پخپلو افکار کي سره بېلي دي، ذوقيون د بشريت ټوله ژوندون او مصالح پر خوند بنا کوي، ماديون د ظواهرو پر خوا دي، مګر خان خو په فلسفه کي د هغه تفکر طرفدار دی، چي انسان يوازي دغه ظواهر او خوند نه بولي، بلکي ځيني معنوي و روحي خواص او مزايا هم ورته ثابت بولي، دوی وايي : ښايي انسان په دې ظاهري شيانو کي پاته نه سي او باطن صفا کړي او لرونکی د معنويت سي. ولي چي په دغو ظاهري اکثرو شيانو کي چي اساس يې ذوق دی حيوان هم د انسان سره شريك دی، حال دا چي انسان خو انسان دی، او حيوان نه دی .

خوشحال خان دغه فلسفه چي د بشر اکثر پوهان يې مبلغ دي، ډېره بيانوي د ده په کلام کي هر ځای و حقايقو او معنوياتو ته بلنه سته، او يوازي ظواهر د بشريت له پاره لازم نه ګڼي، مثلا وايي :-

د سړي قدر قيمت په اعــــــــتبار دی
چي خواږه ورځني ولاړل ګنی کاه سي

خوشحال خان وايي دا د دنيا خوندونه او لذتونه ټوله فاني دي، د فاني او بې پايه شي غوښتنه پوهي نه ده، ځکه نو انسان ته د معنوياتو پلټنه ضرور ده :-

اورنــــــګزېب چي آرايش د تخت و تاج کا
تخت و تاج به يې مرګی تاخت و تاراج کا
په جهان کـــــي به يې پاتو ښه بد نــوم سي
ده زده چاري د کسرا که د حـــــــــجاج کا؟

حيرت :-

فلسفه خو د حقايقو پر درك بنا سوې ده او فيلسوف هغه څوك دى چې د دغه كاره سره مينه لري، مگر كه تاسي ټوله د دنيا فلسفه وپلټى او د پوهي خاوندان وپوښتى هيڅوك د حقيقت په درك كماهي نه دى كامياب سوى، پوهان وايي : چې د پوهى پاى حيرت دى، سقراط هغه وخت پوه سو، چې پخپله ناپوهي وپوهېدى، د دنيا لوى لوى فلاسفه په پاى كي پخپله ناپوهي او عجز قايل سوي دي، امام فخر الدين رازي د خپل عمر په پاى كي وايي : (معلوم شد كه هيچ معلوم نشد)، بوعلي سينا وايي :-

دل گر چه درين باديه بسيار شتافت
يك موى ندانست ولى موى شـگافت
اندر دل من هـزار خــورشــيد بتافت
و آخـــــر بكـــــــمال ذرهٔ راه نيافت

لامارك ويلي دي : چې زموږ ټوله علم تر دې نه زياتيږي چې موږ په خپل جهل اقرار وكړو. سپنسر د انگليسانو فيلسوف هم داسي په خپله ناپوهي قايل دى : "د شيانو د حقايقو د پوښتني په جواب كي ښېله دې څه نه سواى ويلاى چې په هيڅ نه پوهېږو". خلاصه د حقايقو پلټنه و انسان ته مقدور نه ده، تر دې اندازې چې ځيني فلاسفه په لا ادريت هم قايل دي، او د فلسفې پاى دغه حيرت دى و بس !

فن المحبآ فما ادق فنه
متحير فــيه اما الرازى

خوشحال خان هم يو مفكر او پوه پښتون دى، دى عقل د ټولو حقايقو د پلټني او تحقيق قابل نه بولي، او پر خلاف د عقليونو خپله فلسفه داسي ښكاره كوي :-

مكړه نادانه د نـــــــــــــكړو كار دى
دا چې پرې خېژې غاښى دشوار دى
خر دي كمزورى زبون لــــــــيده سي
چې دي پر ايښى دا هونـبره بار دى

خوشحال خان چې هر څه په عقلي سير كي زغرد سوى او خپله قوه يې د فلسفې په لار كي صرف كړې ده، په هيڅ نه دى پوهېدلى او په حيرت كي ډوب دى، دى وايي :-

ما چې نظر وكړ په ذرات په موجـــــــــــــودات
گول په جهان راغلم ترې به گول دروممم هيهات
يو ځادر تر ميان وي فهم پاتو سي له كـــــاره
دا هونبره كيسي هونبره ادراك د ســـــماوات
هيڅ ولي نبي يې درست اسرار مـوندلي نه دي

لویه کارخانه ده که وګـورې کـــــــائنات

حیرت خو په حقیقت کي د فلسفې پای او نتیجه ده، له سقراطه تر ابن سینا پوري ټوله و پاخه مقام ته د فلسفې په دغه ځای کي رسېدلي دي، خان د دغه حال په بیان کي څرګنده ویناوي لري، مثلاً وایي :-

حیران یم نه پوهېږم چي زه څه یم څه به سم

له کومه یم راغلی بیا به کوم لوري ته ځـــم

جهان یو کټوری سو زه په مثل د مېږي یم

حیران پکي جاروزم لاس و پښې پکي وهم

تر دې لا لوړ یو ګام ورهیسته خوشحال خان په فلسفي ژبه د دنیا حقیقت داسي ښکاره کوي :-

دنیا وته چي ګورم کاروبار ته د وګــــــــړي

د اوړکیو تماشې دي زه یې هم ورسره کړم

د ژوندون فلسفه :-

د ژوندون اسرار خو کماهي چا نه دي موندلي، او د فلسفیانو د پلټني پای لکه لوړ چي مو وویل، دغه حیرت او ناپوهي ده، مګر د ژوندون د تېرولو او ډول په باب کي هم پوهان مختلف او ډول ډول آراء لري، که په لنډو الفاظو سره ووایو، فلاسفه په دغه موضوع کي دوې ډلي دي، لومړۍ هغه ډله ده چي د نفي د خوا طرفداران دي یعني د ژوندون پر ځای یې مړینه مدنظر ده، دوی د ژوندون د ترخو او مشکلاتو په مقابل کي تېښته کوي، نه ټینګار، دا هغه مقام دی چي زموږ په اشنا الفاظو کي بېخودي ورته وایي، دوهمه ډله هغه پوهان دي، چي په تنازع للبقا قایل دي او دنیا د زیار او جهد میدان ګڼي، او وایي چي د انسان ښېګڼه په دغه کي ده چي د مادې په تسخیر کي تل جګړه او زیار وکړي.

د لومړي فکر سټه په زاړه یونان کي افلاطون او د ده ملګرو ایښې وه، او په اوس عصر کي دا فکر د قنوطي او متشائم پوهانو خاص بیا د بدلیدونکو مشر شوپنهاور له خوا په نوي ډول او نوې ګېڼه راوتلې ده.

د دوهم فکر سیله کوونکي خو د یونان د یمقراطي او مادیون پوهان وه، چي په نوې دنیا کي کانټ د دغه فکر روزونکی او نیتشه یې په مقابل کي د نفي کوونکو قنوطي پوهانو خپروونکی دی، دا ډله د اثبات او جهد للبقا پر خوا دي، او نیتشه د ژوندون فلسفه د اقتدار پر غوښتنه بنا کوي، د انګلیسي ډاروین د نشو و ارتقاء فلسفه خو هم پر دغه اساس ټینګه ده او د ژوندون له پاره جګړه د ده د مادي فلسفې اساس دی "ته له دغه ځایه ولاړ سه چي زه دلته کېنم" دا مسلك د خودۍ او ځان ځانۍ طرفدار دی، او نن ورځ هم په دنیا کي دغه فلسفه پر مختللې ده، ملل هم لکه افراد، خپلواکي غواړي، او د بل چا اقتدار چي د خودۍ نافي دي، له ځانه اړوي.

د المان قنوطي فیلسوف شوپنهاور وایي چي : ځان ځاني اصل او سټه د ټولو ناورینونو او ویرونو ده، تر هغو چي سړی ځان د ژوندون مرکز ګڼي، راحت ته نه سي رسېدلای، دی وایي چي ژوندون او د ژوندون خواهش یو غم دی، نو تر هغو چي دغه خواهش ورك نه سي غم هم نه ورکیږي، نو په حقیقت کي غم ثابت او اصل دی، خوښي د غم له لړوالي څخه مینده کیږي، په شاعرانو او ویونکو کي خو د دغه دواړو مسلکو طرفداران سته، مصلاً ابوالفرج روني وایي :-

عنقای مغربست درین دشت خــــــرمی

خاص از برای محنت و رنج است آدمی

فردوسي د دې بلي خوا عقايد داسي وايي، او جنګ اساس د حيات ګڼي :-

اگر خود نزادی خردمند مرد

نبودی ورا روز ننگ و نــــبرد

حکيم سنايي دا ميدان د تنازع للبقا په دې ډول عارفانه تنقيد او تصوير کوي :-

این جهان بر مثال مرداریست

کر گسان گرد او هــــزار هـــزار

اي مر آن راهمی زند مـــخلب

آن مر این را هـــمی زند منقار

که دې دوو فلسفو ته په غور وګورو، راښکاره به سي چي حقيقت په اعتدال کي دی او امر په قرار د اسلامي مسلك بين الامرين دی، د دې زمانې په پوهانو کي د هند مشهور اديب او فيلسوف علامه اقبال چي د اروپا د فلسفې مکاتب يې لوستي او يو محقق سړی دی، ده اسلامي د ژوندون فلسفه غوره کړې ده، چي اعتدال او صراط مستقيم دی، اسلام که څه هم له يوې خوا دنيا فاني ګڼي، او حب د دنيا د ټولو خطاوو سر بولي،"حب الدنيا رأس کل خطيئه" اما په عين زمان کي مسلمانان په جد او جهد سره هم امر کوي، ولي چي اساس د حيات دغه جهد دی، نو اسلام خو نه لکه ماديون يوازي دنيا د تنازع للبقا ميدان بولي او نه لکه رهبانيون او قنوطيون د دنيا په نفي او ترك امر فرمايي، بلکي امر بين الامرين دی، او سعادت هم په اعتدال کي دی.

د دنيا وراني خو لکه په رهبانيت کي چي ده دغسي هم په ماديت کي ده، رهباني د جد او جهد ميدان ته نه راځي، مادي تل پر دنيا سري اتري ولاړ وي، د نن ورځي مدنيت وراني چي پوهانويني، هم د ماديت له افراطه څخه ده.

اسلام نه په رهبانيت او نفي انسان و کښته والي ته بيايي، چي لا رهبانيه فی الاسلام او نه يې په دنيا کي داسي غوټه کوي، چي پای يې جګړه او ورانی سي، (اعدلوا فهو اقرب للتقوی). علامه اقبال دغه اسلامي فلسفه چي په حقيقت کي اساس د ټولو ښېګڼو ده په دې ډول په دوه بيت کي ښه ادا کوي :-

تنی پیدا کن از مشت غــــــباری

تنی محکم تراز سنگین حصاری

درون اودل درد آشـــــــــــنایی

چو جوئی درکــنار کـــوهساری

زموږ پښتون فيلسوف خوشحال خان په دې باب کي خورا پخه فلسفه لري او نظريات يې ډېر صائب دي، علامه اقبال خو د فلسفې دغه جګ مقام پسله ډېرو ويلو او لوستلو څخه ميندلی دی، د برلين او لندن د فلسفې مکاتب يې غوښتي دي، وروسته نو د مشرق په ټولو فلسفو کي ګرځېدلی دی، مګر زموږ پښتون نامتو سردار خو د پښتنوالي په فطانت او پوهي دغه حقيقت ښه ليدلي او ويلي دي، د پښتونخوا په لويو غرو کي يې د يونان او عربو او اروپا د فلسفې لب لباب ميندلي او ږغولي دي.

موږ به لاندي د ده مهم افکار په دغه موضوع کي د فلسفي لنډ لنډ وښيو، پسله دغه څخه به نو تاسي پخپله دې پښتون ته د يوه نامتو فلسفي او مفکر لقب ورکړی .

د خوشحال خان د ژوندون فلسفه هغه د اعتدال فلسفه ده چي د نبوت له مشکوه اقتباس سوې ده، ځکه نو خورا پخه او ټينګه ده.

شوپنهاور وايي : "اويا کاله کيږي چي زه فکر وهم، اما بېله دې مي بله نتيجه نه ده اخيستې، چي انسان د دې له پاره دی، چي په وير او ناورين کي به مري". خان وايي :-

خلق واړه د اندوه په درياب ډوب دي
کله کله له دريابه ســــــــــر بلند کا

دا هغه فکر دی چي ښادي او خوښي د وير لړوالی بولي، خلق د وير د درياب څپو اخيستي دي، خوښ او مسرور خلك داسي دي، لکه مفروق چي کله کله له اوبو سر راوباسي، بل ځای وايي :

ما په دا جهان کي غوښته مونده نه سوه
که په بل جــــــــــهان پيدا سي خرمي
چي په هيڅ ساعت خالي نه وي له غــمه
مــــــــــګر غم لره پـــــيدا دی آدمي

بل ځای دا فلسفه په دې ژبه څرګندوي :-

خواره حـــــــــيرانه بني آدمه !
چي دي خمير دی خاوري له غمه
يو دم که وخاندې په دا دنيا کي
بيا دي ژړا وي په څـــو څو دمه

خوشحال خان وير د انسان په خټه اخښلی ګڼي، او په دغه نظرياتو سره دی د بدبينۍ او تشائم د مسلك Pessimism ملګری دی، دی دا هم وايي چي وير د ژوندونه سره لازم دی، ځکه چي که وير نه وي، خوښي به هم نه وي، د ترخو په سبب د خوږو قدر ښکاره کيږي :-

په باغ کي خلك په مېوه شخوند کا
په خوله کي هره مېوه خپل خوند کا
ترخه هم ښه دي په دا جـــهان کي
د خوږو قدر ترخه څرګـــــــــند کا

دا ګويا د ده د نظريې يو فلسفي او ظاهري تعليل او برهان دی.

دا خو د خان نظريات وه په غم کي، مګر سره د دې هم خان په دنيا کي د کار او عمل يو جدي روح لري، او د مادي دنيا د انسان له پاره د زيار او جهد يو ارت ډګر ګڼي.

په دې ډول دی په بين الامرين قايل دی، په يوه خوا کي مفرط نه دی، د ده حيات که څه هم په ډيرو آلامو لړلی او ډېر ناورينونه پر ورغلي دي، سره د دې هم د ده د جهد روح نه دی مړ، او د نړۍ د څپو سره د مېړاني مقابله کوي، له

دغه بيته د ده د پښتنوالي عملي روح ښه ځليږي :-

د جهان غمونه ټوله پکي ځای ســـول
شکر دا چي زړه مي لوی راکړوما هم

خوشحال خان د زمانې د حوادثو سېلۍ ته داسي دی لکه غر، چي هيڅکله نه ښوري او نه اثر پر کولای سي :-

د عالم ډيري خبري لور په لور توري لښـــکري
زړه مي نه خوځي له ځايه غر خو هسي وي کنه

د هر شاعر کلام د ده د اخلاقو او زړه او د ده د نفسياتو هنداره ده، فقط دغه يو بيت کافي دی چي زموږ د فيلسوف او پښتون اديب د پښتنوالي ثبات او د زيار او جهد فلسفه دي څرگنده کي، نو يې لنډه دا ده چي خان د ژوندون فلسفه يوازي غم او درد او نری والی نه بولي، او نه يوازي د تنازع او جگړې پر خوا دی، بلکه يوه معتدله فلسفه يې غوره کړې ده، چي و تحقيق ته نژدې ده.

صوفي خوشحال خان:-

د تصوف په تسميه او اساس کي پوهان ډول ډول افکار لري، حضرت معروف کرخي يې د رباني حقايقو تعقلً او قشميري يې د "انتهايي حقيقت پوهنه" بولي[۲۸]. په اصل کي خو متصوفانه افکار په ټولو زړو ملتو کي هم وه، د هند ويدانت او د نوي فلاطونيت د فلسفې افکار خو اکثر د تصوف سره سموالی لري، فلسفه او تصوف تر دې اندازې سره گډ دي چي د تصوف نوم هم ځيني علماء له سوف مشتق او معرب گڼي، ابوريحان بيروني (٤٤٠ هـ وفات) ليکي :

"هذا رای السوفيه، و هم الحکماء، فان السوف باليونانيه الحکمه و بهاسمي الفيلسوف پيلاسوپا ای محب الحکمه و لما ذهب فی الاسلام قوم الی قريب من رأيهم سموا باسمهم ...[۲۹]"

حکيم عمر خيام بلخي وايي : چي اهل تصوف په تفکر او انديښنه سره د معرفت غوښتنه کوي، د باطن تصفيه، د اخلاقو تهذيب، د نفس نامانته پاکي، د طبيعت له تورکښو څخه کوي، چي دا لار دمعرفت له پاره تر ټولو ښه ده[۳۰]، حضرت امام غزالي هم خپل وروستنی تحقيق او سمه لار تصوف گڼي[۳۱]. نو تصوف يو مسلك دی چي اسلامي پوهان وايي، په قرآن عظيم کي چي هر ځای د کتاب سره لفظ د حکمت راغلی دی، مطلب پکي دغه پاك مسلك دی[۳۲]، په سورهْ بقره کي دي "و يعلمکم الکتاب و الحکمآ" په حديث شريف او سنت نبوي کي د ايمان سره احسان ذکر سوی دی (لکه په صحيح بخاري ابواب الايمان کي) حضرت شاه ولي الله صاحب دهلوي محدث وايي، چي په احسان کي مطلب اسلامي تصوف دی[۳۳]. ځيني پوهان تر ډيري پلټني وروسته په دې قايل دي چي تصوف پر دوه ډوله په مسلمانانو کي راغلی دی، يو فلسفيانه تصوف دی چي د اسلام اکثر حکماء او پوهان په دغه ډله کي دي، لکه ابن سينا، فارابي، خيام او د اخوان الصفا ليکونکی، چي د دوی فلسفه د اشراقيت او د نوي فلاطونيت له مدرسو څخه اخيسته سوې ده[۳٤].

دوهمه ډله د اسلامي او ديني تصوف والا ده، چي دغه ډله هم څه نه څه فلسفي افکار لري، مگر استفاضه و استفاده يې له مشکوه د قرآن او سنت نبوي ده، اسلامي عرفاء ټوله په دغه ډله کي شامل دي چي مشران يې حضرت امام غزالي، شيخ محی الدين عربي، حضرت ابن تميمه، حضرت مولانای رومی (بلخي) او نور مشاهير عرفاء او متصوفين دي.

په عربي او پارسي ادب کي خو د دغو دواړو مسلکو خاوندان ليدل کيږي او تصوف د پارسي ادب روح دی، شبلي

نعماني وايي چي تر تصوف دمخه پارسي ادب يو خالي کالبت و[۳۵]، لومړی حضرت شيخ عطار او مولانای رومي او نورو شاعرانو تصوف په پارسي ادب ګډ کی، چي تراوسه پوري تصوف د ادبياتو روح دی.

په پښتو ادبياتو خو هم لومړئ ابتداء سوې ده، د پښتو د شعر لومړی نشو ونما ادبي ارتقاء د مغولي اکبر پاچا له عصره شروع کيږي، په دغه وخت کي په هند او ايران کي د تصوف مسلك غالب و، او د ننګرهار او اټك په پښتنو کي يو سړی و، چي بايزيد بن عبدالله نومېدی، او اصلاً د کندهار له خوا او وروسته په اورمړ کي د کاڼ کورم ميشته سو، دا سړی وروسته په پير روښان مشهور سو، او ډېر مريدان يې وميندل، د اکبر پاچا له صوبدار سره يې سخت جنګونه وکړل ، دا سړی يو کتاب هم لري، چي خيرالبيان يې نوم دی، او اقوال يې ټوله متصوفانه دي[۳۶].

پير روښان په هند او ايران او تورکستان کي ډېر سفرونه کړي وه، د ده عقايد و باطنيه او قرامطه ته مايل دي، او لکه اخوند درويزه چي ليکي ده په پښتو په پارسي په هندي اشعار ويلي او خپل افکار يې پکي راوړي دي[۳۷]. پير روښان په پښتو او پښتو ادب کي افراطي او فلسفيانه تصوف افکار داخل کړه، او اخوند درويزه هم د ده په مقابل کي مخزن الاسلام او ارشاد الطالبين او تذکره الابرار کتابونه نشر کړل، د پير روښان شاګردانو هم ټوله تصوف په پښتو کي داخل کړه، ميرزا انصاري چي يوسفزی و، يو کامل دېوان د تصوف په پښتو جوړ کړ[۳۸] تر دوی وروسته نو تصوف هم د پښتو اشعارو، يو مهم ټوك سو، او ټولو شاعرانو پر دغه موضوع څه څه ويلي دي، لکه عبدالرحمن، حيمد، عبدالعظيم، ارزاني او نور ...

د خوشحال خان تصوف :

خوشحال خان په تصوف کي ښه ويل او خواږه اشعار لري، د ده تصوف اسلامي دی، که څه هم کله کله د فلسفي ګراني ويناوي او غامض بحثونه هم کوي، مګر د افراط له خوا څخه ځان ګواښي، خوشحال خان په طريقت کي د شېخ رحمکار مقلد دی، او د ده تصوف هم لکه چي له دغه مشعله رڼيږي، دلته به موږ د خان ځيني متصوفانه افکار وليکو :

د جمال مشاهده :

د عرفان او تصوف په اساس کي د قدرت د جمال ننداره ګڼه ده، عارف د دنيا مختلف مناظر ګوري، او د هر يوه څخه د عرفان او تحقيق برخه ټولوي، په قرآن عظيم کي چي ډېر ځايونه د قدرت د آثارو د مشاهدې ارشاد سوی دی، د ارشاد د هدايت سټه ده، (وفی الارض آيات للموقنين و فی انفسکم افلا تبصرون "الذاريات ۲۰ _ ۲۱").

دا دنيا يوه ښکلې دنيا ده هر شی يو نظام او تناسب لري، عارف چي هر شی ويني د حقيقت نور پکي ځليږي، او د جمال وړانګي ځني غورځي، عارف له مصنوع د صانع د قدرت مشاهده کوي، او له دغي لاري لوړ مراتب مومي، سعدي وايي :-

برګ درخـــــتان سبز در نظر هوشيار
هر ورقش دفتريست معرفت کردګار

دا مسئله په تصوف کي دومره عامه ده، چي هر څوك په يو راز تعبير په کوي :-

زنده در عـــــالم تصویر همین نقاش است

خواب غفلت همه را برده و بیدار یکی است

دا هغه مقام دی چي "الله نورالسموات والارض" کي ذکر دی، صوفي د دغه نور په ننداره کي دومره محوه کيږي چي پای يې حيرت دی، ابن فارض مصري وايي : "زدني بفرط الحب فيك تحيراً" !

خوشحالخان په دغه موضوع کي ډېر دمخه دی، دی لکه صوفيه انسان عالم کبير بولي، او د انسان له پاره د ځان پېژندنه د معبود معرفت گڼي،او په "من عرفه نفسهُ فقد عرف ربهُ" قايل دی، د کتاب په لومړی بدله کي وگورئ، خان د انسان د بدن عجائب يو يو ښيي، وروسته نو د معرفت فلسفه او د خپل تصوف سټه پر ټينگوي او وايي :-

هر وېښــته چي په صورت باندي ليده سي

که پر خير سي د شناخت ور به درته واز کا

خـــــــاص بنده د خدای هغه گڼه خوشحاله

چي د ځــــــــــان په معرفت يې سرفراز کا

خوشحال خان د معرفت په دنيا کي ببله دغو ظاهري حواسو، چي د مادي خواص دي، يو بېل روح او بېل باطني حواس هم مني، چي هغه نو د معرفت وړ بولي، چي په هغو سره حقايق درک کيږي :-

عارفان د سر په سترگو گوتي کېږدي

د خپل زړه په سترگو گوري تماشا کي

دا دنيا د ننداري ميدان دی، او له هري خوا د معرفت انوار اوري :-

په هر لـــــــوري نوبهار دی غوړېدلی

سترگي وخوره جي به دا ننداره نه کا

خوشحال د مصنوعي له ليدو څخه د صانع قدرت مني، او په دې ډول استدلال کوي :-

که دي سترگي د عرفان سته مبارك سه

د گلـــــــــزار په ننداره چي استقلال کړي

گل ته هسي رنگ و بوی ورکـړی چا دی؟

د لاله د گل چـــــــــا هسي پاني لال کړي

د جمال په ننداره کي سړی حيرت ته ځي، او په پای کي له هر شي څخه د معرفت برخه اخلي.

په و تورو خاورو هسي حسن ورکا

زه حيران پاتو په صنع د خالق يم

خان په دنيا کي تر مادي قوت روحاني واك مهم گڼي، او دا د تصوف فلسفه په داسي ژبه وايي :-

د صورت په زور قوت، غر نه ماتيږي

که خبر يې د کـــــــوهکن په زور قوت

چي د روح قــوت پيدا سي قمر شق کا
پر هر لــوري يې په مخ درومي نصرت

په دې بيتو کي د خان د تصوف افکار ښه څرګند دي :-

راسه وغـــــــــړوه سترګي
د جهان ننداره ګـــــــوره
چي ښايست لري په ستوريو
د آسمان ننداره ګـــــــوره
د دې خپل وجود په باغ کي
په هر شان ننداره ګـــــوره
چي هر ګل وته نظر کــــړې
د باغوان ننداره ګـــــــوره

وحدت :

وحدت د تصوف روح دی، صوفي لومړی د نفس تزکيه او تصفيه کوي وروسته نو له ماسوی الله څخه ځان ژغوري، په هره اندازه چي د ده دغه عزلت او ليري والی له ماسوی الله څخه ډېريږي، هغومره د وحدت خوا ته نژدې کيږي، څو په پای کي په ټوله کائناتو کي بېله يوه (واحد) بل څه نهويني، چي د نورو فنا راغله، نو د حق وجود پاته سي و بس. دا مقام په تصوف کي ډېر لوړ دی، صوفيان پکي ورک دي. منصور بن حلاج په دغه لار کي ځان بايلو، اوحدي کرماني وايي :-

پس باش يقين که نيست والله
موجود حقيق ســـــــوی الله

د وحدت مسئله په تصوف کي لومړی د شهود په ډول وه، وروسته د وحدت الوجود په ډول سوه ، په دې بيت کي دا دواړه ډوله خلص تعبير سوي دي :-

هر چيز که نشان هســـــتی دارد
يا پرتو روی اوست يا اوست ببين

خوشحال خان هم د تصوف د دغو خوږو څخه برخه لري، د هغه وخت چي حقيقي جمال په هره خوا کي ويني وايي :-

که مسجد ګــورې کــــه دير
واړه يو دی نسته غــــــــير
يو مي بيا موند په هــر څه کي
چي مي وکـــــــړ د زړه سير
هغه ځای په ســـــــير ګرځم

چي ترې نه رســـــــــــېږي غير
په احــول بانـــــــدي يو دوه سي
ځـــــــــه نسته باندي خـــــــير
خوشحال يو ويني خوشحال دی
ورته ورك دی غـــــــير و زيــــر

د دنيا د پوهانو جدال، د فلاسفه و قيل و قال د حقيقت په لار کي ډېر دي، ماديون يوې خواته ځغلي، عقليون بله لار اخلي، خوشحال خان دغه اختلاف د ناپوهۍ له پوله ګڼي او وايي :-

خلق ناديده دي په خبرو پسي ځــــــغلي
جار تر عارفانو چي په حال دي پوهېدلي
دواويا مذهبه پکي هونبره قال و قــــــيل
واړه سر هوا پخپل مطلب پسي دي تللي
واړه نور د لمر دی هم دننه هم دبانـــدي
هر چرته دا نور دی پر هر ښهر په هر کلي

په دې بيتو کي خوشحال خان د شېرازي حافظ هغه مشکل حل کړی دي چي دو اويا مذهبه يې ورك کړي :-

جنګ هفتاد و دو ملت همه را عذر بنه
چون نديدند حقيقت ره افسانه زدنـد

دا حقيقت چي حافظ يې ستايي، هغه حقيقت دی چي خوشحال خان يې بيانوي (واړه نور د لمر الخ) د عارفانو د عرفان پای دغه دی چي خان ويلي دي :-

يار مي هسي رنګ ځائي وکړه په سترګو
چي و هر لوري ته ګـــــــــورم واړه دی دی

دا دی د رياضت او تصوف او مجاهدې او سير آخر، چي يوه بل عارف هم ويلي دي :-

در هر چه بنگرم تو پــــديدار بودهْ
ای نانموده رخ تو چه بسيار بودهْ

فنا :

فنا د تصوف مهم مقام او د سنګرو ډکه لار ده، څو انسان دا لار پرې نه کي د وحدت مقام ته نه سي رسېدای. شېخ عطار قدس سرهُ وايي : (التوحيد اسقاط الاضافات) ، صوفيان د ځان فناعين فنا بولي، او د (موتوا قبل ان تموتوا) مطلب هم دغه ګڼي ، فنا په مجاهده سره مونده کيږي او ډېر زيار غواړي، چي انسان تر خپلو ټولو طبيعي خواهشو تېر سي، خوشحال خان دا د تصوف مقام داسي ښيي :-

همېشه که ژوندون غواړې درته وايم
همېشه کوه د نفس سره جـــــــهاد !

خان د وحدت د لاري سلوك تر هغو نه مني څو سړی نفی د ماسوی الله ونه کي :-

بيا ها له يګانګي له حاله لاف کـړه
که د غير اندېښني له زړه خرج کړې

بل ځای دا مجرا په دې ډول څرګندوي :-

که دا خپل صورت دي نيست په عشق کي نن کړی ای خوشحاله
بيا دي ځان د هستی لاف کړه وايه زه هم هســـت د ده يم

مړينه او ژوندون :

لکه چي نور انسانان مرګ ته د بيري په سترګه ګوري، بالعکس متصوفين بل نظر ورته لري، دوی مړينه عين ژوندون ګڼي، او وايي چي د انسان روح د عالم قدس سره کار لري چي بدن مړ سي، نو روح خپل مرکز ته صعود کوي، مولانای روم په مثنوي شريف کي دغه مسئله ښه اوڅاروي:-

اين بقاها از فنـــاها يافـتی
از فنا پس رو چرا برتافــتی
در فناها اين بقاها ديـــــده
بربقای جسم چون چسپيده

صوفيه تل د مړيني په ارمان ژاړي او خپل مرکز ته ارتقا غواړي :-

بشنو از نی چون حکايت ميکند
وزجدائی ها شـــــکايت ميکند
کز نيستان تامـــــرا ببريده اند
از نفيرم مرد و زن نالـــيده اند

خوشحال خان هم لکه پاخه صوفيان د انسان مرګ وصول د څاڅکي و يم ته بولي، او وايي :-

په څه شان راغلم په څه شان درومم
قطره چي ښله سي درومي بيا يم ته

ځکه چي په مرګ کي روحاني ارتقا ده، نو مرګ تر ژوندون ښه دی، ولي چي توره اوسپنه د هنداري په څېر رونړوي.

چار د مرګوتي معايــــــنه ده
ښه تر ژوندونه هر آئــــــينه ده
پښ تېشه ماته کا آئينه سازه کا
چي تر تېشه نه ښه آئــــينه ده

خپلوي او مينه :

تصوف د خپلوۍ او ميني دنيا ده د صوفي په نظر کي دنيا د قدرت د جمال مظهر ده، نو چي دی د حقيقت په

سترگو وگوري، هر ځای د هغه جمال تجليات او انوار ويني :-

چشمی داری و عالم در نظر است

ديگر چه معلم و کـــــــتابت بايد

نو ځکه د صوفي په نظر کي دنيا ټوله محبوبه ده، د هيڅا سره دښمني نه لري ، حافظ په دغه مرغ د کونينو سره په روغه کي دی :-

زيمن عشق بکونين صـــــلح کل کردم

تو خصم باش و زما دوستی تماشا کن

خوشحال خان چي دې مقام ته راسي نو وايي :-

له دو اويا مذهبه سره به ســـــاز وکړي له دله

خوشحال که خبر سي په تحقـيق د عشق د کېشه

خوشحال خان له دغه متصوفانه فکره يو اجتماعي فکر هم مومي، او د بشر پر گندو او د انسانانو پر ډول ډول اختلافاتو افسوس کوي، او

وايي :-

يو يې اصل سره دوه اويا مذهبه

خدايه څه بنی آدم فريق فريق سه

اخلاق :

د تصوف سټه اخلاق دی، تزکيه د نفس او سموالی د اخلاقو خو و صوفي ته لومړۍ وظيفه ده، خوشحال خان خو د اخلاقو و سمون ته ډېر اهميت ورکوي، د ده کلام اکثر اخلاق دي، رضا، قناعت، صبر، خاکساري، درويشي، انزوا، د وګړو چوپړ، په ورين تندي ژوندون، پټه خوله والی، تحمل او نور ټوله ښه اخلاق ده په خپل کلام کي ستايلي او توصيه يې په کړې ده، چي تاسي بې په مطالعه کي د کتاب ووينی.

پښتون خوشحال خان:-

هر ملت ځانته ځيني خواص او مزايا لري، چي هغه نو مايه د افتخار د ده وي، د هر ملت پسيکولوژي (روحيات) بېل دي او اخلاق او دودونه يې له نورو څخه جلا دي. چي په هغو سره پېژندل کيږي او په هغو اخلاقو سره لوړيږي، يا کښته کيږي !

د علم الروح پوهان خو دغه اخلاق او مزايا او ملي خواص د ملتو د ژوندون سټه گڼي او وايي چي هيڅ ملت ښېله خپلو ښېگڼو ژوندی نه پاتيږي:-

انما الامم الاخلاق ما بقيت

فـــان ذهبت اخلاقهم ذهبوا

پښتون خو يو اصيل ملت دی او هر کله پخپلو ملي ښېگڼو ژوندی دی، د پښتون ملت او ملي خواص ټوله پښتنواله

بولي، او په پښتنو كي پښتنواله مخصوص اصول او قوانين لري، د پښتو لار د پښتنو زوړ اجتماعي ميرات دی، پخوانو پښتنو ټولو تر دغو اصولو لاندي ژوندون كاوه، خوشحال خان خو د پښتنو اديب دی، نو د ده كلام هم له پښتنوالي ډك دی، د پښتو او پښتنوالي خواص او مزايا خورا ډېر دي، چي جلا كتاب غواړي، مگر موږ دلته د خوشحال خان د وينا د پښتنوالي خوا ښكاره كوو:-

(۱) پښتون خو فطرتاً په اخلاقو او اجتماع كي عاجز دی، او بې ځايه كبر نه لري، مگر دا تر هغه وخت چي څوك د ده پر حقوقو تجاوز ونه كي، د پښتنوالي حكم دا دی، چي پښتون پر ځان باندي د بل تعرض نه سي منلای، خوشحال خان دا د پښتو لار داسي ښيي :-

كه په تـــوره يې جواب وركړې مردي ده
چي وجود دي څوك آزار كاندي په چوب

(۲) په گرانو چارو او مشكلاتو كي ټينگار او ثبات د پښتنوالي لوی ركن دی، پښتون سر بايلي مگر ميدا نه پرېږدي، خوشحال خان پخپله هم د دې ميدان زمری دی، ده اويا كاله په پښتنواله د ډېرو ناورينو سره د زمري په څېر مقابله كړې ده، دی وايي :-

پر جـــهان د ننگيالي دي دا دوه كاره
يا به وخوري ككرئ يا به كامران سي

دی دومره پر ځان ويسا او اعتماد لري، چي فقط ځان د ټولو مصائبو په مخ كي كافي گڼي :-

د مـــــــــزريو مړنتوب په لښكر نه وي
مټ يې هر كله يوازي په خپل ځان سي

دی د مقصد په لار كي تر دې حده د زيار طرفدار دی :-

تر مطلوبه پوري شرط د رسېدو دی
كه تـــــــامامه لار په وينو سي آلوده

پښتون د هر راز مشكل په مقابل كي نه ښايي چي د همت لار پرېږدي:-

كه اسمان دي د مزري په خوله كي وركا
د مزري په خـوله كي مه پرېږده هــــمت

خوشحال خان د مغلو په مقابله ډېر ټينگار وكړ، په پای كي چي د هغو په لاس كېووت، هم د ده د پښتنوالي غرور او د نفس لوړتيا د هغو مظالمو نكړه ور ماته، بلكي له بنديخانې څخه د مغلو هم خپلو زامنو ته ډاډ وركوي، د ده حماسي افكار دلته ښه ځرگندېږي چي تاسي دا منظوم مكتوب ولولی:-

په مردن پــــــــروادار نه يم
په زندان پروادار څـــــه يم
اشرفخان دي راته كښـــــلي
څه خو خوښ په خط د ده يم
پنځه مياشتي يم په بند كي

بابا ډېر ډاډه پــــــــه زړه يم
زويه ما خو غم د تا كــــــــړ
چي ته ښه يې زه خو ښــه يم
چي فلك سره ســــــــر باسي
په همت كي هــــــــغه زه يم

دا مكتوب په بند كي خان د خپل زوی اشرفخان په جواب كي ليكلی دی، خوشحال خان هغه زړه چي د مشكلاتو په مخ كي ولوېږي، د سره زړه نه بولي :-

واړه زړونه فراغت وي په ښادي كي
چي په غم كي مردانه سي زړه هغه

(۳) رشتيا :-

په پښتنواله كي رشتا ډېر اهميت لري، درواغجن ته پښتون نه ويل كيږي، خوشحال خان د رشتا په لار كي و هر راز تاوان ته ولاړ دی، كه څه هم په رشتيا كي خلك د ده سره ميرڅي كوي، مگر دی تر رشتيا نه تېرېږي :-

چي ځوان وم دا يم زوړ سوم په رشتيا رشتيا خبرو
عالم د ځان دښمن كړم كه دا عيب دی هم دي وي

خان د درواغجن خوله اصلاً خوله نه بولي، د ده په مذهب او د پښتنوالي له پلوه خوله هغه ده چي رشتيا وايي :-

چي دروغ تر خوله وباسي كله خوله ده
چي رشتيا تر خوله وباسي خوله هغه

(٤) ننگيالي توب او مېړانه :

ننگ او مېړانه هغه شيان دي چي د پښتنوالي ولي پكي ولاړي دي، كه دغه نه وي پښتنواله هم قطعاً نسته، پښتون د ننگي پر لار، سر وركوي اما بې ننگي نه سي منلای:-

په تور توپك ويشتلی راسې
د بې ننگۍ احوال دي مه راځه مينه

د پښتنوالي دا مزيت او د پښتنو دا خاصه هغه ملي مميزه ده چي د دوی ثانوي طبيعت گرزېدلی دی، د پښتون ژوندون چي په ننگه او پښتو او مېړانه، نه و، داسي ژوندون ژوندون نه بولي :

ورځه ورځه تر دكن تېر سه
د بې ننگانو تر ژوندون ښه دي مرگونه

خوشحال هم د ننگي د لاري لېونی دی، د ده كلام د پښتنوالي دا خاصيت په ښه ډول تشريح كوي، دی د پښتو د مېړاني حقيقی معرف دی، لكه چي وايي :-

ننگيالي د ننـــــګ له پاره
په هر څه لـــــــــګوي اور
سر په باد د ســـــړي پرېوزه
چي يې نه وي ژوندون نور
چي په نام و ننګ اړ نه وي
که تل ژوي مـــــخ يې نور
سر په دار لك سوی ښه دی
نه لك ســـــــوی پر پېغور

د ننګ سره دا تړلې ده چي د سړي همت به لوړ وي، او طمع به نه لري، خوشحال خان هم د پښتنوالي د ننګ په دنيا کي ډېر مستغني دی، د ده په نظر خپله غړکه تر سلطنت هم ښه ده :-

چي سړې شنوبې يې څښم په وخت د اوړي
بادشاهي د اورنـــــــــــــګزېب زما غړکه

خوشحال خان د پښتنوالي د زاړه عظمت او په هند کي د لودينانو او سوري پښتنو د شاهنشاهۍ په ياد هر وخت د حسرت اوښکي تويوي، او پښتنو ته د خپلو ورکو اخلاقو او ښېګڼو توصيه کوي :-

د بهلول او د شېرشـــــــاه خـــــبري اورم
چي په هند کي پښتانه وو بـــــــادشاهان
شپږ اوه پېړۍ يې هسي پــــــادشاهي وه
چي په دوی پوري درست خلـك وه حيران
يا هغه پښتانه نور وه دا څـــــــه نور سول
يا د خدای دی اوس دا هسي شان فرمان

پت په پښتو کي يوه جامعه کلمه ده، چي لو لمن لري، پښتون پر خپل پت سر ورکوي، خان وايي :-

سر دي دروميې مال دي دروميې پت دي نه ځي
د سړي د چاري کل خـــــــــــوبي په پت ده

يا :

چي د ننګ په چارو نر نه دی خوشحاله
که يې نر ويني په سترګو هـــم ماده ده

يو وخت د خان زوی چي نظام يې نوم و، مړ سو، خان د ده مرثيه په (٦٠٢) مخ کي ويلې ده، اما ډېر افسوس کوي چي دا ځلمی کشکي د ننګ په لار کي مړ وای، ولي چي د تلتك مرګ د پښتانه له پاره پېغور دی:-

کشکي ځوان د پښتانه په ننګ کي مړ وای
نه چي ګور لره روان ســــــــــو له تلتکه
چي د قـــــام په ننګ کي ومـــــړ هـــــغه زويه

په عالم کي د خـــــپل پلار غاړه کا لـــکه
نو په پښتنواله کي هغه مرګ چي د ننګي په لاره کي وي ډېر ښه دی.

خوشحال خان دنیا او ژوندونه ټوله ننګ ګڼي، که پت نه وي ژوندون هم نسته، او د پته سره ژوندون که څه هم خوار وي، مګر ساری د پاچهۍ دی :-

جهان شرم نام و ننـــــګ دی
که دا نه وي جـــــهان ړنګ دی
چي خوشحال باندي ناستي کا
دا پـــــوزی نه دی اورنګ دی

(٥) بدائي او تمول :

په پښتنواله کي بډایي او تمول خاص د دغه له پاره ده چي نور استفاده ځني وکي، بخل او کسکی په پښتو کي نسته، پښتون د ماله سره له دې پلوه مینه لري چي په نورو یې وخوري، خان خو هم اباً عنجد سخي او غني سړی و، ده د خدای کوټه مال ټوله د سخا په لار کي صرف کړی دی، دی وایي :-

چي ګټل خوړل بخښل کا ځوان هـغه
چي توره لري د توري خان هـــــــغه
چي یې ته په ګېډه وخورې حبطه سي
د مجلس سره چي خوړ سي خوان هغه

د خان په نظر کي بډای هغه څوك دی، چي د ده د ثروت ګټه نور اخلي:-

دولتمن سړی هـــــــــغه بللی بویه
چي له سینده یې جدا د چا واله سي

خوشحال خان وایي چي زه د زرو دښمن یم، او یو ګړی یې نه پرېږدم، ننګیالی سړی خو خپل دښمن د ځان تر مخه کوي، نو ځکه زر زما له لاسه تښتي :-

زه او زر ســــــره له ځایه غلیـــمان یـــــو
په جــــــهان کي غلیمان سره رغـــــیږي؟
چي غلیم د مړني په نظر کـــــــــــېوزي
نور یې زړه د ده و مرګ ته پړکـــــــــیږي
شاه زلمی به خپل غلیم کا تر ځان وړاندي
و نامرد و ته به سل حـــــــــیلې دریږي

... الخ ... ص ٤٧٨

دا وه ځیني خلص مواد چي موږ د پښتون خوشحال خان تر عنوان لاندي راوړه، ځکه چي دا مضمون ارته لمن لري، نو مو د اختصار په سبب لنډ کی، البته پخپله ویونکي به هم د خان په کلام کي د پښتنوالي ډېر مزایا مومي.

توريالی او جنګيالی خوشحال خان :-

خوشحال خان محض ويونکی او يوازي شاعر نه دی، بلکي د ده د قول سره عمل او د ګای سره کړن ملګری دی، نو لکه دی چي په ويلو او شاعري او ادب کي، پلار او مشر ګڼل کيږي، دغسي هم په حرب او توره کي سردار دی، توريالي توب د پښتنو په خټه اخښلی دی، پښتون چي توريالي نه و، پښتون نه دی. پښتون د وسلې او توري سره ډېره مينه لري، معشوقه هم د عاشق په توريالي توب نازيږي :-

توري به نه کړي نو به څه کړي

چي دي شيدې د پښتنې رودلي دينه

پښتنه مينه د بې زړه او بې توري مين عشق پېغور ګڼي :-

له سپيني توري نه دي ترپلود

پر بېګنۍ در کړې خوله پښېمانه يمه

خوشحال خان خو حقيقي پښتون دی، نو ځکه توريالی دی، او دی د خپل عصر يو نامور عسکري قايد ګڼل کيږي، هغه جنګونه چي ده

د مغولو د شاهشاهۍ د لښکرو سره کړي دي، مشهور دي، د ده

حربي او جنګي احساسات خورا تاوده او آتشين دي، او د عمر ډېره برخه يې په جنګو کي تېره سوې ده، او په اکثرو جنګو کي يې ټپونه اخيستي دي.

د خان کلام جنګي او حربي برخي لري، او د توريالي توب په ستاينه کي داسي ويناوي لري چي د پښتنوالي ترجماني يې کوي :-

کل ګټنه ده د تـــــوري

که کابل دی که کشمير

مېړني دي چي ياديږي

په ســـــــندرو هم په وير

خان د حرب علمي روح لري، او هر ځای پخپله د خپل لښکر سره يو ځای په جنګ کي درېږي :-

د تورو په ميدان کي چي سودا وي د سرونو

هغه زمان مي ګوره تل به سور وي زما آس

خوشحال خان د جنګ په ميدان کي د توري له پرهاره خوند اخلي، او دغه د مېړاني محك ګڼي :-

کله مېړني دي چي د توري په ميدان کي

دی د تېرې توري په پرهار نه وي محفوظ

يا :-

چي څرګنده سربازي کــــاندي د تورو

زه خوشحال ختك تر هسي هنر جار سم

توریالی سړی هغه دی، چي د جنګ خوږې خبري او ساعت یې پر تریخ نه وي، بلکي د جنګ له میدانه خوند اخلي، د خان د خوښۍ وخت خو هم د جګړې وخت دی :-

د خوشحال خټك خوښي په هغه وخت ده
چي بریښنا وسي د تـــــــورو او د غرو

خوشحال خان خپله ازلي برخه د توري ګڼي، او په دغه برخه ډېر خوښ دی :-

بله بخره به په زور له چــــا وانخلي
د خوشحال بخره چي توره ده له ځایه

د پښتون زوی چي وزوکیږي، کلی او کور او قام ټوله په خوښ وي، په کلي کي د یوه مېږه د زیات توب د زیري نارې وسي، ټوله په دې خوښ وي، چي یو د توري مېړه مو زیات سو، دا ملي خصیصه د پښتنو پر توریالیتوب ښه دلالت کوي خوشحال خان دا ملي روح په دې بیت کي ښه ښیي :-

یا د ښو زویو ســــــندري دي د زوو
یا د توري په میدان کي هوی های دی

د توریالي ملت په ملي اشعارو کي د دوی د حماسته احساسات او افکار ښکاره وي، د عربو اشعار دغه مزیت ډېر لري، شاعران یې خپل توریالیتوب ستایي (السیف والخیل والبیداء یعرفنی)، د پښتون شاعر خوشحال خان حماسي افکار هم د ده په وینا کي ځرګندیږي، لکه چي وایي:-

لا په خوب کي په لـــــړزه پرېوزي له کټه
چي د چا تر غوږ زما د توري شرنګ سي

یا :-

په هغه هنر کي ټینګ اوسه خوشحاله
هر هنر چي ســـــپاهي لري په زړه کي

یا :-

د افغان په ننـــــګ مي وتړله توره
ننګیالی د زمانې خوشحال خټك یم

د پښتنو په نظر کي تر دغه لوړه د پېغور خبره نسته، چي سړی له جنګه تښتي او مردك پر شا وخوري :-

هغه هیڅ مــــــېړنی نه دی
چي به توره په قفا خوري

توره او د جنګ قوه خو په هر وخت کي ښه ده، او ډېر عزت او اعتبار لري ، بشریت د دې قوې تابع دی، یو عرب شاعر وایي :-

السیفُ اصـــــدق انباء من الکتب
فی حده الحد بین الجد و اللعب

خوشحال خان هم د توري د اقتدار ستاینه داسي کوي :-

چي په توره ترکـــــــــتازي کا
هغه هر کله کامـــــــــــگار دي
چي يې زړه نه وي د تـــــوري
هغه زړونه څه په کـــــــار دي
مور دي نه سي بانـــــدي بوره
چي مېړونه د کـــــــار زار دي
څوك چي سته تر شرقه غربه
د تورزنو خـــــــــــدمتگار دي

په بل ځای کي خوشحال خان خپل زوی ته داسي نصيحت کوي :-

که دي نقش د توري کښي راته غـــــوږ کړه
کامروا به سې هالـــــــــــــه له خپله کامه
ښه ځوانان به خپل هوډ پرېږدې لــــه لاسه
که يې سر سي د خـــــوني مزري تـــــر زامه
که تل توري غشي خوري ماتي د جنگ وړي
مرد به سوړ نه سي په زړه له انتـــــــــقامه

په دې رباعي کي خان د پښتنوالي جنگي روح ښه ښکاره کړی دی:-

زويه ورور مه سه چي ځـوانمرد نه وي
مرد د ټيکلي مـــــــــرد د نبرد نه وي
مېړه يې مه بوله ښځه پرې نوم کېږده
چي د جنگ غشی ورباندي ورد نه وي

چي مين پر وســــــــــله نه وي
مرد دي نه وايي خـپل ځان ته
لاس دي سره کا سترگي توري
ځان دي وجوړوي ځـــــوان ته

خوشحال خان علاوه پر نورو جنگو تر خپل بند وروسته چي وطن ته راغی د عمر تر پايه يې د مغولو د لښکرو سره سخت سخت جنگونه وکړه او تر پايه د پښتانه په څېر د مغولو سره د خپلي آزادۍ له پاره وجنگېدی، او لوی لوی جنگونه د ده په قيادت وسوه، چي دی يې په خپله په يوه قصيده کي چي په ۱۰۸٦ هـ کي يې په برمول کي ويلې ده، داسي شمېري : د تهتر په جگړه کي ده د مغولو[٣٩] زره عسکر قتل او تاراج کی، د ميرحسيني، د نوښار، د گنداب، د خاپس جنگونه يې مشهور دي، تفصيل يې په ٥٩٢، ٥٩٣ مخو کي وگورئ. د دې حماسي قصيدې په پای کي خپل حربي احساسات داسي ښکاره کوي :-

ساقي راسه ډکي ډکي پیالې راکـــــړه
چي د میو په مستي کي سم ســــرشار
پښتنو زلمیو بیا لاسونه ســــــــره کړه
لکه باز منګ لي سرې کا په خپل ښکار
سپیني توري یې ګلګوني کړې په وینو
په اهاړ کي شګفته ســــــــو لاله زار

خوشحال خان په حیث د یوه جنګي قاید، د مغولو پر لښکر باندي سخت یرغالونه کړي او خپل جنګي د پښتنوالي روح یې غلیمانو ته څرګند کړي دي :-

تر اورنګ پاچا مي ویوست
تاو د بند او د زنـــــــــدان
نقش مي کېناوه د تــــوري
په هندو په مســــــــلمان

د ده نور حماسیات او عسکري افکار او جنګي کارنامې به د ده په کلام کي خاص بیا د قصایدو په برخه کي وګورو.

رند خوشحال خان:-

په مشرقي شاعري کي رندانه اشعار او فکاهي مضامین خورا ډېر دي، دا ګویا د مشرقي شاعرۍ یو ټوك دی، په پارسي کي له زړو ادیبانو څخه تر متأخرینو پوري اکثر داسي اشعار لري، چي کله کله تر رندۍ هم اوړي. د انوري اشعار په قدماوو کي د قاآني او جلال الملك او نورو فکاهي شعرونه ډېر دي.

په حقیقت کي خو شاعري د طبیعت ترجماني ده، شاعر قلبي واردات په الفاظو سره منظوم کوي، نو انسان خو مختلف احوالونه او اوضاع لري، البته په هر حال کي چي شعر ویلی سوی وي، د هغه حال تصویر دی، سعدي د انسان حال ښه بیانوي :

گـــــــهی برطارم اعلی نشینم
گهی بر پشت پای خود نه بینم

د خوشحال خان په کلام کي هم رندانه او فکاهي مضامین ډېر دي، ممکنه ده چي ځیني خلك به یې دغسي اشعار خوښ نه کي، مګر موږ د دې له پاره دغه اشعار د ده له کلیاته نه دي ایستلي چي یوه مکمله نسخه منځته راسي.

ځکه چي د ده اشعار هره خوا لري، نو البته هر څوك به پر "خذماصفا ودع ما کدر" کتنه پکي وکي، اما که څوك دغسي اشعارو ته د عیب په نظر وګوري، نو به دا ادبي سهوه وي، ولي چي د هیڅ ادیب کلام له دغسي شعرو څخه خالي نه دی، که چا د مثنوي شریف قصې او د انوري، سعدي حتی د بیدل هزلیات لیدلي وي نو به زموږ خوشحالخان هم نه پړوي.

وطني خوشحال خان :-

د وطن مينه او د خپلي خاوري محبت لکه چي د انسان په خټه کي سته، پښتانه خو په خاص ځېر د وطن سره مينه لري، دوی متل کړی دی چي : " هر چاته خپل وطن کشمير دی".

خوشحال خان هم د خپله غره سره ډېره مينه لري د ده عمر د وطن د خاوري په ساتنه کي تېر سوی دی او ځان يې پر دغه خاوره وژلی دی. خوشحال خان ډېر وختونه د خپلي خوږې مېني په بېلتون ليري په هند کي تېر کړي او د وطن غوښتو په تور د وطن د غرو او ونو او گلستان په ارمان خورا د وير نارې وهي ، د ده زړه د وطن د مېني خوږمن دی، د بېلتانه سندري او کوکاري ځني خيژي :-

کـــه يو ځله مي رسيد وسي تر سينده
نور دي مه وينم په تورو سترگو هنده
نه به سترگي د سړي په ما خوږې سي
نـــه يې مـــــاته په اوبو سي د چا تنده

خوشحال خان بېله خپله وطنه پر هيڅ ځای کي نه خوښيږي :-

د خوشحال د زړه خوښي نه سي بې سرايه
خپل وطن يې پر هـــر چا باندي کشمير کړ

خوشحا لخان د هند له بنديخانې څخه خپل وطن ته داسي سلامونه او د زړه احترامات استوي :-

که گذر پر خيرآباد وکـــــــــــــړې نسيمه !
يا دي گښت وسي د سرای د سيند پر سيمه
په وار وار سلام ځـــــــــــما ورته عرضه کړه
ورسره ځما د لـــــــــــــــــــوريه څو تسليمه

... الخ ص ٢٣٧

خوشحال خان له بنديخانې څخه خپل د زړه اور او د بېلتون نارې او غلبلې تل وطن ته را استوي، او خپلي اوښکي د وطن په ياد بهوي :-

د بنو اوبنـي مي ويني سي ترې څـــاڅي
دا د تن جامه مي نه وي د اغـــــــــوستو
دا غزل چي د خوشحال ورسي تر سرايه
ښه ياران به يې نارې وکا په لـــــــوستو

وطن خو گران دی ولي چي هلته سړی زوکړی وي او د هغه ځای په اوبو او هوا لوی سوی وي، خاص بيا هغه وخت ډېر گران دی چي د سړي خواږه خپلوان او اشنايان هلته وي، يو عرب شاعر دا وطني فلسفه داسي ښيي :-

و من مذهبي حُب الديار لاهلها
وللناس فی ما يعشقون مذاهب

خوشحال خان هم دغه فلسفه په ښه ډول څرگندوي :-

چي پکي خـــواړه يـاران دي
پېښور تر هر ديار ښـــــــه
ښه په هند کي چـــنباګل دی
تر دا ګل د وطـــــــن خار ښه
د سرای قدر نور چــــا نه زده
په خوشحال دی تر فرخار ښه

خوشحال خان په هند کي اوسي، د دې ځای حيات د ده په نظر کي يو دوزخ دی، د وطن په ياد داسي ژاړي :-

نور جهان سقر سو باندي سرای دارالقرار دی
کله به خوشحال دارالـــــــقرار لره وردرومي

د خوشحال خان وطن د پښتونخوا يو سپېره غر دی که څه هم دا ځای نور څوك نه خوښوي، مګر د ده په نظر کي داسي قدر لري :-

د وطن ونې چندڼ اګــــــر دي
خاوري يې واړه مښکو عنبر دي
که سرای و نورو وته سنـــګړ دی
کاڼي يې واړه ماته ســره زر دي

خوشحال خان د مغولو د لښکرو او جګړو څخه په وطن کي ډېر په تنګ دی، د هغو د جهانګيری حرص دا سپېڅلی پښتون په خپل غره کي هم نه پرېږدي، مګر دی د وطن حب دومره لري چي هيڅکله خپله خاوره غليمانو ته نه سي پرېښوولای:-

درزی لا ګرز لري غچي ســـوزن لري
يو جمدر ګوټی خوشحال خـيرن لري
کوچ يې آسان دی مشکل هيڅ نه دی
غم د يارانو درد د وطــــــن لــــري

په دې ډول خوشحال خان يو حقيقي وطن دوست او پر مېنه مين پښتون دی :-

پښتني جوني دي زلفي باد ته نيـــــسي
چي شمال يې بوی راوړي په رنتبور کي

سياح خوشحال خان :-

خوشحال خان يو سياح او جهانديده سړی دی، دی په ټوله هند کي ګرځېدلی او د مشرق په ډېرو ځايو کي يې سياحت کړی دی، د ده تجربه او توريالیتوب او ادبي اقتدار هم په دغه سبب ډېر دی، پخپله وايي :-

کوم ملك دی له ما پاته چي مـــــي پل نه دی پر ایښی
هر ځای به ورته یاد کړم که څوك سته سیاحت کړونی

د ده اشعار اکثر په نورو ځایونو کي ویل سوي دي، چي دا نو د ده جهانگردي راښیي، مثلاً په (۱۰۸۰ هـ) کال چي دی په کابل کي و، یوه بدله یې ویلې ده، چي په (۱۳۷) مخ کي سته، هلته وایي :-

پوره زر اتیا کلونه په کـــــــابل کي
دا غزل مي پر بیاض باندي تحریر کړ

په دغه ډول خان یو جهاندیده او سیاح سړی دی.

مؤلف او لیکونکی خوشحال خان :-

خوشحال خان که څه هم د عمر ډېره برخه په جگړو او کشمکش کي تېره کړېده، او د توري د میدان بریالی او نامتو قاید دی، دغسي هم په علم او ادب کي ښه نوم لري، دی د پښتو ژپي پلار گڼل کیږي، او ډېر کتابونه یې لیکلي دي، د ده کلیات او اشعار تر (٤٠) زرو بیتو پوري رسیږي او نور ډېر تالیفونه لري، چي اوس متاسفانه ورك دي. د اروپا مستشرقین تر سل جلدو پوري د ده تألیفات گڼي او مسټر راورټي یې تألیفونه (۲٥٠) بولي[٤٠].

خوشحال خان د پښتنو تاریخ لیکلی او پارسي انوار سهیلي یې په پښتو د عیاردانش په نوم ترجمه کړی دی، او یو جلد کوچنی کتاب یې متفرق دیني مضامین لیکلي دي[٤١].

خوشحال خان د یادداښتو کتاب هم لري، چي افضل خان د ده لمسی په تاریخ مرصع کي حواله ورکوي[٤٢]. دغسي هم ده فضل نامه (د توري او قلم پر نزاع) لیکلې ده، او فرخنامه او ریاض الحقیقت هم د ده تالیفونه دي، چي اوس بالکل کمیافت دي[٤٣]. نور د ده کتابونه او تألیفونه دا دي :

باز نامه : چي د باز او د ښکار بحث دی.

هدایه : له عربي څخه پښتو سوې ده.

آئینه : مذهبي ابحاث دي، له عربي څخه په پښتو.

دستورنامه : د بگړۍ په باب کي ده.

صحت البدن : حفظ الصحه او طب دی.

دغسي هم راورټي انگلیسي مستشرق لیکي چي خوشحال خان یو راز مختصر نویسي او رزم نویسي ایجاد کړې وه، چي فقط د ده په کورنۍ پوري مخصوصه وه، بل څوك نه په پوهېده او نوم یې "زنځیري" و[٤٤].

په دې ډول خان یو زبردست لیکونکی او مؤلف و، افسوس دی چي د ده آثار ورك سوي دي.

د علم او ادب کورنۍ :-

خوشحال خان یوازي د پښتو ادب خادم نه دی، بلکي د ده د ادبي مکتب شاگردان او د ده د کورنۍ افراد هم اکثر فاضل او ادیبان پښتانه وه، د ده زامن او لمسیان او نور د کورنۍ سړي ټوله د علم خاوندان او د ادب د میدان سړي وه، چي د پښتو ژبي و ادب ته یې لوړ لوړ خدمتونه کړي دي، راورټي وایي چي : د دې علمي کورنۍ ښځي هم ادیباني

وې، او دېوانونه د شعر لري، د خوشحال خان يوه ښځه چي د اشرف خان هجرې مور وه ، مشهوره شاعره او اديبه پښتنه وه، چي اشعار يې سته. د دې ادبي کورنۍ خدمات او علمي کارنامې ډيري دي، بهرام خان د خان زوی ښه ليکونکی و، پخپله خان وايي :-

عطارد دي نور قلم له لاسه کېږدي

چي په دا خوبي بهرام انشاء املا کا

نور د خان د کورنۍ مشهور ادباء او شعراء دا دي :

(۱) اشرف خان :

هجري يې تخلص او د خان زوی دی، لوی د شعر دېوان لري، چي يوه برخه يې راورټي په ګلشن روه کي چاپ کړې ده، او د ده د شعررونه قريحه ښه ځني څرګندېږي، دی په ۱۰۹۳ هـ کال د مغولو لښکرو په بېجاپور کي د دکن بندي کی، او پسله لسو کالو حبسه هوري د وطن په بېلتون کي مړ سو، دی وايي[٤٥] :-

بې وطنه تنها پروت يم په غـــــربت کي

نن له ما سره همدم د صـــــــنم غم دی

د هيواد اشنا په سترګو لـــــــيده نه سي

که په خوب راته حاضر سي بس کرم دی

قاصدان له روهه نه راځي مدت ســــــو

ســــــــلام باد رارسوي منت يې تم دی

(۲) عبدالقادر خان :-

د خوشحال خان زوی دی، چي په پښتو کي ښه ويل او لوی دېوان لري، ده د سعدي ګلستان په پښتو په نوم د "ګلدسته" ترجمه کړی دی، او بحر خفيف کي يې د جامي يوسف و زلېخا هم نظماً ليکلې ده، د دغو کتابو يو څو برخي مسټر راورټي په ګلشن روه کي چاپ کړي دي. يوسف و زلېخا يې په (۱۱۱۲ هـ) تمام کړی دی. مسټر راروټي د "پښتو شعر په انتخاب" کي دی د (٦٠) کتابو مؤلف بولي، د آدم خان او درخانۍ کتاب هم ده ليکلی دی. عبدالقادر خان مقتدر اديب دی، چي د خپلي کورنۍ روڼ ستوری ګڼل کيږي، دی وايي :

زه خټك د يار په غم تازه ســــــوم

غوريه خېل رحمان که سو ورځني سترى

(۳) صدر خان :

د خان زوی و، تخلص يې صدر دی، دېوان هم لري، د نظامي خسرو او شيرين يې پښتو کړي دي، دی د عشق يو سبق د دنيا او مافيها له پاره کافي ګڼي :-

د عشق يو سبق کافي دی

نور د کل جهان دفتر هيڅ

(٤) سکندرخان :

د خوشحال خان زوی دی چي د مهر او مشتري مثنوی يې ليکلی، او د دېوان خاوند دی، دی وايي :-

مغني ګوتي په زېر ږدي پـــــــــه بم هم
هم ساقي ســـــــــــته هم بهار و صنم هم
که ناستي د يار د کوی په خاورو مومي
باغ بهار د سکـــــــــــــندر دی ارم هم[٤٦]

(٥) ګوهرخان :

د خوشحال خان زوی او خاوند د دېوان يو ښه اديب دی.

(٦) افضل خان :

د اشرف خان زوی دی چي تاريخ مرصع يې ليکلی دی، بل تأليف يې علم خانه دانش او بل کتاب يې اسم کوفي دی[٤٧].

(٧) کاظم خان :

متخلص په شيدا چي د افضل خان زوی او د خوشحال خان کړوسی دی، شيدا هم د دېوان خاوند او مبتکر اديب دی، چي په (١١٣٥ هـ) کال زېږېدلی او په کشمير او سرهند او رامپور کې عمرونه تېر کړي دي، شيدا خوږ کلام لري، او د هند د محبوبانو ستاينه داسي کوي :-

په هندي اداء يې وکړې په ما چــاري
زه شيدا په زړه ساده د روه افغان يم

(٨) علي خان :

هم د خوشحال خان له کورنۍ څخه دی، لوی دېوان لري، زبردست شاعر دی، دا بيت له ده دی :-

زه درپسي درست شپه پټ ژاړم لـــکه پرخه
ته سبا خندان لکه ګل واز ګرېوان د چا يې؟

لنډې دا چي له دغي کورنۍ څخه د پښتو زبردست او پیاوړي اديبان وتلي، او هغه خدمت چي دې کورنۍ پښتو ته کړي دي، بل چا نه دي کړي.

د خوشحال خان ادبي شهرت :-

خوشحال خان د پښتو شعر پلار او لومړی استاد ګڼل کيږي، خوشحال خان يوازي پښتانه نه پېژني، بلکي د اروپا محققين او پلټونکي پوهان يې ښه پېژني، په ټولو کتبخانو او علمي ځايو کي د ده دېوانونه سته، او څو تنو د ده وېناوي پخپلو ژبو ترجمه کړي دي.

اسلامي انسکلوپیډیا د ده په باب کي داسي لیکي :

"خوشحال خان توریالی او شاعر او مشهور خان و، د ده اشعار له وطنخواهۍ څخه ډك دي ... ص ۹۷٦ ج ۲".

دارمسټر فرانسوی مستشرق وایي : "خوشحال خان د توريالي توب او شعر روح ګډ درلود".

ابرهام ګریرسن انګلیس وایي :

"خوشحال خان د خټکو توریالی مشر و، د ده شعر نسبت و نورو شاعرانو ته ډېرخوږ دی".

راورټي وایي :

"خوشحال خان د پښتو ډېر مشهور ادیب دی، د ده اشعار په اروپا کې ډېر خوښ سوي دي، او قدر يې کوي".

سی ای بیدولف د ۱۷ قرن په اشعارو کي لیکي :

"خوشحال خان ډېر استعدا او فوق العاده پوهه درلوده، هیڅ مضمون نه دی پاته چي ده په شعر کي نه دي ویلي، د ده اشعار د وطن خواهۍ خوا لري، د حرب، عشق، مذهب، اخلاق او فلسفې څخه ویناوي کوي".

دا وه د اروپا د پوهانو افکار نسبت و خان ته، په پښتو کي د ده شهرت او ادبي منزلت پخپله پښتنو ته ښه اوڅار دي، تر دې حده چي د ده ویناوي د عوامو په خولو کي اوس د متلو پر ځای ویل کیږي، مثلاً :

مه خوشحال وای مه خټك وای مه خاني وای

چې په لاس کي مســلی وای خو ځوانی وای

وفات او وروستنۍ وینا:-

خوشحال خان د عمر په آخر کي چي ډېر سپین ږیری سو، اپرېدو ته ولاړ، او عزلت يې وکړ، چي عمر يې (۷۸) کالو ته ورسېدی په ۲۸ د ربیع الاول (۱۱۰۰) هجري کال سم له (۱٦۹۱ ع) کال سره په ډېره ناکامي وفات سو، او پخپل مسکن کي چي سرای نومیږي د لوړو غرو په لمن کي ښخ سو (٤۷)، د خوشحال خان وروستنۍ وینا او آخرنی وصیت دغه و :

"ما هلته ښخ کړئ، چي د مغولو سیوری مي پر خاوره ونه سي، او د مغولو د سپرو د پښو ګرز مي پر هدیره ونه لوېږي".

د هند فیلسوف علامه اقبال د پښتنو د دې نامتو مشر او ادیب او فیلسوف دا وصیت په دې ډول نظم کړی دی :

کهول تجهـ سی ای همنشین دل کی بات
ده مدفن هی خوشحال خان کـــو پسند
اړا کر نه لائی جهان باد کـــــــــوه
مغل شهسوارون کی ګرد ســـــــــمند

خاتمه :-

خوشحال خان دا ډیري پیړۍ کیږي چي تر خاورو لاندي دی، مګر د ده نوم ژوندی دی، او هیڅکله نه مري، ده پښتنو ته د ملیت لار ښوولې ده، ده د پښتنو مړه ژبه ژوندۍ کړې ده، د ده پښتنوالي په نوم قرباني کړې ده، دی د پښتنو

لومړی توريالي او عالم او فيلسوف او اديب او ملي سردار دی، که پښتنواله نه وي مړه، که پښتون ژوندی وي، که دا خاوره د پښتانه په نوم ياديږي، د خوشحال خان په نامه به د افتخار څلي دريږي، او د پښتنو ځلمی نسل بې په نوم افتخار کوي، او په خوشحال خان به وياړي.

ما دا کرښې د دې ښاغلي په نامه وليکلې، ګوندي ځلمي پښتانه يې ولولي، او د ده روح ښاد سي.

رحمآ الله عليه رحماً واسعاً

همېشه به پرې نارې وي د بلبـــــــــلو
دا چي ساز کړ نن خوشحال په ويل باغ

پارسي اشعار :-

خوشحال خان په پارسي کي هم روانه طبعه لري، او خواږه اشعار په دغه ژبه کي وايي، مګر د مليت په مينه دی پښتو شعرونه غوره کوي، لکه چي په خپله وايي :-

پارسي شعر مي هم زده سليقه لـــــــــــرم د واړو
د پښتو شعر مي خوښ سه هر څوک خپل ګڼي ښاغلي

خوشحال خان په پارسي شعر کي کوهی يا روهی تخلص کوي، د ده ډيري پارسي بدلي سته، موږ له پاره د نمونې د ده څو بدلي دلته رانقل کوو:-

پير ما از می پرستی تـــــوبه فرمايد مرا
الله الله وقت ګل اين توبه مـــــيشايد مرا
هر که از نـــــــظارهْ روی بتان منعم کند
پند او ګــــــــيرم بدل در دل نمی آيد مرا
شوق زلف يار دارم برجنون خـــــويشتن
خودګواهی ميدهم زنجير می بايد مـــــرا
غم چو آتش دل سمندر وار ميرقصد درو
راستی جز غم کنون خاطر نياســـايد مرا
ازجفای خار بلبل برنميـــــــــــګردد زګل
چون جفايش بيش بينم مهر افزايد مـــــرا

نام لبت ګرفتن شيرين کــــــــــــند دهانرا
خوشوقت آنکه بوسد پيوســـــــــته آن لبانرا
درد درون دلرا ګر درکـــــــشم بـــــــپوشم

لیکن چه چاره سازم این چشـــم خون فشانرا
هر گفتگو که باشد جز ذکـــــــر روی آن بت
نامردم ار نه بندم زان گفتـــــــــگو زبانرا
مجنون ذکر لیلی فرهـــــــاد و ذکر شیرین
در پیش شان چه خوانی صدگونه داستان را
نوبهار و می و معشوقه و جامست اینجـــا
زهد و پرهیز و ورع را چه مقامست اینجـــا
قصه کوتاه که در مذهب ما ای صوفــــــی
غیر می هر چه بود جمله حرامست اینجـــا
یا رب آن مغبچه؟ را هیچ گزندی مرســـان
که برویش نگران خاص و عوامست اینجا
پیشم از مشك خطادم مزن ای باده فروش
که پر از نگهت آن زلف مشامست اینجـــا
شاه من تند مران رخش که بس مردم شهر
بهر نظارهٔ تو بر در وبامست اینجـــــــــا

ازو دل برگرفتن کارمـــــــــن نیست
که از جان سیر گشـتن کار تن نیست
چمن را گر چه گلها بس شـــــگرفست
ولی همچو رخت گل در چـــمن نیست
مرا گوئی وصـــــف دهـــــــانم
چه گویم چون درو جای سخـن نیست
من وسودای رویت تا که هســـــــتم
اگر چه خود ترا پروای من نـــــیست
چرا خوشحال را پرسی که چـــــونی
مگر از چهرهٔ او مـــــــــبرهن نیست

حدیث روی او بامن بگوئید
به بلبل از گل و گلشن بگـــــــوئید
نه آن چشم و نه آن مژگان نه ابروست

بلای دین و جان و تن بـــــــگوئید
ز ســــــــــیل اشك من پروا ندارد
دلست این سنگ و یا آهن بـــــگوئید
شب وصـــــل است مو آنجا نـمانده
تو کی گنجی به پیراهن بـــــــگوئید
ز لعل شـــــــکرین او نـــــــباتی
بکـــــوهی میرسد من من بـــگوئید

نیست دمی که نرگست فتنه بپا نمیـــــکند
نیست شبی که دیده ام بیتو ژرا نمیـــکند
آنچه رو لعل تو کند آبحیات کی کـــــــند
آنچه روز لف میکند مشــــــك خطا نمیکند
نگهت زلف مشك بو میــــــــطلبم به آرزو
چون کنم این ترحمی باد صبا نمیــــــکند
وقت بهار میرود بلبل خوشنوا بخـــــــوان
دور نشاط گل چو عمر هیچ وفا نمیــــکند
روهی و جور مهوشان درد و بلای عاشقی
لذت درد یافته یاد دوا نمیـــــــــــــــکند

لطف بی حد و بی عدد کـــــــردی
اینکه قتلم به تیغ خود کـــــــردی
تیغ تو آب زندگــــــــــانی داشت
کشتی و زنده ابد کـــــــــــردی
دل زمن خواستی و جـــــان رادم
جان من باز گـــــــو که بد کردی
چه شرابیست اینــــــکه روهی را
بیکی جرعه بی خرد کــــــردی (۴۸)

لمن ليکونه

١. مـتاريخ مرصـع، حيات افغاني، خورشيد جهان، فخر افغاني، مرآت الافاغنه.
٢. حيات افغاني.
٣.

سن د هجر زر و پنځوس و
چي شهيد سو شهباز خان

٤. تاريخ مرصع او اسلامي دايرآ المعارف.
٥. د اولس قرن اشعار د سی آی بيډولف انگليس.
٦. حيات افغاني.
٧. هجري لوی اديب دی، دی وايي :-

بيجاپور هجري په خوب لـــــيدلی نه و
آخر پېښ سي هغه کار چي يې قضا کا

٨. تاريخ مرصـع.
٩. شعر العجم ج ٥.
١٠. مغنی اللبيب.
١١. د دوکتور راپوپورټ مبادي فلسفه.
١٢. تاريخ فلسفه د حنا اسعد.
١٣. مبادي فلسفه.
١٤. فلسفآ الاخلاق.
١٥. د ټي جي ډوبوتر د اسلام د فلسفې تاريخ ص ١٥١.
١٦. علم تربيه د نوبخت.
١٧. علم تربيه.
١٨. حيات العلوم.
١٩. کيميای سعادت.
٢٠. فلسفآ الاخلاق ص ٧.
٢١. د کابل مجله، ص ٧٠٤ ج ٦.
٢٢. علم تربيه ص ١٣.
٢٣. دا عربي بيت هم دغه عقيده ښيي : -
و ما هذه الاخلاق الاتـــــــــبائع
فمنهن محمود و منهن مذموم

٢٤. احياء العلوم الدين.
٢٥. بل الانسان على نفسه بصيره و لو القى معاذيره)الآيه(.
٢٦. زبدآ الصحايف.
٢٧. اخوان الصفا ج ١ ص ٢٣.
٢٨. د علامه اقبال فلسفهٔ عجم ص ١٠٩.
٢٩. كتاب الهند ص ١٦ ليډن.
٣٠. د خيام كليات الوجود.
٣١. وګورئ المنقذ من الضلال د حضرت امام غزالي ص ٣٠.
٣٢. فلسفهٔ عجم.
٣٣. وګورئ حجآ الله البالغه د حضرت شاه ولي الله دهلوي.
٣٤. وګورئ كشف الضنون بيان دتصوف.
٣٥. شعر العجم ج ٥.
٣٦. وګورئ مخزن الاسلام د اخوند درويزه ننګرهاري.
٣٧. د پښتو شعر تاريخچه ص ٢٣ – ٢٤.
٣٨. ايچ، جي راورټي مقدمه د پښتو ګرامر.
٣٩. د پښتو شعر تاريخچه.
٤٠. راورټي.
٤١. وګورئ تاريخ مرصع طبع د پادري هيوز په كليد افغاني كي.
٤٢. وګورئ د پادري هيوز د كليد افغاني مقدمه.
٤٣. د كابل مجله ليك د ښاغلي زمريالي ج ٦ ص ٢٤٤.
٤٤. ګلش روه د راورټي.
٤٥. د هيوز چمن بې نظيز.
٤٦. د هيوز كليد افغاني.
٤٧. د هيوز كليد افغاني او د سرحد مجله.
٤٨. د خوشحال مرغلري د ٩ مخ څخه تر ٨٤ يم پوري، ١٣١٧ د كندهار چاپ.

غزليات

(الف)

صورتگر چه ښه صورت په دیوال ساز کا   کل عالم ئې په صفت زبان دراز کا
د هغه نقاش په صنع نظر نه کا   چه له څه څاڅکي نه دا نقش و طراز کا
سترگي ورځي پوزه نور کښېږدي په مخ کښ   غاښ و شونډي ژبه خوله سره پرداز کا
یو سر بل سر په سر جوړ کا دوه غوږونه   چې په دواړو اروېدنه د آواز کا
بند په بند د لاسو گوُتي و بله کښېږدي   سر تر پایه درست صورت سره یو راز کا
که څوک زر کتابه وکښي له دې بابه   که په کښل شِي زر به نور پسې آغاز کا
هر ویښته چه به صورت باندي لیده شي   که پر ځیر شي د شناخت ور به درته واز کا
خاص بنده د خدای هغه گڼه خوشحاله
چه د ځان په معرفت ئې سر فراز کا

اورنگزیب چه آرایش د تخت و تاج کا   تخت و تاج به ئې مرگي تاخت و تاج کا
په جهان کښ به ئی پاتو ښه بد نوم شي   ده زده چاري د کسری که د حجاج کا
زه غمجن په عید په جشن خبر نه شوم   که درست خلق د دهلیَ ابتهاج کا
اوبه سترگو لره لاړې اور د زړه شو   څوک به څرنگه ژوندون په دا مزاج کا
چه په دگ مي گوُتی کښېږدي رنگ ئې زیر شِي   طبیبان می به په څو دَ رنج علاج کا
جدائي دِ ما په زړه کا هسي چاري   لکه باز ئی په تارو یا په دراج کا
دوه مین چه په هواد و بله بېل شِي   خدای ئې څه شکل د تش سلام محتاج کا
ځما اوښي د کوگل په جوش پیدا دي   لکه اور چه له کبابه نم اخراج کا
هر ناوک چه د قضا له شسته خېژي
زمانه د خوشحال زړه ورته آماج کا

بازیگر چه د بازیو صندوق وا کا   په یوه زمان کښ څو بازئ بر پا کا
نندارچي چه ورته گوري حیرانېږي   بازیگر چه په بازیو کښ بلا کا
عارفان د سر په سترگو گوُتي کښېږدي   د خپل زړه په سترگو گوري تماشا کا
دا عالم لکه طفلان ورته ښکارېږي   د طفلانو په بازي پوري خندا کا
همېشه خوښي د چا ده، د هغه ده   چه په زړه کښ د دنیا چارې فنا کا

د هغه په وفا څه خوښي خوشحاله
چه وفا در سره کا بیا زر جفا کا

بیا رباب د مغني ښه سرایت کا — په نغمه کښ نوی نوی حکایت کا
شیخ دي کنج د صومعې زه به ګلګشت کړم — د بهار ګلونه ما ته هدایت کا
ګدایانو لره غم د ګېډي ډېر دئ — بادشاهان دِ غم د ملك و ولایت کا
د وفا مهر کرم به ئې لا څه وي — په جفا کښ چه دا هونبره عنایت کا
په مانې ئې هم خوشحال شم هم دلګیر شم — لکه څوک چه له چا شکر و شکایت کا
دا دِ ما دَ بخت اثر نه دي نو څه دئ — له رقیبه چه شکوه پدا غایت کا
په دا ښهد کښ ځرګند شراب خرڅېږي — محتسب د باده نوشو رعایت کا
که د کښلیو[١] د دیدن مینه ګناه ده
سکه خوشحال خټك درست عمر جنایت کا

په هر ځای چه طمع خپل هنر ځرګند کا — ډېر هوښیار ماهی مرغونه طمع بند کا
بادشاهی د بحر و برده که باور کړې — قناعت دي که په خشك و تر خورسند کا
په هغه ځما سلام خرم دي اوسی — چه د چا سره نه مهر نه پیوند کا
خلق واړه داند وه په دریاب ډوب دي — کله کله له دریابه سر بلند کا
درویش بخره خوښي غم د هغو دَئ — چه په شمار دَ زرو ناست دي چون و چند کا
هوښیارانو څخه ډېری اندېښنې دِي — چه ملنګ د مسلې، هغه انند[٢] کا
و نور چا وته به څه وته څه وایی
و خپل ځان وته خوشحال خټك دا پند کا

په عاشق باندي غوغا غماز پدول[٣] کا — چه ګلونه پرې کوي اغزي قبول کا
ارسطو تر افلاطون ښه وُ سکندر ته — په جهان کښ هر څوک مینه پخپل کول[٤] کا
څو مې زړه په ښغمیَ پسې درومي — هونبره نور تازه غمونه را وصول کا

---

[١] ښکلیو.

[٢] عیش.

[٣] بیهوده.

[٤] یا به مصدر وی په معنی د (کردن) یا به مخفف د کهول وی په معنا د کورنی.

دا تازه تازه مضمون چه په بیاض کښېم خبر نه یم چه له کومه را نزول کا
آشنایي لکه ښه تول[١] چه ورته اش[٢] کړي جدایي لکه ژلی وراني د تول کا
یو ښکاره د قیامت علامت دا دئ په فاعل باندي چه اوس تېري مفعول کا
درېغه یَو هسي پیدا شي چه په عشق کښ دا دِ ما لېونی زړه څه خو معقول کا
زه د عشق په کنج توانگر یم که نور خلق ټولول د زرو مال، متاع د پول کا
ځما روي سترگي ولاړي ته څلور شوي که ښکاره د یار له لوریه خداي رسول کا

گنُدی وي چه د وصال په خوښي خوش شي
چه خوشحال په جدایي کښ ډېر نول[٣] کا

په اختر په جمعه څه غرض زما زه مجنون یم سر نیولَي په صحرا
هغه وخت د ما اختر ما جمعه ده چه دیدار راته ښکاره کا د لیلا
عاشقان له عشق له کاره انکار نه کا فاسقان به پخپل زړه کښ لَری غلا
د یاریَ لایق نه دي رنگ ئی ورک شه چه ئی نه وي په یاریَ کښ وفا
د رښتیني[٤] یاریَ لافی ډېر عالم کا ولی ما پکښې و نه لیدل رشتیا
هی توبه د عشق د پټو سرو لمبو نه نه وانښه نه ئې لرگي لکي په تا
په یرغ په مصلحت د عشق کار ندی په لیدل په اروېدل شي را پیدا
نه په پنډ لوېږي له هر کاني بڅیري دئ سوخته سره بکرْ[٥] لَرِي سودا

دا رنگیني معنی چېری دي خوشحاله
چه را درومي لکه گل په بیاض ستا

په سپېن جمال چه تار په تار دوې زلفي عنبر فام کا[٦] محبوبه غواړي دا چه رڼا ورځ په عاشق شام کا
چه ډېري د یار زلفي یادوم مقصود مي دا دئ چه ما د یار د زلفو د حلقو دیوانه نام کا

---

[١] کښت.

[٢] په پښتو کښ د تعجب او مسرت کلمه ده.

[٣] غم، ویر.

[٤] رښتني.

[٥] بکرئ.

[٦] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

عاشق چه په جهان کښ خپل ژوندون له خدايه غواړي
د زړه مقصود ئې دا دي چه ځان ځار تر دلارام کا

زه مست بيخوده پروت يم په يوه پياله د ميو
ساقی ښيښه نيولې راته فکر د بل جام کا

په مخ د ښو محبوبو زه مين چه هونبره نه يم
چه يا به ئی څوک وکښي يا ئی شرح څوک مدام کا

دلبره چه له دله د عاشق په مرگ راضي شي
د سترگو په کاته کښ و عاشق وته پيغام کا

چه تا منع کوي د بت په عشق کښ ورته وايه
کعبه د کانيو گوره ترو دې څه خلق احرام کا

که غېږ د عنايت په سترگو وگوري خوشحال ته
د ده مقصود به واړه په يوه نظر تمام کا

تا وې چه غم مه کړه نور زه ستا يم ته ځما
زه خو دِ ژوندَي کړم که دروغ کړې که رشتيا

څه بلا زيبا ئې، بې نظيره محبوبا ئی
که دا عيب دِ نه وي په زړه سخته ئې بلا

که کل جهان خوبا شي په هر لوری محبوبا شي
عجب که لا پيدا شي يَوهَ تا غندي زيبا

په هونبره دېر مقتولَ ته لا هيڅ نه ئی ملوله
که سل خونونه وکا د جلاد ترو څه پروا

چه گل غواړم له تا نه، ستا له باغه له بوستانه
که خس را عنايت کړې هم په گل نيولي ما

څو زه بنده زنده يم، د هغو زلفو بنده يم
چه تل ئی سل سل زړونه په هر تار دي مبتلا

که لوی دي که هلك دي دواړه ستا په نعره ٔ ورک دي
په ښهر کښ څوک نشته چه مېَن نه دَې په تا

د سبر ونه گوره په زمان شي نامنظوره
چه وخوځې په باغ کښ ته په دا قد و بلا

نسيه جنت سبا دَئ، د زاهد دئ د ملا دئ
په لاس جنت موندلي نن خوشحال دئ ستا لقا

تل که دا وي د خوبی طمطراق ستا
نور دي لاس له ځانه پرې وينځي عشاق ستا

نن پدا دور هغه ښايسته ته ئې!
چه په هر لوري ثنا وائي آفاق ستا

دواړه شونډي دي ترياق، زلفي ښامار دي
جار وتلي دا ماران دي تر ترياق ستا

لږ شکيب ورته په مثل د لوی غره دي
په شکيب کښ به په څو پائي مشتاق ستا

د بازيو دي موندلي يم غلوه مي
د هلك غندي رشتيا گڼم مزاق ستا

ته خپل ځان لره مهميز کړه څه پروا کړی
که قدم د چا په سر کښېږدي براق ستا

خلق وائي چه دوږخ شته پسله مرگه
په حيات صورت دروږخ نه دئ فراق ستا؟

لکه تل وه هميشه په هغه شان دِ
هيڅ ملا مرشد بدل نکړ اخلاق ستا

لکه باد د صبا راشي گذر کا
ما خوشحال چه آزميلي دَئ ميثاق ستا

په لوري.

تلم په خپله لار را سره مله شوه نګارا   شوخه غمزه ګره خنده رویه خود آرا
رنګ ئې د سرې وُ اما خوي د ښاپېریو   تن ئی لکه سیم وُ په زړه سخته سنګ خارا
راغللم په ښهر لاس په لاس شوه له ما ورکه   کوي په کوي جار وزم پسی غواړم بخارا
ډېري لري نخښې[١] د صورت د زیبایۍ   څخو درته وایم یو څو نخښې آشکارا
دنکه[٢] تازه کنکه[٣] قد عرعره مو کمره   ښه ئې تر ګلونو د ګلابو عذارا
غاښ ئې د ګوهر په لب شکر ابرو کمانه   تور باڼو ناوک په دواړو سترګو خونخوارا
پوزه ئې غنچه وه د زنبق سیب سپینه زن ئې   مښك د مخ خالونه په مخ کښلې مه پارا
هار د جواهرو دوه لړی د مرغلرو   تور وربل وُ دلی زلفی ئی عنبر سارا
واړه ئی د تن جامې ګلګونې زرنګارې   درسته سره لمبه وه چا لیدله خدارا
بیا هسي مدد کړه چه خوشحال سره دي تل کړ
بخته! د دې ورکي سراغ نخښه[٤] و مارا

ځان ئې سر تر پایه جوړ کړ بیا بلا کا   د زلفینو په هر وله د زړونو غلا کا
معشوقې ته چه ئې هونبره حسن ورکړ   دا په دا چه د عاشق خونه تالا کا
په هر ځای چه څو محبوبه[٥] سره کښېني   هغه ځاي مي تر جنت ښایسته لا کا
دوه مین که سره هر څو، مرور وي   خپله مینه ئې بیا زر سره پخلا[٦] کا
تور باڼو ئې تور توبري دي را څرخېږي   که را پورته محبوبا سترکي شهلا کا
څو د شاه په کښلي مخ باندي خالونه   ما به هم په هونبره داغ مبتلا کا
همګي ئې ستا له مخه ګفتګوي شي   چه دردمن وبله ټول شي مشغولا کا
په خیر خیر ئې مخ ته مه ګوره خوشحاله
په خاطر به دي اور لمبې والا کا

---

[١] نښې.

[٢] د سید راحت په لغاتو کښ ابتدا په ساکن او په ګ دا کلمه په معنی د لوړ قد او جګ راغلې ده.

[٣] د دې کلمې اصل نسو را معلوم. په پښتو قاموس کښ کنګه په معنی د غټه، غوړه (پیغله) دئ.

[٤] نښه.

[٥] محبوبی.

[٦] پخولا.

څه عجب دلخوا دي دا صهبا چه ساقي ئې راکوي په مرحبا
د غنچې خندا محاله په چمن ده که نسیم پر گذر نه کړي هر سبا
مصلحت ئې د بلبل په کار کښ دا وُ چه صبا کړ د غنچې کمیس قبا
د بلبلي قدر زده کړه اې گله! که هر څو ئې په دا خپل حسن زیبا
چه علاج ئې وابسته پخپل مطلوب دئ د عاشق له رنځه څه زده اطبا
بې د یار د زیبا مخ گمان مکړه
چه خوشحال به په بل مخ شي شکیبا

چه یار مهر وفا نکاندي څوک څه کا چه بې جور و جفا نکاندي څوک څه کا
د جهود به هم زړه سوي را باندي وشي چه یار رحم په ما نکاندي څوک څه کا
ما وې زړه ئې گُندی نرم په ژړا کړم چه اثر پر ژړا نکاندي حؤک څه کا
که وصال ئې په دنیا له عمره خوږ وي چه تل عمر وفا نکاندي حؤک څه کا
حال دي هیڅ له یاره پټ نه دي خوشحاله
عنایت چه په تا کاندي څوک څه کا

چه په ما باندي ئې زړه سیځي تپاک کا[1] الحذر چېري به ځان د اور خوراک کا
ما پخپله ملامت وته ځان ساز کړ عالم عالم دي په ما سل ځله بلغاک کا
که د خضر په چشمه باندي مي کور شي د فراق اندوه به هور ته ما هلاک کا
چه بقا ئې په چمن کښ یوه ورځ وي لاله ځکه د کمیس گریبان چاک کا
د اسمان له عاشقانو سره کست دي هر زمان ئې په هجران سره غمناک کا
ترې به سل رنگه گلونه شگفته شي هر سړی چه خاکساري واخلي ځان خاک کا
زه خوشحال په هغه چا پوري حیران یم
چه له یاره نه جدا شي په څو ژواک کا

چه د پلار سره دروغ نفاق خلاف کا د نور چا سره به څه رنگه زړه صاف کا
گوره بیا ئې کوم دروغ نفاق په زړه دي منافق پخپل گناه چه اعتراف کا
نه به زه د ناخلف گناه مراف کړم نه به خداي د عزازیل گناه معاف کا
دا واړه غرونه لا هیڅ ندي راضي یم که په میان کښ مو خداي غر د کوه قاف کا

---

[1] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

حال[١] د خپل زوي ئی خپل پلار وته معلوم دئ حؤک به څه لره د عاق راته اوصاف کا
نه به ده غندي دروغ دروغجن وائي نه به ده غندي سړی مکر و گزاف کا
هم هزار رنگه دروغ خلاف په زړه کښ هم هزار رنگه په خوله د صدق لاف کا
په ژوندون ئې دیدن مه وینم هاله هم پسله مرگه که د مار د گور طواف کا
چه مي هسي تربیت د ناخلف کړ دا په دا چه دي له ما سره مصاف کا
په ژوندون به ئې ارمان وزي له دله
زمانه که د خوشحال سره انصاف کا

چه دنیا ورته ښکاره شوه بی وفا و دنیا ته به مخ نکا بې قفا
د غرض یارئ هیڅ یارئ نه دئ که یاران دِي خو اخوان دِي د صفا
که کاته دي که لیده که اروېده دئ دا د ښو یارانو واړه دي شفا
چه په چا باندي مین شوې قبلوه ئې سل نازونه سل نا سازي سل جفا
که په وصل کښ ئې هر ساعت یو کال شي لا په دا د عاشق نه وي اکتفا
له ما خوار سره څو قاف[٢] وهې ورې کړې جگي جگي څه خو لا وطې وفا[٣]
دا بیدرد عالم پرې هیڅوک خبر نشو
و خوشحال ته ئې خوله ورکړه په اخفا

څوک چه مخ کا په مذهب د خپل مولا د هغو په خدمت ودري دنیا
څوک چه مخ په لمو روان شې خو دي گوري چه سایه ور پسې درومي په قفا
درویشان که اشارت وکا و غره ته د غره کاڼي به هم شي لکه طلا چه کیمیا
کیمیا کیمیا یادېږي په جهان کښ کیمیا څه ده ښه نظر د اولیا
که د تخت د پاسه ناست وي صاحبي کا د درویش په زړه کښ هیڅ نه وي هوا
خیري زنگ ورځني نن دي چا وللي د درویش جامه له ځایه[٤] ده صفا
مړه و ده وته ژوندي وي ژوندي مړه وي د درویش هونبره قوت دي د دعا

---

[١] ځان.

[٢] ق،هـ، ر: قهر.

[٣] ل، ط، ف: لطف.

[٤] ځانه.

مگر چېرې د درویش په مهر یاد شي
چه خوشحال ئې کړ دا هسې بې نوا

چه خپل خوي شي په جهان بد خواه د چا | د خپل خوي دي نه چه دي تباه د چا
من فليل په یوه مچ سره بد بوي شي | بد دي نشي یو زمان همراه د چا
کانې لعل د بدخشان، گیا کیمیا ده | چه ئې نه بېژني ته گناه د چا
چه بادشاه ئې ستمگر شي خلق خوار شي | خداي دې نکا ستمگر بادشاه د چا
زه که سل ځله وفا کړم یار جفا کا | بخت دي نشي په دنیا سیاه د چا
د جمشید او د سکندر فلك پرې نښوې | پرې به نږدي همېشه کلاه د چا
دا دنیا لکه لولی ده خوشحاله!
که ئې گورې گاه د چا شي گاه د چا

جار تر هغه مخ شم چه به ما په ځان مین کا[١] | سحر دې که دم دې که څه نوري فتنی فن کا
زړه بویه چه خوی ئي د بورا یا د بلبل وي | درومي کرزي غواړي خو په گل باندي وطن کا
وسیځي په اور کښ پتنگ، هو چه پتنگ نه وي | و تښتي له اوره ځان پخپله دروغجن کا
ډېر په باغ کښ کړ شي ځوک خالي وزي له باغه | ځوک ئې مېوه وخوری په گلونو ډک دامن کا
ما ئې چه مزه د خوږو شنډو ده موندلې | ناست وم که ولاړ وم زړه مي هرکله من من[٢] کا
خیال ئې د زلفینو لکه غل د خپلي خوني | هر کالي لیدلي فراغت ئې دزدیدن کا
سترگو ته ئې وگوره څه ځُني توري زلفي | څړ په سنبل زار کښ دوه هوسیه د ختن کا
هر چرته چه گرزي لکه سرو سمه درومي | هر چرته چه کښېني هغه ځاي لکه گلشن کا
تن ئې آزارېږي په کمیس د سرې[٣] صافو
گل د چنبې بویه چه خوشحال ئې اغوستن کا

چه مي ولیدې دا توري سترگي ستا | زه به نکړمه هېر نورې[٤] سترگي ستا
یا د باز یا د طاوس یا د شاهین دي | یا د تور هوسي که گوري سترگي ستا

---

[١] دا بدله په چاپي نسخه کي نسته.

[٢] د اغزو خواړه.

[٣] یو ډول کالي وُ.

[٤] نور هېرې.

لکه وژغوري کبلې په مرغزار کښ   د خواره وربل تر سیوري سترکي ستا
لکه پټ سپاره د جنګ نېزه په غاړه   دا اوږده باڼو پری پوري سترکي ستا
چه دئ هسي و هر در وته ولاړ کړ   د عاشق دي اور په کوري سترکي ستا
لکه څوک په میو مست شي هسي مست شم   زه چه ووینم مېخوری سترکي ستا
که شېخان که زاهدان که عابدان دئ   د هر چا د زړونو چوري[1] سترګي ستا
چه دي غوښت هغه دیدن دي ورته ګوره
که خوشحال ندئ[2] کوري سترګي ستا

چه مي ښکته پورته اوښکي تګ و پو کا   د خپل یار په طلب ګرځي جستجو کا
زه په دا طمع د شاه د سپیو مل شوم   ګوندي ما د خپلو سپیو سره تو کا
هر چه ستا په کښلي مخ باندي مین دي   هغه درسته شپه له ما همه ګفتګو کا
که زه ورو وایم خبري ګرم مې مه کړه   ځایګي ویشتلي تل خبري ورو کا
ستا له غمه چه و چا وته ویل کړم   لا مي حرف ویلی نه وي چې هو هو کا
په هر ځاي چي درېږي څلور و بله ناست وي   چي پرې غوږ باسم خبري د مهر کا
پادشاهان یې ارزومند د ننداري دئ   ګدایان به ئې د خولې طمع په سو کا
د ګلونو دور تل نه وي خوشحاله!
ښایسته به په خپل حسن کبر څوک کا

حقیقت راته معلوم شو د هر چا   باور نشته په آشنا په نا آشنا
چه په سر دي سوګند خوري ورځني ډار کړه   یوه ورځ به ستا د سر وکا سودا
د هر چا نه چه دي طمع د وفا وي   هم هغه درته ښکاره شي بې وفا
یا څو وُ دا جهان واړه بې وفا وُ   یا د ما په دور ډېره شوه جفا
آدمیت له آدمیانو نه خداي واخیست   تر دوه پایو نه بهتر وینم چارپا
که هندو که مسلمان که بل فریق دئ   په هیچا کښ به بیا نه مومې رشتیا
نه د دین د چاري شناخت مهر و وفا شته   نه په شرم ننګ حؤک ښر دي د دنیا
د تقلید رسم عادت یاري خپلوي کا   د هر چا نظر پخپله مدعا
همګي واړه یاران د خپل مطلب دي   بیهوده ناز و منت کاندي په تا

---

[1] غلې.

[2] نه وي.

مخامخ دي په ثنا په صفت سر شي　　سل بلا دربانديِ وايي پسي شا

د دو دام ترې سرېونه بهتر دئ

اې خوشحاله ځه له ښهره په صحرا

خداي دي مخ د هيڅ غافل را ښكاره نكا　　د غافل سره دي ما آواره نكا

په هر لوري نو بهار دي غوړيدلې　　سترگي وخوره چه به دا ننداره نكا

هغه څوک چه د الفت په توري پوه شو　　نور په ساز د سوختگانو ناره نكا

د چار پايو په حساب دئ سړي ندئ　　چه په ساز د سوختگانو ناره نكا

هغه څوک دي چه په حال ځما خبر شي　　چه گرېوان به تر لمن پاره نكا

په يوه نظر ئې هر څه له ما يووړه　　چه هيڅ نشته نور نظر دوباره نكا

طبيبان د رنځ و هر لوري ته ډېر دي　　رنځوران ولي د وختِه چاره نكا

د تقوی غليمي دف كښېږده له لاسه　　په وهلې ّهر څوک نقاره نكا

وړه ستا دا توري سترگي خوشحال وژني

دا قتلونه څه طالع ستاره نكا

خدای چه تار په تار ياران بيا سره ټول كا　　تروري خاوري په په سر د رنتبول كا

د جهان غمونه يو سر ځما بل سر　　كه سړی ئې د باور په تله تول كا

نه مي يار نه مي غمخوار شته په دا غم كښ　　لكه بي اوبو څوک بند په گرم چول كا

كه په پوهه كښ دانا د زمانې وي　　د زړه غم ئې تر هلكو كچو كول[١] كا

چه ئی ډول واهه ځما په دلگېرئ　　اوس دي تر په[٢] پخوا هم په دغه ډول كا

چه مستان د يوه جام دي غم ئې نشته　　كه ئې هر څو زمانه په لاس كچكول كا

د پسا له صفت ئې شي د رنگ ئې نشي　　څوک چه پوري په بدرنگي ناوې پسول كا

كه د اسپنو كلا وي چه بخت يار شي　　خاوند خدای به ئی آسانه لكه شپول كا

چه گلونه د بهار واړه تمام شي　　د زړه سود شيدا بلبله په ختول[٣] كا

خال ئې مست خوني هاطي دئ سنبال كړي　　چه ښكاره شي شا به ورته د غم غول[٤] كا

---

[١] په قلمي نسخه كښ يوه محشي "نادان" ورته كښلي دي.

[٢] ترپي.

[٣] يو خود رويه گل دي.

[٤] په قلمي نسخه كښ محشي (فوج) ورته كښلي دي. ممكنه ده چه دا د پښتو يو ورک لغت وي، په قندهار كښ داسي ويل كيږي

د خوشحال د رنج علاج په یوه خدای شي
چه له درده سره تل ښوري آشول[۱] کا

خپل عمل چه سړی سپك کا   لکه خس هسي ئې ورک کا
بد عمل لیونی سپیَ دئ   چه حملی پخپل کندک کا
مگر نه گورې و ځان ته   چه احوال پېغور دَ پك کا
مزري ښکار کا د گاوزو   پیشو گرزی ښکار[۲] مږک کا
دا خبره ده که کېږي   که کیسه د دو تك کا
چتی[۳] باز په پرونو نشو   گه آلوزی پر پرک کا
چه بیزو د بازیگر شو   نن څه ناسته په انډک[٤] کا
ځما ژبه نده اور ده   گذاروُنه دَ توپك کا
چه ځما اختیار ئې خور کړ   خداي دي خوار هغه ختك کا
خوشحال ناست په برَموَل دئ
ارمانونه د اټك کا

د دنیا یاران په خوي دي د دنیا   بی وفا لکه ئې مخ هسي ئې شا
که د دین دپاره تا سره یاري کا   له هغو غواړه که غواړي څه وفا
د دنیا ښادئ غمونه سره گډ دي   په خندا خندا دي ژر کا په ژړا
چه فتنې ترې پیدا کېږې واړه نفس دي   نفساني یاران به نه وي بی بلا
اولیاء د اولیاء سره بد نه وي   دا پدا چه ئې د نفس نشته هوا
په دنیا د بادشاهانو سره ضد دي   امرا سره دښمن وي امرا
یا په نه یاري کښ سود دي که پوهېږې   یا په نه ویل کښ سود دي د دانا
بیا هاله د بل جفا وته نظر کړه   که ته نه وینې په ځان کښ هیڅ جفا

(غولی غولي خلق راغله) ممکنه ده چه د دي دوو کلمو اصل یو وي یعني فوچ فوچ،

[۱] په قلمي نسخه کښ محشي آه و فریاد ورته کښلي دي، ما تر اوسه دا لغت ندي اوریدلي.

[۲] یعني ښکار د مږک.

[۳] یعنی شب پرک.

[٤] پر یوه انډی ناسته د تکبر علامه ده محاورتاَ.

لکه تا سره څوک څه کاندي خوشحاله
ته هم هسي زيست روزګار کړه له هر چا

د مرغه ئې که وزر شته الوته کا — څه په دور لکه باز هسي خاته کا؟
که مته[1] غندي تېره لري مېرک داړه — څه مته غندي ګزار وته واته کا؟
په ارمان د ديدن مرم پرې سلام دئ — چه ځير ځير مي د يار مخ وته کاته کا
ښايسته په جهان ډېر دي ښه هغه دي — په ښه خوي چه د عاشق د زړه ساته کا
لکه سترګي تصويري ځنبل مي نه وي — چه مي سترګي ښه جمال وته کاته کا
څه خوښی ئې پکښي ينبي دي پوهېږې — هر نفس چه د واته ننواته کا
په هر څه کښ ئې لذت فرحت راحت دئ — لکه ساه چه وواته ننواته کا
که په تن خوشحال خټك دئ ځنې لري
د ده زړه د يار په کوي کښ جار واته کا

د عشق په باديه کښ مېرده ګام د تمنا[2] — هغه څه عاشق ندي چه وړي نام د تمنا
زار[3] ځما د زړه دي، زار ځما دي په دا کار کښ — که دا طور به تل درومي ايام د تمنا
مرم له يار له شوقه سره دواړه نه جوړېږي — آغاز د يار د وصل او انجام د تمنا
څه شوه هغه مينه چه د سترګو په کاته کښ — بڼو به ئې را واستاوه[4] پيغام د تمنا
قدم زده د هغه عاشق په پله باندي خوشحاله
چه کام ئې خپل موندلي په هنګام د تمنا

دنيايي ياران چه طمع د دنيا کا — عاقبت په يوه طمع ځان جدا کا
ديدني ياران په کار دئ په دنيا کښ — چه ياری د ديدن په تمنا کا
د ګونګټ مينه په غول په غوښايه ده — خاصګي مينه په ګل باندي بورا کا
که پخپله رضا درومي چاره نشته — که ځما په رضا درومي خوله به را کا
په بار بار د هغه يار منت را باندي — چه پلو په مخ نيولي مخ ئې وا کا

---

[1] محشي په خربيشوي ترجمه کړي دي،

[2] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

[3] په پښتو زار په معنا د زحمت او مشقت عموماً راغلي دې.

[4] را ستاوه.

سل رحمت د عاشقانو په همت شه　　چه په طمع د دیدن د سر سودا کا
په رقیب به ئې بې تیغه مرگ روا شي
که دلبره د خوشحال مقصود روا کا

دروغ دروغ وعده چه دل سنگین سره پیوند کا　　عاشق له ډېره خیاله ځان پروین سره پیوند کا
بلا کاندي خوله وازه د فتنو آتش تازه شي　　چه نازو جلوه دواړه نازنین سره پیوند کا
آزاد تر سینه درومي د جگر دننه کښېني　　چه غشي لینده دواړه مه جبین سره پیوند کا
که نور مهر دي نشته څه خو کړه د حال پوښتنه　　چه تا په زړه ویشتلي سر بالین سره پیوند کا
څه زه څه مي مجال دي، چه دي وصل غواړم دریغه　　که ځړه توره شړي ځوک وریښمین سره پیوند کا
که ځان غواړې خوشحاله له چشمانو ئې حذر کړه
خپل ځان وژني قځړي[1] چه شاهین سره پیوند کا

دوې دي توري سترگي لکه دوی توري بلا　　دوې د توري ورځي لکه دوې توري تر ملا
بیا دي تور باڼو د دواړو سترگو کربلا[2]　　بیا دي توري زلفي تر ښامارونه بلا
له هسي رنگه حاله، راته ووایه اصلا　　د هغو به څه احوال شي چه په تا وي مبتلا
عاشقان دي واړه سر کړل همېشه په واویلا　　چه هسي رنگ ستم به په هیچا نه وي اصلا
د خاطر بخچه مي هسي تا خالي کړله تا لا　　لکه غل د خپلي خوني همېش روږد یي په غلا
نه به بل څه وکښي نه به کاندي نور املا
دا بنده خوشحال او ستا له عشقه مشغولا

د خوبی نوم دي ولاړ د بد خو هم لا　　پخپل کلي په اولس په هر سو هم لا
ته چه هسي په دا خپل جمال نازېږی　　گله ستا به دا جمال نه وي بو هم لا
چه بد مست شي په مجلس کښ هغه نه یم　　که کدو د میو تش کړم سبو هم لا
ستا له جوره له ستمه هورته لاړي　　هغه ځاي چه آدم نه وي آهو هم لا
د نماستي په وخت ئې واکړه آزار مه شه　　د وربل غوټي کوڅی د گیسو هم لا

---

[1] بله املا د دې کلمې تنزري دي په معنی د تیهو او کبك.

[2] تر دې کلمه لاندي محشي (لویه بلا) لیکلې ده، ممکنه ده چه مخفف د (کره بلا) وي، یعنی خاصه او خالصه.

د خوشحال خټك دپاره چه میخور شو
په مغان مي وښي کښېښوول باهو[1] هم لا

دوه زړونه چه یو شي غر به هم پاره کا   ځار تر ېګانګي چه نعمتونه را ښکاره کا
توري زلفي بویه خط و خال زرو زیور هم   مخ چه ښایسته وي خلقه ئې ننداره کا
څوک چه په اخلاص و بله مین شي په دنیا کښ   زر سازي نا سازي په دنیا کښ آواره کا
خلق په شیطان باندي لعنت لرینه   چاري په سړیو واړه نفس اماده کا
سل رنګه غمونه لور په لور د نفس لاله سه   دوه سوه د حرص له مخه نور را اجازه کا
چه وېش وي د شکرو ډېر عالم وربادي ټول شي   چه واخلي خپلي بخري نور ځانونه کناره کا
خو بي د خپلی چاري څوک په مټ په کوښښ غواړي   څوک خپل کارونه واړه حواله په ستاره کا
ځار تر یکرنګی چه زړه ئی یو یو ئی اقرار وي   هر چه دو زبان وي خخل غمونه دو باره کا
هر څوک دي دعا کاندی چه حاجت ئې چا ته نه وي   ولي بادشاه نه وي چه حاجت ئې بیچاره کا
ګل و سړي ورکړه چه خوشحال په یوه ګل شي
خره غوایه نظر کله د ګل په پشتاره کا

د بې ننګو پښتنو له غم ما   لوئي پرېښوه وینو له کم ما
دا هم ښه که پدا کار کښ هونبره کار وي   چه که واخیست انتقام له ګرم ما
چه د ننګ ګوهر مي مات شو دواړه سترګي   په ژړا کړې یو دم بی نم ما
هغه درومي په لاس نه راغي[2] ببړیه!   استاده کړه په ساحل له یم ما
هغه ملا مي چه په هوډ سره لوي غر ده   په ناکام کړه و مغل ته خم ما
هم د بخت و ماته شا شوه هم د خلقو   په مغل کړ ځکه مخ له هم ما
که مي لاس وئ په رضا می به کښېښوول   د مغل په لوري دوه قدم ما
د هغو د خولې کړې خبري اروم   چه خبره ورته نکړه سم ما
دم د خپلو د پردیو را معلوم شو   که هر څو ساته خپل ځان له دم ما
په هغو لویو خبرو شرمسار یم   چه هر چا وته ایستې له فم ما
سل غندنې پېغورونه را دو ښار شول   چه به ځان ساته همېش له ذم ما
دا الم مي هیڅ الم سره سم نه دئ   که لیدلي د هزار الم ما

---

[1] بله املا ئی (باوُ) دي، په معنی د بنګړي چه د ښځو یو پسول دې.

[2] نه راځي.

مگر بخت را سره بیا مدد آغاز کا   چه فارغ کا د اندوه له سم ما
هاتی ځکه په سر لوني دا خاوري
چه خبر کړ دي خوشحال له غم ما

راته څه وائې چه یار در سره څه کا   که وفا کا، که جفا کا واړه ښه کا
دا تل دود د ښایسته وو، د یاری دي   چه یك لخته د زړه مهر په چا نه کا
سل بلا ئی قبلوه ور پسي درومه   ښایسته د جهان کل واړه خپل زړه کا
چه د کبر خیال دماغ وته ئې گورم   اندېښنې مي ویښ بیدار ورته اوده کا
که په نه عمر ئې نه گڼم زه خوار شم   هغه عمر چه جدا له یاره تله کا
تېره چار به د هیچا په لاس را نشي   که په ډېره ژړا سره دواړه لېمه کا
د بتانو په دیدن د زړه نشاط شي   لکه باغ پاڼي گلونه په اوبه کا
په درتللو ئې شرېږ په تلو ئې بولي[1]
چه ئې نه پرېږدې په هېڅ کښ خوشحال څه کا

راشه وگوره نن دا طراز ځما   حقیقت سره قرین مجاز ځما
درست عالم ئی په بازار په کوڅه وایي   لا و چا ته ښکاره ندئ راز ځما
د نیازمنو عمر غواړم په دا څه شي   که بی نیاز وگړي نه وړي نیاز ځما
د عمزی په تېغ مي وژنه صرفه مه کړه   څوک به نه غواړي لتانه ساز ځما
د مسجد محراب د چا دئ د عابد دئ   په محراب ئې د ابرو نماز ځما
ښایسته د بڼ طاوس ور لره بویه   دا واړه ښکارونه نه کا باز ځما
چه په خوږو زړونو بلوسي سزا مومي   ښه چه خوار شو پدنیا غماز ځما
ته په ما باندي تل ناز کړه معشوقه ئې
زه خوشحال خټك عاشق یم نیاز ځما

زړه چه نه وي مبتلا   پری دي سازه شي بلا
تر عاشق دي صدقه شي   که زاهد دي که ملا
عاشق هر زمان غزا کا   په تېره توره د لا[1]
که عاشق د یار په تېغ مري   پرې منت دي د یار لا
زاهد خوښ کنج د خلوت کړ   عاشق خوښ د یار بالا

---

[1] نفی له غیره.

گل د عشق دي غوړېدلي و عاشق ته ده صلا
دا د ني چاري ادني وي د اعلا چاري اعلا
که شېخي زاهدي غواړی پخپل لاس کښ ده لالا
لکیور[۱] د ستا په سر کړه سر وهه په مصلا
یا مسواک کښېږده په سر کښ یا ئې و ټونبه تر ملا
په تسبیح خو ځوه شونډي نور ټکي کوې که غلا
مرد هغه ګڼه خوشحاله
چه ئی کېږي مشغولا

زه تا پېژنم هوا واړه تا کړم[۲] سر هوا
چه همیش ئې په عالم کا د جهان ګوره غلوا
په نوا ئې بې نوا کړل بې نوا شول په نوا
د هر رنځ دارو موندل شي د بد خوي نشته دوا
عاشقی ځني په ګور کړل ځوک پراته دي په زګروا
چه مي ویني د کوګل خورې ویني کله دي روا
د چمن ګلونه وا شول
د خوشحال نه شو زړه[۳] وا

زاهدان چه د رندانو تل پېغور کا که توانیږي ازلي قسمت دي نور کا
ښه چه سپین د زهد لیري له ما ګرزي چه و تورو ته نزدې شي سپین هم تور کا
که رشتیا وایم ویل ئې په ما اور دي ځوک چه ما سره بی عشقه بل بیور[٤] کا
که په خوله مهر وهلي د عقشق دي په سینه کښ ئی ززه وګوره څه شور کا
د لیلی نه نوریده د مجنون مینه چه مي زړه له یاره نیسی خلق زور کا

---

[۱] دا کلمه په هره نسخه کښ په جلا املا لیکل سوی ده، په یوه نسخه کښ (لکور) په بله کښ (لکیور) په بله کښ (لکه یور) کښلې ده، په یوه نسخه کښ محشي (سمله) هم ورته لیکلې ده. ممکنه ده دا د کاتب غلطی وي او په اصل کښ (لکی ور) وي.

[۲] واړه تا کړمه رسوا.

[۳] زړه نه شو وا.

[٤] تر دې کلمی لاندي محشی (مشغولا) ترجمه کښلی ده، د سید راحت په لغاتو کښ بیوره په معنی د ښکاره، او ظاهر او روښان کښل سوي دي.

نازنیني د دې ښهر واړه بویه   چه نن ناز و غمزه ستا له سترګو پور کا
ځما یار په هر محفل باندي چه راشي   په ښایست د ښایسته وو بازار خور کا
یو زمان د زړه خوښي په لاله زار کښ   دا فلك ئې بل زمان را باندي اور کا
چه دیدن د مین نه وي زه ئې څه کړم   که ګلونه شګفتن راته هر لور کا
تېر یاران به نورو نه ویني په سترګو
که خوشحال ورپسې دوه سترکي څلور کا

ستا له چمه به وا نه وړي عاشقان ستا   که هر څو تېره دندان لري سګان ستا
چې قدم له تا نه اخلم زړه مي نه شي   پا بسته یم د زلفینو په ریسمان ستا
ته لا اوس لکه غونچه په غوړیدو ئې   د ښایست خبري لاری په جهان ستا
په ښایست د ښایسته یوسف ثاني ئې   په دوه کونه ښه دیدن دي رایګان ستا
په جهان کښ که تر مرګه ګران څه نشته   زه تر مرګه لا بتر ګڼم هجران ستا
زه به نوم د سلطانیه باندي کښېږدم
که تش نوم د خوشحال تېر شي په زبان ستا

سور پېزوان دي په زرګر نوي سو اریا[1]   بیا د زړونو آزار اخلې پاریا پاریا
په خاوند مي دي سوګند وي باور وکړه   چه هیڅ دم مي له خاطر نه ئې و ساریا
زه هر ګوره دماغي په ځان غره وم   ولي ستا سترګو ځما دماغ او تاریا
د چړې د کټارې حاجت هیڅ نشته   د بڼو په غشیو تا بېچاره ماریا
کله کله ئې له حاله خبر آخله
بېچاره خوشحال خپل زړه در پسي هاریا[2]

ښه سړي د چا په بدو نظر نه کا   که څوک بد ورسره کاندي دوي به ښه کا
په بارداره ونه تل ورېږي کاڼي   ورته ګوره چه بارداره ونه څه کا؟
د جهان کینی غصې واړه تر شا کا   که سړي په وخت د قهر مرګ تر زړه کا

---

[1] په دې بدله کښ د بیتو وروستي کلمات ټوله هندی دي چه د لمړي بیت د لمړي مصراع د اخیري کلمې اصل نسو را معلوم، د دغه بیت پاریا په معنا د کناره ګېرۍ او د دوهم بیت آخر په معنا د فراموشۍ او دریم بیت پاي په معنا د کښته اي څلورم په معنا د وېشلو او څلورم په معنا د ویشتلو دي، په څلورم بیت کښ د کټراي کلمه په معنا د خنجر ده.

[2] بایلو.

دا پدا چه خود بیني ور څخه نشته   د جهان ننداري ځکه دوه لېمه کا
په کینه په حسد هیڅ د چا و نه شي   هر سړی چه حسد کاندي ځان اوبه کا
نصیحت د نیکو ښه دي نه د بدو   کم بدبختان به بد فعلي د چا په خوله کا
و سړي ته ئی اختیار ورکړ هوښیاره   که په هره چار کښ خداي واړه خپل کړه کا
ورځ او شپه په لار رواني قافلې دئ   نیك او بد د قافلې په لاري تله کا
یك تنها په لاري تله[1] نه ده خوشحاله
په دا هسي لار څوک څه د لاري مله کا

عقل سل د مصلحت بندونه جوړ کا   چې د عشق سیلاب پرې راشي واړه نوړ کا
ما ته مه وایه عاقله چه عشق څه دئ؟   که مین شي تا به هم له عقله موړ کا
زه به هیڅکله له عشقه نه وانه وړم   عقل څه په قهر تل د گوتو مروړ کا
زه که هر څو خپل پېوند شولم له عشقه   ولي ما او عشق خداي لا ویله جوړ کا
زما عمر په حساب تر شلو زیات دي   د عشق غم به مي په دیرش کاله کښ زوړ کا
که ئې چیري د خپل یار په وصال لاس شي
بیچاره خوشحال به هم خاطر پرې سوړ کا

که بې نمازه د قیامت په ورځ ممتاز کا   و جنت ته ئې روان په ډېر اعزاز کا
نماز گذارو ته ئې هسي حکم وشي   چه فرښتې ئې د دوږخ په اور گذار کا
اولیا او انبیا به هیڅوک نه وئ   چه تر شونډو به بیرون نری آواز کا
تر عاصي نه لا بتر هغه عابد دئ   چه په خپل طاعت به عجب یا به ناز کا
دا ځاي کار د هیڅ تاعت ندئ خوشحاله
گوره څوک به پخپل فضل سر افراز کا

که یو ځل دي د وصاله بهره مند کا   په هر دود به دي خرم خوشحال خورسند کا
په زمان به دي پیوند له هر چا پری کا   که محبوبه دي د ځان سره پیوند کا
نوې میاشت به دي په مخ گوري وگري   که په مخ باندي دي جوړ سم د سمند کا
زه به ځان لکه پتنگ ترې صدقه کړم   که له ورایه د دیدن مشغل څرگند کا
مبتلا خاطر مي مري د یار له لاسه   بیا له میني هم د یار په سر سوگند کا
چه له سوزه له گدازه ئې حذر شي   زمانه به ئې گلاب نه به ئې قند کا

---

[1] تلنه.

د هر چا قدر قیمت پخپل هنر وي   د ګني قدر ځرګند د ګني خوند کا
چه د عشق د لېونیو په حلقه شي   کله وي چه هغه غوږ د چا په پند کا
د جاهل سره ګلګښت لکه دوږخ دي   له دانا سره راضي یم که مي بند کا
که د خپلو سپیو نوم ورباندي کښېږدي
خوار خوشحال به په عالم کښ سر بلند کا

که دي زړه لري بها[۱]   ځان به نه کړی کم بها
څه وې څه به شي خبر شه   ابتدا په انتها
چه به کانده[۲] تنها کېږي   خو لا نن ښه ئې تنها
چه ئې نور له تا آخلي   پخپل لاس ئې کړه رها
ته خبر نه ئې له ځانه   چه په تا کېږي څه، ها[۳]
درته وایم نه پوهېږي   څه غفلت لرې ها ها
بل مخ مه ګوره خوشحاله
مخامخ شه په شها[٤]

که د یار پسې څوک سپیني جامې رنګ کا   اواره دي د نیمګړې دنیا ننګ کاه
شپه او ورځ دي پسې ژاړي یار دي غواړي   که مین وي په رښتیا ځان دي ملنګ کا
و اشنای وته د یار مینه ځرګنده   لکه قصد چي له ډیوي سره پتنګ کا
دا د غم کښتي چه ګرځي په دریاب کښ   یوه ورځ به ئې ذرې ذرې نهنګ کا
ښایسته بلا دي ولیده خوشحاله!
اوس که زړه منع کوې سترګي دي جنګ کا

---

[۱] لمرئ بها په معنا د روڼوالي او دوهمه په معنا د پلور ده.

[۲] ښایي چه د کاتب غلطي وي او اصلي ئې دا وي (چه په کانده تنها کېږي).

[۳] "ها: د افسوس کلمه ده که یو ځاي (چها) وویل شي، هم صحیح دي.

[٤] شها یا شهی په ښښتو کي لکه لیلا د معشوقو عام نوم دي.

[٥] دا شعر د عبدالغني کاسي په تذکره کښ د خوشحال د اشعارو په برخه کښ اخیستل سوي دي.

له دلبري نه مي خوله غوښته اما ‌‌‌‌‌‌‌ ډکه خوله ئی راته دا ووې "له ما"؟
د ماڼي په وخت ئې تل هسي خواب وُ ‌ ګوره بیا ئې په څه زړه بد دي له ما
هسي یار سره څوک څه لره یاري کا ‌ چه له کبره ئې نظر وي په سما
زه به هېڅکله له عشقه نه وانوړم ‌ پند ګویانو خپل پند وساتي شما
څه خبر بې چه اول په عشق کښ څه ځي ‌ په اول وصلت[١] ئې ځې د سترګو ما
د چا زړه لکه کابل د چا بګرام دئ ‌ د یوه نصیب ساړه د بل ګرما
که جمال راته ښکاره کا زه به ورکړم ‌ دا ګټلې دنیا واړه رونما

زه خوشحال چه ستا په مخ باندي مین شوم[٢]
پارسایي غواړې له ما نه صنما؟

نو بهار شو بیا نرګس په باغ مستي کا ‌ چه صبا مي په سنبل دراز دستی کا
په پنځه ورځي کښ ګل د باغ تازه وئ ‌ په شپږمه ورځ فنا خپله هستي کا
مبتلا بلبله سر د ګل په پښو ږدی ‌ لکه برهمن د بت بت پرستي کا
تواضع زده کړه په تن له سرو وني ‌ چه په هسي بلندئ[٣] کښ پستي کا

کرلاڼي لا نور شراب نوشلي ندي
دا مستي واړه په جام الستي کا

نادیده په نادانی څه بلا کا ‌ الف بې ئې لوستي نه وي ځان ملا کا
روستایی تر دښته نه وي رسېدلي ‌ بیهوده ویل د دښت کربلا کا
و کافرو[٤] ته روغ کړې د دین توره ‌ مسلمان ته ئی مشرک سرى تر ملا کا
و دانا وته بلا شوه خپله پوهه ‌ چه ئې تل په سل غمونو مبتلا کا
دا همه د بد خویی علامت دئ ‌ چه سړی زنا خونونه، ټګي غلا کا
په جهان کښ چه خویونه د بدی دئ ‌ یو دروغ تر زرو بدو تېري لا کا

---

[١] یا به وهلت وي یعنی پلا، په بله نسخه کښ رحلت هم راغلي دي.

[٢] یم.

[٣] چه په هسي بلندي کښ ئې پسي کا.

[٤] په بله نسخه کښ داسي دي "وکافر ته روغه کړې د دین توره".

عطارد[۱] دي نور قلم له لاسه کښېږدي   چه په دا خوبي بهرام انشا املا کا
دا خبري د خوشحال و چا ته نه دي
خو هم دي له خپله ځانه مشغولا کا

نشته په دا ښهر څوک چه نه دي خريدار ستا[۲]   ځرنګه ډېر تود دي چه مي وليده بازار ستا
ښه ده سرو ونه نه چه ښه ده ستا تر قد   شهد که شيرين دي نه شيرين دې تر ګفتار ستا
ښې د هوسی سترکي دي، نه ښی دي ستا تر سترګو   ښه د زرکو يون دي چه ښه دي تر رفتار ستا
څوک دې چه تا ووينې مين در باندي نشي   هر لوري ته ډېر دي که ئې ګورم خريدار ستا
چا چه تا ته کړي يو نظر دي په درسست عمر   څو په دنيا پايي نور به تل وي طلبګار ستا
زه به ورته نه وايم سړی چه تش کالبد دئ   هر چه ته ئې وليدې لوټ نشو په ديدار ستا
ګل د لاله داغ لري سختي د رابيل پاڼي   چا وې چه لاله دي يا رابيل دي ګلعذار ستا
ډېر طبيبان راغله لکه راغله هسي ولاړل   راشه حال ئې ګوره چه څه حال لري بيمار ستا
وې مي و طبيب ته چه د رنج دارو مې وکړه   وئي چه دا دارو کړم اور بلېږي په پرهار ستا
سر لري خوشحال درته پيښکښ که دي په کار دئ
به تر دا نور څه چه د چا سر راشي په کار ستا

واړه مست شه بد ويل کا   و سړيو ته ښکنځل کا
سل بلا تر خوله وباسي   په تېره توره ورژل[۳] کا
چه خپل زړه و چا ته ورکړي   هغه چاري په تاتل کا
زه به څه مانه له چا کړم   په ما دا چاري زړه خپل کا
ځان به واچوم و سيند ته   څوک به دا هونبره زغمل کا
ده پخپله دا فتنې زده   که بد خواه ورته سنبل کا
نه ئې ويره د آزاد شي   به مي رحم په ژړل کا
چرته ځم په چا فرياد کړم   څوک به داد ځما د دل کا
بل تاراج نشته خوشحاله
واړه عشق دي چه نتل کا

---

[۱] ستوري چه منشي د فلك ئې بولي.

[۲] دا بدله هم په چاپی ديوان کښ نسته.

[۳] غوښي کوټل او ټك ټك کول.

هر بیمار چه د[۱] طبیب سره شدت کا | که ئې گوري و خپل ځان وته آفت کا
د ماهي ژوندون دریاب دي گه ترې ووت | په خشکي کښ به دي کله فراغت کا
شاپېرک چه له آفتابه نه پټېږي | د افتاب د کومي چاري خسارت کا
و مهتاب وته د سپیو غپا کېږي | په غپا غپا ځان هسي فضیحت کا
د گونگټ[۲] د گل د بویه نه بلا ده | ژواک ژوندون واړه په بوي د نجاست کا
انبیاء چه کافرانو وته بد شول | واړه چاري د شیطان په مصلحت کا
خوار هغه چه د غلیم په نغوته[۳] درومي | مدعي غلیم د نیکو نصیحت کا
یو د رود په غاړه ترې تشنه لب مري[٤] | هر خسیس په خساست کښ خپل عادت کا
د فرقان په هدایت فاروق پوهېږي | نه بوجهل بولهب ته هدایت کا
طهارت د مسلمان کېږي خوشحاله
نه اودس غسل د کبر طهارت کا

یار په څه بې وفایي کا | چه بې جرمه جدائي کا
لکه شمعه له ما درومي | په بل ځاي به روښنائي کا
عاشقي دي هغه کاندي | چه قبوله رسوائي کا
څو ښایست دي دلبره | هونبره کبر و منائي کا
خوار خوشحال ته د سرو شونډو
بوسه ورکړه گدائي کا

یار مي مرور دي که څوک وي چه ئې پخلا کا[٥] | ژر پاڅه رویباره ځما زړه پسې بلا کا
تل به د جفا په دریابونو کښ غوټې خوري | څوک چي زړه د دور په دلبرو مبتلا کا

---

[۱] له طبیب.

[۲] جعل.

[۳] یعني اشاره.

[٤] دا بیت په بله قلمي نسخه کښ داسې دي "بو تیمار د رود پر غاړه تشنه لب مري"، اما دغه صورت ئی لکه چه صحیح دي بوتیمار په پښتو ککوی بولي، چه د رود پر غاړه سوي سوي نارې وهي او مشهوره ده چه دا نارې ئې له تندي وي.

[٥] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

څه ګنده عالم دئ مه ئې دود وي مه ئې رسم[۱]   وړي په ځاي پربږدي و مړو وته صلا کا
هيڅ سزا ئې نشي باندي لاس د ما د زړه شوي   توري زلفي ستا دي چه دايم د زړونو غلا کا
ستا د تورو زلفو ظالمی څه پټه نه ده   مست چه زورور وي ظالمی په ملا کا
ته چه عاشقي کړې قبلوه په عاشقي کښ   تل په عاشقانو باندي خلق الالا[۲] کا
ستا خونخوارو زلفو زه تنها نتلي نه يم   څو به د ما خوار غندي لا نور هسي جلا[۳] کا
راشه که ئې ګورې دا پخپل جمال مغروره
څو رنګه نازونه په خوشحال خلا ملا کا

يار چه تل هسي جفا کا   ظلم، جور، سل بلا کا
نور څوک هم شته په دنيا کښ   خو که تل به ئې په ما کا
راشه ګوره ستا له لاسه   څوک خندا کا څوک ژړا کا
د هغو په حال خبربږه   چه په در، درته دعا کا
که رشتيا ور څخه نشته   مرګ ئې مه وه تل رشتيا کا
څه ئې شته په زړه پوهيږم   دا چه ځي نظر تر شا کا
مخ ئې ګل دئ زه بلبل يم   تل بلبل د ګل ثنا کا
هيڅ مانه مکړه خوشحاله
ښايسته خپله رضا کا

(ب)

خوار عاشق په خاصيت دي د سيماب   څو ونه مرې ځنې نه ځي اضطراب
ولي هسي خپل عاشق په جفا وژني   نه ديت شته نه فضا شته نه عذاب
ستا د سپيو سره ګرزم ستا په کوي کښ   ګندي ما ورسره ګډ کړې په حساب

[۱] څه ئې دود دي څه ئې رسم.

[۲] يعنی شور او غوغا، په بله قلمی نسخه کښ "غل غلا" کښل سوي دي.

[۳] سوځل او بلول.

خو خوښي دي د خپل يار د ديدن مومم — که په وېښه ميسر شي يا په خواب
دا چيستان د يار له شونډو راته حل شو — ارويده شو يو ځای نقل او شراب
چه په ډکه خوله دی ووې ياري نګړم — د بلا په خوله دي ورکړم زه خراب
په ملال ملال کاته عاشقان[1] وژنې — ستا په سترګو کښ چړې دي د قصاب
ماته څه وايې چه وايه څك دي وژني — ته له خپلو سترګو غواړه دا خواب

که دي زړه وي چه به زړه د خوشحال ګورم
راشه وګوره په اور يښي کباب

خپل بيمار مي حواله کړ به نصيب — ورته زهر شوې ګولی د طبيب
برامد ورباندي صوت د غراب شو — خوشامد ورته آواز د عندليب
طبيعت چه مخبط شي سود ئې نشته — بن په پند څه نصيحت نه په ترکيب
په اعجاز د محمد خلقو اقرار کړ — د بوجهل تل نارې وې د تکذيب
عمارت لکه خطا هسي خطا ځي — په اول ئی چه خطا پر ېوزي ترتېب
نصيحت د ناصحانو باندې باد شي — چه زوال د چا د چاري شي قريب
دانشمند دي خپل دانش ليري ساتلي — د تعليم او هنر اثر په ذئب
د پخو په حال اومه کله پوهېږي — د مقيم په حال خبر نه وي عريب
نصيحت بې ځايه واړه جګر خون دئ — ځکه ژبه تر غاښ لاندي کړه اديب
د هلك مينه په چا وي په هلکو — د لبيب قدر په چا وي په لبيب
په زرګونو مي دنيا و هر چا ورکړه — په جهان کښ پيدا نشو يو حبيب

د خوشحال خټك په شمار په حساب ندئ
په هر ځاي په هر ديار لري رقيب

ما د مځکي په مخ وليده مهتاب — چه خجل ترې دا مهتاب دي هم آفتاب
د زلفينو تر نګهت ئې مشك شرمېږي — د خولې[2] تر بوي ئې نه رسي ګلاب
د وربل په هر هر پېچ کښ ئې نافې دئ — مشاطه ئې چه پرانزي[3] پيچ و تاب

---

[1] په يوه قلمي نسخه کښ داسي دي: په ملال ملال کاته زړونه ورژلې.

[2] د خولو.

[3] پرانځي.

نور شراب ورته اوبه د تر خوبي[۱] دي   چه ئې مست وي د لبانو په شراب
وې مي زړه مي ستا د مخ په اور وریتېږي   وې ئې پرېږده چه ښه وریت شي دا کباب
ستا په زار مي صورت سر تر پایه پر دي   زړه مي گوره په تصویر کښلي کتاب
عاشقان مي کشتگان د معشوقې دي   کشتگانو څخه نشته سوال ځواب
که ته څه خو اشارت وکړې د سترگو
د خوشحال ختلك به ووینې شتاب

نول د تن د ځان شیون د زړه آشوب   یوه څه بده بلا دئ عاشق توب
وایي ته په چا مین ئی راته وایه   بې له تا له نورو مینو توبا توب
خوله چېیه ده د حیات په تور ملسل[۲] کښ   نوم ئې شته لا هیڅوک ندي پرې خروب
ستا له تورو شهلا سترگو ئې سیالي کړه   نرگس ځکه کښېښ سر د دار په چوب
خار و خس به دي په لاري کي پری نږدم   چه ئې تورېم د مژگانو په جاروب
واړه شوندې په لذت سره یو نه دي   څوک حلوا دي د نباتو څوک اتوب
لکه باز خال دي تارو دا ښگار د ده دئ   که څه شي ځما د زړه په تلا توب
دا ځما د سترگو اوښي وینې بدي   د ویشتلي زړه له سترگو ځي زهوب
ستا د مخ په یاد ئې دواړه له زړه ولاړل
د خوشحال د زړه آرام د سترگو خوب

(ت)

په جهان کښ څلور قسمه دي نعمت   عاقلان ئې دِي خبر په حقیقت
لمړنې نعمت د علم، د ښه خلق دئ   دا نعمت په دواړه کونَ دَی راحت
بل نعمت په دا جهان د ډیر دولت دئ   چه هر شان پرې ابلهان کا فراغت
بل نعمت د ریاضت دئ که ئې گورې   په هغه جهان راحت دلې محنت

---

[۱] په چاپي نسخه کښ "تر خولي" لیکل سوي دي چه معنا ئې نسوه را ښکاره.

[۲] مطلب ځني زلفي دې.

په خپل مټ، په خپل کوښښ نه ده خوشحاله
هر آزاد بنده ته رسي خپل قسمت

چه مین شوم د بلندي په قامت   راته ودرېده دار د ملامت
چه بلا ئې د قامت راته ښکاره شه   گویا پاڅېده بلا د قیامت
چه محراب ئې د ابرو راته ښکاره شه   هغه دم مي ناره وکړه قد قامت
د مژگانو ناوکي ئی هسي نه دئ   چه به څوک ورحئي دروميي سلامت
چه نه مي نه معشوقه نه کښت د گلو   تېر ئې عمر دي په غم په عرامت
نن د کښليو د دیدن ننداره گوره   او کنه کانده به درشي ندامت
چه د کښليو ننداره ور څخه ولاړه   خبر نه یم کوم گناه وه کوم شامت
چه نظر به د کرم پر خوشحال کاندي
لا به کله وي دا فضل و کرامت

چه مي ولیده په سترگو ستا ښایست   ښاپېریو څخه نشته دا ښایست
هم هغه درباندي هسې شان مین کړم   چه درکړي ئې و تا دي دا ښایست
مخ ئې کله د لاله غندي زیبا دې   د لاله تر گل ئې ډېر دي لا ښایست
گرمه نه ئې چه خپل ځان ستایي نگاري   وایي نه لري قمر ځما ښایست
لور په لور به د بلبلو ږغ پری وشي   که صبا کا د گلونو وا ښایست
د نرگس گلونه هم هر گوره زیب کا   ستا د سترگو وینم لا زیبا ښایست
عاشقان دي پرې پتنگ کړل چه وریتېږي   خدایه تا کړ په جهان پیدا ښایست
ملاحت وه نزاکت وه لطافت وه
د خوشحال دلبره سر تر پا ښایست

چه د پلار بد گوئی سر شي پوت[١]   صد لعنت د ده د مور په گنده چوت
چه د مور په چوت ئې خیر و برکت وي   له هغه موره به نه زېږي کپوت[٢]
بختور ئې هغه پلار هغه ئې مور وي   چه له موره نه فرزند زېږي ثبوت
د بد زویه ږغ د فسق و د فساد ځي   د ښه زویه ځي ناری په ملکوت

---

[١] محشي فرزند او زوي ورته کښلې دې.

[٢] محشي " نه زوي" ورته کښلي دي چه مطلب ئې نالایق دي.

د مزرې په خوي پيدا شي ځني زويه   ځني غواړي د ګيدړ غندي خپل قوت
چه ئې نوم په جهان پاتو شي د نېکو   هغه زوي خو عمل ګوره کرتوت[1]
د سپين توب چه مزه نه وي په څه کار دې   که ښه خوند لري ترې ښه ګڼه تور توت
ډېر ځوانان چه احمقان دي لکه پياز دي
و خوشحال ته هوښيار مښك دي پير فرتوت

د شوم سړي له کوره که اوبه وي د حيات   [2]په ما باندي لګېږي لکه زهر د ممات
موسی څخه هيچ نه وُ ور څخه يوه عصا وه   قارون څخه دنيا وه خود ئې وليده آفات
هر چا څخه مال وي و بال هم ورسره مل وي   دانا به هسي کار کا چه ئې نه وي و بال زيات
د ګل د عمر کار، د دنيا مال، د سفله مهر   دا درې څلور کارونه بې بقا دي[3] بی ثبات
چه شرم ننګ ئې نه وي نه هنر لري نه پوهه[4]   په مال ئې نظر مکړه مه په حسن په ذات
دانا په جګرخون کښ د نادان خوښي افزونه   عالم واړه حيران دي په دنيا کښ دا واقعات
عادت د فلك دا دي هم دِ ښاد هم دِ غمجن کا   که هر څو ښه صفا وي بيا زنګ ونيسي مرآت
خوشحاله څه اندوه کړې خوښ پدا اوسه خوښي کړه
چه بې ما له غني دئ نه ئې حج نه ئې زکات

که عطار د خپلو مښکو کا صفت[5]   په دا څو ئې روان نشي نګهت
مشاطه دي د دړيو ارايش کا   ولي دريغه که د ناوي وي صورت
که د خره زين د سرې واړه سره زر کړې   خر به آس نشي په دا زيب و زينت
کوري هم لکه ياقوت هسي لېده شي   جوهري ئې خبر دار دي په قيمت
د هوښيار چه زيست روزګار شي له نادانو   شيرين عمر بزي تيريږي په حسرت
په نصيب ئی دغه دواړه تو که نه وي   چه هم بخت هم ئې د عقل وي نعمت

---

[1] دا کلمه عيناً وليکله سوه په ټولو نسخو کښ دغسي ده.

[2] دا بدله په چاپې نسخو کښ نسته.

[3] وي.

[4] چه شرم ننګ ئې نه وي نه مهر دي نه پوهه.

[5] دا بدله په نورو نسخو کښ نسته، له يوې قلمي نسخې څخه نقل شوه.

د خوشحال که نه د تن يې نه د ګيډي
و سفله لره ورشه په حاجت

ما جه نظر وکړ په ذرات په موجودات گول په جهان راغلم ترې په گول درومم هيهات
يو څادر تر ميان وي فهم پاتو شي له کاره دا هونبره کيسې هونبره ادراک د سماوات
هيڅ بني ولي ئې درست اسرار موندلن ندئ لويه کارخانه ده که وګورې کائنات
وزېږي[١] له نوح د طوفان په موج فنا شي زوي د آذر و مومي له ناره نه نجات
کار د بل حکيم دي چه څه کاندي هسي کاندي واړه سردرگم دي د آبا دا امهات
دخل د ساعت د طبيعت دي که د نور څه نيك زېږي له بدو له بد ذاطو نه نيکذات
هونبره[٢]علم زده کړه چه فرښتو ته سبق ورکړي بيا به خبر نه وي د جهان په ترهات
رد دئ که مقبول دئ که معقول که نا معقول دئ گوره ننداره کړه، تر دا دم مه وهه زيات
سر په سجده کښېږدي وايی نمونځ کوم خوشحاله
زړه ته نظر نه کړې، بکښې څو لات و منات

نن مي وليده هغه مست غنچه خوله ئې نيست و هست[٣]
په دوو زلفو عنبر پاش په دوو سترگي[٤] مي پرست
څه[٥] شېوې دِي په جهان کښ دَ همه شېوو همدست
منفعل ئې گل تر مخه تر ښه قد ئې سرو پست
اوس مي بيا مونده په کور کښ چه دايم ئې وم په مرست
دَ بالا[٦] بلا ئې ښه دَه
دَ خوشحال سَره پيوست

---

[١] مطلب ځني د نوح زوي دي چه کافر وُ او د آذر زوي ابراهيم وُ.

[٢] همره شي عالم چه فرښتو ته.

[٣]خوله په اعتبار دَ تنگۍ گويا نيست دهَ.

[٤]سترگو.

[٥]چه.

[٦]چه مطلب ځني قد دي.

(ټ)

که د شمع غندي ښکېناستې مخ پټ   تجلي دي د جمال وینم تر څټ
ته ورځه په نجاست باندي پېرې کړه   د ګلزار له ګلو څه غواړې ګونګټ
د چندڼ دوني لږ لرګي تحفه دئ   نه د بلي بدي وني درسته سټ
په وکښلو به ئې څوک وي چه بد وايي   د ګنډ هېرونه که خېژي تر بنسټ
که په څو را باندي و خېژي خطا شي   راته وایه چه دي پرېوزه دواړه مټ
مګر مرګ ئې په ارمان و بله جدا کا   د جیجي[1] جدائي نشته له لويټ

چه دي زړه هغه به ووینې خوشحاله
خون یوه قطره که تېر شی تر دا خټ[2]

(ث)

چه بد نه کاندي خبیث   نور به څه کاندي خبیث
ځني طمع د ښو مکړه   کله ښه کاندي خبیث
چه د بل ښېګړه ویني   ځان اوبه کاندي خبیث
که ئی ځاي وکړی په زړه کښ   خوږ دي زړه کاندي خبیث
که ځما په خوله شي خداي دئ   زر ړانده کاندي خبیث
چه جهان ور ځني خلاص شي   خداي دي مړه کاندي خبیث

د مېړي غندي خوشحاله
الوته کاندي خبیث

یار مي بیا د سترګو تور کا الغیاث   واړه جور ظلم زور کا الغیاث
په ما خوار باندي ئی نر ناحقه لېږدي[3]   سل بلا د څنګه نور کا الغیاث
زاهد هم هسي له عشقه خالي ندئ   په عاشق به څه پېغور کا الغیاث

---

[1] محشي ورته لیکي: چه جي جي او لویټه د وه مرغونه دي چه یو له بله هیڅکله نه بېلېږي.

[2] خط.

[3] تلنګ او راهي کېده او لېږل.

چه د وصل په دولت وي[۱] سره جمع   جدایی به هغه خور کا الغیاث
د خزان دوک ئې لیدلي دي په سترګو   چه بلبلي هونبره شور کا الغیاث
هونبره اور چه د خوشحال په خاطر بل دئ
څوک به مړ دا هونبره اور کا الغیاث

(ښ)

چه صاحب نفر پرور نه وي هم هیښ   په نفر کښ چه هنر نه وي هم هیښ
په پالنګ د معشوقې ورځې سر تېري   هر عاشق چه تېر تر سر نه وي هم هیښ
له معشوقي نه شېوه بویه څو رنګه   د عاشق چه پرې نظر نه وي هم هیښ
که په زر رنګه خوبی اراسته وي   چه زلمی په بلا بر نه وي هم هیښ
هوښیرانو لره عقل فکر بویه   لېوني چه بی خبر نه وي هم هیښ
چه له شور و شره خلاص دي مردګان دي   د ژوندیو چه شور شرنه وي هم هیښ
که بادشاه څخه بی شماره خزانی وي   چه ئې ښه جنګې لښکر نه وي هم هیښ
مړني چه بې وسلې شو په څه کار دئ   چه سخی سړی تونګونه وي هم هیښ
زوړ سړی که تر څنګ کښېنوي ښه ناوې   چه قوت ئې د ذکر نه وي هم هیښ
سوداګر که وقوف دار د هر کالي وي   په کیسه کښ چه ئې زر نه وي هم هیښ
که سړی د جهان واړه علم وکا   چه د ده د عمل چر نه وي هم هیښ
باز که لوی کتِه خو شرنګ د ډېر صفت وي   چه تېز پر په زره زړه ورنه نه وي هم هیښ
یو د بل له حاله پند اخلي خوشحاله
د سړی چه دا سیر نه وي هم هیښ

---

[۱] دې.

(ح)

كلك خراباتي يم له ما غواړه صلاح ډكي پيالی اخلم تر صباح تر رواح
څوک دئ چه د نمر خوبي به ستا مخ په څېر کا نمر مثال څراغ دي ستا جمال لکه صباح
مه پوښه زاهده د ښه مخ له نندارونه سترگي چه دا کار دي په فتوای د عشق مباح
توي کړه په هنگام د حادثې ساقي په جام کښ مي چه باد را پاڅ‌ث په زجاج کښ ښه مصباح
پاڅه محتسبه خوشحال راغي جنگ ته جوړ شه
غسل په مي وکړه د مومن وضو سلاح[۱]

[۱] الوضوءُ سلاح للؤ من عنی اوسد د مومن وسله ده.

(د)

د خداي عرفان می وشو په عرفان د محمد   پاک دَي محمد پاک دي سجان دَ محمد

راشه نظر وکړه په طه او په یسین[۱] کښ   خدای دي صفت کړي په قرآن د محمد

ډير خلق پيدا دي انبياء که اولياء دي   نشته په خلقت کښ يو په شان د محمد

خداي سره موسی په کوه طور کړلې خبري   دَی د عرش د پاسه لامکان د محمد

پيك ئې جبرئيل وُ دَ رفرف جلب نيولَي   پاس ئې چه معراج وُ په اسمان د محمد

خوان د موسی خوړمن سلوي يو لك وگوري   انس و جن مړيږي تل په خوان دَ محمد

خواست به نور څوک نکا دَ خسته وُو عاصيانو   خواست به محمد کا، خاندان د محمد

لاس دي لگولي ما خوشحال په دواړو کونه

غم اندوه مي نشته په دامان د محمد (صم)

ډير عالم ځما په ياد   راغَي تير شو لکه باد

هم دا هسي راشي تير شِي   په ځَاي نه لري ايستاد

عجب لويه کارخانه ده   چه پيدا کړه لوي اُستاد

و حباب وَته نظر کړه   څه حباب څه ئې بنياد

هسي نه ئې که پوهيږي   ښه مثال شو درته زباد[۱۲]

هيڅ خبر نشوې له ځَانه   هي فرياد، فرياد، فرياد

غمجن والي دي په څه وِي   بيا په څه شي هسي ښاد

څه سختي لرې خوشحاله

دا دي زړه دَي که فولاد

سپَی چه ولامبی په رود   لا بد بوی شی دا دَئ دود

په بهار او په خزان ئی   هيڅ و نه شو ځما سود

ليونی لېونی تر شِی   څو چه شِی ورته سرود

---

[۱] رشه نظر وکړه په طه په يسين باندي.

[۲] يعني ياد او بيان او ثابت.

په سوړوالی کښی چه کار شيِ و هيچا ته مه شه تور
چه ئی قصد د گزار نه وِئ هغه نکا زغره خود
که ته کام غواړې خوشحاله
کام نه مومې په مښود

عمر هر زمان رفتن کا لکه باد مرگ دي هر سړی همېش لَری په یاد
چه د عمر ئې بنیاد په هوا ایښَي په دا هسي ژوندون څه دَي اعتماد
د آدم خاوري د غم[۱] په اوبو نم دئ خمیره[۲] په[۳] قدرت کړې چل بامداد
انبیاء او اولیاء لاړل و کور ته ته به وائې چه دَ دوي نه وُ بنیاد
د دنیا ژوندون هیڅ ندي که ئې گورې چه هیچا څَني بیا نه مونده مراد
همېشه که ژوندون[۳۳] غواړې درته وایم همیشه کَه د نفس سَرَه جهاد
مسافر چه ئې سفر وِي څو دوراند په مقدار دَ هغې لاري آخلِي زاد
راشه زړه له غیرو پریکړه اې خوشحاله
په امید ئې دَ دیدار لَرَه زړه ښاد

و دِ نه زېږ فرزند د بابا په غولي وند[٤٤]
د مریخ په کوکب شوي شوخ بې باک بلا لوند
دَ زهره په ستوري زېږه خوش خرم خوشحال خورسند
نحس او سعد اُوه ستوري تر دا نور شته لا بلند
په هغه طالع چه وشِي په عالم کښ شِی څرگند
بختور دانا مخ دُوِنَي دَ وگړی دلپسند
دَ ده زړه په هره چار کښ دَ همت سَرَه پیوند
هَمگي په خوږو ډک وي د گني غندي بند بند
د ده علم عطائي وي نه سبق دَ دانشمند

---

[۱] د مرگ په اوبو.

[۲] خمرت طینة آدم اربعین صباحاً.

[۳] یعني څما گله.

[٤] سید راحت وند په معني د خندق او غنډی را وړي دي.

چه تر ژبه څه وَباسِی نصیحت وِي وعظ، پند
پخپل شرم ننگ راغلَي نه په شخوند وِي نه په خوند
دا ته څه وايې خوشحاله
خرو ته څه ورکوې پند[١١]

هر گروه له خپله گروهَ دَي خوشنود — هر سړَی لَرِي نظر پخپل مقصود
دانشمند دَ دانشمند په صحبت خوښ دَئ — د جاهل په صحبت گډ شِي جاهل زود
مسلمان ئې په بزرگي په لويي پوه دئ — د جيند له حاله څه پوښتې جهود
د جماع په لذت حيز کله خبر دَئ — که ئی حوره په پالنگ کښېنی څه سود
چه په خوي دي خبر نشو غير جنس دَئ
غير جنس سَرَه خوشحاله کوم بهبود؟

(ذ)

د خوړو شونډُ وې ډير دَی تلذذ — تر همه خواږه ئې تير دَئ تلذذ
ما وې زه به ئې غسل سره نسبت کړم — د دشنام ئې په بل پير دَئ تلذذ
له شکرو زړه نيوه شِي نه له ده نه — د پيو[٢] روي[٣] په څه څير دَئ تلذذ
څو مي ياد د هغې خولې دَ مچي خوند دَئ — نور مې کل له دله هير دَئ تلذذ
د ناوک ئې[٣] هم[٤] لذت تر حساب تير دَئ — ولي زيات ئې[٤] دَ[١] شمشير دَئ تلذذ
لکه وُ د زنخ سيب په هغه شان دَئ — نه چه اوس ئې تير و بور دَئ تلذذ
ستا دَ ژبي دَ سر ډير منت را باندِي — په دا يم ئې را بر سير دَئ تلذذ
په هجران دَ شکر لبو په جهان کښ
په خوشحال زهر و گنډ هير دَئ تلذذ

---

[١] قند.

[٢] دا کلمه په هره نسخه کښ جلا املا لري (پيو وړي، پيووري) ام اصل يې (پېروي) دي چه په پارسي ئې قيماق بولي.

[٣] دِ.

[٤] دِ،

(ر)

آه دا هونبره استغفار   چه ئې تل کړې په اسحارَ
گه رشتیا دا استغفار دَئ   بیا گناه څه گناه کارَ!
که دا کار دې په دروغ کړې   شرم وکړه له دې کارَ
هم دروغ کړې هم گناه کړې   ترس د نشې[۱] د قهارَ؟
هم توبه کړم هم گناه کړم   ته مې وینې گردگارَ
زه عاجز بنده عاصي یم   پرده پوښ مِې شې ستارَ
د خاصونو توبه راکړه
ما خوشحال ته استوارَ

با تو خلوت برگزینم در تو بینم ځیر ځیر   گر چه وقت نو بهار است باوجودت هېر هېر
پنج روزې بیش نبود صحبت گل با هزار   ای دریغا در گلستان گر بماندې ډېر ډېر
بار آن صبر است این سیب زنخ در دست ماست   کز رقیبان تو می بردیم جور تېر تېر
آهوی چشم تو از شیران عالم دل ربود   گر چه بر شیران ندیدې هیچ آهو چېر چېر
گفتم ای جان جهان از من گهی یاد آیدت   گفت وقت قتل می آیی بیادم ډېر ډېر
می نیاساید دمی خوشحال بې دردت بلې
لشکر دردِ تو اکنون کرد دل را زېر زېر

تا غُندِې به نه وې یوه کښلې په دا دور   یُون دې دَې د زرکی دواړه سترکې دې د میور[۲]
وخت دَ نو بهار دَې راغ و باغ واړه گلزار دې   راز دَ کردگار دَې دا گلونه نه طور طور
بار[۳] دربانِدې[٤] مه وه زه هم زړه لَرم ویرېږم   باز خورې دَ زړه غوښې، یا ئې ته خورې یا ئې بور[٤]
نور عالم بې غمه زه دا یم په درد و غم کښ   عشق نه دَې بلا دَې چه ئې وینوم په ځور

---

[۱] ترس دِ نشته.

[۲] یعني طاوس.

[۳] په قلمي نسخو کښ پار هم راغلي دي.

[٤] یعني پړانګ.

مي شته چنگ و ني شته ساقي راشه باده راکړه   تَل به بهار نه وِي چه تیریږي وخت دَ ثور
کښبینم وَ رودبار ته چه رواني اُوبه گورم   عمر غُنديِ دروميِ چه ښه وکم بانديِ غور
یار دي که دَ کور[۲۸] دین قبول کا پدا څه شيِ   شرط دَ محبت دَي ته هم واخله دین د کور
مینه [۲]دَ مجنون په لیلا لا شوه ډیره ډیره[۲]   څو چه عالم وَربانديِ وکړه هور زور
طبعَ دَ خوشحال ده لکه ښه باغبان په با غ کښ
گل و هر چا ورکا چه ئيِ زړه وړي على الفور

په تازه عاشقي مهر کوهَ مهر   چه آشنا شو نور که مهر کړې که قهر
که دَ زهرو پیاله وِي ستا له لاسه   تر عسلو به لا ښه وِي هغه زهر
چه له لویو له هلکو جفا اروم   مگر دود دَ وفا نشته ستا په ښهر
په عالم کړي بلا ستا سترگي نزولي   څوک به څه لَرَه تهمت وایي په دهر
زه هاله له دَ عافیت ناوِي قبول کړم   چه مي خپله تمنا ورکړه په مَهر
د وصال ورځِي هلکی تر گړی دِي   بی لیدلو میاشتی کال شويِ گړَي پهر
د دیدن تږَي بيِ حده تلوار کاندي   گوره کله به خروب شي ستا په نهر
خوار خوشحال ئيِ لکه خس هسي لاهو کړ
چه دَ عشق سیلاب را وخوت لهر لهر

ته چه مخ په آینه کړې برابر   ربنه[۳۳] شي په دا مخ کښ مخ دَ نمر
مَرَني سپاره دَ مخ دِي دا دوه توگه   توري ورځي توري سترگي مخ لنبکر
چه پلو له مخه واخليِ زه دعا کړم   هر چا زده چه دعا ښه دَه په سحر
د یوسف غُنديِ مخ پټ کړه په برقع کښ   چیري نه وِي چه پری ولگي نظر
مخ هغه چه ئيِ ستاینه درست عالم کا   نه هغه چه لکه ستایي د لال خر
زاهد مخ په محراب وینو سجود کا   ستا د ورځیو په محراب نه دَي خبر
مخ دي هسي شان لیده شيِ په خالونو   که ئيِ گوريِ لکه گل دَ پیغمبر

---

[۱]محشي تر کور لاندي کافر کښلي دي.

[۲]مینه د مجنون به په لیلا وشوه لا ډېره   څو به چه عالم وربانديِ ډېر کړ هورزرو

[۳]دا توري د هري نسخې لېکونکي په جلا ډول غلط کړي دي، چه هیڅ معني نه ښندي مگر ربنه صحیح دي، د سپوږمی   سپکي رڼا ته وایي، یا نوره سپکه رڼا.

ستا د مخ مخي به نه کړم نور مخونه   نور که ستوري دَ آسمان دِي ته يی نمر
دا دَ مخ خوبي ئې وګوره خوشحاله
دَ شرابو دَ مستي لَرِئ اثر

چه مرغونه دَ آسمان ساتي دا کار[1]   دَ هوښيار دَي دَ بيدار دَي خبردار
زه دا نه وايم چه زه هوښيار بيدار يم   د ما هم له لاسه ولاړ دِي څو دينار[11]
دَ نادان خطا لا هسي ګرانه نه وِي   که خطا دَه خو خطا دَه دَ هوښيار
هو دا هونبره تفاوت تر منځ ليده شِي   چه مير ښکار سَرِی پوهيږي پڅپل کار
سربښته دَ مير ښکارئ ور څخه نه وِي   بيهوده مرغه ضايع کا نا مير ښکار
ښه مرغه د نامير ښکار تر لاس ور مه شه   او که ورشِي يا به خاوري شِي يا خوار
د خوشحال خبره نغوږه پرې عمل کړه
تجربې ئې دي ليدلي دَ روزګار

څه سړی څه ئې تدبير   هم هغه شِي چه تقدير
که جهان شِي تېره توره   ستا په مرګ شي خلق خير[2]
بی تقديره به وَ نه مرې   نه په توره نه په تير
بی اجله مرګيي نشته   تېغ وَهَه مکړه تقصير
لکه کار دَ مَړَني دئ   هسي کار نه دَئ د پير
دَ غازيانو شهيدانو   پروا نشته دَ سعير
ګُل ګټنه دَه دَ توري   که کابل دَي که کشمير
مَړَنيِ دِي چه[33] يادېږي   په سندرُو هم په وير
چه دروغ دَ توري لاف کا   د هغو[4] نه يم دلګير

---

[1] محشي روته کښلي دي چه يو څو اينار بازونه.

[2] څير.

[3] که يادېږي.

[4] په هغو.

توره بخره دَ خوشحال ده کان[1] په کان خلق خبير
تر اووُ پېړېو پورى واړه مره په تېغ په تېر
دا دَ خان ستاينه نه دَه
حقيقت وايم په ځير[2]

چه له خپله هوډه نه وواوښت منصور — که وګړى په سولي[3] کړ مخ ئى سور
ملامت چه په عاشق بانديِ وايه شيِ — په مذهب دَ عاشقانو دَي معذور
عاشقان په معشوقه بانديِ پتنګ ديِ — له جهانه به ولاړ نشيِ دا دستور
څو دَ عشق مينه زيار تېرِي په کوګل کښ — دَ عاشق په پوهه نورُ علي نور
دَ عشق کار په لېونتوب دَئ نور څه ندئ — راشه واوره، نه په عقل نه شعور
معشوقې وته بادشاه لکه بنده شيِ — که قيصر دَئ که خاقان دَئ که فغفور
روغ ئې هيڅ په حال خبر نه وِي له درد — که په درد کښ قراري نکا رنځور
زړه مي سر تر پايه واړَه اَبله دَئ — په فراق کښ، لکه وَړي دَ انګور
هر ګروه له خپله ګرده سرَه سرور کا — د ما هيڅ نه شيِ له چا سره سرور
عاشقان په عشق کښ واړه ناصبور دِئ
څه خوشحال يواځي نه دَئ نا صبور

چه مکې لَرهَ څوک درومي[4] په خره سپور — که حاجي شيِ نه ئې ننګ وِي[5] نه پېغور
چه خبر په هنر نه هغه کم عقل — چه دَ خط سترګيِ ئې نه وِي هغه کور
چه ئې خداي و چا ته ورکا دَ هغه[6] دي — بخت دولت نه په کوښښ دَي نه په زور

---

[1] کال په کال.

[2] څېر

[3] يعني دار.

[4] ورشي.

[5] شته.

[6] د هغو.

اصالت هنر چه دواړه سَرَه يَو وِي — لکه ښه کښيده روغه[١١] په انځور[٣٢]
په[٣٣] خصلت هنر سيرت دانش باقي وي — قد قامت صورت فاني دئ سپين و تور
دا همه له نا پوهَی پيدا کيږِي — خر خښې دعوې نا سازي شر و شور
پېرځوينه، ښه سلوک، نمځنه،[٤] عدل — که دِ دا خويُونه شته څه غواړې نور
کبر جن، حريص، بې زړه چه دروغ وايي — دَ يارئَ لايق نه دِي دا څلور
که وعده ئې قيامت وي دَ غوښتنِي — د هوښيار سړی به نه وِي په کار پور
که طالع ئې دَ دولت په شربت ډک کا — بيا آخر شِي دَ کم عقل جام نسکور
دَ يارئِ دَ دوستی لايق هغه دِي — چه آزاد ورځي نه وِي پلار و مور
که ځوانمرد يې ځوانمردي به دِ هاله وي — سل بدئِ آواره کړه دَ خپل ورور
په ايمان په ځان په دواړه خرفه نکا — چه دَ خپلي ژبي وَلگيږِي اور

دَ هوښيار[٥] سَرَه مجلس ښه دَئ خوشحاله
دَ نادانه سَرَه ښه ندَئ بيور

خپل پرَدی[٥] راته په خوله وايي زر زر[٥] — و عالم ته تر هر څه دي بهتر زر
اوس په دا دَور ما وَليدَل خواږه دِي — تر پدر تر برادر تر پسر زر
نورُو چارُو وته څه گورې دا گوره — چه صاحب دَ مسلمان کا کافر زر
که دِ قصد کښينه حسد ور سَره پرېوزي — په وژو دَ سيد درست کا محضر زر
فيروزه الماس يا قوت لعل له کانه — له دريا به نه وَکاږِی گوهر زر
مځکه څه دَ اسمان ښايست په زر دي — ستوري زر دِي آفتاب زر دَي قمر زر
شاهزاده بې زرو گُښې تنها گرزي — دَ هندو سَرَه روان کا لښکر زر
زور، قوت، حرمت هورې درومي چه زر وي — دَ پادشاه په سر څوک کښيږدي افسر زر

---

[١] جوړه.

[٢] نقش يا د نقاشي اسباب.

[٣] چه.

[٤] دا کلمه په ځنو نسخو کښ فقط (نمنځنه) ليکلې‌ده، چه معني ئې نسوه راته جوته، ممکنه ده چه نمنځه حاصل مصدر وي له نمانځل څخه يعني لمونځ کول.

[٥] خپل پردي په خوله په زړه وايې زر زر.

خداي دِ ما دَ قانعانُو په حساب کا   چه و ديو وته يَو دي حجر زر
ښه ځوانان ئې ليدَل نه مومي له ورايه   دَ نامرد په غېږ کې ورکا دلبر زر
جوهري قدر قيمت زده دَ جوهرو   قلب سَرَه سَرَه جدا کا زرگر زر
دَ گيدړُو نوم په خوله څه لرَه اخلی   دَ زمري له تنه هم پرې کا سر زر
هر مراد چه دَ سړی دی په دنيا کښی   دَ طلب په وخت ئی ورکا در بر زر
که چميار دَي که نداف دَي که جولا دي   تر اصيل سړي ئې کښېنوِي بر زر

نه به دي په لړُو زور نظر وَکا
نه به پرېوزي و خوشحال ته غر غر زر

دَ غريق اوبه چه پاس واوړي تر سر[١]   د جهان له حاله هيڅ نه وِی خبر
خبر دار ئې په پساره په اوړده نه وي   چه درياب تر کومه لاړ دَي پهن تر
اوس مي درست صورت دَ غم په درياب ډُوب دَئ   په هيچا باندِي مي نه لگي نظر
اندرون بيرون همه په غم کښ ځار شوم   هم دَ غم سَرَه مِي يَو شو درست پيکر

ژواک ژوندُون مِي همگي واړه په غم شو
غم په مثل لکه اور زه سمندر

دَ دولت لَمن نيوه نشِي په زور[١]   ړوند که سترگي په سمه کا لا پېغور
دولت څه دَئ په مثال ښايسته ناوې   دَ نامرد کره ئې عمر وِي په اور
د گنده ټټو نه بد ټټو پيدا شِي   ښه آسونه دَ ميدان راوړي ښه مور
دَ دولت په آس دِي هر نا سور سوز نشِي   که سواري وربانديِ کاندِی خو شاه سور
چه په کور کښ می اول ټټو راغلَي   د ما بخت وُ لا اول له ځايه تور
ټټوگي دِي تازهگي دي ترې زوولي   همېشه کا په پايگاه کښی شر و شور
نه يَو ښه لايق فرزند دَ پلار په خونه   نه دَ سرو دَ سپينوُ گنج دَ ده په کور
ربه ډېر اولاد دي را کړ منت دار يم   دَ خوبی ډغ ئې بيايې په هر لور
چه په ورُونو کښ نفاق کا نا لايق دي   يا ئې ښه کړه يا ئې مه گرزوه نور

دَ خوشحال په دعا غوړ دَ سترگوُ وَرکړه
که بهرام[١] عابد[١] دِي واړه کر و کور

---

[١]بهرام او عابد د خوشحال خان زامن وه.

دَ بازوُنو ښکار د چا دَئ د زردار هم زردار هم بې پروا قلندر وار
که ئې غم دَ هوس کا دَ زيان ئې نکا که ئې مري په قوشخانه کښ څو دينار[۱]
دَ هغه سرِي څه کار دَئ په بازُونو چه بنده دَي دَ درم او د دينار
دَ ښکار کار په مصلحت په سيالِی نه دئ دا يَو عشق دَي چه ئې ورکا کردگار
چه په اصل کښ شجاع عالي فطرت دئ دَ هغه په زَړه کښ حُب پرېوزي دَ ښکار
قمار باز به له قماره صبر وکا مست نه هم شِي له شرابوُ توبه گار
زه خوشحال به دَ بازوُنو ښکار پرېږدم
څو ژوندَی[۲] يَم دا مي کار دَئ دا روزکار[۲]

زه ژولېده تر يم که مجنون ژوليده تر هيڅ خبره مکړه[۳] سرَه دواړه سر په سر
گوره چه څه حال دَي ستا په زلفو کښ دَ زړه مي باد را لَرَه راوړ نن پرېشان پرېشان خبر
مخ دي مسلمان دَئ واړه[٤] زلفي دِي کافري دواړه مِي قبول دَي مسلمان دَي که کافر
گل د لاله ښه دَي راته وايه که بارخو مي ستا زيبا بارخو نه له گياه کړم برابر؟
نه په گښت دَ باغ ځِي نه په سيل دَ گلوُنو څوک چه په کوڅه دَ دلربا لَرِي مقر
تا وَته دَ خپلوُ شونډوُ قدر ښکاره ندئ ما زده چه عسل دي يا نبات دي يا شکر
مخ په پلَو پټ کړِې رڼا ورَځ ور باندي شام کړِې بيا چه پلَو واخلی په عاشق شِی سپين سحر
ډېر[٥] په غېږ کښی پروت قدر ئی هيڅ نه نه ئی زده شِی چا دَ سر قيمت زده جوهري صاحب نظر
سترگو ته ئې وگوره خوشحاله بانُو ورځِي
ستا دَ مرگ دَپاره په څو جوړ لرِي لښکر

[۱] محشي ورته کښلي دي: يعني دينار بازونه، ممکنه ده چه يوه نوعه د باز وي.

[۲] په ژوندون ئ له ما نه درومي دا کار

[۳] نده.

[٤] توري زلفي.

[٥] در په غېږ کښ.

راشه گوره دَ بهرام دَ نفاق چر — گاه سني گاه را فضي گهي کافر
کله ښه زویَ دَ پلار ښه ورور د ورور شي — گاه له دواړو توگو گرزي پر پر نځر[۲۱]
دا تاثیر دَ بد پیّتي دَئ که د تخم — چه غنم باندي کرې کېږی جودر
که لوگي دَ اور فرزند دَئ په دا څه شوه — چه دَاور غُندي ئې نشته خیر و شر
په ما درکښ ئې بلا وئ که په پلار کښ — چه دا هسي ځني زېږي گیدي[۲۲] خر
بهرام خان[۳] دَئ سعادت دَي هم یحیی دَي[۲] — په خصلت کښ سَرَه یَو[٤] ترْبل بدتر
و خانې وته ځغله هنر هیڅ نه — و عالم وته پیدا کړه درد سر
خاني کار دَ هر چا نه دَئ دَ هغه دَئ — چه صرفه ئې نه په زر وي نه په سر
یکباره ئې په نظر کښ شرم ننگ وئ — دَ دنیا په سود زیان نه وئ خبر

دَ خوشحال خټك که سل زویه نمسي دي
لا لایق دَ خاني نه وینم پسر

راشه مه کوَه ډېر جور — زه هم خوي لَرَم یَو طور
زه فرهاد دَ زمانې یَم — ته شیرینه دَ دې دور
دَ غماز په خولې[۵] مي وژنې — نه انصاف لَرې نه غور
په خبرو دي پوهېږم — زه ته رنگ لَري دَ میور[۱]
گُندي راشې په منگلُو — درته پروت یَم لکه بور

په خوشحال کړې ځني چاري
دَ غمزې په هور زور

شپه ئې وینځه بې بې نور — تور زنگي نوم ئې کافور
مرده شوي چه منافق دئ — مړ جهود بولي مغفور

[۱] دا کلمه په چاپه دیوان کښ پزنځر او په نورو که هم ډول ډول لیکلې ده چه حل طلبه پاته سوه.

[۲] سید راحت گېدي په معني د زره را وړي دي.

[۳] بهرام، سعادت، یحیي د خوشحال خان زامن دي.

[٤] سره یو تبله بتر.

[۵] په خوله مي.

نادیده چه ،منیه[٢١] لولي   ځان ملا کاندِي مشهور
سفله ټول کا ځو درهمه   تر خواجگانوُ شـِي مغرور
دروغجن تر ټوپه[٢] ورشي   د کابل کاندِي مذکور
خپله بل وته نیولِي   په پردی باندِي غیور
پُټي ډکِي پیالې اخلي   ښکاره مه خوره یَو انگور
موحد دَ رسالو شه   تر ځان کوز گڼه[٣٣] حضور
د خوشحال سَرَه خندا کړه
بیا ئې ژاړه په سرور

عشق تر ځوانَ نه زوړ کا ژر نسکور[٤]   په پخه ونه لا ښه لگېږی اور
اندرون دَ هر چا شین دَ عشق په شین دَئ   دا یو اور دَي لگېدلَی لور په لور
چه په عشق کښی ځك پېغور تړي په نورو   هم په دَه پوري به لگ وئ دا پېغور
زاهد وَرچانی[٤٤] انکار کاندي له عشقه   نلدمن[٥٥] لیلا مجنون لولِي په کور
چه دَ مځکښي دَ اسمان په منځ کښي څه شته   زه همه وینم له عشقه سپین و تور
زه حیران یم دا مي څه دي په کوگل کښی   چه ورَځ و شپه پر تل وي شر و شور
په وصال کښي سل هراسه دَ هجران دِي   په هجران کښي خو غم یو دَئ نه وي نور
جهان واړه کور دَ عشق دَ محبت دَي
په خوشحال باندي بانډه[٦٦] شو رنتبهور

[١] د فقه له لمزنیو کتابو څخه دي.

[٢] په ننگرهار کښ دَ یوه زاړه عمارت کنډواله ده چه ښایسته ټوپ ئې بولي، دا ټوپ زما په خیال له هغي زړې کلمې ستوڼه څخه پاته دي، چه پخوا ئې دَ بودائي دین معابدُو ته ویله.

[٣] منصور.

[٤] یعني دروازه تړي.

[٥] د یوه عاشق نوم دي چه جلا کتاب لري.

[٦] یعني کوچني کلي.

فلك كا دا هسي چارِ   دَ ده چاري دِي مردارِ
دوه یاران سرَه جدا كا   بیا ئې بند كا سره لارِ
گاه دِ زړه وِي په ښادي كښ   گاه دَ غم ژړا چیغارِ
گاه دشواري كا آساني   گاه اساني كا دشوارِ
دواړه توگِ گزران شِي
بده دا هم نه ده بارِ

كه په خوله را سره جنگ كا هغه یار   په زړه مهر رنگارنگ كا هغه یار
چه له ما سرَه راځي غاړه غړیَ   څه مِي لیري له زړه زنگ كا هغه یار
هیڅ حاجت دَ توري نسته مانَې بس دَئ   كه مِي مرگ وته آهنگ كا هغه یار
چه مشال ئې دَ جمال راته ښكاره كړ   بیا به ما باندِي پتنگ كا هغه یار
چه ملنگ دَ مسلې غواړِي خپل مخ ته   عاقبت مِي به ملنگ كا هغه یار
له هر چا سره خندا په اَرت زړه كا   خو په ما باندِي زړه تنگ كا هغه یار
مرصع بسیر[٢١] دِ نور لَري په پوزه   اكتفا په تور لَونگ كا هغه یار
زه فقیر یم دَئ بادشاه دَي باندي ښائي   كه ځما له یارئ ننگ كا هغه یار
رقیبانو وَته نرم شِي تر مومَ
و خوشحال وَته زړه سنگ كا هغه یار

كه مسجد گورې كه دیر   واړه یو دِي نشته غیر
یو مي بیا موند په هر څه كښ   چه مي وكړ دَ زړه سیر
هغه ځاي په سیر گرځم   چه تر نه رسیږي غیر[٢٢]
په احوال باندي یو دوه شِي   ځكه نشته باندِي خیر
خوشحال یَو وینِي خوشحال دَئ
ورته ورك دي غیر و زیر

---

[١]دا كلمه په هره نسخه كښ په جلا بول لیكلې ده، په چاپي كښ بیر، په بله كښ پسرده، چه اصل ئې نسو را معلوم.

[٢]طیر.

که دي زلفي نه وي تار تار ما به نه ژړله زار زار
ستا له خاره خاره عشقه په سینه کښ مي خار خار
چه په تا ئې دَ زړه مینه هغه تل گرزي خوار خوار
زړه دَ یار له لاسه مرینه بیا مدام وایې یار یار
توري سترگې دي گواښ گرندي بانه ستا وایي مار مار
ستا دَ شکرینو شونډُو اشتیاق لَرم بار بار
خوشحال ستا له مخه وایي
واړه ښه وایِي ځار ځار

لکه کار لَرِي نظر هسې ژبه کا اثر
ماهیت ئې مونده نَشې چه څه ځیز دَئ دا بشر
هم ترکیب دَ نیك و بد دَئ هم معجون دَ خیر و شر
هم فرښته دَئ هم حیوان هم مومن دَئ هم کافر
کله اور کله اوُبه شې کله توره کله سپر
کله څورب شې له باده کله بیا په هیڅ ډنگر
لکه دَی دَي په جهان کښ بل به نه وي دیده[۱۱] ور
دَ څلورُو[۱] میندو[۲] زویَ دَ اتو پلارُو پسر
څه خو لږ تر خداي را کوز دي که ئې نه دي برابر
دا وَ چا ته کړې خوشحاله
د مستي شور و شر

لېوني سَرَه[۱] به څه کړې نور تدبیر[۱] لیوني لَرَه زندان بویه زنجیر
دما زړه ئې په حلقه دَ زلفو یوور لکه لوي ماهی په شست دَ ماهي گیر
که خوښي دِه په جهان کښ دَ لیدو ده نه خوښي دَ بادشاهیَ دَ سریر

---

[۱] د پدر.

[۲] مطلب له څلورو مندو څخه څلور عنصر دي، او اته پلاره به ممکنه ده، اته عرض وي، په اصطلاح د قدیم حکمت، مگر په بعضو نسخو کښ (د نو پلارو پسر، دي چه محشي ورته کښلي دي مطلب ځني نه فلك دي.

که یوسف ئې دَ کنعان دَ ځاهَ وَکیښ　　په نیك بخت ستوري زوولَي وُ بشیر
دَ شکرو په دکان هندوُ بچه دَي　　که تور خال دَي ستا په سرو شونډو جایگیر
دَ بهار په وخت په بوږهٔ د سراي گرزه　　نه په بوزه دَ کابل او دَ کشمیر
دَ لنډیٔ اوبه هغه ګڼه خوشحاله
چه یادېږي په جنت کښي جوي دَ شیر

مرد به نشې په گفتار　　ځو پیدا نه کړې کردار
چه دي وښکنځي مرد نه یې　　که له تا نه وِي په ډار
چه څه دَي خو انتقام دئ　　دَ مردانو کار و بار
عفو هورته ځاي لَرینه　　چه نه عیب دِي نه عار
چه غیرت ور څخه نه وِي　　هغه مرد نه وِي پکار
هم مهره لَري هم زهر　　ښه مردان وِي لکه مار
چه هم تندره هم باران دئ　　تر هغو مردانوُ ځار
مرد به غم دَ خپل هنر کا　　نه دَ زر نه دَ دینار
مرد به غم کا دَ خپل شرم　　دَ عزت دَ اعتبار
نا مرد فخر په نسب کا　　مرد نه مور لَرِي نه پلار
دَ خوشحال خبري گوره
لعل و دُر پېئي په تار

نه مي لاس رسي په یار　　نه طاقت دَ انتظا
دا ستم په ما خپل یار کا　　که گردش دی دَ روزگار
پکښي ستا غمونه ځاي دِي　　که یَو زړه دَی که هزار
تر ویښته ضعیف وجود مي　　ستا دَ زلفو دئ یاد گار
غم دَ یار دَ بیلتانه دَئ　　چه تر هر څه دَئ دشوار
خپلي اوُښي ميي دریاب شوې　　پکښي نه مومم کنار
چه مي تل په دیو زورې　　ستا په شونډُ ولَرم کار
چه څوک سوځي، هغه سوځي　　هم پتنگ گوره، هم نار
ځما زړَه څه اسان ندي　　چه ئې وړې نه ترس نه ډار

دَ بوسی وعده دي وکړه
زه خوشحال لرم تلوار

ننګيالي قبلوي ګور[1] ګور خو نه وِي[2] رنتبهور
لس په کال پرېِ نَنوزي ځني وزي درې ځلور
مور زادي بلا پروت[3] يَم چه بلا هورې مِي کور
ننګيالی دَ ننګ دَ پاره په هر څه لګوِي اور
سر په باد دَ سړي پېوزه چه ئي وي ژوندُون نور
چه په نام و ننګ اَړ نه وي خو دي نشِي ويَي[4] سپور
سر په دار لك شوي ښه دي نه لك شوي پر پېغور
په همت سړَی پرده دَئ
نه دَ مست هاتي په زور

نه د ما د هنر شته حوګ طلبګار نه د ما دَي ددې ملك منر په كار
خپل ځانونه هوښياران کښي نادان دئ خداي د ما د هسي خلقو كړ روزګار
په يو ژبه ويل سَرَه پښتو کړو ولي هيڅ ځَبله[5] نشو خبردار
چه دَ سوات په ملك کښي ما ننداره وکړه بل اولس تر يوسفزيو نشته خوار
زور زياتي خو د پسندي خصلت دَ واړُو هر سړي ئې طمع خواست وته تيار
که په کور کښ مال دولت لَري سترګ وړي ملکان ئې لا تر نورُو دِي مردار
حقه چار به دَ عزيز كاندي نا حقه كه په بدِي رشوت مومي يَو دينار
ختکیَ له ختکی نه رنګ آخلي عالمان شيخان ئې لا دِي نا پکار

[1] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

[2] خون دي.

[3] وت لاري او سړک ته وايي.

[4] په يوه لمي نسخه کښ وهي ليکلي دي.

[5] وَبله.

چه مې ولیدَل له نورُو خبر نه یم دا خو واړه[1] یا غوایه دي یا حمار
دا په هر دیار کښ سیل هم بد نه دَئ چه خوشحال وته څرګند شو هر اسرار
چه د سوات د سیمي خاوري خوشحال بوي کړې
یَو سرَی[2] به ځنې نه وِئ وفادار

نخښه نه ولي همېش لښدی په سر کله منځ کله ښَي کيږ کله لَر بر
دا يو لحظه دَ هوښيار غلطي نه وئ؟ يا هر ګز دَ لانبوزن نه وِئ خطر؟
په زمان کښ به خپل ځان تر هر چا ښه کا دَ سړی که لاس رسېږي په قدر
بخته! چېري يې له ورايه را ښکاره شه چه مي ښه تر عراقی شي لا شه خر
دانشمند په خواري خوار جاهل کامران دئ دَ سړي طالع په کار دَي نه هنر
هنر مند سړی په هر دیار عزیز وئ په ځاي قدر قیمت لَريي سره زر
دَ بلبلو په کار ګل دَي نه دا نور څه په چمن کښ خار و خس بلا بتر
چه دَ زرکو ښکار په غره کښ پیدا کیږي باز په دا سبب نیولَي دَي لوي غر
اول فکر دَ زړه وَکړه بیا وَیل کړه کاتبان تر کښو پخوا وهی مسطر
هیڅ خبر دَ ورځو شپو په حساب نه دَئ
همیشه ښه دَ خوشحال خټك اختر

ولي په کوڅه دَ هغه یار نکړې ګذر وَرلَړه دي بولي ته لا ګرزې در په در
خاورِي دي په سر شه چه به ورپه ورجار وزې زده کړه دا خبره در په در خاوري په سر
یار دي په ښایست کښ دَ بهار تر ګلو ښه دَئ ولي ئې له مخه لاله ګل ته کړې نظر
هر چه ته ئې غواړې هغه یار درته حاضر دَئ دواړه سترګې وَخورې هیڅ په ځان نه يې خبر
دا یم درته وایم ستا بد خواه نه یَم نېکخواه یَم فکر دَ توښې کړه چه پخوا لَرې سفر
زرکی تور تارو تمځَری هر لوری ته ډېر دی هسی باز در څخه تا ئی وَترل سهپر
تخم شته هم مځکه هم قبله لَري تیاره هر اسباب دِ جوړ دَئ ولي نکړې کار د کَر
کانده به حساب وي مو بمو به سوال ځواب وي څه دِي پکښې کښلي راشه ګوره خپل دفتر

[1] دا خو بې غوږو لکی دي حمار.

[2] به پکښ نه وي.

مه اوسه بې غمه غليمان لکې له همَ
فهم کړه خوشحاله چه دا لار لَړې خطر

هر ساعت چه په چا ځي هسې بې کار   تر هغه نه زه لا ښه ګڼم بېګار
رنځوران که کا روبار نکا معذور دئ   روغ سړی به ولي نکا خپل روزګار
که هيڅ کار و بار دِ نه وِئ درته وايم   هَسې مه کښېنه بېکاره نا پکار
په هر څه چه غم غلط شي واړه ذوق دي   که په نرد که په شطرنج وِي که په ښکار
سړی هر ساعت هر وخت په بل بل[1] حال شي   همېشه په يوه حال دئ کردګار
ستا به نوم په جهان پاتو شي خوشحاله
يوه لويه مشغولا ده ستا دَ کار

يو دا هسې ښه بهار   بيا پرې صوت دَ هزار
څوک سپاره په عراقيانو   تر چا لاندې ښه رهوار
په لاس ناست خاصه بازونه   په هر لورې خاصه ښکار
ښه کرجي[2] وراندې نيولي   دَ باز ونو سَرَه يار
ښه تازی په دور ترلي   پرانتلي په وار وار
زړه فارغ له هره لوريه   پکښې واړه خيال دَ يار
تر دا هسې هوس به
زه خوشحال کړم دنيا ځار

ړ

په سرو شونډو دې بازار دَ شکر مات کړ   تورو زلفو دې ناموس دَ عنبر مات کړ
چه دَ صبر په آهن مي وه ترلې   تا دَ زلفو په حلقه هغه ورمات کړ

---

[1] ببل ببل.

[2] په قلمي نسخو کښې کرځي ليکلي دي، يعني زوړ باز.

چه ئې ستا دَ خط و قد ننداره وکړه صورت گرو مي پر کار و مسطر مات کړ
سحر گرُو اوس دَ سحر دکان ونغښت دواړُو سترگوُ دي دَ سحر هنر مات کړ
په دا دوه سپاره دَ مخ يعني ستا سترگي تا مي درست دَ بارسايَی لښکر مات کړ
په هوس هوس راځې طره پرېيښې گوره بيا دي دَ چا نَويَ سنگر مات کړ
چه آرزو لرم په زړه کښ ستا دَ ورځيو دې ارزو مي په ځگر کښ خنجر مات کړ
تا وې نور به قول مات نکړم سوگند دَئ په سوگند سوگند دي لا ځه بهتر مات کړ
په بارخو دَ مار حلقه شو که صبا مي ستا دَ تورُو زلفو خولې وته سر مات کړ

ماتوه دَ خوشحال زړه بيا به وَوايې
چه مي ځه لره دا هسي گوهر مات کړ

په دا شکر چه ئې بوي ښکاره آتش کړ اگر[1] درست صورت وَا ورته ببشکش کړ
زړه پخپله هغه مخ لَرَه لاړ نشو دَ ذلفينو ئې هر تار ورته دلکش کړ
دا ببغش شراب دَ کومي ميخانې دې چه ځما دَ زړه ئې ليري غِل و غش کړ
لبونتوب ئې مبارک شه تَل ترتَله چه ئې يار دَ زړه په غوره پرېوش کړ
په يادی ئې نر باحقه نازېدلَم ببهوده مِی په سراب دَ اُوبوَاش[2] کړ
مشوش ئی کړ روزکار دَ پرهېز گارُو چه کاکل ئې په جبين را مشوش کړ

ما وې سپينه خوله به ورکړې وَ خوشحال ته
په خندا ئې له نا خوا له پنج و شش کړ

چه مِي زړه دَ مال و ملك په هوا نه ولاړ[3] که په کښليو پسې لاړ شو ښه چه ښه ولاړ[1]
عقل و هوښ صبر و آرام ور پاتو نشِي دَ هر چا چه په دلبرُو پسې زړه ولاړ
هر چه خوږ دَ کښلي مخ په مينه نه وِئ دَ جهان په مخ اُوده راغَي اُوده ولاړ
هم مي زړه په غمزه وړي هم ځان نادان کا راته وايي وايه بيا دِ زړه په ځه ولاړ
محبت دَ کښلي مخ ځما په زړه کښ باور وَکړه لکه اور په وچ واښه ولاړ
دَ هجران په شپه ئې درست ټوکر ټوکر شو په ژړا ژړا مِي زړه تر دوه لېمه ولاړ

---

[1] عود.

[2] د تحسين او تعجب کلمه ده.

[3] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته. .

هغه یار را ځخه وایې هر گز نه وُ   هیڅ مِي نه زده که همېش را سره وه ولاړ
هر زمان به ئې شا راته په مانِی وه   یوه ورځ بې غمه نه وه تلتل ته ولاړ
نور به بیا په بېارته را نشی خوشحاله
گذشته عمر پسو لکه اوبه ولاړ

چه مي ښه توریت[1] دَ خپلي چاري ځیر کړ[2]   ځان مي واړه حبطه پخپل تدبیر کړ
لکه واچوي دانه دَ دام په منځُ کښ   خلقو ما سره په مهر کښ تروير کړ
ما پدا سترگړ لیده دَ دنېا خلق   څو ئی ډېر دَ دنېا سود[3] هونبره ئی ویر کړ
مور زادی کاڼه هر گز نه هوښیارېږي   نصیحت په تور زړگي کله تاثیر کړ
په ناپوه باندي بې غمه بې غمي ده   دَ دانا آفت ئې خپل ضمیر منیر کړ
راشه وگوره یو گز مځکه نیولې   چه ئی مټ دَ خپلی خوني په توفیر کړ
دَ ارمان لاسُونه مړه مړي په گور کښ   چه مو ولي په نیکیَ کښ تقصیر کړ
دَ هر چا مي خپل هنر بلا دَ ځان دَئ   خپلو پرونو په خزه بندي کجیر کړ
چا ئې وصل پخپل مټ حواله کړَي   چا دَ هري چاري حکم په تقدیر کړ
لیونی د لېونتوب په سبب بند شِي   مست هاتي خپلي مستِی په زنجیر کړ
په بار بار دَ خپل استاد منت را باندي   چه له زنگه ئې صفا ځما ضمیر کړ
دَ زړه ښهر مي چه ځاي د قناعت دئ   په ناحقه مي حرص بکښی امېر کړ
که وَیل ئې دَ غماز منلي نه دِئ   بیا ئې ولي له حیرانه زړه دلگیر کړ
پوره زر اتیا کلونه په کابل کښ   دا غزل مي په بیاض باندِي تحریر گړ
دَ خوشحال دَ زړه خوښي نشِي بې سرايَ
خپل وطن ئې په هر چا باندِي کشمیر کړ

څو ئې بوي په هر طرف بهیر و نه کړ[4]   په گلونُو عندلیب نفیر و نه کړ
ځما اوښیو کاڼي هم په مخه یووړل   ولي ستا په زړه ئې هیڅ تاثیر و نه کړ

---

[1] د طالع ستوري، نجوم.

[2] دا بدله په چاپي نسخو کي نسته.

[3] سور.

[4] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

په ژړا په بی صبري له ليدَل مومم   ما په دواړو توگه هيڅ تقصير و نه کړ
په خندا خندا دي مرگ وته نيژدې کړم   ترو دي څرنگه په ما تزوير و نه کړ
خو لا زه يم چه له غشيه نه دي درومم   گڼه هونبره مې په تور نخچير و نه کړ
مگر زه سهل غرڅه وم ستا تر فهمه   چه ځما په مرگ دِي هيڅ تکبير و نه کړ
اوس به څرنگه خلاصېږم له دې غمه   چه لمَری مي دَ خلاصی تدبير و نه کړ
د کعبې په لار به څنگه برَی کړې   چه هر گز دَ يوه شپه شبگير وَ نه گړ
په صورت به دَي تل وېر وئ پسله مرگه   که د ځان دی په ژوند ونې وير و نه کړ
زه خوشحال چه سر و تير ځم ستا له تيره
هيڅ ارمان دي دَ غمزې په تير و نه کړ

خداي يَو هسِي فکر راکړ[1]   چه ئې ملك راته رڼا کړ
چه په ملك په ملکوت دِي   پرې خبر ئې زړه دَ ما کړ
په اعلی په اسفل واړه   را ښکاره ئې هر اشيا کړ
که په نورُو توره شپه دَه
په خوشحال ئې سپين سبا کړ

لکه خداي چه دَ يار حسن بې نظير کړ   هسی ما دَ زړه په سر باندي تصوير کړ
د مجنون غُندي په درد دَ عاشقی کښ   پخپل حال مي همگي خلق خبير کړ
ما وې کندي تفحص وکا پخولا شِي   تر پرونه نه ئې نن مانې کبېر کړ
ښايسته د قندهار دَ چا په ياد دئ   پدا حسن ئې بنده واړه کشمير کړ
دا څه حسن څه جمال څه ئې اقبال دَئ   چه شالانُو ئې په وَر کښ ځان فقير کړ
زړه پخپله هغه مخ لَرَه ولاړ نشو   دَ زلفينو ئې هر تار ورته زنجير کړ
نه گناه نه ئې خطا نه نيت ئې نور دي
نر ناحقه ئې خوشحال په زړه دلگير کړ

مخ ئې فکر دَ نسرين را څخه يووړ   خط و خال ئې مشك چين را څخه يووړ
د ترسا زلفي زنار شوې را تر غاړه   شکر شکر چه ئې دين را څخه يووړ
بې د يار دَ شونډُو تل چه يادوم ئې   ميني نور ذکر تلقين را څخه يووړ

---

[1] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

درسته شپه ژړا ناري آه و فریاد کړم
بیا ئې خوب په څه آئین را څخه یوړ
دواړه سترګي ئې شاهین شهپر ئې زلفي
ځما زړه کوتر، شاهین را څخه یوړ
په راتله ئې درست آرام را لړه راوړ
او په تله ئې درست تسکین را څخه یوړ
د چمن ګلُونه کوز ګوري دا واړړ
چه دلبري هر تحسین را څخه یوړ
چه مې زړه وړي ما وې پاسه په اسمان ده
ولی تُرکي په زمین را څخه یوړ
زه هاله دَ عافیت ناوې قبول کړم
چه هوس ئې په کابین را څخه یوړ
تل اوبه په نري ځاي باندې ما تېږي
عقل و هوښ ئې نخستین را څخه یوړ
هغه ورَځ مې زړه له خپله ځانه موړ شو
چه له لاسه دل سنګین را څخه یوړ
چه دعا ځما دَ صبر کا وګړي
عشق دَ دې دعا آمین را څخه یوړ
ما وې زه به ئې لا فکر دَ علاج کړم
ولی خوار[1] خوشحال زړه خوړین را څخه یوړ

ما دَ کښلیُو ننداره کړه زاهد ننګ کړ[2]
ښه خو دا چه خداي دَي هم د ما په رنګ کړ
هغه وخت چه را په یاد شې ډېر خوشحال شم
چه به ما درته دعا کړه تا به جنګ کړ
زما زړه ئې په قلاب دَ زلفو یووړ
ور سرَه ئې اوده کړي په پالنګ کړ
که ژوندی نشي له خوبه[1] عمر ئې شوم دَئ
چه په خاک ئې دَ پایلو باندې شرنګ کړ
کښلي مخ ئې لکه څراغ هسې بلېږي
خوار عاشق ئې پدا څراغ باندې پتنګ کړ
ملنګان ئی دَ دربار دروېزه مومي
ما هم ځکه ځان دَ یار دَ ور ملنګ کړ
ته دَ ځایه هسي نه وې دا څه حال دَئ
چه په ما باندې دي زړه دا هسې سنګ کړ

---

[1] ولي خوار عاشق زړه.

[2] دا بدله په چاپي نسخو کښ نست له یوې قلمي څخه را نقل سوه.

ز

پر د قاز شته پر د باز[۱] لکه پر هسې پرواز
لکه سترګي ليده هونبره لکه خلق هسِي آواز
لکه قد جامه هم هونبره لکه حسن هونبره ناز
دَ دانش کښيده بويه نه دَ سرو زور طراز
بېړۍ کرزې په بېله[۲] کښ په قلزم ګرزي جهاز
سګ لاهو غُندی خو نشته مړک که هر څو وي اوباز
په دا پړانګ نشو خوشحاله
که پړانګ [۳]پش[۳] دَي پړانګ ته ساز

چه هر يار ته مي تر خوله ويوست آواز[٤] زر په واړه عالم خور شو هغه راز
که دي زړه دَۍ چه سوا په هيچا نشې د قلوب دننه ښه دۍ ساز ناساز
که آواز دَ زرګو وَۍ په درو کښ چا به چېړي ور پسې ګرزاوه باز
چه ناري کا تور تارو په مرغزار کښ باز جره ئې بتې يوسي د طراز
چه څما تر خوله و نه ووت چا وَ نه وې خپل نفس دَۍ په سرۍ باندي غماز
په سبا به هغه راز په کلي خور وُ چه په شپه به ما وَزوي ته وې په ناز
ډېر ياران مي تر سرتېر دۍ ځوان وَم زوړ شوم په زرګونو کښ پيدا نشو دمساز
پخپل زړه کښ جګرخون کوَه خوشحاله
خپل پردِي ته دَ زړه راز مکړه آغاز

لکه غشي لَرَه بويه تير انداز هسې شعر لَرَه بويه سحر ساز
همېشه دَ زړه په لاس تله دَ وزن زيات وکم دَ وزن يو توري غماز

---

[۱]دا بدله له يوې قلمي نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.

[۲]يعني جزيره.

[۳]د زنګله ياغي پېشي چه له پړانګ داسي ده.

[٤]دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

په تور اَس دَ حقیقت ناوې سپَره کا　　په سپین مخ پلَو نیولَي دَ مجاز
سل جلوې سل کرشمې سل مکیزُونه　　په نظر کښ ئې ښکاره دَ سترگو ناز
دَ صنعت زیور په حڅ رنگه پرېوزي[1]　　د تشبیه چندنې چووه باندِي طراز
دَ تجنیس پایلي جوړی[2] په پښو کړي　　د تر صیع منی[3] په غاړه اوږد دراز
د مضمون د نزاکت غمزه ور څخه　　سر تر پایه درست صورت سرَه یواز
که په نظم کښ کارگه او تېوس را وړي[4]　　هم دَ زړونو په ښکار گرزي لکه باز
چه یوه وینا ئې وکړه هوښیار هغه　　عاقلان به وَیل کاندِي په ایجاز
و پښتو ژبي ئې ډېره خوبي ورکړه
چه خوشحال کا په پښتو شعر آغاز

---

[1] پر ېوزي یا پرې پوري.

[2] څړي.

[3] امېل.

[4] دا درې بیت په نورو نسخو کښ نسته، له یوې نسخې څخه را نقل سوه.

(س)

په رموز د عاشقانو عاشقان پوهېږي بس
[1]په طلب دَ طالبانُو طالبان پوهېږي بس

په ضمیر دَ نخلبندُو نخلبند سرَی خبر وِئ
په تصویر دَ نقاشانو نقاشان پوهېږه بس

چه کښتیِ پکښي بیایي په عظیم دریاب گډېږي
په بیلو د کښتیِ ملاحاان پوهېږي بس

چه گردش ئې ورځ و شپه کا دَ کامل انسان دپاره
په اسرار ئې کاملان یا دا آسمان پوهېږي بس

سپینیِ ږیرې وَته بویه چه نظر پخپل قوت کا
او هوس دَ شوخي شنګي پدا ځوان پوهېږي بس

نادانان دَ ملك څښتن کا دانا هسې ورته گوري
دغه پوهه دَ چا نه دَه پرې سجان پوهېږي بس

چه خوشحال ئې په بیاض کښ دا تازه تازه خبرِی
نو په دا تازه خبرُو سخندان پوهېږي بس

په درست کلی کښ مي یار دَئ هغه کس
چه په درست تومن اوڅار دَئ هغه کس

که په شکل شمایل سرِی لیده شي
سر تر پایه پر یوار دَئ هغه کس

ځکه زه وَر باندِي هسي عندلیب یَم
چه په حسن یَو گلزار دَئ هغه کس

که هر څو راته ښکنځَل کا یا قهرېږي
په خوله واړه شکر بار دَئ هغه کس

که ئې زلفي که کاکل که ئې گیسو دي
همګي مشك تا تار دَئ هغه کس

چېرِي نه چه په ټولی کښ ئې غلط کړِي
هوسی سترګي گلرخسار دَئ هغه کس

دَ جایفل په ځای به سر ورته ښېښکښ کړم
که په سرمی مینه دار دَئ هغه کس

چه زه خوله ورځَني غواړم نور ښکنځَل کا
بې حسابه ستمکار دَئ هغه کس

سر تر پایه زرزری جامې آغوستي
سر تر پایه زرنکار دَئ هغه کس

زرکی! څه لَرَه پخپل رفتار غره یې
لا تر تا نه خوش رفتار دَئ هغه کس

چه صورت سیرت ئې دواړه سَرَه جوړ دِي
دَ خوشحال دَ زړه پکار دَئ هغه کس

په لحد کښ به هوا نه وِی هوس[2]
در سَرَه به خپل عمل درومي نور بس

بې طوطی نه قفس هیڅ نه دَئ باور کړه
روح په مثل دَ طوطي دَي تن قفس

فهم وکړه چه ضائع در څخه نشِي
لکه در بې بها دَي دا نفس

چه دا در بې بها هسی تلف کا
دَ ښارویو په شمار دَي هغه کس

د خانانو په خاکونُو گذر وَکړه
زرغونه ئې په خاکونو خار و خس

هر چه شوِي نه بدلېږی دا په څه کړِي
هونبره ډېرِي اندېښنې هونبره وسوس

نصیبه له جهانه یو کفن ورِي
هغه هم اته یا نه گزه یا لس

دا به واړه له تا پاتو شي اې جانه!
که ښې جونه که آسوُنه که اطلس

---

[1] دا بدله په چاپي دیوان کښ نسته.

[2] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

تیارېږه وخت دَ کوچ راغي خوشحاله
په هر لورِي نارې اَروې دَ جرس

ته څه زړه لرې څه لاس
واړه گنج ئې کوز و پاس
گاه دَ مځکی طراحی کړې
گاه په عرش کښېږدې اساس
لکه ډک شې هسي تش شې
د د شناځ دَئ ستا اماس
لکه پونډ[1] يې وَ اور ته
وَ اُوبو وَته قرطاس
هم گوهر يې هم شبه يې
هم کُتني[2] يې هم کرباس
هم ملك يې هم ملِك يې
هم خنزير يې هم خجاس
په افلاس کښی دِ دولت دی
په دولت کښی دِ افلاس
ته له ديوه په هراس يې
دَی تا نه په هراس
نه اطلس دَئ نه زربفت دَئ
لا څه ښه دَئ ستا لباس[3]
واړه ښه وايې خوشحاله
وايه هيڅ نشته وسواس

چه ئې غم لرې دَ مخ هم دا وصال بس[4]
اندېښنه ئې د جمال دَ خط و خال بس
بادشاهان دئ زر زری جامې اغوندې
دَ قانع گداې په شا باندې يو شال بس
په بهاندُو اُوبو کښېنه ننداره کړه
دَ جهان دَ تېرېدَلو دا مثال بس
خو يوه گېډه خواړه دوه درې خرخوړی
که دانا يې په جهان کښ دا جنجال بس
و حريص وته درست مال دَ دنيا لږ دئ
و قانع ته يَو فلوس دَ دنيا مال بس
زاهد سترگې ترې پوښې زه کښلي گورم
که جنت لَرَه مي بيايي دا وبال بس
که لايق ئې دَ جمال دَ ليدو نه يَم
که ئې بيا مومم وصال په خوب و خال بس
دواړه کوَنه د هغه چه ئې طلب کا
ستا دَ سترگو ننداره د خوار خوشحال بس

خدايه که زه تا ته نيژدې کېږم په افلاس[5]
زر مي گند په غاړه کړه يَو مات کچکول په لاس
ته که په دا خوښ يې چه خاوند د ملك و مال وم
مال و ملك مي هونبره کړې چه تېروي تر قياس
هسي مال را مه کړه چه ئې ځاې وي تر زړه کښته
هسی اموال را کړه چه ئې ځاې دَ زړه دَ پاس
لاس مي همېش بر لَره په واړُو غليمانو
دوه می غليمان دِي يو مي نفس بل مي خناس
طمعَ که حسد وئ که حرص که بد خويونه
واړه له ما پرېکړه د خپل فضل په الماس
توان د طاعت راکړه چه اخلاص ور سَره مل وئ
نه هغه طاعت چه شِي په رسم په لباس

[1] يا پونړ دا يو راز قديم اورلگت وُ، چه وچ لرگی او نور وچ اور اخيستونکيي مواد به وه.

[2] هم کيمخا يې.

[3] ستا پلاس.

[4] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[5] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

یا بارَ کریمه! د خوشحال ختك دا خواست دَئ
تل دَ ده په زړه کي لرې ټېنګ دَ دین اساس

زه هغه سړی یم چه قلم واخلم په لاس[1]   ناظر مي عطارد دَي چه به څه کښ په قرطاس
نائب دي د تقدیر د ما تدبیر په مصلحت کښ   صائب دَي ځما فکر د هر امر په اساس
د تورُو په میدان کښ چه سودا وِي د سرونو   هغه زمان مي ګوره تل به سور وِي د ما آس
حاسد مي لکه کاڼي د صحرا په هیڅ حساب دئ   په قدر په قیمت کښ یا یاقوت یم یا الماس
که حاصل مي د قضا په حکم هسي محول وي   قمر وَته نظر کړه کله بدر کله کاس
ظاهر لکه شهباز یم که وَ ما وته نظر کړې   باطن لکه خورشید یم هیڅ مي مه غواړه په قیاس
که لافي د کوزئِ د هسکی وهم باور کړه   تر تورُو خاورُو کوز یم تر اسمانه یَم لا پاس
ویَل کوې و چا ته چه د ما ویل سَرَه زر دِي
ړوند و وته خوشحاله لکه زر هسي رصاص

سړی ښه دئ حق شناس   سر دئ خوړي ناسپاس
دَ یوې داني اوربشي   احسان ډېر دَئ تر قیاس
چه احسان وته ئې شا شوه   مخ ئې تور شه نه دَئ ناس
څو اخلاص ور سَره نه وِئ   یاري نَشِي په لباس
یار ئې مه ګڼه اغیار دَئ   چه ته پرېوزې درکا لاس
تل خالي دَئ[2] له خلله   دَ رشتیا میني اساس
که دي یار دَئ هغه یار دَئ   چه خپلوی ئې بې وسواس
بې وفا دِي دا دری توکه   توره، ښځه، دریم آس
دَ خوشحال خبري دُر دِي
چه ئې کښلي په قرطاس

کله باز کا و مرداري ته هوس   دغه کار دَي د کارګه و د کرګس
و ګفتار وَته ئې غړوه سترګي   په کرده په عمل ګوره کس ناکس
که ئې سر په لکی اوړي هغه دئ   په هیڅ رنګ به نور څه نشي سګ مګس
په ظاهر شماره که لس سَرَه دوه پنج وِئ   د ابجد په حساب نوي وګڼه لس
ده سړی په باغ کښې ګډ شي یَو ګل ګوري   دویم ګرزي په طلب د خار و خس
زه دا یم په بېلتانه کښ له هغو یم   چه دَ یار بې یادوندی یو نفس
که هر څو ښایسته روغ دي څك ئې څه کا   د طوطي له مخه ښه یشي[3] قفس
خوار شوخحال به ځني څو شړې په جور
که سړې شونډي دي شکر دي دَ مګس

---

[1] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[2] وئ.

[3] یعنی ښه ایسي.

که د موږ نفس کښ څه وئ لکه وئ هسي به اوس[1] چه په څه دئ زړه مینه هم هغه مینه به بوس
لاس دَ زړه دَ پاسه کښېږده چه څه حال درته معلوم شي څه تسپې په لاس کښ نموږي څه په ږمنځي زیره پوس
که د باغ دئ که دَ راغ دئ په څو لونه دي دا وني حؤک سپیدار څوک چنار دئ څوک پلو[2] دئ حؤک پلوس
اینځَر نه لري گلوُنه مېوه سپینه لَرِي توره د انگورو ژنکوري گوره مېوه گل لَرِي نلگوس[3]
دا جهان پټې پټې دَئ جنس دَ جنس سَرَه خوښي کا چه په خیال په هوا گرزِي زیر پرِوني سر منډوس
الحذر دَ عشق له اوره که دئ لاس رسي زړه ژغوره
دَ دلبرو مینه اور دَه اې خوشحاله زړه کړه بوس

ش

توراني خو د جنجال دِئ د پرخاش[4] دروغجن سوگند خواره بهتان تراش
ایراني د آشنایی د وفا دِئ د خلقت د مروت دِئ دَ معاش
پښتانه دَ بد نیتی د خصومت دِئ په حیا په شجاعت ئې وکړه شاش
که بلوڅ که هزاره واړه چرکین دئ نه ئې دین نه ئې مذهب ستر ئې فاش
که هندي دِئ که سندی دِئ مخ ئې تور شه نه حیا نه ئې وفا نه نان و آش
کشمیري که نرکه ښځي واړه هېڅ دِئ د مردی ور څخه نشته هیڅ قماش
د آدم له نسله نه دِئ گوره څه دِئ دواړه ورک شه یو اوزبك بل قزلباش
لغمانی بنگښ سواتي تیراهي واړه موت متر لوبیا چڼه دئ مهي ماش
هر احوال ورته ښکاره دَئ دَ وگړي
د خوشحال خټك په پوهه کړه شاباش

ښ

دا ښایست چه ئې په تا باندِی کښېښ دَ زړه داغ به ئې په ما باندي کښېښ
که جمال ئې و یوسف نه وُئ ورکړَي چا به غم په زلېخا باندِي کښېښ

---

[1] دا بدله په نورو نسخو کښ نسته، له یوې قلمي څخه را نقل سوه.

[2] دا کلمه عیناً ولیکه سوله حل طلبه ده.

[3] د دې کلمې تلفظ د قندهار په خوا کښ نرگوس دئ، مگر دلته په ټوله نسخو کښ په لام لیکي دئ، نو موږ هم پر دغه املا پرېښود.

[4] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

مگر گل په اشارت کښ ورته وَ وېِ چهٔ[1] بلبل تېتر په ما باندِي کښېښ
که دَ زلفو[2] مار ئې وخوري عاشق گرم دئ چه ئې لاس په اږدهار باندِي کښېښ
زه که ستا په لرِ شوبو[3] باندي پروت نه وئ دَ سپي نوم به دئ په چا باندِي کښېښ
که هر څو به دئ شاړه له خپله وره
خوار خوشحال به قدم لا باندِي کښېښ

ض

له تا به ستا له تېغه عاشق چېري کا اعراض د شمع د اور پېښتې[4] مينه نه ځي په مقراض
د خپل خاطر احوال به زه خپل يار وته معلوم کړم بيمار به له تبيبه په څو پټ لرى امراض
تر دانه به ته کوم طاعت ته به مومې اې دله چه يو ساعت مي کښېنې دَ زاهد سَرَه مرطاض
سودا ئې د چشمانو په ژړا ژړا بتر شوه دا اوښيو محرمي [5]ئې اوس وړينه په بياض
د يار کوڅه مي بيا مونده دَ يار له بويه پُره هوا به دَ گلونُو نوره څو کړم دَ رياض
خوشحاله مستعد اوسه و فيض ته قابل يې[6]
ورېږِي دَ قابل په زړه تل فيض دَ فياض

ظ

چه دَ کښليوُ په ليدَل نه وِئ محظوظ د سرود په اَرويدل نه وِئ محظوظ
چه حاصل ئې دَ خپل يار ننداره نه وئ په گلزار ئې سوخته دل[7] نه وِئ محظوظ
که شيخان که زاهدان که عابدان دي په دا خپل عمر به تَل نه وِئ محظوظ
چه ئې دواړه شونډي کښل کړم پرى محفوظ شم څوک به هم په مي خوړَل نه وِئ محظوظ
کله کله هسي وخت په سرِى راشي چه دَ گلو په کتَل نه وِئ محظوظ

---

[1] چه بلبلي تېتر بيا باندي کښېښ.

[2] د زلفينو مار کښ وخوري.

[3] دا کلمه عيناً وليکه شوه حل طلبه ده.

[4] يعني پټن.

[5] د اوښيو محرر ئې اوس درينه په بياض.

[6] شه.

[7] خسته دل.

دَ خوشحال ويل[1] هنر دي هغه خر دَئ
چه به دَی په دا ويل نه وِئ محظوظ

زړه مي بې له عشقه په بل کار نه وِئ محظوظ[2] · بېله کښبليه مخه په گلزار نه وِئ محظوظ
کله مړنَی دي چه د توري په ميدان کښ · دَی دَ تېرې توري په پرهار[3] نه وِئ محظوظ
هر چه عاقلان دِي په فتوی دَ عقل کار کا · هر چه عاشقان دِئ پدا کار نه وِئ محظوظ
هر چه بل ئې وَولِي بيا دي پرې غشي لك کا · هيڅکله ښکاري په هغه ښکار نه وِئ محظوظ
خاوري ئې په سر حبطه ئې عمر تېر شو · هر چه نن دَ کښبليُو په ديدار نه وِئ محظوظ
عيد شو هم بهار شو وَ صحرا وته خلق ووت · زار دئ دَ هغه چه پخپل يار نه وِئ محظوظ
دور دَ عاشقانُو دَئ که وَگورې په عشق کښ · پند که ورته وايي پخپل پلار نه وِئ محظوظ

هر کله چه راشې ورته وخاندې له ورايه
خوار خوشحال به ولي په بار بار نه وِئ محظوظ

ع

سخت ساعت دَي دَ وداع · په آشوب و په صداع
چه يَو ځل سَرَه ځوک بېل شِي · بيا په بخت وِي اجتماع
عجب هر زمان نياز کا · نوې نوې اختراع
چه په لږ ماتې وه نزع · ترو به څه وئ په نزاع
هم مي وغلوي بيا وايي · نه پوهېږي په خداع
شونډه بوڅه په نخوال[4] کا · چه مي وَويني اوضاع
دَ بورجل غمجن په رقص · دَ پايلو په سماع
چه ترې دَ ليدو لاړي · څه دِ خير دَئ مناعَ!

نه ئې يو ديدن خوشحاله!
نه دَ درست جهان متاع

---

[1] د خوشحال ويل هنر نه د هغه دي.

[2] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

[3] گزار.

[4] نا خوال.

غ

خلقي سَرَه یاري کا په دروغ | و به نه وینې دوه زړُونه سَرَه روغ
د شودو پیو عوض ئې وِي په زړه کښ | چه سفله و چا ته ورکا چېرې دوغ
د هغو صحبت کیمیا دَئ که ئې مومې | چه ئې بیا مومې په ناسته کښ فروغ
د دې دور یاران واړه منافق دي | په خوله تا سره هو هو کا په زړه یوغ[۱]
په قیامت به ئې په کوم عبادت پټ کا | په آزاد دَ خپل پدر ترلَي توغ

نور کارُونه اوس په کار ندي خوشحاله!
یا و چا څه ورکوه یا الچوغ[۲]

که یو گل و ما نه راکړې دَ خپل باغ | خداي دئ تا تر و تازه لَرِی تل باغ
ستا له باغه یو گل ما لره دولت دَئ | نه په سل رنگه گلوُنه دَ بل باغ
چه ورتله دئ باندې نه وِئ سپېره ډاگ وئ | په راتله دي شی درست ملك و بورجل باغ
په خوږو خوږو مېوو په گلُو ډک وِئ | چه ښکاره کړې راته په ښکنځل باغ
دَ ښه مخ دَ گلستان بلا هجران دي | تل گلونه به خزان رېژول باغ
نور باغونه دَ نوروز په وخت غوړېږي | په اهاړ کا غوړېده دَ کابل باغ

همېشه به پرې نارې وِئ دَ بلبلو
دا چه ساز کړ نن خوشحال په وَیل باغ

ف

را معلوم شو دَ اورنگ عدل و انصاف | دَ ده ښه مسلماني ښه اعتکاف!
سَکه ورونه وار په وار واړه وژلِي | پلار په بند کښ اچولَي په مصاف
که هزار ځله څوک سر وهِي په مځکه | یا په صوم تر شمځَي ورولي ناف
څو نیت[۳] د ښه عمل سَرَه جوړ نشِي | عبادت، طاعت دي واړه دِي خلاف
چه دَ ژبی لار یَوه دَ زړه ئې بله | په چاره ئې شه ځگر شگاف شگاف
مار په تن دَ پاسه ښه ښاېسته روغ دَئ | ولي ننه[٤] اندرون لرَي ناصاف
مړنی په کرده ډېر وَیَل ئې لږ وِئ | د نامردُو لږ عمل وِئ ډېر ئې لاف

که دلې دَ خوشحال لاس په ظالم نشته
دَ قیامت په ورَځ ئې خداي مکړه معاف

---

[۱] د دې کلمی معنا حل طلبه ده.

[۲] دا کلمه هم حل طلبه ده.

[۳] څو دي نیت.

[٤] د دننه مخفف دئ په جاپي نسخو کښ دا مسرئ داسي ده: ولی تن ئې اندرون لري ناصاف.

ق

چه بنیاد ئې پیدا شوی په نفاق[۱] د هغه[۲] نه طمع مکړه اتفاق
چه وودلې وِئ په ذات توره شړئَ سپینول ئې وَ هر چا وَته دِئ شاق
چه په باغ کښ رنگارنگ مېوه پیدا شِي لَون لَون ئې مزه وِي په مذاق
دَ عسل سَرَه ئې خوره خوږه به نشِي مَرَ غونې چه ترخه دَه په میثاق[۳]
دَ دانا به دَ ناپوه سَرَه څه زیست شي کونگی[٤] هیڅکله دَ باز نه وئ مشتاق
که اخلاقِ ناصري په یاد ووایي په اخلاق کښ به ښه نشِي بد اخلاق
دَ طاوس سَرَه که زاغ په قفس بند کړې
تر وصاله ئې خوشحال وي په فراق

خر دَ سرو زرو دَ زین نه دي لایق[٥] ښه څرَی ور لره بویه موافق
بوالهوس چه عاشقي کا عاشق ندئ په خالي هوس ئې مه بوله عاشق
نفساني تاریکه شپه صادق هغه دئ چه سهار غُندي سینه لَري صادق
څه په علم په تلقین سَرَه نور نَشِي چه راغليَ له ازله دَي فاسق
د سینا[٦] زويَ له ځَایه شیخ ملا وُ آراسته نشو په درس په خوانق
په ادب آداب به نه فائق تر چا شِي چه له ځَایه په فطرت نه وِي فائق
صالحان له ظالمانو نه پیدا شِي له زاهدَ نه پیدا شِي غل سارق
دَ بد خوي دَ خوي علاج ملك الموت دي نه په ډېر علاج خبر حکیم حاذق
هغه باغ هغه باغوان هغه ئې گل دئ چه فرهاد باندِي بلبل وُ یا وامق
زړه سوخته مینان ډېر دي په جهان کښ څه یواځَي یَو مجنون ندَئ عاشق
که کارگه غندی ئې فهم وِي خوشحاله!
هیڅ استاد به شین طوطا نکړي ناطق

ډېر دَ خیال سپاره ترې لاړل معلق[٧] سپور په شا پریښي نه دَي دې ابلق
په دا طشت کښ هَره ورځ ویني توئیږي ښکارَوَل ئې هر ماښام کاندِي شفق

---

[۱] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[۲] د هغونه.

[۳] یعني په ازلی تړُون.

[٤] یعني جغد.

[٥] دا بدله هم په چاپي نسخو کښ نسته.

[٦] بو علی سینا د اسلام مشهور حکیم او فیلسوف د څلورمي هجري پېړی.

[٧] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

په ازل چه دا نسق دَ ښېلتانه دي   تر ابده به وران نشي دا نسق
و گداي وته به څرنگ پاتو کېږِي   د بادشاه له تنه خېژي دا يلمق[۱]
روغ به هاله دَ دردمن په حال خبر شي   چه په زړه باندي رسا وَخوري شلق
پيدا کېږي، فنا کېږي، نه ښکارېږي   پدا سيند کښ جهازوُنه هم زورق
که د مرگ سبق دِي هېر دَي گورې گوره   خپل ياران به درته ياد کاندي سبق
که هر څو په سود سودا گرم ليده شي   تر ماښامه دَئ دَ دې بازار رونق
عاقبت به واړه سترِي شي خوشحاله
که څوک ژاړي ناړي مرگ گڼي ناحق

درېغه سره تش کړي دا يک زړوُنه دَ فراق[۲]   ټول کړلي په تله دَ چا زيات شوي اشتياق
مرگ به ما قبول کړ نه ښېلتون له خپله ياره   څه کړم چاره نشته حکم دا وُ په ميثاق
وېش چه په ازل وُ دَ هر چا دَ قسمتونو   غم وُ که محنت وُ په نصيب شو دَ عشاق
څوک په عاشقي ولاړ چه څه پاتو هجران وتوت[۳]   اوس به له ما څه غواړي وَگړي خوي اخلاق
هر محنت، آفت، شدت، نکبت په جهان ښه دئ   يَو ښېلتون بلا دَئ تر هر څه په اتفاق
عشق ئې دَ زلفينو لکه زهر دَ ماروُنو[۴]   ښوری په ځگر کښ د واړه لب ئې دي ترياق
تل سبا بيگا باندي دَ آه د ناوکيو   وورې [۵]سپين توبري څه ښادي کا اهل نفاق
تل شهد و شکري که خوشحال خوري گمان مکړه
چه بې هغو لبانُو به خوږ شي دَ ده مذاق

که دَ سرو شونډو سَره غواړې تحقيق[۶]   دَ يمن په ملك به نه وي دا عقيق
خوله ئې هسته دَه که نېسته نه پوهېږم   دا رموز دَئ و هر چا وَته دقيق
په زرگونو راته لاف کړي دَ يارئ   ما يَو يار بکښې وَ نه ليده صديق
په هر لور مي غورزوي په سر لگېږم   زمانې کړم لکه سنگ دَ منجنيق
اول غم دَ يار وَ ما وَته غليم وُ   اوس تر دَه نه بَل څوک نلَرم شفيق
په لُمري قدم دي سر له تنه پرې کا   چه قدم کښېږدې پدا خوني طريق
چه دَ عشق په بحر ډُوب دَئ حال ئې گوره   دَ دنيا په حال خبر نه دَئ غريق
طلبکار ئې دَ وصال په لوي طلب وی   له ازله ئې راوړَي دا توفيق
آزاده عالم بندی دَی که ئی گورې   د زلفينو په خنځير ئې دِی عتيق

---

[۱] محشي ورته ليکي چه يو راز کالي دي.

[۲] دا بدله په چاپي ديوان کښ نسته.

[۳] دا کلمه په نورو ټولو قلمي نسخو کښ دغسي ده مگر په يوه نسخه کښ داسی ده: چه څه پاتو وه هجران يو.

[۴] مارانو.

[۵] دَ اوسپني توبري څه ښادي....

[۶] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

گټه زيان دَ عشق يوازي دَ عاشق دَي
اميد قطع کړه خوشحاله دَ رفيق

يَو څه بحر دَي عميق دَ سيماب غُندي حريق
په شنا ترې واته نشِي څو چه بخت نشی رفيق
په ساحل وَلاړو څه زده چه څه حال لَرِی غريق
حال د ما يو معما دَئ چا مي حال نه کړ تحقيق
که هندو که مسلمان وئ پَت پالي د خپل فريق
چه مي يار دَ طريقت وه په کار نشو هيڅ طريق
يو له بله بهره مومي په اخلاص او په توفيق
چه ئې زه لَرم په زړه کښ عجب فکر دَئ دقيق
سل بلا دَ جهان کل وَئ جدايی نه وَئ تفريق
په نامه به شقيق[1] نشِي که څوک نوم کښېږدِي شقيق
پدا ښهر کښ اکبر دَئ
دَ خوشحال يار شفيق

ک

چه په رُوي به ئې بخښل ښې پاک نا پاک[2] بل سرِی نه دَي صاحب دَي دَ لولاک
تر هلال ئې صدقه شم تر بلال (ص) په اخلاص يَم زه دَ دُوي دَ تلي خاک
دَ بوذر (ص) او دَ سلمان (ص) ئې دروېزګر يم تَل دَ دُوي په محبت دَئ ځما ژواک
ذوالفقار ئې اږدهار وُ دوې ئث ژبې چه دَ دين مخالفان ئې وُ خوراک
په دا هسې مرنتوب ئې آفرين وُ چه په کار ئې محمد (ص) شو فرحناک
که سپاره ئې مرَنې دَ لښکر ډېر دئ لاس ځما دَ دلدل سوار دَ زين فتراک
د خيبر په کوټ ئې هسې زور ښکاره کړ چه له وېخ ئې را و لوړل تاک[3]
محمد (ص) دَ علم ښهر دَی ئې وَرُوُ
تر قنبر ئې شه خوشحاله خټک فداک

---

[1] حضرت شقيق د بلخ يو لوي ستانه دئ.

[2] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[3] چه له وېخ ئی راونړول پاګ.

دال[1] و د محرم دَ صفر[2] اک[3] — دَ ړومبی خوري دروښیم څه یك[4]
دَ دوهمي خور ړونبیه اتلسمه — دَ دریمي خوري یا[5] مه وکړه شك
څلورمي خوري[6] دال چه سَره ید شِي — دَ رجب دي ب[7] ویج د شعبان دک[8]
دَ روژې د میاشتي جك[9] پوره حساب دئ — حې[10] شوال ذي القعده بط[11] ذوالحجه وک[12]
چه په هَرَه میاشت کښ دوې ورَځِی دِي نحسي — هم دغه دَي چه حساب وشو خوبك

بیا وروستیَ چارشنبه دَ هري میاشتي
نحسه ورځ دَه، وایي ښه خوشحال خټك

که زه نه وَی تا به ځَان لَره بلل څوک — په پالنگ به دي دا هسي در ختل څوک
واړه عشق دَئ چه ئې سر راته گیاه کړ — گښه[13] زه په ځَان مین دَ سر ښندل څوک
چه پتنگ ته روښنایي دَ څراغ ښکاره شي — نور له څراغه نه ئې غواړي جار وتل څوک[14]
بدرگه که محبت را سَرَه نه وِي — یك تنها به په خونخواري لاري تلل څوک
دَ دې[15] مښُو پیالې ډېرُو دِي آخستي — ولي ما غُندي به نه وئ لا یعقل څوک
دَ زنخ په څادِي بند دَ شونډُو مست وي — روغ هوښیار به په کوهي کښ پرېوتل څوک
چه پخپله[16] راته ووایي چه وایه — گښه زه دَ میني راز ښکاره وَیل څوک

[1] دال یعني څلورمه او (و) یعني شپږمه ورځ.

[2] په دې بدله کښ پر زاړه نجوم مطابق د ابجد په حساب د هري میاشتي نحسي ورځي بیان سوي دي.

[3] ا یعني لمړی او ک یعني شلمه ورځ.

[4] ی یعنی لسمه اوک یعنی شلمه ورځ.

[5] ی یعنی لسمه یا یعنی یولسمه ورځ.

[6] ی یعمي لسمه او دال یعني څلورمه ورځ چه دواړه حروفونه ید کېږي.

[7] ب یعني دوهمه او یج یعني دیرلسمه ورځ.

[8] دال یعني څلورمه او ک یعني شلمه ورځ.

[9] ج یعني دریمه او ک یعني شلمه ورځ.

[10] ح یعني اتمه او ي یعني لسمه ورځ.

[11] ب یعني دوهمه او ط یعني نهمه ورځ.

[12] و یعني سپږمه او ک یعني شلمه ورځ.

[13] کنه.

[14] نور له څراغه د ده غواړي جار وتل څوک.

[15] د دیو میو.

[16] ته پخپله راته ووایې چه وایه.

ته مې وژنه دَ قصاص اندېښنه مکړه دَ خپل خون په تور به ونسم[۱] يو بل څوک
ښه خو دا چه دَ چا نوم پکښې يادېږي په فاني دنيا به نه وئ ژوندي تل څوک
تا پخپله سپينه خوله و خوشحال ورکړه
گېه دَئ دا هسي شونډي کښلول څوک

مرد هغه چه همت ناک برکت ناک دَ عالمه سَرَه خوږ په زيست و ژواک
مخ ئې مخ، قول ئې قول، عهد ئې عهد نه دروغ، نه ئې فريب، نه تش تپاک
لَږ ويل ډېر ئې کوَل په خاموشي کښ دَ غنچې غُندي خوله ډکه سينه چاک
چه خبره د پسی د بلندئ شي په لوئي لکه اسمان، په پستي خاک
په تمکين کښ لکه سبر په پستي[۲] کښ په هر لور څانگي ږنگوري لکه تاک
لکه گل شگفته روي تازه په باغ کښ همېشه دَ ښو بلبلو پر بلغاک
چه دا هسي ښه ويل کا زه حيران يم
چه خوشحال راوړ له کومه دا ادراک

نه[۳] په خوله گولی خوري دَ ټوپك نه نمرئ دَ ليئمانُو دا ښانك
که دَ تن ويني يو جام وڅښې لانبې دئ نه اوگره دَ بخيلانُو يَو کاشك[٤]
که اوبه دئ دَ بخيل دَ منگی وڅښې ستا دي وَخېژي دانه په چنغږک
نه دَ شوم دَ لاسه سل بېري خوړلی نه[٥] د مرد دلاسه پاڼې دا پالك
دَ نامرد سَرَه مکې ته رسېدلي ښه دا مرد سَرَه په بېد بېد يا ورک
مخ دئ سوَي دَ دوږخ په لمبو ښه دئ نه چه سم کړې وَ ممسك وته ورسك[٦]
دَ منت سره حلوا مه خوره خوشحاله
تر حلوا نه لا بهتر دَي وچ کنډک[۷]

[۱] ونسيم.

[۲] په سخا کښ.

[۳] ښه.

[٤] د قاشق مفغن دئ.

[٥] ښه.

[٦] ورسك: وربوز درلودنکښی او گردنه درلونکي غر يا د کلا برج (سيند).

[۷] دلته کنډک په معني د يوه ټوک ډوډئ دئ.

ل

اقربا راته اقرب شول — رضا من مې په تعب شول
دواړه ترُونه مې نااهلَ — ابو جهل، بو لهب شول
زه ئې بند کړم په مغولوُ — په خانی[۱] او په منصب شول
رشوتونه ئې قبول کړه — په تلاښ کښ زوز و شب شول
دا لوي زوئَ مي لوي مشه — دَ زرو بلا سبب شول
زه ئې هند لَره روان کړم — په نشاط او په طرب شول
خپلخانه می شوه په غُرونو — پرې کارُونه پېښ عجب شول
ناز پروره زوی مې واړه — په فریاد و په شغب شول
چه ئې نمر لیدلَې نه وُ — په ځنگلو تشنه لب شول
درست اولس قبیله واړه — گرفتار په ډېر غضب شول
په آه آه دَ فراقجنو — زړُونه وړی دَ عنب شول
خوشحال نه مونده خټکوُ
که ئې هر څو په طلب شول

بد زحمت شی په بازُونو یو یو کال — نوم ئې څه دئ پارسي سیه پیخال
طعمه اَچَوِي طلب دَ اُوبو ډېر کا — ور پیخال کاندِي دَ لویو په مثال
په نبات دَ غوا په غوړ سَرَه باز صاف کا — یا علاج د سنگتا وکړه دم در حال
دَ سنگتا و ترتیب اوبه دَ دریاب واخله — د صحرا په غوشیو تاوده سفال
پکښی اچوه چه ښې اوبه په جوش کا — بول[۲] ناس، نبات بکښې مثقال مثقال
دا سنگتا وکه دَ اوبو سَرَه باز ښښینه — فائده ئې تجربه دَه دَ خوشحال
که یوه ذره لونگ هم پکښي وینه
په ښیښه کښ ئې ساته په ماه و سال

په درست جهان به نه وئ یو د ما غُندي رسوا بل[۳] — ورځَم توره وکښلې چه مین واروم په تا بَل
یو تیر دي وَویشتمه چه د ما دَ درد دارُو شو — هان اې د ما طبیبه! چه ښه روغ نه یَم یَو بیا بل
که سبر که عر عر که صنوبر ستا تر قامته — څه نوري دَ باغ وني؟ چه په څېر ستا دَ بالا بل
نن ما وته چا ووې چه اشنا غواړې خپل تېغ ته — دَ خداي دَپاره کوم به له ما به وی اشنا ستا بل
ستا زلفو مي زړه یووړ سترگی ستا راته پځو دی — تاراج به دا ترکان کا نه به څیز یوسي په غلا بل
نه ننگ لَرِي نه شرم تا وې هر چه عاشقان دئ — بې ننگ دِي که بیشرمه هیڅ عاشق نشته تر ما بل

---

[۱] په خانیو په منصب شول.

[۲] یعنی د انسان بولي.

[۳] دا بدله په چاپي دیوان کښ نسته.

ملا ئې فتنه گر دئ ور ښئې فتنې جنگونه
تعليم ته ئې خوشحاله زر پيدا شوي يو ملا بل

چه په زلفو ئې پابست شول   دَ ماهِي غُندي په شست شول
دَ خمار وېره ئې نشته   چه دَ شاه دَ سترگو مست شول
چه په لام[1] و بې ئې مينه   دَ سرو ميو مَي پرست شول
دَ هغو ښادي به تل وِئ   چه دَ شاه دَ غم تر دست شول
چه دَ خولې رموز ئې بيا موند   عاشقان له نيسته هست شول
دَ خوشحال خلاصي له کومه
چه ئې تا غُندِي په کست[2] شول

خپل پردِي چه دَ شمشېر شول   کشتني تر شماره تېر شول
توره وَنغاړه خوشحاله   اوس به څو وَژنې چه ډېر شول
که صاحب[3] و که تُر سم وُ   خټك ډېر دَ دُوئ په څېر شول
هسي چارِي کا ستا زوىَ   چه اَتش[4] شاهي بيگ هېر شول
چه نظر وَکړم خپل ځان ته   څو غمُونه را چاپېر شول
دا پېرى ده که طالع دَه   چه گيدړ وه راته شېر شول
هيڅ دم مه وهه خوشحاله!
گه نبات درته گندهېر شول

دَ ښه يار ديدن وَئ تَل   سَرَه ځاي چمن وَئ تَل
تر کنار او تر آغوش مِي   هغه گلبدن وَئ تَل
لکه سيب ځما په خوله کښ   غه[5] شيرين ذقن وَئ تَل
رقيبان وَلاړ له ورايه   له ما هم سخن وَئ تَل
جدايِي نه وَئ له ياره   سَرَه ځان و تن وَئ تَل
مه مانې وَئ مه عتاب وَئ   په رقيب شيون وَئ تَل
دَ خپل يار دَ کوڅې خاوري
دَ خوشحال وطن وَئ تَل

---

[1] لب: لب.

[2] قست.

[3] که ساهب وه که تور سم وه.

[4] د مغولو طرفداران او د مرحوم شاعر مخالفين وه.

[5] غه مخفف د هغه دئ.

راشَه بر چشمم نشین اې شاه خوبان چګل[1]   لمعۀ خورشید را بر چشم باشد جای تل
تا وَیل قند و نبات و شهد یکجا دیدۀ؟   آری آری آن دهان و آن لبان و آن وَیل
سر[2]دهم تا هر چه فرمائی ترا فرمان رواست   از تو حکم ای پادشاه مهو شان از ما منَل
ځَار و قربان تو گردم گر به تیغ خود کشی   نی به تیغ دیگران خونم ترا باشد بحل[3]
نن بمن میگفت در کوی تو میرفتم رقیب   شوخ چشمی بر نه میگردی ازین کوبر شړل
څو په تن گّتم ضعیف و لاغر و خوار و نحیف   نیست اندر فرقت خوبان مرا خوب وخوړل
تا جفا و جور از حد و نهایت بیش کړ   من نیاز و عجز و زاری مینمایم یَو په شل
تل سبا بېګاه آه و ناله و فریاد ماست   بر دل سختت نشد تاثیر زاری و ژَړل

هېچېری مثل تو دکبری نیاید در نظر
زین سبب خوشحال میل دل نمیدارد په بل

مخ دی لاله گل دئ لا بهتر تر لاله گل   سرې شونډِي دِ مل دي لا بهتری دِئ ترمُل
ډار کړمه لازم شم چه پرېشاني کړې خبري   مښك دئ که عنبر دِئ ستا پرېشان پرېشان کاکل
زلفي دي ښکاره کړه خجل شِی کار کښ   څه لَره ښېوه کا لکه ستا زلفی سنبل

نه زه ملك غواړم نه مال   نه دَ دهر نور جنجال
نه په تله دَ جهان غم کړم   نه په راغله ئې خوشحال
دَ اسفل فکرُونه نه کا   په اعلی ختلَي[4] فال
په اسمان باندي ببره کړم   دَ همت په پر و بال
دَ خپل خداي منت را باندِي چه ئې رانه کړ بل خیال
بخارا بخښم هغه یم   په دیدن دَ یوه خال
وَ جهان وَته ئې شا دَه
که خوشحال مُومِي وصال

یو ځَله که ووینمه بیا وچلوی دَیار خپل   نور به تر قیامته شکر وایم دَ دادار خپل
هر چه بار ئې پرېووت په ځَاي پاتو شه له ملونُو   بې وفا یارانو تېارَي وَکړ دَ بار خپل
ښه سَړی پردَي په دلاسا په نېکي خپل کا   کومه ښاغلتیا دَه چه څوک بد کا زړَه دَ یار خپل
درد دَ زړه پنهان ساته که ویني دِ ځَگر شِي   مه وایه دښمن ته که دِئ دم خبِژِي اسرار خپل
زه خو امید وار یَم گندي وِئ چه مرهم کښېږدِي   پسله انتظاره په پرهار دَ امید وار خپل
حکم حکم ستا دَئ که آشتي کوې که جنگ کړې   ما له لاسه واچوه اوس حکم انتظار خپل
زړه که عافیت غواړې نظر په کښلیو مکړه   هر چه کښلي گورِي نور دِئ واچَوِی قرار خپل
گبر که ترسا دَئ که جهود که مسلمان دَئ   دین قبله لرِی، د ما قبله دَئ مخ دَ یار خپل

[1] چو گل.

[2] سرور ماهر چه.

[3] بحل عربي دئ یعني بخښلي.

[4] ئې قیل و قال.

مه وایه و چا ته دَ خاطر له درده دُوکه　　اې ځما لېمه چه څوک به نه مومې غمخوار خپل
یَو ځله دَ زړه په غوړو فهم کړه خوشحال ته
تا وته چه عرض کا گښُې گښُې دَ زړه زار خپل

م

آشفته دي دَ جمال یم　　همېشه دي پدا خیال یم
نورُو مینُو ته مِي شا کړه　　مین ستا په زلفو خال یم
چه مِي اُوښي په گرېوان ځي　　دا په تا پسې بې حال یم
ځاي مِي ته یې په خاطر کښ　　ته ریحان یې زه سفال یم
نور مي هر څه فراموش دي　　آرزو من دي دَ وصال یم
لا د مهر وَیَل پرېږدَه
په ښکنځلُو دي خوشحال یَم

په مردن پروا دار نه یم　　په زندان پروا دار څه[1] یم
یو غصه دوهم ببلتون دَئ　　چه په اور په اوبه زه یم
اشرفخان[2] دي راته کښلي　　څه خو خوش په خط دَ ده یم
پنځه میاشتې یم په بند کښ　　بابا ډېر ډاډه په زړَه یَم
زویه ما خو غم دِ تا کړ　　چه ته ښه یې زه خو ښه یم
چه فلك سَرَه سر باسي　　په همت کښ هغه زه یم
کړه یې نه دِي بې حکمته
زه خوشحال دَ ده په کړه یَم

په زړه تر یار ځاربېږم دَ پتنگ غُندې پېرې کړم　　یَو راز دَي په دا کار کښ که په خوله ورته ښېرې کړم
بو باغ دَئ دَ گلونو نُو چه وَما وَته غوړېږي　　چه یار را سَرَه ناست وِي ورته زه دَ ناز هېرې کړم
عاشق می باتو نشو پرېږده پځي پردې اوسي　　ښائي چه بوالهوس ته دَ عمزې توري تېرې کړم
چه ځاي مِي په گلشن وُ هغه زه وم راشه گوره　　په هر چرته چه درومم په گلخن باندي دېرې کړم
دا زړه دئ که قسمت دَئ که څه نور څه کوډي موډي　　چه زه ئې مبتلا د ستمگري په څېرې کئم
چه ته له ما نه ولاړ شې، که بالښت که نهالی وي　　په درسته شپه چه ژاړم په ژړا دواړه ترې کړم
که پایم په دنیا کښ زه خوشحال په دا زوړ والي
دَ خپلوُ دَ پردیُو به لا حُو میني سپرې کړم

---

[1] نه یم.

[2] د خوشحال خان د زوي نوم دئ، چه تخلص ئې "هجري" او د پښتو یو مقتدر شاعر دئ.

ته دلبره که عذار يې زه وامق يم — ستا په مينه کښ هر ګوره موافق يَم
ته که له ما نه پايې معشوقه ئې — زه به بې له تا په څو پايم عاشق يم
ته تل خانده هوسيږه ځما زړه بې — غم به زه کړم چه همېش دَ غم لايق يم
پتنګ خان په اور کښ وَويشت دا ئې ووې — که مي لاف دَ ميني وَواهه صادق يم
که د غشيو باران را بانِدي وشي — که به سترګې له تا واخلَم منافق يم
چه و تورو خاورُو هسي حسن ورکا — زه حيران پاتو په صنع دَ صادق يم
د نيمګړو طبيبانو دارو اور دَئ
زه خوشحال په طلب ستَړي دَ حاذق يم

تا چه زلفي کړې خم خم — ځکه نه وايې سم سم
تا چه سترګي کړې را پورته — پکښي زه وينم غم غم
څو به ته لکه هوسی يې — تل له ما ګرزې رم رم
دَ خوبیَ کار په تا دئ — نن په دا دور تم تم
که د ډېر نه وِي په زړه کښ
خوشحال ياد لَرَه کم کم

تا خو ياری پرې کړه واړه زه در پسې درومم — څو در پسې درومم هونبره ډېره خواری موومم
هيڅ په ما پوهېږې نوم مي څه دئ ستا په عشق کښ — قيس دَ ليلی وُ، تا ويشتلي ليس نومم
زه څه هغه نه يم چه خوښي غواړې له ما نه — تل د د غمونو لبالب جامونه شومم
هر چه شهسواران دي واړُو وَتېځلي [1]ورِاندی — زه دَ دُوي په منډه دا يم[2] ځم ورپسې درومم[3]
ځار تر تا رسول[4]! تا مي يار ليده په سترګُو — راشه را نيژدې شه چه دِ دواړه کَسِې چومم
يو لوري مِي نشته ميني هسِې سر هوا کړم
باد غُندي خوشحاله په هزار طرفه درومم

څه عجب زيبا صورت دَئ چه زه بېبست دَ ده يم — راشي وګوري عالمه چه پسو تر دست دَ ده يم
دواړه زلفي ئې دَ زړه په قصد سرَه شکست کړِ — زه په ځان و زړه بندِي په هر يوه شکست دَ ده يم
زه حيران يم له دې حاله چه دا چا عالم ته ووې — چه همه عالم خبر شو، چه زه هم نشست دَ ده يم
آوازه شوله په دهر نيك بد واړه خبر شول — چه ځما اشنا يَو بت دئ زه هم بت پرست دَ ده يم
درسته شپه ئې په هر غولي زه وَلاړ نارې وَهمه — چه اې خلقو عيب نشته که مستي کړم مست دَ ده يم
که دا خپل صورت دي نيست په عشق کښ نن کړې اې خوشحاله!
بيا دَ ځان دَ هستی[5]لاف کړه، وايه زه هم هست دَ ده يم

---

[1] يعني تاخت ئې وکي.

[2] يعني لار او شهراه.

[3] لغومم.

[4] ځار تر تا رسول شم.

[5] دا هسي.

چه دا هسي دِ له جوره مشوش یم | له آزاده مي حذر کوه درد کش یم
که قوت دِ دَ هاتي په زړه مزري يې | زور قوت را باندي مه کوه آتس یم
دَ جنون بخره مي اوس نده هاله وه | چه مین په هغه یار پربوش یم
څوک به ما غُندِي يَو هېښ په زړه ساده وي | چه وفا غواړم له کنبليو په دا اش یم
راته څه وايې، چه ته په چا مین يې | په ایمان به درته وايم پنج[1] و شش یم
که مريي مي زر خرید گرزي بې شماره | و خپل یار ته زر پېرو دئ دَ حبس یم
طعام خورم مزه مي نه درومي تر کومي | همېشه د شیرېنی مزه چش یم
غم د اور له تا وه زر لَري چه قلپ وي | ځما څه اندوه له اوره چه بې غش یم

د دې دور حريفان که شوده پی دِئ
زه خوشحال دَ شودو پیو په سررش[2] یم

ځما خوب له اندېښنو نه شي بیدار شم | و عالم وته په دا تهجد گذار شم
غرُونه غرُونه گناهُونه را په یاد شِي | وَ خپل خداي وته گويا په استغفار شم
استغفار په خوله په زړه دَ شر فکرُونه | بیا له خپله استغفاره شرمسار شم
دَ دې دور دَ شیخانو حال مي وکوت | چه ساعت ور سَرَه کښېنم ترې وېزار شم
ما دا هسي شیخي دوي[3] وته بخښلې | په محشر دِ دَ رندانُو سَرَه شمار شم
چه حلال کسب ئې نه وئ شکرانې خوري | خدایه بځن په شېخي دَ شیخ مکار[4] شم
دانا تار چه په جلي ذکر شیخان کا | کله زه په تاخت راضي په دانا تار شم

چه څرگنده سر بازي کاندِي دَ تورُو
زه خوشحال ختِك تر هسي هنر جار شم

چه دَ عشق په ملك ندیم یم | دَ اندوه په ملك مقیم یم
نه بهښت وَته هوس کړم | نه په وېره دَ حجیم یم
بند دَ یار په اختیار یم | آزاده له هر نعیم یم
سینه زه لَرم روښانه | تا ته تور سیه گلیم یم
هغه قول چه حما کړَي | په هغه قول مستقیم یم
خلیفه[5] اصل ځما دئ | لوي نسبت یم که یتیم یم
که نور اوس دَ میني لاف کا | زه عاشق په یار قدیم یم
په غه اور چه عشق ئې نوم دی | گه براهیم کله کلیم یم
دَ یوه نفس دَ پاره | په امید، وهم، په بیم یَم

---

[1] محشي ورته ليکي، چه د ابجد په حساب ۵۰، و) پنځه او شپږ راځي، چه (هو) ځني جوړېږي، يعني په هومین یم.

[2] محشي ورته (پېروي) معني ليکلې ده، په يوه نسخه کښ (د مخ رش یم) هم راغلي دَئ.

[3] ديو ته.

[4] په ځنو نسخو کښ د مکار پر ځاي رحمکار راغلي دئ، په دغه مسری کښ د (بخن) معنی حل طلبه ده.

[5] تلمیح دي په دې آيت شريف اِنی جاعل فی الارضِ خلیفه.

زه خوشحال په خرابات[۱] کښ
گرم په امانت عظیم یم

چه ستا له زیبا مخه چېري گل وته نظر کړم — پخپلو سترگو خیر شم چه که ښخ[۲] پکښي خنجر کړم
چه ستا له زیبا مخه ځوک بل مخ راته وستایي — یو هسي قهر راشي چه که غوخ ئې دغه[۳] سر کړم
که هر ځو دَ بهار گلُونه ښه دي په چمن کښ — یو گل به په ښایست کښ ستا له مخه برابر کړم
دا مه[٤] وایه و ما ته چه ته ولي وَر په ورشوې — خپل مخ وته وو‌ایه چه ئې ولي ور په ور کړم
خاطر مي څه خو خلاص وُ فراغت وم له غمونو — چه مخ دِ را ښکاره کړ زه دِ بیا په نارو سر کړم
که واړه خزانې دَ شاه جهان بادشاه ځما شي — همه واړه به زه په یوه خال دَ خوبا ورکړم

رشتیا خبره ښه دَه راته غوږ باسه خوشحاله
که تېر تر سر و مال شوې ځما ځانه خوله به درکړم

څه زه څه مي مجال دَئ چه به وَوایم ستا یار یم — دا هونبره عزت لږ دَئ چه گداي دِ دا دربار یم
چه ما زهد، تقوی، طاعت، بندگی لَره ځوک بولي — زه کله ستا له عشقه وَ بل کار وته وزکار یم
په لویه ورځ به ستا په گریوان ښخي کړم منگلي — څه ته څه دِ وېَل دئ، ستا د خون څه پروا دار یم
په ما باندی ته تل د واړُو سترگو عزیز یې — که ستا تر فهم هر ځو تر دا تورُو خاورو خوار یم
سودا دَ یار دا وصل که په سر شي پایمال شي — دَ سر و مال به هیڅ صرفه وَ نکړم خریدار یم
چه وَمرم عزیزانُو تور کفن را لَره بویه — پدا سبب چه زه دَ تورُو سترگو سوگوار یم
هزار ځله په کال کښ یَوَه میاشت دَ گلُو وخت وي — دَ یار په صحبت زه محبوبَ تل تازه بهار یم

څه جك وهې ناصحه چه و ما ته نصیحت کړې
در درومه خپل روزگار کړه زه خوشحال پخپل روزگار یم

چه نظر د په ټیك[٥] د تور وربل کړم — دَ جهان بادشاه دَ ځان مخي ته بل کړم
لا د ما طالع بهتره تر هر چا دي — چه دا هسي کښلیو سترگو ته کتل کړم
دَ سرو شونډُو په شرابُ چه بېخود شم — د مستی رقیبانوُ ته ښکنځل کړم
اجابت به ئې لا کله تاثیر کاندي — چه دعا دئ دَ وصال په سحر تل کړم
چه مي زړه ورپسې سه[٦] هونبره سرېږي — چه په مخ ئې پرهاررُونه په چیچل کړم
د ښه مخ مینه می نه درومي له دله — که تَل غوږ دَ ناصحانوُ په ویل کړم
په صورت می پرهارُونه دي خوږېږي — په وار وار دَ هر پرهار دارُو به تل کړم

---

[۱] په خیر آباد کښ.

[۲] سیخ.

[۳] که غوخ د هغه سر.

[٤] و مه وایه.

[٥] یو پسوال دئ چه ښځی ئې پر تېکو ځروي.

[٦] سو.

دا داغُونه چه می سرِ په زړه بنځُوس دئ　　ترِ بل کال به ئې دَ عشق لا لاسه سل کړم
چا په زور را لَرَه غم نه دَئ راوړي　　وَ خپل زړه ته ئې پخپله راوستل کړم
ازلي مي دَ غم بخره ده راوړې　　غم که نورُو لَرَه درومي زه ئې خپل کړم
یو نېیبخت ساعت به وِي چه راته غوږ کا　　چه په وَرئې په یاد فریاد ژَړَل کړم
چه لا ښهر دَ دهلی شته خوشحاله
څه فائده که وران په اَه سَرَه کابل کړم

چه په خوب شم ستا له خیاله سَرَه خواب کړم　　چه بیدار شم دَ مخ سود دِ په اَفتاب کړم
چه مي ستا دَ خولو بوي تر سپږمو تېر شو　　نور به څه مینه په مښك او په گلاب کړم
بې نصیبه لیدل نه میسر کېږي　　په لیدو پسې که هر څو اضطراب کړم
ښه لیدَل ئې په مثال اَب حیات دئ　　دا تشنه خاطر به کله پرې سیراب کړم
په ښکنځا مي کله کله سر افراز کړه　　هغه دم چه دَ سوال هیله په خواب کړم
ما ته څه وایې چه چا هسي خراب کړې　　چه دَ حال پوښتنه نه کړې تا خراب کړم
ما ته مه وایه چه ولي پېچ و تاب سوې　　ستا دې تورُو زلفُو هسي پېچ و تاب کړم
چه له مخه دِ پَلَو واخیست لمبه شوې
بېچاره خوشحال دِ درست سَرَه کباب کړم

څو ژوندَی ئې دَ زرق مه کوَه هیڅ غم　　خپل قسمت به در رسېږی بېش و کم
قابل غم د ننگ و نام کا په دنیا کښ　　نه په غم وِي دَ دینار او دَ درم
قارون لاړ تحت الثری لَرَه لا درومي　　موسی (ص) پاس په علیین کښېښ قدم
پسله مرگه ښخ دَ مرد تر قدم ښه یم　　گور مي مه شه دا نامرد له گوره سَم
دَ خوشحال قدر که اوس په هیچا نشته
پسله مرگه به ئې یاد کا ډېر عالم

چه په ما باندِي مین باندِي مین یم　　چه ځما په غم غمجن زه ئې غمجن یم
ما وې یَو زمان که ښې شم زه به ومرم　　چه جدا پایم له یاره دروغجن یم
که دَ پېښو خاوری[1] ئې نه یم باري شکر　　چه دَ گرد په دود ئې نښتي په لمن یم
په نور څه مي دَ خاطر دلاسا نشي　　په جهان کښ اَرزومن دَ ښه دیدن یم
خوبه راشه! ما اوده کړه چه پخشو[2] شم　　په فراق کښ په ژړا ژړا کړمن یم
که رقیب په دا خبر شي ترو به څه کا　　چه له یاره سَرَه زه لاس و گردن یم
یماني چهره مي ولاړه حبشي شوه　　دَ فراق په اور ئې سوَي لوغړن یم
زه دَ دوو په ځاي درې گواه لَرم په عشق کښ　　رنگ مي زیر، سترگي لندې، زبون په تن یم
ته محبوبه له شیرینه د دې وخت یې!
زه خوشحال دَ اوسنِي دور کوهکن یم

[1] خیري.

[2] د دې کلمې معنی نسوه را ښکاره عیناً ولیکه سوه، په یَوَه نسخه کښ بخشو راغلي دئ.

څوک خو به کښېده واړه به نه وه سَرَه سمْ[1] ته د کښلیو سر یې، نور تر تا دِي واړه کم
یو کلي یا دوه چه ئې ستاینه کا دا ډېر دئ چون کښلي هغه دَئ، چه ئې ستایي درست عالم
وخوځه په باغ کښ رنګارنګ ګلونه ګوره ګل دئ دَ ګلابُو داَ ګلونو مقدم
څه لَرَه اې میاشتي ته خپل مخ ستایې و ما ته دَ یار په مخ مي نورځِي ستا په مخ درومي تورتم
مخ ئی لکه اور دئ، پرې پرې دِي توري زلفي څه رنګه بازي کا په سره اور کښ تور ارق
څوک چه ډېر ډېر ګوري یار، دَ زړه مینه لږېږي څو ئې ډېر ډېر ګورم، پرې مین شم دم تر دم
تا وَیل خوشحاله که مي غم لرې په زړه کښ
خوښ اوسه خَوښي کړه تل تر تله ستا څه غم

چه بازئِ په جهان کړم هغه زه یم هم ئې پوسم[2] هم ترې یوسم اړې پر نه یم
و اغیار ته لکه کاڼي موم و یار ته په سختي او په نرمي کښ هغه زه یم
و بلا ته دَ اختیار توره په لاس کښ و قضا وته تسلیم په شان دَ مړه یم
لکه بوټي دَ کیمیا په مرغزار کښ چه په حال مي خبر دار شِي دَ هغه یم
تندر هم ځما له ذاته نه پیدا دئ په سپین زړه که دَ باران سپېڼي اوبه یم
په هر نام چه دِ رضا هغه مِي بوله آدم زاد، فرښته، پري، بوده، لېوه یم
دَ کونینُو ننداره دَ زړه په عین دَ وېښ والي په دود کړم تا ته اوده یم
دَ هر چا بازار ځما په سودا تود دَئ خبر دار په سود دَ بحر هم دَ غره یم
هم دَ اُوښ غُندي هلك سَرَه په لار ځم چه په بده لار مي بیايې هلته نه یم
هم مي څیز هم مي نا څیز کا په زمان کښ
زه خوشحال په حال خبر نه یم چه څه یم

څو به ستا دَ دیو غمونو زغمل تل کړم دَ یارانُو کمي نشته یار به بل کړم
په قراره قراري دِ یاري پرې کړه دَ نېمګړي نیت و چا وَته ویل کړم
چه وعده دئ دَ وصال چېري خطا شِي په ژړلو خاوري ختِي دَ بورجل کړم
هر طبیب لَره چه وریشم ناقص وي چه له حاله ئې خبر شم ځَني تلَل کړم
نور به هسي یك تنها له خلقو اوسم دَ هر چا سَرَه چه کښېنم غم حاصل کړم
بلا پېري زړه لرم دا ئې عادت دَئ غم وَ بل لوري ته درومي زه ئې خپل کړم
چه منګي مي تشول دَ میُو زه وم اوس نور ډکي پیالې اَخلي زه کتل کړم
منکري دَ عاشقیَ سَرَه مله دَه په انکار که دروغجن یم دروغ سل کړم
خالي لاس ورځني ځَم هیله مي نه وه چه ډک زړه به ئې له ډکه باغه تلَل کړم
پدا هونبره هوښیاریَ هسي هېښ یم څوک چه زهر راته نوش کا، هم مَنَل کړم
غر ګناه راته دَ خس غُندي ښکارېږي چه په مهر کرم رایشم بخښل کړم
هر غزل مي په بیاض باندِي وګوره
زه خوشحال ختِك دَ زړه په وینُو کښل کړم

---

[1] دا بدله په چاپي دیوان کښ نده راغلې.

[2] پوسل: تربیت او روزنه او پالنه.

چه مین دی د زلفینو په سلسل یم   خود پخود وَ لېونتوب وَته مائل یم
وایيِ ته به دَ مجنون غُندِی مین وېِ   که وَ چا رُوته می گورېِ ترېِ فاضل یم
ما به څه پوښتنيِ چه څه لَرَه زړه تنگ يېِ   ستا دَ تنگی خولېِ په فکر کښی تنگدل یم
دَ گلونو په لیده دی مخ را یاد شي   ځکه هسی په گلگشت دَ چمن تلل یم
په ځېر ځېر راته کاته کړېِ ځَېروېِ مي   چه دِ زړه هسی جفا کړه اوس دی خپل یم
لکه څوک چی پخپل دین کښي مستحکم وئ   هسي زه دَ یار په مینه مستقل یم
چه جدا له خپله یاره ژوندة پایم   زه په دا ژونَون له یاره تل خجل یم
دَ نفر غُندِي مي عذر چاره نشته   هر چه ما وآته څه وایېِ په منَل یم
لکه څوک چه خواړه شهد وَخورِي خوښ شي   هسِي خوښ دَ شکر لبُو په ښکنځَل یم

زه[1] خوشحال په گلرېزي کښي بهار راغي
په زیبا وَیَل هر گل ته مقابل یم

حیران یم نه پوهېږم چه زه څه یم څه به شم   له کومه یم راغلي بیا به کوم لُورِي ته ځَم
خبر دَ هغو تللیو بیا په بیارته چا رانه وړ   له حاله له احواله ئېِ که هر څو څوک پوښتم
دلېِ چه څوک لیده شِي نن[2] ئېِ ّپه پدا باندہ[3] کښ   آخر ئېِ له دېِ ځَایه وار په وار واته گیڼم
جهان یَو کتېوري شُوه زه په مثل دَ مېږي یم   حیران پکښ جار وَزم لاس وپښېِ پکښي وهم
په هیج[4] کله زړه ښه کړي کله زړه په هیڅ بیا بد کړي   په کام که په ناکام دي واړه باد د دېِ پیما یم
دنیا وَته چه گورم کار و بار ته دَ وگړي   دَ اوړکیو تماشېِ دئ زه ئېِ هم ور سَرَه کړم
چه ته پرېِ مبتلا يېِ که دِ مال دَئ که دِ ملك دئ   دا واړه بېِ له خوبه بېِ له خیاله نه وینم

چه تور وېښته دِسپین شول خوي دِ نور نشو خوشحاله
باور کړه اوس ناحق دَ سرِی نوم در باندِي ږدم

دا صفا په لارِي نه یښي قدم[5]   همیشه له دروېِشي وهي دم
هغه کله شیخ، ملا، ولي، درویش دئ   چه نظر په سود زیان په مدح و ذم
درویشان په تفاوت ندي راغلي   خپل پرَدي په سترگوُ واړه گوري سم
دَ درویش تر زړه به نه رسي دا دواړه   آئینه د سکندر که جام دَ جم
و درویش علم په درس په مکتب ندئ   تل نظر لَرِي په لوح او په قلم
که څلورر دِئ که پنځه که شبږ اوه دِئ   دَ درویش نشته دا هېڅ اتم انم
ما و تا وته دیوار شته غاړي غرونه   په درویش تر شرقه غربه دئ یوسم

---

[1] د خوشحال.

[2] نن میشه په دا .

[3] له کلي جلا یوه کوچنی بنا بانده بولي.

[4] که زړه په هیڅ ښه کړي که نه زړه په هیڅ بد کړي.

[5] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

نه په نون دئ نه په میم دَئ نه په جیم دئ[1] کامل پاس په لام وهلَی دَئ علم
چه ذره طلب دَ نمر کاندي خوشحاله
په همت مه شه ته هم تر ذرې کم

دا نه وایم وَ چا ته، چه پارسا یم فاسق نه یم دَ خداي منت را باندِي چه هر څه یم منافق نه یم
یا ما زده ستا په حسن، یا ځما په مینه تا زده که هر څو کښلي دېر شی نور په هیچا عاشق نه یم
د مخ مثال دي بل کړ دَ پتنګ غُنډِي پرې راغلم بیا ته به راته وایې، چه په عشق کښ صادق نه یم
که ته لکه لیلی یې ما مجنون بوله په عشق کښ که ته لکه عذرا یې زه هم کم تر وامق نه یَم
یا مست یا لېونَی یم یا مي نه زده کار د میني ښکاره ښکاره وَیل کړم دَ رازُنو سارق نه یم
دَ هر ښهر په کوي کښ ناقصان طبیبان دېر دئ که هر څو پسی ګرزم زه لا پېښ په حاذق یم
څو ذکر څو مذکور کړې تل ځما دَ ګمراهیَ انصاف ښه دَي زاهده زه مخلوق یم خالق نه یم
دروغ وعده هم ښه دَه دَ سړي دَ زړه امید شي یو تش مهر خو وکړه که دَ یک دِ لایق نه یم
که وایې هغه وایه چه دَ عشق دَ محبت دِئ
که نور څه راته وایې زه خوشحاله شایق نه یم

دَ خپل یار میني په زړه هسي بیمار کړم چه په درد کښ ئې هر ګوره ناقرار کړم
چه ناقص مِی دارُو کا پرې نه رغېږم دَ حاذق طبیب طلب په کوم دیار کړم
توري سترګي، توري ورځې، توري زلفي دا همه توري بلا وی[2] زه ئې خوار کړم
که یَو تَش نظر دَ مهر راته وکا دَ دنیا واړه منصب، مال به ترې جار کړم
زه خو هسي نادیده نه یم اې خلقه! چه به بِه تر مخ ګلُونه دَ بهار کړم
دَ بهار ګلوُنه اور شِی زه پرې سوځم چه بې کښلیه مخه سیل دَ ګلذار کړم
بې له ځانه په بل چا مي پېرځو نشِي چه کاته د مهو شانُو په دیدار کړم
چه دېر دېر پرې کښلي مخ ته کتَي نشم دواړه سترګي ئې مزري دِئ ځني ډار کړم
ما خوشحال په ځان پخپله چارِي وکړې:
چه په ملك کښ یو ناترس وي زه ئې یار کړم

دَ تقوی د پارسایَی دعا تل کړم چه د عامي اثر نکا څه ویل کړم
زړه مي خداي مین کوي په ښایسته وو هسي نه چه زه پخپله زړه مایل کړم
چه عالم مي اړوي دَ عشق له کاره زه اقرار ورته په خوله انکار په دل کړم
مګر زه فسق او فجور لرَه پیدا یم چه بیا بیا ئې ماتوم که توبې سل کړم
واعظ حوري ښه کوي تر دا دلبرُو که هوهو ورته لَرَم کله منل کړم
زه پدا سبب لیمه غواړم له خدایه چه دلبرو ته دَ سترګو غَروَل کړم
چه دَ عشق غموُنه نور ګا لَرَه دروم‌ي زه ئې مخي لَرَه ورشم واړه خپل کړم
عاشقان به دَ جهان په ما پېغور کا زه که اوس په عاشقَی کښ خوي بل کړم

---

[1] په دې بیت کښ نون اشاره ده ناسوت ته او میم ملکوت او جیم جبروت، وا لام عالم لاهوت ته، چه دا د تصوف په اصطلاح خاص عالمونه دئ.

[2] بلا دئ.

و هر چا وته ئې راز وايم دَ مېني
د هر چا سَرَه چه يار شم يار خجل کړم

زه لمړی په آشنايَۍ بازېدلم   واړه غم وُ چه پرېِ ښه وَ پوهېدلم
د زړه زور دَ صورت توان را ځخه لاړ شه   چه درانه دَ بېلتانه پېټی آخلم
آشنايي ياري په مهر په رضا شِي   پدا کار کښ په چا نشي زور و ظلم
سر اول دَ يار دَ ياد په بالين کښېږدم   له غه پسه په پالنگ باندِی ځملم
چه دَ سر په ځَاي سينه راته بډه[1] کا   هم هغه به دَ ښو په غشيو ولم
ښايسته لکه گلوُنه زه طوطی يم   چه و هر لوري ته ځَم په گلو ملم
که سيالي له مَړَه[2] شِي نه ئې له بخته   شاه پخپله بې ريباره و بللم
هوسۍ چا په دَو نيولِي دِئ خوشحاله
بيهوده په غزاله وُو پسې زغلم

زه چه هسي په تعجيل او په شتاب ځَم   خرابات لَرَه په هيله دَ شراب ځَم
د ساقي له لاسه مي چه تناول کړم   بيا په بيارته به بيخود دَ مست خراب ځَم
دَ ساقي دَ مخ جذبه مي مخ ته بولي   چه دا هسي ميکدې ته په ترتاب[3] ځَم
درد د درد مي ئې له خمه دئ نوشلي   اوس په هيله په اميد دَ مي ناب ځَم
چه مي نشِي بله يو سر بل سر سترگي   له جهانه مخ پوښلَي په نقاب ځَم
له دوو سترگو مي روان دَ اوښيو سيند شو   د دې سيند دَ پاسه زه لکه حباب ځَم
خوب و خور مي له خاطره فراموش دي   دَ جمال په خيال ئې سرسته شپه په خواب ځَم
دَ محبوبي دَ جمال شغلې آتش دئ
زه خوشحال ئې له لېدَلُو زړه کباب ځَم

زه چه تل هونبره ناسازي دَ عالم وړم   دَ خپل يار دَپاره دا جور و ستم وړم
دَ لاله غُندِي داغدار په جهان راغلم   هم دا داغ به له جهانه د صنم وړم
په وصال ئې دَ جهان خوښِۍ راشي   چه له کښليو جدا کېږم ځَني غم وړم
په عالم دَ مجنون بِږغ دَئ مرد مي بوله   په محشر که ځَني وړاندي خپل علم وړم
هر قدم په ځَگر خون بِدم توئي مشه   دَ شرابُو پيالې ډکي په تور تم وړم
چه نرگس ته نظر نکاندي له کبره   و هغو ته ځه گلوُنه دَ شرشم وړم
کار کنان دا کار فرماي په حکم کار کا   زړه چه حکم فرمايي هوري قلم وړم
هونبره ډېري خرخښې فتنې جنگونه   بيا به وايې چه زه ستا غنجونه کم وړم
په هر دم دا هغه يار منت را باندي   چه ئې هسي ډير خيالُونه په هر دم وړم
مخ به چېری راته سم کړي په يارۍَ   که دا خوي به همېشه له عمره سم وړم

[1] محشي نښانه ورته کښلې ده.

[2] له نره شي.

[3] يعني غم، افسوس، ساندي، نارې.

چه په کوي کښ دِ مقیم شم دروغجن یم	که به نوم په ژبه چېرِي د ارم ورِم
راته وايې نن زرِه څه رنگ ورِې له ما نه
که دِ خورِين کرِ هم ئې خوښ خوشحال خرم ورِم

زه چه خپل قدم دَ عشق په خوني راه بِردم	هر زمان له تنه سر لکه گیاه[1] بِردم
دَ جمال خوبي دي زياته تر آفتاب ده	دَ نظر دَپاره نوم درباندي ماه بِردم
درسته شپه چه ستا له غمه سره تاو شم	هر سحر په افلاکونو باندي آه بِردم
که ته تيغ دَ جفا وَكارِې و ما ته	ستا وَ تیغ وَته به سر لکه گیاه بِردم
که مي چېرِي لاس و واک در وَرَسېرِي	په سپين مخ به دي دَ غاښ نخښي سیاه بِردم
بېچاره خوشحال چه ستا دَ ور گداي شو
ځکه زه ورباندِي نوم دَ بادشاه بِردم

ښه به هغه وخت وي چه به يار لَرَه ور درومم	وايم چه زه باغ و بهار لَرَه ور درومم
زلفي ئې ښکاره کرِي مښك غنبر ئې په ما توي كرِه	اوس به له دي پسه څه عطار لَرَه ور درومم
خداي په کور کښ راکرِه، هغه توری سترگی تُرکه	اوس به ئې په مرسته څه فرخار لَرَه ور درومم
زار دَ خورِوُ زرِوُنو، خوښ خرم زرِونه آزار کا	غم اندوه مي دا دئ چه خپل زار لَرَه ور درومم
هر چرته چه خار وِي، هغه ځاي مومي گلوُنه	ځکه پدا هيله هر هر خار لَرَه ور درومم
كوم سحر ئې وكرِ په ما خوار باندی حيران يمه	مرگ و ته مي ناست هغه خونخوار لَرَه ور درومم
هم ئې په ما وكرِل څو څو رنگه ستموُنه	بيا له ناځارىَ ستمگار لَرَه ور درومم
يار مي په ښايست کښ لکه گل دَ نو بهار دئ	سود ئې دَ جمال کرِم چه گلزار لَرَه ور درومم
ښه خوارِه ياران چه ما خوشحال ليدل په سترگوُ
اوس ئې په ژرِا ژرِا مزار لَرَه ور دورمم

که مين زه په گلزار يمه په حُاي يم	که دَ مخ ئې په نندار يمه په حُاي يم
چه جدا ورځنی پاتو یم عالمه!	په ژرِا که په چيغار يمه په ځاي يم
يار مي ولاړ شو پدا لار ورپسې درومم	که دېر سترِى پدا لار يمه په ځاي يم
بې له عشقه بله چار نشته بهتره	که دايم دَ عشق په چار يمه په ځاي يم
په جنت کښ هم دَ حوروُ صفت کېږي	که طالب دَ ښه نگار يمه په ځاي يم
له خورِوُ شونډو وې سرې شکري اوري	که طوطي دَ شکر بار يمه په ځاي يم
زه خوشحال په لېونتوب کښ خوشحالي کرِم
لېوني دَ پري وار يمه په ځاي يم

که مي هر څو ته بادشاه يې زه گدا یم	مخ له ما نه مه جار باسه مبتلا یم
زه چه ستا له غلامىَ داغ لَرَمه	هيڅوک ځان سَرَه سَم نه کنم بادشاه يم
دَ خاطر ور مي ترَلي دَئ په غنو[2]	له عالمه سَرَه ناست په فکر ستا یم

---

[1] لکه کلاه.

[2] د اغزونو ونو ښاخونه، چه کرونکي ئې پر کښت د ساتني د پاره را کرزوي، يا ئې د باغ په ورکښ د ترلو دپاره بِردي.

که دی څوک په درد دردمن دی زه دردمن یم — که دئ څوک د تلي خاوري زه خاکپا یم
کله ستا دَ راز خبري په کاغذ کښم — کله ستا له مخه حال قلم ته وایم
دَ ښه مخ دَ عاشقانوُ دي شمار نشته — ولي زه په همه وارُو کښ یکتا یم
خادمانُو له شمارې مي محروم مکړه — که دَ نورُو انعامونو دي تر شا یم
که په ما مهر کرم کوې ته ښایي — که پما جور و ستم کوې سزا یم
تا خوشحال وته ویل چه څه پکار یې
که په کار که نا په گار یم خو هم ستا یم

که همېش دَ ملامت کاڼي په سر خورم — غم مي نشته چه په تور ئې دَ دلبر خورم
که دَ سپیوُ دَ کَودِي اوُبه ئې مومم — زه به وایم چه په تن آب کوثر خورم
لکه باد په نرگس ولگي تازه شِي — دَ رقیب څپېړه هسي په بصر خورم
زه به لا ورته تلوار کړم لکه تَړي — که تل ستا له لاسه توره یا خنجر خورم
چه په ښاخ ئې ډَول ډَول مېوې زانگي — لا به کله دَ وصال دَ وني بر خوعم
تا ویل خوشحاله چپ شه خوله مي واخله
زه طوطي یم چیغار وکړم بیا شکر خورم

که گناه نه کړَي آدم — ترو په چا به شو کرم
سکه کرم لَره بایده دئ — چه پیدا شوَي نور عالم
په یَوَه توبه گناه ځَي — دَ سرِي له عمره سم
گرد غبار چه په گل پرېوزي — شست و شو ئې کا شبنم
دَ مؤمن گناه په غاړه — دَ شیطان وِئ ښېش و کم
شاهزاده چه بدي وکا — دَ ندیم سر شي قلم
دَ ده بد په نور وېشل شي — یار تر یاره ندي گرم
په لا تقنطوا خوشحاله
تل خوشحال اوسه خرم

گرم خو نه یم که ارمان کوم لا ژاړم[١] — دَ باغ گل مي غوړېده زه ځَني لاړم
بل بادشاه نشته اورنگ مي عدل نکا — که سبا ښېگا ئې تل په دربار ناړم
دَ طلب غړي مِي لاندِي شول تر غرونُو — هغه ښېل یاران په کومو غړیو غواړم
دَ هواد یاران مي هر زمان یادېږی — چه ئې مخ په خوب کښ ووینم وَویاړم
چه قاصد دَ یار دَ خولې کتابت راوړي — څو ئې لوند په اُوښیو نکړم نه ئې نغاړم
زه خوشحال پخپل قسمت پوري حیران یم
چه په چرته گرزېدم، په چرته ولاړم

گرم خو نه یم که له درد سَرَه ښورم — نور به ډکي پیالې اخلِي زه به گورم
لاله زار به شگفته په هغه ملک شي — چه باران دَ دوارُو سترگوُ باندي وورم

[١] دا بدله په چاني نسخه کښ نسته.

وايي زړه له ما نه وَژغوره که ښه کړې کشکي ستا له لاسه خلاص شي زه ئې ژغورم
ځان به درکړم، مچه راکړه ښه سودا ده که ئې ته په بهار پېرې زه ئې پلورم
په دا راز به هر بې نياز کله خبرېږي
چه خوشحال راته دعا کا زه ئې زورم

که غموُنه د دې خپل خاطر کباب کښم[۱] بويه دا چه دفتر وُ نه يا کتاب کښم
په بيان په قصيده به تمام نَشِي که نا سازي دا سپهرو دا شهاب کښم
دَ فراق غموُنه لور په لور انبار دئ په کاغذ باندِي دَ کوم يوه حساب کښم
په ډېر غم کښ هيڅ خبر نه يم له حاله چه زه دا ويَل په ويښه که په خواب کښم
که جفا دَ زمانې وه که دَ خلق زه به دا واړه په حکم دَ وهاب کښم
په فلك باندِي دَ هيچا حکم نشته چه ئې ظلم، ستموُنه، انقلاب کښم
دَ اَګرې په کوټ کښ بند شاه جهان دئ دَ دارا به هغه کوم فاني جناب کښم
نه به زړه ځما سرېږي نه به لاس کړم ورځ و شپه که سلامُونه په احباب کښم
خراب شوي دَ فلك له لاسه ډېر دئ اوس به حال دَ هغه کوم يَوَه خراب کښم
که دَ خوږ خاطر له حاله چا ته کښل کړم يا اَهونه يا ژړا يا به عذاب کښم
يَو مکتوب دَ خپل اشنا را لَرَه راغي اوښي بغرګي تويَوَم چه ئې ځواب کښم
حاسدان مي په حساب لکه ګِلاب دئ حيف ندي چه به جور دَ کِلاب کښم
ما خوشحال په خوب دا حال نه وُ ليدلَی
چه به دا دَ غم بيتونه په پنجاب کښم

له هنره چه څوک وو وايي لَرَم چه مي بخت نه کا يارِي څه وَوايم
په جهان کښ دَ وفا هنر کيميا دئ زه ئې څه لَرَه له چا هيله کوَم
دَ وفا مېوه دَ هر چا په باغ نشته[۲] بېهوده ئې هَرَه وَنه لَټَوم
غه باران چه په درياب باندي ورېږي په باران به ئې زه څه حسابوم
نا داني مِي غلبه په هوښيارِي شوه مرغلَرئ په درياب کښ تويَوَم
له قسمته به نه لږ نه به څه زيات شي غه روزي چه ځما نده نه ئې خورم
چه ځما له رزقه زيات ځما څخه وئ امانت غُندِي ئې بل لَرَه ساتم
کوم مکان دَ زمانې له مکره خلاص دئ چه هغه لوري ته تېښت ورځني کړم
که په تښتي خلاصېدي[۳] ځني به خلاص شوم دَ قضا له لاسه کُوم لوري ته ځم
زمانه مي دَ فتنو په کاڼيو ولي زه ابله دَ ښيښې سپر په مخ کښېږدم[٤]
چه په راغله ئې ښادی را سَرَه نه وه په هجران به ئې څه زړه[۵] زهيرَوم

---

[۱] دا بدله په چاني نسخه کښ نسته.

[۲] د وفا مېوه د دهر ه باغ نشته.

[۳] خلاصي وئ.

[٤] په مخ کښ ږدم يا په مخ کښ ورم.

[۵] زړه څه.

چا ویَل چه صبر نخښه دَ بري دَئ
زه خوشحال په صبر ځکه زړه تړَم

لا به کله خپل مقام وَ دلبر ورکړم[١] — چه ګټَلَي مال همه ورته وَلورَ کړم
یو ویَې دَ دلاسا راته پرې نږدي — ځان که هر څو خپل مین ته مرور کړم
هیچا نه وکړه ځما دَ زړه ساتنه — هر سرَی مِي زړه دردمن کا چه زړه ورکړم
په درست کلي کښ یَو هسي دلبر نشته — چه خپل زړه دَ ده په وصل بهره ورکړم
خبر دار به شي عالم ځما له درده — که دَ آه په اور دېوزي پېښور کړم
ستا دَ خولې خبري نوري دَ زړه نوري
زه خوشحال خټك پوهېږم پرې باور کړم

ما شراب خوړلي نه په حد واهه شم — که ئې وَخورم خبر نه یم چه به څه شم
په هر لوري چه نظر کومَ اغیار دئ — دَ زړه حال وَ چا ته وَوَیلي نه شم
زمانې را باندې وکړې هسې چاري — لکه دُر دَ خر مهر و سرَه پېیه شم
دَ اورنګ بادشاه په دور عدل نشته — تر طناب لاندي په ښهر کښ لوټه شم
که دَ رنځ دارُو مي کړې طبیبه وخت دَئ — هاله ستا دارُو وَ مشه چه په تله شم
خپل خوني و چا ته څه ښیم په ګوته — چه دَ چا دَلاسه مرمه خود لیده شم
درسته شپه لکه اَغزي په زړه څرخېږي — دَ فراق غموُنه، څنګه اوده شم
هیڅ په سترګو لیده نشي یو قصاب دئ — نه ئې لاس نه ئې چاړه په زړه ورژه شم
لکه وُ په هغه شان په وفا ټینګ دَئ — چه تر یار ئې خجل نکرم ځار تر زړه شم
په دا لوڅو پوڅو نه رسم تر یاره — دَ سیمایا علم مي نشته چه مرغه شم
خلق تشي تسلې کا زه له ځلي — دَ هلك غُندِي هر سرِی په خوله شم
اللهداد چه بند په بند ګوتي په تار ړدي — دَ خوږ زړه دمه مي شِي څه خو تابه شم
نه شیخان نه طبیبان نه ساحران شته — چه له دې رنځُه دَ چا په سبب ښه شم
زه خوشحال له نورُو څه لَره فریاد کړم
په زړه زړه واړه پخپل غشي ویشته شم

ما بې دوده توسني کړه منځېدلم[٢] — عاقبت ئې په کمند وَ څکېږلَم[٣]
وړاندې ورُوستو ئې را واچَول بندونه — په آخور ئې کیزه کړَي وَ تړَلم
هغه ډیچې[٤] هغه ترنډې[٥] له ما ولاړې — چه به خوشي په جلګو کښ ګرزېدلم

---

[١] دا بدله په چاپي دیوان کښ نده راغلې.

[٢] منځېدل: پورته پورته عمودي غورځېدل.

[٣] یعني پېچل او بندول.

[٤] یعني نه رام والي او نه اېل والي.

[٥] دا کلمه له ترهند څخه جوړه سوې ده یعني تونډ والي، د آس هغه هال چه توربېږي چه په فارسی ئې رم بولي.

ریاضت ئې دَ مولا[1] را باندِي کښېښښ   رنګ په رنګ ئې په حلب وَپوهَولم
چه مي لاس دا چا تر شا نه وُ راغلي   اوس پخپله شا پخپله زین آخلم
دَ سورلۍ هنر ئې وښایه و ما ته   په تېمار او په راتب ئې وَ ساتلم
ورځ و شپه مِی دَ تپاک خبر آخلي   که خوراک خورم که وَلاړ وم که څملم
هم ئې نوم دَ ډېري میني په ما کښېښښ   هم ئې زه پخبله ژبه وَستایلم
بیهوده زغاسته واړه له ما لاړه   چه په هر لوري ئې حکم هورې زغلم
چه په ما به ئې نظر په حقارت کړ   هغو واړُه په هنر کښ وَپسندلم
اوس مي قدر یو په سله یَو په زر دي   چه اول په څو درمه پېریدلم
اوس په هر توکي خوشحال خورسند خرم یم
پخپل قدر په قیمت وَ پوهېدلم

مست یم مَی پرست یم رندي کړمه کړمه کړم   واوره محتسبه باده خورمه خورمه خورم
نور شراب مي واړه نور عالم وَته بخښلي   لام و بې مِي مَي دئ پسې مرمه مرمه مرم
موړ به څَني نشم زه دَ میو مستسقي یَم   تل که هسِي ډکي پیالې څښمه څښمه څښم
لار دَ محبت دَه تل به روغ سلامت نه وم   زه چه په دا هسي لاري تلَمه تلَمه تلَم
څه وائې وَ ما ته حال دئ څه وُ په هجران کښ   نور خبردار نه یَم په زړه سومه سومه سوم
خلق راته وایی رنګ دِ بیا زیړ شو عاشق شوې   هیڅ منکري نکړم خلقه شومه شومه شوم
دود دَ عاشق دا دَئ چه په عشق کښ ملامت وړی
څَکه زه خوشحال ملامت وړمه وړمه وړم

نور به مخ په آئینه برابر نه کړم   نه به دواړه سترګي تورِي په رانځَه کړم
نه به سپین لاسُونه سره کړم په نکرېځَیوُ   نه به نور په ږمنځَي ساز دَ سرو پښته کړم
نه به ماتی ماتی څوښی په مخ پرېږدم   نه به لاندِی باندی لب په پانُو سره کړم
چه دَ مینی یار می نشته چه ئې ګوري   دَ صورت سینګار وَ کوُم یَوه ته وه کړم
درست صورت مي سرې لمبې شي شنې ډوزی   چه دَ خپل مین دَ میني راز تر زړه کړم
که ژوندُون تر هر چه خوږ دَي په جهان کښ   اوس بې یاره په ما تریخ شو زه ئې څه کړم
هغه یار چه چرته دَي خوشحال دِ اوسي
دَی دِ خپله خوشحالي کا غم به زه کړم

هغه دم چه دَ ساقي پیاله نوش کړم   په مستیَ ئې دواړه کونه فراموش کړم
په معنی کښ هم شراب یَم هم ساقي یم   طالبان دَ میو شته چه ئې مدهوش کړم
ناصحان راته دَ عقل دفتر لولي   خداي به نکا چه ئې زه په ویَل ګوش کړم
دَ زاهد په صومعه کښ مي زړه تنګ شو   له دې پسته به خدمت د میفروش کړم
زه بلبله خوش نوا د دې چمن یَم   په موسم دَ ګلو څرنګه خاموش کړم
چه په زړه ئې اثر نه کېږِي خوشحاله
څه فایده که تل په ور ورته خروش کړم

---

[1] د سورلی.

هله مخ راته ښکاره کړه دیوانه شوم — په همه واړه عالم کښ افسانه شوم
لا مي ستا دَ مخ څراغ لېدلَي نه وُ — زه زړه سَوَي لا هاله پرېِ پروانه شوم
اشنایي دي له ښادئ نه وه غم وه — چه دا هسي له ښادئ بیگانه شوم
ستا دَ زلفو دام مي ولیده په لاري — له مسجده نه مقیم په بتخانه شوم
ستا دَ زلفو دَ زنځَیر هوس مي وکړ — نه چه زه له بې عقلی دیوانه شوم
آغرین[۱] دي د ښو نه وُ بلا وُ — چه په ځَان وزړه ئې هسي نښانه شوم
زه چه تل دَ لېونیوُ په شماره وم — بیا له کومه په ساعت کښ فرزانه شوم
زه خوشحال هم بې نظیر یم په عالم کښ
چه مین په بې نظیري جانانه شوم

یَوَه نخښه درته وایَم دَ بې شرم — په وعده په قول نه وي نرم گرم
خدایه ما دَ هغو مل مکړه په لاري — چه ئې نه وي په یاریِ کښ آزرم
دَ ناکس یاری په مثل دَ اُورو ده — چه دَ باد په مخ کښ دروميِ ترم ترم
یوه بده زمانه شوه دربغه دربغه — په هر چا چه دَ یاریِ باور ورم
که هندو که مسلمان د پَت په کار کښ — چه مي ولیدَل دَ هیچا نشته برم
څوک چه نرم ویل کا عمل ئې گوره — تګان هم په خوله ویل کا نرم نرم
دَ هغو وَ مخ ته مه گوره خوشحاله
چه ئې سخت په بې شرمي کښ دَ مخ چرم

ن

په کاته شم وَ عالم وَته حیران — چه دا نس دَپاره څه کا دا سگان
هَسي چارِي ئې پیدا شِي له وجوده — چه په فکر ذکر نه وِي دا شیطان
تل قرآن دَ وړاندي ېسی قرآن لولِي — ولي هیڅ عمل ئې نه وِي په قرآن
په کوم لوري پسې ځَم چرته ئې غواړم — دَ کیمیا غُندِي نایاب شول دانایان
ښه سړی لعل و یاقوت دَي مونده نشيي — لکه نور کاڼي لږ ندِي ناکسان
که په نور خلقو کښ ښه سړی موندل شي — ولي ښه سړی به لَږ وِي افغانان
له هر څو ورته دا پند خبري وايې — دَ پلار پند ئې هم ښه نه لکِي په ځَان
هره چار دَ پښتانه تر مغل ښه ده — اتفاق ور څخه نشته ډېر ارمان
دَ بهلول[۲] او د شیر شاه[۳] خبري اورم — چه په هند کښ پښتانه وه بادشاهان

---

[۱] دې کلمې ته په یوه قلمي نسخه کښ محشي "غشي" معني لیکلې ده، په دوو قلمی نسخو کښ آغزین راغلي دي، منسوب وَ آغزي ته یعني خار دار.

[۲] سلطان بهلول په هندوستان کښ د لودیانو کورنی مشهور باچا دي وروسته تر څلوېښت کاله پاچهی په (۸۹٤ هـ\۱٤۸۸ع) کښ وفات شوی دي.

سپږ اوه پېړۍ ئې هسي بادشاهي وه   چه په دُوي پوري درست خلق وه حيران
يا هغه پښتانه نور وه دا څه نور شول   يا دَ خداي دَي اوس دا هسي شان فرمان
که توفيق دَ اتفاق پښتانه مومي
زوړ خوشحال به دو باره شِي پدا ځوان

په تېرو تورُو، ور درومي يکرنکان   په لمبو[1] باندِی ځان ولي پتنکان
دَ کنجکو قدر يَو، د دُرو بل دي   ننګېالو سَرَه څه ژوي بی ننګان[2]
ارتګي دَ زړه دليل دَ جنتي دَه   دَ دوږخ دَ اور لايق دِي دلتنګان
دَ بادشاه په سلطنت پوري خندا کا   په سپېرو ايرو لَړلي ملنګان
نور ماهي ئې تار په تار درومي له مخي   ماتوي لويي بېړۍ نهنګان
دَ هاتي دَ پاسه سپور ورته پيکه وي   چه دَ ميو پيالې اخلِي سرهنګان
څه دَ ځان صرفه اوس کار کوه خوشحاله
لکه کار کا پرهارژلي پلنګان

بېهوده په ځان غره دَي دا انسان   په ساړه په غارمه چينګه خوله حيران
لېونی ملال دلګير دَ خوب په وړل کښ   نه دَ لوږي نه دَ تندِي لَري توان
په يوَه ذره خبره خوار خسته شي   په يَوه ذره سر خوږي شِي په ځان
پدا هسی رنګ څو کبر څو لوئي کا   چه نظر ئې له خودۍ وِي په اسمان
واړه عمر تېروي پدا غفلت کښ   تر هغه پوري چه ومري پدا شان
په ژوندُون چه دَ خپل ځان فکرونه نکا   پسله مرګه به هغه کا ډېر ارمان
زاهدان شيخان وَ هر لوري ته ډېر دِي
دَ خوشحال ختِك پکار دِي عارفان

پنډِ بد روز بکر حيران بهاردر خان   هدايت ترين سوخته وُ تر دا ميان
شېخ ستار ماشه ټوپك عبدالرحيم وُ   دَ ټوپك کُنده خداي يار جامکی کامران
دَ ټوپك کُنده هر ګز نه وي بې سيخه[3]   حق ناحق ئې پکښي جوړ کړ جهانخان
دَ تسمو په ځای ګويا دا نور عالم وه   اسفند يار غَندی يو څو ګېډِی پاجيان
مردکی دارو همه خواجه صادق وه   بند و قچی صاحب صوبه وُ پخپل ځان
پدا هسي غرڅه روخ دَ ګذارنه وُ   په آزار به ئې ګډ وډ کا خداي جهان
په مثال خواجه خضري غرڅه خوشحال وُ
چه ګزار ورباندِي وشو ناګهان

---

[3] شير شاه د پښتنو د سوری کورنی مشهور د هندوستان پاچا وُ، چه په (٩٥٢هـ\١٥٤٥ع) کښ وفات سوی دی، په عدل او انصاف مشهور دي.

[1] په سوځونکو لمبو سوځی پتنګان.

[2] ننګيالی سره زر کنجکی بې ننګان.

[3] بې سيخ.

ځو ګلرنګی چهرې راغلې په جهان بیا فنا شوې لکه ګل دَ ګلستان
یو رمق دَی راته پاتو په فراق کښ چه په مرګ له ما جدا شول ښه یاران
که دَ زړه سترګي دِ شته ننداره وکړه په وصال کښ مهیا ګڼه هجران
دَ هغه بقا فنا ده، بقا نده چه تبدیل ئې په دنیا شِی هر زمان
دا څه توري خاوري ندِي چه پرې دروميې خاوري شوی کښلي جونه دي ځوانان
چه را یاد شي ښه یاران و ګور ته تللِي تل په ما وي دا غمونُو ګڼ باران
همګي تر مځکي لاندِي شول خوشحاله
اوس دَ مځکي پر مخ نشته راز داران

ځو خبر په قباحت نشي انسان نېك و بد هوښیار نادان کښِي یکسان
که یو کس په زر کس بیا مومې هم ډېر دي په هر لوري صد هزار دِي ناکسان
هونبره ترس ځما له ېږه خو که نشي ځو په زړه یم له جاهله هراسان
دانایان په ناکامي کښ خوار حیران دي کامراني دَ جهان څوک کاندي؟ خسان
پخپل ښکار باندي غوټې وهي بازونه په مرداري باندي ګرزي کرګسان
تفاوت ئې په کرده په فعل ګوره مچ، مچی دِي سَرَه واړه مګسان
چه په درست عمر کښ یو ځله تېره شي نور اصیله توره نه غواړي متان
چه هر ډوړ ئې وار ووته هوس کاندي دَ زربفتو هنر چېرِي دَي آسان
که دِ زړه دَي چه لذیذ شعر ووایم
د خوشحال غُندي پیدا کړه خپل لسان

خوږ ژوندُون په سرِي تریخ کاندي ښلتون په سوزانو لمبو پاس کښېږدي لړمون
چه څه زور قوت دَ زړه وِي په کوګل کښ وار په وار ئې له دوو سترګو کا بیرون
تر دا هسِي عمر، نه عمر بهتر دَي چه تېرېږي ورځ و شپه په ځګرخون
په ځګر ځګر مي ولي صرفه نکا دَ غم لیندېو راته وواهه زنګون
ځما زړه طومار دَ مهر دَ وفا دَي ځیراوه شِي چا ئې زده نکړ مضمون
که کتان چه مهتاب ځیري کا ګانډه شه سکه ځما دَ زړه دَ یار له لوریه کا څوک ستون
په هجران کښ که امید دَ وصال نه وي زه همښ په هغه هسِي لار کړم یُون
یَو دَ بل په ځاي کښېښِي دَ دنیا دود دَي
زه خوشحال قائم مقام یم دَ مجنون

دَ زیبا جمال ئې ډېر دَی زیب و زین ولي زړونه دَ عالم وړي په عینین
یَوَه سترګه ئې رحمان بله رحیم شوه چه همه مراد پکښې دي د کونین
چه دَ ښهر زاهدان شیخان پیران دي زړه دَ هر یوه کښان وړي په زلفین
لکه عین دِ خپل پلار خوني وژلي پسو سرې سترګي راځي په شین شین
واړه لواړ سرونه نغرِي دَ دردمنو دَ مزري تر خولې بتر دي د عشق عین
پخپل یار مي باور شته چه بل به نشي غمازان که غمازي کا تر دا بین

په رضا ئې خپل خاطر ورکړ خپل یار ته
په خوشحال محصل نه وُ دَ چا تین

دواړه شملې پرېږدې برېښوي ورته خپل ځان
گوره هغه تُرکه به نظر کا په کوم څوان
څو گلرنگ مخونه پدا خاورُو کښی بدرنگ شول
څو دَ خیال کړې بگړی یاد لَري جهان
دور دَ دلبرو دَ ښایست دَي یَو څو ورځې
ژر له برمه پرېوزي لکه گل دَ گلستان
سرې سترگې اَوښتې لکه ډېر خونُونه کړي
خدایه خیریت کړې چه را درومي پدا شان
زړه مي لکه گوي دَي دَ مستی په میدان کښ
تل ئې هغه ترک وهي دا زلفو په چوگان
تل دَ تن هډونه را وگاږم په نوکونو
غم ئې دَ ناوک خورم چېري مات نشي پیکان
پټه په نقاب وَه دَ هر چا ورته نظر وُ
مخ ئې را ښکاره کړ، ورته خلق شه حیران
مخ په وړاندې درومي پټ په څنگ ورته نظر کا
خوښ اوسه خوشحاله ښا ښه پېر وکړ اسمان

را ښکاره شوې کج فهمی د جهان
دَ جهان دَ کج فهمیو الامان!
دا هم ځاي دَ تعجب دَئ که ئې وینې
په بازونو چه غوټې وهي کارگان
دا هم ځاي دَ تعجب دَئ که ئې وینې
چه مغل کاندې بازی په افغان
دا هم ځاي دَ تعجب دَئ که ئې وینې
چه گیدړ په وازدو[1] ډک وَړی زمریان
دا هم ځاي دَ تعجب دَ حیرانی دَئ
چه لښکري په خوشحال کا بهرام خان

عارف سړی هغه دَئ چه ئې شناخت وشو دَ ځان
دَ ځان په معرفت کښ معرفت دَئ دَ سجان
چه وېرې دَ زړه نه وئ نه عمل لَري دَ نېکوو
په دا ئې نظر مکړه چه په یاد لولي قرآن
په کور کښ د بلا دی دا دَ نفس غلطي چاري
که ته په ځان شیطان نشې بل هېڅ نشته شیطان
حرص مکړه هوا پرېږده له هر چا نه پرېکړه طمعه
بل نوم به پتا نږدم په ځان نوم کښېږده سلطان
چه خداي ئې په لار نکا په وَیل نه په لار نشي
که پاڅوې له کوره وَ هغه وَته لقمان
عیسی په معجزه سَرَه ړانده سړی بینا کړه
دانا ئې په دعا نشو په عمر یَو نادان
که هیڅ ور څخه نه وی غم دئ نکا که دانا وئ
خوشحال ختِك گواهي لِي دَ دانا نشته ارمان

گوره راته څه وایي دا ستا دواړه چشمان
نور عالم نور ښکار کا، موږ دَ دین او دَ ایمان
مرې چه لینده ویني کارگه ستا داخال دَ ورځیو
ناست دَئ تورکارگه په څو په موټی د کمان
راغله په خندا خندا وړه وړه پوښتنه
چا ورته وَیَل دا په رقیب نکړم گمان
ورتې ورتې اُوښي تل ساړه ساړه آهونه
ستا په درد و غم کښ زه هم دا لرم سامان
نوره پیښکښی را څخه نشته په فراق کښ
یار لَرَه به وړمه دُر دَ سترگو په دامان
یَو زمان مي نه ځي هغه یار دَ زړه له سره
څه شي که ئې زه په زړه یاد نه یم یَو زمان
پاتو یم له خپله یاره لیري لا ژوندَي یم
خداړو په دا خپل ژوندون هر گوره یم پښیمان

---

[1] وازگو.

پيا به ئې لا كله د بهار په سپوږمی دربغه   ونيسم په لاس كښ توري زلفي ډېر ارمان
خوښ اوسه خوشحاله دَ خپل يار په درد و غم كښ
درد دَ يار دَ ميني لا بهتر دَئَ تر درمان

كه همېش دِ همنشين وِي تور ماران   ښه دَئَ دا نه چه قرين وِي بد كاران
هر چه ستا عيب وَ تا وته ښكاره كا   په جهان كښ هم هغه ګڼه ياران
په كردار كښ يار اغيار سَرَه بېلېږي   تر يارانُو ډېر لباس كا اغياران
دَ كمذات يارى به هيڅ وفا وَ نه كا   لا په تېره بې نمازان او مَي خواران
لكه تخم هسي بر هسي ئې بوټي   نه ئې خوند مځكه بدل كا نه باران
دَ زړه راز و چاته نه وَيلَي بويه   چه دَ مځكِي په مخ نشته راز داران
په قيامت به يو په يو واړه ځواب لي   كه مېږي ملخي پيمال كا شهسواران
دَ خوشحال باندِي سلام بادشاه دَ وخت دئَ
په سپېرو ايرو لَړَلِي خاكساران

كه هر څو ښايسته يې نه يوسفت يې دَ كنعان   كه هر څو ډېر هوښيار هې نه مخَي يې دَ لقمان
كه هر حڅ ډېر حشم لرې بادشاه دَ مملكت هې[1]   په زړه كښ فكر وَكړه څه بادشاه وُ سليمان
څو كښلي ښه مخونه څو هوښيار څو بادشاهان وه   چه راغله هسي لاړل اوس ئې نوم دَئَ په جهان
يو نوم دَي پاتو كېږي نور به هېڅوك پاتو نشي   په بد بدان يادېږي په نېكِي يادوِي نېكان
كه نوم دَ حجاج اروې نوم دَ نوشيروان   په عدل كافر ښه شو، ظلم بد كړ مسلمان
كه ښه كړې ساعت دا دَئَ چه په شمار هې د ژونديو   نه سود نه به فائده وِئ كه په ګور كښ كړې ارمان
كافر سرَى هغه دَئَ چه دَ نفس په هوا درومي   مؤمن سرَى هغه دَئَ، چه تل غم كا دا ايمان
هيڅ شك پدا كښ نشته چه په مرګ به واړه ومرُو   خو شك پدا كښ كېږي څوك به مومي ګورستان
سخ به دَ هغه وِئ چه ايمان سَرَه ئې مرګ وِئ   ګور په عزت بيا مومي پسې لولي قراَن
وخت دَ ځوانی تېر شو اوس پېري راغله خوشحاله
نور كارونه پرېږده خو دَ ګور كوه سامان

نس مي افريدی دَي څه غم نه لَري دَ دين   ښه فكر ئې لږ دَئَ ډېرو بد ووته شين
زه دَ درويزه[2] غُندِى ايمان ښيَم وَ ده ته   دَئَ دَ پير روښان غندئَ دَ كفر كا تلقين
دوشپېته كالُونه په حساب لرم خپل عمر   تور وېښته مِي سپين شو لا مي زړه ندی هيڅ سپين
نشته هغه دور دَ سرو ياقوتو په دبلی كښ   نه هغه نرګس دَئَ نه دَ باغ هغه نسرين
زه بې غمه خوب كړم په پاسته بالښت سريښي   پرېواته په ګور كښ چه ځما وه هم بالين
ډوبی شوې پېرِئ دَ فنا په اباسيند كښ   ډېر پكښ لاهو شول چه ځما وه همنشين
څه دَ غم پلَو دَئَ چه ځما په سترګو پرېووت   نه وينم په سترګو حقيقت واړه مبين

[1] كه هر څو ډېر حشم لَرِى بادشاه دَ مملكت وى.

[2] اخند درويزه د پښتنو لوى مبلغ ملا دى دَ پښتو مخزن الاسلام ليكونكى چه د مغولى اكبر پاچا په عصر ئې د پير روښان (پير تاريك) د عقائدو پر خلاف تبليغ كاوه.

هونبره رنځ په ځان کښ طبیبان پدا جهان کښ   مرم دارُو خپل نکړم پدا هسي کار نفرین
ولاړ ځای ئې سقر شو مگر خداي پرې کوم وکا ء
نفس و شیطان دواړه له خوشحال سَرَه قرین[1]

ندِي لب دئ جان من[2]   ښه یاقوت دئ دَ یمن
نن ما خپل گڼې له طنزه   ما خو نزده هونبره فن
بختور مي ئې نوم کښېښ   لا که نشي دروغجن
څو ڼي تاو کا چین ئې گورم   شي بنده درته ختن
پښتنې په چین چین څوڼِي   بخښي چین، تبت، ختن
ښې ښې ځي په شین شین   ښه غبغب ښه ئې ذقن
په پښې فیض ځني زېږِي
په زمین چه ځِي په فن

---

[1] چه خوشحال لری قرین.

[2] دا بدله له یوې قلمی نسخې څخه نقل سوه، په نورو کښی نسته.

و

اَفرين دِ پدا سرو سترگو خونخوارو — چه بې تورو پرهاررُونه کا په خوارو
تورِي سترگي ئې تور بازبانه ئې نوکي — چه ځما خاطر ئې يووړ په نوکارو
چه اوچت اوچت وَهَل کا هغه باز وِئ — پخپل باز باندِي نظر وِي دَ بز دارو
دَ وربل په هر هر تار ئې زړونه بند دئ — مشاطه ورباندي نور پېښئ په تارو
په مذهب دِ عيادت مگر گناه دَئ — چه دِ هيڅ پوښتنه نشِي دَ پمارو
لا دِ پی له دوارو شونډُو نه څڅېږي — په ځواب دی ژبي بند کړِې دَ هوښيارو
خپل ياران به په پېغور کړې دَ وګړي — چه دِ دا د مهر نظر دَی په اغيارو
په ښايست که ښايسته تر ښاپېرۍ يې — ولي دا جهل دِ بد دَي په دا چارو
تل په تشو تسلو عاشقان تېر کړې — تا څه لږ غلولي ندي په دا چارو
بلبلان دَ گلستان په منځ کښ گرزِي — کرگسان گرزي په طمعه دَ مردارو
زمانه به ئې په سر گلونه نږدِي — هغه سر چه سزا وار وِي دَ لارُو لارُو
نيژدې يار سَرَه ورو ورو خبري کېږي — ليري يار وته وېل شي په چيغارو

يك تنها ئې دَ خوشحال خاطر يو نه وړ
په جمال ئې زړونه يووړه دَ بسيارو

اَفرين دِ په ولول تورو سنبلو — چه ئې ځاي دَ پاسه ونيوه په گلو
ما چه ستا دَ شونډو مَي سره مزه کړل — مستغني شوم دَ جهان له واړو ملُو
که په اصل پښتنه دَ هندوستان يې — دا دَ ظلم خوي دِ زده کړ له مغلو
مگر مور دِ دَ خطا دا ملك هوسی وه — چه دَ مښکو بوي دِ درومي له کاکلو
زه په هونبره تمنا کښ دا به څه شِي — چه ته هر کله په هونبره تغافلو
دَ هر گل ثنا صفت کا په زر ژبه — پدا باغ کښ چه غوغا دَه دَ بلبلو

دَ خوشحال په زړه ئې هسِی چارِي وکړې
لکه باز چه زرکه يوسي په منگلوُ

بيا له کومه لوريه بوي راغَي دَ ثوښيُو — چه خاطر مي په هاي و هوي راغَی د حؤښيُو
دا اوړده اوړده غمونه پرېشانِی — چه ځما دِئ دا ئې خوي راغَي د حؤښيُو
هم پدا مي به دَ زړه پرهار گانډه شِي — شکر شکر چه ئې موي راغَي د حؤښيُو
په هر مخ باندِي څه ثوښي ښايست نکا — لايق شوي يَو يَو روي راغَي د ثوښيُو
چه په خيال ئې په سپين مخ باندي وَلول کړې — نو بهار ئې په هر سوي راغَي د ثوښيُو
پدا کوي کښ چه مقيم شوم خلقه ځکه — چه نگهت ئې پدا کوي راغَي د ثوښيُو

بيا به هم دَ مښکو نوم په ژبه واخلِي
چه خوشحال لَرَه ئې بوي راغَي د ثوښيُو

بند و بست دَ کائنات دَئ په خبرُو　　یو تر سله صدقه شه سل تر زرُو
د َهمت په بال و پر سرِی الوزي　　مرغه پورته اَلواته کا په وزرو
ورته وایه توره کښېږده په صندوق کښ　　هر سرِی چه مَړَنَي وِئ په تلبرو
یا دَ سپیني توري مرد شه یا عاشق شه　　چه یادېږي په بدلو په سندرو
دَ عاشق بخره خواري زاري ناندرِی[1] ده　　دَ معشوقي څه پروا له مَرَوَرو
له یوه دریابه خېژي فرق ئې ډېر دئ　　که نظر کړې دَ دریاب په مرغلرو
چه ئې غم دَ غلیم نشته بختور دَئ　　خدایه ما کړې په شمار دَ بختورو
دَ خوشحال خټك خوښي په هغه وخت وِئ
چه برېښنا دَ سپینو تورُو شي دَ زغرو

پرې غوغا کاني بلبلو　　تل به وخت نه وِئ دَ گلو
دا گلونه مسافر دئ　　کال به تېر کا په راتللو
ستا په مخ به ئې څښمه　　ساقي مهر کړه دَ ملو
ځایکی دِ وَ ویشتَلم　　کم خطا یې په ویشتلو
که صورت ژغورې له غمه　　سترگې نسه له کتَلو
دا دَ مهر وَیل پرېږده　　زه دی خوښ یم په ښکنځلو
ما وې څو مي به لا سوځې　　په خندا ئې وې تر تلو
نه به باز نه به شهند شم　　نه به راشې په منگلو
وعده درسته کړه خوله راکړه
خوشحال ندَي دَ غلولو

چه مي ولیده په زړه کښ حال دَ واړُو　　مهو شاني قبلَوي و بال دَ واړُو
په جمال غره که ډېر و بله ټول شي　　ستا جمال خجلَوي جمال دَ واړُو
دَ کشمېر که دَ فرخار که دَ تاتار دئ　　ښایسته ځما ښه یار دَی سیال دَ واړو
ما ئې ښه تحقیقي وکړه چه عاشق شي　　په هجران باندي وخېژي فال دَ واړو
سل و سل خبري کاندي مرگ ئې مه وه　　په یوه ځواب پوره کا سوال دَ واړُو
چه ورتله کا تله به هم ورځي کاندي　　سلامت به پاتو نشي مال دَ واړُو
و عنقا وته به څه لَرَه څوک دام ږدي　　چه پرې راشي څیري کاندي جال دَ واړُو
که شیخان که زاهدان که عالمان دئ　　له عمل سرَه جوړ ندي قال دَ واړُو
چه ئې لافي دَ یاری د اشنایی کړې
و خوشحال وَته ښکاره شو حال د واړو

چه په لار دَ رحیل راغَی روا رَو　　څه کسرا او څه پرویز او څه خسرو
ناست په تخت څوک له منزله خبر نه وِئ　　چه تخت څرنگه په باد رومي په دَو
نوي کور لَرَه را رومي راشه گوره　　ځوانان څرنگه اَخته دئ پخپل لَو

---

[1] یعنی پېغور.

چه مي سازه کړه دوهه د ملنګۍَ   ما فيها دَ زمانېِ شول راته جَو
هم ئېِ وينم هم ئېِ اَروم ترېِ تېرېږم   چه په ښنګ راته بَړوه کا بَوبو
دَ زړه نوي ښه ياران ور ځِني لاړل
دَ خوشحال دَ زړه ژوندُون وُ په دانو

دَ شهی زلفو مختولو   سر هوا پرېشانو طولو[1]
چه ئېِ لافي هر سَړی کا   عشق آسان ندئ فضولو
ځما راز مو په ملك خپور کړ   اېِ ځما اوښيو پدَولو
په کوڅه کښ دَ دلبرُو   حساب نشته دَ مقتلو
تاسو مشوِی ټولی   ګښی ګښی دَ زړه نولو
دا خبرِي چه خوشحال زده
نه دِی دا دَ نامعقولو

دَ ښادمنو په خندا ړو[2]   د غمجنو په ژړا ړو
دَ رندانو په رندۍَ   د شيخانو په تقوا ړو
دَ وصال په سل خوښۍَ   د هجران په زر بلا ړو
د بهار په ښو ګلونو   د بلبلو په نوا ړو
چه ترېِ سبروني هيڅ دئ   په هغه قد بالا ړو
چه مکحولِي دِي له نازه   په هغو سترګو شهلا ړو
چه نرۍِ تر وېښته دَه   په هغه باريکه ملا ړو
چه عاشق ور پسېِ مرينه   په هغه جمال زېبا ړو
چه راځِي دَ يار له لوريه   په هغه باد صبا ړو
چه پيغام راوړِي وصل   د هغه ناصد په پا ړو
چه دوهمه پکښي نشته   د رشتينو په رشتيا ړو
پدا هونبره سوګندُونه   صد هزار ځله بيا بيا ړو
چه تر ځَان پتا مين يم
زه خوشحال ختك پتاړو

راته مه وايه پتا ړو[3]   چه پتا نه ړو په چا ړو
ته ځما دَ سترګو تور يېِ   پدا تورو سترګو ستا ړو
مخ دِ ورځ زلفی دِ شپه دي   په سبا ړو په مسا ړو
په جهان کښ مي ځَان ته يېِ   نه چه نور، پتا جانا ړو

---

[1] يعنی اوړدو.

[2] ړو په پښتو کښ د قسم کلمه ده.

[3] دا بدله له يوېِ قلمی نسخېِ را نقل شوه، په نورو کښ نشته.

یاد مي ته يې په خاطر کښ هر زمان پخپل مولا ړو
ستا دَ پښو خاوري توتیا دي چه ما ستا په خاکِ پا ړو
تمنا لَرم ستا دېره پدا خپله تمنا ړو
تر خندا پوری دِ هيڅ دي لال و دُر ستا په خندا ړو
یار خو ستا یم دَ چا نه یم
زه خوشحال ستا په لقا ړو

ستا په ورد سر فرازُو تل سجود دَي د پې نېازو
ستا ملالو سترگو پوچ کړ واړه کار دَ سحر سازو
سا یِوه وینا تېرِي کا تر هزار سخن طرازو
سپین او سره دَ دنیا دارو دَ عشق گنج دَ جانگدازو
دَ خوشحال وَيَل هم واروَئ
راشي اې نوا نوازُو!

سپینو وازدو لَرَه ورغله پیشو خوله به ونسي له وازدو نه په څو
د عاشق په زړه کښ خیل دَ معشوقې وي دَ هندو په زړه کښ فکر دَ ټیکو
د لولِی پرتوگاښ پیه پرانزِي محبت ور سَرَه نشي بې پیسو
په خالي کیسه به نه رسي تر کامه څه حاصل که بوعلي شي په کِسو[۱]
د هغو بخره خواري ده تل تر تلو چه زکوة خوري د کتاب په مسئلو
چه په هره کوڅه گرزِي هرزه کار شي تر دا هسي کښت زنجیر ښه دَئ په پښو
یو خوشحال څه زړه کباب ندي لتانه
تا د خلقو زړونه کښېښول په لمبو

عجب کار دَئ ستا دَ شونډُو ښه روزگار دَئ ستا دَ شونډُو
پرې پنډو دَي د ځوانانو څه دربار دَئ ستا د شونډو
په کالونو له ما نه ځِي بد خمار دئ ستا د شونډو
کله ستا زلفینی زړه مِی په کنار دئ ستا د شونډو
د یمن یاقوت آبدار دي که آبدار دَئ ستا د شونډو
په صورت کښ مي ځان څه دئ یو یادگار دَئ ستا د شونډو
په هجران کښ سرې سرې اوښي دا نثار دَئ ستا د شونډو
ځکه ځان هسي عزیز دَئ پرې گزار دَئ ستا د شونډو
چه د خضر ترې مایه ده[۲] چشمه سار دَئ ستا د شونډو
ځان بې ستا له شونډو پائي شرمسار دَئ ستا د شونډو
دَ خوشحال خټك په زړه کښ
انتظار دَئ ستا د شونډو

---

[۱] کِسه له قصې څخه مفغنه شوې ده.

[۲] چه د خضر تر ماء به دی.

که د زړه څه خو ترس ډار وَئ څه به ښه وُ   لږ دِ مهر په ما خوار وَئ څه به ښه وُ
زه چه ستا له غمه راز کړمه په ور کښ   که دِ غوږ ځما په زار وَئ څه به ښه وُ
چه په ما باندِی پېغور کاندِي په عشق کښ   ستا له حسنه خبر دار وَئ څه به ښه وُ
هر چه نن دَ زهد لاف کا په جهان کښ   په ليدو دِ پرهېزگار وَئ څه به ښه وُ
پسله مرگه مي يو هسي مکان گور شوي   چه پرې تل دِ کښليو لار وَئ څه به ښه وُ
ستا په کوي کښ ډېر کوټه تازی پراته دي   زه هم گډ دَ دُوي په شمار وئ څه به ښه وُ
ستا په غم به پدا لږ عمر موړ نشِي
دَ خوشحال عمر بسيار وَئ څه به ښه وُ

کل قربان شه تر جمال دَ ښو يارانو   ور ځارېږه تر مقال د ښو يارانو
دا صورت مى څه ژوندَى په اروا ندئ   تل ژوندَی دَئ په وصال د ښو يارانو
په خاطر کښ مى بل حب محبت نشته   پکښ ځاي دَئ دَ زړه خيال د ښو يارانو
که دوي ستا په رضا درومي يا نه درومي   ته هر کار کړه په اقوال دَ ښو يارانُو
په جهان کښ دَ هر څه مثال مونده شِي   ولي مه غواړه مثال دَ ښو يارانُو
په هر زيان زوال راضي يم پدنيا کښ   خو دِ نه وِي يو زوال دَ ښو يارانو
مرگه ستا علاج که شوَي په هر څه وکړي   چه قتلان کړې په هر کال دَ ښو يارانو
په جهان کښ که څه دِئ خو ښه ياران دِي   خبر دار شه په احوال دَ ښو يارانو
گښي گښي ځان او زړه لَرَه راحت دئ   که ئې گورې خط و خال دَ ښو يارانو
دَ يارانو د ياری په لذت پوه دئ
چه ثنا کاندِي خوشحال دَ ښو يارانو

ليوني شول پښتانه په منضبونو   خدايه ما ژغورې له هسِی غضبونو
د کنگاش علم دَ چا دَی دَ تورزنو   لکه څوک لولِي قرآن په مکتبونو
د کنگاش له علمه هيڅوک خبر ندئ   خبر دار يم دَ هر چا په مشربونو
پښتانه لَرَه لوي عيب دئ که ئې گورې   چه نازېږِي دَ مغل په لقبونو
شرم ننگ نام و ناموس ئې په ياد ندي   خو ويل کا دَ منصب دَ ذهبونو
دَ مغل سَرَه ليده په طمعه مکړه   که کېدَي چېری په نورو سببونو
خټك واله بلنځه ښه ځما تر ملا ده   نه ښېوه دَ نوکرئ په قصبونو
د بادشاه د زندان شپه ځما په ياد ده   چه تمامه شپه مي تله په ياربونو
پښتانه که جنگ مغل سَرَه په تېغ کا   هر خټك نيوي مغل تر جلبونو
د خټك دَ ننگ جرگه نشته خوشحاله
را وَتَلِي دِئ له کومو نسبونو

ما خوب ليده په خدا ږو، چه زه ته سَرَه پخلا يُو   خوږې خوږې خبرِي دَ زړه حال وَ بَله وايُو
ما څخه کتاب دَئ پکښي واړه غزلونه   تا څخه مينا ده دَ گلزار په تماشا يو
لاس تر لاس نيولِي سَرَه گرزُو کښېنو پاڅو   خپله خوشالي هوا هوس کړو په خندا يو

پیاله کړې راته ډکه زه ئې ستا له لاسه واخلم | دَ شونډو بوسه راکړې بیا په نوره تقاضا یو
مطرب راته له ورایه په تارونو لیندی ښیي | په بم په ځېر جار وزی موږ ئې محو په نوا یو
ته کل واړه خوبی لرې زه واړه کامرانیَ | ښادی ته مخامخ غم و اندوه ته شاپشا یو
ناگاهه له دې خوبه دَ سحر په وخت را ویښ شوم | نه ته وې نه دِ وصل زه دا کار سَرَه جدا یو
څو پایم په دنیا کښ دَ چا کار را سَرَه نشته | یو زه یم یَو دې غم دَئ، سره دواړه خواپخوا یو
خوشحال یواځې ندئ څو په ملك کښ عاشقان شته
په خوب په بیداري کښ سَرَه واړه باد پیما یو

ما هغه سړی شمارلي دئ په ورکوُ | چه په خوې کښ بې وفا عادت په سپکو
هغه باز تر مښگیر که لا بتر دَئ | چه غوټې ئې دِي په شلانډو[1] یا په مړکو
غافلان له دې دنیا سَرَه کا لوبي | لکه پېغله جن بازی کا په لوڅکو
عراقی په اشارت کښ ځان څرگند کا | ټټو سم په لارې نه ځي بې چابکو
چه ئې ډېري اندېښنې دَ دنیا نشته | زه پدا خبره خوښ یم له هلکو
دَ عالم سَرَه خواړه نه خوري له کبره | لا تر روغه نه بهتر دَی کار دَ پکو
که په شهد ئې ساتي مزه ئې نه وئ | ناشپاتي دَ ثمرقند دَ هند په مځکو
دَ خوشحال وَیل که دُر قیمت بها دئ
وَ ناپوهو ته بتر دِئ تر کنجکو

مونږه مَي پرست یُو[2] | دَ ازل په میو مست یُو
په سما مو قدم ینښَي | لکه مځکه هسي پست یو
هغي خولې وَته نظر کړه | هغه هسي نېست و هست یو
که په تخت دَ پاسه کښېنو | بیا یو مات کچکول په دست یو
حؤک دَ وصل خبري کاندِي | موږه خوش پخپل بربست یو
تل مو زړه پدا خوشحال دَئ
چه خپل زړه سَرَه پیوست یو

وَ دِ نه وینم زه ستا وصال په سترگو | که بې تا را درومي بل جمال په سترگو
مېلمستیا مي دَ زړه ویني ورته کښېښوې | چه مېلمه مِی شو دَ یار خیال په سترگو
هغه دم مي دَ زړه داغ له دله دور شو | خو چه راغی ستا دَ ورځیو خال په سترگو
چه ډېر خلق سَرَه ناست وې عحب ښه شِي | دَ مَیَنو سَرَه قیل و قال په سترگو
په غمزو په کرشمو په مکیزونُو | نن دِ نه وینم په ملك کښ سیال په سترگو
عارفان دَ قناعت په گنج تونگر دِي | چه ئې نه راځي د خلقو مال په سترگو
دَ مکې دیوال به نور په خوله یاد نکړم | ما چه ولیده دا ستا دیوال په سترگو
ستا په گوتو کښیده رومال چه راغَی | زه له مینی موږم ستا رومال په سترگو
هغه مخ چه مِي به تل لیده اوس گوره | چه ئې نه وینمه ماه وسال په سترگو

---

[1] یعنی چونگښو.

[2] دا بدله له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.

چه بې ستا له زيبا مخه بل مخ ګورم   زه به چېرې کښېږدم دا وبال په سترګو
وَ ښه مخ وته له ورايه ځَلبلاند شم   لکه وَويني لوغسي[١] تهال په سترګو
نور عالم خو دَ يارانُو ناز په سر وړی
تل بازونه وړي دَ يار خوشحال په سترګو

هر نا اهل مزه څه زده دَ خبرُو   دَ خبرو لذت ښه دَي تر شکرُو
چه دانا ئې په دانش سَرَه انشا کا   يَوه ښه خبره بهَ دَه تر زرو
بې استادَ دَ شاعرې بې لارې تله دئ   ياوه ګوي ګرځي په لوړو په ژورو
تفاوت دَ خاص و عامو سَرَه ډېر دئ   برابر نه دئ شبه دَ مرغلرو
دَ شهبازو دَ عنقا برابر ندِئ   مچ او ماشي چه الوزي په وزرو
په چهارم اسمان به ناست لکه عيسی وم   که اسمان ته الواته شوَي په خبرو
عام به چېرې دَ خوشحال په وَيل پوه شې
دَ ګوهرو قدر څه زده ښيښه ګرو

يا په زړه کښ مهر ځاي وَئ دَ بتانو   يا ئې ورکړَي صبورى وَ عاشقانو
يا حيران عاشق په مرګ وَ مړَي چه خلاص شوي   يا ئې هونبره جورمه وَئ دَ چشمانو
چه ظاهر باطن ئې دواړه سَرَه جوړ وئ   څه عجب خاصه مشرب دَئ دَ رندانو
چه په يار پسې روغ ځَان سېځَي په اور کښ   زه پدا رسم مَيَن يم دَ هندوانو
دَ خپل يار په بدو خاندم هوسېږم   چېري زړه نشِي را ښه د رقيبانو
چه مي نوم په ژبه واخلي هسي خوښ شم   لکه ډغ دَ خلاصی وشي په بنديانو
بيا به صبر دَ خوشحال ختِك اُلجه کا
را څرګنده شوه سره کړې خوله په پانو

يو څه داغ لَرَم په زړه دَ نادرستو   دَ دې داغ علاج و نه کړ سستو پستو
يا ئې عين په زړه وَخوري يا زخمی ځِي   چه هوسی په پره ور يشی[٢] دَ چستو
دَ بې ننګو بې ننګي مي به ارمان شي   خداي به واړه چاري ښې کا وړاندي وروستو
دَ ښو اوښي مِي ويني شِي ترې څاڅِي   دا دَ تن جامه مي نه وِئ دَ اغوستو
دَ دردمنو حال دردمن په قياس معلوم کا   که ئې وايې ښکاره نه وِئ په تندرستو
دا غزل چه دَ خوشحال ورشي تر سرايه
ښه ياران به ئې نارې وکا په لوستو

هـ

ابلهي بد ګماني تر هسي حدَه   تر نظر ئې له وسوسه هم بده
بد ګويي خست بد نيت تر دا پهورته   سکه وروڼه ئې پرَدي کړل له حسده
که ښه نيت که ښه خلقت، که سخاوت دَي   دا ئې واړه له زړه لاړ له خولې له يده
په مجلس ئې برآمد له منځَه تلليَ   بَل مذکور پکښ خطا بې خوشامده

---

[١] يعنی لکه دَ لوشلو حيوان چه تهالی او دَ لوشلو لوښی ووينی او لوشلو ته نه درېږی.

[٢] ورسی.

چه په ملك دَ پلار غليم هغه ئې سترگي   په دوستانو ئې دَ پلار كينه بې عده
که دَ باغ انگور ئې ډېر وِي وَ خپل پلار ته   مگر درست ژنکوري ورکا له سبده
یا دِ ښه زويَ پيدا شِي له ښه پلاره   يا دِ هسي تنها اوسِي بې ولده
دِ ژونديُو دَ زړه رنج دَي دَ مړو شرم[1]   په ژوندُون دَ بابا ورشه تر لحده
دَ خوشحال عقل خطا نه وُ نور څه وُ
چه خاني ئې په بهرام کړله نامزدَه

اَرزو لَرَم ساقي يو څو اقداحه   که ئې را کړې دَ خاصه ښيبې له راحه
چه دا هسي نوبهار دروميِ بې مَيو   دا خبره په هر چا دَه نا صلاحه
څما پير وايي دَ ميو توبه گار شه   دَ بهار په وخت توبه دَه نا مباحه
تل به وخت د نو بهار نه وِي گلگښت كړه   په دا باغ كښ تر صباحَ تر رواحه
د نرگس گلوُنه پلي سپاره راغله   ننداره ئې د بهار کړه افتتاحه
رنگارنگ غنچه دِ وا کړه په چمن کښ
د خوشحال دپاره ښه راغلې صباحه!

اورنگ زيبَ بې دليله!   په ظاهر باطن عليله!
لکه مچ په انگبين کښ   پسو بند شوې په قليله
په تسپو کښ دِ بلا دَه   هي توبه ستا له تهليله
دَ يوه صورت دَپاره   خپلخانه دی کړه قتيله
نه په زويه نه په پلار يې   په هر چا باندِي بخيله
پدا هسي بې عدلیَ   هلاکوُ سَرَه عديله
ښېله خدايه بل يَو نشته
دَ خوشحال په سته سيله[2]

اَه هم دا هونبره اَهونه   دم په دم بيا گناهونه
هم هغه پکښی پرېوزي   چه کښِي چا ته څاهونه
لکه باد هسِي تېرېږي   دَ فانی دنېا جاهونه
اور دَ اَه هسی لگېږي   لکه اور په گياهونه
گوره بيا به په چا سر شِي
دَ خوشحال ساړه اَهونه

---

[1] دَ زړه رنځ د مړو شرم.

[2] طرفداري او حمايت.

اې پخپل گمان کښ بړوسه   [1]له اصلی کاره مایوسه
دانه نه يې چې دي مغز وِئ   بې دانې حبطه بوسه
وَ خپل عيب وَته ړُوند شوي   دَ پردې عيب جاسوسه
چه پيدا ئې خوشبويي شوه   اگر ښه شو تر آبنوسه
د طوطی برابر نه يې   که نگار لرې طاوسه
که غوټه يی[2] په چرگوړيو   په دا باز نشوې ټپوسه
لعل و در پرې حبطه دِئ   چه رنگ نه لَرِي عروسه
راشه مخ په آئينه کړه   چه چهره شِي در معکوسه
دَ خوشحال خټك توبه دَه
ستا له زرقه له سالوسه

ای چه مخ دِ ښايسته دَي په خالُونه   پدا خپل ښايست ډېر مکَوه خيالُونه
همېشه به دِ دا هسي ښايست نه وِي   دَ گلشن گلُونه نه وِي تر کالونه
چه دَ خپلو عاشقانُو ويال اخلې   هونبره ښه نه وِي په غاړه و بالونه
کله ما وته دعا، کله ښکنځَل کړې   درته چا ښيل دا هسي جنجالونه
ډېر دِ ما غُندي غلولي په رنگ رنگ دي   څه بلا ئې په لباس په ټېټالونه
ستا دَ ورځيو خال کوتره دَ هوښا[3] دَه   تورِي زلفی دِ چاپېري ترې جالونه
دَ بلبل په خاطر هونبره بلا نه وِي   چه غنچه کا غوړېدل په اهمالونه
نه به باز نه به شاهين نه به شنقار شِي   که ټپوس دَ اَلوتو لَرِي بالونه
پدا څو توکه دِ هيڅوک باور نکا   په وعده دَ کښليُو خوب دَي که فالونه
دَ مجنون په ببړی ناست دي مرگ ئې مه وه   چه په سپينو خولو ئې وښندَل مالونه
خبر دار ورباندي روغ لېونیَ ندي
په خوشحال کښ چه پراته دِي دا حالون

اې چه ستا دَ يار له غمه استغفا دَه   که سينه دِ له زنگاره نه صفا دَه
هيڅ دَ خپل مَيَن دَ بدو غارت مشه   دَ اغيار تر وفا ښه دَ يار جفا دَه
دَ يار بد هم لکه ښه هسي حساب کړه   هم پدا دَ عاشقیَ اکتفا دَه
که ئې نېښ زياده نه گنې تر نوشه   بېهوده دِ طمعه کړې دَ سفا دَه
مخامخ دَ يار و غم ته وَدَرېږه   که دِ غيرو اشنايیِ وَته قفا دَه
آه که يو ځله میِ وليدې په سترگو   چه میِ تل تل ستا له غمه وا اسفا ده

---

[1] د بړوس کلمه سيد راحت په معنا د خفه او ناراض راوړی ده، په محاوره کښ هم دغسي دئ. مگر د عبدالحميد ماشوخيل په ديوان کښ هم دا کلمه داسي راغلی ده: که هزار ځله مي بړوس دارو درمان کا – دا غ مي کله مرور دي ستا له درده. دلته يو محشي بړوس ته طبيب کښلی دئ، چه هم دلته هم هلته له موقع سره دا معنا سمه راځي.

[2] کې.

[3] د دې کلمی معنی مطلوبه ده.

دَ خوشحال دَ رنځ علاج به څوک په څو کا
چه زګېر وائې له طبيبه په اخفا ده

اې چه اصل دِ يَوَه قطره مني ده   پدا هسی رنګ وجود دِ څه مني ده
راشه زړه ورپوري مه تړه نادانه   که ئې ګورې دا فاني دنيا دني ده
عارفانو وته تلخه شوه تر زهرو   په غافل باندِي شيرينه تر ګنی ده
له ګدايه نه لا څه خو مخ جار باسِی   تل تشنه ناسته په وينو دَ غني ده
روغ ئې واړه په کمند دَ مکر بند کړه   آزادي که ځني شته دَ لېوني ده
تل دِ خوښ دَ خوشحال زړه دَ عشق پکار وِئ
خو يو عشق دَی چه دَ ده خوښي هني ده

بذګر چه دانې لوني په مځکه   دَ يوې دانې زر طمعي لَري ځکه
حقيقت دَئ که مجاذ درته ئې وايَم   يَوه ښه ښايسته جل[1] بله کوچکه[2]
چه محنت په ځان قبول کا راحت مومي   خداي به نکاندِي خواري دَ هيچا ورکه
که خبر نه ئې خبر شه حال څه دَئ   په ظاهر ډېر ټګي لَرې له ټکه
هر زمان به دَ اوُبو په فکر نه وُ   بې اوبو که ماتېدَي د ترِي[3] سکه
دا پريشان پريشان وَيل مي د مستی دئ   چه دي مزي دَ ژوند بولمَ[4] څو ټکه
تر ليدلُو نه ئې نه ليدَل بهتر دِي   چه و مخ ته ئې نظر کېږي په کرکه
د دې باغ ګلونه واړه ښايسته دِئ   چه همېش ئې بقا نشته په کځکه
چه ئې مينه دَ زړه سنګو روزي نشوه   په قيامت به دَ هغو تله وِي سپکه
که بوسه دَ هغې دنکي[5] دَ خولې غواړِې   يا ئې دواړه څوني نسه يا څونګه
دا دی واړه ناپوهي نه دَه نور څه دَه؟   چه دَ لويو چارِي غواړِې دَ هلکه
دَ بد ګوي دَ خولې خبري واړه روغي   چاړه[6] توره بې سندانه بې[7] څو ټکه
دا مي شعر په بياض کښ نه دَئ جمعَ   په کجکول کښ مي پرانه دِئ څو کنډکه
چه سرې شنوبې[8] ئې چينم په وخت دَ اوُرِي   بادشاهي دَ اورنګ زيب ځما غرکه
کوم ياغيان هوډيان دئ پرې يستل له هوډه
چه دا هوبنره ډېر دماغ لرې ختِکه!

---

[1] يعني نجلی.

[2] لوچګه.

[3] محشي ورته کښلي دئ: تنده.

[4] يعني زلف.

[5] دسيد راحت په لغاتو کښ ابتدا په ساکن او په ګ دا کلمه په معني د لوړ قد او جګ راغلې ده.

[6] چړې .

[7] کوچنی مطرقه ده.

[8] شلوبې.

بر سېرن شول پیوندونه   په دل[1] نه لَري پندونه
که پدر دَي که پسر دَي   سَرَه بېل لَرِي سندونه[2]
نه امېد شو سَرَه پاتو   نه باور په سوگندونه
نه سزا دا بد کردار شی   نه دَ غله ځَی مړوندونه
دَ اورنگ په ظلم مات شول   دَ بابر دَ وخت بندونه
پدا هسي وخت خوشحاله
مرگ بهتر دي له ژوندونه

بیا ځیره[3] په سر کړه کښېږده له خیاله   چه خوبا دي په خوله نوم واخېست خوشحاله
پیا سینه پسې په دواړه لاسه مږم   لکه باز د هونائي[4] ووزِي له جاله
زه لا هسي کچو گول نادیده نه یَم   چه لاله به بِهوَم ستا له جماله
که دَ مښکو انبارې مې په لاس کښېوزِي   همگي به صدقه کړم ستا تر خاله[5]
ځما مینه هسِي نده چه نوربېږي   که هزار رنگه جفا کړِې ځما لاله
دَ عاشق عمر کوتاه دئ لا پدا یم
که دَ عمر هَرَه ورځ ئې شِي سل کاله

بیا له ورایه په خندا راغله نگاره   دَ ښه کال خوبي ښکاره وِي تر بهاره
مختوری دَ رقیبانُو دَ یار وصل   فلك ښه را سَرَه وکړه دا دوه کاره
دَ گلزار گلوَنه څه دِي راشه گوره   تر گلونو ښایسته دواړه رخساره
لکه روح چه له قالبه نه واته کا   په دا شان مي جدایي کېږِي له یاره
دَ ماڼي توره ئې څه توري پرې باسِي   چه په زړه ئې یَو گزار وِي سل پرهاره
ځما خوار سَرَه چه تل غاړه غړي وه   اوس نظر را باندِي نکاندِي له عاره
دَ عاشق په لاس ژړا دَه تَل دِ ژاړِي   معشوقه چه وېره نکا له آزاره
د معشوقي دَ پالنگ لافي خطا دِي   څو ځما په سر کښ پروت یې دَ سر ډاره
دَ دې کلي طبیبان واړه نا ترس دِي   دَ دارُو په طمعَ مه اوسه بېماره
که هر څو ئې پټوې پسې ئې غواړِې   په دا باغ کښ به یَو گل نه وِي بې خاره
هر ساعت سَرَه یَو نَوي نَوي خیال وِي   که ځما دَپاره بیا ور شې ریباره
که څوک غواړِي چه خپل زړه په غم اخته کا   آشنایي دَه لاس په لاس فتنه تیاره
په یرغ په مصلحت نه دَه ځایي ده   دَ خوشحال چه سریکار شه له اشعاره

---

[1] پدل.

[2] یعنی کناره او گوښه.

[3] دا کلمه فقط په چاپي سنخه کښ (چیره) لیکلې ده چه په معنا ئې نه وپوهېدم.

[4] د دی کلمې معنا هم حل طلبه ده.

[5] له خاله.

که پوستي له پوستو واوړي گُندِي واوړي
دَ خوشحال خو جار واته نشته له ښکاره

بيا مي څه دَ نورُو يار بولې تور مکړه — په ما خوار دِ ظلم ډېر وکړ نور مکړه
وايې سپی غُندِي مِي څو په کوڅو گرزې — څو ژوندَی په جهان پايم، بېغور مکړه
سر تر پايه اخلاصي يم په ياري کښ — په ناحق مِي لباسي بولې زور مکړه
چه په دوه پيالو دَ ميو بد مستي کا — هغه څوک په مجالس کښ ميخور مکړه
يَو عجيب دَ ميو جام دَئ ساقي راوړه — خداوند ئې په دا منځ کښ نسکور مکړه
چه حرمت دَ عاشقانو بکښ نه وِئ — په هيڅ رنگ مِي په هغه کلي کور مکړه
آشنايي دَ ناکسانو دَ ځان غم دَه — ناکسان له خپله ځانه خمسور مکړه
زه چه نن دَ بېلتانه په اور وريتېږم — دَ دوږخ لمبه نسبت پدا اور مکړه
راز دَ عشق دَی فهم دار اوسه خوشحاله
ښکارَوَنه ئې پخپل زوي و ورور مکړه

بې اخلاصه دَ يارئِ جواز نشته — خود پوهېږې بې اَودسه نماز نشته
دَ دانش مرغه هسي پورته ولاړ شه — چه هورې دَ کټه بازو پرواز نشته
که هر څو ئې په سَره اور کښ لولپه کړې — دَ ياقوت دَ اوبو ډار دَ گداز نشته
هغه باغ چه تل مأوا وه دَ بلبلو — اوس په ده کښ دا بلبلو آواز نشته
دَ زړه راز وَ چا ته وَوايم حيران يم — په هر لوري چه نظر کړم همراز نشته
توکلتُ علي اللّه وينا يَوَه دَه
دَ خوشحال دَ زمانې سَرَه ساز نشته

باغ وَئ دَ گلونو بکښ ناست وَئ زه او ته — گل وَئ غوړېدلَي باندِي نماست وَئ زه او ته
زيره زعفراني شوي يا گلگونه معطره — لاس تر لاس نيولي سَرَه زغاست وَئ زه او ته
سپينه خوله دئ راکړَه بيا مِي هم در څخه غوشتَي — نورخواستونه نه وَئ خو دا خواست وَئ زه او ته
تل مي درد و غم وَئ دَ زړه کاست او مهر مينه — تل پدا دنيا دا کم و کاست وَئ زه او ته
رنگ دَ غماز ورک شه راست روزگار دِ در ناراست کا — ځاي دَ ناراست نه وَي سَرَه راست وَئ زه او ته
نمر خېژي خوشحاله چه خروس دَ سحر بانگ لي
شرط دَ پټ نياز دَئ چه بر خواست وَئ زه او ته

بيا د مار غندي راضي له خپله بختَه — چه د غم له پوسته ووتم يك لختَه
بيا هغه حسن و جمال هغه ليده دِي — که د بخت سترگي مي خوږ وې څو وختَه
گرد غبار لړي وريځي تر منځ ولاړې — بيا د نمر سترگه ښکاره شوله له ويختَه
خداي دِ وار، همت ورک نکا دَ مردانو — په دنيا کښ باندي راشي گرانه سختَه
زمانې په هر بازار و گرزَوَلَم — خبر دار ئې کړم د هر بازار له رختَه
د بهار په وخت ئې بيا نشو و نما وي — په خزان چه پاڼي پرېوزي له درختَه

د خوشحال خټك طالع تر خرم[1] ښه دي
چه بندي شو خاوند ېا وروست تر تختَه

پارسائي ئې دَ پارسا له لاسه يووړه   دانائي ئې دَ دانا له لاسه يووړه
چه مي کړې وه توبه له مي خورُئَ   په چشمانو ئې دَ ما له لاسه يووړه
معجزه چه دَ احياء ده په دوه لب ئې   لاس په لاس دَ مسيحا له لاسه يووړه
دلبرانو چه دعوا دَ دلبرى کړه   دا دعوا ئې د هر چا له لاسه يووړه
راته پاتو دا يَوَه مسلماني ده   دا مي هم هغي ترسا له لاسه يووړه
ما وې زه به دَ عشق راز لَرم په زړه کښ   دا خبره مي ژړا له لاسه يووړه
چه دَ زړه صبر دَ يار له مخه غواړم   محبت مي دا دعا له لاسه يووړه
که دَ نورُو هوښياري په عشق کښ پس وړي[2]
د خوشحال ئې لا پخوا له لاسه يووړه

پدا ساه نشته وېسا   هر دم ته وايه اللّه
هر نفس يو غنيمت دَئ   پهره دار اوسه دَ ساه
دَ سالك وَيَل کار کړه   که دَ ځان نه يې بد خواه
دا سالك وَيَل هم دا دئ   ته ئې وايه بې اکراه
چه له خلقه نه زړه پرېکړه   زړه پيوند کړه له اللّه
که هوا دِ کړله ترکه   نور قبول يې دَ درگاه
بادشاهي به دَ هر تن کړې   که دَ خپل تن ئې بادشاه
مُوتوا قَبلَ اَن نموُتوا[2]   پدا راز شه انتباه
په جوار ئې دَ قربت کښ   دَ کم شناختو نشته راه
دَ بيدارو دِ نصيب وئ   ښه دولت دَ سحر گاه
څه اميد دور و دراز کړې   پدا لَږ عمر کوتاه
تل توبه کوَه خوشحاله
چه دِ محو شې گناه

په جهان که لويه چارده دَ مير ښکار ده   که دا چار گورې هر کار لَرَه پکار ده
څو قابو تالاښ دا واړه دي په ښکار کښ   چار دَ جنگ دَ مرتوب که دَ پيکار ده
ورته هيڅ دَ ښکار دَ ذوق خبري مکړه   دَ هغه سړي چه طبعه دَ بيکار ده
آلوده دي په ډېر غم دَ عمر ورځې   چه په شمار دَ عمر نده ورځ د ښکار ده
په خوشحال باندي دِ ښکار هوا ژوندُون شي
مرده دله که پتا باندي بېگار ده

[1] محشي شاه جهان ورته کښلي دي.

[2] حديث شريف دی: يعنی تر مړينی دمخه ځانونه مړه کي.

په خوني هاتي سوره شوه مي پرستَه		زه هم مست هاتي هم مست دَي دا هم مستهَ[1]
خداي دَ درې واړه مستانو سره سر کړ		بله نشته يا به نيست شِي يا به هستهَ
نندارو لره ئې راشي نندارچيو		يوه لويه هنگامه شوله پيوستَه
چه ئې ستا زلفيني گنبېوتې په لاس کښ		لاس ئې پرېوزه که ئې دَی پرېږدِي له دستَه
يار د ما څخه په کور دننه ناست وُ		زه بې روحه گرزېدم دَ ده په مرستَه
نه ياري نه آشنائي واړه لباس دي		چه خبر شوم د وگړي له بربستَه
ما په وړېو سترگو ډېر ياران خوړلي		په ځَير ځَير دِ مخ ته نه گورم له کستَه
د خوشحال په ځَان د ډېرو غشي لك دِي
خو هم ده زده دَي مرِي د چا له شستَه

په خوله کلمه لولي نمونځ روژه کاندِي کافر شته		دعوی کا دَ شيخیَ تر شيطانه لا بتر شته
منطق معني لولي درس فتوی قاضي گري کا		اکثر پدا فرقو کښ که ئې گروې کون خر شته
له گوره لوټه واخلِي استنجا لَرَه وران شِي		تقوی تر هسي حده په اولجه ئې وړي که زر شته
دَ بل کرَه چه ورشي پخپل روي بنديان پرانزِي		په ځَان باندِي چه راشِي کله روي دَ پيغمبر شته
يو ځَای آلوده ندي په دا هسِي دروېشانو		پدا دور که گورې دا ناپاک په هر کشور شته
بادشاه قطب اقطاب دي اُمراگان چه روته گرزِی		کږې څير تړلي دَ هر چا په سر ميزر شته[2]
چه خاص د زمانې دِئ حال ئې دا دَئ نور وگړي		دَ غواوُ د خرو کلِي خالي نوم باندِي بشر شته
چه حال دَ پرهېز گارو سراسر واړه دروغ شو		رشتيا غواړې له چا نه چرته پاتو دا هنر شته
نه مهر محبت نه مروت نه وفا صدق		عالم سرَه برهم دَئ څو دا دور دَ قمر شته
اشنا له هيچا مشې له پخوا آشنايي ښه وه		چه اوس له چا آشنا شي نور ئې څو رنگه خطر شته
تر دې ژوند يو ښه دِی مړه پراته په گورستان کښ		چه نه ئې دا مکرونه نه دا فعل نه دا شر شته
دروغ وَيَل هغه کا چه ئې وېره وِی يا طمع
خوشحال پدا اړ ندي حق به وايي څو ئې سَر شته

په دا سرو شونډو ئې نه ده وينځَه توره		راشه خضر دَ حيوان په چشمه گوره
مخ دَ يار له خطه وخاته مستغني دَي		دَ غني وِي هر اسباب له خپله کوره
چه ئې سيوره په ما وه لکه بادشاه وم		همائي وه ستا دَ تورُو زلفو سيوره
ستا بارخو بله لمبه وربل دِ څه دَي		لکه تور لوگي چه ټول پاځَي له اوره
دَ خپل پله خاوري دِ بيَه په عنبر کړې		درته چا وې چه په دا بهار ئې پلوره
په څو بل لوري ته گورې ځَان نادان کړې		چه په ما باندي غوغا شِي لور دَ لوره
ته په دا حسن دَ گل غُندي زيبا يې!		که زوولې يې له خپله پلاره موره
چه په خوله ئې نوم اخلي روخ ئې نه دَي		عاشقي چه وېره کاندِي له پېغوره
زه له ميو توبه وکړم توبه گار شم		دَ ساقي پياله مي بيا کا توبه نوره
چه ئې څوک په کوڅه پَل ږدِي هغه سر خوري		په جوار باندِي ئې مه گرزه سر خورَ

---

[1] دا بدله په چاپي نسخو کي نسته.

[2] کږې څيرِی تړلی د هر چا په سر ميزر شته، دا مصراع په دو نسخو کښ دوه ډوله ده په قلمی نسخه کښ تر ميزر لاندی محشی پرونی کښلی دی.

که ئې ناز وَي که خیال وَي ما به یووړ   ولي ما سره ډېر کبر کا هرگوره
زور ئې واړه دَ خپل مخ[۱] ورته ښکاره کړ   خوار عاشق ئې ځکه درست پرې یوست له زوره
چه معني ور سَرَه نه وِي وَیَل سپور وِي
خداي به نکا دَ خوشحال خبره سپوره

په ښېوه ښېوه رفتار کاندِي غزاله[۲]   وایې یېښې په مځکه نه کښېږدي له خیاله
و غمزو وَته ئې حکم دَي چه وژنه   هم هغه چه مینه کا ځما له خاله
دَ زړه حال ئې امانت پکښې لیده شِي   چه ئې تن په صافي صاف دَئ تر زلاله
له دوو سترگوُ خبر واخله چه ئې وژنې[۳]   نور به څه پوښتې ځما دَ زړه له حاله
که شیرین اشنا وفا در سره نکا
په جفا ئې هم خوشحال اوسه خوشحال

په دا ښهر کښ دي نه وینم څوک سیاله[٤]   خبر دار نه یَم دَ بل ښهر له حاله
په ښایست کښ دئ ارمان دَ صورت نشته   دریغه دریغه په خوي هم وی څه خوساله[٥]
په دردمنو کښ نن زه یَم بې مانندہ   په دلبرُو کښ نن ته ئي بې مثاله
په دا سپین تندِي دئ طعن په آفتاب شِي   په آبرو دي گرو وَړی له هلاله
نن به ته دا کبر نه کړې نور به څوک کا   چه په خلقُو دئ نارې دئ دَ جماله
که تل جنگ و خرخښې کړې زه برې خوښ یم   ښایسته دَ جهان نه وِئ بې جنجاله
چه د حال پوښتنه نه کړې مرگ مي راغي   کله کله مي خبرېږه له احواله
په پنځه وخته چه لاس په دعا هسك کړم   ستا دَ عمر دعا[٦] کړم په ډېر ډېر کاله
دا بې وخته سپین وېښته نه وُ بلا وُ
چه دَ کښلیو زړه ئې تور کړ له خوشحاله

په دا باغ کښ به دئ پاتې نه وِئ گله   که خبر شې دَ خزان له تطاوله
دا څو ورځې غنیمت گڼه په باغ کښ   چه په تا باندِي سینه وهِي بلبله
مرتبه دَ هغه باغ څه پاتو نه وِئ   چه خالي وِئ دَ بلبلوُ له غلغله
و هغې ښېښې ته نه غړېږِي سترگې   دَ ساقي څخه چه تشه شِي له مله
په دا پُل باندِي دَ خلقو گزر گوره   څوک پر ېوزي، ځني پور ېوزِي تر پله
په درست عمر به ئې نه ووزي له یادو   چه لیدلي وِئ تا رُو دَ باز منگله

[۱] ځان.

[۲] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[۳] چه مي وژنې.

[٤] دا بدله هم په چاپي دېوان کښ نسته.

[٥] محشي ورته کښلی دئ یعني میانه.

[٦] دعا گویم په ډېر کاله.

مقدر به په هیڅ رنګ مبدل نشي که په ځان باندي تل لولې ځلور قله
عاشقان چه عاشقي کا غم به نه کا دَ رقيب او دَ غماز او له چغله
ځه کړم لاس و دست مي نشته قلندر يم کښه ما به دنيا وبازله کله
په پالنګ به خوب په څو بې غمه کاندي چه خبر وئ دَ فلك له تزلزله
هسي يار لَرَم ښايست ئې تر دا قياس کړه چه دَ مښکوُ بوي ئې هيڅ دَئ له کاکله
دَ دلبروُ په ماڼي کښ هم مزه شته
بيچاره خوشحال ئې مري له تغافله

په راحت کښ په دولت کښ ياری ډېري په محنت کښ په زحمت کښ ياران چيري
نه به هر کله بهار نه به خزان وي دا د ستوريو[1] چاري ونيسه په تېري
که مي لاس لکه درياب[2]له درو تش وي ولي سَترګي مي درياب غُندي دي سېري
له يوې فتنې ئې ځان په دعا خلاص کړم فلك بيا نَوي فتنې کا را بر سېري
دَ دې دور په يارانُو باور نشته په زمان ورته اغيار شي يار دَ غوېري[3]
چه به ما ورته کاته له جاهَ نکړه له هغو خبري اَروم تېر و ببرَي
پرورښ ئې که په شهد و په شکر کړې دَ خرما تر خوند به نه رسېږي ببري[4]
دَ دستار دَ مرتبې به نه رسېږي که په لعلو مکمل کړې پائزېري
په ژوندون ئې دَ خوشحال دَ زړه دَ باسې
ستا کردې به ئې په ګور کښ نشي هېري

په طلب کښ د سستي وينم درونېښه چه وتَلي يې د دې خونی له وېښه
نعمتونه رنګا رنګ دئ په هر لوري په غوښتوني باندی نده جفا پېښه
څو طلب هونبره موندل دئ په دا دور بلکه لا تر طلب بخره مومي ببښه
د عسلو خواږه کله هغه مومي چه حذر کا دَ مچی له بده نېښه
لا دَوخته دَ طبيب طلب بايده دئ څو لا پايې په دنيا دَ زړه له رېښه
په هيڅ دين کښ ما وفا ليدلې نه دَه خبر دار يم د هر چا له دين و کېښه
په هر غشي چه زخمي شوم بيا مي وکوت هغه غشي وُ په تن ځما له کېښه
هيڅ پروا اندوه دَ بل د بدُو نکړم خوْ[5] دي پانڅي بلا له ځانه خوېښه

---

[1] دا د ستور، يوه چار ونيسه.

[2] لکه صدف.

[3] په بله نسخه کښ غېر راغلي دَي، غوېره او غوره سيد راحت په يوه معني راوړي دَي يعني منتخب.

[4] دَ هغه وني مېوه دَه چه په عربي ئې سِد يا نبق او په پارسي ئې کنار بولي.

[5] څو مي پانه ځي بلا له ځانه خوېښه.

په پیغام د بوسې[1] سود نشي خوشحاله
چه ځما[2] په خوله مین یې را نېژې شه

په هر لورې دَې فغان دَ مرگ له لاسه — په هر لور په هر مکان دَ مرگ له لاسهَ
دَ آدم صورت ئې مرگ لَرَه پیدا کړ — خرابی شوه په جهان د مرگ له لاسه
همگي پیغمبران که اولیاء وه — دُوې په مځکه شول نهان د مرگ له لاسه
عاقبت به شي بې شکه بی گمانه — دا وَدان کورُونه وران د مرگ له لاسه
راسه ته هم دَ توښې په سر انجام شه — کاروانونه شول روان دَ مرگ له لاسه
اې خوشحاله که په تن شاه جهان شې
هم به درومې په ارمان دَ مرگ له لاسه

په هره کوڅه گرزم که مي چا لیده رنگینه — گل مخه عنبر بویه هوسی چشمه مه جبینه
په خوله غنچه دهانه، په غاښونو در دندانه — په دوارو خوږو شونډُو تر شکرو لاشیرنه
په زنی لکه سیبه په غبغبو دلفریبه — په غاړه لکه زانې سبر قده تن سیمینه
په تور باڼه ناوکه په ابرو لینده بې شکه — په پوزه لکه لندی[3] چه را پاڅي له کمینه
گلگُوني ختي واړه مرصع مني په غاړه — ټېکه پر تندې اېښی په زلفینُو عنبرینه
په خوی خونی خون تېزه مهر چنه چنگ امېزه — بې باکه عاشق کشته بې پروا له دا دودینه
که زر خونُونه کاندې زړه ئې نشې لاندې باندې
لا نور ورپسې غوارې خوشحالېږي څو چه مرینه

پدنیا کښ نعمتونه رنگارنگ شته — دَ دیدن دَ نعمت کوم نعمت همسنگ[4] شته
عاشقی دِ هغه کا چه لېونی وئ — دَ هغو غرض پرې څه چه ئې فرهنگ شته
ما په عشق کښ دا همه واړه تر شا کړه — ته لا ښه یې چه دِ غم دَ نام و ننگ شته
ما وې زه به دَ زړه حال ورته عرضه کړم — یَو غماز ئې تر شیطان بتر تر څنگ شته
په آشتې کښ کشتن دَئ عاشق وژني — همېشه ژوندون هم دا دَئ چه ئې جنگ شته
خدایه ژر یو بل اورنگ لَره پیدا گړه — په جهان کښ ښاَدی نشته چه اورنگ[5] شته
په وار وار ئې دَ خوشحال خاطر صیقل کړ
ولي کړه[6] ته ئې لا پاتو څخو زنگ شته

---

[1] په پیغام د بوسې سود د خوشحال نشي.

[2] که ځما.

[3] د دی ټکی معنی مطلوبه ده.

[4] هم څنگ.

[5] یعنی اورنگ زیب چه پاچا وُ.

[6] ولی کښته ئې.

پروت یم ستا په ور کښ په خیرات مي یاد لَرَه
دانا ښاد خاطر مي په پوښتنه ښاد لَره

څو کړې ظلم جور په څو رنګه طور طور
وکړه فکر غور اندېښنه دَ داد لَره

خیال دماغ دِ ډېر دَئ تر حساب تر حده تېر دئ
مرګ قیامت دِ هېر دَی ښه دا هونبره یاد لَره

مرم په انتظار کښ نشي په زاري زار کښ
سخت ځما پکار کښ تر سندان فواد لَره

شرعَ شته کتاب شته دَ عذاب دَ خوي عذاب شته
ښه که څه ثواب شته ته دا خوي معتاد لَره

خداي وته څرګند دَئ چه د خپل خاطر پسند دئ
څه مهر پیوند ئې هونبره دا عناد لره

خوي خصلت چه ستا دئ واړه پټ ندي پیدا دي
مهر نازک دا دَئ ته ئې تل بنیاد لَره

ملك شته کښته پورته ګورم ستا دَ سترګو لور ته
مه درومه بل لور ته ځاي پدا سواد لَره

زلفي دِ زنجیر دِی پکښ ډېر زړونه اسیر دئ
څوک پدا تدبیر دِئ، چه خوشحال آزاد لَره

پدا کلي کښ څوک نه لرم نېکخواه
چه رشتیا وایَم هم دا لَرم ګناه

له ځوان مرده په خندا په هوس درومې
له نامرده جدا کېږي په آه آه

لکه سیوره وړاندې وروستو را سَره ځې
چه و هر لوري ته ځم سبا بېګاه

لکه لاس په شمار دَ زرو پول توربېرې
په دوستی ئې سړی هم شي روسیاه

زه په رغم دَ صوفي خراباتي یم
چه دَ مکر ذکر کا په خانقا

دَ زاهد پکار کښ څو رنګ اشتباه وِئ
دَ اوباش پکار کښ هیڅ نشته اشباه

که څوک زړه سوځې په ما ځاي دَ زړه سوي دئ
که مي لاس وَئ زه به ولی وم اکراه

چه ئې لافی دَ پاکی کړې څه ناپاک شه
راشه ګوره چه څه حال لَرې تباه

وایې سر په عاشقی کښ درته څه دَئ؟
درته وایم که باور کړې یو ګیاه

رعیت لکه عیال ساته خوشحاله
په یاغی باندې مهم کاندې بادشاه

په هر کار کښ مصلحت شته
خپل پردَې ته نصیحت شته

چه لر بر له مصلحت شې
کله خیر برکت شته

دَ سړي هونبره ښادي دَه
چه په زړه کښ ئې همت شته

چه همت دَ سړي نه وِئ
مهیا ورته نکبت شه

سر هاله په تنه ښه دئ
که دَ سر سَرَه عزت شته

دَ سړي چه عزت نه وِئ
دَ ژوندون ئې څه حالت شته

په صحیح غني هغه دَئ
دَ هر چا چه قناعت شته

دَ نېستی ئې اندوه مکړه
که په تن کښ دِ صحت شته

چه صحت دَ صورت نه وِئ
څه په کار که دِ دولت شته

دین دنیا دِ مبارک شه
که دانا سَرَه صحبت شته

اوس یاري مکړه خوشحاله
دَ یاری سَرَه آفت شته

پخپل قسمت راضي شه، تل دَ بل قسمت مه غواړه　　فراغت دِ مبارک شه که دِ ونیوه دا دواړه
دَ ژوندون پیوند تَړَلي په یوه اومه سپنسي دئ　　دَ جهان غمونه پرېږده نور به څه ژاړې ځان ژاړه
خپل دِئ که پردِئ دِئ قلم وڅکوه په واړُو　　دور دَ فساد شو پخپل زوي و ورور مه وياړه
هر چرته چه گرزم ځنی هسِي چاري وینم　　کار مدار په نن شو، دَ سبا اندېښنه ولاړه
گوره کوم یِو باد دَئ چه په درست جهان را والووت　　زړه په چا ښه نشی لباسی شه خلق واړه
ما وې کلی مېشت دَی چه په کلي باندِي راغلم　　تش کندِه پراته دِئ خالي مېنه دَه اوجاړه
هر چرته چه گرزې په لاحول ترې تېرېږه　　سل بلا په زړه کښ سل داني تسپې په غاړه
ډېره سودا وشوه سل دعوې دَ سود په طمعه　　وخت دَ مازدیگر شو دلَ دادکان ونغاړه

تل وایې خوشحاله چه دنیا وته به شا کړم
لا خو دا دنیا دَه مخامخ درته وَلاړه

بړ بړ راشه نور وزه دل افروزَه　　ستا په وخت مي آسوده شي سترگي پوزه
ستا په وخت سترگي دَ باغ گلَونه گوري　　پوزه هم کاندي دَ بوي خوښي اندوزه
غوږ لا هم ستا له طفیله حظ حاصل کا　　مغني شي عندلیب په څو څو سوزه
په وصال دَ معشوقې عاشق فیروز شِي　　دَ گلزار په وخت بلبله وِئ فیروزه
خپل غوږُونه ورته څك[١] کړه کنُدي واروې　　راز دَ میني دَ بلبلو له لوزه
د نوروز له فیضه بوټي خالي نه دي　　فیض رسي هم تر سپاندِي هم تر ځوزه
که همه عمر دَ باغ گلُونه گورم　　ځما خوا به پرې سړه نشِي هنوزه
دَ بهار هوا هر گوره ښه هوا دَه　　که آفتاب ورپسې ته نه وي تموزه

په راتله ورلَرَه ډېره خوښي راوړی
په خوشحال باندِي دي قدر دَئ نوروزه

پلاو وخورې یَوه لپه　　ننه پریوزې اندر غپهَ[١]
هیڅ خبر نه وي له ځانه　　نه له راسته نه له چپه
نه درود وي نه دي ذکر　　هندو هم به وي بې جپهَ[٢]
چه هوا وی درته ښه کا　　زړه دي ځي په هغه هپهَ[٣]
په هر ځاي چه له چا کښېنې　　یا د راز وي یا د گپهَ
ته به ځان تر هر چا ښه کړی　　که ښه کېږې په غرډپه[٤]

که پخپل فهم طبیب یې
د خوشحال تر فهم ټپهَ[٥]

---

[١] غپ د سپې ږغ ته وایي، دلته نه ورسره جوړېږي ممکنه ده چه غپه وي یعنی غوطه، یا به خپ وي یعني پټ او مستور.

[٢] په هندي ذکر کول او خداي یادول.

[٣] خواهش او هوس.

[٤] په چاپي نسخه کښ (غړوپ) کښلې دي، چه معنا ئی نه ده جوته، اما لکه په قلمي نسخه کښ چه غرډپ کښل سوې دي، معنا لري یعني غر او دپ چه ځان لوړ گڼل او بړ بړ ویل دې.

[٥] په چاپي نسخه کښ رطب کښل سوي دي چه معنا ئې نسوه راته جوته اما د قلمي نسخو ټپ لکه چه صحیح دي.

په رشتیا ویل غوړېږي د زړه غوټه　　دروغجن خو دي لکه سپيَ د غُلو سوټه
په درياب کښ خښته واچوي هيڅ نشي　　په يو څو څانڅکي خوره شِي اُومه لوټه
د هغې ښځې صحبت لکه دوږخ دَي　　چه مېړه وته تل کښېني په مخ نوټه[١]
پدا کار نادان هوښيار واړه پوهېږي　　د کابل خربوزه بِه ده تر پهوټه[٢]
حڅوک خمونه تَشَوِي مستي ئې نه وي　　څوک دَ ميو عربده کا په څو گوټه[٣]
د هغه ياري په کار نده خوشحاله
چه له خپلي خولې وباسي وينا جهوټه[٤]

په هره تنگه خوله کښ برابر ندي خواږه　　په ځنو کښ حلوا دِي څوک نبات لَرِي تاږه
سَمِي کږې ږېرِي پخپل زړه لرې خپل يار ته　　ځکه دِ دَ زلفو وېښته سَم وئ هم کاږه
بخت دَئ چه ئې اوس ستا له لبانو سرَه ښنمه　　تا مي چه دَننه زړه په سره پېزوان ځاړه
زه دَ زړه بدخواه وم ما پرې وکړ پرهارونه　　څه لَره مي وَئ دَ يار غمزو لَره لاړه
اور لرې په مخ کښ چه پټا مين کېدلم　　ما به پدا بله لمبه ننه زړه ځاړه
زلفی دِ تور مار دي زه ئې هسي وخوړلم　　مرَم راباندِي نه ځِي دَ دم گريو هيڅ پاړه
مست يم مَي پرست يم زه خوشحال په خرابات کښ
له ميو به وانوړم که مِي وژنی په وراړه

تا وې نورِي تر ما ښې دِي پسې درومه　　راته وايه تر تا ښه دَه بله کومه
چه مِي ستا وَ خرخشو ته نظر وَکړ　　دَ جهان په مخ به نه وئ هسي سلومه[٥]
دَ خاطر مرغه مي ستا په زلفو بند شو　　اوس به چرته ځِي چه نښتي دَئ په لومه
دا چه وايې درومه صبر کړه له ما نه　　بيا مي کومه بې صبري وه در معلومه
په عاشق باندي ئې تل ظلم و ستم وِي　　ستا دَ سترگُو وېره نشِي له مظلومه
زه لا اوس په زړه تنگي نوي عاشق يم　　په خندا خندا بورجل لَرَه را درومه
په خوشحال باندي که تل نارې سورې وِي
باز پروا کا دَ کارگانُو له هجومه؟

تا هنر دَ سرداری نه زده بهرامه　　سرداري دِ په خپل دور کړه بد نامه
هم تمامي خېلخانې لَرَه بلا شوې　　هم خپل ځان لَرَه بلا شوې بد فرجامه

---

[١] يعني په ترېو تندي وا نارضايي، په بله قلمي نسخه کښ دا مسری داسي ده چه مېړه وته کښېني په نغر لوټ.

[٢] محشي ورته ليکلي دِي چه يو ډول بې خونده خټکي دي مگر دا د هند مشهوره مېوه ده.

[٣] يعني يوه هنده او يوه جرعه.

[٤] يعني دروغ، دا کلمه هندي ده.

[٥] څرگند، نوموړی.

تا طاهر دَ کم عقلی په جرگه مړ کړ — اوس فارغ شوې دَ طاهر[1] له انتقامه
تا خپل ځان لَرَه دَ مرگ رخنه پیدا کړه — خېلخانه دِ په بد خوي کړه بې آرامه
په دا هسي بد خویی بې بخت نه یې — چه لا نه یې دَ خوني هاتي تر زاله
مشر ورور دی په زندان کړ ته خاني کړې — دا خاني دِ شه په ځان پورې حرامه
چه خانی ته دِ هوس دئ زړه په زور کړ — لا ځایي وه ستا دَ زړه اندېښنه خامه

نور دِ نوم د ما دَ زویُو په شمار شمار مشه
د خوشحال ختِك وینا پدا تمامه

تل په ځان کښېږدې تازه تازه نومونه — زه دِ پېژنم دَ زلفو په خمونه
نه ئې څوک ویني په سترگو نه په خون کښ — چه را رسي ستا له غمه دا غمونه
که مي ته دَ زړه له سوزه خبر نه یې — خبر دار مي پدا حال دي عالمونه
لکه ستا باڼه په شمار په حساب ندي — هسي ستا دَ سترگو ډېر دِي ستمونه
بیا مِي هسي دا غمزې په غشیو وله — لکه تل دِ په ما خوار کړل کرمونه
نه چه زه یواځې ناست یمه ویرژلَي — لور په لور دي ستا له لاسه ماتمونه
ستا دَ تورُي دَ گزار حاجت هیڅ نشته — په وکښل ئې د عالم خېژي دمونه
مگر څوک په غاړُو غرونو ژوندی گرزي — ستا سپروُ په ویڼُو وَلړل سمونه
چه ډېر ډېر به ئې کښېښول پرې پرهارونه — طبیبانُو څخه ورک شول مرهمونه
اوس دي غم لکه لوي غر دَي راته پاتُو — غر به نه اوړی دَ جا په اړمونه
یا دِ ستا دَ مخ ثنا خوشحال ختِك کښ — یا دِ نه نیسی په گوتو قلمونه

چه خوشحال ئې په کاغذ یا په قلم کښ
په خاطر کښې هنوبره ندی المونه

تل چه ارته لمن څکوې په مځکه — غره توب لرې دَ مخ په خوبي ځکه
په بېسر دي رنکارنگه ټکي گوره — پدا شان به ښایسته نه وِي لوڅکه
چه دا هسي شېوه گره ځني زو وې — سَړی نه وُ ښاپېرَي وُ ستا ادکه
دَ مستی له مخه دا پرېشان ویَل کړم — چه دئ مزَي دَ ژوندون بولم څو ټکه
زه به تا وَته نژدې شم تا به گورم — که د ما گنده نه کېږي ستا کرکه
په بوسه مي دَ لبانو سر فراز کړه — همېشه په زړه لَرَم دَ شربت سکه[2]
لېونی دي د جمال نه یَم نور څه یم — چه پخپله خونه نه پرېږدم ککځکه
لَون لَون شو لانونه[3] دَ شاهانوُ — دَ هر در رالَرَه بس دئ څو کنډکه
سر بازم وصال دئ غواړم هغه زه یم — لکه څوک چه په بل لوري غواړي ورکه
دَ ښایست بخره ئې ورکړه د ترکانُو[4] — محبت را پیدا کېږي له تاجکه

---

[1] ظاهر.

[2] محشي تنده ورته لیکلې ده په چاپي نسخه (څکه) لیکلي ده، یعني ذائقه.

[3] محشي ورته طعامونه لیکلي دئ.

[4] و ترکانو.

چه ئې توره په کار نه وِئ حبطه دَه که ئې روغه وِئ دَ سپینُو زرُو تکه[1]
مگر تا ښخه سامان دَ سلطنت دَئ:
چه په هوډ می سپېنه خوله غواړې ختکه!

تور وربل دِ په سپین مخ را آشفته شه سمن زار دِ په سنبل کښ نهفته شه
عاشقانو دِ آرزو وکړه لیدن ته چه دَ کښلِی مخ صفت دِ شنفته شه
ښه خو سر له غرفې هسك کړه وئې گوره لاله زار دِ په جوار کښ شگفته شه
تا چه زلفی پېچاپېچ سَره وَلول کړې په گلونو کښ یو تور منگور خفته شه
هغه دُر دِ فخر کا که ئې تمېز شته چه ئې پاسه دَ تېکی په تار سفته شه
ستا دېوال مگر دَ عشق په خښتو روغ دئ چه ئې شیخ تر سیورِي کښېناست آشفته شه
ځکه هسي رنگه بوي لَرِي خوشحاله
دا غزل چه دَ بهار په وخت گفته شه

په زړه مي هسي نهال يې اې له دوو سترگو غايبَه که بله نامه وايم نامه ستا راشي په ژبه
هر دم مي ډېره ښله اضطراب شي ستا ديدن ته په تَبِږي باندي تل وي دَ اوبو مينه غالبه
تروه ترخه که نه وَي خوږو قدر به نه وُ سکه ځکه جدائي شوه آشنایی سره واجبه
یوه دَ بېلتانه رنځور گرانه ده که نه وِي نور همه زحمت آسان دي که نس خوږي دِي که تبه
نا ښاپه دوه مشتاق چه سَره وَویني په سترگو تر دا به بله نه وِي په جهان کښ عجائبه
په ډېر ضرور خوشحال دَ یار له مخه جدا کېږي
اروا کله راضي وِي چه بېلېږي له قالبه

په هغه جهان به خلاص وِي له عذابهَ که دلې ئې سريکار وِي له کتابه
واړه زه یم چه مي هسي شراب بد کړل گڼه کومه بدي غواړې له شرابه
د شیطان له چارو لیري لیري گرزه یو درنگ مه اوسه بې چنگ بې ربابه
د ښه مخ په ننداره کي خیریت دَئ که ځما له لوریه چار نشي خرابه
چه دا هسي ارت ملك په خپل سر تنگ کړې په خلوت کښ دِ چه ښه سود دَي شیخ و شابه
چه ئې سرې لمبې په ځان کړې قبولي د ښه بوي نفس پیدا شوله گلابه
هم حېوان ئې هم سړی یې هم ملك یې که ته ښه په ځان خبر شې له حسابه
که خبر له حاله نشې درته وایم په بَل نام به باله نشې بې دوابه
که پخوا ئې خرابي ده چا لیدلې بیا به هم وِي د وجود مېنه خرابه
هر طناب ئې و دانا وَته معلوم دَي دا خېمه وَلاړه نه ده بې طنابه
دَ خوشحال ختك په ژبه برکت شه
چه ویَل کا په پښتو له هَره بابه

ته چه هسي په غوغا درومې سیلابه ولي هسي په ساعت کښ شې بې آبه
آفرین دِ په همت دَ لوي دریاب شِي چه په هیچري ئې چار نده کربابه

[1] د قندهار په اصطلاح تېکی یعني غلاف.

چه په پورته د کاغذ وګړۍ درومي — که رشتیا ده دا دِ درومي بې طنابه
د طوطي ژبه استاد غواړي د نطق — ګڼه دَی به لا بتر وُ تر غرابه
چه په مخ کښ دِ نابود شِي واړه ستوري — د اسمان په ستوریو وَ خېژه آفتابه
که لمبې ور باندِي بلي کا اېرې شِي — د ژوندون هنر به نه ځِي له سیمابه
له یاقوته دِ هاله سیالي شبَه[1] کا — که دَ اور په تاو کښ دا نشِي بې آبه
چه مرغونه وزر بیا مومي آلوزي — هیڅ مقصود تر سرَه نه ځي بې اسبابه
په ځوانی کښ اوده وُ په زوړ والي
د خوشحال سترګي بیداري شوې له خوابه

توره چه تېرېږی خو ګزار لَرَه کنه — زلفي چه وَلَول شِي خو خپل یار لَره کنه
ولي راته وايې چه په کښلیو نظر مکړه — سترګی چه پیدا دِي خو دیدار لَره کنه
شیخ دِ نمونځ روژه کا زه به ډکي پیالې اخلم — هر سړَی پیدا دَیٔ خپل خپل کار لَره کنه
تا وې چه ځما دَ خولې بوسه لکه دارو دَه — غواړم دا دارو دَ زړه پرهار لَره کنه
ویني مِي د زړه خورې مګر نور څه لَره ندي — زړه ځما پیدا دَي تا خونخوار لَره کنه
څه ژړا فریاد کړې دَ شهی دَ تورو زلفو — ته ورتلې پخپله دې تور مار لَره کنه
خود به ستا تر مخه دَ ګیاه غُندی څرګند شي — ګل دَ لاله راوړه خپل رخسار لَره کنه
مَی شته چنګ و نَي شته دَ خپل یار سرَه خوشحاله
خپل بیاض په لاس کښ خو ګلزار لره کنه

تونګران په ملك و مال لَري تکیه — دروېشان په ذوالجلال لَري تکیه
دَ عارف ژبه ئې بند ګړه له مقاله — عالمان په قیل و قال لَري تکیه
دَ عاشق سرَه چه هونبره استغنا کا — ښایسته پخپل جمال لَري تکیه
که تکیه دَه خو تکیه دَ یوه خدای دَه — چه په بل ئې کړې څه حال لَري تکیه
دا نابودي تکیې ګوره دَ وګړِي — چه په ستوري چه په فال لَرِي تکیه
دَ دنیا تکیې ئې ولیدې په سترګو
نور به چا وته خوشحال لَري تکیه

تر هر چا دَیٔ د ما یار ښه — شکر لب و شیرین بار ښه[2]
تر سنبولو ئې ښې زلفي — تر ګلونو ئې رخسار ښه
توري سترګي تورِي ورځي — تور ګېسو ئې تار په تار ښه
تنګه خوله ئې نېسته هسته — لکه خوله هسي ګفتار ښه
لکه دُر هسي غاښونه — لا تر درو سپین هموار ښه
تر وېښته ئې ملا نری — تن ئې لا تر سپېین چوتار ښه
قد ئې ښه تر سبر وني — لکه قد هسي رفتار ښه

---

[1] په چاپي نسخه کي لمړی توري زېر او دوهم توري زور لري، په قلمي نسخه کي محشي (مشکېی) ورته کښلي دي، چه مصنوعي مرَی ځني مطلب دي.

[2] خداېه راکړه د ما یار ښه — شکر لب و شیرین کار ښه.

چه هر ځای وته ئې گورم   سر تر پایه پریوار ښه
خدایه ماتِي هغه خولې کړې   چه به وایي هندو بار ښه
هونبره کلي ډېر ښهرونه   پکښي نشته یَو نگار ښه
چه پکښې خواږه یاران دئ   پېښور تر هر دیار ښه
په موسم دَ ښو گلونو[1]   تر هر څه دَ میر ښکار ښه
ښه په هند کښ چنبا گل دئ   تر دا گل دَ وطن خار ښه
دَ سرای قدر نور چا نزده
په خوشحال دَي تر فرخار ښه

تا وژلی هم له خپله لاسه ښخ کړه   له دِ زړه باندي یخیږي زړه پرې یخ کړه
رقیبان دي لکه سپي دِي په کوڅه کښ   چه انگڼ دِ پاکیزه شی واړه چخ کړه
دَ جنت مېوې[2] مې نورُو ته بخښلي   کله کله ځما په خوله سېب دَ زنخ کړه
هغه واړه مهیا دی په هجران کښ   چه واعظ وَ ما ته شرحَ دَ دوږخ کړه
که پرواز دِ دَ شهباز دَ شاهین ندئ   دَ مطلوب په لوري پرونه دَ ملخ کړه
چه دَ قدر دَ وصال نه وُ خوشحاله
په فراق دِ ښو یارانو اوس آوخ کړه

ته چه دا حسن لرینه   ځکه هونبره کبر کړینه
تورِي سترگي په کجلو   په تنبولو شونډي سرینه
په مثال لکه شاهین یې   چه دَ زړُونو غوښی خورینه
که ته هر څو ښایسته یې   کبر مکړه وَ به مرینه
دَ خوشحال خاطر مفت ندي
فهم وکړه چه ئې وړینه

چه پلَو له مخه نه اخلِي دلبره   مگر شپه دَ خوار عاشق شوه بې سحره
نه ئې زړه په ما نرمېژي نه گروهېږي[1]   خدایه څه مِي سریکار شُو له کافره
نه مِي خوب نه مِي قرار نه مِي آرام شته   همیشه را باندِي تبه وِي شېبره[1]
دَ وصال امید رمق دَي لَږ را پاته   او کنه بېلتانه وَوژلم اکبره!
په یوَه نفس کښ زر خطونه راوړي   په هر لور چه غورزَوَم دَ زړه کوتره
دَ معشوقي په پالنگ به هغه خېژي   چه له سَرَه نه بیرون کا دَ سر ویره
غلېواز چه هنر نه لَرِي آزاد دَي   باز په دواړُو پښو بندي دَي له هنره
څه وه څه شوه خبر نه یَم بیا به څه شِي   اې یوه خدایه ځما په حال خبره
څه یَوَه نېزه څه دوه څه تر دا زیاتي   دَ غریق اوبه چه پاس واوړِي تر سره
مگر خضر مي مدد شي دعا را کا   چه لاهو بېړۍ مِي وَوزِي له خطره

---

[1] دا دري وروستني بیته له یوې قلمي نسخې څخه را نقل شوه، په نورو کښ نشته.

[2] منې.

څو ئې ځله هر ساعت شِي هونبره ځله
دَ خوشحال سينه لګېږِي له حجرهَ

چه دا هسي په پالنګ راغله نوخېزه — الوداع دَه دَ خوشحال خټك پرهېزه
عقل لو عشق چه سَرَه دواړه په دعوه شي — بل مجال دَ عقل نشته بې ګرېزه
هم پخپله جنګ آغاز كا جنګيالىِ — هم پخبله صلح كاندِى صلح آمېزه
په بازي بازي وژلي كُټل نشي — په خندا خندا خونونه كا خونرېزه
زه د كښليوُ په دا كار پوري حيران يم — چه له چا نه زده كَوِي هونبره مكېزه
كه له دله ئې شلوم شلوله نشِي — دَ دلبرُو ياري څو ده دلاوېزه
غچول ئې هسي نه دِئ چه څه پرېږدِي — تر الماس ئې دَ غمزې توره دَه تېزه
قند و ګل سَرَه دا هونبره لذت نكا — چه خوله وركا دَ زورل سَرَه آمېزه
د معشوقي نوم عاشق په جهان خوز كا — د شيريني بازار تود دَئ له پروېزه
كه مي بې له تا نه نوره ياري وكړه — راته ګوره را څكوم حديث په ببېزه
په كاته كاته زړه لا درته تاوتاو شِي — دَ لرګي لښتي په غاښ كړې رېز مريزه
چه ئې سوز نه وئ له سازه — يا ئې سر له[1] سرو نازه
دَ ژوندون راحت ئې كوم دَئ — راته وَوايه همرازه!
غم مى واړه تار په تار شِى — دَ هر تار له ښه آوازه
په هر ځاُي چه ښايسته وي — ترې سلام مي دَئ له نيازه
ځما لاس له كاره ووزِي — چه په كار كښ شې شهبازه
چه دَ كښليو ننداره كړَم
ورته پاتو شم خوله وازه

چه له عشقه بله چار ګڼى افزونه — تر دا بله اندېښنه نشته زبونه
باور وَكړه چه د عشق په كاروبار كښ — كه زيات نه يم كم هم نه يم تر مجنونه'
ظاهري ګونه دَ زړه په حال ګواهي لي — كه هيڅوک ندي خبر له اندرونه
ته ناترس به ګوته هم پرې لنده نكړې — كه له دوو سترګو روان كړم دوه سيندونه
چه دَ زړه له تاوه وَوزِي غه خبره[1] — اثر وكاندي آخر په واړه زړونه
كل عالم دَ بېلتانه له لاسه زار كا — زه په څو خبرو خوښ يم له بېلتونه
يو ئې قدر دَ وصال راته څرګند كړ — بل ئې سهل را ښكاره كړه نور غمونه
چه تا شان دَ ليلي كړ زه پوهېدلم — چه به ستا له لاسه ځاُي كړم غاړي غرونه
چه يك لُخته دِ خوشحال له زړه نه وَيوست
در پوهېږم ډار دِ نكېږِى له خونه

چه وفا ئې له چا نه مونده په مځكه — وَ اسمان وته روان شو عيسى (ص) ځكه
په زرګونُو راته لاف كړې اوس يو نشته — آشنايِي له هر چا ښه دَه بې خټكه
دَ هغو له خولې كږې خبرِي اَورم — چه به ما وَرته كاته كوَل په كركه

[1] هغه خبره چه د زړه له تاوه ووزى.

دَ راحت په وخت چه تَل تر تا ځاربږي په سختي کښ وېزاربږِي له ابکه[۱]
ما وې واړه په احسان ځما بنده دَئ همګی ئې زيست روزګار وُ له کوتکه
دَ معني په سترګو ګوره له دانا يې په ظاهر جامه که ښه بربښي لټکه[۲]
مروت ياري ترې مه غواړه خوشحاله
هر سړَی چه اُوبه وَڅښي له اټکه

چه ئې تا غُندِي را درومي په پوښتنه رنځوري دَه دَ هغه رنځور سودمنه
دَ بسير موتي د لاس د سکندر کړ[۳] ښوريده ئې اشارت په جار و تنه
تل په تا پسې غمجن يم هونبره نکړې چه مي وَ پوښتې څه حال لرې غمجنه
که دِ سر له ما نه غوښت لتا می دربغ کړ بيا هاله وايه وَ ما ته دروغجنه
زړه مي ستا په لاسو درکړ تا خراب کړ هلك څه زده دَ زيبا طوطا ساتنه
خداي دي لاس دَ هغه چا په ته کښ پرې کا چه په قصد به پرې کوِي دَ ګلو وَنه
که يو ځَل ئې طماغه[٤] له سَرَه پرېوزي چوز و باز ووته څوک ښئي وهينه
که دَ کښليوُ وعده هر کله خلاف دَه خداي دي تا دروغجن نکاندِي په ژمنه
وَ خوشحال ته خو هم دا وايه مطربه
چه ځار ځار کله به رايشې مينه!

چه نه لَرِي ننګونه وئې مه وينې رنګونه
دا د ننګ دَپاره ګرزم پدا هسي ګړنګونه
صد رحمت را باندِي ښايي پدا هسي آهنګونه
په څو به ځَني درومې چه دَ زړه لَرم زنګونه
مهدي له غاره ووزه کښېږده پښه په پلنګونه
نه دين شته نه آئين شته شرم لاړ په فرسنګونه
مختورن[٥] ظالمان ډېر دِي چه آخلي قلنګونه
دَ عدل توره واخله ملك اسلام کړه په جنګونه
بيداره اوسه زرکی شاهين[٦] ګرزي په څنګونه
خوشحاله فهم وکړه
چه پر ېوزي خرسنګونه

---

[۱] يعني پلار.

[۲] يعني هغه توره چه په جنګ کښ کار نه کوی، پڅه ئي مخ اوښتې توره.

[۳] د بسير لولو د لاس د سکندر شوه.

[٤] محشی ورته ټوپی ليکلې ده.

[٥] مختوري.

[٦] شهباز.

چه دا هسی ښایسته ئي زیړه گله   ځکه تا په ځان شیدا کړمه بلبله
چه ئې طور ستا دَ تورُو زلفو واخیست   ځکه بوي دَ مهر نه ځي له سنبله
دَ لبانُو بوسه بیا ورکړه مشتاق ته   چه مستي ئې لا اثر وکړي تر مله
چه په پټو سترگُو ناست لیدل دَ یار کړم   خلق څه خبر له هسِي رنگه شغله[1]
راشه خپل وژلي گوره پخپل وَر کښ   په غمزو په خرخښو په تغافله
چه دَ خلقُو له نظره ئې امان وئ   همېشه وربانديِ لولم څلور قله
لکه یار را سَرَه وُ په هغه شان دئ   ښه چه بیا دئ مخ توري وشو چغله
لا به کله سر ځما په غېږ کښ کښېږدي   چه دَ مښکُو بوي دئ دروُمي له کاکله
څوک چه صبر ستا له مخه راته وايي   ځما څه غرض له صبر و تحمله!

درست عالم دئ په خوشحال بانديِ غوغا کا
باز پروا کا[2] دَ کارگانُو له غلغله

چه ئې بخره ازلي راغله اصیله[3]   دا فلك ئې همېشه گرزي په سیله
چه عزیز ئې پخپل فضل و په کرم کړل   چار به نشِي د هغو چېري ذلیله
چه پخپله ئې عطا په خلقُو نه کا   دَ هر مال بخره به واخلي له بخیله
دَ حاتم په مسند ناست هغه زلمَی دئ   چه دنیا ئې په هر چا بانديِ سبیله
دَ عارف په بخره علم لدُني دئ   په الست ئې روزی شوی بې تحصیله
چه ئې واړه آمنا و صدقنا کړه   دَ دانا وینا به نه ویي بې تاویله
دَ دې دور درویشان خلیفه بس دئ   اوس خپل ځان لَرَه بل کار کړه عزازیله
که کامل دئ په جهان هغه کسان دي   چه فارغ دي دَ دنیا له قال و قیله
عالمان دِي ره زنان چه غواړي نغاړي   عالم عالم لَرَه زده کړي څو دلیله
دا جاهل شیخان شیخان نه دئ شیطان دئ   چه فساد ئې پیدا کېږِي له تهلیله
که دَ یاره نه جدا وِئ دوه درې لوېشتي   و عاشق وَته ښکارېږِي دوه درې میله
زه هم ځکه په جهان کښ بې عدیل یم   په جمال مِي معشوقه دَه بې عدیله

چه آرام ئې دَ خپل یار په لیدوُ وشو
دَ خوشحال له دله څه غواړي تعجیله!

څه به ووایې خوشحاله   له تکمیله له کماله
د هغه مرغه څه نوم دئ   چه په اور کښ لَري ځاله
هم بېچون هم بېچگون دئ   هم بې مثله بې مثاله
هم بې سره هم بې پایه   بې وزره هم بې باله
په یَوَه نفس آلوزي   څو عنقا درومي څو کاله

---

[1] شخوله.

[2] باز پرواز کا.

[3] دا بدله په چاپي دیوانو کښ نسته.

دَئ میوه د هغه باغ خورِي　　چه ئې ونه نا نهاله
چه په دا مشکل خبر شې[۱]
ځان به خلاص کړې[۲] له جنجاله

چه په درست تومن اوڅارهٔ　　نن هغه ده ځما یارهٔ
لا جنوتې سر کنډي　　چه حجاب نه کا له پلارهٔ
یو سورکی پیزوان په پوزه　　ور بلوڅې یو څو تارهٔ
مخ نسرینه مه جبینه　　سنبل مویه پري وارهٔ
شکر لبه پر طربه　　هوسی سترګې ګل رخسارهٔ
قد عر عره مو کمره　　سر تر پایَ قلم کارهٔ
په زړه سنګه شوخه شرنګه　　جفا خویه زړه آزارهٔ
زه ئې قتل په لیدل یم　　دا را نه ده پروا دارهٔ
چه مي نوم ورته څوک اخلي　　و ښکنځولوُ ته تیارهٔ
څه کړم کوم فکر علاج کړم　　دم واهه نشې له ډارهٔ
د دې خوي خصلت دا هسي　　ځما دَه مینه بسیارهٔ
دا یَو څه علامت وشو　　په ما خوار دَ خداي دَپارهٔ
که پَتِ نیاز ورځني غواړم　　په نیاز نه ده خبردارَه
که خپل زور باندي ښکاره کړم　　خیلخانه لَري خونخوارهٔ
که ئې وغواړم په زرُو　　زر هم ډیر غواړي بې شمارَه
نه په زور شي نه په زر شِي　　په جهان دِي دا دوه کارهٔ
دَ خوشحال تکیه په خداي دَه
بیا پتا دَه شیخ رحمکارهٔ

چه مي ستا کوڅه مأوا شه　　غم ځما له زړه سوا شه
ستا کوڅه لکه بهښت ده　　په بهښت کښ مې زړه وا شه
زړه مي ستا دَ مخ په دور　　له چمنه بې پروا شه
هغه راز چه دَ خلوت وُ　　وَ هر چا وَته رسوا شه
عالم درد لَره دوا کا　　دَ یار درد ځما دوا شه
شانه ورو وهَه په زلفو　　پکښ زړه مې سر هوا شه
چه ته مهر باندِي نکړې
خوشحال ځکه بېنوا شه

چه مِي ولیده پخپل انګښ ولاړه[۱]　　ما په ټیکي سترګي بیا مونده بیا ولاړه
که ښه مخ وته کاته کَول ګناه دئ　　دا ګناه دي وِئ دایم د ما په غاړه

---

[۱] محشي ورته لیکلي دي، چه مراد له دې هم مذکوره حقیقي زړه دئ.

[۲] خلاص کا.

یو څه بځن[1] زړه ئې راکړ هسِې وايم — چه د ما وَي دَ جهان دلبري واړه
زه جدا له ياره کوم خير ناصحه! — په ژړا کښ راته وايه خير غواړه
دَ ښه يار په جدايَی کښ گرم نه يې — که دِي دواړه لېمه ووزِي لا هم ژاړه
دَ طوطي خوراک شکرِي دِي خوشحاله ته
جگي جگي څه خو ورکړه دَ خولې لاړه

چه د زړه اخلاص دِ نه وِي له معبودهَ — لا عجب که ئې راضي کړې له سجودهَ
محرمانو اجازت موندلَي نه دَي — گڼه ډېر به ئې خبر کړل له دې سودهَ
محبت غلام بادشاه بادشاه غلام کا — خبر واخله له ايازه له محمودهَ
خداي ځما تر فهم ښه[2] د عشق هنر کړ — که دا جار ده نور عالم وته نابودهَ
تورو زاغو د گلونو قدر څه زده — له جماله ئې بلبله شوه خوشنودهَ
په سند به د همه زړونو مردود شې — که دِ چار شِي تر يوه پوري مردودهَ
تر مطلوبه پوري شرط دَ رسېدو دَي — که تمامه لار په وينو شې آلودهَ
خو يو بخت دِ ناسازي را سَره نکا — تل کينه کوه له ما سَرَه حسودهَ
کل مقصود دَ زړه هورې چه هغه يار وي — بخته را شه ته مي ور وړه تر مقصودهَ
ما خوشحال ئې سودا کړې ناديده دَه
که کالي په بهانه ځَي بې نمودهَ

چه دَ دواړو سترگو ښېر در څخه شته — پرئې خوره له ځَانه ښېر در څخه شته
آئنې وته نظر کړه او گل بوي کړه[2] — چه خپل مخ دَ گل په ځېر در څخه شته
که د زړه ځما په زړه دَئَ چه ئې ټول کړې — ټولَوَه ئې چه کمښېر[3] در څخه شته
ډېر به ما غُندې په عقل تېر و بېر کړې — چه وربل دِ تېر و بېر در څخه شته
تل دعا دربانديِ کا ځني خبرېږه — يو څو خوار له دله هېر در څخه شته
که جمال که ناز و خيال که کرشمې دِي — دا تر شمار تر حساب تېر در څخه شته
لَږ دَ مهر دَ وفا خويونه زده کړه — دَ جفا خويونه ډېر در څخه شته
عاشقان غريبان وژنه صرفه مکړه — دَ غمزې تېره شمشېر در څخه شته
که ډک مهر دَ خولې په خوشحال وکړه
خو که تش مهر برسېر در څخه شته

چه دا هسي رنگ مانې کړې بې گناهَ — ويره نه کړې دَ عاشق دَ زړه له آهَ
چه په هر لورِي روانه په شيوه شې — در سره ځما دعا درومي همراهَ
چه دِ هونبره ډېر دماغ وته وَگورم — بل دِ سيال په جهان نشته بې بادشاهَ

---

[1] په اصلي نسخه کښ بځن دي څه معني ئې نسو را ښکاره، د پښتو مرکې په لوي قاموس کي بخن په معني د رنگ ليکلي دي په قندهار کي هم دا کلمه سته مثلا واېي تور بخن، ژړ بخن وغېره، دلته هم ورسره جوئېږي يعني څرنگه زړ٠ ئې راکي.

[2] نظر کړه گل بسو کړې.

[3] د دې کلمې معنی حل غواړی.

معشوقه مي دَ عاشق غندنه نه کا   گل بورا وته ونه وې توره سیاهَ
یا په ما باندِي مَیَنه کړې دلبره   یا مي مینه ځَني ما ته کړې اللّهَ
چا ته حال دَ زړه معلوم کړم خبر نه یم   یَو نېکخواه په جهان نشته بې بد خواهَ
رقیبان دي غوغا کا پروا مې نشيِ   شېر به کومه اندېښنه کا له روباه

په یوه گزار ئې درست مقصود پوره شو
چه نگاه ئې په خوشحال وشو ناگاهَ

چه له هر چا طمعه پرې کړې سلطاني ده   که دِ زړه په خاموشي کښ سبحاني ده
دَ خاتم دَ سخاوت خبرې مکړه   لا پدا کښ هم دَ طمعي ښباني ده
په څو رنگه دَ یارئِ صفت کېږِي   زباني یاري، ناني یاري، جاني ده
تر جاني یارانو هر څه صدقه کړه   هم پدا سبب پکار دنیا فاني ده
دَ دنیا په پرېشاني کښ جمعیت دَئَ   دَ دنیا په جمعیت کښ پرېشاني ده
چه له دوسته له دښمنه ښه سلوک کا   دَ هغو سړَیُو ښه زندکاني ده
چه په کور کښ مي څه وُ تر وارو تېر شُوم   و خپل یار وَته مي هسي مهماني ده
په زرگونه کتابونه ملا لوليِ   الف بس که ئې غرض مسلماني ده

په نادان بادِندي هم رحم شته خوشحاله
معذرت د نادانانو، ناداني ده

چه دا هسي ئې اغازه عربده کړه   مگر تشه ئې له میو میکده کړه
عقل ډېره شعبِده لَرِی په میُو   ساقی تار پتار ئې هره شعبده کړه
ښه جمال لَره پیدا کړه ځما سترگی   له غه پسه ئې جمال مشاهده کړه
یَو ځَل بیا له زېبا مخه پَلَو واخله   دا په غم کښ پراته لا په غمزده کړه
ستا له غمه چه ډېر ډېر همېشه ژاړم   د واړو سترگو مِي خجله نربده[1] کړه
دَ ویشتلو اه چه ولگي ښه ندئ   لا دَ وخته ئې دَ زړه له حاله زده کړه

دَ قلم له سَرَه تور لوگي روان شو
چه خوشحال دَ دې غزل مسوده کړه

چه ئې میاشت کړه دَ اسمان دَ پاسه شقه   چه اَفتاب ئې را ښکاره کړ له شفقه
چه په سر باندِي ئې ابر سایه بان وَه   چه ئې پاتو جبرئیل شوله ابلقه
چه خوږې ئې دَ خولې لاړي تر عسلو   چه همه علم ئې زده شو بې سبقه
چه جمال ئې ښایسته په ملاحت وُ   چه دَ مښکو بوي ئې هېڅ وُ تر عرقه
چه سایه ئې دَ وجود په مځکه نه وه   چه بره ورته گویا شو له طبقه
چه ئې تار په تار دَ باد په مخ خواره[2] کړل   دَ تورات و دَ انجیل واړه ورقه

---

[1] "نربدا" یو رود دی په هند کښ.

[2] خپاره.

دواړه[1] کوَن په طفیل دَ هغه دِي مرتب او مهیا په ډېر رونقه
چه د دوست دار دَ څلور یار دَ اهل بیت دئ په هغو دَ ښو ګواهي وله مطلقه
دَ عربو[2] ثنا هیڅ ورنه رَسېږي
دَ خوشحال ژبه مښود کاندي ناحقه

چه ئې خوب په پالنګ نه وُ بې د پرو له بالښتَه — راشه ګوره ننداره کړه تر سر لاندي اومه خښتهَ
چه فاني دنیا دني دَه بود ئې نشته ناهني[3]ده — ځکه دا ده اې نادانه د هوښیار تر فهم زشتَه
دا دنیا خارشتي بزه ده په ساتل ئې څه مزه ده — شېون ئې وشړي له بزو نه چه ئې پوه شي له خارښتَه
چه هم تول ځي هم دلیٰ[4] دا طوفان دَئ که ژلیٰ — چه ئې ویږي[5]موندي نشي، هي توبه له هسي کښتَه
ما لیدلې پدا چشمانو وراني مېني دَ شاهانو — یکباره ورځني ولاړه چه ئې درسته دنیا غوښتَه
د لکونو پیدا غول[6] کړه د جهان ګنجونه ټول کړه — نه به ته نه به ستا پښت وي، بیا سنجرشو یو څو پښتَه
د سیلاب په مخ دَ کور دَي دا دَنِي فکر دِ نور دي — چا به نکړه هورته خونه چه به دا په سیلاب رغښَهَ[7]
په دنیا کښ که شداد شې بیا به ته په بلا یاد شې — که بهښت په دنیا روغ کړې څه دِ سود دَي له بهښتهَ
هغوَ[8]یو وړله له ځانه دا فاني دنیا اې ځوانه! — چه ئې تار په تار خوره کړه نه هغو چه ئې ونغښتَه
ما ئې ولیدل کارونه طور طور رفتارونه: — په ورتله په ستغ[9] ختَنه په تلَه کندِي غُندي رغښتَه
که کم عقل که کانا[10] يې که هوښیار يې که دانا ئې!
د میر باز غُندي ورزغله د خوشحال غُندي ترې ترتښتَه

څو دَ ملك وارث و نه وهي سرونه — هونبره چېري قرارېږِي سمي غرونه
یا به ستا په وره ناره وِي یا به ژاړي — یا دِ تا له لاسه ویر دَ چا په ورونه
رخنه ګر دَ ملك پرې ږده پخپل ملك کښ — په حکمت په زر وزور، په لښکرُونه
څُو په تورو، په توبریو، په نېز وشي — صد چندان شي په تدبیر په هنرونه
ورور او زوی دَ ملك په کار کښ قتل کیږی — نور په واړو باندِی جوړ شول محضرونه
بې دَ تیغ له آبه نوری اُوبه نشته — چه جنګجوی سَرَه ساړه کا تېرونه

---

[1] چه کونین په طفیل.

[2] چه عرب ئې و ثنا ته نه رسېږي.

[3] تر دې کلمې لاندي محشي "نا هضم" کښلي دي.

[4] درمن، د غلې کوټه.

[5] وېږي.

[6] په مجهول واو لښکر او فوج.

[7] چه په مخ د سیلاب رغښتَ.

[8] هغه.

[9] په غره کې نرئ او سخته لار.

[10] محشي ناپوه ورته کښلي دئ.

دَ سردار دَ ریاست و نه په وینو　　په لیږ شنو دَ اعداء کا ثمرونه
په میدان کښ توئي ښې دِي دَ سر ویني　　نه چه ډکه سینه وړي له ځگرخونه[۱]
یا دَ مرد غُندِی شمله دَ دستار پرېږده　　یا په سر کړه لکه شځه مېزرونه
خدایه چا وته ئې کښم څوک به پرې پوه شِي
ما وَېَلي هر یَو بیت دَي دفترونه

څوک به څه ساتې په پوهه په پندونه　　په وېښته سَرَه تړلي پیوندونه
په یَوه قفس کښ بند کارگه طوطا کړه　　سَرَه بېل به وِی دَ هر یوه سندونه
یا کُشتي د زورَوَرُو سره مکړه　　یا د دُوي غُندي پیدا کړه مړوندونه
موږ پدا عقل روغ نه یُو لېوني یُو　　معشوقه چه و عاشق وته غندونه
عاشقان دَ شاه دَ خولې یُو زر مو نشته　　که په سر ئې لیدَل مومو سرښندونه
چه باور دِ په رشتیا خبره نکا　　وَ هغو وَته به څه خورې سوگندونه
چه ناپوه سَرَه تېرېږی ډېر افسوس دي　　دَ دانا سړی کیمیا غُندِي ژوندونه
پخپل ښکار پسی به څرنگ باز آلوزي　　چه باز دار ئې پسِې وا نکا بندونه
دَ شکرو خوند به هیڅ وربانډِی نه وِي　　چه خبر وِي دَ خبرو په خوندونه
تا دَ زلفو په زنځیر کښ خوشحال بند کړ
آفرین دِ پدا هسي شان بندونه

څوک خبر دي له فتنو د دې جهانه　　نوِي نوي را پیدا شِي له دورانه
ما و تا غُندِي به څو باد وړي یاد کا　　که خبر واخلې له محَکي له اسمانه
چه له باده دمه ډک وه که ئې گورې　　باد ئې خاوره په ملکونو کړه پرېشانه
په شان شان مي دَ وجود ننداره وکړه　　بیا به هم شِي څو رنگه په څو شانه
نه ئې زر نه جواهر شته یو تاوان دَئ　　که به ښه کړې ځَان ئې خلاص کړه له تاوانه
زمانه مي شوه په غاړه اې خوشحاله
که ئې گورې نه لتانه نه له مانه

څه به وایم د دې نفس له آزمیښتهَ　　نفس آدم دَي را یستلي له بهښتهَ
چه پکښې دَ دواړو کَونو مراد مومې　　هغه چار دِ تر نظر لاندي کا زشتَه
د کیمیا د بوټي گل کله مونده شِي　　چه د پېښو تلي گلگون نشي په غوښتَه
د سړیو په عظمت پوري حیران یم　　چه په گور کښ توري خاوري هونبره نشتَه
بیا به څله څوک طلب دَ دنیا کاندي　　چه ئې خلاص نه وِي یو دم د کار له کښتَه
که تر سر لاندي بالښت کښېږدِي د َپرونو　　عاقبت به تر سر لاندي کاندي خښتَه
د دنیا مینه په مثل د خارښت ده　　هیڅوک نه وینم خالي له دې خارښتَه
د صحرا په کاڼي رخه[۲] د شیطان شوه　　عیسي سر په محَکه کښېښو له بالښتَه
د زړه مینه په مثال لکه پټك ده　　چه د گوي څښتن وَهَله هورته رغښتَه

---

[۱] نه چه خوړین له عیبه غاړی ځگرنه، یا نغاړي ځگرونه.

[۲] حسد، کینه.

غم ئې واړه د اَشنا دَ بېلتانه دَئ
د خوشحال څه سريکار شه له جوړښتَه

څه بلا ډېره ښه ئې د بهار دَ گلو وختهٔ[1]
که ژر در پسې نه وي د خزان سيلی سختهَ

په وخت دښو گلونو د وساله باده نوشلي
د زړه اندوه دِ واړه دا عشرت يو سي يکلختَه

په وخت د ښو گلونو په خلوت دَننه ناست يې
را وزه ننداره کړه ناسوتي شيخه بدبختَه

هر گل وته چه گورې گوښې گوښې ئې نگهت وي
په رنگ سَره يَو ندي نه يَو سَم دَ بل له رختَه

په سم دئَ که پهٔ غره دِئَ د بهار خاص گلونه
اَخر به ئې رژون وِي د گلونو له درختَه

چه تعين[2] دا هاړ گرمه سيلی راشي په چمن کښ
گلونه د لاله لکه بادشاه پرېوزي له تختَه

چه کښته پورته زانې مرغاوئ تله راتله کا
خوشحال ختِك خوښ کړي په جهان کښ دا دوه وختَه

څه دَ بدُو ږغ وُ چه ماښام را باندي وه شه
تندر وُ يا توپ وُ پرې مِي تخني تخني زړه شه

څه خوښي دَ ده وه، چه بيا ژر پسې اندوه وه
چا وِي چه په رنځ کښ معظم[3] په خوب اوده شه

دا ژوندون هيڅ نَدئَ چه مي ساه ويني دا خلق
زه په ځان پوهېږم اوس مي کار لکه دَ مړه شه

ما وِي زړه مى سنگ دَئَ، چه په هيڅ به نرم نشِي
راشه که ئې گورې په ژړا ژړا اُوبه شه

ما دَ معظم په ليدو مينه ماته نه کړه:
څه دَ قضا رنځ وُ په هفته کښ څه وُ څه شه

رنگ ئې تر خوي ښه وُ، خوي ئې لا ښه وُ تر رنگه
گل وُ دَ گلابو شگفته شه نور په تله شه

دريغه دريغه که ئې مرگ په بد لېده وئَ
څو به مي پرې ورکړل ولي مرگ مېلمه دَ ده شه

زور و ستم نه وُ، نه څه جنگ توري نېزې وِې
بل علاج ئې نه وُ، دَ ده مرگ دَ خداى په کړه شه

زه يواځِی نه يم ډېر عالم پسې کباب دَئ
آه دَي پس کېږِی. روزي نه وُ روزي نه شه

ښه تاريخ ئې راغَی "بې بدل معظم"[4]
خوشحال د دَه نيکه دَئ، دَ نيکه ئې داغ په زړه شه

څه غم د نعمتونو چه اختر راغَي دروېشه٥
په طمع په اميد اوسه دَ هر غني له وېشه

يو گل مي په دا باغ کښ ناگهان په نظر کښېووت
عجب ئې خوشبويي وَه تر هر گلُونو ښېشه

چه ما وکړه پوښتنه دغه گل له حقيقته
ده کړي تحمل وُ د يوه اَغزي له نېشه

نافې چه له اوله خپل ځگر وَکړِ سرې ويني
له ورَوسته ئې روانه خوشبويي شوله له رېشهٔ[6]

په څو به دَ ويشتليو له احواله نه خبرېږِي
چه هيڅکله دي نه ده چېري پښه په اغزي رېشه

---

[1] دا بدله په چاپي نسخو کي نسته.

[2] چه تعينه دا هاز گرمه سيلی شي په چمن کښ.

[3] معظم د خوشحال خان کوچنی لمسی وُ، چه دا بدله ئې د هغه په مرثيه کښ ويلې ده.

[4] کلمات دَ "بې بدل معظم" د ابجد په حساب (۱۰۹۸) راځِی، چه دغه نو د معظم د وفات سنه ده.

[5] دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

[6] له خوېشه.

له دو اويا مذهب سَرَه به ساز وکړي له دله
خوشحاله که خبر شې په تحقيق دَ عشق له کېشه

چه بنياد دَ عاشقۍ چا کاوه — دا ئې څه پدا کار نه پوهېږه
په جهان ئې يوه څه بلا پيدا کړه — يوه خدايه کور ئې وران کړې د هغه
دَ هغه جهان دوږخ په غوږو اروم — دا دوږخ مي پدا سترګو وليده
څوک ناحق دَ بېلتانه له لاسه ژاړي — آشنايي دَه چه تاختونه کا په زړه
دَ هلك له لاسه والوزي مرغۍ — په ژړا ور پسې سرَه کا دوه لېمه
هغه وخت چه دَ زانګو او دَ وُنِي وُ — په مرغۍَ هيڅ نظر نه وُ دَ ده
څو لوئېږي آشنايی پرې ډېرېږي — درومي درومي په اورو کښ ښه وېښته
دَ وصال قدر غمجنو دَ فراق زده — دَ تشنه ژوندُون په څه دَئ په اُوبه
په حدونو سَرَه ولاړو اوس خوشحاله
په کوم لور نه سَرَه مُو مُو زه او ته!

ځما عشق په هغه شان دَئ لکه وه — ستا خاطر هغه سندان دَئ لکه وه
که ته هر څو بد قولی او بد عهدی کړې — قول عهد مي مهمان دئ لکه وه
خو خښې دِ لکه وې په هغه شان دي — فتنه ګر دِ سور پېزوان دَئ لکه وه
دَ رقيب خبره مه نغوږه اې ياره — چه رقيب هغه شيطان دَئ لکه وه
دَ ښو په ناوکيو دِ غلبېل کړ — ښښانه مي درته ځان دَئ لکه وه
په خاطر باندې مي داغ دَئ ستا له لاسه — ولي هسي بې درمان دَئ لکه وه
بل ګمان فکر خاطر لره در موږه — خوشحال ستا دَ بندګان دَئ لکه وه
چه دِ زړه هسې پرې ناز کوهَ دلبره
په خوشحال دِ خاطر ګران دَئ لکه وه

څو را سَرَه خلقه جفا ډېره هغه کس کړه — خداي مي پدا خوي کښ په ده مينه يَو په لس کړه
زار دَ خوار عقشق دَئ دَ محبوبي څه پروا ده — زه وَ غم ته روغ يَم ته تل خانده تل هوس کړه
زړه ئې دَ کافر دَئ خو په خوله کلمه لولي — څه ئې راته ستايې ما ليدلې دَه نور بس کړه
ګرزِی په ګلونو کښ ګندګي ور پسې غواړي — څه ئې په جهان کښ بده بخره دَ مګس کړه
ښه چه را پيدا شوې دَ بهار زيريه ګله — تَل دِ يادَوَنه غندليب په هر نفس کړه
لېږ دي روانونه سبا کېږي اې ساربانه! — پاڅه دَ شتر په غاړه پوري اوس جرس کړه
ځه هغه شهباز شه، چه دِ ځاي په سر درو دَئ — نه لکه دَ کلي کارګه ګرزه غم دَ نس کړه
بخت دَئ که طالع دَئ که دا خپله فقيري ده — خداي مي چه شرئَ برابره دَ اطلس کړه
قدر دَ خپل ځان دَ عافيت ور څخه نه وُ — ځکه عاشقي هسي آغازه بوالهوس کړه
نورو حريفانو واړه ډکی پيالې نوش کړې
ښه چه دَ خوشحال پياله ئې ډکه په بکس[١] کړه

---

[١] سيد راحت زاخيلی ليکي: چه بکس په معنی د خورا لږ او نه څه دی.

ځو جفا را سرَه ډېره هغه کس کړه
خداي مي مینه په ده باندې یَو په لس کړه[1]
ښه چه راغلې دَ بهار زیریه گله!
اندېښنه دِ عندلیب په هر نفس کړه
دَ گلزار په گل غرض نکا غُل غواړي
په جهان ئې بده بخره دَ مگس کړه
که زه خوار دِ دَ گلونو لایق نه یَم
ستا له باغه عنایت را خار و خس کړه
درست عالم پدا خبره خبردار دَئ
چه بلبله خپلي ژبي په قفس کړه
ته ئې شناخت، علم، ادب لَرَه پیدا کړه
نه چه گرزه بیهوده چاري عبس کړه
دَ ژوندون په قدر هیڅ خبردار نه وُ
عاشقی مي چه آغازه بوالهوس کړه
کله سول کله ژوندُون بخښل وَ ما ته
دَ عشق اوره په ما چاري دَ قفس کړه

دَ دنیا غمونه لږ ندي خوشحاله
نن دَ یار وَ مخ ته گوره واړه پس کړه[2]

چه په عشق کښ ئې و نورُو ته پېغور شه
اخ چه لاس په لاس په دَه پورِي دا تور شه
محتسب چه په اهداد وُ دَ مستانو
دَ رندانُو سرَه ناست دَئ باده خور شه
چه پرون ئې فاسقانُو سرَه جنگ وُ
نن هغه تر فاسقانُو لا څه نور شه
چه غیبت ئې بداوه دَ بل تر زنانه[3]
راشه گوره په غیبت دَ پلارو مور شه
که دَ ډیرِي په وکښل ئې ورته وایم
نصیحت دَ نېکخواهانُو باندِي اور شه
گوره څو عالم به لاندِي کا تر چلو
نن چه دا دریاب را وَخوت موج ئې زور شه
صنوبر چه هونبره ډېره لوئي غوښته
ځکه هسي په باد ته په باد نسکور شه
چه ئې زړه تر کاڼی سخت هغه مي یار دَئ
بدي بخري څه ځما کاڼی په کور شه
توري سترگ ئې بلا دِي عاشق گوره
په بلا باندِي ور درومِي کر و گور شه

دا دَ خپل عمر دلیل وکړه خوشحاله
چه لاله په باغ کښ وَغوړېده خپور شه

چه گټل خورول بخښل کا ځوان هغه
چه توره[4] لَري دَ توري خان هغه
کان دَ لعل دَ یاقوت دَ گوهر څه دَي
چه احسان ترې پیدا کېږي کان هغه
چه ئې ته په گېډه وخورې حبطه شِي
دَ مجلس سرَه چه خوړ شِي خوان هغه
که د مال دَئ که دَ ملك دَئ که د لېچو
چه ئې توان دَ چا پکار شي توان هغه
په تمامه شپه په ورځ په میاشته کال کښ
چه دَ خداي په یادو درومي آن هغه
چه دِ څوک دَ وړاندِی وروستو ځَي دا څه شِي
په تنها وجود چه شان دَي شان هغه

وَ نور چا وته وران مه وایه خوشحاله
چه په قول عهد وران شو وران هغه

---

[1] خدای می لا وربانْدی مینه یو په لس کړه.

[2] هر څه بس کړه.

[3] تر زیانه.

[4] د دې کلمه معنی حل غواړی.

ځان چه پېژني که ګورې ښه هغه   چه ناحق په ځان غره دی څه هغه
واړه زړُونه فراغت وي په ښادي کښ   چه په غم کښ مردانه شي زړه هغه
سلامت لَره ئې نور عالم پيدا کړ   ملامت لَرَه چه روغ دَیٔ زه هغه
يا ياري يا اغياري دَه که ئې ګورې   په دا دوه کښ نه ته دا شوې نه هغه
چه تر تا نه وړاندې وروستو ځي مله ندي   چه په لار در سَرَه سَم ځي مله هغه
چه په عشق سَرَه ژوندې دیٔ هغه نه مري   چه بې عشقه ژوندې ګرزي مړه هغه
چه دروغ تر خوله وَ باسِي کله خوله دَه   چه رشتيا تر خوله وَباسِي خوله هغه
هيڅ حجت له هيچا مه کوَه خوشحاله
هر چه تا وته څوک وايي ته هغه

څه لَرَه زړه وړې چه دَ زړه ساتل دي نه زده[۱]   مست يم مستي کړمه ګڼه هر هنر مي ښه زده
تل په اوښيو وينو همېشه ژړا آهونه   نور را خبر نشول يا مي سترګو يا مي زړه زده
ذکر فکر نمونځ روژه طاعت ور لَره بويه   شيخ ملا زاهد عابد صوفی په ميُو څه زده
کله دَ طوطيانو په ګفتار کښ دا لهجه ده   راشه که ئې ګورې زرکې تا کله دا تله زده
روغ عالم به چېرې دَ دردمن په حال خبرېږي   درد چه په چا تېر دَي په دردمنو هم هغه زده
څه زړونه ئې وړي ستا بارخو پرېشاني زلفو   ښه وه دا خبره چه يا غله زده يا ئې مله زده
ستا دا سور پېزوان چه فتنه ګر دَي بې حسابه   څو رنګه فتنې چه دَ جهان دِي واړه ده زده
چېرې به له دِله يَو يَک مهر را بر سبر کړې   تل دِ که دا هسِې دلاسې تشي په خوله زده
څه پوښتې خوشحال دَ بېلتانه په اشتياق کښ
سترې په منزل پوهېږي ترَي په اوبه زده

چه پيدا چېرې په ملك کښ يو حبيب شه   لکه خار ورته په څنګ کښ بل رقيب شه
محمد (ص) ته ابو جهل نصيحت کا   راشه ګوره څوک رنځور شه څوک طبيب شه
دَ دانا پخپل وطن کښ قدر نه وي   دُر هاله قدر پيدا کړ چه غريب شه
په چمن کښ رنګارنګ ګلونه ډېر دیٔ   دَ زړه داغ مي دَ لاله دَ زړه نصيب شه
که ئې رنګ و بوي و ګل نه وَیٔ ورکړي   مبتلا به باندې ولي عندليب شه
راشه تور و سپين دَ سترګو ننداره ګره   هغه يار را سَرَه لا تر دا قريب شه
چه پرون را سَرَه يار وُ خبر نه يم   نن له ما نه بيا وېزار په کوم تقريب شه
تناوُنه ئې دَ زلفو دِی دا زړه مي   لکه ملك دَ ياغي لاندِي تر تخريب شه
چه ئې پرېښوه يارِي دَ لېونيُو
ګمان مکړه چه خوشحال خټك لبيب شه

چه مي زړه پرې ښه کېده له واړُو بد شه   ښه خو دا چه اوس يواځې دا حد شه
که ژوندُون دَ خلقو دا دَیٔ ګه ليده شِي   ښه وَ ما ته مري خلق دَ لحد شه
دَ دنيا ياران مِي وليدَل په سترګو   هر سړَی ځما په سترګو لکه دد شه

۱تا د زړه ساتنه نزده   مست یم می پرست یم ګڼه.

نه حیا شته نه وفا نه خپلوي شته
خلق واړه په معني لکه مرتد شته

چه ئې نن کانده له ما سَرَه خپل قوم کا
مگر دا جور له قومه په احمد شه

تفحص دَ تور و سپین نشته په چا کښ
دَ همه عالم په سترگو کښ رمد شه

تور به چا ته یادَوَم چه رد گمراه دِئ
چه پیدا ځما له ځانه خلق رد شه

فرزندان چه مِي له گېډی نه پیدا دِئ
پوخ ځما له ناخلفونه کبد شه

په طالع په بخت دَ مال و ملك څښتن دِئ
بخت هغه دَئ چه په بخره دَ بخرد شه

له هغه بخته ځما توره بلا دَه:
چه له هَرَه نا همواره په مدد شه

چه دَ پلار له ځانه ښه زویه پیدا شي
ته به وایې چه ژوندون ئې مجدد شه

چه قابل ئې پیدا نشِی په اولاد کښ
که هزار زویه دَ پلار وِئ بې ولد شه

دَ بهار گلونه هیڅ دِي چه تېرېږي
ښه هغه وَ ما ته گل دَئ چه سرمد شه

که په ذات کښ دَ خوشحال آل و اولاد شته
په صفات کښ لم یلد و لم یولد شه

یخ دَ نمو وَ تا وته نه دَرِی خوشحاله!
په دا څه که یَو ورَځِي منجمد شه

څو په باغ کښ لا یو گل دَ نو بهار شته
دَ بلبلو دَ طوطیانو پرې جیغار شته

نن دِ غم له ما نه ځَان ساتي که ښه کا
چه په سېل دَ بهار را سَرَه یار شته

چه له یاره سَرَه مست دَ گلو کښت کړم
محتسب که را نیژدې شِي پایزار شته

شیخ ملا دِ ځما غم په بهار نه خوري
چه رباب و سرینده غُندِي غمخوار شته

نه به زه دَ میو جام کښېږدم له لاسه
نه ځما له پارسایئِ سَرَه کار شته

ما وَ خپلی پارسایئ ته رخصت ورکړ
په دا نورو پارسایانو مِي اوس ډار[1] شته

ساقي بیا ځما دَ ښهر خبر واخله!
لا یو څو په کوڅو پاتو پرهېزگار شته

گل و مل ساز و سرود ساقي سرې سترگي
[2]لا به ډېر عالم رسوا کا چه دا چار شته

چه په هَرَه پیاله عقل له ما زدویي
دَ ساقي منت را باندِي په بار بار شته

دَ گلونو په موسم کښ خوار هغه دَئ
چه ئې نه پیاله په لاس نه ئې نگار شته

نن هغه شاهِ جهان دَ زمانې دئ
چه دسته ئې دَ گلونو په دستار شته

چه نا اهل په غفلت وربانديِ نه ځِي
ځکه وصل دَ هر گل په څنگ کښ خار شته

دَ بهار زېبا گلونه سوداگر دِئ
لخلخه به ځني پېرِي چه خریدار شته

نن خوشحال دَ زړه داد دَ عشرت ورکړ
دا څو ورَځِي غنیمت دِي څو گلزار شته

څو په باغ او په بوستان کښ لا لاله شته
دَ بلبلو دَ طوطیانُو پرې ناله شته

نن دِ غم له ما نه لېري لیري گرزِي
چه په وخت مي دَ بهار په لاس پیاله شته

که می یار په لاس باده واخلِي ساقي شِي
پرې مي ډار شِي چه ئې زهد صد ساله شته

را ئې وښیه چه ځَم تر پښو ئې پرېوزم
که په دهر کښ څوک ما غُندِي واله شته

دَ بهار په زېبا گلو ډېر وېرېږم
چه باران شي دَ باران سَرَه ژاله شته

---

[1] وار.

[2] ساز و سرود د ساقی سترگی.

دَ بهار په سیل تل درومه خوشحاله
یو څو ورځِي چه دَ گلو پر کاله شته

چرگ دي خپل چرگ والي کا که ئې رضا دَه   چه له بازه بازي کا دَ ده قضا ده
هغه چاربه مخامخ په مخه ورشِي   چه دَ چا دَ هغې چارِي تقاضا ده
څوک به خوښ سَرَه پرېښږدي په جهان کښ   دا دَ ځَایه دَ دې دهر اقتضا ده
تېره چار چه یادَوِي فایده ئې کومه   وَ دانا ته مضا واړه مامضا ده
دَ گمان لړي به تار په تار خپرې کا   دَ یقین اندېښه بهَ تر بیضا[1] ده
دَ خوشحال په ویل غوږ او فکر بویه
چه موندنه دَ خبرِی په امضا ده

خپل پرَدِي چه چا لینده په لاس آخیستهَ   هر یوه کړه ما تشه درسته درستَه
چه قضا د ما د چا په غشِي نه وه   د بادشاه لینده ئې هم کړه په ما سستَه
چه تعلیم ئې د سیفې[2] له ما نه آخست   بیا هغو د ما د بدو وسیفي لوستَه
په زرگونه راته لاف کړې د یاریَ   په دولت کښ ئې د ما بلا آخستَه
اوس چه ورځي د نکبت راغلې یو نشته   چه ځما دپاره ووزي له بایستَه
که بادشاه له تخته پرېوزي نا آشنا شي   بادشاهي ده د دولت په تار آمستَه[3]
د نکبت ورَځي په مثل د دانو دِي   ښایسته سرَي وباسِي له ښایستهَ
هنرونه ئې عیبونه شي خوشحاله
د سړي چه چار دَ بخت شِي سسته پُستَه

چه مي ولیده دَ زړه په سترگو خپل زړه   دَ خپل زړه غُندي مِی وَ نه لیده بل زړه
عاشقي دَ خداي بلا دَه عاشق مشې   څوک په سرو سکروَ تویښي لَرِي تل زړه
په وَیل وَیل مي هیڅ تقصیر وَ نه کړ   که ستنېږي له دلبرُو په وَیل زړه
عاقبت به آفت سر لَرَه پیدا کا   چه جار وَزِي دَ بتانو په بورجل زړه
ور ئې واچَول دَ زلفو خنځیرُونه   که هر گز آموخته نه وُ په تړل زړه
دَ خپل سر په مهر هم دا هسي نه وِئُ[4]   لکه خوښ شِي دَ دلبرُو په ښکنځل زړه
ډېر ئې صبر شکیب وَکړ نه پاېئږي   نور له تنه جدا کیږِي په نیوَل زړه
دَ خوشحال ختِك فریاد له نورُو ندِي:
په دَه هونبره چارِي وکړې واړه خپل زړه

---

[1] محشی ورته کنبلی دی چه مطلب لمر دی.

[2] محشي ورته لیکلي دِي چه یوه دعا ده.

[3] محشي ورته لیکلي دي "پېیلي"

[4] د خپل پېر دعا هم هسی رنگه نه وی.

چه وایم هغه نکا دا ځما زویه گمراه — اغېزه هیڅ پرې نشي یا خو ما گڼی بدخواه
که کار په دیو نشي په شماره دي دَ غوییو — کمیي دَي دا دَ دیو که د ما دئ دا گناه
که ما دَ ځان بدخواه گڼي دا لا بله بلا ده — هیڅ پلار به په جهان بدخواه دَ زویه وِي آه آه
چه پلار دَ چا مزَري وئ مزر کټي ورځني زېږي — د ما زویه وگوره دَ جیفې گیدړ روباه
څو ډېر دئ که قابل وَي دا به څه بلا ښه کاروُ — یو شیر دَ درگه ښه دَئ نه گیدړ پکښ پنجاه
د نورو نو څه اخلم د ټومي[1] بیوجه څو دي — یا عاق یا عاق ته روغ دي خو دَ وارړُو مخ سیاه
دَ ما په نامه زرشول دَ بی بی په ذات زرنیخ شول — زرنیخ په نرخ دَ زرو کا قدرت لَری آله
هر کار ئې په تقلید دئ تحقیق نلَري پذات کښ — نه نام نه ملگري شته[2] هونبره گنج هونبره سپاه

ارمان ارمان چه زوړ شوم یوَ قابل زویه مي نشته
چه زه خوشحال دعا کړم په سبا او په بېگاه

چه تا وَته نظر کړم نور مې هېر دِي ښایسته — په طور د مین یم گڼه[3] ډېر دِي ښایسته
هم ځان راته ښکاره کا هم مي ورک شِي ژر له سترگو — پدا کلي کښ واړه پري څېر دِي ښایسته
تلخي ئې دَ هجران بده بلا ده عاشق وژنِي — چه دا ئې را په یاد شِي څه گنډ هېر دِي ښایسته
یاران لَری زرگونه دَ هر چا سَرَه ساز باز گا — په قول په وعده ځکه تېر بېر دِي ښایسته
تل جور تل جفا ستمونه په عاشق کا — په دا واړو کارونو کله سېر دِي ښایسته
دَ چین او دَ ماچین مي اروېدلي دِي په غوږو — په سترگو مي لیدلِي دَ بونېر دِي ښایسسته

ځوانی ولاړه خوشحاله راوړه زر که عاشقي کړې
یا زر دِي یا ځوانی چه ورته زېر دِي ښایسته

چه پرېوزی څوک له پاڼه مومیتایی ور لَره بویه — په کور کښ چه تیار شي روښنائي ور لَره بویه
چه کار دَ چا مشکل شِي تدبیر و بله کښېني — دا کار څه آسان ندي دانا ئې ور لَره بویه
په کاڼي کښ مرآت شته دَ کیمیا بوټي په غره کښ — طلب چه د دې کار کا بینائې ور لَره بویه
که لُور دَ اورنگزېب وئ معشوقه په اصل لویه — دا کار ئې منظور ندیَ پارسائي ور لَره بویه
که هر څو ښایسته وِی معشوقه په هنر پسنده — دا کار ئې هم پکار دَی بخت ځائی وع لَره بویه
که څوک ښایسته غواړِي په کوڅه کوڅه دِ گرزي — په هر ښهر په کلي گدائي ور لَره بویه

یَو زړه دَ خوشحال ندئ چه جهان پکښی لیده شِي
دَ هر چا زړه مرآت دَئ صفائي ور لَره بویه

حیران یَم نه پوهېږم چه له یاره مخ پوښل څه — اغیار وته په قهقه لا له ورایه خندېدَل څه
که نه ئې وِي په زړه کښ دَ عاشقه سَره مهر — سکه ده وته دا غنج و دا دلال او دا ښکنځل څه
هغه مي چه لیدلَي دَ خپل یار ښایسته مخ دئ — که حوري که پري وِي وَ بل مخ وته کتل څه

---

[1] د دی کلمې معنی حل غواړی.

[2] نه ملك گېری شته.

[3] که نه.

ښه ئې دِي ويلي چه زړه يو دَي يار دِ يو دئ　　ښه ده دا خبره چه سر يَو او سودا سل څه
زار ژړا هغه کا چه د يار له مخه دور وِئ　　وخت دَ يار دَ وصل کوک په کوک نارې وهَل څه
خوشحال دِ ښه چه مړ کړ ته په کوم توکي دلگير يې
تر سر دِ صدقه شم گنُدِي تا ته چا ويل څه

خپله پوهه به لَرم خپله لَره　　وَ هر چا ته خپله پوهه دَه کره
که فاسق يم که فاجر يم دَ خپل ځان يم　　دَ زاهد دَ عابد څه دِئ را سَرَه
ليونی که مسخره دَئ و عالم ته　　عالم هم وي لېوني ته مسخره
په معني پاڼي گلونه دِي خبري　　دَ سړِي کرده دَ وني ثمره
نن يوازِي يك تنها له ياره ښه يم　　څوک د غيرو د وهم نه وِئ را کره
دَ نور چا غرض پرې نشته چه صراف وِئ　　هم هغه زده په سَرَه په نا سَرَه
په ښوره مځکه کښ کله شِي گلونه　　درته چا وې چه گلونه پرې کره
شاړِي[1] تل په کُن پره گرزي[2] خوشحاله
مَرَنی ليندئ به ځِي په سر پره

خواږه عمر غُندي تلنه کوې ښه[3]　　په مدت دَ ديدن ژمنه کوې ښه
په ناستې دِ رغېدن دَ بيمار وشي　　په وَلاړي پښې پوښتنه کوې ښه
خوي دِ درست دَ ترهېدلي غرڅه واخيست　　وړاندِي ځې تر شا کتنه کوې ښه
دا دَ زړه ښهر مي ستا دَئ چه په سترگو　　باندِي هر کله ختنه کوې ښه
په خوله ما سَرَه دروغ دروغ يارئ　　وېزارِي دَ زړه دذَنه کوې ښه
هم په څو رنگه غموُنه باندِي کښېږدې　　بيا گله له دې غمجنه کوې ښه
هم په څو رنگه عتاب کړې بيا پخپله　　بورجل ځاي ته مي بلنهَ کوې ښه
په زمان کښ يو گلزار دَ وصل نهال کړې　　بيا پخپل لاس ئې وکښنه کوې ښه
وصل هجر دِ دا دواړه پخپل لاس دِئ　　چه مانه له خپل مينه کوې ښه
دَ خوشحال په زړه دِ کښېښول داغونه
پرې دَ مالگو دُوړَوَنه کوې ښه

خوله مِي غوښته له نگارِی را ئې نکړه　　دَ رقيب په خوله شوه اَري را ئې نگړه
ما وې دروسم ستا له وره دعا راکړه　　په فرياد او په چيغاري را ئې نگړه
صبوري له جفا کاره ياره غواړم　　را ئې وکړې ځَني چاري را ئې نگړه
په يوه جلوه له ورايه رغېدې نور　　دا ځَما سترگي بيماري را ئې نگړه
دَ يوې غمزې په طمعه ورته گوره　　عمر تېر شو پدا لاري را ئې نگړه
په اميد وم چه يَوه پياله به را کا　　هغه مستي شراب خواري را ئې نگړه

---

[1] شاړ يعنی سست او کاهل.

[2] دروِمی.

[3] دا بدله په نورو نسخو کښ نسته، له يوې قلمی څخه را نقل سوه.

وَېِ در به کړم بوسه دَ خوږو شونډُو   را نېژدې نېژدې شوه باري را ئې نګړه
ګلدسته ئې چه له باغه وه ویلې   که ئې ورکړه وریباري را ئې نکړه
هسې نه چه ئې د زړه دلاسا نزده   دلاسا لَرې تیاري را ئې نکړه
زه خوشحال دَ یوه ښکلي په طلب وَم
دا فلك لَرې بسیاري را ئې نګړه

خاتمه که دَ سړي په خیریت ده   تر صحت ئې چار بهتره دَ زحمت دَه
په زحمت کښ ئې نخوت له سَره وزي   رنځوري نافې دَ کبر دَ نخوت دَه
هر زحمت چه دَ سړی په وجود ورشي   معافي ئې دَ ګناه په روایت دَه
په یوه تبه چه لَړه په چا ورشې   هغه هم د ګناهونو کفارت دَه
په هر چا باندې چه ډېره تبه ورشي   په صحیح چه دغه چار دَ مغفرت دَه
هغه کس ولي دَ خداي دَي ګمان نشته   دَ هر چا چه صبوري په مصیبت دَه
غم ښادي چه وَ سړی وته رسیږي   همګې واړه له ځایه په قسمت دَه
په ښادي کښې دي ئې شکر سړی کاندي   په غمونو کښ دَ صبر چار فرحت دَه
چه دا دوه چاري لَرِي حبیب اللّه دئ   په وَیل نده دا چار په عنایت دَه
وار په وار به په خوشحال باندې ور دورمي
هَرَه چار چه دَ محنت یا دَ راحت دَه

دا تاو تاو زلفې ښکاره کړه تر نقابهَ[1]   چه ځَار ځَار ئې شم له هره پېچ و تابهَ
زه چه چېري تا ته سوال کړم ته ښکنځَل کړې   نور به څه غواړم تر دا خاصه ځَوابهَ
د سمند سمونه سره په وینو درومې   ګوره بیا دِ د چا مېنه کړه خرابهَ
تا به هسي بې صرفه قتلونه نه کړل   که دِ وېره شوَې له خونه له عذابهَ
لکه څوک چه له تېرو تورو وېرېږي   هسي ډار ګوم زه هم ستا له عتابهَ
چه د ښکلي زیبا مخ نظېر دِ غواړم   په نور څه مي نظر نشي بې آفتابهَ
که فتنې او خرخښې د ښکلیو دود دي   نه چه هسي هونبره ډېري بې حسابهَ
زه خوشحال که له تا خواست کړم مستحق یم
خوله زکوة راکړه د حسن له نصابهَ

دا ځَما زړګی پخپل زړګوتی[2] نَسه[3]   چه دي زړه دَئ ځَما زړه هم هسي کَسَه[4]
دا دَ وړکیو خوي د څه ونیو په لاس[5] کښ   چه زر زر څه ورکوي بیا ئې را نَسه
زه به هیڅکله د تا له وره وانوړم   که هر څو وایې چه مه راځه ناغسه

---

[1] له نقابَ.

[2] زړګوتي کسه.

[3] دا بدله په جاپې دیوان کښ نسته.

[4] هسی نس.

[5] په لاسو.

که هر څو دَ شندی[۱] گل څه ښه لیده شِي   روخ ئې ندي چه سیالي کا له نرگسه
چه ئې تل و غوا و غېلو[۲] ته سورې دي   خداي دي واخله دَ بېدردُو مجالسه
هر دم دار ئې پخپل کار کښ دَئ خوښ کړي   که سرِی دي که پېری که کوس[۳] وغسه
چه یو هم دَ زړه ساتوني پکښې نسته   توبه توبه دَ ختِکو که اولسه
زه خوشحال چه په مزریو باندي تیغ[٤] کړم
تا ته څه رنگه گیدړ شوم رترومي[٥] کسه

دلربا پسره راشه   ای زېبا بشره راشه
چه دَ ښهر ښایسته دئ   تر هر جا بهتره راشه
سر تر پایه واړه ناز يې   ځما ناز پروره راشه
په خوږو خبرو شهده   په خندا شکره راشه
چه دي نه وینم هېڅ عیب   تمامي هنره راشه
توره شپه دي تورِي زلفي   په ښه مخ سحره راشه
د سما قمر بوسه کړم   د عنبرا قمره راشه
دَ راتلو لاري دي گورم   اې ځما دلبره راشه
څه به وایم چه بې تا مرم   اې په زړه خبره راشه
چه پسو تر و تازه ځې[٦]   د چنډن شجره راشه
چه دي نه ویني نور ړوند شي
دَ خوشحال بصره راشه

دَ یار غم به په تنها صورت زغممه   دا بیدرد عالم به نه را خبرومه
چه دا اوښِی مِي غمازئ دَ فراق دئ   زه ئې ځکه په گرېوان کښ تویَومه
همېشه ئې پدا فکر در مانده یم   چه دَ خوږ خاطر علاج په څه کومه
ملامت ئې دَ عاشق دَ سر بگړی دَه   دا بگړی له سَرَه چرته اچومه
دَ هجران دَ آتش لا لمبې تازه شِی   څو دَ صبر اُوبه زه پرې پوړومه[۷]
آشنائي له جدایَی سَرَه ښه ده   دَ مرهمو قدر داغ څخه گڼمه
له طبیبه خلق هیله دَ شفا کا   زه خسته دَ خپل طبیب له لاسه مرمه

---

[۱] یوه ونه ده چه ترخه میوه لري په هندي ئې پکائن بولي.

[۲] چه هم ئې تل د غوا د غېلو نه بیور دئ.

[۳] د دې کلمې معني نسوه را ښکاره.

[٤] تېځل یعني د آس تند توپ.

[٥] عیناً ولیکل سوه.

[٦] يې.

[۷] په خوله او په نفس سَرَه اوبه څاڅکي څاڅکي پاشل.

یاره ته چه جدایي جدایي وایې
زه خوشحال دَ دې خبري توان لَرَمه؟

دَ اسمان په حکم څه فتنه بر پاي ده / نزده چا چه قراري ئې په کوم ځاي ده
بندیوان ئې اورنگ زېب لَرَه روان کړم / ننداره مي په هر ښهر په هر سراي ده
پښتانه مي چه حال وَوینِي کباب شي / په لیده مي دَ هر چا ژړا هاي هاي ده
لوي هلك مي نندارو لَره را درومي / دَ هندو دَ مسلمان ناره واي واي ده
زه هر چا وته موسېږم ترې تېرېږم / چه دَ واړو اندېښنه راته نماي ده
نه یواځېِ په ما ظلم، ستم وشو / زمانه دا هسي تل کا پخپل راي ده
په هر ځاي مي په څوکی راځِي فوزونه / د بد به مي دَ مزري یا دَ هماي ده
په وَلاړ کښ هاتي شمار په یوه غره دئ / اوچه پرېوزِي په دوه غرونه ئې آواي ده
زړه مي درست سوري سوري لکه غلبېل شو / محرومي دَ لیدو بده غم افزاي ده
گنُدِي وِي چه بازي بیا را وَجار وزي / همگي عالم وَیل کا چه اوس باي ده
که په اور کښ دَ سرو زرو وَښي پرېوزي / عیب نشته پدا کار کښ ئې جلاي ده
نورِي واړه تکیئې تار په تار خپرې شوې
دَ خوشحال ختَك تکیه په یَوَه خداي ده

دَ جهان خوښي همه دَ هغه کس ده / چه میشته ئې دَ محبوبي په جوس[1] ده
دَ ښه مخ له نندارې چه نظر نیسي / که ئې گورې هم دغه هوا دَ نس ده
که سوگند راځني غوارِې هم به وکړم / تر اول مي پتا مینه یَو په لس ده
دِېری میني آشنایی څه په کار ندِي / یَوَه زړه لَره یوه آشنائي بس ده
چه دوه ښه خواړه مَین سرَه دلگیر کا / دَ غمازُو وینا څه دَ سترگو خس ده
بې پروا بې فهمه مه راځه خوشحاله
په پالنگ مي دېره وېره دَ عسس ده

دَ چمن په لوري وخوځه له کاخهَ / چه د گلو ننداره شِي انتساخه
گل چه ستا تر لاسه دراغي تازه شو / لاس دِ لا لَرِي شرف د گل تر ښاخه
غنچه گل ستا له خولې سرَه سیالي کا / خوله ئې باد په طما چه کړله فراخه
د ښه مخ خوبي دِ ښه دَه لا تر گله / په زړه هم سختي لرې تر سنگلاخه
چه تر اور تر اوبو وزي هاله ور شيِ / سور پېزوان د ستا د پوزي[2] تر سوراخه
غه خبري چه بې ستا له مخه کېږِي / له هغو خبرو ونیوَي صماخه
په بېمارو سترگو تل پهي[3] کښېښوې شِي
د خوشحال په لېمو پېښه کښېږده گستاخه

---

[1] محشی دې کلمې ته په قلمی نسخه کښ کوځه او غولی لیکلی دی.

[2] دَ شاه دَ پوزي.

[3] پتی.

دَ ښايست په کار کښ نه لرې څوک سياله   دَ يارئ په کار کښ نه يې هونبره[١] ساله
هونبره کبر خيال چه ستا دَئ دَ چا نه دئ   څو به زار کړم ستا له کبره ستا له خياله
ستا په تش ليدو ځما دَ رنځ علاج شِي   کښه مرمه وَوېرېږه له وبا له
تا ويشتلَي يَم پخپل گزار پوهېږې   چه دَ سترگو دِ گولۍ دِي څو مثقاله
پرې د صبر پهي[٢] ږدم واړه خسا[٣] کېږي   چه په زړه باندي مي داغ دَئ ستا له خاله
جگي جگي ماڼي مه کوه پخولا شه   خرخښو فتنو دئ زه کړم بې مجاله
خرخښو فتنو دی مرگ وَته نېژدې کړم   چه يَو دم را سَرَه نه يې بې جنچاله
راته گوته ښورولې نا خواله وايې   حال به وَوينې دَ موړ دَ ځان زواله
دَ خانۍ دَ توري ځاي نشته په عشق کښ
معشوقې وته مريَي اوسه خوشحاله

دَ عشق بخره ازلي دَه په جنگ نده   په کتاب په مسئلو په فرهنگ نده
په قسمت ئې له ازله دَه راوړې   دا دَ سولو بخره اوس دَ پتنگ نده
خلقې ئې سَرَه درغنۍ[٤] ککر کړې   لا دَ مستي دَ غمزې توره رنگ نده
تل دَ يار دَ صورت نخښۍ پکښۍ گوره   له دنَنه آئينه دَ زړه رنگ نده
دا پياله چه ما نوشلې دَه پرې مست يم   دا پياله مي دَ شرابو دَ بنگ نده
دَ اغيار سَرَه يَو دَم ناستي ښه ندئ   هيڅ خپلوي مي دَ زجاج او د سنگ نده
دَ گلونو په موسم کښ هغه خوار شول[٥]   چه گلرنگه معشوقه ئې تر څنگ نده
لېچي څه لَره غړي توره وکاږِي   که دَ خوارو دَ وژو په آهنگ نده
که زه نه يم لېونَی په آهو سترگو   مسله مي دَ آهو پسې لنگ نده
کله کله خوار خوشحال وَته نظر کړه
دَ عاشق نمنځنه هيڅ عيب و ننك نده

دَ مجاز عاشقي عين حقيقت ده   وَ هغې ته زينه ښښې دَ صورت ده
تر ثرا تر ثريا که فهم وکړې   په څلور کنجه غوغا دَ محبت ده
په جهان به هيڅوک نه وُ که عشق نه وِئ   د بد به دَ عشق قائمه تر قيامت ده
چه په مينه کښ يو زړه او يو ابان وِئ   تر هر چا دَ هغو چار په برکت ده
دا يوه وينا دَ زړه په غوږو واروې   چه بهتره دَ اورنگ تر سلطنت ده
سر دِ دورمي مال دِ درومي پت دِ نه ځي   د سړی د چارى كل خوبي په پت ده
چه يَو ځله زړه دَ چا په مينه بند کړې   په شلول ځني کمي دَ مرموت ده
چه د نيت غلطي لَري بلا به ورشي   تر هر څه بده بلا غلطي دَ نيت ده

---

[١] محشي ميانه ورته کښلي دئ.

[٢] يعني د زخم پټی.

[٣] يعنی بد بوي او متعفن.

[٤] د دې کلمې معنا حل غواړی.

[٥] هغه گرم دی.

چه ئې خداي ورکا وَ چا شکر دِ کاندي   په جهان کښ لويه بخره دَ همت ده
په تېره الماس دَ پاسه قدم ږدي   يوه څه باريکه لار دَ شريعت ده
چه کړو ته نصيحت وايې خوشحاله
وايه څه فائده ستا دَ نصيحت ده

دَ سپېرو خاورو غوغا ده   چه پکښې غوزري هوا ده
و حباب وته وګوره   څه دِ نوره تمنا ده؟
ګمان نکړم چه به ستا شي   دا چه ته وايې ځما ده
چه به کانده فنا کېږي   کانده نده نن فنا ده
دَ هلکو لوبي ګوره!   سرشته دَ هر چا دا ده
ته لا طفل دَ اوښي يې   که دي ږيره کربلا ده
دا درکاه يوه بوډۍ[1]   ګه خندا که د ژړا ده
چه ئې يو ځله اړاند کا   دا هم لويه تماشا ده
راشه وګوره په سترګو   چه دَ چا وه اوس دَ چا ده
خو يو وهم خوب و خيال دَئ   کوم ژوندون کومه دنيا ده
دَ نور چا نده خوشحاله
ستا دَ خولې وينا هم ستا ده

د شرابو مستي زر شِي نيست و هستهَ   لا يزاله مستي نه درومي له مستهَ
چه مي نوم په جهان لاړ شو درندئَ   درندئ کار به نه پرېږدم له دستَه
که بادشاه ئې په زندان کا غم ئې نه وِي   د آزادو آزادي دَه له الستَه
نه ياري شته نه خپلوي واړه غلول دي   چه خبر شوم د وګړي له بر بستَه
د ښادئ په اميد اوسي په غم کښ   تل په شپه پسې را درومي ورځ پيوستَه
د مقصود ګوهر په لوي درياب کښ پرېووت   غواصان پکښ غوټې وَهِي په مرستَه
په ادراک له قعره نه ګوري ساحل ته   هغه کب چه وېره وَويني له شستَه
د عاشق خاطر او خيال لکه درياب دَي   چه څپه ئې کله لوړه کله پستَه
د خوشحال له زړه د يار محبت نه ځي
لکه مينه د خپل بت له بت پرستَه

د سبا نسيمه! راشه[2] و ګلشن ته   د ګلونو انتظار دي شګفتن ته
زاهد څه خبر له عشقه چه عشق څه دَي؟   د ګلونو له حاله څه وايې زغن ته
زاهدان چه په پنځه وخته سجود کا   زه دا يم په سجده پروت يم و وثن ته
د ليدو په ننداره ئې نه مَرېږم   که هر څو په ځير ځير ګورم و ديدن ته

---

[1] دا ځائی يوه بوډۍ.

[2] زر راشه ګلشن ته.

ته خوبا، د شقایق په زړه کښې داغ ږدې　　چه په شین[١] شین درومې و چمن ته
قهر مهر دِ دورځیو په منځ وینم　　د جبین تخته دِ ښښې و لوستن ته
کله جنگ و خرحښې گرې کله مهر　　زه په زړه ساده حیران شم هونبره فن ته
که د ما په مرگ دِ زړه دَي دایم زه هم　　ستا جفا جور نزدې کړم و مردن ته
اوس دِ اور را باندې بل کړه په ستنه[٢] شه　　چه لوگي دِ ننه نه وزې پیرهن ته
که تل ستا له لاسته توره د ستم وي
ما خوشحال قبوله[٣] کړی و گردن ته

د خوبا له بې نیازی سل اوخه　　چه ځما له کاره تښتې په فرسخه
د یاری په کار و بار کښې فهم وکړه　　چه را نه شِي د بدانو سینه یخه
ځان او زړه صبر آرام ئې له ما یووړل　　له ژوندونه خو هم دا څه وُ را څخه
که جهان په تا ښندم ته ئې قبول کړه　　دَ میږې په لاس خو پښه ده له ملخه
هر چه نن د محبت په اور وریته شول　　ترو ئې کله پروا کېږي له دوږخه
ډېر بندي ئې د زلفینو په کمند شول　　کله وِي چه به دوي خلاص شِي له دې پخه[٤]
خوار خوشحال چه بکښې پرېووت وتې نشي
څه بلا یې دَ شهی چاه زنخه

دواړه شونډې کړه په بیارته　　دُر ریزي وکړه خپل یار ته
زه چه ستا و مخ ته گورم　　زړه مي نه کېږي گلزار ته
گل له شرمه خولې پرېږدې　　چه نظر کا ستا رخسار ته
که مي وار در باندې جوړ شي　　منتظر یم و خپل وار ته
گله دا درباندِ[٥] ښایي　　چه ځیر ځیر گورې و خار ته
که وفا کا که جفا کا　　یار، دم مه وَهَه اغیار ته
آئینې وته نظر کړه　　که دِ مینه شِي گلزار ته
زار وَ چا ته کړې خوشحاله
چه دِ نه گوري څوک زار ته

درته چا وې چه دَ یار سَرَه جفا کړه　　دَ اغیار سَرَه وفا، مهر خندا کړه
چه دَ پله خاوري دِ سترگو لَره غواړې　　دَ هغه سَرَه فتنې جنگ و غوغا کړه
هغه ته یې چه له ما دِ محبت کړ　　که غه هونبره مینه ما سَرَه نور چا کړه
که په اور مي کښینوې په اور به کښېنم　　چه دِ ځای په سترگو کړم راته دِ شا کړه

---

[١] تر دې کلمې لاندې محشي ناز او خیال کښلي دي.

[٢] ستنه یعني واپس او تر شا.

[٣] ما خوشحال ده قبول کړې.

[٤] محشي زندی تر لاندې کښلې دَه، مگر په بله قلمي نسخه کښې مخ لیکلي دي.

[٥] ورباندِي.

دَ بادشاه دَ گداي څه وُ دَ يارئِ   څه کړم خداي مي ستا په مخ مينه پيدا کړه
که ځما په مرگ دي زړه تېغ را واخله   دَ قصاب غُنډِي مِي بند په بند جدا کړه
زه خوشحال څه جيوارئ[1] د سبگل نه يم[2]
دَ دنيا خونه مي ستا په مخ بېديا کړه

درسته شپه دئ په کوڅه کښ مرم له سوړه   لاس مى مات شه که دِي نکړم روړبوړه[3]
ته په څو بې غمه خاندې خوشحالى کړې   ځما غاړه په ژړا در پسې بوړه
ستا دَ خوي دَ زلفو کار سَره يو رنگ دَئ   سر هوا لويي دا هوببره سَمَه کوړه
حال دِي واړه وار په وار راته معلوم شو   تِگه ياره په زړه تريخه په خوله خوږه
ځما يار چه ميخوري کا په بدل ئې   ولي ما لره راځه د دردو روږه
پکښې زړه دَ خوار خوشحال دَئ چه خوږ[4] نشي
ږمي ورو ورو دَ شهى زلفيني نموړه[5]

د ماړه تر فهم هيڅ نده غنمينه   ولي وږي ته حلوا ده اوربشينه
په تونگو باندې اطلس لکه شړئ وئ   په نادار باندِي سړيه ده وربښمينه
وَ مجنون ته دَ ليلى خبري وايه   نه له علمه، له مذهبه، نه له دينه
هغه خداي چه دَ هجران غمونه را کړه   که دَ وصل ښادي را کا توان لرينه
خدايه کله به ديدن دَ آشنا را کړې   چه به زه پرې ماتَوم دَ زړگي مينه
يَو ځل بيا په حيات وليدي په سترگو   بيا له پسه لکه مردن وِئ هم دي وينه
نمر په کوم لوري پرېوزي چرته خېژي
په خوشحال باندِي يوه شوه توره سپينه

دَ گلونو قدر چا زده   يا بلبلي يا بورا زده
په جهان کښ به يَو يوَ وِئ   چه هنر ئې دَ کيميا زده
چه وفا ور ځَني غواړې   بې وفا کله وفا زده
که جهان در خبر ندَئ   ما په تا زده تا پما زده
ته ښادي کړه زه به غم کړم   تا خندا زده ما ژړا زده
رنگ دِ ښه دَي خوي دي بد دَئ
زه خوشحال يم ما رشتيا زده

---

[1] د دې مسرئ معني حل غواړي.

[2] د دې مسرئ معنى حل غواړي. په بله نسخه کښ دا بيت په دې ډول دى:

خوشحال نه د يواليا نه قمار باز دى   د دنيا خونه ئې بيا تالا تالا کړه

[3] که ونکړم روړ پطړم پې دې بدله کښ دَ سوړ، روړ، پوړ، روړ، نموړ، معناوي تحقيق غواړي.

[4] چه خور نشي.

[5] محشي ورته کښلي دي: يعني ږمنځوه.

دَ صبا باده گذر په چمن بیا کړه   په چمن کښ رنګارنګ ګلونه وا کړه
زه دِ توان دَ خرخښو لرلَی نشم[۱]   که دِ زړه څما په مرګ دَئ دا ادا کړه
بې نیاز څه خبر له نازه چه ناز څه دَئ   ستا دَ سترګو بلا واخلَم ناز پما کړه
زه له خپله بخته چا وَته فریاد کړم   چه پرُون ئې راته مخ وُ نن ئې شا کړه
خوله مي ډکه شوه په شهدو په شکرو   چه سحر مي ستا دَ لام و بې[۲] ثنا کړه
عاشقي که سرا سر واړه بلا دَه   ما په ځان دَ زړه قبوله دا بلا کړه
زه خوشحال کم زوري نه یم چه به ډار کړم
په ښکاره ناري وهم چه خوله ئې را کړه

دَ دانا په ځان بلا شوه خپله پوهَ   چه هر ګز ئې خالي نه وِي له اندوهَ
چه فلك وَ چا ته عیش و عشرت ورکا   هونبره ډېر ورباندِي کښېږدِي څو ستوهَ
کله ونه دَ خزان په وخت لغړه   کله بیا خوبي دَ پاڼیُو پرې انبوه
په ناحق ئې په میدان په سَمَه غواړې   چه دَ غرونو غرڅه نه ګرزِي بې کوه
چه مي ولیدې څو خولې هونبره خبري   را څرګند شول واړه دو اویا ګروه
پخپل زوي او ورور باور نشته خوشحاله
غافل مشه دا جهان له مکره دروهَ

درسته شپه دِ په کوڅه کښ مرم له سوړه   لاس مي مات شه که دِ نکړم روړه بوړه
ته په څو بې غمه خاندې خوشحالي کړې   څما غاړه په ژړا در پسې بوړه
هم مي بې حسابه پوري کړه په سترګو   دَ رنجور غُندِي مِي بیا له سترګو توړه
ستا دَ خوي دَ زلفو کار سَرَه یو رنګ دئ   سر هوا لوئي دا هونبره سَمَه کوړه
حال دي واړه وار په وار راته معلوم شو   تګه یاره په زړه تریخه په خوله خوږه
څما یار چه میخوري کا په بدل ئې   ولي ما لَره راځه دَ دردُو روږه
پکښي زړه دَ خوشحال دَي چه خوږ نِشي
ډمي ورو ورو دَ شهی زلفیني نموږه

دَ ناکس له آشنایی توبه توبه   دَ شونتی[۳] له روښایی توبه توبه
چه پردې ئې په الماس جراحان پرېکا   له دې هسي بېنایی توبه توبه
چه وَ لَور ئې په زرګونو جن بدرنګه   له دې هسي کتخدایی[٤] توبه توبه
چه په جهل و حماقت دانا ځان بولي   دَ احمق له دانایی توبه توبه

---

[۱] د خرخښو لرم چه کړې ئې.

[۲] ل او ب: لب.

[۳] یو راز لرګی دی، چه د څراغ پر ځای ئې د روښا دپاره لګوی عموماً د لرګو څراغ ته هم شونتی وائی.

[٤] که خدایی.

دَ سفله دِي دَ سيفه دِي واړه توکي   له خودى خودستايى توبه توبه
که هزار رنگه شيخي، زهد، تقوا کا   دَ جاهل له پارسايى توبه توبه
چه عمل ورسَرَه نشته تش وَيل کا
دَ خوشحال له گويايى توبه توبه

درخو[1] خود په آدم خان باندِي شيدا وه   تر دا منځ دَ ميروگي ژبه بلا وه
چه په منځ کښ دلال نه وِئ وصال نه وِئ   په مجنون باندِي مَيَنه که ليلا وه
پخپل يار پسې ژړا ننه په زړه کښ   دَ عالم سَرَه په زور ځما خندا وه
چه غوټى ئې شگفته کړه په چمن کښ   که دِ زده دا چاره واړه دَ صبا وه
چه ئې گل دَ بهار ستا وَ مخ ته ونيو   ستا دَ مخ خوبي تر گلو لا زيبا وه
هونبره رنځ محنت آفت ځني پيدا شو   څو ځما دَ خوار خاطر مينه په تا وه
دا نن شپه چه په ما تېره شوه بې ياره   ته به وايې په دوږخ کښ مي مأوا وه
نن خپل بخت را سَرَه درسته مخامخ کړه   چه پرُون راته يگلُخته شا په شا وه
ما وې زه يم چه پياله لَرم په لاس کښ   ولي دا پياله په لاس کښ دَ هر چا وه
بس چه بيا ئې ستا جمال په نظر کښېوت
دَ خوشحال خټك د زړه ځله[2] همدا وه

دَ يوه بادشاه په حکم شوم اگاه   امر نهى مي قبول دِي دَ بادشاه
يا مهدي يې يا عيسى چه را ښکاره شوې   په جهان دي غلغله وشوه ناگاه
دَ مهدي او دَ عيسى دَ وړاندي څه دئ   هم د جال هم دَ دجال واړه سپاه
خير آباد لَره دِ را يشي لښکره   چه احوال دَ غليمانو شِي تباه
چه خيبر لَره ما بولې قضا کېږي   ډېر کارُونه په دا ملك دَ خير خواه
دريا خان درويزه واړه په حضور دي   گويا زه هم په حضور يم دَ درگاه
خواه ناخواه که امر دا دَئ چه را درومه   دا بنده به در روان شِي خواه نا خواه
دارنده دَ عريضې ځما دَ لوريه
زباني خبري هم لَرِي همراه!

د سپي غُل د دروغجن په خوله کښ تل کړه   په رشتيا خبرُو خوله دَ سړي کښبُل کړه
هر عمل چه سړى کا مصمر به نشِي   درته چا وې چه لوگي مکړه اوربل کړه
گه پوهېږې چه دَ بل جهان حساب شته   ته پدا جهان نظر پخپل عمل کړه
ستا د خولې چينه حنظل دَه هم عسل ده   وَ هر چا ته تويَوَنه دَ عسل کړه
چه دَ دين دنيا کارونه درته پېښ شي   دَ دنيا تر کاره کار دَ دين اول کړه
چه دَ مښکو دَ نافې شميم را خپور شي   را ځرگندي توري زلفي تور وربل کړه
ساقي وخت دَ نو بهار دَئ شراب راوړه   دَ شرابو سَرَه نقل دَ خولې مل کړه

---

[1] درخو او آدم خان په پښتنو يوسف زو کښ دوه مينان وه چه په عصر گښ د مغولي اکبر پاچا تېر سوى دى، ميروئې ريبار وُ.

[2] هيله.

نن خلل دَنَي اومَي مکړه زاهده　　چه موسم دَ بهار تېر شِي بيا خلل کړه
چه يَو دم دَ عشق له اوره خالي نه وِئ　　خدايه څه دِ دَ عاشق ټټر منقل کړه
ستا دَ مخ په دَور زه جهانگير شاه يم　　راته کښېنه کرشمې د نور محل کړه
ستا دا توري سترگي خو توري بلا دئ　　درته چا وې چه ئې توري په کجل کړه
که هزار ځله شيخي کوې خوشحاله
چه ښه کښلي در نيژدې نور ئې کښل کړه

د ښايست سَرَه سل نوري چاري بويه　　چه عاشق په ځان مَين کاندِي مهرويه
تل دَ مښکو بوي روان په بستر نه وئ　　دربغه دربغه دَ مهرويو گفتگويه
عاشق يو لکه لېوه په شمال پائي　　بل په غټي سترگو خوب کا لکه سويه
په سبا پسی ئې مرم نه سبا کېږي　　دَ هجران شپه ئې پما سوه تر کال لويه
ځما دواړه سترگي جوي ته سبر قد يې　　سبرونه جدا ښه نده له جويه
اوس دَ جونو هوس مه کَوَه خوشحاله
پښتنې جونه ترهېږِي له دوه مويه

دَ ليلې دا مخ څو ډېره زيبائی ده　　دَ مجنون ور پسې هونبره رسوائی ده
که مي سل هنره کړل تر سَرَه نشول　　يوه څرنگه نابوده آشنائي ده
چه د سترگو ئې تقوا سره مېرڅي ده　　په ناحقه مي نېولې پارسائی ده
چه ئې سيوره په ما وه لکه بادشاه وم　　ستا دَ تورو زلفو سيوره همائی ده
په وار وار را څخه يوورل عاشقيه　　که هر څو را څخه پوهه دانائی ده
'چه نه مهر نه تپاک نه پکښ شناخت شته　　تر دا هسې وصل به جدائی ده
دَ خپل يار په مخ اوس ندي مين شوي
د خوشحال په زړه کښ دا مينه ځائي ده

د دنيا دَ سود دَپاره کوڼ او کوره　　څه خو شرم مروت وته وگوره
په درست عمر هغه ځاي ورپسې غواړې　　چه دِ پرېوزی له پلوه چرته توره
په زړگي باندي د توره سوی داغ شِي　　چه دِ توره يا پيسه وزي له کوره
د لوي غره گنډي پتا باندي پريوزي　　چه دَ کوره دِ ډوډي وزي نان کوره
دَ دنيا مينه پتا باندِي درياب شوه　　ته پدا درياب کښ ډوب لاړې هر گوره
که پدا درياب کښ هر څو لا نبوزن يې　　عاقبت به پکښي بيا پرېوزې له زوره
که هر څو پخپل حرص کړې دنيا ټوله　　دا به واړه دَ اجل سيلۍ کا خپوره
گورستان لَره به هسی شان مفلس ځې　　لکه وَزووې اول له خپلی موره
چه ئې خوښه عقيده دَ قلندر شوه
خداي به نکا دَ خوشحال عقيده نوره

دَ دلبرُو په ستايَنه　　ما پخه کړه خپله ينه
ناترسي دَ ديو گوره　　چه په حال نکا پوښتنه

زه به ولي هسي خوار وم　　که دَ حال وَي گوېړنه[1]
تل ئې خيال دَ تورو زلفو　　شندي کا په زړه دننَه
چه جمال ئې را په ياد شي　　لاله گل ته کړم کَتَنه
دَ زړه سود دَ ده دَ قد کړم　　په شمشاد په سبروَنه
نه سلام شته نه پيغام شته　　نه ئې پيك شته نه ئې ژمنه
په ارمان ئې ورځ و شپه مرم　　يوه نه لرَم نيازمنه
سپينه ږيره نده غم ده　　ډېره مه کړه لَټَونه
چه نه زر وِی نه ځوانی وِی　　عاشقي ده دروغژنه
پدا هونبره ډېره مينه　　يوه نه لَرَم ميَنه
چه خوشحال نده موندلې
دغه دَي دغه غوښتنه

دَ جهان په مخ به ډېر وِي ښه مخونه　　ولي زړه مي ستا وَ مخ ته وکړ خونه
کله کله مي له حاله خبر واخله　　که دِ چېرى اندېښنه کېږي له خونه
دَ فراق په شپه سور کټ په ما سور اور شي　　يَو زمان مي باندي نه لگی اړخونه
په ښو مي زړه وَ سترگو ته را گاړي　　لکه مست لَرَه کباب ځَي په سيخونه
نو بهار ئې په راتَللو شگفته شي　　دَ لاله تر گلو ښه لَري بارخونه
څو غمزې ښېږي فتنې جلوې مانې کړي　　هونبره کېږي په خوارانو شواخونه
که دا سرې شونډي د لعل غاښ دِ گوهر دئ　　شرارې دي ستا په غاښو کښ ميخونه
توري زلفي دِ په لېچو باندي زانگي　　ښاماران دي دَ چندڼُو په ښاخونه
چه ئې يو زمان له سترگو جدا کېږي
دَ خوشحال په مخ دَ اوښيو ځَي ورخونه

دَ جهان په مخ به نه وِي هسَي تا غُندي دلبرهَ　　پريرويه، عنبر بويه، سنبل مويه، سمنبرهَ
گلعزاره زلفي ماره شهسواره خوش رفتاره　　باده نوشه ميفروشه قصب پوشه مو کمرهَ
دلنوازه سر فرازه عشوه سازه لعبت بازه　　خود پسنده سر بلنده شکر خنده لب شکرهَ
طربناکه گرېوان چاکه تَل بېباکه تش تپاکه　　خود آرايه خود نمايه خود ستايه خوش هنرهَ
غزلخوانه خوش الحانه دُر دندانه لب خندانه
عنبر خاله پُر خياله تل خوشحاله د زړه غورهَ

دا ښه گل چه ئې کمي دَ جمال نشته　　دَ وفا ئې حيف دا دَئ چه حال نشته
که وفا بقا ئې هم وَئ څه به ښه وُ　　دَ ښايست ئې پدا دور څوک سيال نشته
عالم زړه په هيڅ خورسند کا چه وصال وئ　　دَ هر چا بخره هجران دَئ وصال نشته
چه ئې وصف دَ جمال کاندي تر سره　　هر چا زده دَ واصفانو مجال نشته
منو نه منو نه ظلم جور پکښي پروت دئ　　دَ ناترس خاطر ئې مهر مثقال نشته
دَ غمزې په تيغ عالم وژنی غم نکا　　ته به وايې چه ثواب دَئ وبال نشته

[1] گروېړنه.

لکه ډک په ښو گلونو په هر کال وُ دَ دې باغ هغه گلونه سږ کال نشته
راته څه وايې چه يار پتا مين دَئ مختصر به درته وايم څه حال نشته

ما خوشحال وَته په زوره نارې وکړې
چا وَ ما ته ځواب راکړ خوشحال نشته

دا غليم سرَه به نکا مکر دروه مگر ډېر تر بلا تېر په عقل پوه
بد خوئِى به دَ خپلوانُو سرَه حؤک کا چه پخپله پخپل ځان پسندي اندوه
ما چه وليدَل اتلس زره قومه دَ خپل ذات سرَه الفت کا هر گروه
دَ محنت په وخت يَو مل را سرَه نشته دَ راحت په وخت زرگونه وُو انبوه
په خوښيه کښ زاړه لکه زلمي شي ځوان زلمى تر زاړه لا کاندِي ستوه
دَ گزار په ځاي اوس نه وينم هوسيه په ځواني مِي له کبلي ليده په کروه
غر به هم لکه وېښته هسِي نرَی کا
که غمونه دَ خوشحال کښېږدي په کوه

دم به نه وَهې له خپله زورَ زرَه که[1] دي وَ ويني يار وار وې کورَ کرهَ
چه وَتا وَته نيژدي شِي هغه تور شِي په ستنه راځَنِي گرزه تورَ ترهَ
يو يو هور[2] دي چه شاهين ځَني آلوزي مشگيرک لکړ مکړ له هوره هرهَ
دَ صبا په ياد نشاط وِي دَ گلونُو که جنبش کا دَ بلبل له شور و شرهَ
پېښکښي غوارِي دَ اوښيو مرغلري دا گوهر په دواړُو سترگو ووده[3] ورَه[1]
د خوشحال شعر حلوا دَئ دَ شکرو
ستا په دا حلوا څه کار غُل خوره خرهَ

دواړه زلفي ئې پرېشاني په څوشانه په جبين خورې ورې په لب خندانه
له مستَی ئې سر تور گرېوان شلېدلي صراحي په لاس نيولې غزلخوانه
په خمار ئې سترگي سرې و بله اُوښتي نيمي شپې را باندِي راغله ناگهانه
سپينه خوله ئې ځَما غوږ وته نېژدې کړه په نرمي ئې دا وينا کړه را بيانه
زه خورې زلفيني ستا په پالنگ راغلم ته تر اوسه لا اوده يې ځَما ځانه
هر عاشق لَرَه چه هسي شاه ور درومي نور ئې کومه آرزو وِي له جهانه
څو پيالې ئې پياپي وَ ما نه راکړې دَ توبې پرده ئې واخيسته له ميانه
چه له هسي رنگه حاله خبر نشوې شيخه ځکه ځَما چار دَه په تا گرانه
عشق راغلَي دَ توبې په ماتَول دي هيڅ بدی را باندِی مه وايه نادانه
که خوشحال غُندِي دِ يار باده پرست وَي

[1] که ئې وويني.

[2] محشي ځاله ورته ليکلې ده.

[3] يعني اوروه.

تا به هم کړه دَ توبې خونه ويرانه

ذرې ته چه هسې برېښې منوره | که پوهېږې دا برېښنا دِ ده له نمره
وايې لار دَ ختو نشته وَ اسمان ته | زه به لار درته پيدا کړم بې هنره
دَ عشق شور که دَ عاشق دَ زړه قضا دَي | له دې شوره خالي مشې څما سرَه
هم دَ خلقو ملامت هم ستا ناسازي | دا به شوې چه يار مې ته نيوې په غوره
راز ئې ولې ښکاروه ښه چه په دار شُو | دَ منصور سزا تر دا وه لا بتره
وير مې دا دئ چه له کښلو به جدا شم | څه له خپله سرَه نه دَه څما ويره
زه به غوږ دَ ناصحانوُ په پند نه کړم | که ئی اروې دا وينا ده مختصره
وايې وَمرَه چه دې زه له غمه خلاص شم | حُما دا دعوه لنډېږې تر محشره
دَ خوشحال ژړا په دا دَه نور څه نه ده
چه په مهر ورته نه خاندې دلبره

راشه که ئې اروې دا خبره ده نادره: | چه وَواته له سترګو هغه ووزي له خاطره
مرم چه جدا کېږې ته مي روح يې که پوهېږې | مه درومه لمانه راته تل اوسه حاضره
بخت مې مَرَور شې چه په نورو دِ نظر شي | بخت راته ناظر شي چه وَ ما ته شې ناظره
هر حسن دِ ډېر دَئ دَ ليلا تر حسن تېر دئ | زه چه دِ مجنون کړم په چشمانو ئې ساحره
ډېرې دې نګارې هوسی سترګې پرې وارې | تا غُندې به نه وئ شوخه شنګه دلاوره
شونډې دِ ياقوت دې غاښ دې دُر دَ زړونو قوت دئ | درسته دِ دا تنګه خوله حقه دَ جواهرو
لام و بې ئې څېښنه چه ښه کښلې شې در پېښنه | تل شکر وَکاړه چه شکرې خورې شاکره
ډېر دَ ملك شاهان دې چه دَ کښليو غلامان دي | تا دا قدرت ورکړ وَ دلبروُ ته قادره
تل له ډېره خياله څو پېښې کړې له خوشحاله
هم روغه، هم جنګ کړې، مهر جنه هم قاهره

راته نيسي جانانه، دَ شرابو پيمانه | دَ شرابو پيمانه، راته نيسې جانانه
معني په چغانه، راشه بيا کښېږده لېندئ | راشه بيا کښېږده ليندئ، معني په چغانه
کور دَی دا که بتخانه، بکښې ټولې جونه ناستې | پکښې ټولې جونه ناستي، کور دَئ دا که بتخانه
پاس په سر د آشيانه، تور کارګه قمر تر لاندې | تور کارګه قمر تر لاندې، پاس په سر د آشيانه
ګوره جوړ دام ودانه، زلف و خال د هغې مستې | زلف و خال دَ هغې مستې، ګوره جوړ دام و دانه
په ګيسو کښېږده شانه، چه دَ مښکو بوې لا ډېر شي | چه دَ مښکو بوې لا ډېر شي، په ګيسو کښېږده شانه
عشق مجنون کا فرزانه، شك ګمان نشته پدا کښ | شك ګمان نشته پدا کښ، عشق مجنون کا فرزانه
ته عاقل زه ديوانه، څه مو روخ دَ ملګريه[1] | څه مو روخ دَ ملګريه، ته عاقل زه ديوانه
دا غزل دَئ رندانه ما خوشحال خټك ويلي
ما خوشحال خټك ويلي، دا غزل دئ رندانه

---

[1] ته عاقل زه دېوانه څه مهرخ د ملګريه.

رنگینه کالي اغوستي را ښکاره شه ناگهانه   راته وگوره وَخانده خوشحالي مي کړه پر یوانه
خداي دِ تا له وړیو سترگو نه وژغوري دلربایه   چه ټیکه په جبین کښېږدې او سینگار وَکړې څو شانه
هغه دم چه تور گیسو پخپل صورت باندئ خپاره کړې   خوشبوئي دَخاصه مښکو په درست غولِ شي پرېشانه
ځان و زړه مي هم چاپېر ور سَرَه درومي اې نگاري   چه گهي په شین شین په انگڼ کښ شي روانه
دین و زړه صبر و آرام را ځئي ولاړل اوس پوهېږم   چه یَو ځان دَي راته پاتو دا به هم یوسي له مانه
دَ یارئ دَ آشنایي دودونه هېڅ له تا پېت ندي[1]
ولي څو کړم په خوشحال باندي خاوند کړَلې نادانه

زړه مي بیا واله مجنون شه ښه چه شه   پخپل یار پسې مفتون شه ښه چه شه
هغه غم چه په مثقال په شیرشاهي وُ   اوس تر منو نو لا افزون شه ښه چه شه
بې دَ یار د مخ له خیاله بل فکرت مي   له خاطره نه بېرون شه ښه چه شه
دَ وصال په وخت مي قد لکه الف وُ   په هجران کښ لکه نون شه ښه چه شه
لکه قدر دَ وصال را څخه نه وُ   چه په بخره مي بېلتون شه ښه چه شه
په هوا په اشتیاق ئې دَ سرو شونډو   که مي ویني درست لړمون شه ښه چه شه
زړه هر گور په غیرو چارو مبتلا وُ   چه له غیرو چارو ستون شه ښه چه شه
زه ئې درست له هره حاله نه خبر کړم   چه دَ هند پلار مي یون شه ښه چه شه
هیڅ مکتب له یوه فیضه خالی ندئ   چه می ځای دَ سر زنگون شه ښه چه شه
عاشقان په عشق کښ هر کله زبون وئ   که مي زړه په عشق زبون شه ښه چه شه
چه ئې توره دَ غمزې راته په لاس کړه   که مي آس ورته هارون شه ښه چه شه
چه ئې پښه دَ دلبرئ په رکاب کړه
دَ خوشحال زړه ئې شگون شه ښه چه شه

زړه را پسې سر شو راته وايي چه وئېږه   وایه وایه وایه له وَیلو مه درېږه
تش شه له خروشه، څو په تا کېږي له جوشه   ژاړه ژاړه ژاړه په سبا ښېگا نخولېږه
ظلم جور ستا دئ چه په نر ناحق پما دئ   مکړه مکړه مکړه له آزاره وَ وېرېږه
سوی لوغړن یم، تل په آه و په شیون یم   وسوم وسوم وسوم درومه اور در وَلگېږه
اوس خو بې پروا یې که زه وَمرم بیا به وایې   مرمه مرمه مرمه څو لا پایم وَ پوهېږه
څه وایم چه څه کړې، سراسر واړه ښه نکړې   جگي جگي جگي په رشتیا مي مه قهرېږه
تل دِي تېرېده دي ښه له هر چا سَره ښه دي   ښه کړه ښه کړه ښه کړه دَ جېکخواه خبري نغوېږه
کبر لوئي مکړه چه دعا گټې هغه کړه   وینه وینه وینه ولي مهر کړه تېرېږه
رېږدي غاړي غرُونه دَ خوشحال په فریادونه
واروه واروه واروه راشه څه خو وکروهېږه

زړه می یووړ[2] یو خورد ساله   ښایسته پري مثاله
په دوو زلفُو عنبر پاشه   دواړه ورَځيي ئې هلاله

---

[1] دودونه پېت ندي له تانه.

[2] زړه مي یووي خورد سال.

توري سترگي ئې تور زاغ دئ	را پیدا دَ باز له ځاله
گلعذار ئې لاله گل دئ	غاښ ئې دُر شونډی ئې لاله
تر ښه قد و تر قامت ئې	سبر هم بې اعتداله
تر وَيل ئې نه رسېږي	دلربا شیرین مقاله
تر یانه پوری پوچی[۱]	دَ خطا دَ ملك غزاله
دَ خوشحال معشوقه دا ده
خوله ئې میم زلفي ئې داله

زه یو یار غواړم زیبا ښه	سر تر پایه دلربا ښه
ښایسته په شپږ جهته	هر اندام جدا جدا ښه
څو دَ ښهر ښایسته دي	دَئ په حسن تر هر چا ښه
تن ئې ښه دَ گل تر پاڼیو	تمامي قدر و بالا ښه
دواړه زلفي عنبر پاشي	گلغدار تر لاله لا ښه
توري سترگي توري ورځي	تور باڼه اوږده والا ښه
تنگه خوله حقه دَ لعلو	غاښ ئې دُر قیمت بها ښه
گبینه ئې سر دَ ژبي	دواړه لب ئې تر حلوا ښه
گلرېزي کا په خبرُو	تر شکرو په خندا ښه
څړه نیازو څړه ناز وئ	په جفا ښه په وفا ښه
که مي وژني تېغ را واخلي	دَ ده تېغ لگي په ما ښه
که هوا ده دَ ښه مخ ده	نشته ښه تر دا هوا ښه
هر چه دا هوا ئې نه وِئ	هغه ندئ په دنیا ښه
دا غزل چه خوشحال ووې
څوک به ووائي تر دا ښه

زمانه راته په څو پرته په څو وه	زه ئې واخیستم خوني مزري دروَ وه
وداني ئې په ډېر غم په ځگرخون وه	ویراني ئې راشه گوره په څه دَو وه
دَ بېدردُو یاري ما غنم گڼله	چه مي ولیدله سر تر پایه جَو وه
تندر تل په مناره باندي پرېوزي	دَ خسوف بلا دَ میاشتي په پرتَو وه
حق نا حق ئې وچ لانده وبله کښېښول	ظالمي دَ اورنگزیب پره د لَو وه
هغه تور هندو بچه به چرته غواړم	چه ځما دَ زړه متاع باندي گرَو وه
دَ زړه نوي ښه یاران وُ خداي جدا کړه
دَ خوشحال دَ زړه دمه په هغه نَو وه

زه خبر ور ځني نشوم بهار تېر شه	د گلونو لَون واړه په بل پېر شه
حیف دا چه دَ گلونو عمر لږ دَئ	په جهان کښ دَ اغزیو عمر ډېر شه

---

[۱] بوڅي.

دَ بهار بلبلي نه راځِي په سيل[۱] مگر زړه ئې دَ بهار له سيله سېر شه
هغه گل چه دَ حمل وُ په جوزا کښ ځاي ئې پاسه په سوات يا په بونېر شه
خوږ ژوندون جدا له ښه شيرينه ياره په ما خوار باندِي يا زهر يا گنډهېر شه
هونبره غم دَ بېلتانه لَرِي په زړه کښ
دَ خوشحال له دله گښت دَ بهار هېر شه

زه هم چېرى فرزانه يم لا تر اوسه تَل بيخوده ديوانه وَم، ديوانه يم لا تر اوسه
جدايي نشته وصال دَئَ ځَني[۲] بعد هم خيال دئَ له هغه چه[۳] همخانه وم، همخانه يم لا تر اوسه
چه راغلي په جهان يم خبر شوي پخپل ځان يَم دَ رازُونو خزانه وم، خزانه يَم لا تر اوسه
په عالم ځما خبري، خلق کا په نيژدې ليري په وگړِي افسانه وم، افسانه يَم لا تر اوسه
چه د مخ پلو ئې واشو، يِو مشال وُ چه نما شو هغه دم پرې پروانه وم، پروانه يَم لا تر اوسه
ناوکی ئې د مژکان دِي چه بلا د ما د ځان دي ورته عمر نښانه وَم، نښانه يَم لا تر اوسه
چه ئې ځان سَره آشنا کړم له هر چا ئې شا په شا کړم له عالمه بېگانه وم، بېگانه يَم لا تر اوسه
هغه بحر چه محيط دَئَ په افراط او په تفريط دئَ دغه بحر در دانه وم، در دانه يَم لا تر اوسه
هغه شان له خپله ياره بې وکيله بې ريباره
زه خوشحال چه يگانه وم، يگانه يم لا تر اوسه

ساقيا آتش مزاجه له صفا مينا زجاجه
دَ شرابو پياله راکړه د همه زحمت علاجه
نه يَوَه پياله دَ مېُو نه د درست جهان خراجه
زه او مَي اې محتسبه که مي خو نه سِي تاراجه
ور گدا دَ ميخانې شه که شاهي غواړې له تاجه
د رندانو بازار تود وِي دَ شرابو له رواجه
صومعې ته تله له ديره ياره کار دَي بې منهاجه
دَ ساقي پياله را واخله بکښ ډېر دَي ابتهاجه
ساقي هر کله دِ وينم مه جبينه، مخ سراجه
دَ بلورو پياله ډکه
د خوشحال دَه احتياجه

ستا په داغ راغلَم له موره خداي مِي مکره د غمه[٤] نوره
کم خدمت يَم په خدمت کښ ځُان لازم وينم هر گورَه
که زه هر څو کم خدمت يَم ته خپل شرم وته گوره

---

[۱] د بهار په سيل نه راځی بلبلی.

[۲] ځَني بعد و هم خيال دئ.

[۳] چا.

[٤] تغمه.

خانه زاد بندي کمین یَم هم بې توانه هم بې زوره
توان او زور مي واړه ته یې بې تا نه پېږم[۱] په توره
بد غلیم راته په ځَو[۱] دي له غلیمه مې وَژغوره
ته شفیع دَ قیامت یې
خوشحال وساته له اورهَ

ستا دَ زړه سختي مي سر تر پایه ولیدله سنګ به سینه ووړ کړي ستا له هسې سنګه دله
څه خورا ښکاره شوه په خیل دَ سترګو ولاړه ما وې دَ اسمان برېښنا وه نه مي بېژندله
نوره دنیا نشته چه څه وه را څخه خلقه! وار په وار مې واړه په دلبرُو وَښندله
ناز که کرشمې دي که غمزې فتنې جلوې دئ اوس مي په دا کار کښ سَرَه درست وپسندله
ګل چه شګفته شِې عندلیب باندي نارې کا نشته یَوَه کښلې چه پرې وبولم[۲] بدله
یاد مِې هغه وخت دئ چه په شپه به سَرَه ناست وُو شمعي به ژړا کړه، صراحي به خندېدله
اور چه په ځان بل کړي پخپل ځان باندِي لګېږي اوس مِې دا خبره په زړه ښه وَلګېدله
تل ګونه وَهلې، هر زمان ساړه آهونه ما چه عاشقي کړه خود په ما به دا کېدله
سرې لمبې ئې بلي دَ خوشحال ختِك په زړه کړې
سرې ختې اَغُوستي په دا لاري تېرېدله

ستا په سترګو کښ فتنې کانډِې خوابونه تورِې زلفي دي هم ډېر لَرِي تابونه
که ته زر حجا به ونیسې په مخ کښ را ښکاره وِې ستا جمال تر حجابونه
دَ جنت حوري که وَګوري ستا مخ ته نور به واچوَي له شرمه نقابونه
که شعلې دِ را ښکاره شِې له جماله لور په لور به سر څرګند کا اَفتانونه
زه چه ستا دَ بېلتانه په لمبو وَسوم نور مى څه دِی دَ دوږخ په عذابونه
ستا دَ خیال مېلمه مي ناست دَئ په کوګل کښ تل مي خورې دَ زړه دَ غوښو کبابونه
تا وې ما وَتا ته ډېر ځله خوله درکړه دَ یارئ په کار کښ هم شي حسابونه
زه وَ تا ته دعا کړم ته ښکنځَل کړې هم لتا ښائِې دا هسې ځوابونه
ته چه حال دَ خپل عاشق غواړې په شرح
بویه دا چه خوشحال وکښې کتابونه

ستا دَ راغلو منت ډېر لَرم نسیمه چه ګلوُنه غوړوې ځما په سیمه
و صبا وَته ئې هیڅ بېځایه نه دئ چه خبر شوم دَ ګلُونوله تسلیمه
دَ بلبلوُ بې خودي بې ځایه نده چه مستېږی دَ ګلونُو له شمیمه
بیم دَ هجر دَ چا سَرَه جار وَزِي هیڅ عاشق به خالي نه وِئ له دې بیمه
ګل بلبل سَرَه ښه وصل لَرِي دریغه که دا چارَ همېشه وئ مستقیمه
کله وصل دَ خپل یار کله هجران وِئ سرښته دَ عاشقی دَه دا قدیمه
دَ بهار په وخت چه کښت دَ ګلزار نکا هغه څوک به اندېښنه لَرَي سقیمه

---

[۱] په چاپي نسخه کښ څو لیکلي دي، په بله نسخه کښ پځو دي چه معني ئې حل طلبه ده.

[۲] ولولم.

په بلبلوُ د گل بوي لکه وصال دئ   که ئې رنگ په سترگو ویني ندیمه
هر ورق ئې معرفت دَ گردگار دَئ   و هر گل وته کاته وَکړه حکیمه
کله هر لوري ته گل دَ بهار گورې   کله نه وینې یو گل پخپله سیمه
یَو مي یار دوهم گلزار ساز و ساقي شته   نن مي کومه اندېښنه له غین و میمه[١]
دَ گلزار په اشتیاق دَئ په خزان کښ
په خوشحال باندي کرم وکړه کریمه

سترگی دِ مستان دِي ځما زړه ښیښه مهینه   پړوکی پړوکی مه شه چه ئې کنج په کنج وهېنه
سپېن سبا دِ گوره دَ ټېکي په شفق بند کړ   جگي جگي جگي رایي واخله له جبینه
کښلي دي که گورې چه مخ پټ کله څرگند کا   گل دَ بهار ندي را زېږي له زمینه
واړه به سبب دَ بد اصلانُو دَ هنر وئ   هر آفت چه گورې چه را پاڅي له کمینه
مست په بهار راغلي په سرود دِ گوتي کښېښوې   ځو به لا وبا سې دېر دِ ویاسته له دینه
چرته لوئېدلې نوم دِ خپور په جهان نه وُ   غوغا وشوه په ښهر چه ئې کوزه کړې له زینه
تل جام دَئ د شرابُو ستا په لاس توبه په شونډو   دَ خلقو لړمون شین دَي که پوهېږې ستا له شینه[٢]
حیات لایزال به دِ حاصل شي که باور کړې   دَ زړه لیدوني[٣] دواړه که روښن کړې له یاسینه
دَ عشق[٤] دَ محبت دَ ناوي مهر ماسوا دَئ   اول ئې درته وایم چه ئې ورکړې له کابېنه
هر څو ئې که پټه، په ټټر کښ وې ساتلې   څه بده بلا ده نه پُټېږی دَ زړه مینه
کله منت اخلِي دَ یوې گبډي دَپاره   هر چه همت ناک دِي که په کور لړی جوینه
زانې بتي گوره چه په هر لوري غوغا کا   هیڅ درنه پوهېږم چه په چوته يې شاهینه
هر چه دانایان دي په امان امان تېرېږي   هي توبه له دوره الامان له دې آئینه
نوم به دِ هر گز په ژبه وانخلي په عمر:
دا یارِي دوستي چه ستا خوشحال ته شوه مبینه

سپېنه ږیره دَ مردانو کد خدایي دَه   دَ غاښونو پریوتَنه رسوایي ده
دَ سرِی چه غاښ په ځاي وئ ږېره سپینه   پدا هیڅ زوړوالي ندئ برنایی ده
دَ خضاب ځواني دَ چا ده دَ احمق ده   تر دا کله ږېره ښه په ښه نايي ده
زوړ سړی دِ دَ زوړوالي اندوه نکا   که په ځاي ئې دَ چشمانو بینایي ده
زاړه مرد لَره لیده دَ دلبر څه دئ   په معنی دَ خوږو زړونو مومیایي ده
شیخ به کله عاشقي له لاسه پرېښوه   لاس و دست ئې نه رسېږي پارسايي ده
که خوشحال له عمر ولاړ تر اَویا تېر شو   لا په زړه کښ ئې دَ کښلیو آشنایي ده
توری ږیرِی سره وصله ناداني ده   سپینی ږېري سره وصله دانائي ده
شیخ به ولي نندارِه دَ کښلیو نکا   چه دَ ده دَ زړه دَ خوږو مومیائې دَه

---

[١] غین و میم یعني غم.

[٢] محشی ورته کښلی دی یعنی ستا له شین خاله.

[٣] یعنی د زړه سترگی.

[٤] د زړه د محبت.

زوړ خوشحال چه دَ دلبرو دیدن غواړي
دَ دلبرو په وصال کښ روڼائي[۱] ده

سر دَ سره بیا جنون را باندي زور شه
یا دَ میني لېونَی شوم خوي مي نور شه

که هر څو پندار کِوي پروا پرې نکړم
دا هنر مي و عالم وَته پېغور شه

دَ ساقی دَ میو هسي شان اثر دئ
په خمار کښ مي دستار له سره خپور شه

حریفانو په هاي هاي باندي نارې کړې
چه ساقي دَ میو داد کړ جام نسکور شه

هو دا کار دَ ازمیښت ندئ نور څه دئ
چه ځما بلا ځما دَ سترګو تور شه

که ګداي له لوږي مرِئ علاج ئې نشته
چه د دور د خواجه روزګار په پور شه

په خاطر باندیي مي ډېر داغونه جوړ وه
ولي ستا له لاسه داغ باندي انځور شه

خوب خندا دِ له خاطره فراموش کا
دَ هغو چه دَ ویشتلی په چم کور شه

هر کالی چه د رضا پکښي مونده شِي
دَ خوشحال خاطر مي ښهر دَ لاهور شه

ښایسته نه دئ بلا دئ آشنایی ئې دَه له غمه[۲]
آشنایی ئې دَه له غمه زه نارې وهم عالمه

زه نارې وهم عالمه، عشق یَو یم دَئ په موجونه
عشق یَو یم دئ په موجونه. الحذر له هسي یمه

الحذر له هسي یمه، چه عالم پکښي فنا دي
چه عالم پکښي فنا دئ، دا دریاب روغ دَی له دمه

دا دریاب روغ دَئ له دمه چه ساحل ئې لیده نشي
چه ساحل ئې لیده نشِي ډېر غرقاب دئ تر قلزمه

ډېر غرقاب دئ تر قلزمه، نه زیارتېږی نه کمېږي
نه زیاتېږي نه کمېږي، تر ابده تر قدمه

تر ابده تر قدمه، چه شنا کا پدا یم کښ
چه شنا کا پدا یم کښ، چه دعواي لَری محکمه

چه دعواي لَرَي محکمه، هغه دُر وریپسې غواړي
هغه دُر وریپسې غواړي، چه بهار لَرِي اعظمه

چه بها لَرِي اعظمه، هغه دُر ئې ښه جمال دي
هغه دُر ئې ښه جمال دي، چه خوبی ده باندِي تمه

چه خوبی ده باندي تمه، په جمال ئې زلفي مار دي
په جمال ئې زلفي مار دي، خبر دار ئې یم له سمه

خبر دار ئې یم له سمه، په څو قسم تور ماران دي
په څو قسم تورماران دي، څوک دَدم دِي څوک بې دمه

څوک دَ دم دي څوک بې دمه، هغه مار خوشحال خوړلي
هغه مار خوشحال خوړلي، چه ژوندی دَئ تر دې دمه

ښځه بویه هوسناکه، خنده رویه، مهرجنه
پاکیزه په زیست روزګار کښ په ښه بوي باندي مینه

دَ صحبت په رموز پوهه، زړه ئې خلاص له مکره دروهه
کم خوراکه خوش پوشاکه، همیشه ناسته دننه

په وصال دَ یار خوشحاله، یار ئې خوښ له قیل و قاله
چه له یاره نه جدا شِي، هم غمجنه هم خیرنه

له نېکانو همنشینه له بدانو په زړه خوړینه
له موروالي ئې توبه کا که ئې مور وِئ دروغجنه

دَ مېلمه پکار حاضره، په پخوالی بهادره
حق دَ چاري په ځاي راوړي، په رنځور باندِي پوښتنه

پاکیزه ئې د کور صحن، نه په غولي کښ نور لحن
پر ستاري ترې خوشنودي، ښه دَ هر چا په ساتنه[۳]

---

[۱] برنایی.

[۲] په دې بدله کښ صنعت د ردالعجز علی الصدر مراعات سوي دئ.

[۳] سَتَنه.

که دا هسي څوک پیدا شِي دَ خوشحال په لاسو راشیي
هیڅ تقصیر به ئې ونکا دَ یارئِ په پالَنه

قربان دي تر نامه شم محمدَ (ص) پیغمبره — اول ثنا دَ خداي ښايي بیا ستا ثنا ده غورَه
ادم که دِ پدر دَئَ په معني کښ ستا پسر دئَ — تر وارُو مرسلانوُ مقدمَ مؤخره
دَ نوح نجات له تا وُ دَ طوفان له امواجونو — گلزار په خلیل اور شو ستا له رویه اې سروره
چه خلاص شو له کشتنه اسمعیل مَړي قربان کړ[۱] — چاړه دَ ده له حلقه ستا اروا کړه لَره بره
موسی په کوهِ طور دَ تجلي طاقت را نه وړ — تا ولیده دَ سر په سترگوُ خپل مولا بهتره
موسی ته څرگند نه وُ عِسی ته ښکاره نشو — په قاب او په قوسین په هغه اسرار خبره
ستا صفت به خوشحال څو کاندِي په ژبه
انه وانت المولا و افضل تره

نجومي چه قدم نږدي بې نجومه — موت و فوت و ناکامي مومي له کومه
چه گړي گړي دَ ورځو شپو تېرېږي — پکښي راشِي په چا ښکه په چا شومه
ځان به خلاص نکا دَ بد ساعت له شره — نجومي ئې که خبر دَئَ له علومه
نېك و بد ئې په قبضه کښ دَ قضا دئَ — بېهوده خبري مه پېمه ور دروړمه
مقدر به په هیڅ رنگ مبدل نشي — هر سرِی لَرَه ورځې بخره مقسومه
که په پوهه افلاطون دَ زمانې شِي — دقیقه به دَ قدر نکړي مفهومه
گډُي[۱] چرگ تر زمکه لاندِي اُوبه ویني — ولی نه وینی په زمکه باندِی لومه
په تمځرَی نن دَ گانده حال معلوم دئَ — ولي بند شِي دَ هلکوُ په کړکومه[۲]
ورځ و شپې سَرَه همه ندِي یکساني — نن یوه ده کانده بله شي معلومه
وَ سرِي ته وار په وار هغه رسېږي — چه دَ ده په پېښاني باندِي مرقومه
په خوشحال یوه هغه دَه بله دا شوه
بیا به گوره په قسمت پېښه شي کومه؟

که اغزي وي ستا له لاسه — تر گلونو دي دَ پاسه
د زړگوټي سر مي ته یې — که یاران لَرَم بې قیاسه
چه به بل تر تا را تېر کړم — دا ویي دَ زړه و باسه
که دَ نورُو سَرَه خاندم — جهان نه دَي بې لباسه
له ماڼیه به دِ ومرم — څه خو مخ را وجار باسه
که څوک تا غندي ښکارېږي — څرښنت ببل دَي تر اماسه
تر هغه به نادان څوک وي — چه خرښه گڼي تر آسه
دَ اغیارُو سَرَه خانده
په خوشحال تندر پرېباسه

---

[۱] ملا چرگ.

[۲] یو راز دام دی.

که په هند کښ نشته سپینه   هوسی سترګه مه جبینه
خدایه ته وَ ماته راکړې   یَوَه سبزه نمکینه
به دوو زلفو عنبر پاشه   په دوو شونډو شکرینه
چه هر ځاي وَته ئې ګورم   ښایسته کښلې مهینه
هوسناکه ښېوه ګره   شوخه شنګه زړه سنګینه[۱]
دَ یارئ په علم پوهه   سخندانه نکته چینه
ورځ و شپه کا ځني چاري
په خوشحال دَ کُښلي مینه

که هیڅ نه وائ چه ویل راشي له یاره   ټول دَ یار مهر په لاس راکړه ریباره
سره لاله په هغه مځکه شګفته شِي   چه خولې دِ باندِي اوري[۱] له رخسارهَ
دَ غمزې په تیغ مِي وژني زه دعا کړم   چه ځما په خون ئې مه نیسې دا دارهَ
چا وې خپل نتلي کښ چه ئې په یاد وِي   بخته وخت دَي چه ئې ونه وزم له شمارهَ
یوه شنه پاڼې خپل بخت په لاس را نکړه   خلق څو ګلوُنه وړِي له دِې ګلزارَه
په آرزو آرزو کښ هسي لېونی شِي   چه خبر شوم دَ عاشق سرِي له کارَه
که ئی درست په سیند کښ ډوب کړې هم به سېځي   چه شېځَل ئې په نصیب شوله روزګارهَ
په وژو دَ عاشقانوُ هسي ځغلِي   نیم بسمل ئې په ځای پرېښوم له تلوارهَ
چه ئې ستا په کوي کښ ځاي ونیو نور مړ شوُ
د خوشحال خاطر له باغه له بهارَه

که ګذر په خیر آب آباد وَکړې نسیمه   یا دي ګشت وشي دَ سراي دَ سیند په سیمه
په وار وار سلام ځما ورته عرضه کړه   ور سرَه ځما دَ لوریه څو تسلیمه
اباسیند وته ناره وَکړه په زوره   وَ لنډئ ته وینا وَوایه حلیمه
کندي وي چه بیا مي ستاسِي جام نصیب شي   په ګنګا جمنا به نه وُ له قدیمه
که دَ هند له هوا زار کړم څو به زار کړم   دَ اُوبو بلا ئې لابده عظیمه
که دَ نهر اَوبه څښېې ګلمې پرې باسي   هم دَ هر کوهی اوبه ندي بې بیمه
چه سرِې اوبه دَ غره نشته په هند کښ   ترى توبه که واړه ېک دَي له نعیمه
تل به هیڅوک نامید په جهان نه وِئ   په کریابو کرم کېږِي له کریمه
دَ ویشتلي وَ صحت ته امید وشي   دَ پرهار ئې چه کمي وشِي له ریمه
خدایه زړه مي په وصال دَ هغو خوښ کړه   دا چه اوس ورحئي لېري دَي دوه نیمه
عاقلان به هیڅ انکار ور باندي نکا   هر افعال چه صادر کېږِي له حکیمه
همیشه به په هند نه اوسې خوشحاله
عاقبت به عاصي ووزي له جحیمه

که مردي دي په دستار ده په منډوسه   سکه مردي دي مبارک برېتونه پوسه

---

[۱] دلنشینه.

کشکی زه دَ نا مردانُو په شمار وَي — چه فارغ وَي له ارمانه له افسوسه
د لوهړ گلونه ښه دي تر نلگوس — ولي بیا چېري لوهړ چېري نلگوسه
چه ظاهر باطن ئې دواړه حبطه وئ — منافق سړی بتر گڼه تر کوسه
په دروغ په نا راستی کښ ډېر غم دئ — دَ رشتیا روزکار کوه بې غمه اوسه
چه به هر کله جفا کړې وفا هم کړه — دَ اغزیو سَرَه گل لَرِي پلوسه[1]
په جهان کښ بد خویي واړه دوږخ دَه
د خوشحال له دله خوي دَ بدو یوسه

ستا له خویه نه مِي خوړینه دَه اینه — ځکه هسي وهم کاڼِي په سینه
که دِ زړه دَئ چه مي مینه در ښکاره شي — راشه وَنیسه وَ مخ ته آینه
چه دِ زه دَ وَر ملنگ شوم خز به څه کړم — راته توره شړئ بس دَه پشیمینه
کله کله راته گوره ستا نوکر یم — راته بس ده هم دا هونبره مهینه
خزینه دَ سرو مهرانو دَ شاهانو — ستا دَ راز لَرم په زړه کښ خزینه
وایې ته کله په مخ ځما مینَ شوې — ستا په مخ باندِي مین یم دیرینه
چه ځما سَرَه ئې ستا دَپاره کاندِي — خوښ یم ستا دَ رقیبانو په کینه
ماتېدل ئې هیڅ دشوار ندئ که گورې — چه وَ کاڼِی ته بیژدې شی آبگینه
دَ بادشاه په تخت و تاج پوري خندا کا — دَ درویش بوریا، ټوپیَ، پشمینه
انگوري ترخه شراب ور لَره بویه — میخواران له گبینه لرِی گینه
ورځ هغه ښه دَه چه ته پکښې خوشحال شې
که شنبه که سه شنبه که آدینه

ښه ښه بخ بخ دلداره — وفا جویه غمگساره
چه کنم چه چاره سازم — چه دِ زړه[1] کړم را کناره
به که گویم از فراقت — چه مِی زړه شو پاره پاره
نکند بدل سرایت — که زاري کومَ بی شماره
تو چه سنگدل نکاري — چه مِي ستا وَکړه ننداره
به عاشق بې سروبا — ستم مکړه ستمگاره
به نگاه گاه گاهی — مهر کړه دَ خدای دَ پاره
اې نگار من حذر کن — دَ ویشتلیُو له آزارهَ
نرود ز درگه تو!
که خوشحال شړې سل واره

لا منت لَرَم پدا هم له اسمانه — ننداره دَ ابا سیند له میر کلانه
په تیراه په سوات په خوړه ور په ورشوم — بیا مي کوم لوري ته ته بیایې اسمانه
لکه گوي هسي په حکم دَ چوگان یم — درست وجود پرهار پرهار یم له چوگانه
سر نوشت مي له ازله مگر دا وُ — زه به څه لَره مانه کوَم له چانه

---

[1] یوه د غره اغزنه ونه ده.

قديمي دَ پښتنو جهل خرتوب وَ   اوس په طمعَ په حرص درومي له ميانه
که رشتيا وايم شير شاه دا هسي نه وُ   لکه موږ يو نه پيدا له کوهستانه
پښتانه چه بې ننګي کا څوک ئې څه کا   ګورستان لَرَه به درومو له ارمانه
دَ ختکو دَ نفاق له ناپوهیَ   يا چه غم لرَم له خپله خاندانه
چا وته وايم څو به کښم څه هونبره ندِئ   چه تمام شِي له مذکوره له بيانه
دا داغُونه چه خوشحال لَري په زړه کښ
رغېدل به ئې په تا کيږِي سبحانه!

که غواړم نه يې مومم هسي تا غُندي مهوشه   خنده رويه سنبل مويه ګلعذاره پياله کشه
سمن بره قد عرعره مو کمره لب شکره   آهو چشمه څړه خشمه مهرجنه منقشه
دلنوازه سرفرازه چشم بازه عشوه سازه   تيز نظره غمزه ګره په دوو زلفو مشوشه
سر بلنده خود پسنده[1] خود نمايه دلربايه   د عاشق دَ ځان بلا په رنګ زيبا په خوي آتشه
طربناکه تل بيباکه ګريوان چاکه تش تاپاکه[2]   زړه ئې سخت لکه آهن په مخ يوه آينه بې غشه
د زلفينو سر ئې تاو لکه نخوش د ماهي ګېر شو
کله وي چه خوشحال خلاص شي له دې هسي رنګ نخوشه

که دا ستا سترګي دا وجار باسم ځان ته   له ښادیَ به نور شا کړم و جهان ته
يو زمان مي که دا ستا ليدل نصيب شِي   نور به سترګي پورته نه کړم ګلستان ته
طبيبان دِ خپل دارو ور څخه کښېږدي   تا ويشتلي مينه نه کا و درمان ته
کفرستان د شاه د تورو زلفو ګوره   چه په څه رنګه تاوېږِي و ايمان ته
چه په ما باندي تېرېږي ستا په عشق کښ   خداي دِ هسي حال پېښ نکا مسلمان ته
په جورا[3] بورا به هم نکا وتنه   عاشقان کله خالي دِي و سهمان ته
اول ښه شهپر پيدا دَ الوتو کړه   بيا له پسه الواته کړه و اسمان ته
په فراق د ښو يارانو چه ډېر ژاړم   دواړه سترګي مي پېغور کا و باران ته
چه پخپله افغاني ژبه نادان دَي   په تورکي خبري څه وايې افغان ته
ما ئې دواړه شونډي بيا مونډې په کور کښ   نور دِ لعلو لره درومي بدخشان ته
هغه شونډي چه ځايي بې پاڼو سرې دِي   هغه شونډي څه حاجت لري و پان ته
له خوشحاله ئې بهرام غُندي پيدا کړ
دم واهه نشي څوک څه وائي يزدان ته

ساقی بيا دَ ميو مهر کړه چه عيد شه   دَ رندانو دَ ښاديو وخت جديد شه
په هر لوري يو آفتاب دَي ځلېدلي   ښاپېرک ئې له جماله نه کور ديد شه
په هر څه کښ ننداره دَ هغه مخ کړم   چه له ډېري پيدايیِ ناپديد شه

---

[1] هنر منده شکر خنده.

[2] تپاکه.

[3] دا بيت عېياً وليکل سو، په ټولو نسخو کي دغسي دي، اما معني ئې نسوه راته ښکاره.

هم هغه دي همېشه ژونُدون مونديلي   چه دَ مستي دَ غمزې په تېغ شهيد شه
زمانه په خلقو هسي ازميښت کا   چه يوسف دَ قبطيانو زر خريد شه
واړه نخښې ئې په زړه وينم حضوري   که اشنا په ليري حد له ما بعيد شه
هر چه ستا دَور دَ سپيو په حساب وئ   په جهان کښ هم هغه سړی سعيد شه
خط و خال په ښه جمال باندي يو دود دئ   نه چه حسن دَ خوبا پدا مزيد شه
چه دِ نوم دَ خوار خوشحال په ژبه واخيست
په درست عمر کښ خو نن ورباندي عيد شه

سپين نمری[1] اغوستي په پښو سرې کوښي نو خطه[2]   څه رنگه را درومي لکه تکه سپينه بطه
سل دئ سره کښښېني واړه يَو تر بل بهتري   خداي ړوکه به زه کوم تا په واړو کښ غلطه
بخت غُندِي نا گاهه ځما خوار کره سيده شو   راغله دِ په قصد وُ که دا راغلې بې نمطه
وايم[3] چه که واړه زاري زه راوړم خپل کور ته   څوک چه چا ته زار کا دَ دلبرُو له سخطه
راشه سر مي پرې کړه لا به ښه شم په وفا کښ   خود په دا پوهېږې قلم لا ښه شې له قطه
ډېر په درياب کې شي واړه مټ کا دَ وتلو   څوک پکښي لاهو شِي ځني وريشي تر شطه
لوړي لنډي نورو ده خوشحال ده غوره کړې
نه لوړه نه لنډه په قد ښه روغه وسطه

سترگي ستا غړوِي زړه   سترگي ستا پټوِي زړه
چه دا خوله خوځوِي دَی دَئ   ژبه ستا ويَوِي زړه
چه څه کار په لاسو پښې کړې   دا هم ستا ښوروَي زړه
اوريده په دواړو غوږو   هم پټا آروَوِي زړه
چه نېکي کړې يا بدي کړې   واړه تا سندوي زړه
چه خندا کړې يا ژړا کړې   خندَوِي ژړوِي زړه
دواړه کَونه لکه تن دي   کار دَ تن جوړوَي زړه
زړه بې چون و بېچگون دئ   څوک دا غوښه کڼی زړه
دَ خوشحال په زړه کښ يو دَئ
څوک ئې څه لټَوِي زړه

ستا له خاله مي يو داغ دَئ په سينه   چه همېش را سَرَه يار دَئ ديرينه
تا چه واغوښتې دَ خيال جامې رنگيني   بله ستا په ډَول نشته رنگينه
يو گلزار پکښي ناگاهه شگفته شي   چه په مخ دِ مخامخ شِي آئينه

---

[1] يعنی کالي او لباس.

[2] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

[3] وايمه چه واړه زاري ما راوړي خپل کورته.

بې پدا چه ښایسته وُو وته ګوري | په بل ځیز مي له چا نه کېږي کینه
ساقي نن له لاسه څه خو باده پرېږده | چه په سر کښ مي خمار دَئ دوشینه
دَ بادشاه دَ سره تاج ئې مخی ندی | دَ درېوش دَ سر ټوپی پشمینه
زه په عشق کښ مستثنا لکه مجنون یم | چه مي نشته په ډېر قرن قرینه
دا څه راز د میني ندئ په کوګل کښ | دا مي یښې دَه په زړه کښ ګنجینه
مَی خوریٔ لَره شنبه خوښَوِي خلق
وَ خوشحال ته څه شنبه څه آدینه

سا په غم کښ مي آرام له زړه بیرون شه | دَ غرڅه غُندي مي خوب په ځګر خون شه
همېشه په غاړي غرُونه سرګردان یم | پدا دور مي درست ډَول دَ مجنون شه
عاشقي سړی رسوا کا هاله وَمري | ښه هغه چه مړ په تبه په طاعون شه
ګوره څو عالم به لاندِي کا تر چلو[1] | چه روان مي تر دا دوو سترګو جیحون شه
هډیره ئې دَ شهید په څنګ کښ بویه | هر سړی چه مړ په توره دَ بیلتون شه
په ګلونو به ئې ږغ کاندِي بلبلي | دا ګلزار چه په بیاض ځما زرغون شه
چه درست کال ئې بیا بیا وایم لا یو راز دئ | دا یو راز تر دفترونو نه افزون نشه
په زر ژبه ئې ستایه واړه یو راز دئ | عبارت که مختلف شه یو مضمون شه
عشق خوشحال وته یو هسِي سبق ورکړ:
چه ئې زړه د قال و قیل له درسه ستون شه

شپه دَ بېلتانه ده پهر پهر کال پما شه | بانګ دَی دَ چرکانو په هزار هیله سبا شه
رایشي ګلزار ته وار په وار ننداره کاندي | وار په وار پرې تېر شي اوس که ګورې وار ځما شه
پېغام راوړي دَ وصل عجب ښه راځِي په مهر | هد هد دَ یار له لوریه نن پما باد صبا شه
په وخت دَ مشغولا دَ ګلو کله آواز کاندي | چه درومي له ګلزاره په چیغار چیغار طوطا شه
په درست عمر ئې مهر د سکوت په خوله وهلي | ځما دَ زړه طوطي دَئ چه نن ګورمه ګویا شه
رنګ چه باندِي پرېوزي آئینه دَ زړه تبی شي
زړه دَ خوشحال ګوره له هر زنګه مصفا شه

شیرازي که ښه خوراک وُ واروه تېر شه | ملوکي که ښه پوښاک وُ واوره تېر شه
که خپلوي دَ زن فرزند وه حال ئې دا دئ | که له خلقه زېست و ژواک وُ واوره تېر شه
که منصب وُ که خالي که سرداري وه | که په لاس ملك و املاک وُ واوره تېر شه
فرش فروش نقش و نګار دَ محلونو | که بستر مي عطرناک وُ واوره تېر شه
چه له ښکاره به په خیال راتلم وَ کور ته | سور به تل ځما فتراک وُ واوره تېر شه
خپل پردي نېکان بدان له هره لوریه | په دربار مي په بلغاک وُ واوره تېر شه
تار په تار دَ اکوړ خېلو کړی ولاړې | پدا ږغ مي ځان هلاک وُ واوره تېر شه
اوس ئې روخ دَ ملنګیَ دَ دوهې دَئ
دَ خوشحال چه سراي او تاک وُ واوره تېر شه

---

[1] تر څلو.

شل کاروُنه پرېږده ننداره ئې دَ جمال کړه　　دواړه کسي واخله په سپین مخ باندي ئې خال کړه
کښېنه په انګڼ کښ مخامخ چه ورته ګورم　　تور لونګین د واړه چندڼ هار په سینه ټال کړه
راغلې و بازار ته درست وجود کړه لکه کسي　　ګوره که ړوند نه ئې ننداره ئې دَ کمال کړه
تله دِي تېرېده دئ ښه له هر چا سرَه ښه دي　　ونه دَ نېکی په دا باغ کښ نو نهال کړه
واړه ورکَول دَ جهان ګوره عاریت دئ　　غم دَ بېلتانه ځما زړګیه په وصال کړه
بې دَ یار له میني چه به کور دَ دنیا جوړ کا　　واروه درته وایم خداي ئې میني په زوال کړه
ته هغه رستم یې چه شاهان دِ طلبګار دي　　چا درته تلقین کړ چه خدمت دَ پیرزال کړه
الف دِ دَي سریښي ستا په میم چه درته ګوري　　په دواړه لوریه زړه وړې په مخ دواړه زلفي دال کړه
نور خلق پښو دي چه پرې بار نشته دَ میني
بار لَري دَ میني ناز و نیاز په خوار خوشحال کړه

عیب جوي سرَه مي هونبره دَه کینه　　و به نه نیسم وَ مخ ته آئینه
خداي دِ ما بېغمه نکا په دنیا کښ　　زه او غم سرَه یاران یو دیرینه
ساقي څو خمار شکنی پیالې راکړه　　چه په سر کښ مي خمار دَئ دوشینه
دا یم زه ورپسې سر یم که ئې مومم　　په دوران کښ مونده نشي خزینه
نن ئې مکړه تفحص وایه چه نن دَئ　　که ئې بیا مومې په قرن قرینه
لاله ځایه چه خوشحال په جهان راغي
دَ لاله غُندي ئې داغ دَئ په سینه

فراق څه رنګ را اُوږده کړه پما نن شپه　　دَ جوزا شپه ئې بلدا شي په غمجن شپه
په فراق کښ مي په سترګو خوب حرام شه　　په هیچا باندي ورمشه دَ لېچن شپه
چه رېبار ورته پیغام دَ وصال راوړي　　په هوس هوس تېرېږي په مَیَن شپه
دَ فراق په شپه امید دَ وصال څه دَئ　　که ئې ګوري په معني کښ ورکه ستن شپه
دَ دوهې ملنګ هم تېره کړه دوهې ته　　که تېرېږی په تونګرو په برستن شپه
روغ عالم بې غمه خوب کا خبر ندئ　　چه په څه غذاب تېرېږي په دردمن شپه
وَ وصال وته هجران دَئ ورنیولَي　　ښخه شوې وه دَ ورځې په لمن شپه
ورځ ئې ما لیدلې نه ده په درست عمر　　خداي به نکا سپین سبا دَ دروغجن شپه
دا نن شپه چه په خوشاحل دَ فراق راغله
ور دِ نشِي هسِي سخته په دښمن شپه

که مي یَو ځله رسد وشي تر سیندهَ　　نور دِ مه وینم په تورو سترګو هندهَ
نه به سترګي د سرِی په چا خوږې شِي　　نه ئې ما ته په اوبو شِي دَ جا تندهَ
دَ پېپلو پاڼي خوره په غره کي اوسه　　نه چه پان د هندوستان خورې ځما جندهَ[1]
په هغه بازار به څو سود و سودا کړې　　چه کارګه پکښ قدري دَي تر شهندهَ
اې وروستيَ عقله دریغه که پخوا وَې　　ما به ولي پخپل ځان کړه هونبره شندهَ

---

[1] یعني ځما ګله.

هر چه وشول هغه واړه در بخښلي
اوس خوشحاله په لاس مه نیسه ناپسندهَ

که عالم وته دلخواهه[١] بادشاهي شوه — عاشقي وَ ما ته لا عالي جاهي شوه
دَ تقوا په کار و بار ډېر خبردار يم — ولي څه کړم چه نصيب مي گمراهي شوه
شاهدانو ته دَ خضر عمر غواړم — حيف دا دَئ چه دَ عمر کوتاهي شوه
چه له ځايه ئې گناه لَره پيدا کړم — که نظر وکړې ځما بېگناهي شوه
يار مي وليده له ورايه شکر دا دئ — چه قبوله مي دعا سحرکاهي شوه
لکه ستا کسي په خوارُو برابر شي — دَ طالع تر روڼا ښه دا سياهي شوه
زه دَ يار په جفا هيڅ اَهُونه نکړم — راته غم دَ رقيبانو بد خواهي شوه
ستا دَ سرو شونډُو په دَور مي حلال شول — ښه چه اوس روا دَ ميو مناهي شوه
سربازي يا دَ پتنگ يا دَ عاشق ده — يا قسمت دَ مجاهد يا دَ سپاهي شوه
بخته دا ځله ئې راوله تر غاړي — چه ببړئ مي پدرياب کښ تباهي شوه
که خبر له حاله نه وَئ څه به ښه وُ
و خوشحال ته غم دا خپله آکاهي شوه

که په زړه کښې دِ د يار مينه ځايې ده — سکه ناحقه دِ له غېرو آشنايي ده
مخ ئې کله دَ يوسف غُندِي زيبا دئ — دَ يوسف تر مخ ئې زياته زېبايي ده
چه ئې رائ دَ خپل خاطر وِي هم هغه کا — په دلبرو مسلمه خود رايي ده
که دِ زړه وي چه دا خوږ خاطر مي روغ کړي — دَ لبانُو مچه راکړه موميايي ده
زه او ستا دَ دوارُو شونډو مَي هغو زده — چه ئې نن په لاس نيولې پارسايي ده
دَ معشوقي په ترخه کښ ډېر خواږه دِئ — چه ئې گورې نېکنامی ئې رسوايي ده
چه په خلقو کښ دوږخ دوږخ يادېږی — بل دوږخ په جهان نشته جدايي ده
په پېغور په تور په زور به ځني نه ځي — دَ هر چا چه خپله بخره شيدايي ده
دَ افسون دَ سحر کار دا هسي نه وِئ
دَ خوشحال په زړه کښ دا مينه ځايي ده

که يو ځله مخ ښکاره کا له نقابَه — د ښايست نامه به واخلي له آفتابَه
لاله گل به ئې له مخه خوبي پور کا — په زلفينو به سنبل کاندِي بې تابَه
خلق څه لَرَه تهمت په زمانه ږدِي — په[٢] چشمانو ئې دنيا کړله خرابَه
د خمار په علامت ئې سترگي سرې دِي — که چا بې وخته بيداره کړله له خوابَه
د خاطر ويني ئې نوش په ځاي د مېو — بيا ئې نقل هم د زړونو له کبابَه
خاصه مرگ د معشوقې د مقتولانو — چه جنت لره به درومي بې حسابَه
ځما زړه قبله نما شو نه جار وزي — و بل لور ته ستا د ورځيو له محرابَه
په وعده ئې زړه خوشحال مکړه خوشحاله

---

[١] بهتره.

[٢] چه.

د وفا طمع څوک نکا له حبابَه

که دیدن شوَي بې نصیبه   ما به ولیدې حبیبه
په پرهار مي اور بلېږي   دارو مه سبځَه طبیبه
زه د یار یم یار ځما دي   تر منځ څه غواړې رقیبه
لېونی به لېونتوب کا   بې پروا دِي له ادیبه
و عاشق وته ناصحه   څه ویَل کړې بې تقریبه
تر فرهادَ تر مجنونه
په خوشحال پېښه عجیبه

که ناګاهه را ښکاره شِي هغه خوبه   زړه به یوسِي له عاقله له مجذوبه
رقیبان به سر نګون له غمه پرېوزي   که په راي کښ د خپل ېیر درومي محبوبه
هر زمان په نوی نوی غم اخته شوم   چه تل تل نوې شېوه کا دل آشوبه
د یوسف د مېني لاف واړه عالم کا   ولي بل پسې ړوند نشو بې یعقوبه
که لا څه درته د سر و مال وجود وي   په دا فکر به ور نشې تر مطلوبه
ته ئې تل په سر دعا کوه خوشحاله
که دِ نوم په ژبه نه اخلي محبوبه

که نیولې زرکه باز پرېږدِي له چنګه[1]   زه هم له لاسه پرېږدم شوخ و شنګه
ور په ور کلي په کلي پسِې ګرزه   دروېزه که دَ دیدن مومې ملنګه
ګل که هر څو ښایسته دَئ پدا باغ کښ   که ئې وینې بیا اغزې لَرِي له څنګه
چه دِ توان رسي په لوي دریاب کښ ګرزه   په بېله کښ دي زوال وینم نهنګه
عاقبت به ککرۍ ورباندِي کښېږدې   تر څراغ چه کېنې وښَي ګرزې پتنګه!
پند ګویان چه عاشقانُو ته پند وائيِ   دَ هوښیار په پوهه سر وَهِي له سنګه
تر سهار مِی د یاره سَرَه ناز وُ   درسته شپه راته کوتاهه شوه تر درنګه
هغه یار که په پالنګ را سَرَه نشته   دا هم شکر چه ئې بوي ځَي له پالنګه
چه ئې زړه دَ معشوقې په مینه مست شي   دَ هغه سرِیُو څه له نام و ننګه؟
لېونی به لېونی نه وُ عالمه   که ئې بخره وَئَ له عقل و له فرهنګه
که لیلې و نور عالم ته کښلې نه وه   پدا څه، چه وَ مجنون ته وه خو شرنګه
دَ عمزې په تېغ ئې خوږ ښه يې خوشحاله!
مَړَنَي په روغ صورت نه ځِي له جنګه!

مرد هغه چه زړه ئې ویښ سترګي په خوبه[2]   پخپل سپي[3] ئی ګمان شي د لېونتوبهَ
درویشان دي دعا کا زه ئی په ځَان کړم   که د زړه نه مي روان شي دا زهوبه

---

[1] دا بدله په چاپي نسخو کښ نده راغلې.

[2] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

په مخ ډېره ښايسته ئې نوم دي څه دئ — د عاشق د ځان بلا فتنه آشوبَه
که په توره ئې ځواب ورکړی مردي ده — که وجود دي ځوک آزار کاندي په چوبَه
په هغه لاري چه پل ږدې هسي وايم — که بانو کړم د هغې لاري جاروبَه
که هر دم ورته ژړا کړم فايده نشته — سنگين زړه به ئې په چا نشي نروبَه
د دنيا سختئ تل نه وي غم مکړه — په حلوا گندي بدل شي دا اتوبَه[1]
که په تور د عاشقی بنديخناه شي — د عاشق له دله نه ځي تلا توبَه[2]
که مي لاس ورباندي بر شې هېر مې ندي — ډېر سرونه به چت پت کړم په ميخ چوبَه
ستا په تش ديدن مي هسي زړه خوشحاله شي
لکه تږی په اوبه شي ښه خړوبَه

که رشتيني محبت لرې مه ناړه — په يوه ناره ښېل شوي يار وژاړه
دَ رسا ويشتلی کله توان دَ ږغ وئ — په فراق کښ نارې مه وهه له باړه[3]
په معني کښ جدائي نشته وصال دئ — دَ آشنا په غم کښ خوښ اوسه تل وياړه
په هجران کښ هغه هسي شان وصال شته — لکه ځوک له خپله ياره لاس تر غاړه
دا ديدن لکه په پټو سترگو کېږي — دا ديدن له وازو سترگو نه مه غواړه
ليلا پلار کره په سل پردو کښ ناسته — مخامخ وه وَ مجنون وته وَلاړه
پسله مرگه هم جدا نه وِئ رشتيني — په يوه لحد کښ ورشي سرَه دواړه
دَ رشتيني ميني ډار د زوال مکړه[4] — چه رشتيني عشق لَرِي سلام په واړه
دَ يار غم دِ دَ خوشحال له دِله نه ځِي
دَ فاني دنيا خوښي که لاړه لاړه

که مليح يې دَ زړه مينه په مليح کړه — که قبيح يې درومه چاری دَ قبيح کړه
دَ بهار گلونه ډېر دِی واړه گوره — چه دِ زړه وِئ هغه گل پکښې ترجيح کړه
که دِ زړه دَئ چه دَ مخ ثنا ئې وايې — دَ بلبلی غُندي خپل زبان فصيح کړه
مسيحا دَ رنځ وَ هر لوري ته ډېر دِئ — دَ خپل رنځ دوا دَ وخته په مسيح کړه
له ازله ئې رند رند زاهد زاهد کړ[5] — زه به ډکی پيالې اخلم ته تسبيح کړه
په حسد په رخه څه ځما پروا دَه — چه دِ پټه کينه کړه اوس ئې صريح کړه
زه که بد يم هم دَ يار دَ سترگو تور يم — و هر چا وَته ځما دَ عيب تشريح کړه

---

[3] يعني نفس.

[1] لېټی، اړوب، ړوز، د مېده اوړو هغه لېټی چې په اوبو کښ نرمه پخه شي.

[2] جوش او خروش.

[3] يعنی دَ گولی خراش او زخم.

[4] نشته.

[5] له ازله ئې زه رند ته ئې زاهد کړې.

دَ توبې درياب ئې تا لَره پيدا کړ   دَ ګناه له تور يو ځان لکه صبيح کړه[۱]

دا دَ سر په سترګو مه ګوره خوشحاله ته
که دَ زړه سترګي لرې ښه ئې صحيح کړه

که نيمګړې پياله را کړې ساقي تا زده   همګي مدار په نيت دَئ باقی تا زده
دَ شرابو په مستي بې خوده ولاړې   که له سره نه دِ پرېوزي تاقی[۲] تا زده
دَ بابا په رضا ځه جنت به مُومې   روايت مي درته وکړ عاقي تا زده
زه دئ وخوروم په مار دَ تورو زلفو[۳]   حال مي خود وينې په سترګو راقي تا زده
دَ خوشحال غُندِي همېش په ځان ناچاق يم
ته چه تل په صورت چاق يې چاقي تا زده

که هوښيار دئ که نادان دئ که سادکه غله   هيڅوک نه وينم دَ خپلي لاري صله
يو په غم شريك يار نه وينم په ملك کښ   خلق تشي تسلې کاندِي په خوله
دَ مېړيو غُندِي يُون دَئ و دانو ته   چه و ما وته عالم کا تله راتله
چه اميد دَ مېړي نه وِي وَ دانو ته   وَ هغه لورِي ته نکاندِي هيڅ تله
خپل ويشتلې غرځه مه پرېږده خوشحاله
ځاي په ځاي ئې ويني توئِي دِئ په پله

ګم ګشته او ګم ګشته سَرَه رفيق شه   ګم ګشتن دَ دواړو تنو په تحقيق شه
دَ شرابو جام په لاس شاهد بازي کا   شيخ دَ ښهر عبادت پرېښ زنديق شه
يو ئې اصل سَرَه دوه اويا مذهبه   خدايه څه بني آدم فريق فريق شه
عشق څه هسي آسان ندئ هونبره خلقه   په بلخيو کښ خو يَو سرِی شفيق شه
دَ اسمان دَ ستوريو هم و بله فرق دئ   ځکه غوره په يارانو کښ صديق شه
چه توفيق ورسره مل شه کار آسان دئ   کل مدار دَ واړو خلقُو په توفيق شه
آزاده به له چا طمعه اميد نکا   چه به طمعه له چا کا کله عقيق شه
دَ غليم مهر په هيچا باندِي نه وئ   يو فساد وربانديِ کاندي چه شفيق شه
وَ خپل بخت وَته تسليم کړه چه غليم دئ   همګي دَ غم په بحر کښ غريق شه
نور که سل پيالې آخلي دَئ دي سل څښي
چه خوشحال دَ باده نوشو په طريق شه

ګوره دَ يار مخ ته بيا لېمه پرې ولوه   زړونه دَ بد رنګو رقيبانو ويلَوه
دا دَئ هغه مخ چه په هجران کښ پسې ته مرې   اوس ئې په وصال کښ دواړه لوريه کښلوه

---

[۱] په توريو تور يې ځان صبيح کړه.

[۲] طاقی.

[۳] زه ئې وخورم په مار.

لویه پښکښي دَه په وصال کښ درته وایم دُر ئې په لَمن کښ ورته گوره تلَوَه
زه دَ بېلتانه په حال خبر نه وم خبر شوم خداي له خپله یاره نه هیڅ یار مه بېلَوه
تندر دَ رقیب په کور پربوزی قهقه خانده سپینه آئینه دَ ششت[1] خپل یار ته ځَلوه
یو ځله چه زړه دَ چا په مهر مینه بند کړې شرط دَ یارئ دا دَئ زړه بل ځاي مه نښلوه
کړې دې دَ زړونو ستا دَ مخ په لور رواني واړه ملك بوستان دَئ په هر ځاي ئې ملَوه
درسته دِله خپلو نمریو وَ ایستم خوشحاله
یو دَ غاړې هار مې دَ گلونو مه شلوه

لکه زه یم پیدا شوَي پدا مینه دَ نور چا به هسې نه وئ پیدا مینه
دَ قصاب چاړه په غوښو هسي نکا لکه کا د ما په زړه دَ اشنا مینه
درست عالم را باندې غاو کا زه حیران یم چه له زړه به په څو لیري کړم ستا مینه
په یوه تن کښ دا دواړه توکه نه وئ هم دَ حسن استغنا هم دَ چا مینه
نه به بوي دَ مښکو پټ شي په نافه کښ نه به پاتو شي مخفي دَ شیدا مینه
ما په سحر په جادو تقصیر وَنکړ دَ ناترس خاطر ئې نشي په چا مینه
په ژړا مي به دوه سترگي وچي نکړې که پما شوې دَ خپل یار په ژړا مینه
لور په لور ئې په همه عالم رسوا کړ
کشکه نه وَئ دَ خوشحال دا رسوا مینه

لکه[2] ستا دَ زلفو تاب شته په سنبلو کښ هم تاب شته
لکه ستا دَ خولو بوی دَئ هسي هم په ملك گلاب شته
ستا دَ مخ ترې خال به بِه وِئ په خطا که مشك ناب شته
لکه زړه ځما ستا شوندِي نه کباب شته نه شراب شته
که و نمر ته خاته گران دئ دَ زلفیینو ئې طناب شته
چه کاته دِ په حساب شول دَ یارئِ هم حساب شته
کښلي ډېر وه ما ته یار کړې تل دَ گلو انتخاب شته
کل پما شهد شکر دِئ که دِ قهر یا عتاب شته
مجنون مړ ندئ ژوندی دئ چه لا ما غُندِي خراب شته
دَ هجران په شپه مرگ غواړم ځما سترگو ستاسی خواب شته
چېری نه په بل مرگ وَمرم دَ غمزو دی هم شتاب شته
چه مې وژني کوز به کورم له اشنا سترگو حجاب شته
ما خپل خون ورته پل کړَي که د ما د مرگ غذاب شته
دَ چا مَي مي په کار ندئ چه مي خپل لبِ لباب شته
دروغجن یم که دا شعر دَ میرزا په درست کتاب شته
دا غزل چه خوشحال وَوې
نن ئې چا څخه ځواب شته

---

[1] یو راز پسول دی، چه هنداره پکښي وی. په یوه نسخه کښ شست هم راغلی دی، چه مطلب گوتې ده.

[2] د لکه پر ځای کله ښه ورسره لگېږی.

له حاله ئې خبر شه که شته شته که نشته نشته   قلاش و قلندر شه که شته شته که نشته نشته
که لَړه دَه که ډېره واړه ونیسه په تېره   په خوي دَ پیغمبر شه که شته شته که نشته نشته
دَ عمر څه اندوه کړې څه اندوه دَئ که ځان پوه کړې   ژوندَی تر گوره ورشه شه که شته شته که نشته نشته
بادشاه دَ بحرو بریې، که قانع په خشك و تر یې   دَ دهر سکندر شه که شته شته که نشته نشته
که دُر دِئ که گوهر دئ که گلوُنه که شجر دِئ   دَواړُو بې خبر شه که شته شته که نشته نشته
بې وخته غواړې بد کړې بیهوده رخه حسد کړې   به صبر تونگر شه که شته شته که نشته نشته
مه ژاړه مه پرې ویاړه غم ښادي پرېږده دا واړه   واقف پدا سیر شه که شته شته که نشته نشته
بلا دِئ چه ټولېږی په هیڅا نه پا تو کېږي   فارغ له سیم و زر شه که شته شته که نشته نشته
له یاره مهر غواړې که ئې نه مومې نور ژاړې   دَ یار په رضا سر شه که شته شته که نشته نشته
که وصل که هجران دئ دواړه ما وته یکسان دئ   آرام پخپل مقر شه که شته شته که نشته نشته
څو سعیَ څو طلب کړې اندیښنې په روز و شب کړې   په واړه برابر شه که شته شته که نشته نشته
لږ عمر ډېر غمونه په زړه هونبره ستمُونه   قانع په خشك و تر شه که شته شته که نشته نشته

پخپل هنر نظر کړه څو ژوندَی یې خپل هنر کړه
خوشحاله شیر نر شه که شته شته که نشته نشته

لکه مخ ځما د یَار دَئ نمر خو هسي وي کنه   لکه زه په عشق کښ زیږ یم زیږ خو هسي وئ کنه
دَ عالم ډېري خبري لور پَلور توري لښکري   زړه مې نه خوځي له ځایه غر خو هسي وئ کنه
بې دَ عشق له شور و شره چه هر گز ځما سَره   نه ځي نور څه هر څه درومي سر خو هسي وئ کنه
چه ئې رېبم عمل لا کا چه ئې ورک کرم ځان پیدا کا   ورَځ و شپه دا هسي کر کړم کر خو هسي وئ کنه
تا وې درومه نوم مې زبر کړه بل سبق له زړه بدر کړه   تل مې ته یې په خاطر کښ زبر خو هسي وئ کنه
و هغه ته مي سر کوز دَئ چه معلوم ورته رموز دئ   په خبره نه پوهېږي خر خو هسي وئ کنه
پدا باغ کښ یَوَه ونه تل تازه تره برخنه   چه ئې اُوړَي ژمَي بر خورم بر خو هسي وئ کنه
چه آزاد مریي ور درومِي خپل مراد ور ځني مومي   په هیڅا ندئ تړلَي ور خو هسي وئ کنه

په یوه زمان تر یاره ورشي راشي څو گزاره
دَ خوشحال خاطر تېز پردَي پر خو هسي وِئ کنه

لا یزاله پادشاهي که چا موندله   کیخسرو به وَ خسرو ته نه سپارله
جام دَ میو را پلاس کړه ساقي گوره   په هر لوري دا ځما دَ غم کرَله
په امان یوه لا تېره نه وئ   په زمان زمان ښکاره کا فلك بله
ډېر په باد ولاړَل د تا غُندي باد وړي   ته ئې وروستو دُم کره یې ځما دله
جام و ساز ساقي بهار واړه اسباب شته   صراحي ولي خالي وینم له مُله

په جهان دَ نیکو نوم بویه خوشحاله
چه یادگار به وِئ تر تلو هم تر تله

لور ته لور مي په جهان گرېوان پاره شه   کور په کور مي دَ رندیه کار ښکاره شه
چه مي پته په لستوني کښ نوشله   دَ هغې پیالې جهان په ننداره شه

دا څه زړه ندئ چه اوس مهر پما کا   راته نرم هغه سخت سنګ خاره شه
چه دَ عمر څه مایه تر واړُو تېر شوم   دَ خوښۍ ملك ځما په اجاره شه
اوس به کوم ارمان کوم سوبه مي وشوه   چه رقیب دَ یار له وره آواره شه
دَ هغه قدر لرم ترې به ځارېږم   چه په غم کښ چاره جوي دَ بېچاره شه
اوده بخت وته مي ډېري ناري وکړې   وېښ له خوبه په وروستی نرې ناره شه
جدائي ورځني مرګ دَئ سرَی وَ مري   دَ بتانو وصل عمر دوباره شه

که خپل ځان هوښاره وِی هوښیار به نشِي
اوس خوشحال دَ لیونیوُ شماره شه

له تا نه چه جدا شم په ناکام په ورځ و شپه   نه خوب نه مي خوراک دَئ نه آرام په ورځ و شپه
بل خیال فکر ئې نه وي بې د یار له رویه مویه   دَ زړه په حال خبر یم زه مدام په رځ و شپه
دَ مخ ثنا ئې وایم دَ زلفینو ئې صفت کړم   په خوله که په خامه وِئ صبح و شام په ورځ و شپه
یَو ښه نظر چه وکا، سرمایه مي دَ ژوندون شِي   کافي دَي خلوتي ته یَو بادام په ورځ و شپه
دَ مښکو دَ کافورو خوشبوئي به تر قربان کړم   که ستا له لوریه راشِي یَو پیغام په ورځ و شپه

دَ مښکو ګل قندي به ئې خوشحال ترې صدقه کا
که ته مي سر فراز کړې په دشنام په ورځ و شپه

ما پټ درله[1] کوګل کښ همېشه اسرار دَ زړه   آخر ئې خوناب وکړ په هر لور پرهار دَ زړه
له پښې اغزي مشکل دَئ په حکمت له تلي خېژي   دانا طبیب بایده دَئ چه وَکاږي خار دَ زړه
دَ نورُو تونګري که دَ دنیا په سیم وزر شي   پدا به تونګر نشي بې دیدنه خوار دَ زړه
دَ شونډُو دارو ورکړه که ئې ته په روغول يې   په سترګو ئې علاج کړې، خو به مري بیمار دَ زړه
که ښه دَئ هغه زړه دَئ چه مین په هیچا ندئ   چه یَو ځله مَین شِي نور تر تلو زار دَ زړه
غمجن په ډار دَ هجر خوښ دَ وصل په امید کښ   په اور او په اوبو کښ کړ خداي څه روزګار دَ زړه
دَ یار مهر تر ما راغي د ما مهر تر یاره   رشتیا ده دا خبره چه دَ زړه ده لار دَ زړه
چه خپل اختیار ئې ټول دَ خپل اشنا په لاسو ورکړ   رحمت ئې پدا کار شه خو هم دا دَئ کار دَ زړه

خوشحال خسته به اوس دَ خاطر راز وَ چا ته وایي
چه ولاړ ورته ئې شا کړه دماغي ښه یار دَ زړه

ما د شیخ او د ملا حکایت نزده   ما بې مېه نیه بل روایت نزده
چه ئې نوم دَ عاشقانو په شماره شو   دا هم ښه که بوالهوس محبت نزده
ته چه هسي په چمن کښ چمان کېږې   سبره تا ځما دَ یار په قامت نزده
عام عالم وته پخپله ځان نادان کړم   هسي مه وایه چه ما کنایت نزده
دَ درویش په زړه کښ درست کتاب مرقوم دئ   که په خوله ئې دَ عربو لغت نزده
وایې تا سره مي نیت دَئ دَ یاریه   هسِي هېښ یم ګڼه ما په تش نیت نزده
نادان یار به صدقه تر هوښیار یار کړم   نادان یار دَ آشنایی قیمت نزده
عاقلانو څخه څو رنګه حکمت دَئ   لیونیو یو دَ عقل لو حکمت نزده

---

[1] در په کوګل.

وَ عاشق ته نصيحت مکړه ناصحه! خود پوهېږې چه عاشق نصيحت نزده
دَ خدمت له نتيجې نه چه محروم شوم زه لايق نه يم که تا عنايت نزده
چه بې سته مېلمه کېږي هغه زه يم له آشنا مي دَ هندو غُنډِي ست نزده
زاهدان چه نمونځ روژه کا جنت غواړي
ما خوشحال دَ مزدورئِ طاعت نزده

ما په ننګ دَ پښتانه ځوانان قربان کړه بيا مي غوره غوره جمعَ ښه ځوانان کړه
دَ سرِي دَلاسه مړه وَئ څه به ښه وُ لېوني کوټه سپی مړه ګوره شېران کړه
هونبره کوټي کوټي کوټي ارمانونه هر نفس ځي په ارمان ارمان ارمان کړه
په يوه ساعت ښادي په بل غمونه په لحظه لحظه تېرېږي د اسمان کړه
چه په شپه را سَرَه ټول ووُ په زرګونه په سبا ئې له ما واړه ځان په ځان کړه
ځني مړه ځني ژوندي له ما جدا شول زه جدا په غاړه غرنو په ارمان کړه
چه شاهان ځوانان مي ومړل هاله مرد يم که دَ هر يَوه مي ساري سل ډمان کړه
يو مهلت دَ عمر بل مدد دَ بخت وئ په دښمن باندِي مي وشوې پدا شان کړه
لوي ئې قتل، هلك بند، ښهرونه سوي مال اُلجه بنديان دِ کال واړه جهان کړه
چه نو ښهر مي واهه کوهاټ مي پريښ لا هاله ځما دا کړه وُ دَ نادان کړه
چه بد اصل سَرَه ښه کا کله ښه کا دَ موزي سَرَه څه سود دَي دَ احسان کړه
ښه خو دا په خوشحال وشوه بيا تر کاله
ګوره څه رنګه ښکاره شی دَ سجان کړه

ما د نيت خبره ووِې و ناکس ته[1] نور څه نه په نن ئې ووِې و عسس ته
خوړِي شونډِي به ئې نه مومې وَهَه ئې سر په دواړه لاسه وايه و مګس ته
دَي پخپله د خپل ځان په سوختن دَي د ګداز له حاله څه وائې ققنس ته
زه چه نن دا رنګينه خبري وايم پرې پوهېږم چه به پاتو شِي بيا پس ته
و طوطينو ته مي پرېښوې خبري دا مرداره جيفه پاتو شوه کرګس ته
يا ئې رنګ يا ئې اَواز د ځان بلا شِي ځوک چه اَچوِي مرغونه و قفس ته
ګله نور عيب دِ نشته عيب دِ دا دَي چه په وازه سترګو ګورې و هوخس ته
د غفا[2] د کال بهار ګوره خوشحاله
چه د مړو به ئې هوا وشِي هوس ته

مه وَی هسی کلی چه دَ چرګو کولې خورينه شل خمبې[3] په کور کښ د نېستی له غمه مرينه
بل فکر ئې هېر دَی خو په غم دَ زرو پول دئ نر ښځي ئې واړه خو ټنګي ټنګې لرېنه
ډېر ئې ملکان دي پکښي ښه ملك هغه دئ هر چه بې ننګي کا دَ چا بډِی رشوت خورينه

---

[1] دا بدله په نورو نسخو کي نسته، له يوې قلمي نسخې څخه نقل سوه.

[2] غفا د ابجد په حساب ۱۰۸۱هـ کېږي.

[3] خمبه: انار خانه، د غنمو د ساتلو کوټه.

كښېنې په مسجد كښ دَ سودونو كا خبري   يا دَ خور دَ لُور دَ وَلوَرونو وَيل كړينه
لس كالونه تېر كا په يوه جامه خېرنه   كوز وجود برمنډ په سر څيره كښېږدي زرينه
خاندي پروا نكا شرم نلَري د تېښتي   ډېري بې شرمۍ دَ ژوندون دَپاره وړينه
جنگ لَرَه چه ورشي نور څه هيڅ نكا بې تېښتي   جوړ چار وسله تښتي سكه ورور ته نه دَرينه
هيچيرى د شولو دَ سرى بركت نه وئ   شل شي شول شي شوم شي چه همېش شولي كرينه
نوم دَ ودانئ ويران ښهر دئ خوشحاله
لا تري ويران مشه ورځ په ورځ دَه كهترينه

ناز، نخرې، مهر خندا. فتنې، جنگونه   دَ خپل يار سَرَه هم تا زده دا رنگونه
كله كله خواپخوا غاړه غړى   كله تښته په دوو پښو په غورزنگونه
چه ځما سَره ئې ناسته په پالنگ وه   اوس له ما په چرته لاړ په فرسنگونه
په ليدو پسې كچكول واخلي ملنگ شي   مينه كا دا هسي چارى آهنگونه
په نصيب دَ روغو زړُونو فراغت دئ   په قسمت دَ خوږو زړونو لهنگونه
عاشقي به هغه كاندي چه تر شا كا   زيست، روزگار، شرم، پېغور، وېره ننگونه
چه بوسې دَ جفا جويو دَ خولې اخلي   گنُدي اخلي دَ ياغيانو قلنگونه
څوك مايوس څوك په اميد دَ يار دَ وصل   څوك پراته غاړه غړي په پالنگونه
په ليدو به ئې دَ گور مړي سر هسك كا   كه پرې دورمي دَ پايلو په ژرنگونه
كه پستې پستې خبري دراز نكا   دَ جنت دَ حورو مه وينم رنگونه
زه خوشحال دَ آهو چشم مينې سر كړم
دَ غرڅه غُندي په هسي گړنگونه

نن په سترگو ورځيو له ما خوار زهد تقوا وړه   ناز و غمزې وكړه عقل و صبر مي سبا وړه
شيخ ملا قاضي مفتي صوفي سَرَه يو ځاي دي   پا څه ښېوه وكړه يو يو څېز مى له هر چا وړه[1]
جور دَ اغزي وړي چه وَ گل وته هوس كا   يار كه ښايسته وي ته ئې هم جور و جفا وړه
دَور دَ اورنگ دَئ دَ ريا زاهدان ډېر دئ   پټه په لستوڼي دَ شرابو ډك مينا وړه
تل چه عاشقان دي پسې تعيين رقيبان دئ   ته چه عاشقي كړې دَ وگړي شور غوغا وړه
مال دَئ كه مى ملك دئ څو لا مړ نه يم ژوندي يم   هر چه ستا په خوا دئ هغه واړه لا پخوا وړه
ډېري دي نگاري ښايسته پري رخساري   نورو لره نور څه ته ځما زړه په تنها وړه
شونډي دِ حلوا دي عاشقان دَ حلوا وړي   ښه په وړيو ځه په پَلو پټه دا حلوا وړه
تا ويل خوشحاله يو كالى به له تا غواړم
زړه دَي نور څه ندئ ښه در كړي مي وَتا وړه

نن ئې بيا دَ دلبرۍ خنجر تر ملا شه   ښه چه سر ئې لا اوله په بارسا شه
ښه چه ژر د مختورى وشو رقيبه!   هغه يار چه مَرور وُ بيا پخولا شه
ما وې بخت به يو ښه يار را كا وَ ما ته   چه دَ درست جهان ناترس وُ يار د ما شه
گل پېدا سبب ارزان دورمي په بَيَه   چه ئې ډېره بقا نشته بېوفا شه

---

[1] يو څه څزه له هر چا وړه.

په بلبلو باندي زېرَي دَ بهار کا　　چه نرگس په هسي سخته څِله وا شه
راشه گل وَته نظر وکړه اَغزي ته　　گل په هونبره زیبایيه یار دَ چا شه؟
دَ فراق شپه ئې چه هونبره اوږده نه وه
په خوشحال باندِي هزار ځله[۱] سبا شه

نشته بانگ دَ مؤذن په درست تیراه　　مگر واورې بانگ دَ چرگ په سحر گاه
که اورکزي ئې سراسر واړه گمراه دِئ　　آفریدی دِئ تر گمراهو لا گمراه
دَ اسلام ارکان احکام حلال حرام شته　　آفریدي اورکزئ ندي پرې آگاه
نه ئې نمونځ دَ جنازو نه ئې امام شته　　نه زکوة نه سرسایه نه دَ زړه تراه
ښه هغه چه مستقیم په شریعت وِئ　　بد هغه دئ چه په شرعه وِئ تباه
دَ دنیا چارِي همه واړه فاني دِئ　　که باقي دَئ خو یو نوم دَئ دَ اللّه
چه یکلخُته دَ دنیا په کار گښ غرق وِئ　　له هغه غافله زویه نه آه آه
په اوبو سره گندگی له تنه درومي　　په توبه په استغفار سَرَه گناه
موحد دَ تصوف دَ رسالو دَئ　　مسئله دَ شریعت کښي گناه
کله کله چېري وَ وایي دا هونبره　　ځَني ځَني لآ اِلهَ اِلا اللّه
چه گناه همېشه کا توبه ئې نه وِئ
له هغه قومه خوشحال غواړي پناه

نامرد مل دَ چا مل مشه　　سر په بد نائي کل مشه
پی غوړي واړه مردار کا　　دَ خپل کور پیشو غل مشه
یَو چه دوه ورته ښکارېږي　　څوک په سترگوُ احوال مشه
چه یا سېب یا بهي کېږي　　بصل مشه حنظل مشه
دَ غوټی غندي موسېږه　　دَ ابرو تر منځ خل مشه
په ویَل که ډېر افضل یې
له خوشحاله افضل مشه

نسته هسي مینه د یارانو خاص الخاصه　　چه یو ځَبله ځَارېږي په جهان کښ له اخلاصه
یو راز دَي پدا کار کښ که ته ښه فهم پرې وکړې　　چه شمعَ سر جنبانه پروانه ورته رقاصه
له مرگ مي څه غم کړې چه دَ عشق په شریعت کښ　　قاتل په شرعه خلاص دَئ له دیته له قصاصه
له لاس مي رقیبان په تېره توره سَرَه پرې کا　　لَمن به د ِ لا هم ځَما له لاسه نشِي خلاصه
زاهد به په عشرت ځَما له بزمه نه خبرېږي　　دَ عامُو څه مجال دَئ چه خبرېږي له خواصه
چه وگورم و تا ته همگي په درُو پرُ یې
څه خېژي اې خوشحاله له محیطه هم غواصه

نصیحت دَئ که ئې اروې درته وایي بېچاره　　نفس به ډېر څه درته وایي پسې مشې آواره
روحاني بخره دَ چا دَه چه ئې مینه په درویش وِي　　نفساني بخره دَ چا دَه، چه جاهل وِئ هیچکاره

---

[۱] هیله.

چه وَهل خوړل خورول کا، هغه باز دَئ یا شاهین دَئ   چه ئې سوړي لَره وړینه، یا مېږَی دَئ یا فاره
علم تا بیايي په پورته، جهل تا بیايي په کښته   یا عیسی لَره ور درومه، یا قارون ته ځان سپاره
چه ئې علم فضل نه وِئ چه په تخت دَ پادشاه کښېنِي   یا یو یَږ دَئ یا لېوه دَئ، یا ئې ګاو و خر شماره
بېوفا دروغجن مشه، نا سپاس حق ناشناس هم   ره زني کړه بنګ شراب خوره څرخ وهَه په دو تاره
دَ نباتو حلوا مه خوره چه منت ور سره مل وِئ   خپل کشکاب دَ خپل محنت خوره په سر راوړه پشتاره
که وعده په قیامت وِئ، هوس مکوه وَ پورته   څو توانېږې ښځه مکړه که په مخ وِئ ستاره
په هوا په هوس تللم، لا تر اوسه هسي زغلم   وا ویلا دَ نفس له لاسه ګرېوان چا ته کړم پاره
څوک نېکخواه په جهان نه وه چه ئې ما ته هدایت کړي   چه خبر په قباحت شوم، پکښې ډُوب یم یکباره
لوی دریاب دَی توره شپه ده پکښې ځي ځما بېړیه   خدایه خضر را ښکاره کړه چه لاس را کاندي ښکاره
هنر هم پخپل مقدار شته، دانش هم شته پخپل قدر
که یَو بخت ور سرَه مل وِئ دَ خوشحال کړه ننداره

نه د ما د زړه لربر دِئ ښایسته   همېشه مي دَ زړه سر دِئ ښایسته
خپل ژوندون دَ ده دَ مخ دَپاره غواړم   له دننه مي خبر دِئ ښایسته
بت پرست دَ یوه بت یم نه دَواړُو   که بتان مي دَ آذر دِئ ښایسته
زه به مخ دَ یار مخَي نکړم دَواړُو   که ګلُونه سراسر دِئ ښایسته
زه له ډېري ځَلي یو پرېږدم بل ګورم   سرَه یَو تر بل بهتر دِئ ښایسته
خال و خط به ئې دما له زړه ولاړ نشي   که بیرون مي تر بصر دِئ ښایسته
په وار وار ترې لعل و در دِي را توئېږِي   ستا ویل لکه سره زر دِئ ښایسته
په خطا که په ختن که په کشمیر شته   نه چه دا مي تر دلبر دِئ ښایسته
که هر څو دَ ځوانیٍ عشق لَرِې خوشحاله
دَ زړو، نه مکدر دِئ ښایسته[1]

نه ئې ملك نه ئې لښکر نه ئې ګنجونه   تر خانانو دماغي دي کښلي جونه
که خانان په زر په زرو په توره ناز کا   کښلِي مخ لَرِي ښېوې غنزې غنجونه
یا دَ کښلیو دَ زړه راي دَئ چه مي وکوت   یا دَ لوي دریاب په څو رنګه موجونه
څوک به روغ سلامت پرې نږدي په ملك کښ   بیا ئې باندِي کړل تاختونو ته سرجونه
په رقیب شه، په غماز شه، په بد خواه شه   چه به کښلیو لَرَه ځِي هغه رنځونه
بل سر مه ځه په دلبرُو کښ ئې غواړه   اُوه ستوري دَ اسمان د وولس برجونه
زه نامي په دا خبره نه پوهېږم   چه عالم ئې راته کا په مخرجونه
په چا داد په لپه نمنځ کوې فلکه   په چا لونې په اوړیو په چجونه
دَ خوشحال خاطر ښېښه دئ مات دِ نشِي
ستا دَ سترګو مستي وري په څو کنجونه

نن دِ دور دَ خوبیه دَي دماغ ګړه   یا دَ یار په زړه مرهم بِده یا ئې داغ ګړه
په خندا خندا راځه غاړه غړي شه   د خپل یار خاطر له غمه نه فراغ کړه

---

[1] د زړونو په ګذر دِي ښایسته.

ستا دَ زلفو په تور تم کښ مِي زړه ورک شه — چه ئي بيا مومم ښکاره دَ مخ ځراغ کړه
دَ مخ خال دِ تور کارگه دَئ ځما زړه وړي — دَ بازونو دَ شاهينو ښکار په زاغ کړه
دَ خلوت په مخ کښ ناست زاهدان ښه دِئ — ساقي زه چه زاهد نه يم گښت دَ باغ کړه
ساقي لور په لور گلزار دَئ چه ليده شِي — له توبې نه کړه توبه په لاس اياغ کړه
گوره کوم لوري ته لاړ دَي مونده نشي
دَ خوشحال دَ زړه پيدا چرته سراغ کړه

نيمي شپې مي په پالنگ راغله دلبره — پريرويه، عنبر بويه، سمنبره
رنگينه جامې اغوستي زرنگاري — سره درسته تجلي وه پا تر سره
په سپين والي دَ مخ سپين لکه مؤمنه — په تور والي دَ طُرې لکه کافره
سر يې تور، ښيښه په لاس، باده څښلې — دَ مستئ پخپل ځان نه و خبره
دَ پائلو دَ ځړيَ[1] ئې شرنگهار شو — زه له خوبه را پرتاب شوم ډير په ويره
ما وې گوره ښاپيرئ وه، که حوره[1] — چه دا هسِي شان په ما شوه برابره
توري ورځې يې لينده بانه يې غشي — غاښ ئې در قيمت بها په لب شکره
په خندا خندا ئې دا ووې وَ ما ته — چي و ما وته نظر کړه بې بصره
ته ما نه پيژنې، زه هغه خوبا يَم — بله نشته په خوبی تر ما بهتره
عاشقان ځما دَ خولې په کلِي ډير دِي — بختوَر ئې، چه مي وَنيوې په غوره
څو بوسې ئې دَ لبانوُ و ما راکړې — حقيقي پياله ئی راکړه له احمره
درسته شپه مُو سره راز په پالنگ وکړ — دَ وصال خوښي ئې لا نه وه تر سره
چه آواز دَ مؤذن دَ اذان وَ شو — په سحر له ما نه ولاړه ناز پروره
چي په ډير ارمان محبوبه ځِني درومي — کشکي شپه دَ خوار عاشق وَي بې سحره
چه له هسِي محبوبا خوشحال جدا شو
دَ آتش لمبې ئې درومِي له بستره

نشته هسي سر چه به خالي وي له دماغه[1] — کوم دَي هغه زړه چه به روغ پاتو دِي بې داغه
چرته پسې درومم په کوم لورِي به ئې مومم — ورکه مونده نشِي بې رهبره بې سراغه[1]
مست يم مي پرست يم همېشه اياغ په دست يم — يو ساعت چه ځِي رابانديِ غم دَي بې اياغه
باغ دئ د هغه دَئ په هر چا چه دِ پېرځو دئ — زه په ارمان تل وَ يوه گل يَم ستا له باغه
گل دَ عندليب دَئ په قسمت دَئ په نصيب دَئ — درومه درومه درومه په جيفه گرزه کلاغه
تل هوا هوس کړه، تر اوله يَو په لس کړه — ستا له غمه څه دئ که زه لاړم له فراغه
ورځ وَربانديِ شپه دَه په تورتم کښ ئې ميشته دَه
کله به ليده شې د خوشحال دَ زړه ځراغه!

وچ لرگي وبله کښېږده — اور پرې پورې کړه نور پرېږده
په تېرو تېرو اَغزيو — تا ته چا وَيل چه پښې ږده
پکښې ظلم ډېر ستم شِي — له بيداده ښهر لېږده

---

[1] دا بدله په چاپي ديوان کي نسته.

دَ خزان سیلی راغلې   لکه پاڼي هسي رېږده
تل هلکان دَ خپلو اوښيو   دَ گرېوان په اوښي بلېږده
په اعوذُ په لاحول   سر آخله له سر وېږده
اوس پيري راغله خوشحاله
دَ ځوانئِ چاري پرېږده

وخت دَ نو بهار دَئ، زه جدا له خپله ياره   دريغه، دريغه، دريغه، چه بې ياره ځي بهاره
ژاړي غاړي غرُونه په احوال دَ عاشقانو   سيل د واوره ندَي چه را درومي له کهساره
اور دَ خوړو زړو دي[1] چي دَ غره په ونو بَل شو   شنې ډېوزي خېژي له نښتره، له چناره
غواړې چه احوال دَ فراق جنو، در معلوم شي   گوره هغه زاڼَي چه جدا ځِي له قطاره
دا څه معلومېږِي چه جهان دَ ماتم ځاي دئ   شنې جامې اَغوستِې دَ طوطيانوُ له چيغاره
نوري نارې نشته، خو نارې د بېلتانه دِي   راشه که ئې اروې دَ رباب له هره تاره
رنځ مي نه کميږِي، په زمان، زمان زياتېږي   زر راځه طبيبه گڼه مرَم دَ خداي دَپاره!
مرگ دَ رقيبانو بل[1] ژوندُون د حبيبانوُ   خداى ږو په هنگام د وصل کېږي دا دوه کاره
څه شو که لا دم وَهِي په شمار دَئ دَ ژونديو   رنځ چه لا دوا شِي، طمع پرى کړه له بيماره
پاتو سرِي نشول، چه دا گرزي ددو دام دئ   ځکه ويره نشِي دَ دردمنوُ له آزاره
هسِي خوار و زار شوم زه خوشحال په عاشقی کښ
خپل دِئ که پرَدی دِئ راته نه گورِي له عاره

وړاندِي وروستو دوه عدمه   پدا منځ کښی يَو دوه دمه
خو هم دا ئې چه ليده شې   که څه نور څه يې آدمه
چه دا دوه دمه دِ نه وِي   په حساب تر جيفه کمه
ستا غفلت وته حيرت يم   پخپل ځان باندِی ستمه
دَ حرص په وزر گرزې   هم په غرونُو هم په سمه
که بادشاه دَ درست جهان شې   چار دِ تېره شِي تر جمه
بادشاهی به دي خلاص نکا   چه اجل درشِي له همه
څو روزگار هونبره ئې فکر   څو دنيا هونبره ئې غمه
په زړه يو درم يو داغ دي   دوه داغُونه دوه درمه
څو عالم سَرَه گډېږي   غم به مومي له عالمه
چه وَ هر څه ته ئې شا کړه   په هغو دَه مسلمه
چه نه څه اَروې نه وينې   زړه دِ خلاص دَي له المه
ته هم ډېر ښه يې خوشحاله
ولي ځار دِ تر قلمه

ودره چه څه خو په يارئِ شې خبره   گورُو[1] به چه څه شېوه په لاس واخلې دلبره
لا دِ[1] څه تر اوسه هغه قدر ندي ليدلَي   ځکه دَ خپل قدر په لافو سر يې صنوبَره[1]

---

[1]گوره.

ځاي دَ چپ و راست چه د ګافور دَ پاسه ندي   ته ئې څه سيالي له تورو٘ زلفو کړې عنبره
څوک چه نظر وَکا هغه ښه کښلي دلبر ته   ځي له ډېري ميني دَ يوسف سوره کازبره
ته ئې چه دَ مخ سَرَه نن شپه برابري کړې   شمعي! دا دعوه تر سبا يوسه برابره
مينه هسې څيز دَه چه په چا باندِي مين شوې   ولي وينځه نه وِي تر بې بې شِي په تا بره[۱]
لارِي دِي بې شماره زر کوځې دي تر معشوقی   څو به پکښې دورمې قدر مه بِده بې رهبره
مه پرېږده له لاسه کار و بار دَ عاشقَی   چار دَ عاشقی تر هر څه دَه معتبرَه
هَرَه شپه چه دورمې په خوشحال باندي دوږخ دَه
شپه د جدايیَ که رسېږې پيغامبره[۱]

هر عاشق چه بهره مومي له حضوره   په هغه باندِي سلام له ما مهجوره
ښه دِ قدر دَ وصال دَ ساعت زده کا   وَ ناظر ته تل جلوه نکا منظوره
اوس د ديو جونو وينځو په ځاي نده   درخانی آدم خانَ کړه مشهوره
چه پدا هسي جمال ورځني زووې   بوره مور دِ ښاپېريه وه که حوره
يار به چا په يوه درنګ له لاسه پرېښ   جدائِی له ياره نشِي بې ضروره
صبر تا لمانه درست په کاته يوور   بيا وَ ما وَته وَيل کړې نا صبوره
زه لا هسی په يارئِ کښ غوځ نه يم   چه لَمن به دِ پرېږدم په تېره توره
لکه باد چه لوي نښتر وُلی په مځکه   هسي رنګ ور پسې ولوشتم بيخ پوره
دَ ښه يار ديدن دَ دراړو سترګو نور دئ   خداي دِ نکا دَ هيچا سترګي بې نوره
که اسمان او مځکه خوله وبله وروړي
دَ خوشحال خاطر به نه وِي بې سروره

هغه کار لکه په تور وه[۱]   ما ليده چه په سپين نور وه
چا به مښك په کافور ورکړه   ولي بيه نه وه زور وه
تل په شپه بازار خپرېږي   په روڼا ګوره چه خپور وه
يا يو خوب وُ چه ليده شو   يا يَو خيال خالي بيور وه
چه ځګر خوري دَ خپل زويه   عجب ښه مهر دَ مور[۲] وه
اوه غله[۳] پرې حواله وه   څه ناتار شه يو څه په کور وه
لږ ئې راکړه ډېر ئې يووړل   پوروړی ئې سود خور وه
ما ته وَليدې خوشحاله
چه دِ څو نبره زور و شور وه

هر سړی پخپل کنګاش پوهېږي ښه   پخپل زيست او په معاش پوهېږي ښه
بزرګر د کر د کيلی هنر ښه زده   بازرګان پخپل قماش پوهېږي ښه

---

[۱] محشی ورته کښلی دی، چه مطلب له تور او سپينه تور او سپين وېښته يعنی ځلمی توب او زوړتيا ده.

[۲] محشی ليکی چه مطلب ځنی مځکه ده.

[۳] يعنی اوه ستوری.

ټولول به ئې هغه کا چه ممسك وِئ　　په بازَنه ئې　قلاش پوهېږي ښه
څوک دِ هيڅ ورته د مېِ خبره نکا　　عاشقان پخپل تلاش پوهېږي ښه
دَ شرابو صفت څه کوې نور چا ته　　پدا کار رند و اوباش پوهېږي ښه
دَ عسلو په حلوا ماړه ناپوه دِئ　　گرسنه په نان و آش پوهېږي ښه
قلمزن حساب کتاب هندسه رقوم زده　　شمشېرزن پجنگ پر خاش پوهېږي ښه
وَ خوشحال ته وايي خلق ښه پوهېږې
ظن دَ خير دَئ دَي کاش پوهېږی ښه

هر چه ستا دَ زړه رضا واړه هغه کړه　　څو چه زړه دَ چا خوږېږي هغه مکړه
که د کسب و د روزکار نه يې نه مرد شته　　دَ نامرده پوړئ مه خوره ځان خفه کړه
يار هغه چه دَ تنگڅې په وخت پکار شي　　چه دعوا کا دَ يارئ حال ئې زده کړه
چه تنگڅه درباندي درشي که مېړه يې　　په تنگڅه کښ دَ خواريه ځان ور مکړه
په خواري کښ زيست روزگار تر مرگ بتر دئ　　يا دَ بل کېږه يا خپله گېډه بڅه[١] کړه
له ځوانمرده هونبره غواړه چه د زيست شي　　دَ نامرد خونه همه واړه الجه کړه
غلېواز دَ بل منگولي وته گوري　　لکه باز ليري نېژدې خپله غوټه کړه
که دعوه دَ مړنتوب لرې په زړه کښ　　آس دوند تلاښ په غشي په لينده کړه
يو هر بيت ئې دَ حلوا خوږه نمړئ ده
که مشتاق يې دَ خوشحال ويل مزه کړه

هر آفت چه په درست عمر را دو څاروه　　چه مي خير کړ درست ځما دَ ژبي کار وه
چه وداني چاري وراني په ساعت کا　　چه مي وليده په چارو کښ تلوار وه
دَ هر چا ياري مي وليده په سترگو　　هم هغه راته بلا شه چه مي يار وه
نا هموارې به هر گز وړپېښي نشي　　که پخپله اندېښنه سړی هموار وه
صبرناکو سَرَه جور فلك نکا　　دَ فلك جور له چا چه سبکسار وه
پدا باغ کښ مي ډېر گل تر نظر تېر دی　　دَ هر گل تر څنگ ما وليده چه خار وه
زړه په طمعه دَ وفا بې وفا کړه　　پخپل ځان باندې پخپله ستمکار وه
که هر څو باندې مرهم ږدي نه رغېږي
دَ خوشحال په زړه دا څه دَ غم پرهار وه

هر گز به توبه نکړم دَ ښه دَ ننداروزه　　شيخان پېران دِ واروي دا يم وايم په ناروه زه
که ما دَ عشق خبره په ايما تر دا پخوا کړه　　ښکاره به ئې اوس وايم په رباب په دو تارو زه
که نور عالم گلونه په دستور اوړي خپل گور ته　　راوړم دَ يار له باغه هَرَه ورَځ په پشتارو زه
زاهد وائي و ما ته راشه کښېنه تسبيحات کړه　　يَوه مي ده نيولې نه يم هيڅ پدا شمارو زه
گداي غُندي جار وزم سينه سوي په طلب کښ　　که ډېر لَرم په کور کښ هر قماش په انبارو زه
پرهار ئې دَ ښو دَ غشي لا بده بلا دَه　　وتَلي يم دَ غشو دَ نېزو له پرهارو زه
خوشحال غُندي که سود لَري که زيان ځما قبول دَئ

---

[١] سيد راحت دا کلمه په معنا دَ قرباني او خونرېزئ را وړې ده.

عادت يم دَ غمونو دَ اندوه په اجارو زه

هم خداي غوارِۍ نادانه هم فاني دنيا نابودهَ — په څو به دِ روزي شِي فكر وكړه دا دوه سوده
چه سر په مځكه كښيږدې زړه دِ ډوب په انديښنو شِي — په خدارو كه خبر يې د خاصانو له سجوده
په زړه د كعبې مينه د كغبې په لور روان شِي — يو غول دَي په بيانان كښ بل[١]سر سر كا بې مقصوده
يو وهم دَي كه څه دَي، چه په خلقو باندِي پيښ شو — دنيا دنيا هيڅ نشته كه نمود كه نه نموده
سيلاب دَ پاسه راسي په غورځي په كښته درومي — موجوده د سېلاب دَ اوبو هم ده نا موجوده
اياكَ نعُبدُ لولې په سبع مثاني كښ — د زړه دِ څو هوا دِي، هغه واړه دِي معبوده
په صافه ائينه كښ هر چه وويني په سترگو — په لاس اخيسته نشِي آئينه په رنگ آلوده
په څو رنگه كنجونه په هر لوري په جهان كښ — ته باد په لاس شناځ[٢]شوې حبطه په هيڅ خوشنوده

خوشحاله ځواني ولاړه په پيرئَ كښ اوس مټ كړه
حاصل چه په ژوندون دي هغه چارو[٣] گڼه زوده

هيڅ خبره نه وه چه به ما تر خولې يسته — ستا دَ خولې تشبيه مي غوټۍ ولي راوسته
ستا دَ خوږو شونډو چه ساړه شي بيارته گرزي — ځكه مگس سر وَهِي دا هسِي دود سته
زه او ته پدا دور تر واړونه افزون يو — څه حيران مجنون وُ څه ليلا خواره خسته
ستا دَ تورُو زلفو ځنځيرونه دِئ په پښو كښ — نه شم چرته تلَلي درته پروت يم پا بسته
هر زمان ستا خيال دَئ چه ځما په سترگو گرزي — وينښ يم كه اوده يم كه وَلاړ كه نشسته
گل اوسې په حسن اما گل مشې په عمر — راغله سر فراز شوم ستا له باغه گلدسته
واړه هغه حسن لطافت دَئ ستا په مخ كښ — چا چه دَ يوسف (رض) قصه و ما ته وَلوسته
گله سبروَنه هسي سَمَه ده په قد كښ — چا نامه دَ سبر ستا وَ قد ته آخسته
ورَځِي دِ لينده دِئ تور بانه دِ تېره غشي — وله صرفه مكړه چه دِ ډكه ده درسته
تا ويل و ما ته څو ډېر غم غوارِۍ له ما نه — ستا په غم خوشحال يم څو را درومي پيوسته

زړه لرې دَ كاڼي په خوشحال باندِي پوست نشو
څه شو كه د خولې خبره كړې چېري پسته

هر تشنه چه دَ وحدت په سيند سيراب شه — نور همه جهان و ده وته سراب شه
چه په زړه ئې دَ وحدت ډيوه شوه بله — تجلې به ئې له مخه ځِي آفتاب شه
چه دَ عشق دَ نافې بوي پرې لگيدلِي — درست صورت ئې سر تر پايه مشكناب شه
هر چه ولېږ له هستيه و نيستۍ ته — فراغت دَ دواړُو گونو دَ غذاب شه
چه توروه ترخه قبول لكه درياب كا — هم هغه دَ قيمتي درُو مآب شه
چه لمبه ئې دَ آتش كړه په ځان تېره — له غه پسه دَ گلابو گل گلاب شه
كه په زړه كښ ئې سختي وه لكه پونډه — هم هغه دَ زمانې دَ اور په تاب شه

---

[١] تل سر سر كا.

[٢] شناځ هغه ژي بولي، چه له بادَه ډک كيِ، او لامبو په كوي لكه د لامبو كېو.

[٣] هغه چار گڼه ته زودَ.

چه دَ ډېرو اندېښنو نه ئې زړه ورکړ   په مثال لکه خسړي دَ درياب شه
دَ شرابو خوښي هيڅ نه وِئ بې نقله   نقل څه دِئ معرفت عمر شراب شه
دَ کمال کسب پايه دَ سعادت ده   هغه ښه چه دَ کمال په اکتساب شه
ته هم زړه مراد وغواړه له عالِمه   چه په علم ئې عمل وکړ کامياب شه
چه دوستي دَ محمد (ص) لرې په زړه کښ   مينه دار ئې په اولاد او په اصحاب شه
چه له شرعي يَو قدم دروميِ بې روخه   وگو شمال وته تيار لکه رباب شه
په هغه مِي زېرَی وکړ چه دفتر ئې   واړه ډک خاصه په کښلو دا ثواب شه
په حيات صورت به وگښِي ځان خاورِي
چه خوشحال غُندي خبر پخپل حساب شه

هر سړی چه په لاس ونيسي غلطه   زمانه ورته پيدا کا ډېر سخطه
محبت محنت په خط کښ سَرَه يَو شِي   محبت سره جدا شِي له نقطه
مه يکلُخته مړني شه مه غوولي   په دنيا کښ هره چار ښه دَه وسطه
مصلحت ئې په هر قط کښ دَ خوبی دَئ   کاتبان چه قلم نه پرېږدِي بې قطه
د مرزي منگل گاوزي غواړي غويري[1]   د شاهين حمله په زاڼي دَه په بطه
بې ښه مخه به دئ قدر و قيمت نه وِي   د ښه مخ قدر ښه زده کړه خال و خطه
چه مدد ئې مهتر خضر دَئ خوشحاله
د هغه ببېرِیِ ورسِي تر شطه

هو پدا قائل يم کښلي ډېر دِي لور پلور شته   خداي ږو که دَ حسن سپاره تا غُندِي يَو سپور شه
تا وې چه غم مکړه يوه ورځ به دِ غم وخورم   څه لَره به غم خورم چه مي تا غُندِي غمخور شته
ستا په سر سوگند خورم ته ځما و سر ته لوړې   ښه مهر دِ دا دَئ که لا ښه مهر دِ نور شته
اې چه راته وايې عاشقي شرم پېغور ده   واړه مي قبول دِ که مي شرم که پېغور شته
خلق می چه بولی ستا له مخه و گلزار ته   بل بهار به څه کړم چه مِي يو بهار په کور شته
حکم امر ستا دَئ که مي بولې يا شړې مي:
څه به درته وايم دَ خوشحال بنده څه زور شته

يا ځما دَ بېنايیِ نظر نشته   يا پدا نېژدې ملکونو دلبر نشته
که اختر نه وِي دَ يار سَرَه اختر دئ   بې مَينَة که اختر دَئ اختر نشته
شپينه خوله که را کَوِي په ځان اړ يم   معشوقې له ما نه زر غواړِي زر نشته
په اول وصلت[2] دَ عشق په توره لاړ شو   دَ عاشق سړی په تن پوري سر نشته
که غوټې پسې وَهې په لاس به در شِي   چا وې دا چه په درياب کښ گوهر نشته
نور توروه ترخه که خورې گندِی پيدا شي   و طوطي ته هسِي وايه شکر نشته

---

[1] د مزري منگل کاوز غواړي يا غويره.

[2] وهلت.

ستا غزا لَره به زه خپسر[1] کافر کړم   څه ارمان کړې چه څوک وژنم کافر نشته
په شامت ئې د ماتري[2] غر نړېږي   لا پدا دَ افريديو بصر نشته
دَ شمال ښَینَه کا په جنوب درومي   دَ ښکاري سړي په ژمنه[3] باور نشته
که دَ جنگ پکار کښ ډېر دِي حکمتونه   څو صابر نشې زلميه ظفر نشته
څه عجب بادشاهي لکه خورشيد کړم   يك تنها په جهان گرزم لښکر نشته
نن د َواړو دلبرانو غوره ته يې   که دِ يَو لونگ په پوزه زيور نشته
دَ عنبرو بوي اَلوزي ستا په کوي کښ   واړه ستا دَ زلفو بوي دَئ عنبر نشته
په څو غره په غره دَ باز غُندِي پرواز کا
بيا به وايې دَ خوشحال خټك پر نشته

يار مي بيا دَ رقيب يار شُو دريغه دريغه   په خبرُو دَ اغيار شُو دريغه دريغه
يو څو ورَځي ئې په زړه کښ مهر ځاي وُ   بيا بې مهره ستمگار شو دريغه دريغه
هغه گل چه مي ساته دَ زړه په وينُو   مل دَ هر خس و هر خار شو دريغه دريغه
و قصدمنو ته کاته ځما په قصد کا   دَ وژو مى روادار شو دريغه دريغه
بې له تا مي دَ ځگر ويني خوراک شوې   تېر مي عمر په دا کار شو دريغه دريغه
پسرلَي[4] چه تل بلبلو پر چيغار کړ   دَ خزان له لاسه خوار شو دريغه دريغه
بيچاره خوشحال په طمعه دَ وصال وُ
دَ هجران په غم گرفتار شو دريغه دريغه

يار مي غوښت چه مِي اندوه يوسي له دله   نه چه کا دَ ما په زړه دَ غم کرله
زړه مِي وسپاره وَ تا ته چه ساته ئې   نه چه ته ئې سَرَه وَ سرويه[5] په بله
يَو پيغام ئې دَ وصال را لَرَه راوړ   دَ جهان خوښِي ئې ما وَته بخښله
له اوله عشقبازي راته بازي وَه   اوس همه راته را پېښه شوه مشکله
خدايه تا په ښايسته وو مبتلا کړم   چه له غمه ئې خالي نه يم هيڅکله
که همه دنيا ځما په لاس و دست وَئ   ما به کُل دَ يار په زلفُو وَښندله
دَ هجران دَ تورِي هسِي شان گزار دئ   چه پرهار ئې بل ځاي نه کېږِي بې دله
که دَ مستي دَ غمزې دَ تېغ مشتاق بې   لُمړي خپله خون بها کړه ورته پله
که مي دا ځله صورت له غمه خلاص شِي   نور توبه له عاشقى له حاصله
ما په هيچا محصل نه وُ گمارلي   تا وَ ما ته خپل خاطر را کړ پخپله
که ياري دي دَ خوشحال سَرَه هم دا دَه

---

[1] محشی ورته کښلی دی يعنی صورت او ځان.

[2] د يوه غره نوم دی.

[3] يا ځمنه يا زمنه يعنی وعده.

[4] غه بهار.

[5] يعني په شدت سره موښل او سولول.

ستا یاري ئې[۱] سر تر پایه وَ لیدله

یوه بده زمانه شوه دریغه دریغه
دَ هر چا مي دَ خاطر مینه آمیغه[۲]

مهر، مینه، محبت له زړونو لاړ شو
سینې ډکی شوې همه له مکره ریغه[۳]

چه ئې ځاي په دواړُو سترګو باندي زه کړم
هم هغه مي هلاکت غواړِي بې تېغه

چه دَ دې دور فتنو وَته وَګورم
ولي کاڼي تیرِي نه ووري له مېغه

د زړه[٤] راز له بېدردانُو نه پټ ښه دئ
که له درده دي سینه شي سَرَه هېغه[٥]

په نوبت به د هر چا تر ځګر خېژي
د قضا نېزه و هر چا وته نېغه

که په تن شاه جهان دَ زمانې شې
هم دئ نه وینم خلاصی دَ مرګ له تېغه

که بازوان[٦] ئې پسې ورو کاندِي بندونه
دَ کرغول[٧] ئې علاج کوم دَئ بې کرېغه[٨]

فهم وکړه که خود بین او خود نما شې
زمانه به دي پایمال کاندِي تر زېغه[٩]

زورَور چه په لاس ونسِي ناسازي
هي توبه دَ زوروړُو له بلمېغه[۱۰]

دا په خم ختلې غوا که هر څو لویشې
سیم وزر به ئې حاصل نکړې له لوېغه[۱۱]

تا به چېري هونبره کبر هونبره خیال کړ
که دِ وئ رنګ زیبا په صورت سېغه[۱۲]

چه دِ ښه له خویه بویه خبر دار شوم
له خوشحال سَرَه یاری کړې په دروېغه[۱۳]

یار ځما کَرَه دنَنه
زه ئې سر یم په غوښتنه

عجب حال راباندِي پېښ دَئ
درومه هېڅ مکړه پوښتنه

دَ وصال لپه اوبه وَمري
اور چه ولګي په ینه

---

[۱] مي.

[۲] دا کلمه حل طلبه ده.

[۳] محشي ورته لیکلی دئ فریب.

[٤] د زړه داغ.

[٥] دا کلمه حل طلبه ده.

[٦] که بازدار.

[۷] دا کلمه حل طلبه ده، په چاپي نسخه کښ ګرغول دئ، په یوه بله نسخه کښ داسي دئ: د کرغولي علاج څه دَي بې کوریغه.

[۸] دې کلمې ته په یوه قلمي نسخه کښ محشي تېښته لیکلې ده.

[۹] دا کلمه حل طلبه ده.

[۱۰] دا کلمه هم حل طلبه ده.

[۱۱] دا کلمه په دوو قلمي نسخو کښ تویغ لیکلي ده، په یوه نسخه کښ محشي ورته کښلي دئ لوېشل.

[۱۲] دا کلمه هم حل غواړي.

[۱۳] لکه په عربي په پښتو کښ هم په شعري ضرورت سره اماله راځي، دروېغه اما له د درواغ ده.

که په رنګ کښ زیړ لیده شې ګنګونه یې کرکمنه
کوم ماتم در باندې پېښ دَئ دَ اختر په ورځ خیرنه
خوشحال تل په غم کښ ښه دَئ
غم دِ نه ځِی له غمجنه!

یار مي کبرجن شو څه به وواېې و ما ته[۱] دروم‌ه صبوري کړه نور به څه وایم و تا ته
صبر به هر ګز له هسي یاره وکړي[۲] نشي دروم‌ه سکه دعا کړه چه دِ مینه شِي ترې ماته
تل دعا زاري کړم لا مي مینه پرې زیاتېږي ژاړه ژاړه ګُندي غوږ کا ستا ژړا ته
تل په ورتې ورتې[۳] ژاړم لا ئې زړه په ما ښه کېږي لا په ورتې ورتې ژاړه چه ئې لا شِي خوښي زیاته
خوښ به لا هاله شِي که زه ومرم په ژړا کښ وَمره چه دا مرګ دِ لا بهتر دي تر حیاته
زه په مرګ راضي یم رقیبان به خوارایخ کا مخ دَ رقیب تور شه، ګوره ته دَ یار رضا ته
ښه په مرګ راضي خوشحال یوه خبره وایم
یار که مخامخ په وخت دَ مرګ کښېني وَ ما ته

یو قرین هسِي پیدا نشو را څخه چه دِ ما په زړه ئې نکړه منګل ښخه[٤]
چه احوال دَ هر یَوَه راته معلوم شو هر یَوَه ته مي تیار کړل یو څو چخه
آشنایی دَ نا اهل عالم نه دئ په هر لوري تېرې تورِي دِي نا څخه[٥]
که په دو کښ چېري لږه بدري[٦] وخورم له چا بله وینا وانروم بې اخه
دَ هر چا سَرَه چه کښېني ورته رام شِي نور و غاړي ته تیار کا لومه پخه[٧]
کوېه سګ دَ زمانې هر ګوره پېر شول لکه پزانګ[٨] د زاوه ونیسه کړخه
چه رقیب ئې خوار زار په نظر کښېوت
دَ خوشحال خو هم په دا شوه سینه یخه

---

[۱] لمړي مصراعونه پوښتني او دوهم ځوابونه دي.

[۲] وکړه نشي.

[۳] په ورته ژاړم.

[٤] ښخَ یا شخَ دواړه لګېږي.

[٥] محشي نېزه ورته کښلې ده.

[٦] یعني غلطي او خطا وتل.

[٧] محشي زندئ ورته ګښلې ده.

[٨] دا مسرئ په دوو قلمي نسخو کښ دغسي دَه، عیناً ولیکله سوه، په بله نسخه کي (واوه) لیکلي دي.

ی

آدم خېلی افرېدئ دِي سرې او سپيني   پکښي نشته ښايسته. په رنګ رنګيني
غټِي سترګي لوی بانه، فراخي ورَځِي   شکر لبي، ګل رخساري، مه جبيني
تنګِي خولې لکه غوټی، هوار غاښُونه   سر ئې ګرد په تورُو زلفو عنبريني
په وجود کښ لکه ها[۱] له وېښتو خلاصي   پېښې کمکی غُنډِي پنډئ، پهن سرېني
ترنځی[۲] کېږي، سينه وري، ملا نرئِ   قد ئې سم لکه الف، په تن سيميني
که دَ باز غُندی مي‌ِ ګښت په غرونُو کېږي   ښکار مي‌ِ هم شوَي ښايسته زرکي ثميني
باز که چوز وِي که کرج[۳] طلب دَ ښکار کا   لا تر چوز وِي دَ کرج غوټې مهيني
يا اُوبه دَ لنډي سيند يا دَ بارې دِي   چه په خوله مِي تر شربت لګي سيريني
دَ ما تري غاښي نېغ درومي اسمان ته   په خاته خاته لنډېږي باندِي سپيني
آدم خېلُو سَرَه زه په تيراه راغلم   نور رخصت ورکړَي خوږ په زړه خوږيني
مينه واړه کار دَ اور لَرِي خوشحاله
که لمبه ئې پټوې لوګي ئې ويني

ارتينې په عقل کمي   خود بخود دَ صورت غمي
ته دَ ديو سَرَه سَم يې   دُوي له تا سَرَه ناسمي
زر نېکئ ور سَرَه وکړه   په يَوه ذره برهمي
درته زهر شي تا وژني   چه ئې ته ګټې مرهمي
دَ وفا په خوي کښ ندئ   هميشه جفا شيمي
دَ آدم په صورت روغي   په معني کښ نا آدمي
تا به ګرم په لږ ګناه کا   دوي په لوي ګناه نا ګرمي
څو ئې کج وړې هونبره کجي   څو ئې درد وړې هونبره خمي[٤]
په هر کار کښ ديګر ګوني   په خوله رامي په زړه رمي
پاسه تن ئې ښايسته دئ   په درون لکه ارقمي
نور څه مه وايه خوشحاله
تر وجود ښې دِي عدمي

آشنائي دِ را ښکاره شوه بې وفا يې   چه ځما سَرَه آشنا دَ بل آشنا يې
وَ بل باغ وته به سترګي ګرې نکړې   چه ځما دَ باغ بلبله يا طوطا يې
لا به کله ځَاي ځما په سترګو وکړې   ته مَيَن د ما دَ دوو سترګو توتيا يې

---

[۱] ډنګری چه چاغی او لوئی نه وی.

[۲] يعنی هګی.

[۳] محشی ورته کرېزی ليکلی دی.

[٤] څو ئې ګنج وړې هونبره کجی   څو ئې درد وړې هونبره زخمی، يا څو ئې خيال وړې هونبره خمی.

زه جدا له تا په سوز و په ګداز یم   ته په ګښت دَ ګلستان په لاس مینا یې
په لیدلو دِ خوښی در سَرَه راوړې   لکه تللي یاغي باز راغلَی بیا یې
دَ امید غوټې مي واړه شګفته شِی   چه دِ ووینم په ما لکه صبا یې
ستا په مینه پوري سل کا نخوالُونه   دَ خوشحال دِ له په چا باندِی شیدا یې
مسلمان به درته څوک وایي خوشحاله
دَ هوا ځینار[1] په غاړه یو ترسا یې

آئنې وته نظر کړه شېوه ګري   خود به ستا د حسن وکاندي خبري
دَ رِندو سترګو حاجت دَ رنځور نشته   په بد رنګي ناوي څه بولې سندري
مرجونا[2] په مټ پرده دَئ پدا نه دَئ   چه ئې راوړې مرعچچي مرغلري
چه نه مهر نه تپاک نه پکښ شناخت وي   له هغو بې درد وتښته لري لري
چه میوه ئې د کابل خوړلې نه وِي   د هغو تر فهم وڅکي دِي کُر ګُري[3]
پټه مینه دَ سړي ننه لړمون خوري   د وښو تر لمبې بد وِي اور د سَري
زه که غره په غره جار وزم عیب کوم دي   تل مزري ګرزي په لوړِي په ژوري
په ختا ختن دَ مښکو قدر نشته   نه په هند کښ څه قیمت لَري شکري
حق باطل سَرَه ښېلېږي را بر سېر کړه   مځکي څو به دَ قارون خزانې نغري
چه دَ ننګ توره دِ واخیسته خوشحاله
درومه سوات ته څه خټك څه ئې لښکري

افغان بچه شوخي! هر ګز په عاشق باندي   لطفي نکني رحمي، دا هم کله څوک کاندي
یك لحظه بیا بنشین، ما خوښ په ښه خندا کړه   قربان سرت ګردم، چه نوُر و وَته خاندي
ګل لاف لطافت زر چه ته په چمن راغلې   ازغایت خجلت شد، سر ګشته ستا دَ وړاندي
دکان شکر یعني ستا ښه خوړه خولګی   افشان شکر یعني ګاهي چه ته وخاندي
کبك دري و عنبر، دا دواړه حبطه شيِ   ګاهي که تو بخرامي، دوه زلفي آوېزاندي
خوشحال دلش شيرې ستا سترګي لکه شوي
ایواي که شد شېرې تر لکه شوي لاندي

اي دلبر لاهوري   بالله که برخ اوري
خوبان جهان پیشت   چون پیش مهي ستوري
پرواي شکر دارد   آنرا که تو مي زوري
خواهی که کنی شادم   یکخنده بدین لوريي
غمهای تو بر جانم   چون ابر اسد اوري
عالم بتو می بینم   در دیدهٔ من توري

---

[1] د زبار مغنن دی.

[2] دا بیت عېياً وکښل سو، په یوه قلمي نسخه کښ پرده لیکل سوې ده.

[3] په قلمي نسخو کښ په کاف او راء لیکل سوي، مګر په چاپي نسخه کښ ګُرګرِ دي. اما په خیال کُر صحیح دي ولي چه کور د غره بدخونده انګور دي او د دې کلمې املا په یوه قلمي نسخه کښ کور ده. ګرګرد غره بله مېوه هم ده.

مي جنگی و می خندی اینهاست ز خمسوري
سوداي رخ خوبت اندر دل من ښوري
در کویتو چون روهي
صد شیفت سر توري

ازلي بخره چه چا راوړه له خدایي نوریدل به ئې په چا شی راته وایي
چه دِ زړه راضی دَ چا په آزار نه وِئ ته پخپله بخره خوش اوسه همایي
دا ئې واړه دَ فراقه نه فریاد دئ چه په څو رنګه نارې اَروې له نایي
که په اصل دَ سید بادشاه زاده وِئ[1] چه هنر ور څخه نه وِئ مه ئې ستایي
که هر څو دِ زور قوت تر هر چا ډېر شي دَ خدایيِ دعوه ککړه که خدایي
یو ساعت چه په طاعت تېر کړې دا ښه دئ دَ دنیا له کر و فره هوي و هایي
کله گل غُندي نماي کله بلبل شې څوک به نه وِي لکه ته یې خود نمایي
بله بخره به په زور له چا وانخلِي
دَ خوشحال بخره چه توره ده له ځاېي

اوس خو کار د وار د پار دئ که د زویه که د پلار دَئ
یا د ما زویه دا شان دئ یا د هر چا دا روزکار دَئ
نه په حق نه په ادب دئ خبر نه یم دا څه کار دَئ
چه پخپل اولاد نازېږي هغه کس کله هوښیار دَئ
دَ اولاد په کار خبر شوم اولاد واړه لَړم مار دَئ
دیرش مي زویه په شماره دئ دَ نمسیو مي څه شمار دَئ
لوی هلك واړه خبر دِئ هر یَو جنگ وته تیار دَئ
اورنگ شاه وته نظر کړه چه یو څه خوني خونخوار دَئ
ورونه پلار ئې وبله کښېښول بادشاهی کا شهریار دَئ
چه ژوندَی گرزې خوشحاله
لا منت دَ گردگار دَئ

اور ئې ولگي په خونه چه عاشق شي کور ئې خپور لکه د قیس او دَ وامق شِي
یَوه زړه لَره یوه مینه کافي ده څوک چه ډېري میني کا دَ غم لایق شِي
د مجنون له حاله څه وایم چه څه دئ په ژوندیو کښ به کوم تر ما فائق شِي
ډېر عالم دَ میني لاف وهي په ژبه مرد هغه چه په دا لافو کښ صادق شِي
چه ئې لار دَ خولې یَوه دَ زړه وِي بله یوه خدایه مخ دِ تور دَ منافق شِي
دَ راحت په وخت هزار یاران وِئ دَ محنت په وخت کښ یَو یو موافق شِي
دَ نیمگړو طبیبانو ادراک نشته
دَ خوشحال دَ رنځ علاج به په حاذق شِي

---

[1] که په اصل دئ سید یا شاهزاده وی.

اَه که یَو ځله مي یار راشي په دست کښي — لکه لوی ماهي دَ خوار صیاد په شست کښي
چه په هر زمان ئې ونیسي وَ مخ ته — دَ ګلابو ګل پیدا شي ستا په شست کښي
ناز غمزې شېوې چه تا زده نور چا نزده — سر یې نن دَ دلبری په بند و بست کښي
دا خوبی به دَ ګلزار تر تلو نه وئ — ساقي ستا کومه خوبي دَه په نشست کښي
ساقي جام دَ میو مه پرېږده له لاسه — ځو دَ عقل څه ذره وئ لا په مست کښي
دانایان فکرونه کا ور نه رسېږي — دَ دلبرو تنګي خولې په نېست و هست کښي
په بلند همت کښ پورته پورته درومي — کښته ګښته ځي سړی په همت پست کښي

په طلب به ئې خوشحال تقصیر و نه کا
په مدد دَ طالع راځی په دست کښي

اې چه لافي دَ زنځور دَ رغېدو کړې — دَ خپل کلي رنځور روغ کړه ما به سو کړې[1]
نور به ستا په رضا ځم توبه وکښلې — خو که دا ځما ګناه تر پښو کړې
یوه ورځ به په مرګي سَره جدا شو — یاره تل دَ بېلتانه خبري څو کړې
تور بانه راته ځنبې په دا پوهېږم — یوه ورځ مي به په دا تېرو نېزو کړې
د تیراه اوبه دِي وځښې خوي دِ نور شو — اَفریدي غُندِي خبری دَ الجو کړې
چه په زړه ئې ګرزوم په تا معلوم دئ — توریتي[2] غُندي وَیل تِوله دَ زړو کړې
ستا په خوي[3] مي وېره شي ظالمان ځوان مري — له آزاده وېره وکړه ظلم څو کړې
که دَ غشی په ویشته سره خوږېږې — زه چه ستا په تیر زخمي[4] شم ما بخښو کړې
وایې تا وته به وَکړم اوس ښکنځلې — لا به کله دا نبات په ما پېرځو کړې
دَ طوطا خبرِي هم دا هسې نه وې — په بند بند و مشغولا وَیل ورو ورو کړې

ستا په دېر مانې به حال دَ خوشحال څه شي
چه په لږ مانې ئې دېر په اندېښنو کړې

برایه مي زړه خبري ستا دَ ناز وې — له خوښی به ئې یوه وینا باز باز وې
دَ هجران له دوکه مرم هغه مي وژني — چه به ما او تا جدا له غیرو راز وې
دوه په دوه به سَرَه ناست وُو تر صباحه — دَ یَوه راز مو انجام دَ بل آغاز وې
همګی په مثال شهد یا شکر وو — چه به تا راته ترخه ترخه ناساز وې
ستا له زلفو عقل سترګو ته فریاد کا — کله چا دَ غلو خبري په غماز وې

چه له یاره ئې بېلتون په دېر ارمان وُ
دا غزل خوشحال په وخت دَ بانګ نماز وې

---

[1] یعني ما به ژوبل او زخمي کوې د قندهار په محاوره ئې مصدر (څکرېیل) دي.

[2] دا کلمه دَ سید راحت په لغاتو کي داسي املا ده، ترویتي یعني نجومي ماخود له رویت یعني نجوم.

[3] په مرګ.

[4] زخمي شوم.

بیا د عشق دریاب را وخوت چلي چلي
عاشقان پکښ لاهو شول بلي بلي

که د سر ملاحظه نکړي[۱] غواص شي
مرغَلرې په دریاب کښ تلي تلي

دَ پتنگ محبت لا پسې زیاتیږي
چه دَ اور لمبې لېدې شي بلي بلي

ناگهان ئې مخ ښکاره کړ بیا ئې پټ کړ
په خندا ئې دا وېل چه جلي جلي[۲]

ما وې چرته به وئ کان د خوږو قندو
شاه وَ لب ته اشاره کړه دلي دلي

د عشق بخره عطایي لکه ایمان ده
مونده نشي په کوښښ په ځَلي ځَلي

چه دئ خوله له ما غوښته و تا مي درکړه
دا چه بیا له ما ماڼي کړې ولي ولي

همېشه پسې جار وزه شها غواړه
که دِ پښې دَ طلب نه دئ شلي شلي

زه خوشحال به بل دَیار برابر نکړم
په جهان که کښلي ډېر شي ډلي ډلي

بیا له کومه لوریه هسی را پیدا شوې
چه ځما زهد و تقوی لَره بلا شوې

ستا نظر لکه تور باز زړه مي تارو دئ
په تور باز دَ تور تارو غوښې روا شوې

په بار بار دِ دَ خندا منت را باندې
چه په ما دی نظر وشو پخندا شوې

په فراق دی ځما دواړه سترگي گوره
ورځ و شپه لکه څڅواکی په ژړا شوې

هغه شونډې چه درود و تسبیحات وې
راشه وگوره دَ میُو دَ مېنا شوې

وَ هر چا وَته دِ مخ دَ لاله گل دئ
که ځما تر سترگو دا رنگه زیبا شوې

په باطن کښ دئ دَ زړه په سترگو وینې
په ظاهر که له خوشحاله نه جدا شوې

بیا وَ ما وَته غمزې نگاري وکړې
دَ جلاد تر تېغ ئې لا خونخواري وکړې

چا ئې شمار دَ زلفو هیڅ نکړ تر سره
دَ تار تار ئې عاشقانو شماري وکړې

چه دلبري لَرَه دروميي یوه لار ده
مشتاقانوُ پسې ډېري لارې وکړې

په نري آواز کانه دې نه خبرېږي
ځکه ما هونبره په زورو ناري وکړې

څوک چه سترگي غَرَوې تر هغه واړوُ
ما په پټوُ سترگوُ ښې ننداري وکړې

څوک خبر ورځني ندي خو ما هم زده
چه ئې ما په دوو رخسارُو چاري[۱] وکړې

ته چه ډېري آشنایې کړې خوشحاله
په هر لورې دې د غم اجاري وکړې

بې یاریه دِ دا خوار مري یاره وه ئې
رقیبان پدا خوارېږي خاره وه ئې

تا وې مخ به در ښکاره کړم صبر وکړه
نور مي توان دَ صبر نشته ښکاره وه ئې

زر فتنې را سَرَه کړې زه ئې آخلم
که یَو ځَل چېرې غلط شوم شماره وه ئې

تر جمال ئې ډېر پتنگ غُندې ځارېږې
ستا دَ حسن کمي نشته ځاره وه ئې

چېرې نه چه سلامت له پرې ووزې
یو عجیب غارې غوټه دې څاره وه ئې

منتونه دِ دَ خولې را باندې بار دئ
ستا تر سپینه خوله ځارېږم باره وه ئې

---

[۱] که د سر ملاحظه کړې غواص مشه.

[۲] یعني سوځه سوځه.

وَ هر چا وته مرهم شه ورته خانده
گناهگار خو یَو خوشحال دَئ خواره وه ئې

بې ښایسته دَ هیڅ مخ نندارہ نشي
چه گل پرېوزي محبت له خاره نشي
دَ هجران دشوار دشوار تر هر دشوار دئ
د چا چا دِ په هجران دشواره نشيي
اندرون خاطر مي درشت پاره پاره شو
اوله خولې نه مي فریاد له ډاره نشي
دَ دې هسي رنګه رنځ علاج هم دا دَئ
چه زګېر وَئ مي په طبیب اظهاره نشي
دَ خاطر علاج می ژر وکړه طبیبه!
چه مي زړه پاره دَ خداي دپاره نشي
دَ هجران له دوکه وایم چه نارې کړم
ولي څو کړم چه زبون شوم ناره نشي
ما پخپل صورت دا کار دَي ازمېلي
له هر څه نه صبر شی له یاره نشي
په وَيل کښ فهم وکړه اې خوشحاله
چه دَ یار دَ میني راز دِ ښکاره نشي

بې دَ یار له مخه نه وینم په کسي
دواړه کسي ملك دَ نمر په شغلو کسي
زړه مي ستا په زلفو بند شو تا کباب کړ
څوک شهباز هم دَ کباب دَ پاره نیسي
خداي دي ستا دَ غاښو شونډُو امان وکا
لال و دُر په نظر مات کا بد حرصي
ما له خپلو شونډُو مه شره بل لور ته
دَ حلوا له خوا نه نه درومي لوغسي
ستا دَ مخ په مینه سوځَم لولپه شوم
دَ اَتش لمبه هیڅ نه پرېږدِي د سَسِي
که ئې چېرې دَ قدم خاوري مونده شِي
خوار خوشحال به ئې رنځور[1] لَره را نیسي

باد ئې لاس په پلَو کښېږدي سَرَه رېږدِي
گل ئې مخ وَته نظر کا خولې پرېږدِي
لاله ورایه رنګ و بوی ورته پېښکښ کا
چه په سیل دَ بهار دَ گلو پښې ږدِي
څو مي ستا مَروَند دَ سر سروېږدَي نشي
سر به هیڅ کله کښېنږدم په سر ویږدِي
هغه کس چه مي داغ یښَی په خاطر دَئ
هم هغه به ښا مرهم ور باندِي کښېږدِي
څو خپل زړه نیسم دَ زلفو له سودا نه
راشِي بیا دوري درازي راته بلېږدِي
دَ خوشحال خاطر په مثل کاروان سراي دَئ
اندېښنې پرې کاروانُونه ملي لېږدِي

بېهوده ئې دَ دستار په شمله خیال دَئ
چه په وخت ئې دَ مردیه حال بل حال دَئ
مرتبې دَ هر چا نَدِئ سَرَه سَمِي
دَ خره بار دَ فیل په شا باندې مثقال دَئ
څوک جرعه دَ میو نه لَري په جام کښ
دَ چا جام دَ صافو میو مالامال دَئ
دا ګلشن دِ همېشه تر و تازه دئ
چه ئې خېز دَ ښو ګلونو کال په کال دَئ
په خوزه مېوه دَ وني قدر شناخت دَئ
دَ سړي قدر د نیکو په خصال دَئ
په ناحق به ګرم ماڼه له هیچا نکا
دَ بدانو غلیم واړه خپل افعال دَئ
که جنت لَره څوک بیایِي یا دوږخ ته
بله نه وینم په منځ کښ خپل اعمال دَئ
کشکه پاته شي تر تلو دا وَ ما ته
په دنیا مي دَ هر چا سَرَه جنجال دَئ

[1] رنځو.

چه دَ پلار او دَ نیکه هنر ئې نه وِئ هغه زویه پیدا شوي غیر سیال دَئ
ته چه لافې دَ مردانو دَ میدان کړې په میدان دِ کوم راوړَي استقلال دَئ
دَ شهباز تر ځایه کله بانبې رسِې که راوړي ئې له ځایه پرو و بال دَئ
که همه خلق ئې سر شِي په غندنه
بېچاره خوشحال پخپل هنر خوشحال دَئ

بدبختان دَ مور په نس کښ بدبختان دئ چه دَ مور له نسه پرېوزي هغه شان دئ
په دنیا کښ زیست روزګار په بدبختي کا بل جهان لَرَه بد بخت شقي روان دئ
حمیده چاري چه کا پکښ ناخوښ دئ څو چه شی په ذمیمه کښ دل شادان دئ
چه هوا ئې دَ خپل نفس په هغه لور ځي پیروي ئې په هر کار کښ دَ شیطان دئ
که قدم چېري ثابت کښېږدِي په لارِې په دوهم قدم بیا ژر په زړه پښېمان دئ
کتابونه دَ اسمان دَ مځکي لولِي په عمل ئې فرق دَ مځکي دَ اسمان دئ
په باطن ئې زړه ګمان سرَه لَړلَي په ظاهر وَیل په ژبه مسلمان دئ
په خبرو کښ ئې فیض مونده نشِي مذبذب په قول، عهد په پیمان دئ
په طاعت په عبادت کښ که بلعم[۱] شي په اَخر دَ نس په نغته[۲] بې ایمان دئ
زه خوشحال خټك بنده دَ هغه چا یم
چه ئې رو دَ زړه دَ خولې سرَه یکسان دئ

بخت دولت دا واړه توکي فلکي دي نه پذات نه په ښایست په زیرکي دي
دم به نه وَهي په دم وَهل کښ زیان دئ نندارہ دِ دَ جهان کا چه ذکي دي
غم اندوه شدت هغه وړي خپل زړه ته چه په کار دَ مشیت په زړه شکي دي
په یوه نسب کښ نېك و بد پیدا شي محمد (ص) و بو لهب دواړه مکي دي
چه په عقل پوهه کم دِی تر هلکو نن هغه دَ دنیا مال لَری لکی دي
دَ مردانو قدر ورک شو بلا دا شوه چه په هر چا پوري ږېرِي غینکي دي
چه دَ پلار په خوي پیدا دئ هغه زویه چه دَ مور په خوی پیدا شول کوسکي دي
څوک په غم دَ نام و ننگ په جهان راغله څوک په فکر دَ طباخ د شحنکي دي[۳]
هیچا ما سرَه یاری نکړه تر سرَه خټك واړه پوز پرې کړي بوڅکي دي
نه ئې بوي شته نه ئې رنګ شته نه ئې خوند شته حاسدان مي دَ سپلمُی خټکي دي
په زمان زمان ئې څرخ وِي وَ بل لور ته اندېښنې دَ زړه په مثل توتکي دي
کله یو سر کله بل سر لکه[٤] کوډه تدبیروُنه دَ هلکو مړدکي دي
رنګا رنګ ویل د خداي لَره خوشحاله
دا وَیل دِ لکه غشي ناوکي دي

---

[۱] وايي چه بلعم باعور ډېر عالم یهودي و، چه اَخر په هوا دَ نفس په مخالفت دَ حضرت موسی کافر سو.

[۲] نغوته.

[۳] څوک په فکر دَ طبق د ښانکي دِی.

[٤] کله.

بیا ئې واغوست سپین کمیس پټې پټې | باندې زلفي څنډوي لټې لټې
څوک به ستا سَرَه څه نرد کا دَ خوبیه | چه په هره منصوبه ګټې ګټې
وایې څوک به زړه د ما له لاسه خلاص کا | دربغه څه خبري کړې کټې کټې
عاشقان به دِ له وره نه وانوري | که هر څو ئې لکه سپی رټې رټې
چه نري نري سپینسې غرم دَ شعر | په بیاض باندې ئې ېردم اټې اټې
دواړه شونډې مي عسل دِي اې خوشحاله
په څه دود ئې په حرص څټې څټې

په خاطر باندې مي نه وئ پروتي لړي[۱] | څو خاطر می لټوی[۲] هونبره می کړي[۳]
په بل رنګ مي به زړګي باندې سوړ نشي | رقیبان شول دَ نوکونو تر منځ شپړي
و هر چا وته چه وګورم فریاد کا | یو زه نه یم د جهان دِئ سپنې خوړي
دا دوه توګه و هوښیار وَته یو راز دِئ | د نامرد سرې برېتونه برېت د مړي
په جهان به هیڅوک نه وِی چه آزاد وِی | ځنی عشق اندوه بنده کړه ځنی لوړي
چه احمق سَرَه یاري کړې خبردار شه | یوه ورځ به په تا وکا کار دَ یړي
چه بې علمه تصوف وایې باور کړه | دا مي واړه[٤] بوس دانې سَره آغړي
هیڅ مذکور ور سره نه بویه نه ښه دَی | په نادان دي دَ دانش خبري زوړي
چه دي لاس په ګیرړ نه رسي خوشحاله
و مزریُو وته څه لاسُونه مړي

په څه شان ئې دواړه زلفي کج په کج کړې | یکباره ئی دَ عالم مېنی په چج[٤] کړې
توري زلفي ئې زنجیر مخ ئې کعبه دَئ | دا زنجیر په لاسو وَنیسه که حج کړې
که یَو دم دئ دا زنجیر په لاسو کښېوزي | همېشه به دَ خپل زړه په حال فرج کړې
بیا هاله دَ یګانګیُ له حاله لاف کړه | که دَ غیر اندېښنې له زړه خرج کړې
زه تر نام و ننګ تېر شوم ستا دَ پاره | ته به څو ځما دَ کار دَپاره بجْ کړې
قند و ګل چه یادَوم مقصود مي دا دَئ | څو بوسې که له ښکنځا سَرَه مزج کړې
ما خوشحال له خپله ځان نه خاطر موړ کړ
چه دا هسې دَ غمزې په تېغ حرج کړې

په ځوانانو پوري پیچمی[٦] کا ولاړې | ته په شپینه ږیره خوله ور ځني غواړې
دَ ځوانی هوس مکوه چه زوړ شوې | اوس له تا نه ځوانِی چاري ولاړې

---

[۱] په خاطر باندې مي پروتي ندي لړي.

[۲] پټوي.

[۳] ئې کړي.

[٤] یعني کورونه ئې ور غلبیل کړه. دا د پښتو محاوره ده.

[٥] یعني ښته او ګواښل.

[٦] یعني ریشخند.

تېر ساعت به د دَ عمر بیا رانشِي　ورَځ و شپه که په زار زار ورپسې ژاړې
که ئې بیا له مځکي اَخلِي سود ئي کوم دَئ　چه له خولې په مځکه پرېوزي دَ چا لاړې
د خوشحال ویل په زړه دَ اورېدو دِئ
چا ته نه کاندي........................

په هَره زمانه تر لیلا کنبلې پیدا کېږي　مجنون ور لَره بویه چه په مخ ئې شیدا کېږي
په رنگ په هنر نده نه دا کار په سحر و دم دئ　یو سړ دي دَ زړه مینه چه په چا هویدا کېږي
چه څوک په مهر مینه سَرَه خپل پیوند محکم کا　که سل توري را واخلِي[1] سَرَه چېرى جدا کېږي
یا حسن دَئ یا عشق دَئ دَ دنیا پدا بازار کښ　په ناز او په نیاز سَره دا دواړه سودا کېږي
خوله ونغاړه ناصحه چه و ما ته نصیحت کړې　ښه مخ وته مه گوره وایه دا به په ما کېږي
په سر ترِلي ندئ نه اندوه دَ دوږخ کاندي　دا کار چه عقشقان کا وایه کله په چا کېږي
به رب د ما سوگند دَي واړه گل په ما اغزي شي　چه بې له زیبا مخه مي گلگښت په صحرا کېږي
خپل زړه مي لوي مفتي دئ روایت ورځني غواړم　چه صبر کړم له یاره وائِي کله روا کېږي
یاري چه تازه وکړې صبر فهم پکښې بویه　په ورو ورو نوي یار په هنرونو اشنا کېږي
انبار انبار پراته دِئ عاشقانو ته غمونه　پېغور دَ عاشق دا دئ چه ئې غم وَته شا کېږي
که ناز کا که خیالونه واړه وړه دَ دلبرانو
خوشحال چه مین شوې که ئې نوري بلا کېږي

په څه دود ئې ځاي نېولَي ستا تر څنگ دئ　دَ رقیب خبره مه منه بدرنگ دئ
زه چه ډېر ډېر ستا له ډېره جوره ژاړم　تر دوو چشمو مي چشمه بحر د گنگ دئ
ښاپیریه دِ په هورته هورته گرزي　نن په دا لوري دَ شاه د باهو شرنگ دئ
لاس ئې مه پرېږده له لاسه خوله ئې واخله　پرېوتلی په یاغی راجا قلنگ دئ
په زړه مهر محبت په خوله ښکنځل کا　څه عجب زیبا دَ دوو مینو جنگ دئ
لکه سپی دَ خپل څښتن جور و جفا وړي　خوار عاشق تر معشوقه پوري بې ننگ دئ
په رو رو باندي قدم کښېږده خوشحاله
خداي دي بل دَ جا خطا نکا گړنگ دئ

په زړه سخت بې مهره یار یې　جفا کار و دل آزار یې
که هر څو په کوکو ژاړم　ته لا خوښ ځما په کار یې
تا ویشتلي یم فریاد کړم　که خبر په خپل گزار یې
زه مرهم کړم له تا طمعه　ته مي مالگه دَ پرهار ئې
زه به تل ژاړم و تا ته　که ته خوښ ځما په زار یې
زړه دِ وسپاري و غم ته　دَ هغو چه ته دلدار یې
څوک به څه وائِي و ما ته　ته یو څرنگه نگار یې
چه پخپله عاشق وژنې　هم ئې ویر کړې په چیغار یې
کوم گناه دي عاشق کړَې　چه ئې خیره په ناتار یې
کله درد کله دوا شې　کله خار کله گلزار یې

---

[1] سل توري ور واخلې.

په خوشحال دِ غم نازل کړ
چه اغيار سرَه کنار يې

په کاته کاته مي سترګي په خاته شي   چه خبر دِ دَ راتلو را باندي وشي
ته خو اوس له ما نه ولاړې مروَر شوې   دا ځما ياري دِ هم ګندي په زړه شي
ګوره تا را باندي کومي کوډي وکړې   که په پښو در ځَني درومم زړه مي نه شي
چه ديدن دَ مَين وکړمه تازه شم   لکه کښت چه په باران سرَه اوبه شي
دَ ښه يار بېلتون دَ ستوني پرېکوَل دي   په يرغ به ستوني چېري پرېکاوه شي
په ارمان د هغه وخت يَم دربغه دربغه   که دَ زني سبب ئې بيا د ما په خوله شي
دَ خپل يار د جدايی هسي کار دَئَ   لکه ساه چه له وجوده په واته شي
بخته هونبره مدد بيا را سرَه وکړه   چه په غېږ کښ مي بيا تللي يار اوده شي
دَ خوشحال سلام په واړو ښو يارانو
ګوندي بيا مي په ليدو و سرَه زړه ښه شي

په ښه مخ به څو تابان يې   ښه تر مياشتي دَ اسمان يې
که پرون وې زړه او سترګي   راشه نن ځان دَ جهان يې
لکه سيوره په پښو پروت يم   زړه هورې چه ته روان يې
خداي په ښه جمال يوسف کړې   په ګروړونو هم ارزان يې
که دِ دوه کونه قيمت شي   په دوه کونه رايکان يې
دواړه شونډي دي ياقوت دي   مرغلری په دندان يې[1]
په رشتيا وَيل بد مه وړه
خوشحال ستا دَي ته دَ ځان يې

په وار وار دِ د خندا منت را باندي   چه له ورايه را ښکاره شې راته خاندي
چه ئې زړه تر کاڼي سخت دَي پر مين شوم   لاس دِ نشي دَ سرې تر کاڼي لاندي
چه بل مخ وته نظر کړم د هِداد شم   توري زلفي ئې دُرې دِي آوېزاندي
چه ئې توره د غمزو راته تېره کړه   اوس خو بهَ شهيدي دَه ستا دَوراندي
رنګ و بوي دِ د خپل ځان هسي پيدا کا   که په رنګ د ياسمين دَي ګل دَ سپاندي
زه به څه لره له نوره خلقه زار کړم   په ما واړه چاري زړه دي چه ئې کاندي
اوس خوشحال ختِك خپل يار په غېږ کښ ونيو
رقيبان دِ سترګي اړوِي نغلاندي[1]

پښتانه که آدم زاد دي   په خويونو کښ هناد دي
نه حکمت لَري نه عقل   خوښ هر ګوره په فساد دي
نه دَ پلار په وَيل کار کا   نه په نغته دَ استاد دي
چه په ديو ګښ يو ښه وي   دَ هغه دَ سر جلاد دي

---

[1] په خبرو دُرافشان يې.

یو دَ بل په کمي ناست دي ځکه تل په بلا یاد دي
اول زه دا نور له پسه څو شته واړه دَ هیداد دي
په نفاق ئې واړه ورک کړل که شجاع دِ که جواد دي
نه ئې قدر شته نه پدل ډېر تر مور او تر جراد دي
دا لا شکر کړه خوشحاله
چه بنده نه دِي آزاد دي

په گرد کوي توگشتن مراد ځم دئ بود که روی بینم که کعبه ما دئ
من این جمال ترا خود مثال کي یابم که خود جمال تو از ماه و مهر پیدا دئ
منم که غیر ترا در جهان نمی بینم خلاف نیست خبردار حق تعلی دئ
نمی شوم متحمل بروز وعده وصل بیا بیا که دلم خوار زار بې تا دئ
جدا زروی تو چونم بگویم ای مه من[۱] چناچچه تشنه وَ اوبو ته نا شکیبا دئ
گمان مبر که بگردد ز عشق تو خوشحال
چرا که بررخ خوب تو ډېر شیدا دئ

په نیکي به له بدانو نه خلاص نشې بویه دا چه لکه دُوي وِي هسي ته شې
دَ غنمو په لذت به نه پوهېږي دَ هر چا چه زیست روزگار وِي په اوربشې
دَ غلیم سترگي به ټاگنی خسږي که په زړه کښ ورته کسي دَ لېمه شې
دَ بد خواه د بد خواهیه خلاصي نشته که اسمان ته الواته وکړې مرغه شې
په پاکی کښ به دِ گډی کا میتاځي په صفت کښ که بد ذات سر اوبه شې
دروغجن به دِ بیا لیري کا دَ زړه نه که هر څو ئې په رشتیا پورې په زړه شې
د بد گویو له ویلو خلاصي نشي په پاکي که تر فرښتو نه ورته ښه شې
آفتونه په گډون کښ دِي خوشحاله
ښه خو دا چه که دا یم غرڅه دَ غره شې

په ښایست کښ دي څوک نشته دَ سپالِی که دِ څه خو مهر هم وي نتیالِی
ورځ په ورځ دي دَ خوبی گل غوړېږي ته لا اوس دا نوي بوټي په زالِی
په پسا له به مینه کا چه رنگ ئې نه وِي ته گلرنگه څه محتاجه د پسالِی[۲]
ستا دَ مخ سپاهیان همه توري پرې باسي ولي دوه سترگي دِ لا دِي جنگیالی
زه چه ستا دَ وَر په تورو خاورو پروت یم راته خس دي دَ بخملو نهالِی
دَ پایلو په آواز سَرَه دِ وېښ شِی چه پرې درومې تصویرونه د قالی
ته خو اوس دَ زهد لاف کوې زاهده که ئې وَوینې زړه ټینگ کې مرد هالی[۳]
زه به نیت درباندي وهارم باور کړه که دِ ځای دي د هاتی په انبالی

---

[۱] به آرزویتو چو نم.

[۲] پساله یې.

[۳] هاله یې.

خداي دِ امن دَ خوشحال دَ سترگو وکړه
په خندا خندا چه ځِې په خوشحالی

په دانا مي دَ ناپوه ديدن الم دَئ   د ناپوهو د صحبت نتيجه غم دئ
چه دانا مي دَ نادان سرَه گډون کا   دا ئې واړه پخپل ځان باندي ستم دئ
بد سړَی که په ظاهر سړَی ليده شي   په باطن کښ نور څه ندئ مار لړم دئ
دَ بدانو په صحبت کښې دين دينا ځِې   شك پدا خبره مه وکړه قسم دئ
د ناپوه سرَه په جشن حاضر مشې   دَ دانا سرَه قبول کړه که ماتم دئ
که بې عقل تر يوسف ښايسته روغ وي
دَ خوشحال خټك په پوهه يو صنم دئ

پدا قول دَ درست خلقو اتفاق دئ   گُله ستا خو څو ورځې طمطراق دئ
که دَ رنگ خوبي ئې ستا يې بود ئې نشته   په جهان کښ که باقي دئ خو اخلاق دئ
هسي يار دِ غوري خداي را کړ په غېږ کښ   چه په نونس توکه دئ په حسن طاق دئ
لکه تږي و اوبو ته په تلوار دئ   خسته هسي دا خپل يار د مخ مشتاق دئ
سلامت دِ ارزاني وِي په شيخانو   ملامت ئې بخره کړي د عشاق دئ
چه يَو ور په سړی وتړي بل وا کا   رزق به هر چا ته رسيږي خداي رزاق دئ
گه ئې سر له تنه درومي نور به نشي
دا خوشحال چه دَ خپل يار سرَه ميثاق دئ

په ورو ورو څه خو خبر شوم ستا له ميني   لکه اور ليدلي نه لوگي ئې ويني
پردېسي حيران برېشان له خلقه تشي   دا پتا پسې جوگي شوم که مي وينې
چه په تا پسې ژړا کَوم دَ اوښيو   عاقبت به دا ژړا وکړم په ويني
چه هغه ساعت په ياد کړم لولپه شم   چه به تا راته خبري کړې شيريني
څوک به تا غُندي پيدا په جهان نه وئ   هوسی سترگي، عنبر موئي، مخ نسريني
هغه وخت را څخه ولاړ چه مي به کنبل کړې   دواړه ستا ميگوني شونډي شکريني
که خمتا واغوندې لا ښه شې تر نورُو   که څو رنگي جامې واغوندې ورېښميني
ته مي پاس د زړه په سر باندِې ميشته يې   نوري واړه يو سر بل سر دلنشيني
ستا په خوي پوري حيران يم خوي دِ څه دئ   په ثنا را سرَه جنگ کړې نازنيني
لکه زه پتا مجنون دا هونبره نه وُ   نه فرهاد هسي مَيَن وُ په شيريني
عشق تنها څه په ليده دَ سترگو ندئ   لا دَ خولو په صفت هم کاينې خوړيني
دَ خوشحال د زړه دَ خوني لکه څراغ ئې
لا به کله را ښکاره شې مه جبيني!

په درياب کښ چه جهاز بيائي نا خداي دئ   چه ساتي ئې دو بَوي ئې هغه خداي دئ
بادشاهي ئې په نصيب او په قسمت وئ   چه سايه دَ چا په سر کاندي هماي دئ
څوک چه طمعه له چا کا په حقيقت کښ   که بادشاه دَ درست جهان شي لا گداي دئ
درته چا وې چه پرې مه پرانزده غوټيه   تأمل دَ هر سړي گره کشاي دئ

یا د ښو زویو سندري وې د زړو[1]
یا د توري په میدان کښ هوي و های دئ
د هغه دَ غلطی اندوه نه وئ
چه رفیق ئې په سفر کښ رهنماي دئ
وچ ککړ ټټر داغداغ په منځ کښ هیڅ نه
چه نارې دَ جداییه وهي ناي دئ
خوي خصلت وته ئې هم نظر دَ کړو دئ
که جمال ئې په څو رنګه دلرباي دئ
په هزار ژبه ئې ستایه بلبله
ګل پخپله دَ خپل حسن خودستاي دئ
که باغونه که راغونه که څه نور څه
چه دِ زړه پکښې خوشحال شو هغه ځاي دئ

په هر ځاي چه قدمونه په خرام ږدي
سل منته پدا مځکه په هر ګام ږدي
زه به چېري آزادي ور ځني مومم
چه دلبره راته تل دَ زلفو دام ږدي
که تر نوم او تر ننګ تېر شوم غم ئې نشته
عاشق هر کله قدم په ننګ و نام ږدي
نه بهار شته نه ساقي شته، نه مینا شته
اوس به څوک ځما په لاس دَ میو جام ږدي
څُوک ئې نه پسندي پما هسي بدنام شوم
دَ نیکۍ نام چه څوک په ما بد نام ږدي
په صحیح سالك هغه دئ پدا لار کښ
چه قدم دَ ترقی په مقام ږدي
زه د کښلیو په پښو سر ږدم که نور خلق
خپل سرونه دَ پیرانو په اقدام ږدي
ستا دَ خیال فکر نه درومي له دله
په زړګوټي مي داغونه صبح و شام ږدي
راشه ګوره دَ خوشحال دَ خاطر ویني
په بیاض باندي چه هر حرف د کلام ږدي

په ناحق په ما منت کاندي وګړي
ما دا هسي منت ندئ دَ جا ورَي
زه له ځایه دماغي په جهان راغلم
ما دا هسي دماغ اوس ندئ را ورَي
که درست باغ دَ میو ډک و ما ته کښېږدي
تر همت پوري مي څه دئ یو خسرِي
په یوه ببلك[2] ئې نن تر هر چا به کړم
بل ئې هم دئ په سبا راته نومړي
هغه کوم سبق د ناز او د نیاز دَئ
چه و ما ئې په ایځي[3] ندئ را کړي
په خوږه خندا دَ خضر عمر را کا
په مانې سَرَه مي بیا کا لکه مړي
یو څه بند مي دَ غماز په غاړه پرېووت
لا تر اوسه ګرزوم دَ غاړي پړي
له اصلي فولاده هاله تېغ رغېږي
په وار وار چه ځني لاړ شی اوسپن خړي
دَ جهان په واړو ونو نظر وکړه
هَرَه ونه خپل خپل خوند لَري خپل زړي
زه د یار غمونو درست په زړه رنځور کړم
لا مي نه دئ دَ زړه حال و چا ته سپړي
دَ تازیانو په میدان باندي غوټې دئ
کوته هم ورپسې زغلي لبغړي
چه و چا وته شمار یا ئې بیان کړم
هونبره غریو مي له فراقه ندئ نغړي
هغه مخ ئې پخپل کور په پالنګ ښا موند
چه خوشحال وُ په طلب ور پسې ستړي

---

[1] یا د ښځو ئې سندري. یا د ښوزوېو سندري د زووو دِي.

[2] محشی ورته غشی لیکلی دي.

[3] ایځګی.

په سینه کښ مي اوده مینه پهر جا کې[1]   ځما ستا محبت ګوره کیسي لا کې
دَ رقیب وینا ئې یاده شوه که څه شوه   سپینه خوله ئې په خندا راوړه پهر باکې
په بازي بازي وژلي کټل نشي   ځکه ما په مسخرو وژنې بیجا کې
زه خوشحال چه لا له ورایه ور ښکاره شوم
په خندا خندا ئې وې چه اَو میرا بیرا کې

په دا کلی کښ ډېر کښلي   چونې چونې خلق دِي وکښلي
ما په دواړو کښ یو یار کړ   نور مي شمار کړل لکه کښلي
هغه هم هسي بد خوي دَئ   چه په زور را سره نښلي
که د ده له چارو وایم   را ئې هېڅ ندي برېښلي
ولي څه کړم پرې مَین شوم   چه څه کا واړه بخښلي
خو مَین په هیچا مشې   په بلا دی مین لښلي
ګاه کباب په جدائي کښ   ګاه په وصل زړه وکښلي
عاشقان دِي سینه سوي   له اندوه سَرَه اَخښلي
په خمار هغه پوهېږي   چه شراب ئې دِي نوښلي
په دنیا کښ به هر چا وِئ   په ارمان لاسونه مښلي
چه و ما وته ئې فاش کړل   څه رازَونه دِي پوښلي
دَ خوشحال غُندي په عشق کښ
نشته نور په رنګ ځېښلي

پښتانه په عقل پوهه څه ناکس دي   کوته سپي د قصابانو د جوس[2] دي
بادشاهي ئې د مغل په زرو بایله   د مغل د منصبونو په هوس دي
اوښ له باره پخپل کور کښ ورغلي   په اولجه د اوښ دَ غاړي د جرس دي
دَ نفرین لایق په نام سره بنی دئ   له اوله که دا نور ورپسی پس دي
بې ننګان دَ بې ننګِي کار و بار کا   ننګیلالي د ننګ پکار کښ هر نفس دي
سر ئې هوري قندهار بل ئې د مغار دي
تر دا منځ همه میشته واړه عبس دي

په هر کسب کښ چه یې حبیب الله بې   که له خدایه له رسوله نه آکاه بې
په محشر به له تا عدل ایمان غواړي   که په تخت دَ پاسه ناست دَ ملك بادشاه یې
نفسه تا دا هسي زه مذبذ بین کړم   هم توبه هم ګناهونه څه ګمراه یې
نور څوک څه لَره بد خواه ګڼې ناپوهه   چه پخپله دِ خپل خوي، دَ ځان بدخواه یې
زمانه به دِ بد رنګ کا غره شمه   که هر څو پخپل جمال کښلي تر ماه ئې
په خاته کښ ئې هیچېری ثقل نشته   تل چه پورته کښته کېږي یوه ساه یې
که پخپل ګمان کښ ځان و تا ته کوه دئ   و قضا وته پمثل لکه کاه یې

---

[1] د دې بدلی د پای کلمې هندی دی چه ذواللسانین صنعت پکښی مراعات شوی دی.

[2] محشی ورته کښلی دی: غولی او انګړ.

د خوشحال وېسا په سخت ساعت په تا ده
اې چه ته دَ درمانده وُو پشت پناه يې

په دا څه که دَ بنګښ راته ډنګ ډنګ دئ　　زه هم ښه يم د ما هم برغو[1] تر څنګ دئ
عقل زور دَ غوريه خېل تر بنګښ زيات دئ　　غوريه خېل را سَرَه هم وَلاړ په ننګ دئ
د بنګښ نه هونبره زور وينم نه توره　　دا په کوم توکي له ما سَرَه په جنګ دئ
غوريه خېل که په ناکام ور سَرَه زيست کا　　په رضا ورته بنګښ نيولی تنګ دئ
غوريه خېل او بنګښ دواړه مغلي دي　　همېشه ورته مغل وهلي لنګ دئ
که زه ګورې[2] دُرد آشام ورسره شمار يم　　خوار هغه چه ئې لما سَرَه آهنګ دئ
هر ملخي دَ سر بازيه هنر څه زده　　چه پدا هنر کښ سر ښندي پتنګ دئ
لا تر اوسه ئې ماغزه په قرار ندي　　چا چه ما سَرَه وهلي سر په سنګ دئ
د کينډيو[3] په ځګو کښ ئې ګولی دئ　　که ليدلَي چا د ما دَ ښکار تفنګ دئ
لا په خوب کښ په لرزه پرېوزي له کټه　　چه د چا تر غوږ د ما د توري شرنګ دئ
که پدا دَرومي ګورې هغه زه يم　　چه مي داغ په خاطر يښَي د اورنګ دئ
درست جهان مي و مغل وته خېبر کړ　　ځاي په ځاي ئې پښتانه وَته قلنګ دئ
ځني څه لوئي دعوې لَرم په زړه کښ　　ولي څه کړم چه پښتون واړه بې ننګ دئ
خو طالع را سَرَه هسې مدد نکا　　ګڼه تېر مي تر فريدونه فرهنګ دئ[4]

د خوشحال دَ زړه د حال نندراه وکړه
که په تخت دَ پاسه کښېني هم ملنګ دئ

تا په دوو سترګو مکحولي　　چه ئې واړوې ملولي
په حيرانو عاشقانو　　سل بلاوې کړې نزولي
نه ئې شمار نه ئې حساب شته　　خلقې دِ کړې مقتولي
راز مي هيچا ښکاره نکړ　　ځما اوښی دِی پدولي
نه په سر يم نه په مال يم　　نه په ملك يم نه په پولي
پوه په نام و په ننګ نه يم　　په فروغي په اصولي
چه دَ عشق الا بلا دِي　　همګي مي دِي قبولي
لاف مي ستا دَ پالنګ وکړ　　که رسېږم تر مقبولي
هيڅوک نشته چه پرې پوه شِي　　ښې خبري دِي معقولي
چاری واړه په قسمت شي　　نه په ځَلي نه په ځَولي

بخت په کور ورکړه خوشحاله[5]
تار په تار زلفي مختولي

---

[1] د دې کلمې معنی حل غواړی.

[2] که زه ګورې درد آشامو سره مل يم.

[3] دا کلمه حل غواړی.

[4] ګڼه تېر می تر شېر شاه بادشاه فرهنګ دی.

[5] بخت به کور درکړی.

ته په څو دَ دنیا میني مبدل کړې | فکر نه رسي هورې پسې جدل کړې
هره ورځ دَ دې فاني دنیا دَپاره | زر فتنې الا بلا دغا دغل کړې
که دِې خپله مدعا پکښې درستېږي | بې صرفه به اور دَ پلار په خونه بل کړې
که کافر درته دَ سود خبري وکا | دَ خپل سود دَپاره ځان د کافر مل کړې
که دِې سل چارې دَ زړه واړه پوره شي | په حرص به دوه سو نورو ته تګل[١] کړې
چه دَ عمر بقا نشته واړه هیڅ دئ | که ګنجُونه دَ قارون په کور کښ تل کړې
چه په دواړُو سترګو ړوند په غوږو کوڼ شوې | لال په خوله غفلت په لاسو پښو هم شل کړې
په پنځه کښ دي دَ ځان رستګاري دَه | ته پدا کښ هم په څو رنګه خلل کړې
که څلور دئ که پنځه که شپږ اُوه دئ | له اصلي چارُو ئې واړه معطل کړې
ښې خوږې چارېې دَ دین درته ترخې شوې | نفس ترخې چارې وَ تا وته عسل کړې
عاقبت به دئ دَ ګور په خاورُو خوب وئ | چه ئې اوس په نهالي او په بخمل کړې[١]
ستا پخوا هم دَ دنیا طالبان نور وُ | چه[١] ئې مېني تار په تار خورې اجل کړې

بهشت ځاي دَ پرهېزګارُو دَئ خوشحاله
ته بهشت وَته هوس په کوم عمل کړیې؟

ته چه سترګې تورې خود به پوهېږې | لونګین چه ښورې خود به پوهېږې
سر تر پایه جامې واغوندې ګلګوني | ځان چه هسې جوړوې خود به پوهېږې
تور سنبل دَ باد وَ مخ وَته وَلاړې | چه په ګل ئې خورې خود به پوهېږې
په ورځ سل ځله آشتي کړې هم جنګونه | هر دم خوې چه نورې خود به پوهېږې
هم په لاس د میوه جام را کړې چه نوش کړه | بیا مې جام نسکورې خود به پوهېږې
خپله څه دَ درست جهان فتنې نازُونه | چه عاشق ته پورې خود به پوهېږې

مګر لږ دِی دَ خوشحال دَ زړه غمونه
باندې نور تندورې خود به پوهېږې

تورې سترکې ستا دِې اې زیبا نګارې مستې | تور نرکس شهلا دِې اې زیبا نګارې مستې
تا چه بوسه را کړه زه پرې بې حسابه مست شوم | شونډې دِ صهبا دې اې زیبا نګارې مستې
ما چه ستا دا ښه کښلې بارخو په سترګو ځېر کړه | ګل د لاله دا دِې اې زیبا نګارې مستې
خوله[١] به دِ آخلې چه پر ستا دَ خاطر مینه | ډېر په تا شیدا دِې اې زیبا نګارې مستې
هر چه ستا له ظلمه و نور چا وته فریاد کا | واړه بې وفا دِې اې زیبا نګارې مستې
خوب کاندې بې غمه یا ئې چېرې قرارې شې؟ | څوک چه بې له تا دِې اې زیبا نګارې مستُې
چارې په ما وکړې وائې چارې ځما ندې | ستا نَدې د چا دِې اې زیبا نګارې مستې

تا ووې خوشحال ته نورې لا تر ما زیبا شته
څوک تر تا زیبا دِې اې زیبا نګارې مستې

---

[١] خوله به دِ هغه خوري.

ته چه هسې حکم ناز کړې په وګړي
په تا څه دَ چا پوره دَ چا نيمګړي
دَ درياب سَرَه درياب وي يو څو وخته
بيا په هر لوری پراته وي اوبو وړي
چه ئې څو په پورته لوړي لوړي وَړي
د هغو مانِی وګوره چه لوړي
لکه ته يې بېهوده ياوه باد وړي
جهان څو دا هسې ياد لَري باد وړي
طمطراق دَ جهان کل واړه عبث دئ
هوښيارانو وته کم دَي تر خسري
دا چه تا وته ژوندی دئ ژوندي ندئ
دا وَ ما وته ښکارېږي لکه مړي
چه خوړې مېوې لري خوشبوي ګلونه
پڅپل باغ کښ دي کښېښووې هغه زړي
په آواز سَرَه سری بنديخانه دئ
د ځاروي علاج په ترکېږي په پړي
جنتي دوږخي پټ ندئ ښکاره دئ
خپل عمل دې په نوم نوم واړه نومړي
زلزله په جهان ګډه شوه خوشحاله
دَ اسمان له شدتونو کنډي رغړي

ته چه خيال په زر زري جامو کړې غچي[1]
د اسمان ستوري بهي نشې په دا تچي
که بادشاه دَ مملکت شې په تخت کښېني
چه به تل په جهان نه وې دا په پچي
ځان چه کم ګڼي تر بله هغه لوي شِي
دَ سليمان ګُتې پدا راغله په خچي
ځما ستا په خوله به مرګ کا توري خاوري
که ته هر کله حلوا خورې زه خمچي
وداني دَ درست جهان په محبت شِي
راشه ګوره محبت دَ مچ دَ مچي
زه خوشحال که خپل مين په ژړا مومم
په ژړا به پسې نه کړم سترګي وَچي

ته هغه ليلی يې چه دِ تل په بخره ناز دئ
زه هغه مجنون يم چه مي تل سر پسې نياز دئ
ما وې خو يو زه يم نن شهره په عاشقي کښ
لا تر ما د نور وګړي لاړ ليري آواز دئ
زه تر عشق ځارېږم تر هغو چه عاشقان دئ
واړه عشق پکار دئ حقيقت دئ که مجاز دئ
رايشی له کومه ځاي په څو وکا په زړه کښ
هېڅ پرې نه پوهېږم عشق يو څه سوز و ګداز دئ
هې دَ خداي دَپاره تفحص را پسي مکړه
پلار ته وايه نشي عشق يو هسې مخفی راز دئ
توري توري زلفي کبود خال لکه کوتره
راشه که ئې ګوري پرې بندي يو څه شهباز دئ
سکښي د زړه ولي چه په شونډو کښ موسېږی
تېغ ئې دَ غمزې دا ځله لا څه تېره ساز دئ
هر څوک يو يو بت لَري خپل بت وته سجود کا
بت دَ خوشحال ته يې تل ئې تا وته نماز دئ

تمامه شپه دَ ژمي په هي هي پما تېرېږي
چه ته د ما طبيب ئې رنځ به لا ځما زياتېږي
دا سحر دَئ که مينه که څه لا بله بلا ده
که هر څو ئې له دِله هېرَوم نه را هېرېږي
خپل زړه وته نظر کړم پدا هونبره محبت کښ
يَو هسې مستسقي شو چه په بحرنه اوبېږي[2]
يوسف د زمانې دئ درست جهان په روشندلي
دا يو جهان لا پرېږده چه په دوه جهان پېرېږي
دنيا لکه حلوا دَه، ښه شيرينه مزه ناکه
حريص ئې لکه مچ دئ باندِې غورزي نه مرېږي

---

[1] په دې بيت کښ دَ غچ او تچ معني جوته نسوه، سيد راحت ليکلي چه غُچي يو تکيه کلام دي چه په اصل کښ (خو چه) وُ، دا بيت حل طلب دي.

[2] نه سرېږی.

چه ننگ کا ننگیالی دئ ورته ښبي دي وه کاره   یا کام دَ ننگ حاصل کا یا دَ دوي مینه سپېرېږی

که مښك[1] وُ که گوهر وُ همگي ولاړل خوشحاله
و ځان وته وگوره چه اوس څه عمر تېرېږي

توري سترکي ستا دئ بیا په تورو رنجو کړې   دوه توري بلا دئ پرې مي وژنې بابا مرې
وخاندې و ما ته شونډي بوڅي په ناخوال کړې   دا فتنې ښېوې دِ بیا له کومه دِي راوړې
زر دِ که په وَر مري په هیجا دِ زړه سوي نشي   زړه لرې دَ کاڼي بیا خپل ځان بولې ښه زړې
هیڅ در نه پوهېږم که رشتیا وایې که ښځمي   ما وته دِ خوله دَه په خندا خندا نومړې
پټي پروتي ښې دِي څه به دم وهم و چا ته   ما څه هونبره ندئ ستا فتنې ناسازي وړې
ما وې چه ځما ده موزي یووړه سیه چشمه   څه شو کوټه نېسي دَ پرې هوسیه سترې
ته پدا خیالونو په ښېوو غمزو موجونه   سیند دَ اباسیند سوې چه څو څو بېړۍ نغړې

څه لَره خوشحاله تا دَ زړه کیسې ښکاره کړې؟
ستا دَ ظلم ندي ما و چا ته کیسې سپړې!

تر هر چا نه د رشتینو کار اول دئ   خداي پخپله دَ رشتینو سرَه مل دئ
په معني قلپه روپي زه مخ ئې تور شه   هر سړی چه په یاری کښ په زړه غل دئ
دَ بد بویو بد بوئي به پټه نشي   که په سل پردو ئې ونغاړې بصل دئ
که دَ زړه سترگي دِ شته نندارہ وکړه   دَ جهان په واړو چارو کښ خلل دئ
ابا سیند وَته نظر کړه وَدرېږه   ستا دَ عمر دَ اوبو غُندي چل چل دئ
که دَ خولې وَیل دِ ښه دئ پدا څه شِې   چه ښکاره دِ و عالم وته عمل دئ
نه به زوړ پرېږدي نه ځوان نه نن زوولي   چه ناڅاپه ناتارُونه کا اجل دئ

بد کردار به نیك گردار نشي خوشحاله
دَ شیطان لښکروُ لاندي کړِ قبل[2] دئ

تا یاری له ما نه پرې کړه که پښېمان ئې   بیا را درومه هغه زړه یې هغه ځان یې
همېشه د ما دَ باغ زرغون طوطا وې   اوس خبر نه یم طوطا دَ کوم بوستان یې
زاړه هم کله ځوانان وه وار ئې تېر شو   په زړو پوري خندا مکړه که ځوان یې
یو جهان دا د ظاهر بل د باطن دئ   راته وواېه دَ کوم یَوه جهان یې
که طامع په سریر پاس کښېني گداي دئ   که وَاَز وَته دِ شا کړله سلطان یې
په بل ځاي مي پېرځو نه یې دَ یار غمه   ته د ما د زړه د مات کودي[3] ریحان یې
غم الم به دِ وَ نه رسیي وَ زړه ته   که دَ خپلي ژبي هر کله پاسبان یې

ته جوهر دَ لویی نه لرې خوشحاله
د کم شناختو په بازار هسي ارزان یې

---

[1] محشی ورته لیکلی دی چه مطلب له مشك وا گوهره تور وېښته او غاښونه دی.

[2] محشی حصار ورته کښلی دی.

[3] دا کلمه عیناً ولیکه سوه تصحیح او حل طلبه ده.

تا چه دانا سازي چاري دي را کړي — لا دِ خوار سره نده بابا مړي
چه مي هسي شان په خوارو سترګو ګورې — ما دِ دا ناسازي نه دئ چا ته سپړي
ته پدا حسن دَ ګل غُندِي پيدا يې — بوريْ[1] مور که ښاپېرئ ِ يې را وړې
راته وايې صبوري در څخه څه شوه — تا په تورو سترګو نده له ما وړې
بيا په کوم توکي دا هسي بې قولي کړې — تا وَ ما ته سپينه خوله نده نومړې
دَ تقوا سپاهيان چه ستا په کوڅه تېر شي — دَ عمزې په تېغ ئې کښېښوي پڅرې
دَ خوښئ ِ مفرح را عنايت کړه — تا دَ غم ګولئ ِ ډېري دئ را نغړي
ګوره کوم به دِ په بخت په طالع مومي — خلقې دِئ په طلب در پسې ستړي
په پله پله در پسی ځم دَ پرېښو نه يې — ځايګهي ويشتلي درومي له بغړي[2]

چه مَيَن شوې درست دَ يار په رضا درومه
اوس که خپله رضا کړې خوشحاله پرې[3]

تر دا دوو سترګو مي اوښې بهېدلې — په فراق کښ تر لَمنی څڅېدلې
ستا دَ وصل اش رمق دَی راته پاتُو — وايې څه رنګه بې ما نه پائېدلې
ستا په غم کښ مي دَ زړه ننداره وکړه — بکښې واړه سرې لمبې وې بلېدلې
دا هم بخت چه په بالښت دَ خسته راغلې — وی دي اوس په زکندن ئې خندېدلې
زه نه ګرم نه ملامت نه مي حؤک يار کړ — ته په کوم توکي دا هسي قهرېدلې
ځاي په ځاي درته بلبلُو مېشته وکړه — لا دئ اوس دَ باغ غوټئ ِ غوړېدلې
اوس دِ يار په غېږ کښ ونيوه هوس کړه — چه ئې ډېر په بېلتانه کښ رنځېدلې[4]
ځکه تل دَ باد له لاسه خوري څپړي — چه له قد سَرَه دِ سرو سمېدلې
اوس ئې جور و جفا وړه دا دئ سزا دَه — فکر وکړه چه په چا مين کېدلې
دَ رقيب ګونه چه نده شوه لېده دئ — چه وَ ما ته په ټولی کښ موسېدلې
په زړه ياد لَره دا اور چه دئ را بل کړ — يَو تر شا نظر دئ نه کړ تېرېدلې
بې دَ يار له مينی واړه لکه باد دئ — چه په زړه مي ډېري مينې ګرزېدلې

چه په تلل شوې له خوشحاله لکه عمر[5]
که ئې ډېره بلا کړه نه درېدلې

تورو زلفو دِ په غوړو دئ خولې ښښي — په څو تار په تار پرېشاني سَرَه نښي[6]
دا ځما دَ پرېشانيه نه څه وائې — که ئې لا نوري اوړدې دِي درته بلښي

---

[1] بلی.

[2] د دې کلمې معنی حل غواړی.

[3] مخفف دی د پرېي يعنی ملامت هستی.

[4] پخسېدل.

[5] لکه عمر له خوشحاله.

[6] تشی.

نندارچي چه ورته گوري کټ کوټ کېږي — دَ مخ نخښي دِ بلا دِي کوښي گوښي
تر لبانو دِ خجل آبحيات دئ — په بانِه په سترگو سهم و تېر کښي[۱]
چه مين شي قبلوي مکر دروهونه — په ياري مي قبول کړي که بنگښي[۲]
زه خوشحال دِ دَ بدئ نېکي گواهي لم
دَ ښايست مخي دِ نشته په خوي وشي[۳]

ته چه دا دماغ لرې — څوک به څه فراغ لرې
توره شپه دِ د دواړه زلفي — پکښي مخ څراغ لرې
دا د خال دَ ورځيو ندئ — دا دَ زړونو داغ لرې
واړه باغ دَی په گلونو — يو څه کښلي باغ لرې
که ساعت دئ ساعت دا دئ — چه په لاس اياغ لرې
چه طوطی دِ دَئ په لاس کښ — څه نظر په زاغ لرې
بيا و کوم لوري ته ورک شو
دَ خوشحال سراغ لرې

ته چه دا ښکلې چهره لَرې نگاري — ځکه تا په عاشقانو وَکړې چاري
چه دِ لاري دَ ديدن راباندي بند کړې — د ما اوښي په گرېوان ځي لاري لاري
چه گهي گهي دِ وَوَينم له ورايه — دا لا هم بې بخته نه يم شکر باري
هره ورَځ تازه ماڼَي تازه جنگونه — تَل دِ ما ته تېرې تورې دِي تياري
که دِ غاښ و شونډِي گورم دُر مرجان دي — که دِ مخ وته نظر کړم مه رخساري
دريغه نور نور سحرگر په ملك پيدا شوي — چه دا ستا سحر ئې مات کړَي سحر کاري
خو په ما باندِي چه راشِي ځان نادان کا — گڼه نشته نوري تا غُندِي هوښياري
په کوڅه ئې باد گدر نکا خوشحاله
ته له کومه ساز وې ورته ريباري

ته چه سر تر دېوال هسك کړې سرِی گوري — د کس تا ونخښي دِ نشته تر وا نوري
که دِ زړه د غين په عشق نه وِي بايللَي — په واده په وير څه هر لوري ته ښوري
پرده پوښي په ضرور وزي لمانځه ته — سترگي وازي په بازار گرزِي سر توري
يا ئې نيت د کاسيرئ[٤] يا د مېره وِي — هره کنُډه چه لاس سره کا سترگي توري
په هغې باندي گواهي دَ بدئ وله — چه ئې گنبت په نورُو خونو خېل وَر پوري
د مېره په رېږه نه خاندِي نور څه کا — چه دَ بل سَرَه خبري کا خمسوري[٥]
دَ خوشحال وَيل به بې مضمونه نه وِي

---

[۱] تير کښ يې.

[۲] بنگښ يې.

[۳] وش ئې.

[٤] فاحشگي يا قحبه والی.

[٥] آسان، آزاد، بې باک.

چېري نه چه ئې مزاقو سرَه شموري

تر مکې تر مدينې ولاړې حاجي — لا دَ نفس له خويه هيڅ نه يې ناجي
صفائي دَ زړه په کار ده نه دَ ږېري — څو په ږېره گرزوې شانه عاجي
صوفي لافي دَ سلوک کا هم دا لافي — سراسر گنه دَ ده بې منهاجي
په ملا توره تياره شوه چه حق پوش شو — که په لاس ئې فتاواي وِئ سراجي
علم څه دئ په معني کښ گبينه دئ — کاسه هم ور لَره بويه خراجي
دا تاراج لکه شيخان کاندي په مکر — افريدي ندي دا هسي تاراجي
دا ئې سحر دَ بابل د مځکي راوړ — چه درست اوښ په کُت کښ ومانده حاجي
نور به وساتم خپل رخت پخپل صندوق کښ — پدا ملك دَه دَ ښه رخت بې رواجي
نه جيحون دَئ نه سيحون دئ لا افزون دئ — دَ خبرو دريابونه مواجي
که صاحب په لاري پلی نفر سپور ځي — خو هم بيا صاحب صاحب پاجي پاجي
له اوله تر آخره په جهان کښ — دَ سيد غُندي حؤک نشته معراجي

زه خوشحال ختِك په حب دَ اهل بيتو
خارجي او رافضي کړم اخراجي

تور وربل به ئې وَ چا وَته غوړېږي — په وصال به ئې دَ جا ټټر سړېږي
دَ شونډانو له بوسې به ئې بس نکړم — په خوږو نباتو کله څوک مړېږي
نور به کومه آرزوي لَري په زړه کښ — چه ئې سترگي کښلي مخ وَته غړېږي
عاشقان تر تورُو خاورو لاندي نه مري — پدا سپين وېښته به څرنگه زړېږي
بيا به توري بلا لا توري بلا کا — چه ئې تور رانجه وَ سترگو ته اوړېږي
دَ ښو ناوک ئې نه دري تر زغرو — څوک به هسي ناوکيو ته برېږي
دَ فراق غمجن په مرگ تر ژوندون خوښ دئ — چه په غم کښ په آه آه سَرَه سرېږي
دَ جهان عمارتونو ته نظر کړه: — ځني نوي نوي شي ځني نړېږي
ما وې نن دَ زمانې ژبه ورزه يم — يوه کس وته د ما ژبه اړېږي

د دې باغ گلونه لږ ندئ خوشحاله
تازه تر تر تازه ترو نور غوړېږي

تازي سپی چه په نمږئ مومې وېريا دئ — سپين و سره باندي ښنده که په بهار دئ
په کوټه باندِي دا دواړه حبطه دئ — چه دِ تش په غولی گرزي هم بلا دئ
که ئې ته په منت مومې دا يې مخله — که دَ چا په باغ کښ بوټی د کيميا دئ
بخت چه کوږ شي يوه تن ندئ راوړي — چه د خداي باندي پېرځو دِئ د هر چا دئ
دَ اسمان پېرې دائِم نه وِئ يکساني — که ئې څرخ دئ نن پتا کانده په ما دئ
يوه ورځ به ئې دا رنگ زېبائی نه وی — راشه گوره چه گل څه رنگه زېبا دی

دَ هر چا ياران دا هسي بې وفا دئ
که خو يار دَ خوشحال هسي بې وفا دئ

ته دِ تل اوسې پدا شهر یاری کښې   که زه عمر تېروَم پدا خواري کښې
غم دَ یار دَ جفا هیڅ را سَرَه نشته   خداي دي ما بې پته نکا په یاري کښې
هغه یار دي خداي له هرَه رنځه ژغوري   زه که پروت یم همېشه په بیماری کښې
په زاري زاري به ما په ځان مَیَن کړ   که ئې مینه زیاتېدلاى په زارى کښې
لکه باز دَ زړه په وینو آموخته شو   بل به نه وِئ هسي ترُک په خونخواري کښې
دَ رېبار منت ئې ډېر را باندِي بار دئ   چه مي یار مونده دَ ده په رېباري کښې
خداي په ما باندي نادان کړ بخت مي تور دئ   که وېښته چوي په ډېره هوښیاري کښې
نا قرار دَ خوشحال زړه همېشه ښه دئ
یو زمان دِ نه وِي بند په قراري کښې

جهان شرم نام و ننگ دئ   که دا نه وِي جهان ړنگ دئ
چه وفا ور ځخه نشته   گل به څه کړې چه خو شرنگ دئ
چه ئې عشق تر سَرَه کړي   نور حۆک نشته خو پتنگ دئ
د ښایست کمی ئې نشته   ولي یار می په زړه سنگ دئ
ترښکنځلو ئې ځارېږم   بیا ئې چا سَرَه دا جنگ دی
په ښاغلیو جهان آرت   په غوولیو باندِي تنگ دئ
ښه چه راغللې په غېږ کښ   بیا مي لېري دَ زړه زنگ دئ
چه خوشحال باندي ناستې کا
دا پوزَي ندئ اورنك دئ

چه پخپل عیب بینا شي   سړی هاله درست دانا شي
نادانی ئې پټه نده   چه له ځانه ئې ثنا شي
دَ بلا اندوه به نه کا   چه له خداي سَرَه اشنا شي
په دنیا به دین حاصل کا   چه خبر په لَن تنا شي
په جهان باور پیدا کا   چه رشتینې ئې وینا شی
چه غني په قناعت شو   له هر چا ئې استغنا شي
ابدي ژوندُون به خپل کا
چه خوشحال غُندي فنا شي

چه توفیق ورکَوي رب العالمین دئ   له آزاده په ستنه اوسه درست دین دئ
په هر لور چه غورزوي سړی هوا ده   دَ هوا فرس وَ هر لوري ته زین دئ
څوک چه خوښ نه وي له ځانه هیڅوک نشته   هر سړی خپسر دانا گڼي یقین دئ
په بهبود دَ خپلي چاري هر څوک مټ کا   پخپل زړه کښ هر تنگ خرڅ بالا نشین دئ
دَ دستار دَ سیوري رنگ واړه یکرنگ دئ   که دستار په سر یا سوریا تور و سپین دئ
حبشي که په ځان نوم د کافور کښېږدي   سر تر پایه و هر چا وَته مبین دئ
ازمېښت دَ دهرو گوره خوشحاله
چه ملك دَ شیاطین سَرَه قرین دئ

چه خون په غاړه کېږي له دې کاره څه خو غم دئ   یاران ځما په کور کښ زه په کور کښ یم ستم دئ
چه هونبره ښه مخونه پدا خاورو کښ په گور دئ   چه د یو لَره درومم گور و ما وته ارم دئ
پیري داغله زبون شوم که څه نور څه علالت شو   چه زه کړم هغه نشِي هغه ملك هغه عالم دئ
که ښه وایم وَ چا ته هم ئې بد نیسِي په زړه کښ   یا بخت دي دَ مغلو یا ځما څه عقل کم دئ
نه بخت دي دَ مغلو نه زه هیڅ په عقل کم یم   دا کل واړه پېري ده چه مي کار برهم درهم دئ
مغلو ته چه گورم هغه هسي مغل نشته   د تورو وار ئې تېر شو اوس ورپاتو یو قلم دئ
پښتون په زرو نیسي په فریب په تېټالونو   په ما ئې اثر نشي لا په ما دَ خداي کرم دئ
نه مچ یم نه کارگه یم چه په کړو مړو کرزم   یا باز یم یا شاهین یم پخپل ښکار می زړه خرم دئ
که ما غُندي نور هم وَئ پدا کار به ډېر خوشحال یم   چه ما غندي څوک نشته ځکه پروت را باندِي غم دئ
ایمل خان دریا خان دواړه په ښه رنگ تېر شول په ننگ کښ
دَ دواړُو په فراق کښ ځما تل آه و ماتم دئ

چه تا گورم حیران شم چه ته څه رنگه بشر یې   زووَلي يې له حوري که سرِی پرې پیکر یې
د ماء و طین له میانه څوک دا هسي پیدا ندئ   پدا حسن جمال تر میاشت و نمره لا بهتر یې
چه شونډو ته دِ گورم تر یاقوتو لا تېرَي کا   چه زلفوو ته دي گورم په عنبرُ معنبر یې
که هو څو دَ لاله گلُونه ښه دِي په چمن کښ   په دواړو اننگیو داغ دَ واړو دَ ځگر یې
که خوار دِي هغه خوار دِي چه محرم دي له دیدار دي   که سخ دَي د هغو دَي چه ئې ته نورالبصر یې
که آه نالش مي وَکړِ مسلمان نه یم کافر یم   را واخله تېره توره که مشتاق دَ ما دَ سر یې
په حسن په ښایست کښ دِ څوک سیال په جهان نشته   که دا عیب دِ نه وَی چه په زړه لکه حجر یې
زه ستا له ډېره غمه همېشه په آه واوه یم   په څو په آسایش بې غمه پروت پخپل بستر یې
خوشحال وته دِ ووې چه بې ما به په څو پایې
په څو به ژوندَی پایم ته مي خود په حال خبر یې

چه دا هسي بې نیازي کوې دا ښه کړې   زه به نور یاران پیدا کړم ته به څه کړې
دَ بل څراغ غُندي په شپه دَ هجران راشه   چه په راغله مي روښان د واړه لېمه کړې
خوله ما نه نوره مکړه دَ زړه مینه   نور مي کل واړه منلي دِئ چه څه کړې
د ما زړه ورځني صبر وُ چه گنگ دئ   نن ځما طوطا یو څو خبري وکړې
په ژوندون له ما نه مه ځه دَ یار غمه!   ته به سم د ما له ساهي سَرَه تله کړې
گوره بیا دِي څه په زړه کوم مي گناه دئ   چه لیدو لَره دِ درشم ځان اُوده کړې
دَ غمزې توره دیِ ماته شه په ما کښ   غم می دا دَئ پس له ما به نور پر مړه کړې
وایې ستا په عیادت د ما رضا ده   مگر ومرم هاله سر د ما په وره کړې
چه تر خولې د بېلتانه دَ ویَل وباسی
د خوشحال خټك روزگار په اور اوبه کړې

چه دَ پلار په نصیحت نکا ږغري   دَ هغه زویه دانه شه په مري
دَ پرُون ورځي به نن حلاوت نه وئ   که ئې گورې ورځ په ورځ ده کهتري
لکه موږ دَ بابا زویه وُو په نغته   اوس په دا دور له چا طمعه لَري
که له پلاره زویي مومي په راي درومي   گڼه نکا زیست روزگار دَ پسپري

نور ئې واړه سربښتې برهم درهم شوې — خو په ځاي دَه سربښته د نوکري
دا هم هيڅ حق دَ نمك ته نظر نکا — په نايافت کښ بهانه غواړي نري
اوس په سپينه ږيره زر غواړه خوشحاله
که په زړه لرې دعوې دَ سر دري

چه په خيال په زر زري جامو کښ درومي — که نظر په خوار وکړې ثواب به مُومي
بکښې ځرنگه هوښيار مرغونه بند دئ — ستا دَ ورځيو خال دانه دي زلفي لومي
ستا دَ شونډُو سره به ولي هسي نه وي — چه پرې هر کله دَ زړونو ويني شومي[1]
زه به تا غلطه نکړم په ټولی کښ — که هر څو دَ خلقو[2] جونه شِې هجومي
دَ مجنون مينه يواځې په ليلي دَه — تر نظر پوري ئې نوري دي معدومي
ناز نخرې ښېوې غمزې فتنې خيالُونه — پدا کار به وِي تا غُندې څوک سلومي
دَ ښايست سَرَه هزار کارُونه نور دئ — چه ئې ته لرې، نه نوري بروسي شومي
چه رضا ئې په جفا وي نور مي ستايي — دَ دلبرُو خرخښې دِئ را معلومي
و خوشحال ته چه دَ نورُو نوم اَخلي
بې له تا[3] به مينه ما ته شِې په کومي؟

چه په سب دَ ابوبکر د عمر دئ — که په خوله کلمه لولي هم کافر دئ
دَ هغو په مرگ ثواب گڼلَي بويه — چه بدگوي دَ ذي النورين دَ حيدر دئ
رافضي خارجي دواړه باور وکړه — تر سگانو تر کوسانو[4] لا بتر دئ
تر مهدی پوری یوولس دِی یا دوولس — چه همه زويه نمسی دَ پيغمبر دئ
همه واړه امامان وه دَ خپل دور — همه واړه دَ دنيا دَ دين سرور دئ
له اوله تر اَخره که گروهېږي — دَ بي بي اولاد مي واړه نور بصر دئ[5]
چه دوستي ئې دَ سيد نه وِئ په زړه کښ — دَ هغو سرِيو تل خاوري په سر وئ
تر هلال او تر بلال (رض) ئې صدقه شم — لا رانجه مي دَ پله خاوري دَ بوذر (رض) دئ
په سرو زرو کښ کمي دَ قدر نشته — صحابي دَ پيغمبر واړه سره زر دئ
زه خوشحال خټك هغه سني مذهب يم
چه ياران را باندِي واړه برابر دِئ

چه په سپينه ږيره کا ځواني نکاري — پخپل ځان باندِي به و کا ځني جارِي
که په خوله دَ زاړه يار تر سر جارېږي — په زړه ندی ځواني هيڅ دَ زاړه يارِي
نيك و بد پدا جهان کښ پيدا کېږي — نيك و بدي دَ زاړه نه دئ وېزارِي
خو ښه ځوان د ځواني ښځي په غرض دئ — که بادشاه وِي دَ زاړه نه وِي آزارِي

---

[1] د زړه ويني پشومي.

[2] د خلقو خونه.

[3] بې له تا ئې مينه.

[4] دې کلمې ته محشی د خربشوی ترجمه ليکلې ده.

[5] د بتول اولاد دی واړه تور بصر دی.

په کم ذات په اصيل هيڅ ندئ راغلي   ښځي واړه دَ ښه کار دِي طلبګارِي
زوړ دِ ځواني ښځي نکا که ئې کاندي   فکر بويه چه له ښه ځايه دي بارِي
له ښه ځايه له ښه کوره ستر پوښي   په حيا په شرم ننګ وِي خبردارِي
چه په پلار نيکه دَ ننګ و ناموس نه وِي   هغه ښځي قباحت ته دِي تيارِي

اوس پخپلو زَړو خوښ اوسه خوشحاله
دا د دَور ځواني مکړه ناپکارِي

چه خداي په بت مين کړم که دا عيب دَي هم وِي دي   سجود که دوڅن کړم که دا عيب دَي هم وئ دي
عالم وائي عاشق شوې زه سوګند خورمه چه کله   درست خلق دروغجن کړم که دا عيب دَي هم وئِ دي
که نور خلق خپل زيست کا زه سر تور مسله لنګه   په ملك ګرزم ديدن کړم که دا عيب دَي هم وئ دي
کافر يم که ئې وباسم هغه ساعت له ژبي   ستا نوم چه زکندن کړم که دا عيب دَي هم وِئ دي
که ستا کوڅه جنت سَره څوک سَمه راته کښېږدي   کوڅه به دِ وطن کړم که دا عيب دَي هم وئ دي
تحسين لره بل نه لرم چه هونبره ډېره مدحَ   د خپل شعر سخن کړم که دا عيب دَي هم وئ دي
چه ځوان وم دا يم زوړ شوم په رشتيا رشتيا خبره   عالم د ځان دښمن کړم که دا عيب دَي هم وئ دي
شيخان او زاهدان واړه پټ پسې شا ويل کا   په مخ ئې منبرهن کړم که دا عيب دَي هم وئ دي

که نور په صهبا مست دِي زه خوشحال په خرابات کښ
مستي ئې په ديدن کړم که دا عيب دَي هم وئ دي

چه مي ولېيدې دا ستا سترګي خونخوارِي   چه تر اوسه لا ژوندَي يَم شُکر بارِي
په يارئَ به دِ هېښ وِي چه غلط شِي   چه څلور پيسې لَرِي دَ هغه يارِي
ما يَوه دَ زړه په غوره دهَ نيولې   که هر څو په جهان ډېري شِي نګارِي
وې[1] ئې څو لرې ګلې ځما زړه کښ   تر حساب و تر کتاب تېري بېشمارِي
دَ مېړي چه وزر نه وِي هونبره ښه وي   قباحت دَي تجاوز له خپلي چارِي
اوس به ولي په غلا غلا دَ ميني کار کړم   چه په حال مي خلقې شوې خبر دارِي
په خاطر به دِ قراره قراري وِي   که دا خپلي سترګي ونيسې قرارِي
بې اثره به دا اوښي پاته نشِي   چه مِي ورځ او شپه په مخ ځي لاري لارِي
نه يواځِي دَ لاله په زړه کښ داغ دي   په دا باغ کښ سينې ډېري دِي داغدارِي

په خوشحال ئې عندليب غُندِي اور بَل کړ
چه پلَو له مخه واخيست ګل رخسارِي

چه صحبت د ملوکانو سره کاندي   بويه دا چه ويل نه کا لاندي باندي
په رشتيا وَيل دِ هسي باوري شِي   چه پيدا کا خپل عزت د ده دَ وړاندِي
که ئې دواړه پښې تناکي په خدمت شِي   د خدمت منت د نه[2] کا په ده باندِي
حاسدان به ئې زوال د دولت غوارِي   همېشه دِ لوګوي[3] و ځان ته سپاندِي

---

[1] وايي څو لرې.

[2] وَنَکا.

[3] يعني دُودَوِي.

د غضب په وخت دِ ليري ځني ګرزي د خوښی په وخت دِ عيش ور سَره کاندِي
چه نادان ته نصيحت وايې خوشحاله
دا دِ واړه ناداني دَه په ځان خاندِي

چه نظر دِ په اغيار هورِې دلې وئ ځما اوښي په بارخو ولې ولې وئ
ته چه هسي ښايسته يې ګرم خو نه يم که مي تل در پسې هسي وا ويلې وئ
چېري نه چه څه دِ ورسي خاطر ته که له چا سَرَه مي تشي تسلې وئ
يو ځل بيا سر توره مسته را ښکاره شه چه ګيسو دِ په سپين مخ شملې شملې وئ
ته به وايې دَ ګلاب په ګل شبنم دئ چه بارخو دِ د نماستې په وخت خولې وئ
دَ رقيب له ويری بل لوري ته سترګي او دَ زړه مي ستا وَ مخ وته حملې وئ
په عاشق باندِې دَ پلار نصيحت اور دئ اوس به چېري د دې نور خلق په خولې ويږئ
چه له سترګو مي[1] غرېږی غنم رنګه جدائې ئې لکه قحط دَ غلې وئ
د ناپوهي خوبا ټول مهر په يار شي دَ هوښياري په سر څو تېري ماملې وئ
زه خوشحال به دِ وانوړم له ليدنه
په دربار دِ که هر څو پروتي کلې وئ

چه دانا نه کړې ګردش دَ زمانې نور به زده نه کړې دانش د زمانې
زر پېرې لَري دَ سترګو په ځنبل کښ خبر دار شه په روش د زمانې
په يوه زمان دِ شاه بيا دِ ګداي کا څه باور په نوازش د زمانې
په خزان کښ دَ بوستان په ونو راشه څه وُ څه شو بيا پوشش د زمانې
کله مځکه سپېره ډاګ کله ګلوُنه څه اميد په آرايش د زمانې
د سفله غُندي ئې ورکړل را نيول دئ غره مشه په بخشش د زمانې
د حلوا سَرَه ئې زهر هلاهل دئ که لذت لَری خورش د زمانې
پت اميد دِ پلار دَ زويه سَرَه پرېکا څوک دِ نه غوارِې سازش دَ زمانې
شاه جهان بادشاه دَ چا په بند بندي دئ راشه ګوره آزمايش د زمانې
حقيقت ئې سر تر پايه را معلوم شو راته مکړه ستايش د زمانې
زر علته زر فساده زر عيبونه پيدا کېږِې په کاوش د زمانې
چه ئې شا کړه دَ دنيا وَ آسايش ته هم هغه کا آسايش د زمانې
چه دا هسي ئې ګردې دَ زړه پياد وئ
لا خوشحال لري خواهش د زمانې

چه دا هسي ورَځي غوټه کړې خبرې بد خواهان به زړه را يخ کا شېوه ګرې
يا ځما تر فهم ښه شوې، عاشق ړوُند دَي يا څوک نشته په ښايست تر تا نادرې
ستا تر شونډُو تر غاښونو به ئې ځار کړم که ياقوت دِې که سره لال که مرغلرې
دا څه جام دَ ميو نه دَي چه ئې ته څښې دا مي ويني دَ عاشق دِې چه ئې نغرې
هغه کار لکه دوه تورُو سترګو وکا هسي کار نشِې په توره[2] په لښکرِې

[1] ئې.

[2] په تورو په لښکرِ.

څوک په څو[١] پايي ژوندَي له ياره مرگ دَي دوه قدمه بېلتون هم له ياره لري
دَ ترکانو غَشي ښوَي درومي تر زړونو دَ ښو ناوک ئې ښوَي درومي تر زغري
دواړه شونډي يي د خوشحال خټك په خوله کړه
د طوطيانَو ور کوِي خلق شکريِ

صبر و هوښ پسې لېښ لېښ شي چه می زړه پسې مېښ مېښ شي
يا نصيب چه کله چيښ شي د هغو شونډو شربت به
چه توبري ځَني وکيښ شي په پرهار مي ظلم کېږي
توان لري چه سبر سريښ شي په خزان کښ نوري وني
زه ئې ناسته په پالنگ يم
که خوشحال له خوبه ويښ شي

شنه طوطي لَرَه شکري نه دِئَ لږي چه ژوندی دي غم دئَ نکاندي د لوږي
چه په چا [٢]شوې ستا دَ خولې خبری زوږي په شکروُ په نباتو ئې[٢] سود نشِي
په ځَايي خصلت دا هسي خوږې[٢] خوږي په لحظه لحظه دي ووينم قهر قهر
که هر څو می دَ اوړه غُندي آغږي ستا په لبو[٢] به لباب شم په دا خوښ يم
په هجران به ئې آخر لاسُونه مږي دا چه اوس درته حاضر دئَ ښه ئې گوره
دا چيچل داړل دَ پړانگ دئَ يا د يږي عقل و هوښ ئې و سرِي وته پيدا کړِ
دا ښېدرد که په ظاهر سړي ليده شِي
وَ خوشحال ته مج مېږي دئَ ماشي سپږي

بې له تا مي خوږې نشوې په چا سترگي چه ما کړی په جهان کښ ربا سترکي٢
په قطع دئَ رندې شِي ځَما سترگي که ستا[٣] له مخه وگورم بل مخ ته
ته يو سر بل سر مکړه له ما سترگي ښکاري چه غرڅه وُلي ورته گوري
چه[٥] واړوې دَ ما ته شهلا سترگي هر گور[٤] مي له هيبته وار خطا شې
خوشحال غريب په در درته وَلاړ دئَ
ته هم کله و ما ته کړه وا سترگي

---

[١]به څو.

[٢]سترگه مفرد او جمع ئې په اوسنی املا سترگي په معروفه يا راځي، مگر چه په اصلي نسخو کښ د گاف په زبر وُ نو موږ
پر خپل حال په دغه رديف کښ پرېښو.

[٣]که زه ستا.

[٤]هر گوره له هيبته.

[٥]چه ته واړوې.

چه مزري خپلي منګلي نه کا کښلي هونبره نه وئ څربي غوښي ورته تلي
مرجويا[۱] دَ دُر مرجان هاله اُلجه کا چه قبول کاندِي دَ بحر خوني ګلي
عاشقان چه تر سر تېر شِي هاله کُښل کا دَ دلبرُو پستِې خولِې لکه بخملي
باز چه والوزي له ځَالي هاله ګورِي دَ کبکانُو ښايسته سترګي کجلي
چه دَ اور بڅری باد سرَه رفيق شِي بيا هاله کا په ملکونو لمبِې بلي
چه سيلاب دَ غره دَ سرَه نه روان شِي بيا هاله بيا يې په مخ ډېري خځَلي[۲]
په تحصيل پسې ئې ځَکه[۳] کوښښ بويه که قسمت به دَ چا زيات نشي په ځَلي
خبر هنر له لاسه مه پرېږده خوشحاله
خوره خوره وه وه واړه غصې خورولي[٤]

چه و باز ئې ورکوَلې تېريې نوکی تر ټټو به ئې يستې دَ زرکي څوکي
دا باښې نظر دَ چتیْ[٥] په لکیَ د شهباز نظر د ميور[٦] په څونکي
دَ کارګه توره مشُوکه دَ ګندګی دَه قند لايق دَئ دَ طوطي دَ سرِې مشوکي
د ګلرنګو ناز په هر کله دَ ورو دَئ بيهوده بې ځَايه ناز کا رنګ املوکي
يا به سر دَ خپل ورمېږ په وينو رنګ کړم يا به کُښل کړم دغه ستا شونډِی ملوکي
اَفرين دِ په دا تورُو شهلا سترګُو چه ئې کښلي دَ کشمير کړلِې مملوکي
لا به کله هغه ګل په چمن راشِي دَ نرګس ګلُونه ګورِي سترګي بوکي
دَ هجران له غمه هيڅ سرَی خلاص ندئ څوک په ورو ورو ژړا ژاړِي څوک په کوکي
چه توبه دَ مُلو کا، په وخت دَ ګُلو پرې ښايي که دَ هغو په ږيره توکي
يا د ښو زلميُو ږغ دَي په ميدان کښ يا دَ ښو دلبرُو ځَي په جهان کوکي
دَ زاړه خوشحال ځَوانی په بوسه نکا
پښتنې جونه بخيلي بد سلوکي

چه يَوه مي دَه نښولې په رشتيه مي ده نيولې
لکه يو يو مرد ئې نيسي هم هغه مي ده نيولې
څوک دِ هيڅ ملامت نکا عجب ښه مي ده نيولې
اوس به نه درومي له ما نه چه له زړه مي ده نيولې
په هيڅ رنګ به پرېښوه نشي چه تر پښه مي ده نيولې
ګُندي وِي را باندِي راشِي سر پره مي ده نيولې

---

[۱] يعني غواص.

[۲] يعني خس او خاشاک.

[۳] ځله.

[٤] دا مصراع حل تلبه ده، په نسخو کښ ئې املا مختلفه ده مثلاً (خوره، خوره دواړه غصې خورولي يا خوره خوره وه وهه واړه غصې خورولي.

[٥] د شتی په.

[٦] يعني طاوس.

که ئې نه وینم په سترګو ښایسته مي ده نیولې
ګُندي سَمَه شِي عالمه که کړه مي ده نیولې
د خوږو هیله خوشحال کړم
چه ترخه مي ده نیولې

چه یِو ګړَي په جمعَ زړه ښه مخ وته وګورِي   که درسته دنیا ستا شِي هم څه نده دا تر پورِي
دا خوي ځما قدیم دَي چه[1] ما اوس ندَي راوړي   چه بې له زیبا مخه راته خس وې چاري نورِي
دَ خلقو تهمت یَو سر دَ هجران غمونه بَل سر   هم ته مي به له هسي رنګه سختي بلا ژغورِي
دا اور چه په ما بَل دَي دَ خپل یار له جدایۍ   نه ګرم نه ملامت یَم که تل ویني ژاړم تورِي
آشنا ته وایه نشِي نا آشنا به څه خبرېږي   دا راز چه له ما نه دَي اروېدلي خپلي سېورِي[2]
ناوک ئې د مژګانو دَ ابرو په کمان جوړ کړ   ما نه زده د چا تر زړه به ووزي پوري وورِي
ښه باز دِ دَ خوشحال خټك خاطر په لاسو کښېووت
په قدر ئې خبر شه چېري نه په لږ ئې پلورِي

چه ئې هسي لایعقل ولاړم په شومي   دا پیاله دَ چا دَ لاسه دَه څه نومي
خدایه څه دِ یو باد وَرَي زړګي را کړ   چه همېش دَ عشق دَ باد په مخ کښ درومي
پدا هم لا رقیبان کا په ما رخه   چه مي زړه دَ یار په یاد وُ راحت مومي
ما لا حرف نه وُ له یاره بدل کړي   دَ سحر خروس دِ وویشت شي په کومي
بیلتانه دَ ما په قصد چاړه تېره کړه   د قصاب دلسوزي نشي په ورغومي
واړه دوک مي دَ اشنا دَ بېلتانه دئ   په دروغه سر ترم بهانه د دومي[3]
چه ئې بې له ده بل خیال نشته په زړه کښ
دَ خوشحال دلبره کومه ده څه نومي؟

چي دَ عشق په ګرانه لار کښ ډېر خطر دئ   هر قدم چه پکښ اخلم ډار دَ سر دئ
که سینه مي سَرَه چاک کړې و به وینې   چه مي ستا له غمه وینی درست ځګر دئ
ستا دَ مهر باران نه اوري چه شین شي   ما په زړه کرلَي ستا دَ میني کَر دئ
ستا په راز به ژبه هم نکړم خبره   تَل تر ژبی رسېدلَی راز سمو دئ
زه له عشقه خبر نه یم چه عشق څه دئ   هونبره اَروم چه له حسنه ئې اثر دئ
چه ئې عشق تر سره کړي هغه کم دئ   پدا کار کښ لاف وهلي یوه هر دئ
صبر مه غواړه له ما د عشق په کار کښ   جو دانه صبر پر ما باندِي لوي غر دئ
عاشقي لا زه ته نه وو چه پیدا وه   نه چه ما وتا ګډ کړي دا هنر دئ
خو ځما طالع ښه ندئ یار جفا کا   ګټه کوم یو په وفا تر ما بهتر دئ
د عشق غم له خلقه پټ لَره خوشحاله
څه ئې پټ کړم چه جهان ځني خبر دئ

---

[1] څه.

[2] مور.

[3] یعنی زکام او یخ وهل.

چه پیدا شوه جدائي   کشکه نه وَی اشنائي
دَ بلبلي بخره نول ده   د گل بخره زېبائي
تا چه شان د لیلې واخیست   که مجنون شم را ښائي
د لیلې دَپاره سر شو   خوار مجنون په گدائي
چه عاشق شو قبلوی دې   پېغور رُونه رسوائي
ستا په در دوهان[1] وهلي   درته ناست یم دوائي
که پل بل لوری ته واخلم   ته مي بوله هر ځَائي
چه به زه بې تا نه پایم   بې چیجي لوښې پائي
چه ئې ولیدې په سترگو
خوشحال ځکه تا ستائي

چه ئې درې څیزه حاصل وئ   دَ هغه خوښ به تل وئ
اول خپل صورت ښاغلي   بیا ئې ښه صورت واصل وئ
غه دریم وایم چه کوم دئ   دَ دنیا دولت ئې خپل وئ
چه پدا کښ ئې یو نه وئ   پرېشاني به ئې په دل وئ
چه ئې یو وِئ پدا درې کښ   غم به تل باندي نازل وئ
هر چه درې واړه ئې نشته   که چا مړ کړ هم د گل وئ
دَ خوشحال ویل معقول دِي
پرې به خوښ شي چه عاقل وئ

چه بندي د یار دَ زلفو په کمند دئ   بهانه ئې د خلاصَی دغه بند دئ
سر مي یار وَته پېښکښ کړ لا شرمېږم   دَ نادارو عذر پټ ندئ څرگند دئ
نه شکري دئ نه قندي نه نبات دئ   دَ شهی د شونډو لا گوښي بل خوند دئ
څه صفت دَ هسی حسن په غزل کړم   چه په نونس بابه کل شکل پسند دئ
څه به غم د مال و ملك د دین و دل کړم   چه لا ستا له غمه روغ گرزم انند دئ
یَوه زړه لَره یوه اشنائی بس ده   نور به دېري یاریٔ نه کَوم سوگند دئ
پخپل زړه مي به دا هسي شندي نکړې   کله هم دَ عاشقِی کار پسند دئ
د خوشحال ختك دِ ستا په سر شوگند وئ
که ئې بې تا په نور څه زړه خورسند دئ

چوهري دَ خپلي خوني په بوي خوښ وئ   ولي بوي ئې په چمیار باندِي آتش وئ
نور وگړی دَ چمیار له خوني تښتي   په چمیار دَ خپلي خوني بوي دلکش وئ
هسي رنگه دَ هر چاري تفاوت دئ   یو تر بل پوري مطعون او مشوش وئ
دَ دهقان فهم په پاله[2] یا په یوم دئ
دَ سپاهي نظر په توره په تیر کش وئ

---

[1] دو نهـ.

[2] یعنی دَ یوی تېش.

چه دلبره دلربا ده هغه ته یې   چه خود رایه خود ستا ده هغه ته یې
چه دَ کبر دَ فتنو دَ خرخښو ئې   په همه عالم غوغا ده هغه ته یې
چه مشتاق دِ دَ خندا دَئ هغه زه یم   چه دِ تل وَ ما ته شا ده هغه ته یې
په جهان که ښاېسته وه بې حسابه   چه په واړو دی خندا ده هغه ته یې
دَ پسرلي گلُونه څه دِي چه ئې ستایم   تر گلونو چه زېبا ده هغه ته یې
ستا د مخ مي په څراغ نشته وتَنه   چه دَ توري شپې روڼا ده هغه ته یې
خپل عاشق سَره وعده نکړې تر سَره   چه په عهد بې وفا دَه هغه ته یې

که هر څو دِي دَ خوشحال معشوقې ډېري
چه ورتېره تر هر چا ده هغه ته یې

چه ایرو غُندِي ئې پروت په دربار نه وِئ   دَ هغو به وَ اسمان وَته لار نه وِئ
عندلیب چه په گل رایشي ناري کا   وائی دا چه یَوه ورځ به گلزار نه وِئ
دَ زړه چاک مي به په هیڅ سَره ور نشي   څو گنډلي ستا دَ زلفو په تار نه وِئ
ستا د زلفو نوم به نور په خوله وانخلم   دَ هوښیار پاړو تور مار سَرَه کار نه وِئ
تر هندوي مه شه کم دَ یار په پت کښ   چه ئې هیڅ له بله اوره نه ډار نه وِئ
په ما هر زمان اختر دَئ چه یار وینم   بې اختره به هاله شم چه یار نه وِئ
په کوم ځاي مي به مرهم کښېږدې طبیبه!   چه دَ یار دَ غشي نخښه پرهار نه وِئ
په هغه دَ عاشقِی نوم حرام دَئ   چه په یار پسې ئې درست صورت خوار نه وِئ

هیڅ ماڼه له یاره مه کوَه خوشحاله
دَ دنیا ساعت به تل په قرار نه وِئ

چه په زلفو عنبر ساده هغه ته یې   چه په شونډُو شکر خاده هغه ته یې
چه نازک ئې دئ اندام دَ گل تر پاڼي   په قد ښه تر عرعر لا ده هغه ته یې
که هر څو شِي په جهان محبوبي ډېري   چه خوشرنگه تر هر چا ده هغه ته یې
له عذابه له وبا له دِ ترس نشِي   چه پدا دور ترسا ده هغه ته یې
چه اثر مي دَ ژړا وربانديِ نشي   چه پدا زړه حجر آسا ده هغه ته یې
چه تمامه شپه دِ خوب په ما حرام کړ   چه دَ ستر سحر بلا ده هغه ته یې

چه له میني ستا په سر لوړي خوشحال دئ
چه دَ ده دَ سر قضا ده هغه ته یې

چه ئې عمر دَ څارویو سَرَه تېر وِئ   زیست روزگار دَ هغو هم په هغه څېر وِئ
چه سلطان غُندي رانده شي څوک ئې څه کا   که هر څو ور څخه علم هنر ډېر وِئ
ځوانان واړه برابر ندي په وزن   ځني من، ځني نیم من ځني نیم سېر وِئ
که په زړه باندِي پراته دِئ زر غمونه   چه مي یار په نظر کښېوزِي واړه هېر وِئ
دَ شکر و تر حلوا به ئې لا ښه خورم   که دَ یار له لاسه زهر یا گنډ هېر وِئ
دَ ښه مخ په نندارو به لکه روغ ځم   که په تن مي پرهارُونه دَ شمشېر وِئ
هر عاشق دِ عاشقی ته هوس نکا   دَ عشق لاف دِ هغه ځوان کاندِي چه شېر وِئ

چه فليل په زلفو پوري دَ اجمېر وئ   درېغه بيا را سَرَه ژر غاړه غړي شوي
دَ خوشحال خټك خو كښلي مخ په كار دئ
كه د سوات كه دَ پكلي كه دَ بنېر وئ

چه په زړه ئې ستا دَ غم غشي سيده شي   قراري به ئې له دله رمېده شي
همېشه به ئې سريښی په زنګون وئ   په فكرت به ستا دَ زلفو خمېده شي
توري سترګي توري ورځي سَرَه زيب كا   بيا په تېره چه و سمه پر كښيده شي
په ټټو باندِي ئې خط دَ وېښتو ندئ   دا ئې سيوري دَ څڼې ده چه ليده شي
ستا خوبي ځما په پوهه ډېر تېري كا   دَ يوسف خوبي كه هر څو اروېده شي
په بڼو باندِي مي پښې په احتياط ږده   چېري نه چه مي بانه پرې خليده شي
ځان و زړه مي هغه لور وَته پرواز كا   هغه ځاي چه ښه دلبره شنيده شي
زه پدا سبب په دوو سترګو مَيَن يم   چه چهره دَ ښو يارانو پرې ليده شي
له قسمته زياتي مه غواړه ناپوهه!   و هر چا ته خپله بخره رسيده شي
لاس په لاس ئې ګرزوي هنر آموزي   چه ښكاره دَ هنرمندي كښيده شي
په ژړا مي به و نه غلوې خوشحاله
كه دئ سرې ويني رواني تر ديده شي

چه ښېرې وَ ما ته وكړې ژونده وې مي   چه مي ياد كړې په ښكنځلُو نهاله وې مي
دا چه وايې راته ځير ګوره چه مړ شې   كه تمام عمر دئ ګورم مړه وې مي
غمازانو اَغزي توي دَ غمازۍ كړل   چه دَ دوي په وينا غوږ كړې پرې ځكوې مي
ما خپل زړه وَته وَيل چه اې بد خويه   څه په هر صورت مَين شې سوړه وې مي
وئې عمر مي پدا بد خوئي تېر شو   څه دا اوس راته ويل كړې اړه وې مي
كه مې سر په عشق كښ درومي هم دِ لاړ شي   خپل وژلی راته شمارې وېره وې مي
كه دَ زهرو پياله راكړې هم به وايم   خداي دِ خير وَ تا دركا ژونده وې مي
چه ګهي په مخه رايشې كنكس[١] خورې   يو تر شا نظر وَنكړې ځوره وې مي
كشكه زه درباندِي نه وَى مَين سوي   تا ناداني مينه نه زده پخه وې مي
ما خوشحال څخه په ذات دورنګي نشته
دَ زړه حال مي در معلوم دَئ ويه وې مي

چه درومې په انګڼ كښ درست انګڼ سَرَه يو ګل شي   د مښكو بوي را پاڅي چه دِ تار په تار كاكل شي
چه سترګي كړې ور پورته په نرګس شي بلا سازه   چه زلفي كړې نمودي حبطه واړه سنبل شي
دَ ملا دَ وېښته فرق به دِ هيڅ يَو سَرَه و نكا   كه واړه دانايان مې په دا فكر تأمل شي
عالم وايې و ماته له ښه مخه صبر وكړه   حيران يم له ښه مخه په څو صبر و تحمل شي
دَ خوشحال خاطر ئې هسي ځني يووړ تورو سترګو
كله صيد دَ شاهينو تر مښكو تر منګل شي

---

[١] دا كلمه عيناً وليكله سوه، راحت زاخيلی ګنګوسی په معنی د پټه خوله والی او خاموشی او سر ګوشی را وړی دی.

چا به راکړ په پالنګ دا هسي کښلې — که مي نه وَئ په ازل په قسمت کښلې
شيخ دَ حورو صفت کا زه دَ دلبرَو — دا ځما هغه دَ ده دعوا پرېښلې
عاشقان ئې صد هزار دِئ په هر لوري — سر ګښته حيران پرېشان ګونه ځېښلې
په دربار ئې سنا سي شه ورته کښته — تار په تار دَ سر وېښته ايرې موښلې
که هر څو دَ خلقو جونه ښايسته دئ — ما يَوه ده غوره چوڼ پکښې وکښلې
لا به کله نندارهٔ دَ هغه مخ کړم — چه مي ګډه دَ خاطر ده پسې لښلې
دَ هغې پيالې مستي لَرم په سر کښ — چه پرون مي دَ ساقي له لاسه څښلې
نه د مښکو پتېدنه نه دَ عشق شته — په ازل ئې نه دِئ دا پردې پوښلى

چه مي تل دَ مخ ثنا وايې خوشحاله!
په صله مي سپينه خوله درته بخښلې

چه ګلرنګه معشوقه لَرِي په کور کښ — دَ صحرا سيل دِ وسېځی په اور کښ
په هجران کښ مي ژړا هغه خندا شوه — چه مي يار سرَه خندا وه په بيور کښ
لکه لوند خرڅوړي تا وکړې نم ئې نه وئ — بېلتانه هسي پخوړ[1] کړم پخپل زور کښ
دَ عشق ښور دِ دَ عاشق له دله نه ځِي — په جهان ئې فيروزی دَه پدا ښور کښ
په هر ځاي چه دَ رندانو مجالس وئ — تر قيامته به يادېږم په څلور کښ
شور و شر به دَ رانجا[2] په جهان نه وُ — که د هېر صورت پيدا نه وَئ په شور کښ
که خبر به دَ دُرخاني د مخ نه وئ — اَدم خان به ځَني څه غوښتل په کور کښ
پښتنې جونه دِ زلفی باد ته نيسي — چه شمال ئې بوي راوړي په رنتهبور کښ
دَ عاشق له نام و ننګه سرَه څه دئ — څه مي غم که اَشنا مومم په پېغور کښ

دَ خوشحال دَ زړه مي ښه ننداره وکړه
سمندر غُندي بازي کا په بل اور کښ

چه له ورايه را څرګنده مسته شاشي — دَ جمال ئې په څو رنګه تماشا شي
چه پلَو په مخ کښ وَنيسي ماښام کا — چه پلَو له مخه ليري کا سبا شي
دَ جمال خوبي ئې زياته دَه تر نمره — چه ديدن وته ئې غټ ګورې په چا شي
تر يانه پورى ئې ګوډه سي کوتره — تر وَيل پوري ئې ګنګ ګويا طوطا شي
حبشي زلفي ئې پاس په سينه زانګي — يماني بارخو ئې ګل غُندې نما شي
مرګ مى سل ځله قبول بېلتون دِ نه وِئ — دَ دې هسی يار بېلتون تر مرګ بلا شي
په مانې ئې مرده شو يو کرَه عيد وئ — په خندا ئې جوهري لرَه ژړا شي
توري خاوري دَ رقيب په سر کا توئِي — چه ګله له منځه وباسِي پخولا شي

چه په نه ليدو ئې نه ومرې خوشحاله
ځکه هسِي دا جهان بلا په تا شي

چه محبت په ځان قبول کا نور راحت شي — چه عارف دَ مصيبت شي عافيت شي
که فلك ئې دَ مزرى په خوله کښ ورکا — خداي دئ نکا چه عارف پکښ غارت شي

---

[1] ښتېځلی او په تکليف اخته.

[2] رانجا او هېر په هند کښ دوه مينان وه چه په هندی کښ ئې قصه مشهوره ده.

لکه باد کله ئې مخ کله ئې شا دَه بیهوده غرور دَ هر چا په دولت شي
یو لاله په غوړیده بل رژېده کا شگفتن دَ باغ د گلو په نوبت شي
دَ یوه ماڼی شي سر دَ بل نړېږي په جهان کښ نوی نوی عمارت شي
وا ویلا ژړا ناره ساړه آهونه خو هم دا په ورځ و شپه په هر ساعت شي
دا همه چاری دَ ده دِئ چه را کېږي یَوه خدایه کور دِ وران دَ محبت شي
هغه شان لکه په توروُ اوس په سپین دئ
د خوشحال مجاز به کله حقیقت شي

چه راغلی په حیله دَئ عقل ځکه عقیله[۱] دئ
که مثال ئې له ما غواړې عشق مزري عقل نیله دئ
آشنائي ئې دا جمال ده چه مین په جمیله دئ
پرواز نه پرېږي پرپري کا اور څو بل په فتیله دئ
خوار مجنون دَ عشق په کار کښ سپك په قام په قبیله دئ
هم خالق ته هم مخلوق ته واړه کار په وسیله دئ
دَ خبري په میدان کښ
نن خوشحال خټك قبله دئ

چه ښکاره په آرایش کښ شگفته شي صلوات ئې په جمال باندِي گفته شي
آشفته کاندي روزگار دَ پرهېز گارو چه ئې زلفی په عذار و آشفته شي
چه ئې نه وینم زه هسي ځلبلاند شم لکه گل له عندلیبه نهفته شي
چه دَ غوړو دُر ئې نه وینم په سترگو دُر گوهر مي په هر هر باڼه سفته شي
دَ وصال په وخت هم خوب دَ عاشق نه وئ ترو بې وخته په هجران په سوخته شي
ښه خو دا چه ئې برقع په مخ پرَته ده او که نه پرېږ به وگړَي الپته شي
زړه مي وائې چه ورتلي په درئې اېل کړَي په هر ځاي چه ښه محبوبه شنفته شي
وَ خوشحال ته د دې باغ غنچه ښکاره وه
چه به دا رنگه گلونه شگفته شي!

چه ادب لَرِي سړَی سړَی هاله شي بې ادب سړَی سړَی کله باله شي
څه پتونه ئې په شمار په حساب ندئ که په چا د آشنایي پت پاله شي
چه همت دَ سړی څو قدر ئې هونبره دَ تمیز په تله هر سړَی تاله شي
دولتمن سړَی هغه بللَي بویه چه له سینده ئې جدا دَ چا واله شي
هر سړی چه دولتمن شي که دانا وئ په هر کار کښ دې نظر پخپل کاله شي
که دَ توري کار دَ ځوان دَئ یا د نور څه مصلحت دَئ دَ هغه چه په زاله شي
دولتمن دِ په هنر په علم مېځ کا که هر څو ښایسته مخ وِئ بیا پساله شي
څوک دنیا وته مریونه دي خوشحاله
شاه زلمیو ته دَ لوبو چنغاله[۲] شي

---

[۱] یعنی ښېښي‌تر، هغه شی چه د اوښ پېښه په تری.

[۲] چنغاله هغه نجلی بولی، چه مېړه ئې معلوم سوی او نامزده شوې وِی، اما واده ئې نه وی سوی.

چه ړانده وته اسمان ښئيي يا ستوري — وايه ړُوند به ئې په کومه سترګو ګوري
روڼا ورځ په ښاپېرک باندِي تور تم شوه — روښنايي دَ نمر ښکارېږي په هر لوري
که ځښتن ورته زورل[1] کا يا ښکنځل کا — مريی هم په زړه کښ هسي ځښتن زوري
بيا به شنې په پاڼيو نشي وچي وني — که باران د ښکال په شېبو ووري
زور قوت دَ هر چا سم برابر ندئ — څوک له ځايه زوروَر شول څوک کمزوري
راشه نن د د نخاس ننداره وکړه — يو کالَي په بها پېري بل ئې پلوري
چا دَ سر دَ پاسه سور منديل تړلي — ځني هسي خوار حيران ګرزي سر توري
دَ چا حکم دَ چا لاس درباندِي نشته — پخپل بخت پخپل قسمت پريوزې غوري
په تلوار په اضطراپ چه صبر نه کا
دَ خوشحال خاطر سيماب شو سرَه ښوري

چه مي خپل مَين نيولَی تر آغوش دئ — دَ جهان هوس مي واړه فراموش دئ
ساقي زه څه هوښيار نه يم باده راکړه — لېونتوب دَ لېونيو پرده پوش دئ
چه پرُون ئې اهانت دَ مي خور وکړ — نن هغه دَ ميو ډک سبو په دوش دئ
ساقي ترس دَ محتسب دَ دُرې نشته — چه بابا ئې دَ مجلس سرَه مي نوش دئ
هدايه وقايه څه لولې وَ ما ته — چه ځما دَ ناي و نَي په آواز ګوش دئ
دا ګلګون شراب دَ کومي ميخانې دي — چه صوفي ئې په جوعه سرَه مدهوش دئ
دَ بهار په وخت به څه له ميو اوَړم — چه سرود دَ مغني په نوشانوش دئ
بيا به دا ګلوُنه نه وِئ ميخوري کړه — دَ بلبلو په آواز کښ دا سروش دئ
ډېر دَ باد سپاره په خيال تر ما تېرېږي — همېشه پدا بازار کښ پوشا پوش دئ
چه په ډېر ارمان دَ يار له مخه بېل شو
دَ خوشحال په بخره هر کله خروش دئ

چه لرې پخپله خونه کښ خوشخویَ — دَ جنت هوا به هم کړې درې شويَ
دين دنيا ئې دواړه کښېوتل په لاس کښ — چه په کور کښ ده خوشخویَ هم خوش رويَ
دَ بلبلو غوغا تل په هغه ګل وِئ — چه صفت ئې شِي له رنګه هم له بويَ
زه دلې له غمه مرم چه جدا کېږې — په شانه سرَه د شاه دَ زلفو مريَ
چرته وېر چرته سندري په جهان کښې — که ئې ګورې دهر نه دَئ بې هاي هويي
ګلدستې دِ دَ بهار را لَره راوړې — پيکه ښه راغلې په وخت دَ يار له سويَ
په جنت کښ پراته چېري چرته درومي
چه خوشحال شرې عالم د ېير له کويَ

چه په آن و آن په مځکه په اسمان دئ — په غمونو په ښاديو کښ انسان دئ
دا يوه ځمڅه دَ ځان ويني بلا شوې — چه سرِی سرَه ئې غم په هو زمان دئ
دَ نامرد دَ مرد پدا تفاوت وشو — په نامرد شرم آسان دی په مرد ګران دئ
کشکه ته پدا دنيا همېشه پائې! — په احتياط احتياط کښې ډېر خلق طوفان دئ

---

[1] زورې کا.

که دَ ځان که دَ ایمان بد خواه می ډېر دی
ما په خدای باندِی سپارلی ځان ایمان دئ
ببگیالی چه دَ اخلاص توره په لاس کا
ډېر لښکر ئې تر همت پوری کاروان دئ
له اوله تر آخره څو روزکار شته
چه عالم باندِی غوغا کا دا جهان دئ
په ښادی سرَه شریك دی اولسونه
غم یواځِی دَ خوشحال خټك دَ ځان دئ

چه وربل دي په سپین مخ آشفته کېږي
په ماښام کښ روڼا ورځ نهفته کېږي
که د مخ ښایست ئې دا دَئ چه لیده شي
لا به ما غُندي پرې ډېر الپته کېږي
په بڼو ئې اوښي ندئ آوېزاندي
همگي دُرو گوهر دئ سفته کېږی
یو ئې رنگ یو ئې نگهت یو ئې وِی پاڼې
پدا باغ کښ عجب گل شگفته کېږي
په ژړا مي به پوهېږې خوب و نه کا
هغه څوک چه په گیسو ئې خفته کېږي
دَ خوشحال دَ خولې خبري خوشي ندئ
دا همه دَ یَوه حاله گفته کېږي

چه مور پلار ځني آزار شِي هغه عاق دئ
دَ عاق زویه ځاي دوږخ په اتفاق دئ
هغه مور او پلار به خلاص نه وِئ له غمه
چه فرزند ځني زوولي بد اخلاق دئ
هغه زویه به آخر په خواري خوار شي
چه ښکاره ئې دَ خپل پلار سره نفاق دئ
دَ اورنگ بادشاه په دور رسم دا شو
چه هر زویه دَ خپل پلار دَ سر مشتاق دئ
نن هغه قطب آفاق گڼِي خپل خپسر
چه گواه ئې دَ عاقوالِي درست آفاق دئ
ناخلف زویه په گور خلف دِ غواړِي
هر پدر چه دَ پسر په اشتیاق دئ
دا ځما همه گله ده دَ تېتوانو
را ئې وَښیه چه کوم پکښې تفچاق دئ
دَ تېتوانو نه همه تېتوگي زېږي
که الغېر[1] ئې دَ عرب یا دَ عراق دئ
دَ هغه اسلام اسلام ندي خوشحاله
چه بهتر ورځنی گبر په میثاق دئ

چه دَ خولې وېَل ئې نور دَ زړه ئې نور وِئ
دَ هغه به مخ په دواړه لوریه تور وِئ
دَ ناپوه سرَه راضي نه یم په باغ کښ
دَ دانا سرَه قبول لَرم که اور وِئ
که په لاس کښ ئې ډک جام کښېږدي څه سود دئ
دَ هغه چه له ازله جام نسکور وِئ
نالایق زویه دِ خداي دَ چا لوي نه کا
چه په ځان دَ ده له خویه پلار او مور وِئ
ښه لایق زویه مور پلار په ښکي یاد کا
نالایق دَ پلار آزار دَ مور پېغور وِئ
یو لایق زویه دَ پلار کرهَ لوی ښه دئ
نالایق په څه شمار که درې څلور وِئ
دَ غوولي زویه شور وِی پخپل کور کښ
دَ ښاغلی په جهان کښ شر و شور وِئ
که هر څو دَ سرِي ډېر زویه پیدا شِي
بیا په واړُو کښ خو یو زویه انځور وِئ
هغه زویه خو په گور ښه دَئ خوشحاله
چه بهرام غُندي یواځِي دَ خپل کور وِئ

[1] په ځني نسخو کښ د دې کلمې املا (ایغر) ده.

چه دا هسي سحر ګري سترګي ستا دئ
په ناحقه دَ تقوا لافي ځما دئ

ښښتني جونه مي ولېدې په سترګو
څوک چه تُرکي دَ خطا ستائيي خطا دئ

ښاپېريه که هر څو ستائيي وګړي
ستا تر حسنه تر جمال په شمار د چا دئ

تا چه وَويني مَين در باندي نشي
هغه زړونه غندي کاڼي دَ بېديا دئ

واعظان چه يادَوِي دَ جنت حوري
ما پدا سترګو ليدل په دنيا دئ

يا به ستا زلفيني ونيسم په لاس کښ
يا به سر درباندِي بايلم دوه وينا دئ

دَ ناموس خبري مکوه خوشحال ته
عاشقان له نام و ننګه بې پروا دئ

چه مي کړي هر آثام دئ
که په خوله که په اندام دئ

اوس له واړو توبه ګار يم
په اخلاص مي دا کلام دئ

تر کرم را باندِي وکړ
ستا کرم په هر چا عام دئ

په دوه سترګي مي منلي
چه دَ شرع هر احکام دئ

واړه امر مي قبول دئ
ترې توبه چه نهی نام دئ

استقلال دَ توبې راکړ
دَ شيطان دَ بلا دام دئ

ما ساته دَ ده له شره
نفس مي مدعي خود کام دئ

په توبه کښ ثبات راکړه
لکه حکم دَ اسلام دئ

پخپل لاف به هيڅ ونګړم
که زه لافی کړم لاف خام دئ

چه توفيق له تا نه وِئ
دَ زاهد زهد حرام دئ

په هغه لاري مي بيايه
چه پرې يېښَي نبي ګام دئ

نور به څه کرم ډېر خواستونه
دا يَو ما لَره تمام دئ

چه ثابت وَلاړ په دين دَئ
دَ خوشحال باندي سلام دئ

چه په زړه ئې ګرزوې وړې وړې[1]
يَوه ورځ مي به له وره وشړې

چه په تا پوري ئې زړه نه وِئ تړلي
په هغه پوري زړه څه لَرَه تړې

که مي وړمي ساړه ډېر وِئ قبلوه ئې
مړې ايرې دَ نغري څه لَره لړې

چه ځَير ځَير ئې مخ ته ګورم نه مړېږم
دا ځما سترګي به کله شي مړې

ستا خوږې شونډې نبات دي رقيب مچ دي
ښه خو دا چه ئې له شونډُو وَشړې

څو ځَوانان دِ پخپل ځَان دِ کښېنولي
لا به څو در باندِي کښېنوې زړې

ياره ته چه له اغيار سرَه خندا کړې
دَ خوشحال په لړمانه درومي چړې

چه د بخت د تالو سپين دئ تور به نشي
چه شيرين دئ له ازله شور به نشي

هر چه غوړ دَ محبت لَري په زړه کښ
که پرې زر کالونه تېر شي سپور به نشي

د دې نورو بازارونو خپرېدل شته
يو بازار دَ محبت دَئ خپور به نشي

خو چه وَزېږِی له موره چه بدذات وی
په وروری ئې غلط مشه ورور به نشي

---

[1] دا بدله له يوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.

چه له یاره سَرَه کښېنم رقیبان مې — تل په بد نظر کاته کا کور به نشي
څوک چه زور سَرَه ښکاره کا وزیانېږي — که پخپله بوسه را کا زور به نشي
هسی نه چه زور مي نشته زړه دَ ګورم — ته پخپله مهر وکړه زور به نشي
و هر چا وته رسېږي خپله بخره — چه ئې پلي په ازل کړ سپور به نشي
لاس په لاس سودا بهتره تر هر څه ده — مسافر په لار ولاړ یم پور به نشی
که هزار ځله حکمت هنر تدبیر کا
دَ خوشحال په باب چه شوي نور به نشي

چه په حسن په ښایست دِي زوروَرِي — دَ هغو وائي بدلي یا سندري
رغېده ئې ستا دَ خولې په دلاسا دئ — دَ رنځورُو دارو ندئ له تا لیري
ما چه ستا دَ خوږو شونډو و لذت بیا موند — نه مي شهد په غرض دِئ نه شکري
عقل خپل فوزونه تار په تار خپاره کا — چه پرې رایشي دَ عشق خوني لښکري[1]
دَ ښو په تیر ئې بیا سَرَه پاش پاش کا — که خپل زړه وته پوښم دَ صبر زغري
تریانه دِ دَ خطا آهو خجل شي — چه په شین شین یون کړې ښښوه ګرِي
یو نظر په درست صورت علامت وکا — په مثال لکه بڅری وچی سري
تر خوږه خندا دِ ځار شم راته خانده — چه پرېوان کړې په ما لعل و مرغلري
چه څوک بې عشقه څه وائي باور وکړه
لکه باد دِي په خوشحال هغه خبري

چه دَ خپل عقل وَیل کا هغه کله خردمند دئ — چه پوښتنه مصلحت کا هغه هم دَ عقل بند دئ
چه می فهم فکر وکړ پدا خپله دانائي کښ — بل نادان را ښکاره نشو که نادان دَئ خود پسند دئ
تر مشرقه تر مغربه چا دا هونبره جهان وَغوښت — عقل علم هم دا هسي په جهان کښ چند در چند دئ
ګړ شه وغواړه باغونه په هزار رنګه مېوې خوره — راشه راشه راته وایه سَم دَ واړو لذت خوند دئ؟
لعل الماس دي په جهان کښ دُر مرجان شته دي مشکښی — واړه هیڅ پوشیده نه دي دَ هر چا قدر څرګند دئ
هر سړی چه محنت نکا هغه کله راحت مومي — راشه راشه رنځ قبول کړه که ته ګنج غواړې ښه پند دئ
که ته راشې له اسمانه جبرئیل شې پدا څه شي — خوف رجا راوړه اې ځانه کاردَ توري یا دَ شخوند دئ
څوک چه حکم ریاست کا سیاست دِ کا په شرع — اوس لا بلکه خلق بد شه په توره عمل هم سند دئ
ډېر به ښه ښه زویه راوړي دا نه پلاره څلور میندې[2]
نن په واړه پښتانه کښ یو خوشحال لایق فرزند دئ

چه امید پدا ایام لي — دا امید ئې نا تمام لي
عافیت غغوښتل له دهره — دَ سبا هیله له شام لي
کل امید خامی تکیئې دِئ — څوک به څه تکیه په خام لي
په سراب دَ تږي خوی دئ — دَ اوبو ګواهي مدام لي
زه له غمه جار باسم — دئ را وړاندي شي سلام لي
په هیبت دي ناست و خېز کا — چه مزري څخه مقام لي

---

[1] چه پرې رایشی تنها دَ عشق لښکری.

[2] نه پلاره او څلور میندی، نه اسمانه او څلور عنصر دی.

دغه خون په خپله غاړه   چه دَ بیم په ځاي آرام لي
دَ خوشحال بلا هغه شو
چه سوگند دَ ده په نام لي

چه پخوا مي په خاطر نه وې لیدلي[1]   فلك ډېري ننداري را وښیلې
وار په وار می واړه ولیده اغیار وه   چه همېش ئې دَ یارئ لافي وَهلې
په بخښښ ئې نر ناحقه غلطي کړې   وار په وار به جهان واخلي واړه خپلي
چه خبر له ځانه نه وه ما خبر کړه   له هغوی څو خبری واروېدلې
نه هغه شته نه په خوله کښی هغه غاښ شته   چه به ما په اننگیو وه چیچلې
چه په خوله مي کښلول پرې نازېدلم   دَ هغو دَ خولې مي واروېدلې ښکنځلي
چه ئې نن وکړ په چا کانده په تا شي   ویریاندي چاري واړه دِئ په تللی
چه همېش به په تسلیم راته وَلاړ وه   دَ هغو مي څو ناسازی دِئ زخغملي
دَ جهان گلونه واړه بې وفا دِئ   بیهوده وربانډي میني کا بلبلي
کشکه زه یو خر غځکي وَئ سړی نه وئ   هونبره چاري سړیتوب را ونمایلې
دوه رفیق دِي دَ یوه په وَیل ږغ کړم   دا دوهم را باندي غرپ وهي چه غلې
نه د دین نه دَ دنیا دي ځني نوري   دَ یاغي دَ اېل په منځ کښ و بلښلې
چه اوربشي کړي کله غنم وشي   پټه نه ده چه کړې هغه آخلې
یو ئې ټوله په محنت گا بل ئې یوسي   راشه گوره چا اولجه کړه چا ساتلې
يا دارو دَ لېونتوب وکړه خوشحاله
يا ناحقه دروغ خلقه سَرَه ملې

چا ئې راز د خولې تحقیق ندئ موندلي   که صفت ئې واړه خلقو دَئ ویلَي
په چشمانو کښ ئې سحو دَ بابل دئ   په ملال ملال کاته کښ ما لیدلَي
یَو نظر ئې راته وکړ نور په تله شوه   د ما زړه وړي دَ بڼو په تار پېیلَي
و چمن لَره چه درومم تللَي نشم   د مخ باغ ئې تر لَمني یم نیولَي
په هر لوري کښلي ډېر دِي خلق وائي   څوک دِ یَو راته ښکاره کا هسي کښلَي
چه و مرگ وته مي مینه ستا غمزه کا   خداي دِ ستا له لاسه روغ کا د ما څلَي
تر جلب نیولَي تل باندِي سپارلي کا   زړه مي پټ مړني سپور دَئ خال دِ پلَي
چا به بې دَ عشق له کاره بل کار نه کړ
د خوشحال دَ خولې ویل که چا منلي

چه سړی تر عقل تېر شِي مخبط شِي   زیست روزگار دَ مخبط سَرَه غلط شي
دَ حرص دریاب تر شرقه دَئ تر غربه   حریصان پکښ غوټې خوري لکه بط شي
نن ځما بېړی لاهو شوه په دریاب کښ   لا به کله دا لاهو بېړئ په شط شي
دته درزي جامې قدر قیمت ډېر وئ   دَ اَغوستي سر و پاي قدر وسط شي
غاښ وتلی ږیره سپینه ازمویښت دی   لا د ما و عاشقی وته نمط شي
جاودانه خوښي دا ده په جهان کښ   چه دِ زړه دَ عشق په کار کښ منسبط شي

[1] چه پخوا په خاطر نه وې ما لیدلې.

ښایسته یاران مي هسي ملك ته ولاړل　　چه نه ځاي دَ پیغامونو نه ئې خط شي
دَ خپل یار وَ تېغ ته سر کښېږده خوشحاله
دَ قلم خوبي هاله کَښه چه قط شي!

چه د لویو کتابونو دانشمند وِي　　دَ هلکو کتابونو په کار بند وي
چه خرما ئې دَ بلوڅ نه وِي خوړلې　　و هغو وته پټوي[1]خرما خوند وي
چه دَ هند په شکر قندو خبر نه وي　　و هغو وته گسځري شکر قند وي
دَ اټك په مناره به نظر نه کا　　چه هغه ته دَ دهلي ملك څرگند وي
هر سړي دَپل وطن ثنا صفت کا　　د هر چا تر فهم کښلي خپل فرزند وي
دَ ناپوه سړي دَ پند سَرَه کار نشته　　ما چه ولیده دانا محتاج دَ پند وي
زه خوشحال ئې دَ دانش په سترگو وینم
د هر چا چه بده پوهه غلط سند وي

چه ئې مخ تر گل زېبا دَئَ یار ځما دئ　　چه په مخ ئې عندلیب شوم کار ځما دئ
چه ئې تش په کوڅه تېر شوم لېوني شوم　　که ئې ووینم په سترگو زار ځما دئ
که واعظ مي له ښه مخ له میني نیسي　　که مي لاس وربانديِ بر شي پلار ځما دئ
بې له کښلیه زېبا مخه که گلزار دئ　　چه هر گل وته نظر کړم خار ځما دئ
چه هر لوري وته درومم په غم اوړم　　ته به وایې غم یکلخته ښکار ځما دئ
همېشه به په ما وار دَ رقیب نه وُ　　بیا له خپله بخته خوښ شوم وار ځما دئ
دَ خپل یار سَرَه دوږخ ځما قبول دئ　　که بې یاره جنت مومم نار ځما دئ
بت پرست کله دَ بت له میني اوړي　　زه که مینه دَ یار پرېږدم عار ځما دئ
زه خوشحال چه دَ منصور په مذهب خوښ شوم
اوس څه غم چه زه دَ دار یم دار ځما دئ

چه دَ خلقو نېکخواهي لَري په زړه کښ　　مبارک شه بادشاهي لَري په زړه کښ
که ئې غوږ دَ دانشمند په نصیحت وئ　　څه عجبه آگاهی لَریی په زړه کښ
دَ ناصح په نصیحت به اصلاح نشي　　هر سړَی چه تباهي لَرِي په زړه کښ
دَ مردانو په معراج به ورتلي نشي　　که دَ سعِي کوتاهی لَري په زړه کښ
مختورن دَ دواړُو کونو نه دئ څه دئ　　چه هر چا سَرَه سیاهي لَرِي په زړه کښ
نېك بختان به اندېښنه کاندي دَ نېکو　　گمراهان به مناهي لَري په زړه کښ[2]
په هغه هنر کښ ټینگ اوسه خوشحاله
هر هنر چه سپاهي لَري په زړه کښ

[1] دا کلمه حل غواړي.

[2] نېك گردار سره به فکر وی د نېکو　　بد بختان به گمراهی لری په زړه کښ

چه مي اوښي هسي اَلا شوې — دواړه سترګي مي سره لال شوې
چه په نور څه پسې ندې — واړه ستا دَ مخ په خيال شوې
ليونَی شوم خوب مي نشې — راته ته پري مثال شوې
نور مي محو شول له دله — چه مي ته په زړه نهال شوې
دَ زړه داغ دِ مبارک شه — چه مَيَن دَ شاه په خال شوې
خلق خوښ ګرزي هوس کا — د ما زړه ولي بد حال شوې
مګر نول دَ بېلتانه دئ — په ناله کښ لکه نال شوې
نور څوک هم شته دَئ اې غمه
که يوائې دا خوشحال شوې

چه ئې تل کښېښوې په سر دَ خيال دړی — تور وېښته شو دَ هغې سپيني وړی
دَ روانو اوبو کار دَ عمر يَو دئ — بيا به ورځ و شپې را نشي دَ نړی
محبت بې خدايه واړه که ئې ګورې — دَ درياب په مخ دَ خليو پل تړی
ته پدا حسن جمال چه درته ګورم — نه پوهېږم ښاپېړی يې که سړي
بې مدد دَ باد نه رسم مراد ته — که هر څو روانوم دَ زړه بېړی
ستا دَ زلفو له ښاماره وېره نکا — چه تر خوله ئې ستا دَ ميني شي جړی
دَ خوشحال زړه په تقوا کښي لکه غر وُ
ستا په مينه بکباره شو و ووړي

خداي راکړه په غېږ کښ د رويبار منت را باندې — سپينه خوله سرې شونډي دواړه زلفي اوېزاندې
يار را سَره يار دَي د هر غم مي غمګسار دَي — غم اندوه مي نشته چه رقيب را رخه[2] کاندې
پرېږده چه پرې سوځي ستا د مخ بلا اَخلې — عشق د لکه اور دَي عاشقان دِ لکه سپاندې
دا څه بارخونه دي، نه پرېشاني توري زلفي — پروتو دِي په ګلو د سنبلو پاني تاندې
زه ور پسې دروممم دَ يوه نظر په طمعَ — بيارته نظر نکا هسي درومي مخ په وړاندې
بخت نه دِي نور څه دَي په دا هونبره دېره مينه
ژاړي رخه کړوني چه خوشحال ختك ته خاندې

څو بېړیِ پدا سيند کښ ډوبي ولاړې[3] — چه تخته ئی مونده نشيی که ئی غواړې
فراق هر څه ته لمبې دئ لګولي — لکه لوند لرګی په اور يبني څو ژاړې
غم ښادي سَرَه ترلي دِي له ځَايه — هغه هونبره به وژاړي څو د وياړې
چا ئي نوم راته وا نه خيست چه دَ چا دئ — منارې مي دِبرې وَليدې وَلاړې
په زرو رنګه غمونه دَ جهان شته — په زرُو رنګه نارې واوره دَ خرارې[1]
لکه راي ځما دَ زړه هغه لا نور دئ — خلق څو خبرې کاندې غاړې غاړې
دا طومار څه هسي نه دَئ چه تمام شَي — غوړوَي ئې پټوي ئې، لولي نغارې

---

[1] محشی ورته کښلی دی يعنی سرې.

[2] حسد او بغض.

[3] دا بدله په چاپي نسخو کښ نسته.

دین دنیا لَرَه په کا و خپله کرده ده
لوند وِي حلق د هر سړي پخپلي لاړې
چه بې غمه بې وبا له ئې خواړه دِي
د بادشاه تر خوا نه به ګنم خځاړې
غافلان په غوږ کاڼه دِئ نه ئې اروي
دَ خوشحال خټك دَ خولې خبري لواړې[۱]

څو چه مینه دَ دنیا پرېوزی په زړه کښ
هونبره غم شدت بلا پرېوزِي په زړه کښ
څوک له ځایه پاکیزه ځني ناپاک دئ
دانا پاکو بد په دا پرېوزِي په زړه کښ
په یوه ښیښه کښ شاش د قارورې دئ
او دَ بلي ښه صهبا پرېوزِي په زړه کښ
چه څه نه ویني نه اَوري نه څه وائې
دَ سړي هغه هوا پر ېوزِي په زړه کښ
چه څه ني ویني نه اروي نه څه وائي
وایه کومه تمنا پرېوزِي په زړه کښ
نېك و بد پخپل قسمت وِئ له چا نه وِئ
په ناحق کینه له چا پرېوزِي په زړه کښ
نه په پند ځي نه په بند ځي نه په نور څه
چه مزه دَ ناروا پرېوزِي په زړه کښ
چه صحبت دِ له چا کېږِي هسي ته شې
هم هغه خو یو نه ستا پرېوزِي په زړه کښ
دَ بلبل محبت یو دَئ له بلبل وِئ
چه د ګل ئې هر سبا پرېوزِي په زړه کښ
نا آشنا عالم دَ چا په فکر ګرزِي
اندېښنه خو دَ اشنا پرېوزِي په زړه کښ
د بهار په وخت دا درد وِئ دَ دردمنو
چه ئې سیر دَ صحرا پرېوزِي په زړه کښ
د خوشحال غندي به بېل شي له عالمه
د هر چا چه دا سودا پرېوزِي په زړه کښ

څوک په لوري دَ کعبه ځِي په هی هی
څوک دیورې لَره چلېږی په جی جی
دواړه توکه په معني په حقیقت کښ
په هر لوري غوزوي واړه دی دی
عاشقان ئې سل هزار یَوه معشوقه
په هر لوري ورپسې دئ په پی پی
څوک په کور دننه ناست ور سره کېل کا
حڅوک همېش ور پسې ګرزي په لی لی
مېخانه یَوه هزار پکښې خمونه
دَ مستانو ئې نارې دِي چه می می
که همای دئ که کجر دئ که کرګس دئ
دَ هر چا مي خپل خپل شان دئ خپل فی فی
که څوک وصل د خپل اصل پسې غواړِي
چه نارې دَ خدایی وَهي نی نی
زه خوشحال چه دَ وحدت په میو مست شوم
وایم دا چه کاوس کله وُ کی کی؟

څوک به ستا د مخ نقاب کارتي پتي
څوک به ستا په اننګیو کښېږدي کوتي
که دِ بیا نوي شېوې په خاطر نه دِي
د وُربل غوټی دِ څه له ده آرتِي
مظلومانو وته څه خو نظر وکړه
په دربار دِ فریادِي دِي خیري ختِي
چه ئې پسي شاله ما هونبره ویل کړه
مخامخ د هغو ولي ژبي نښتِي
پخپل یار به ئې کېدې دا هسي شندي
چه همېش د رقیب خبري نغوتِي
یار په هر لوري جلوه کا ورته ګوره
که دِ نه دئ د لیدلو سترګي تِتِي
په نوروز کښ دا غزل واخله مطربه
په آواز به دِ بلبلي شِي ساکتِي
ګل ته چا دا هسي زېب و حسن ورکړ
چا ئې هسي تِه په تِه پاڼي پرانتِي

د خوشحال په پالنگ بيا راغله سر شاره
په زعفرانو په چووه[1] لړلې ختې

ځما مرگ هغه زمان دی چه رشتيا دَ يار هجران شي
که هجران له منځه وَوزي نور به هر مشکل اسان شي

زه به ځان جهان ښندَمه، په اشنا پسي به ځمه
پرې به پاسه قدم ږدم، که دښتونه بيابان شي

تا زړه ورکړ يوه هرنه يوه هر يوه بشر نه
لکه اوبه دَ جوي له سَرَه هورې ځي چه بېل وان شي

يَو خدنگ ئې وَويشمه وائي بل به د هم ولم
ورته پروت سر مي نېولَي چېرې نه پدا پښېمان شي

ما دَ شاه دَ خولې سودا کره په کرورونو ئې بها کره
خوله ئې لنډه دَ هر چا کړه مگر دا په شاه جهان شي

له يو هسي مي روزگار دَئ، چه گه يار کله اغيار دئ
په همه کاره هوښيار دئ خو په ما باندې نادان شي

دَ خوشحال خاطر سوخته دَئ ستا په جور آموخته دئ
درد و غم ئې اندوخته دئ هم دا درد ئې بې درمان شي

ځما مَيَنه ياره چه نن ناست ځما په کټ يې
مونډلی مي په بخت يې که مونډلی می په مټ يې

آرام شته دَ زړه کام شته دَ چمن لاله غوړېږي
په دَور دَ شرابو ساقي ولي هسي لټ يې

نه دين لَرم نه دل لَرم نه صبر شته نه عقل
په دواړو سترگو ورځيو تا لا کړوني دَ درست هټ يې

چه مخ وته د گورم لکه نمر هسي ځلېږي
قربان د تر جمال شم په معني تر نمره غټ يې

چه ته را ځخه نه وې يو کنگال[2] دَ زمانې وم
پادشاه دَ درست جهان يم چه له ما سَرَه لټ پټ يې

پېرې به په گلزار کړې که بلبله دَ گلزار يې
گندگی لَره به دروميې که په اصل تور گونگټ يې

دوه درې حجانه ځه دئ چه ئې ته په مخ کښ نېسې
په زر پردو کښ کښېنه بيا د ما وته په چپټ[3] يې

په خوب په بيداري کښ همېشه په فکر ستا دَئ
اورنگ وته خيبر دَئ وَ خوشحال وته کوهټ يې

ځما زويه دَ ننگ ندي نمر پټار[4] دئ
پرې پوهېږم چه همه واړه مردار دئ

نه ئې لويه انديښنه نه ئې لوي کار شته
دَ مغلو وَ طباخ وَته تيار دئ

دَ منصب دَ اضافو خبري کاندې
په عزت په حرمت کله خبردار دئ

اتفاق يگانگي ئې سَرَه نشته
همگي روان په بېله بېله لار دئ

يَو ځرگند قابل هر گز په دوي کښ نشته
که و دېرشو ته نيژدې د ما په شمار دئ

په الکش الکش[5] ئې سترې کرم ښکار نکا
د کوټه سپې کوکري پکښې سه چار دئ

يو ځو دي پکښې هر گوره نا پکار دئ
دا نور زويه مي لا لږ او ډېر پکار دئ

نه دَ نوم دئ نه دَ شرم نه دَ ننگ دئ
انديښنې ئې د ناکس دَ ناسردار دئ

نه له پلاره نه پيدا دئ نه له موره
خو صندوق بخچې ئې دواړه مور و پلار دئ

چه به تلل دَ نا قابل سرې دَ وړاندې
ځو دا هسي بېرقونه نگونسار دئ

---

[1] ځو وه.

[2] په شيدو ککړ لوښی چه اوبه ولغړوی، کنگال يې بولی.

[3] دا کلمه په يوه نسخه کښ چټ ليکلې ده.

[4] برگ بروگ ځناور يا مار.

[5] په الکيش په الکيش.

شکایت له نورو مه کوهَ خوشحاله
چه خپل زویه هم په ننګ له تا وېزار دئ

ځما خرابه دله ته یو څرنګه خراب شوې   چه وو در څخه لاړل، په هر څیز پسې کباب شوې
دَ مښکو دور تېر شو دَ کافورُو دور راغي   چه نوم دِ د شباب وُ په نامه دَ شیخ شباب شوې
دَ باغ نرګس دِ هم لکه تازه وه هسي ندئ   دَ باغ دَ لاله ګلو دِ هم پاڼي پیچ و تاب شوې
دَ خولې حقه دِ ډکه په ګوهرو وَه خالي شوه   په حزن په حسرت دَ یوه هر درِ نایاب شوې
په باغ[1] به دِ چه کښلیو ښایسته بلبلو ږغ کړ   یوه بلبله نشته ثمرې ئې دَ غراب شوې
بېرۍ دِ دَ سینې په زور چه پاسه تله په غرونو   غوټه خوري پکښ ګرزي اوس خسرې دَ دریاب شوې
مزري به دئ له ترسه په هیبت وه په کوهسار کښ   نیژدې درته وېغ وېغ کا دَ ګیدړو لا جواب شوې
چه ډکي په ښو مښکو په عنبرو هغه خولې وې   بد بوئ چار چوبې د زمانې په انقلاب شوې
په عمر چېرۍ وېښ وې بیا به هم چېري ویښېږې   هَي هَي دَ خوشحال بخته ولي دا رنګه په خواب شوې
پېرې لَرِي خوشحاله دَ اسمان نندارہ وکړه!
چه څه وې پکوم شمار وې دا زمان په څه حساب شوې

خلقې واړه دَ شاه د خولې په غم دئ   چه د شاهي خوله ئې کښل کړه هغه کم دئ
چه د شاه د زلفو خیال لَري په زړه کښ   هغه تل په زړه پرېشان په صورت خم دئ
که په زړه باندي ئې زر داغونه جوړ شي   چه دَ یار له داغه آه کا هغه ګرم دئ
عشق یو څه عظیم بادشاه دئ که ئې ګورې   چه ګدا ئې له سلطانه محتشم دئ
ته دَ عشق سپروته سهل نظر مکړه   چه بې زرو بې لښکرو لکه جم دئ
دا دَ عشق د ګدایانو هسي چار ده   چه د فقر په جامه کښ محترم دئ
دَ چندڼ دَ وني ځکه بوي روان شو   هر چه ولي ئې دَ عشق په اوبو نم دئ
چه له عشقه خبر نشول خداي ئې واخله   که ظاهر صورت بادشاه دَ کل عالم دئ
د آتش لمبه کړو لَره پیدا ده   په هغو دَ اَتش څه غرض چه سم دئ
که په زړه زخم لرې دارو طلب کړه
د خوشحال وَیل دَ خوږو زړو مرهم دئ

خلق فراغت کا زه تل ستا په غم نیولَي   څه بده بلا وې زړه ما نه وې پېزندلَي
له کبره ډېره خیاله به څه سم وایې و چا ته   دَ کلي د محلت سَرَه چه زیست کا نا نمنځلَي
له ګوره نه به پاڅي رنګینه جامې اغوستي   دَ حشر په ساعت به هم څرګند وِئ تا وژلي
چه سترګي په رنځور کړې برنده کښېږي خوري زلفي   چه غټ به درته ګوري یویو مرد بویه بللي[2]
هر ګز به اروېدلي دَ لیدلو مخي نکړم   خوبی دَ یوسف اروم ستا جمال مي دَئ لیدلي
په ورځ دَ جدایئِ څوک څه وائِی و ما ته   مرده وته هم کله نصیحت دَئ چا ویلي
که پسله مرګه زړه دَ خوشحال وګورې په ګور کښ
هر ګز به دَ ښه مخ محبت نه وئ ځني تللي

---

[1] په باغ کښ چه د کښلیو.

[2] یو یو بویه مرد بللی.

خلق نادیده دئ په خبروُ پسې ځغلي ‌ ‌ ځار تر عارفانو چه په حال دئ پوهېدلي
دو اویا مذهبه پکښي هونبره قال و قیلَ ‌ ‌ واړه سر هوا پخپل مطلب پسې دئ تللي
ډېر دئ کتابونه مشتمل په دېرش حرفونه ‌ ‌ کل واړه که گورې له الفه دِئ زوولي
سل بهي سل سبېه چه ئې مات په یَوه ځائ کړې ‌ ‌ سل به بلل نشي سرَه یو دئ لا لیدلي
واړه نور دَ نمر دئ هم دَننه هم دَباندي ‌ ‌ هر چرته دا نور دئ په هر ښهر په هر کلي
زه خوشحال ختِك یم دَ رندانو په مذهب کښ
نور وَیل مي نه زده مختصر دِئ ما وَیلي

خوله دئ غنچه گل ده تور گیسو دَ سنبل پاڼي ‌ ‌ پښې دِ دِئ دَ زرکي سپنه غاړه دِ دَ زاڼي
شونډي دِ ژوندون بخښي په سترگو کړې خونونه ‌ ‌ ژبه دئ شکري ده دننه په زړه پاڼي[١]
مهر دِ له دله لکه مو له مخه ورک شو ‌ ‌ رایشه نا ترسی لُور دَ ترک که د پټاڼي[٢]
هیڅ پرې نه پوهېږم دا دِ زنې که مټه ده ‌ ‌ خال دِ دَئ په زني که دانه ده د مماڼي[٣]
ته په پالنگ پرېوزې زه حیران په فکر لاړ شم ‌ ‌ پنډ دَئ د گلونو که دا ته پټه په پاڼي
زه هغه خوشحال یم چه دِ راز لَرم ساتلي
ولي هسي وایې چه تا عشق نزده ناځاني[٤]

خندني هسي لر بر گرزي برسېري ‌ ‌ برابر په تورو ورېشي سر تېري
یَو مرغه په سر و په سپینو قیمت مومي ‌ ‌ بل هزار حیله په توره پیسه پېري
په غوټه کښ ټپوس کله لکه باز دئ ‌ ‌ که ئې خلق دَ منگلو ښتن شمېري
مرني لیوه حمله په ښکَر ورکا ‌ ‌ د نامرد یا په ورغومی یا په لهټېری[٥]
دا دوه ښیزه پټوه په ځه به پې شئ ‌ ‌ د نامردو نامردي د ښځو نمېري[٦]
اوښتو لره پخه کوتر بایده دئ ‌ ‌ دَ باز یو هنر هیڅ نزده کټمېري
په جاهل خلق کښ ورک شوه چه عاقل دئ
یو یو بیت به دَ خوشحال پېرى په زېري

خسته زړه مي چه نگار هورې هورې وئ ‌ ‌ هو بلبل مي چه بهار هورې هورې وئ
زه ئې ځکه دَ زلفینو په ارمان مرم ‌ ‌ هر ځوک وائي چه گنج مار هورې هورې وئ
که ته یار غواړې ورځه رقیبان گوره ‌ ‌ د گلابو گل چه خار هورې هورې وئ
د ښادئِ خوان ئې نورُو وته کښېښ ‌ ‌ غم ئې واړه چه دَ خوار هورې هورې وئ
په هیڅ رنگ ئې اوښته ورځنی نشته ‌ ‌ لېونی منصور چه دار هورې هورې وئ

---

[١] مطلب ئې پان دی، چه خوله سره کوی.

[٢] پټان یې.

[٣] مېوه ده چه په غره کښ کېږی.

[٤] نادان یې.

[٥] دا کلمه په یوه نسخه کښی لېری لیکلې ده، دَ سیند خاوند کښلی دي، چه لټېره یعنی بله گرداو بیهوده.

[٦] د ښځو حېض راتلل (دریاب، پښتو لغت) .

ټپوسي مي په مردارُو باندِي ګرزي　　و هندی[1] شهند چه ښکار هورې هورې وئ
په ګلونو باندي ګښت ګاندِي بلبلي　　پروانه غريب چه نار هورې هورې وئ
نه په باغ وِئ په راغ نه په بل لوري
د خوشحال خاطر چه يار هورې هورې وئ

خټکي له خټکي نه خوند آخلي　　همسايه له ګاونډی نه پند آخلي
څه به غم دَ صغيره ګناه هغه کا　　چه په غاړه کبيره څرګند آخلي
هوښياران دَ نېکخواهانُو وَيل نغوږي　　ناپوهان دَ بد خواهانو سند آخلي
دَ مظلوم آهونه کاڼی د غره سېځي　　ظالمان به آزارُونه چند آخلي
دَ هغه لاسونه مه سېځِي په اور کښ　　چه له پېښو دَ بنديانو بند آخلي
که په زړه کښي ډېر غبار دَ غليم پروت وئ　　پرې خوروه چه غبارونه شخوند آخلي[1]
خوشحال خپلو خوږو شونډُو وته پرېږده
چه طوطا خوږه مزه دَ قند آخلي

خوږې شونډِي دِ شکري ندئ څه دئ　　کښلی غاښ دِ مرغلري ندئ څه دئ
بې له تا چه راته نور مخونه ستائی　　دا و ما وته خبري ندئ څه دئ
چه تسخير په تورو سترګو کا دَ زړونو　　سيه چشمي سحرګري ندئ څه دئ
چه د زلفو په خنځير ئې مزري بند کړل　　هوسی سترګي زوروَرِي ندئ څه دئ
چه د باغ سبري ئې پستي تر قامت دئ　　پېښتنې په قامت ستری[2] ندئ څه دئ
وايې نوري ميني ليري کړه له دله　　ستا دَ مخ په دور ليري ندئ څه دئ
چه لاشه[3] ئې دَ خوشحال په زړه څو خېږي
سرې لښتی ئې سرې بنبوري ندئ څه دئ

خبر ور څخه نه وم په څه خيال راغله پېري　　په لوړو په ژَوَرُو دم در حال راغله پېري
د سترګو په جوهرو مي په سی[4] کښ را ښکاره شوه　　په مښکو په ګوهرو مي په کال[5] راغله پېري
تر مرګ څه کمه نده ما ئې ښه ننداره وکړه　　په زور او په قوت په ملك و مال راغله پېري
په زړه چه را په ياد شي دَ ځوانی تلاښونه　　د َواړو تلاښونو پايمال راغله پېري
دَ مخ ده که دَ تن ده که دَ لاسو که د پېښو ده　　د کل واړو خوبيو په زوال راغله پېري
اقبال په مثال ګل دئ تن په مثل لکه بوټي　　په تن باندي چه راغله په اقبال راغله پېري

---

[1] يعنی زننده.

[2] يعنی جګی او لوئی.

[3] لاشه يا لشه يعنی نېښ.

[4] محشی ليکی چه سی د ابجد په حساب ۷۰ دی يعنی پر اويا کالو می د سترګو ليده لږ سوه.

[5] محشی ورته ليکی چه مطلب له مښکو تور وېښته او له مرغلرو سپين غاښونه دی، او کال په ابجد ۵۱ کېږی چه پر دغه سن وېښته سپين او غاښونه وزی.

ور درومه اَئينې په يَوه کنج[۱] دَ مخکي پرېوزه   د کښليو په جمال په خط و خال راغله پېري
چه جونو وَته گوري خجالت ورځي پخپله   په عشق او محبت کښ انفعال راغله پېري
نه ښکار شته نه گزار شته اوس دِ جورِ سلامت گرزي
دَ تورو د غره بزونه، په خوشحال راغله پېري

دا چه وايې چه ډېر مهر په فلانې کړې   په ياري دِ رضا نده بهانې کړې
ستا وصال په دعا غواړم نه ئې مومم   ما په ډېر ورتله راتله سترې ستانې کړې
زړه مې ستا وَ تير ته نخښه دَئ قتال!   پرې به کله جورِ دَ غشيو پر خانې کړې
چه جمال وَته دي گورم حيرانېږم   خداي په ما باندِي يوسف دَ زمانې کړې
سحر گر په سحر توري اوبه پرنِ[۲] کا   تا ځما اوښي په مخ دانې دانې کړې
زه چه شونډِي ستا په شونډُو باندِي کښېږدم   وايم نوشي مي دَ مېو پيمانې کړې
ځما زړه لکه مزرَي وُ خاوند خداي مي   ستا دَ سترگو وِ هوسيُو ته ژانې[۲] کړې
دَ خوشحال په دود به ستا ورته پراته وِئ
چه په ښو ئې ستا دَ زلفو زولانې کړې

دا چه وايې چه دا بد کړي يا دا ښه کړی[۲]   که رشتيا وايم زه نه يم واړه ته کړې
چه په بين الا صبَعين[۱] زه خبر دار شوم   په لحظه کښ څه چاري په زړه کړې
په خطا بانِدي عطا په طاعت قهر   چه په وهم فهم نه وِي هغه وکړې
دا چه اوس وَ واړه خلقُو ته رسېږي   چه دِي کړي په ازل دِئ هغه کړه کړې
دَ هر چا په باب چه شوِي هغه کېږي   په هيڅ رنگ به خپل مبرم حکم نور نه کړې
چه ښگاه ډکي په شهد و په شکر دَئ   په سبا دَ هغو خولو خاوري په خوله کړې
چه هر دم د العطش نارې وهينه   په ساعت ئی د مقصود په رود اوبه کړې
په يوه مځکه يوه باغوان کَرَلِي   عباسي گلوُنه زيړ و سپين و سره کړې
د سحر گټنه ډېره تر هر څه دَه   ځني ځني ورته وېښ ځنی اوده کړې
چه په تور وېښته مغرور پخپل پرهېز شي   دَ صنعان غُندئ ئي خوار په سپين وېښته کړې
آلوده لَړَلَي درغَي درگاه ته
هيڅ مي نزده چه به حال د خوشحال څه کړې

دا خونِي سترگِي چه ته لرې دلبرِي   په کشتن به خلقې کاندې ډېرِي
لا به کله ځما خوار طالع مدد کا   چه به ستا سترگِي په ما شِي برابرِي
په حرام حرام راځه چه بوي ئې واخلم   دواړه زلفي په عنبرو معنبرِي
په عارض دي دَ زړه داغ دَ لاله ورکړ   ياسمن دي داَ پېغور کړل سمنبرِي
باز د جال کوتره وَوينیِ پر وَرشِي   تپوسي باندي پېرې کا لر و برِي
گوره چرته وي په چرته گرزېدلې   چه فراق کړې هونبره اُوښِي را خبرِي

---

[۱]کنج د زنگ پرېوزه.

[۲]دا بدله په چاپي دېوان کښ نسته.

محتسب دِ ځَنِي ليري ليري كرزِي
مست خوشحال څخه كوتك دَئ د ډنبرِي[1]

دا معنې دِي زورَوري[1] — سمِي چېرِي دِي خبري
څوك چه لب كا سره بيارته — ځَنِي توئي شِي سكري
څوك چه كښېوزي په ويَلو — واړه وايي خاوري سَري
دَ مشكينو په بازار كښ — تويې نه وي مرغلَري
خپلي خپلي شلومبې ستايي — چه سلومبې پلوري گجُرِي[1]
هر هر سكني ئې وَگوره — په هنر زَغيږِي زغري
ډېر دِ ښه ووی خوشحاله
بس كړه مه درومه ډېر ليري

دواړه شونډي دِ خوږِې شكر پارې دئ — دَ گلابو گل د دِ واړه رخسارې دئ
دَ هغه خوني څه باک دَ چا له مرگه — چه په تېغ ئې روغي شوي منارې دئ
چه دِ لاف دَ سپيني خولې كا هغه سر خوري — په دربار دِ دَ سرونو انبارې دئ
د خپل يار كره دی گل نشته له باغه — دَ اغيار كره پراته په پشتارې دئ
دَ دردمنو له آزاره وېره وكړه — ورځ و شپه ئې ستا په وربانديِ نارې دئ
شيخه ته راته دَ پند خبري وائې — چه مي غوږ وربانديِ ندئ شمارې دئ
پدا اور كښ دِ د ما لَمن و نه سوه — په هر لوري رسېدلي شرارې دئ
حريفان ډكي پيالې اخلی له ورايه
د خوشحال خټك په بخره ننداري دئ

دَ الفت غُندي ئې ته په قامت سم كړې — خداي ځما دَ زړه په سر بانديِ رقم كړې
مخ به چېری راته سم كړې په ياري كښ — كه دا خوي به تل ځما دَ عمره سم كړې
دا گلزار دَ هيڅ گلزار سرَه سَم نه دئ — چه زلفيني په سپين مخ راته خم خم كړې
در پوهېږم چه مي سر وته په څو يې — كه هزار ځله ځما په سر قسم كړې
چه له دم سرَه مي كښته پورته كرزې — ته په ما بانديِ دا چاري په كوم دم كړې
هم دِي وَوژلم پخپله هم بيا گوره — بيا په ما بانديِ تېر وهې ماتم كړې
چه په زړه مي كرزيدې هغه خبرِي — كور په كور په هر ديار خوري عالم كړې
دَ هجران ورځِي چه كښې پشمار دَ عمر — دَ قضا كاتبه عدل كه ستم كړې؟
چه ويار وته تَل غندې رقيبَ! — څه په دا به دَ يار مهر له ما كم كړې
چه دِي سر تر پايه درست په غم كښ ليو[1]كړم
راته وايې اوس خوشحال اوسه څه غم كړې

دَ ځوانی په خوبيه كښ څه شك دئ — د پېرئ عمر درست له عيبه ډک دئ
پرهارونه مي په زړه تازه تازه شي — د وروِلي په پرهار بانديِ نمك دئ
كه څه ښه در بانديِ راشي پر خوښ مه شه — په ښاديِ پوري هر كله غم لك دئ

---

[1] دا كلمه عيناً وليكله سوه، معني ئې حل طلبه ده.

هیځُ فریار دَ چا د ظلم جور مکړه   په هر چا باندي چه شندي کا فلك دئ
غم ئې بې حکمته ندئ پیدا کړَئ   د نامرد دَ مرد په منځ کښ غم محك دئ
څو چه ډېر ډېر لذتونه ډېر غمونه   ښه هغه چه بس ئې ګېډي ته کنډک دئ
توره چا وته ترم چه زه ملنګ شوم   ښه خو دا چه مي په غاړه یو کوتك دئ
تفحص که څوک دَ خوږو زړونو کاندِي
د خپل قوم له لاسه ورک خوشحال ختك دئ

د عطار خوني عطار وته اظهار دئ   که جلاد ئې د خطا د د ملك تا تار دئ
خدایه ته مي په ښه مخ باندي مَین کړه   دَ عاشق دَ عاشقی سَرَه څه کار دئ
څوک ئې هونبره مینه کښېږدی په کوکل کښ   عندلیب چه په ګلونو مینه دار دئ
نه لیلی زده نه مجنون زده پدا منځ کښ   یو نازک لطیف رموز باریك اسرار دئ
د هر څه رموز مونده شي په جهان کښ   چه نظیر ئې مونده نشي ځما یار دئ
عقل صبر و دل و دین ولاړ شه په عشق کښ   خو را پاتو یو ژوندون شه پدا لار دئ
د دې ښهر دلبر واړه زړُونه سَم خوري   پل به نږدی پدا لوري چه هوښیار دئ
ساقي زه دَ جرعه نوشو غُندي نه یم   ډکي ډکي پیالې راکړه ځما وار دئ
که دِ وینم په سترګو ستا په یاد مي   شګفته تازه دَ عمر لاله زار دئ
چه سنبل ئې دَ زلفینو نمودار شي   هغه ځاي دَ تورو مښکو څه مقدار دئ
تا هر ګز دَ چا دَ زړه دلاسا نزده   چه پتا باندِي مَیَن شول تل ئې زار دئ
مګر ستا دَ زلفو نوسي ئې وکاږي   چه مي مات د بېلتانه په زړه کښ خار دئ
دَ سونډک مونډک سیلۍ آحري کېږي   په بلبلو خبر وکړ بیا بهار دئ
په وصال کښ ئې بادشاه دَ زمانې وُ
چه له کښلیو نه جدا شو خوشحال خوار دَئ

وایم له تا ولاړم که په ناسته می ملال یې   کبر لوئي مکړه که هر څو صاحب جمال یې
ولاړم ستا له وره ستا په یادو به مشغول وم   ولاړم له ما نه ځِی دا چه ته می په زړه نهال یې
زه غریب نامرد یم څه و ما وته ګوابښېږې   قهر کړه هغو ته چه دِ سیل دئ یا ئې سیال یې
هېڅ ګناه مي نشته چه مي وژنې یا مي ولې   واړه دِ مستي ده نه ترلي په وبال یې
خدای خو خبردار دئ چه له تا به ئې دریغ نکړم   لږ و ډېر مشتاق ځما دَ سر که یا د مال یې
تل جور ستم کړه هغه نه یم چه زړه بد کړم
سل جور جفا کړه بیا لېمه د خوار خوشحال یې

د دنیا خاني میري په زور و زر شي   عاشقي په نور څه نشي پخپل سر شي
و عاشق ته نصیحت په مثال څه دئ   لکه اور چه په پوکلو تازه تر شي
کار ځما او دَ مجنون سَرَه یو رنګ دي   لکه دوه لرګي په اور کي سر په سر شي
چه په دار ئې آبدست کړ پخپلو وینو   کوم سرې به دَ منصور تر ځایه ور شي
څو به راز دَ زړه پنهان لَرم له خلقه   عاقبت به لوي هلك ځني خبر شي
په هر باد پسې پرېشان پرېشان جار وږم   که په بوي مي ستا د زلفو سوړ تېر شي
خوار خاطر مي چه مقیم شو ستا په ورکښي   کله وئ چه ستا له وره ور په ور شي

کله کله چه په مهر بوسه راکړې   ستا تر خوله دِ صدقه شهد و شکر شي
چه په غولي ئې نظر وکړم ستا له ورایه   خارو خس ئې راته گل د پیغمبر شي
زه به هیڅکله وانوړم ستا له کویه   کور او کلي که همه راته لښکر شي
که هر څو سرَی وېښته چَوِی په پوهه   چه قضا وربانديِ راشي کور و کر شي
دَ یار غم له خلقه پټ لَره په زړه کښ   که لاله غُندي دِ ویني درست ځگر شي
چه ئې وروځي ور ښکاره کړې خلقو بویه
چه خوشحال ئې دَ کښتيِ قلندر شي

دریاب څه دَ جالې دَپاره نه ځي که څوک وائي   پخپله رضا درومي جاله هم ورسَرَه بیائي
په غرونو واوري اوري بارانونه په ملکونو   له هیچا خبر ندئ چه په موړه هم څوک پائي
په دوولس برجه گرزي نمر پوره په دوولس میاشتي   پدا خبر دار ندئ چه صیفي دَئ که شتائي
په درست جهان کښ گرزي باد حیران په څلور کنجه   په هر لوري چه گرزي نا خبر چه څه پیمائي
مېوه غلي گلونه ځني رنگ رنگ نعمتونه   له مځکي پیدا کېږي مځکه پروته گل ولائي
څلور واړه عنصر چاکران دئ اې خوشحاله
چاکر هغه خدمت کا چه صاحب باندي فرمائي

دَ دانا په حال نادان کله خبر دئ   چه پخپله نادانيِ کښ اوتر دئ
د لېچن په سترگو وځلېده ستوري   و عالم ته ئې نارې وکړې چه نمر دئ
دا داغونه مي چه ښښي په ځگر دئ   خو هم ما زده چه مي پوخ ځني ځگر دئ
که څوک خپلي سترگي وساتي غم نشته   چه په زړه تندر پرېباسي خپل نظر دئ
خداي دِ هیڅوک پدنیا کښ عاشق نکا   عاشقي پخپل صورت باندي لښکر دئ
لېونَی زړه مي پرون په خندا ولاړِ وُ   راشه گوره چه نن بیا په ژړا سر دئ
چه د فکر مرجوڼا له بحره وکیښ
راشه گوره د خوشحال کلام گوهر دئ

دَ چا به څه لره ماڼه له بله شي   نیك و بده په عمل موندله شي
هر چه وَکړِي هغه به وَرېبي   له خپله لاسه هره کرَله شي
دا خود نمایه محبوبه گوره   چه کله گل شي کله بلبله شي
کله غوغا کا په خرابات کښ   کله دَ ذکر په حلقه داخله شي
لون لون ښېوې ئې ډېری دئ   اول به کومه یَوه ویله شي
نورو خوښیو وته به شا کړې   که دَ یار دَ میني خوښي دِ خپله شي
شمعي چه ژبه په راز اوږده کړه   ځکه ئې هسي کله وهَله شي
چه زاهدان ئې په زهد مومي   دَ عاشقانو په آه گټله شي
جفا ئې واړه په وفا حساب کړه   دَ یار جفا په وفا نیوله شي
که اور در لگی چا ته مه وایه   چه اور را بل دَئ سینه مي سوله شي
خوشحال فهم کړه مجلس دَ عامو دئ
د منصور پیاله به په منصور نوشله شي

دا نه زهد پارسائی دي چه کېږي   په هر لوري رسوائی دي چه کېږي
نصيحت دَ دانايانو لکه باد شو   دَ وګړي خود رايىِ دي چه کېږي
هر ناپوه پخپله پوهه افلاطون شو   څه نابودي دانايىِ دي چه کېږي
مخ بد رنګ زر و ګوهر زېور پرې پوري   څه بې ځايه زېبايىِ دي چه کېږي
نه ئې داد نه ئې دهش نه ننګ نه شرم   دا دَ خلق کد خدايىِ دی چه کېږي
دَ رشتيني ميني بوي نشته خوشحاله
دَ دروغو آشنايىِ دي چه کېږي

دَ دنی دنيا دا هسي قرارداد دَئ   چه ګهي ئې را نيول کله ئې داد دئ
عاقبت به دَ دنيا په غم غمجن شي   هغه زړه چه دَ دنيا په ښادي ښاد دئ
دَ دوشش ناري وهي دوه خال ئې پرېوزي   دا دنيا په مثال نر د سرې نراد دئ
له دنيا نه هيچا کام مونداي ندئ   که شيرين وُ که خسرو وُ که فرهاد دئ
دَ دنيا مثال که وګورې عاقله!   په حساب لکه اُوبه يا لکه باد دئ
نه اوبه په يوه ځاي کښې قراري کا   نه دَ باد په يوه ځاي باندې اِستاد دئ
مبتلا ئې همېشه په زړه محزون دئ   طلبګار ئې هر زمان په بلا ياد دئ
تر وفا ئې د جفا خويونه ډېر دِئ
ځکه هسي دَ خوشحال ځني فرياد دئ

دَ عاشق په زړه دباندې بار دَ يار وئ   خداي دِ نکا چه به لاندې تر بل بار وئ
يَو ځل بيا سر توره مسته را ښکاره شوې   چه ئې زلفی اَوېزاندي په رخسار وئ
ستا په نه ليدن ئې شمار نه ئې حساب شته   اندېښنې په زړه اړاندي صد هزار وئ
چه تا ووينم تازه غزل انشا کړم   پرې بلبلي فرياد کاندي چه ګلزار وئ
په درست ملك کښ چه څوک لافی دَ ښايست کا   همګي دِ لکه سپاندي ستا بخار وئ
ستا تر هر چاري ځارېږم بلا دا شوه   په ما خوار پوري چه خاندې څوک به اَر وئ
تا وَيله چه خپل زړه و ما ته راکړه   دا خوار زړه مي ستا دَ وړاندي که پکار وئ
زه خوشحال دَ يار ديدن وته تلوار کړم
تل بلبلي ځلبلاندي دَ بهار وئ

دَ ښو غشي ئې کل واړه د لدو زدي   عاشقان دَ دغو غشيو غم اندوز دي
نن مي بيا په نظر کښېوته مهر شه   تر لباس ئې شرمنده اهل نوروز دي
په مثال ئې توره شپه دا توري زلفي   ګلعذار ئې څراغُونه شب افروز دي
په بارخو باندي ئې خرپ دئ د غاښونو   دا چيچل مي دَ عاشق نو اموز دي
اغوستن لره ئې پاڼی د سوسن دئ   که دَ نورو جامې روغي شمند روز دي
د کوترى اشارت د ديو مرګ دئ   عاشقان تر کله تېر بازونه بوز دي
سر تر پايه په لمبه باندي ګذر کا
د خوشحال وَيل پدا سبب دلسوز دي

دَ نادان په یاري څه لره څوک ویاړي هر زمان ښکاره یاري را څني غواړي
دَ یاریِ هنر هیڅ ورڅخه نشته که پندونه ورته وایم راته ژاړي
هسي مست بې پروا یار ځما په کار دئ چه د خلقو پېغورُونه سَرَه نغاړي
دَ رقیب په بد ویل عاشق داړه شي لکه سپی پخپلو داړو سرِی داړي
ډېر می وگانډه گرېوان د عشق پکار کښي نور په ما نشي وهل د گرِیوان نماړي
دَ وصال په وخت امان دَ رقیبانو دَ بهار په موسم ډېر گرزی غوباړي[۱]
هر شاعر څخه تازه مضمون دَ ځان دئ
د ښه لیندي صدقه خوري د ښکار شاړي

دَ همه خلقو نظر پخپل بهبود دَئ په هر څه کښ ورته څرمه خپل مقصود دئ
چه څه درد دَ عشق لري ترې به ځارېږم که مؤمن دئ که کافر دئ که جهود دئ
چه خپل یار وَته نظر وَکړم خوشحال شم تر جمال پوري ئې بل جمال مفقود دئ
دَ یار مخ که په ظاهر له ما جدا شو په باطن کښ هر زمان راته نمود دئ
دَ عاشق دَ آه له غشي بویه ویره چه توبري ئې تمامي زهر آلود دئ
دا آسمان چه سراسر کبود لیده شي پرې پوهېږې پورته لاړ دَ زړونو دود دئ
بیا ځما طالع مدد وَکړ په خداړو چه رقیب دَ یار له وره نه مردود دئ
دَ جهان ښادیِ کل واړه ځما دئ غم مي کل واړه په بخره دَ حسود دئ
دَ خپل ور خاوري که ورکا ځان ئې واخلي
دَ خوشحال خټک پدا سودا کښ سود دئ

دَ خاطر مي له اندوهه نه څه ننگ دَئ که ئې زده چه دا ښادی ساعت یَو درنگ دئ
لا مي یو خدنگ له زړه وتَلي نه وئ بیا ځما په زړه نوبت دَ بل خدنگ دئ
هر سحر په ما له ورایه تېغ وکښلي خول په سر یېښي راځي په نیت دَ جنگ دئ
تر چشمانو مي اوره گټه بې نمه تر محنت پوري مي غر لکه لا سنگ دئ
په خروار عیش و عشرت کاندي وگړي خو د ما دَ زړه په بخره عیش تنگ دئ
ما دَ زړه په سترگو رنگ د زړگي وکوت همگی دَ غم په سرو وینو کښ رنگ دئ
دا اسمان چه پاس په سر باندِي څرخېږي په چا چتر مرصع په چا پلنگ دئ
دَ دنیا په لوئې څه باور خوشحاله
پرُون دَور دَ خرم[۲] نن دَ اورنگ دئ

دلربا خوبا وربل دِ تېر و ببر دئ هو هو تار ئې دَ عاشق تر زړه چاپېر دئ
دَ اوزبك تاړاک مي هم دا هسي نه وئ لکه ستا د سترگو تاخت په خوارو تېر دئ
د ما زړه چه دَ مزري تر زړه تېرَي کا ستا دَ سترگو وَ کبلَیوُ وته زېر دئ
هغه راز چه به ما تا سَرَه تنها کړ نه به هېر شي له خاطره نه مي هېر دئ
د غمزې په تېغ ومرم خوني مي ته یې بیا به وایې چا وهَلي په شمشېر دئ

---

[۱] یعنی د خره مچ.

[۲] خرم: شاه جهان، چه خپل زوی اورنگ بندی کَی.

دَ خوشحال و مرگ ته څه توري وکاږي
دبنو ناوک دِ هم ور لَرَه ډېر دئ

دا کلام مي دئ هغو ته چه په هوش دئ
نصيحت ته ئې نيولي دواړه گوش دئ
په ټکي ټکي جامو کښ که لويي ده
دَ سپلمی ملخي هم الا چه پوش دئ
دَ مردانو دَ خپل شرم کاروبار دئ
نور ئې هر څه له خاطره فراموش دئ
دَ زنانو په حساب دي مردان مشه
چه له زېبه له زينته هم آغوش دئ
شړی ور پښتون به سل په ډکه يوسي
کشمېری چه بغرگ شالونه ئې په دوش دئ
هوښيارانو څخه ډېره هوښياري ده
په مجلس کښ چه سامع نشته خاموش دئ
په هغو ئې دَ جهان ښادي پېرځو ده
چه په غم کښ دَ خوشحال سَرَه په خروش دئ

دا ويي ځما دراز دئ
دا منزل دور و دراز دئ
تازي سوار دئ پکښي پاتو
ځُه ټټو څه ټټو تاز دئ
دَ نائي ډېره ناسازه
دَ بل ډېری وته ساز دئ
دَ دانش کښېدې بويه
نه دَ سرو زرو طراز دئ

دَ کمال لافي دِ نکا نا درستي
چه تلقين ئې دا کامل نه وِئ آخستي
دانشمند دَ معما په علم پوه دئ
دَ ابجد په حساب څه خبر نا لوستي
هيڅ کمي و ځان ته نه پرېږدي په ژبه
دَ کردې په کار کښ غوغ په گيسو سکښتي
دَ دانا تر سر مي دُر گوهر نثار کړي
دَ نادان په سر مي پنډ دَ خاورو لوستي
ارادت ئې بر سېرن په وراندي نه ځي
دَ خپل پير په عيب سر شه يقين سستي
دَ ململو قدر چا وته ښکاره دَئ
چه ململ ئې همېشه په تن آغوستي
په هغې يارئِ څه باور خوشحاله
چه پيوند ئې په وېښته سَرَه آمستي[١]

دَ يار غم کله اغيار وته وَلاړ دَي
دَ يار غم خو هم خپل يار وته وَلاړ دئ
د هغه بادشاه له ملکه عالم تښتي
چه د ظلم و آزار وته وَلاړ دئ
بې همت سړی له هر کاره غړېږي
همت ناک سړی هر کار وته وَلاړ دئ
د هغه شاعر مخ تور شه چه په طمعه
و هر وَر و هر دربار وته وَلاړ دئ
خلق هيڅ را خبر ندي چه په عشق کښ
څو فکرونه و ما خوار وته وَلاړ دئ
چه دِ توري زلفي ووينم حيران شم
په حيرت سړی تور مار وته وَلاړ دئ
په بورجل باندي دِ هسي نا قرار شم
لکه څوک چه و گلزار وته وَلاړ دئ
ليوني خوشحال په نن دَي ديدن ورکړه
د سبا فکر هوښيار وته ولاړ دئ

---

[١] محشی ورته ليکلی يعنی ترلی.

دا ستم چه خپل آشنا دَئ په ما کړئ   نا آشنا سړی به نه وئ په چا کړئ
په یارئ د ِ ئې هیڅوک غلط نشي   وار په وار ئې درست عالم دي تر شا کړئ
گوره سر به ئې په رندکه په زاهد شي   د غمزې خنجر ئې اوس دئ تر ملا کړئ
دَ مخ خال ئې تور تارو دَئ په گلزار کښ   دَ زړه باز مي دَئ نظر پسې وا کړئ
خدایه ته ئې دَ زړه مهر په ما وکړه   چه دِ زه په ظالم یار یم شیدا کړئ
دَ فراق غمونه هسي را پسې دئ   درسته شپه ئې و ما خوب ندَئ را کړئ
زه به ولي دَ ښه مخ نندارې نکړم   نندارې لره ئې زه یم پیدا کړئ
یَو وصال دَ ښو یارانو بل هجران دَئ
چه خوشحال ئې په خندا په ژړا کړئ

دَ تقوا لافي وهي دَ صادقی   په قاضي ئې گواهان تېر دَ فاسقی
په رشتیا خبرُو هم متردد یم   په وسواس کړم دَ عالم منافقی
دا چه وائي څوک به هست کړم څوک به نیست کړم   سکه دعوا کاندي سړی دَ خالقی
که عذرا په ملك کښ شته مخ دِ ښکاره کا   زه په تن کښ زړه لَرم دَ وامقی
آدم زاد په تفاوت سَرَه پیدا دي   یَو په بل تېري لَري دَ فایقی
دَ بزرگانو په مسند هغه تېرَي کا   چه لري واړه اسباب دَ لائِقی
ننگیالیو سَرَه وېره دَ سر نشته   سر سړی پرېکا دَ خره په سارقی
نمر په گوته پټاوه نشي خوشحاله
هېڅ منکر مه شه دَ خپلي عاشقی

دَ هغو چه گرزېدَنه ستا په تل شي   ستا په تل به ئې آخر سرُونه تل شي
ستا چشمانو مي زړه یو ښو قبل کړ   دَ هغو به څه احوال وِئ چه قبل شي
دَ وصال دَ ناوي مهر څه دَئ غم دَئ   هغه هم واړه یکباره معجل شي
عشق یو څه دَ مزري برېت دی په کوگل شي   دَ رنځور ئې په څو ورځي رنگ بدل شي
ښایسته که هر څو لافي دَ ښایست کا   چه ئې ته په نظر کښېوزې نور خجل شي
یو گلزار په یوه درنگ کښ شگفته شي   چه ئې زلفي په بارخو باندې وَلَول شي
تر هرر حرف ئې دَ خطا نافې ځاربېږه
آفرین دِ د خوشحال پدا غزل شي

دا چه گرزي کښښې پاڅې پایڅې لنډې[1]   شانکي وَهِي در بلي څربې لنډې
دا همه واړه زهزن د طریقت دِي   خپلي خوني لَرهَ ورِي پردیِ گنډې
نیك و بده چه و چا وته رسېږِي   پخپل ځان تري دا دواړه په ډوډنډې[2]
د عالم رخنې تره په سبا دَي مره   خبر نه دَي دا گیدي[3] له خپلي انډې

---

[1] دا بدله عیناً وکښله سوه اکثر ابیات ئې حل طلبه دي.

[2] په بله قلمي نسخه کي ډونډ کښلي دَي.

[3] گیدي سید راحت په معني دَ خره راوړي دي یعني دا خر له خپله انډي (بار) خبر نه دَي.

ورنځور ته ورکوه صحت په نذر[1] — کښلي زوي[2] په دروغ ورکړه و شنډي
قتلولَي ورکولَي باور وکړه — چه هم دا دِي په دنیا کښ دَ دین خنډي
چه به بې خداي یقین په نور څه کاندي — د هغو دَ ایمان یو وړې شیطان ونډي
عالم کفر ته وباسه په زمان کښ — دَي تر خپل ایمان وتلي لا په څنډي
شرعَ منډ۰[3] د بني ده چه ولي دَي — یو قدم په بل سر نه درومي له منډي
دا ئې ذکر دَ کامل نه دَي اخستي — لکه خرونه نارې شورې[4] وهي ترنډي

لا به کله دا سګان وژنې خوشحاله
چه به دا ثواب حاصل کړې پنډي پنډي

دا سړی خو په ادب سره سړَی دئ — چه ادب ور سَرَه نه وئ نور څاروی دئ
چه وفا ور څخه نه وئ سړَی نه شه — تر هغه نه په وفا کښ بهتر سپی دئ
عادلان می دَ جنت دَ ګلزار ګل دئ — ستمګر مي دَ دوږخ دَ اور لرګي دئ
سپی چه چا سره آشنا شي چه بر وَخوري — و هغه ته ئې تم نه وِئ څو ژوندي وئ
دَ انصاف د څښتن غم دَ دوږخ نشته — دَ انصاف مي تر طاعته لا پرخی[5] دئ
په ښه خوي دَ سړی قدر قیمت کېږي — بد خصلت سړَی یا د یو دَئ یا پېړی دئ
چه ئې علم هنر نه وِئ څَني تښته — بې هنر سړَی که وګورې لا شي دئ
چه په پند په نصیحت دِ بندي نشه — تور زنجیر ور لَره بویه که مزري دئ
په روا په ناروا دَ ملحد څه دئ — په مذهب دَ ملحدانو کوکري ورَی دئ
دَ راحت په وخت دَ یار تجربه نشي — چه محنت در سره واخلي یار دِ دَئ دَئ

هر زاهد چه زهد واخلي بې مرشده
دَ خوشحال ختِك په پوهه تش ملخی[6] دئ

دواړه شونډي دئ شراب پرتګالي دئ — په سره والي له یاقوتو په سیالي دئ
په سپین والي په ښایست په زېبایَی — واړه غاښ ئې مرغلري لآلي دئ
په ښېوه ښېوه چه پل کښېږدي په لاري — کښلي پښې ئې دَ ګلزار په پایمالی دئ
په کالیو سَرَه مخ ښایسته کېږي — ستا په مخ ښایسته ستا دَ مخ کالي دئ
په طلب په استغنا چه تجربه شول — عاشقان معشوقي دواړه جنجالي دئ
نن هغه سړی که غواړم مونده[7] نشي — چه خوشحال د ما دَ زړه په خوشحالي دئ
هره چار ئې قبلوه که پرې مېَن یې — ښایسته کله له خیاله نه خالي دئ

---

[1] دا کلمه په ټولو نسخو کښ نظر راغلې ده مګر ندر به صحیح وِي.

[2] کښلي زوي ورکوه دروغ د شنډ.

[3] دې کلمې ته محشي لار ترجمه کښلې ده.

[4] دا کلمه په هره نسخه کښ جلا املا لري.

[5] د ضرورت نه زیات (دریاب، پښتو لغت)

[6] پلی دی.

[7] نه ئې مومم.

پہ ورېښمینو نہالیو دِ نور خوب کا دَ کوڅې خاوري ئې ما ته نهالي دئ
دَ فراق په وخت د ما سترگو ته گوره په ژړا ژړا شېبې ښنکالي دئ
تل ژړا ناري بلغاكي خوب په څو كا چه میشته دَ فراقجن په حوالي دئ
زه دَ مستي په پېزواند باندِي مَین یم که دَ مخ کالي ئې غوره غوټیالي دئ
نوم ئې مه اخله خوشحال وته په ژبه
مخ ئې تور که په ياري كښ ټېټالي دئ

دَ هوښیار دَ نادان هونبره تفاوت دئ څو دَ مځکی دَ اسمان په منځ کښ وت[1] دئ
نادان څورب فراغت گرزي خوښي كا هوښیار تل تر اندېښنو لاندي چت پت دئ
که په ما باندي څرخ خوری پروا ئې نکړم د هر هر کله دانا سره په نښت دئ
که حاتم شي یا رستم شي خوله ئې گوره چه ئې لافي د خولې وكړي نور انډت دئ
عشق یو مست هاتي وَلاړ سَرَه ښورېږي دا په ځان خوني عاشق ئې مهاوت[2] دئ
چه دِ کم اختر پرې وشو لوي به هم کړي چه خيرن در څخه نشي دا يوخت دئ
څوک د بل د کورته[3] خوري ور پسې گرزي چا خوړلي به درست عمر ښکار د گورت دئ
د تحصیل او د ترتیل بلا په ده شه چه ملا د حق گويى په کار ساكت دئ
حاجي ولاړوُ و مکې ته راغي ده مي په دروغو په حرص ډک کړئ کت دئ
چه دیدن ئې دَ گلرويو سَرَه كېږي مي دِ خوري نوروز دِ کا بهار ئې نت[4] دئ
چه په کور کښ ئې کښېږدي په چا ئې نه خوري خدايه مال ئې و ما راکړه چه معنت[5] دئ
چه کردار ئې موافق د گفتار نه وئ همېشه دَ دروغجن په ږېره ډت دئ
دَ باطن په سترگو گوره هغه مخ ته ظاهري نظر دَ نمر په ليدو تت دئ
دَ خوشحال کلام شيرين دئ تر نباتو
چه په خوند ئې خبر نه دئ ورته کورت دئ

دَ سوخته وو، یو وصال دئ چه هجران پکښ محال دئ
دَ یار غم چه معشوقه شي نور ئې وصل لا یزال دئ
که هزار پردې تر منځ وي هغه واړه اتصال دئ
چه راځي دَ یار له لوريه ورته بس هغه شمال دئ
چه په عشق کښ ئې سوخته وئ ور ښکاره هغه جمال دئ
دَ هغه بيلتون له کومه چه تل خوښ دَ یار په خیال دئ

---

[1] یعنی سوری او درز او فاصله.

[2] دا کلمه هندی ده یعنی فیلبان.

[3] یو قسم پخکرې چه د اربشو د اوړو او شوملو نه جوړېږی (درياب، پښتو لغت)

[4] یعنی غنیمت.

[5] دا کلمه عیناً ولیکله سوه په ځنو نسخو کښ مغت راغلې ده تحقیق غواړی که داسی سی معنا ورکوی، مال ئې و ما را کړه غنیمت دی.

مخ دَ یار گوره په تیل[۱] کښی
دَ خوشحال خټك مثال دئ

دَ فساد فکر نشته خداي حاضر دئ　　خپل ساعت به تېروم عمر آخر دئ
اطاعت دَ اولو الامر ځکه نکړم　　خلیفه د زمانې په زړه کافر دئ
پلار ئې ووژي په بند ورونه په توره　　په آزار دَ مومنانو بهادر دئ
دَ ابلیس غُندي مکرونه ئې په زړه کښ　　په فریب کښ تر ابلیسه لا ماهر دئ
په باطن ئې ودانی ته نظر نشته　　په ظاهر که ودانیِ ته ناظر دئ
دَ چا زړه به ځني روغ په دنیا نه وئ
د خوشحال خټك چه چاود ځني خاطر دئ

دا دنیا ده چه پدا کښ څه موجود دئ　　دَ دنیا سَرَه همه واړه نابود دئ
بد هغه چه ئې نظر په سود و زیان دئ　　ښه هغه چه نه په زیان نه ئې په سود دئ
نه محمود شته نه ایاز دور ئې تېر شو　　په جهان پاتو خبري دَ محمود دئ
د خپل دین د خپل ملت سیله ثنا کا　　مؤمنان دِئ که ترسا دِئ که جهود دئ
تربیت ئې له فلکه دَئ موندلَي　　که پوهېږې چه دا درې واړه موجود دئ
که آفتاب دئ که ماهتاب که واړه ستوري　　ورځ و شپه په عبادت کښ دَ معبود دئ
پخپل حکم به ئې بیا سَرَه تازه کا　　دا هډونه چه په مځکه کښ فرسود دئ
آغوستن که ئې زربفت وِئ که شړیه　　پدا دواړه توکه ښه سړی خوشنود دئ
که دَ لیري که نیژدې شمارونه مکړه　　چه به درومي یا را درومي واړه زود دئ
په قیامت په بل ژوندون چه شك گمان کا
شگ پرې مه راوړه خوشحاله چه مردود دئ

دَ هوښیار غلطي نه وِئ او که وئ خو دَ خندا شي　　پخپل عقل غره مشه که غره شې حیف دا شي
دَ دنیا مینه ډېر مکړه دَ دنیا مینه څو ډېر کړې　　و زړه ته به دِ هونبره ډېر غمونه را پیدا شي
قربان ئې تر همت شم ځني هسي لیوني شته　　که تخت د سلطنت وِئ پرې دَ دوي کله پروا شي
چه ستا نصیب قسمت دئ که طلب ور پسې نکړې　　په غېږ کښ به دِ واړه خواه ناخواه در لَره راشي
دَ یار دَ زړه ساتنه په مثال دروغ کالي ده　　هیڅ حال د کالي نه وئ که پیوند دَ کالي بیا شي
چه باز دِ پرواز وکا په طلب ورپسې گرزې　　که بخت مدد کاري کا چه ئې ونیسې بیا ستا شي
نادان دئ که هوښیار دئ له هر چا نه عقل اخله　　یا تور عشي خطا کا دَ هلك غشي رسا شي
چه دئ وخوړ هغه ستا دئ مال چه نخورې[۲] بلا دا شي　　په مرگ یا په ژوندون به په نصیب گوره دَ چا شي
مدد د طالع بویه چه هنر سَرَه همراه وئ　　هنر به سود ونکا دَ طالع که درته شا شي
په زړه کښ خپل غرض دئ چه هیڅوک ځني خلاص ندئ　　یا یافت دئ یا نیافت دئ چه خندا شي یا ژړا شي
خپل ځان وته ئې وائي خوشحال دا خوږې خبري
حلوا ده د نباتو که تر خوله دِ دا حلوا شي

---

[۱] تیلې یعنی اورلکیت یا کوگړ (دریاب، پښتو لغت)

[۲] تحویلدار یې.

دنیا بده بلا ده چه و ما وته ښکارېږي   په دې له خپله پلاره سکه زویه وېزارېږي
چه څوک و بله خپل دئ ولي فهم فکر نکا   چه مرگ شته په دنیا کښ سره ولي نه ځارېږي
په هر لوري چه گورم و عالم وته حیران شم   وینا د هیچا نده په دنیا سرَه خوارېږي
و بل ته توره واخلي پدا کار کښ ډېر حیران شي   چه خپل دِ په بدي شي ستا وَ جنگ ته تیارېږي
چه بخت را سرَه مل وُ مار به مار ته څومښکی شو   چه بخت و ماته شا گړه څومښکی راته مارېږي
دنیا دَ مست هاتي په خوي خصلت ده که ئې گورې   چه یو مهاوت ومړ بل ئې شاته تیارېږي
عالم عالم غمونه چه خوشحال وینی له خپلو
غم خور ئې که پیدا شي خپل پردي ته به شمارېږي

دَ ناکس دَ تربیت سرَه څه کار دئ   دَ سنگیر دَ زراعت سرَه څه کار دئ
که خپل پلار ئې په ډېر مهر ورته وائي   دَ نادان دَ نصیحت سرَه څه کار دئ
که تر ملا ډکه درسته په ښه آس سپور شي   دَ نامرد دَ شجاعت سرَهَ څه کار دئ
ۥورځ و شپه دِ په آرام باندِي تېرېږي   دَ بې ننگ دَ حمیت سرَه څه کار دئ
په پالنگ که درته کښېني کښلې حوره   د نامرد د ښه صورت سره څه کار دئ
د گاوزو ور مېږونه مزري نمورِي   د گیدړو د قوت سرَه څه کار دئ
چه هوسیه په میدان وهي تازیان دئ   دَ کوته د دې حالت سرَه څه کار دئ
فصاحت دَ باغ بلبلو څخه غواړه   دَ کارگه دَ فصاحت سرَه څه کار دئ
چه له ځایه يې په بخره سلامت شو   د زاهد دَ ملامت سرَه څه کار دئ
دورمه هر لوري ته گښت کوه خوشحاله
دَ رندانو دَ خلوت سرَه څه کار دئ

دا دروغ دَئ چه په ستوریو سود و زیان شي   سود و زیان واړه په حکم دَ سبحان شي
که دَ رنگ خوبی ئې شته لوئي له کومه   دَ کاغذ گلونه هم دَ گل په شان شي
زمانه په طبیعت دَه دَ هلکو   هلك تل چه و چا ورکا ژر پښېمان شي
دَ دنیا اقبال چه مخ کا وَ نادان ته   دانشمند ئې دَ خبرو نه حیران شي
دَ منصب سرَه دَ ما خبري دُر وې   اوس راضي یم که په چا باندِي مرجان شي
گوره کومه چار به کانده مخ ښکاره کا   دَ عالم خبري ډېري تر دا میان شي
دا دنیا لالچ څو ډېر اندوه ئې ډېر وِئ   چه ئې ډېره ټولَوِي ډېر پرېشان شي
دانشمند څخه چه مال دَ دنیا نه وِئ   وَ عالم وته په مثل دَ نادان شي
زه خوشحال ختك هغه یم قدر نشته
دا مي واړه له افغانو نه افغان شي

دا مستي به دي تَل نه وِي څو به گرزي   په خمار سره اَوُښتي سترگي سري
که بې شماره خزانې کړي سرَه ټولي   دَ دنیا ارمان به بیا وَگور ته وري
ستا پخوا دَ طبیلو څښتن وگوره   چه په کور باندِي ئې گرزي غوا و خري
همېشه وایي فاني دنیا گنده دَه   که گنده دَه ولي نه تېرېږې ترِي
په دنیا څو ډېر مین هونبره غمجن شِي   جگي جگي راشه مکړه مینه پري

يَو غفلت بل جهالت دريم شهرت دَی
دَ خوشحال دَ خان بلا دِي هم دا دري

دا يم راغلم پدا عمر چه می ويني — زلمی توب را څخه يوور ږېری سپيني
يَو دا ښکار بل دَ کتاب بل دَ دلبرُو — په جهان کښې نوری نشوې دا درې ميني
دَ همت جامه مي سپېنه پاکښيزه ده — پرې دوستی دَ زړو څه وه لکه ويني
شېخ ملا زاهد عابد ور خبر ندئ — چه په زړه کښې دَ عاشق دي دلنشيني
که ټټر وَهې له تيږی گمان مکړه — چه به مهر په تا وکا زړه سنگيني
دا دوو گَونو مراد کل درکا په غېږ کښ — په خندا چه در کنار شِی مه جبيني
نور به کوم ارمان دا گنج دَ کنجينې کا
چه په غېږ کښ ئې نيولی تن سيميني

دَ باطن په تجلي ظاهر صفا وِئ — دَ بد ذات په آشنائي کښ سل جفا وِئ
لکه نوم چه دَ کيميا دَ عنقا اروې — تر دا دواړو نه نايابه لا وفا وِئ
د ناکس سړی نه زر خبري واروې — په يَوه وينا ئې کله اکتفا وِئ
د دې دور په يارانو غلط مشه — مخامخ ئې درته مخ قفا قفا وِئ
دَ هغه طبيب طلب کَوه خوشحاله
چه دَ مخ په تجلي کښ ئې شفا وِئ

د ما کومه انديښنه ده که ما پرېږدي — ته به نوم د بې وفا په خپسر[1] کښېږدي
زه يو هسي يار لرم که مي روزي شِي — که صفت ئې درته وکړم و به رېږدي
ته سړی يې که ځاروي يې رنگ دِ ورک شه — د بهار په سرو گلونو باندِي پښې ږدي
ما په ډيرو ستو اور دَي لگوَلَي — په دا څه که څو خسړي باندي کښېږدي
زه چه ستا په دا اُوږدو زلفو مين شوم — لا به څو دور او درازي راته بلېږدي
د خوشحال خاطر په مثل سجنجل شو
واړه ته د خپل جمال نخښي بکښې زدي

دا څه بارخو دي ستا دَ تورُو زلفو لاندي — پروتي دي په گلو د سنبلو پاڼي تاندي
تل ئې په طلب وم آخر خوښ له خپله بخته — هسي يار مي بيا مونده چه عالم ئې کيسې[2] کاندي
قيس وُ که وامق وُ که فرهاد وُ که خسرو وُ — هر چه عاشقي کا[3] سل رحمت په واړو باندي
نور خلق فاني دِي که باقي دِي هم هغه دِي — هر چه په فاني دنيا يادېږي ورد ستور ړاندي
نوري کيسې څه دي و خپل ځان ته نصيحت دَي — شمع ته نظر کړه خود[4] به وژاړې چه خاندي

---

[1] دا کلمه په ټولو نسخو کي دغسي ده، په يوه قلمي نسخه کښ محقي ځان ورته کښلي دي، ممکنه ده چه مخفف د "پخپل سر" وي.

[2] دا کلمه په ټولو نسخو کي دغسي ده، يا به کيسی وي په معني د معما او چيستان، يا به مفغن د قصې وي.

[3] هر چه عاشقان دِي.

[4] خو به وژاړې.

ته ګوره په چرته، زه خوشحال په کوم ملکونو
پاس په زړه پرتې دِي ستا د تور وربل پياندِي

دواړه سترګِي مي چه ستا په لور دوخته شوې   په لَمني کښ مِې اُوښي اندوخته شوې
په مانړِي مانړِي ئې خوره مزه ئې اخله   ته ځما دَ زړه په وينو آموخته شوې
په لکونو په کروړونو دِ بها دئ   دَ يوسف غُندي په سهل فروخته شوې
ما وې ته ځما دَ توری شپې څراغ يې   ولي تلې په بله څُونه افروخته شوې
چا دا اور در لَګولَي دَئ خوشحاله
چه لاله غُندي دا هسِي دلسوخته شوې

ډېر مئَن په تازه مينه سرَه تېر شيَ¹   په هجران ئې خوږ ژوندون زهر ګنډېر شي
لا يو غم مي تمام نه وِئ څه نصيب دَئ   چه ناڅاپه نور غمونه را برسېر شي
زه په وير دَ معظم په غم کښ ډوب وم   خبر نه وَم چه طاهر به تېر و بېر شي
لکه ډېره دَ طاهر نوې په زني   دَ هر هر وېښته ئې غم را باندي ډېر شي
خدايه هسي غم بل ما ته پيدا مکړه   چه په ده مي طاهر خان له دله هېر شي
"طاهر وَ مړ په شباب کښ" دا تاريخ دئ
چه به کال دَ ده وَ مرګ ترې را برسېر شي

راستي لاره ده بادشاهي   پکي نشته ګمراهي
دَ رشتينو پروا نشته   دَ جهان په بد خواهي
دَ رشتينو سرَه مَل وِي   تل نصرت دَ آلهي
دَ رشتينو ځاي جنت دئ   دَ قرآن په ګواهي
بيا به نه مومې خوشحاله
په راستي کښ تباهي

رفتار ئې مستانه دئ   په غمزه کښ يګانه دئ
دا پسر په لب شکري   چه هر غاښ ئې دُر دانه دئ
که په سترګو ئې نظر کړې   کل له نازه همخانه دئ
که و مخ وته ئې ګورې   لاله ګل ئې نښانه دئ
پدا پېچ و تابو زلفو   چه دَ مښکو خزانه دئ
لا ئې پی څاڅي دَ شونډُو   په هر کار کښ فرزانه دئ
ځما ځان تر ده فدا شه   چه هم ځان هم جانانه دئ
نه چه زه په ده مئَن يَم   دَ همه خلقو ستانه دئ
خپل صورت ستائی پخپله
دَ خوشحال زبان بهانه دئ

---

¹دا بدله خان دَ خپل زوی طاهر په مرثيه کښی ويلې ده، په آخر بيت کښی "ظاهر و مړ په شباب کښی" دَ ابجد په حساب (۱۱۳۰) راځی، چه دَ مړينی کال ئې دَی.

رنګ دِ ورک شه بده روې   را پسې یې سینه سوې
له یوې فتنې دِ خلاص شم   را پیدا کړې بله نوې
ستا غمونه هسي ټوغ کړم   وکښي نه شمه سیلوې
چه اوده وې هونبره ښه وې   کشکه تل وَې اوده شوې
پرې به کله باران وشي   چه به و ټوکېږي سوې
فصل نه کوي خوشحاله
څو پټي نشي په یوې

را ښکاره دِي د دې دور لنډ لستوني   پردي مال وته اوږده لاسونه موني[١]
که په باغ ئې دَ یتیم دَ کنډي ګډ کړې   دَ انګورو به خواږه ړنکوري چوني
دَ خوږو مزه پوښتي بزه ئې هېره   ښې څربي لنډي وهي ور باندي سوني
کله سر په سینه ومنډي سرګي شي   کله سر موږي دَ مار لکه سربوني[٢]
چه په ښهر په اولس کښ ساده هېښ وئ   ورځ و شپه پرې حواله وئ لکه کوني[٣]
پخپل ځاي لکه شا خوږي خر خوله خشکه   په بل کور لکه آس په راتب پوني[٤]
که څه کار دَئ دَ رندانو دَئ خوشحاله
چه ظاهر باطن ئې دواړه دئ مخ روني

راشه ګوره نامردان بلا وَهَلِي   دَ بري میدان پرېږدي لري ته زغلي
دَ اسمان دَ پاسه ګنبت نندارہ نکا   کوز د مځکي د تلی په منځ کښ ملي
کم دلیل دِ دَ سر دواړه سترګي وخوري   په تور تم د جنازې سره څملي
مړه هغه چه نه ئې نوم نه ئې نښان شته   تل تر تله په ژوندون پائي ښاغلي
څوک پخپل پټي کَرل کا دَ اغزیو   چا پخپل پټي ګلونه دِئ کرلي
پسینه کرله هونبره فائده نکا   چه په وخت کرله وکا بر آخلي
دَ کرلو وخت آخر شو تخم لَږ دئ   خوار هغه چه ئې له کره لاس ختلي
چه محنت په ځان قبول کا راحت مومي   رنځ و ګنج سَرَه دا دواړه دِئ ترلي
چه لذت شهرت ترک نکا ولي ندئ   اولیاء ندئ دَ نفس په خوښي تللَي
دَ هوا ترکَول عروة الوثقی دي   دروېشان پدا وَیل دِي پوهېدلي
چه دَ نفس د ظلماني کوهي را ووزي   دَ هغو سترګو ملکونه دِي لیدلي
درخانی پکښي یو آدم خان خوښ کړ   یوسف زئي ځوانان ډېر وه سپاره پلي
څو مخلص تمام خالص نشې خوشحاله
خطر ونه دِي چا پېر در جار وتلي

---

[١] سرمایه، رقم.

[٢] موش خرما، خړ رنګه ځناور چی د مار سره جنګ ئې ډېر مشهور دی.

[٣] ګنځی.

[٤] میده شې، ووړ شې.

دېر مین وه چه ئې لافي کړې د میني   په ارمان و بله تېر شول که ئې ویني
څوک چه یار په اوښیو ژاړي ژړانده   ژړا دا ده چه ئې وژاړي په ویني
دَ رشتیني میني کار خو دا خپل زړه دي   دروغجني میني غواړي توري سپیني
دَ مجنون او دَ لیلی مینه رشتیا وه   دَ پروېز او دَ فرهاد او دَ شیریني
ستا په رنګ به په جهان راغلي نه وي   په جهان که ډېري تېري دي رنګیني
توري سترګي دئ شهلا نرګس دا باغ دئ   توري زلفی دِ سنبل دي مخ نسریني
له د یو خاورُو نه چه ګل زېږي خوشحاله
دا پدا چه تل ور درومي مه جبیني

راشه ګوره څه کارُونه درنګ په درنګ شي   په ساعت دَ دنیا چارې په بَل رنګ شي
واړه وَسوځې په اور کښ خبر نه یم   بیا له کومه را پیدا هونبره پتنګ شي
لا به کله مخامخ را سَرَه خاندې   چه کاته ئې ګه ګهي راته په څنګ شي
چا وَیل دَ کښلیو جنګ پسې آشتي وئ   ولې ما سَرَه آشتي نکا په جنګ شي[1]
په هر چا باندې ئې زړه دَئ لکه ژاوله   خو په ما باندې چه راشي زړه ئې سنګ شي
حال دئ وګوري د ما بیا دِ آهنګ کا   دَ هر چا په عاشقی ته آهنګ شي
په فراق دَ مهوشانو لا چینه دئ   که روان ځما له دواړو سترګو ګنګ شي
تا په خپله رضا وینو په غوره
اوس دِ ولې دَ خوشحال دَ یاری ننګ شي

راشه لېونی شه چه دئ نور خلق غم خور شي   څو چه هوښیاري کړې غم به لا دربانديي زور شي
هیڅ پرې نه پوهېږم چه دَ چا وَیل رشتیا کړم   سل رنګه خبري پدا منځ کښ لور په لور شي
صبر دَ دردمنو زړونو هر کله اثر کا   خدایه لا به کله دَ غماز سړی مخ تور شي
زر هنر وکړه نصیحت په کوم حساب دئ   هر چه ځائي خوي دِئ فکر مکړه چه به نور شي
یو هندو بلا دَئ چه په مکر ټیکه کښېږدي   څوک به ترې خلاصېږي هغه ځاي چه درې څلور شي
سپین جمال دِ ګوره ښایسته په تور خالونو   تل په کښیده باندې ټکی دَ انځور شي
درسته شپه مي تېره په فریاد او په نارو کړه   شپه ئې دَ هجران وه سور پالنګ په ما سور اور شي
غیر بېګانه چه اخلاصي شي ورور هغه دئ   ورور چه بېګانه شي راته وایه کله ورور شي
دېر دي په دا چم کښ چه پټ پټ دَ میني لاف کا
ولې اوس یوازي وَ خوشحال وَته پېغور شي

را ښکاره چه دَ دلبری وَ مخ خال شي   لکه ښکار دَ ښکاري ولګي خوشحال شي
په څو ژبې شاعري په جهان کېږي   دَ هر چا ثنا صفت دَ ښه جمال شي
دنیا دار کره چه نه وِئ ښې دلبري   اور دِ پوري دَ دنیا په ملك و مال شي
په وصال دَ سمنبرو زړه تونګر شي   چه ئې نه ویني په سترګو خوار کنګال شي
چه عاشق دَ معشوقې په عشق کښ غرق شي   جدائې له منځه ولاړه تل وصال شي
ارمان دا دَي چه به زه همېشه نه وم   همېشه به سره ګلونه کال په کال شي
دَ ګلونو وخت تېرېږی ساقي ګرم یې   که دَ جام په راکوَلو دِ اهمال شي
لکه باغ چه په ګلونو مالا مال دئ
د ما جام دي په شرابو مالا مال شي

---

[1] تل ئې ما سَرَه آشتی ده که په جنګ شی.

راشه گوره دَ يارانو بې غمي هونبره مهر هونبره مينه محرمي
زه دا هسي په فراق په اشتياق کښ حقيقت ئې راته نه کړ قلمي
اسمان لېري مځکه کروړه عاشقان دي چه په څو رنگه غمونه تل زغمي
ما پدا جهان کښ غوښته مونده نشوه که په بل جهان پيدا شي خرمي
څوک چه دم دَ همدمی وَهي ترې سوړ شوم چه مي وليده دَ خلقو همدمي
چه په هيڅ ساعت خالي نه وِي له غمه مگر غم لَره پيدا دَي آدمي
هيڅ طبيب نشته چه حال ورته معلوم کړم چه په کوم زحمت کښ پروت يم المي
ته چه ما ته عربي خبري وايې دَ عربو ژبه څه زده عجمي
که خبر په دا مثال يې وئې وايه چه په گوته يوه گوته دوه غمي
بادشاهان به ئې مېڅ کم نکا خوشحاله که يو خداي دَ سړی نشي په کمي
که قدم د دَ وفا په لاري ټينگ کړ
دَ خوشحال په پوهه دا ده رستمي

راشه گوره خلقه نصيب په څو خوري توري نور ځوانان وهي منصب صد وخوري
په غارونو کښ مزري څټي منگلي په تياره د گردې و ازدي پيشو خوری
هغه ډک طباخ په سپی خوړلي ښه دئ چه تر څنگ ئې دَ عورتو پر سوپر وخوری
لکه څوک چه ډک چلم څکوي په غم کښ فواقجن هسي لوگي دَ اندېښنو خوری
دَ فلك د نا قابل سَرَه عيرت دئ نا قابل به دَ نباتو حلوا څو خوری
لا به کله هغه گنج ورکوې بخته!
چه خوشحال به ئې په پليو په سپرو خوری

را ښکاره شوې دَ جهان بې وفايی نور مي را څکاوه قلم په آشنايی
لکه اور په بوټی ولگي بيا نه وئ يو څو ورځي دَي ارمان دَ جدايی
روښنائي دَ معرفت تر نمر والا ده څوک د و نه وزي له هسي روښنايی
له يوه څاڅکي نه څه صورت پيدا کا هم په خداي ښائي کارونه د خدايی
تا هاله و گل خبل زړه ورکړي بلبلي که ئې تل وَئ دا بازار د زېبايی
په گلزار کښ ناستي هم دا هسي نه وِئ چه خبر شوم ستا له قدره تنهايی
چه پخپل کوښښ بهبود دَ دنيا غواړي تا ته هېڅ نه دِئ دَ خلقو دانايی
چه ځما دَ درد علاج لَره پيدا دِئ زه له چا غواړم دا هسي موميايی
چه بلا ورسره وصله دَ فراق ده دَ دلبرُو حسن څه لَره ستايی
چه گوهر تر خر مهرو په قدر کم دئ مگر نشته جوهري دَ بينايی
چه په چرته ښه صورت هوري ئې زړه دئ
څو ثنا کړم دَ خوشحال دَ پارسايی

رحمت په اکوړی شه چه ئې ونيوه ځاي سراي چه ښه فهم ئې وکړې باور وکړه ځاي دَئ ځاي

تور غر ئې د هوډی دئ تر تیراه پوري سم تللي نیلاب و لنډئ دواړه عجب سر یښي په پاي
پرېِ سازه لویه لار دَ هندوستان و خراسان ده ګذر ئې دَ اټك دي چه ترې ترس کا شاه ګداي
هر فیض دِ دَ جهان څه چه یادېږی پرېِ را درومي که ملك ئې بارانيِ دَئ څه بهار لري هاي هاي
که سوات که اشنغر که بېښور دَئ دا ملکونه رجوع لَري وَ ده نه فیض ور درومي دَ هر ځاي
په هر لوري ئې ښکار شته دَ شاهین دَ باز دا هر څه واه واه کاله باټه ئې چه ئې ښکار دئ دلرباي
ځوانان ئې چاق درست چست و چالاک دئ په هر کار کښ خوښ سترګي سپین او سره بلند بالا دئ په نماي
پکښې میشته مي زویه خېلخانه نمسي اولس دئ[1] چه څوک پکښي میشته دي په امان اوسه دَ خداوي
اسمان ځني جدا کړ لاس دَ چا رسي اسمان ته
خوشحال له سرایه ندئ جدا شوي پخپل راي

زلفي د دلداري چه زنار فرمائيِ څه لَره و ما ته څوک بل کار فرمائيِ
سهل دَي دا امر که مي سر و مال قبول کا څوک به دا وَیل کا چه دشوار فرمائيِ
څه لَره اي عقله ډېر له صبره راته وايېِ زه بنده دَ عشق یم دَی تلوار فرمائيِ
څو راته ناصحه نصیحت کړېِ لېوني مي کله هسي کار کا چه هوښیار فرمائيِ
ما ترېِ توبه وکړه چه دَ عشق په شریعت کښ دین مذهب هغه دئ چه دلدار فرمائيِ
قطع لېوني دي چه دَ یار دَ مخ په دَور څوک وَ ما ته سېر د ګلزار فرمائيِ
خپله رضا پرېږده که رشتیني ئې په عشق کښ
کړه هغه خوشحاله چه دِ یار فرمائيِ

زوړ سری چه د ځوانیٔ هوس کانديِ ورته وایه چه د څه په کُنه خانديِ
چه په کال کښ ئې زړتوب وي هم ځواني وي د سري تر کاره ښه دَي کار دا سپانديِ
لکه هسي په ځوان موړ شي چه ئې نه خوري کله ځوان ته سترګي آړوِي نغلانديِ
په نیتونو په صوتونو په لاسونو خلقېِ دِي سَرَه یو تبله هړانديِ
اوس په سپینه ږیره څه له مرګه ډار کړم یاران توري ږیري ولاړل تر ما وړانديِ
چه د مځکي مخ ئې لاندِي وُ تر حکم راشه وګوره هغه تر مځکِي لانديِ
دا عالم رېګ روان دَي که ئې ګوريِ خو هم هسي سَرَه اَوړي لاندِ بانديِ
د قضا تنور ما ولیده په سترګو
ما خوشحال چه پکښ سیځِي وچي تانديِ

زه چه ستا دَ مخ ګلزار ګورم په کور کښي دَ بهار ګلونه وسېځم په اور کښي
ما پدا تندي اخیستي ستا دَ پاره که زه تا غُندي یار مومم په پېغور کښي
دَ ټولیٔ په مخ کښ ځِي په شین شین لکه مست هاتي چه یون کاندي په ډور[2] کښي
اوس په هر چرته جهان په بلا ډک شو که پخوا به لباسي وه په لاهور کښي
په قراره قراري کښ عالم خوښ دئ ما دِ خداي لَري دَ عشق په شر و شور کښي
که رستم دَ زمانېِ شيِ ګمان مکړه زمانه به دِ پرېښږدي پخپل زور کښي

---

[1] کر زویه که نمسی که خېلخانه ده که اولس دی.

[2] هغه رودبار چه څنډی ئې زنګل وِی، دَ قندهار د جنوب و خوا ته یَو رود هم په دغه تقویب ډوریٔ بولی.

دَ سليمان په گوتې کښلې دا وینا وه چه دا تخت به دَ سليمان نه وي په گور کښې
د خوشحال دِ له هغو نه لاس په سر وئ
چه به ځاي د گوتي غوارِي په څلور[1] کښې

زه خو شرابي يم شيخه څه را سرَه جنگ کړې بخري ازلي دِئ کشکي ما دَ ځان په رنگ کړې
ښه وايې واعظه برکت شه ستا په ژبه ښه يې په وَيَلو دَ درياب اوبه کرنگ[1] کړې
ولاړَل و جنت ته چه په پوهه خبر نه وُو ولاړل وَ دوږخ ته چه ئې لافی دَ فرهنگ کړې
پند دَ محمد (ص) دَ ابو جهل پکار نه شو څوک به ئې صيقل کا چه ئې خداي اَينې زنگ کړې
کښېنې په خلوت کښې شيخه سود ئې راته وايه ولې پخپل ځان دا هسې ارت جهان تنگ کړې
زه خو دَ زړه درد غواړم په هر يوه مذهب کښې تا زده ستا خبرُو چه نقلونه رنگا رنگ کړې
رايشه مطربه! دَ نوروز سرود آغاز کره ښې نغمې زړه سوزي په رباب په نئ و چنگ کړې
هر لوري ته گل دِئ شقايق نرگس سنبل دئ بې گلزاره بد که وَ بل لوري ته آهنگ کړې
چا در پسې ډېري توښې واخيستې طلب کا ځنو مسلی دَ بې ننگی در پسې لنگ کړې
کاشکې[1] دَ عمل تله درنه په قيامت شِي موم په رقيبانُو په عاشق باندِي زړه سنگ کړې
مرگ لَرَه ئې واړه دَ دهلی لښکر راغلَي:
ته لا دَ خوشحال په مرگ ځان روغ نه کښې ننگ کړې

زلفی ئی سبب دِئ د عاشق دَ پرېشانی ننداره ئې بهانه ده دَ بېحدي حيرانی
درد مي سرشته ده دَ هزار رنگه دارو وُ غم ئې لا تېري کاندي تر ډېري ښادمانی
زخم ئې مايه دَ لارېزاله حياتگي دي ورانَي ئې دَئ موجب په جاودانه ودانی
محتسب چه احتساب لَره ور ځي مجال ئې نشته که دَ برندو سترگو مست ئې همېشه کاندي ورانی
ما په عشق کښ رسَولی دَي خپل کار تر هسې حده لکه څوک په مت د توري سزاوار شي دَ خانی
زه خوشحال ختِك د عشق په کار هونبره خوشحال يم
څو سلطان غره پخپله بادشاهي او سلطانی

زه او عشق بې قراري دم په دم ژړا زاري
تېغ وکښلي را ښکاره شوه خوار عاشق دِ ځان سپاري
چه هر دم په ما ستم کړې ستا دا هسي ده ياري
ستا له مهره ستا له لطفه زه لَرم اميد واري
دا يم ستا دَ غم ورَی وړم شرط دَ عشق دَئ بردبادي
خاکپاي اوسه خوشحاله
لوی به کاندي خاکساري

زه اول در خبر نه وم چه دا هسي بې وفا يې په ورځ سل سوگنده وکړې بيا له واړويې پروا يې
ما چه زړه و تا ته درکړ خلقې را باندي غاو کا ولي هسي خبر ندئ چه ته څه رنگه زيبا يې
اې چه ما وته وَيل کړې چه په کښلیو نظر مکړه څوک به ستا په وَيل غوږ کا چه دَ مرگ خبري وايې

---

[1] محشی ورته ليکي چه مطلب څلور ياران (رض) دی.

په ما يو وېښته د خپلی معشوقې تر حوري ښه دي — ملا څه په هر زمان دَ جنت حوري راته ستا يې
د گلونو قدر هر زاغ و زغن نزده طوطا زده — هسي مه وايه نادانه چه په څه صورت شيدا يې
دا څه توري سترگي ندئ چه ځما زړگي ئې يوور — دا څه لا نوري بلا دي خدايه ته دا نابينا يې
دانه خال نه زنخدان دَي نه پرېشانی توري زلفي — دا يو راز آلهي دَئ که ته پوه پدا وينا يې
دا دَ خلقو ملامت دَئ که پېغور دَئ د وگړي — دا همه ځما قبول دئ خو که ته له ما پخولا يې
نن به څراغ په کور کښ نه ږدم چه گمان هيڅوک ونکا — دا نېژدې دَ چم وگړي چه نن ښه مېلمه ځما يې
ما وَيل چه د زړه غم به درته وَوايم چه راشې — غم به څه وايم و تا ته چه په راغله غم زدا يې

چه دَ زلفو نافې تل تل څنډوې دَ باد و مخ ته
خوشحال خود په تا پوهېږي چه هوسيه دَ خطا يې

زړه به ستا له جوره ظلمه په څو ځان وړي — غم دَ درد به دِ تر کومه پدا شان وړي
ما دا هسي رنگ هندو ليدلَي نه وُ — چه په حسن دين و زړه دَ مسلمان وړي
هغه لاس چه دِ کوتاه دَئ تر لمني — هر زمان ئې په ډېر غم کښ تر گريوان وړي
دَ هغه عمر څه حال حلاوت نشته — چه ئې بې له تا په غم کښ په پايان وړي
چه هرس دَ هغو شونډوُ غاښو کاندِي — دَ ارمان گوتی هر دم پخپل دندان وړي
ستا دَ زلفو و َچوگان وته حيران يم — چه دَ زني گوي دِ څرنگ په ميدان وړي
پکښې بند زړونه وگاڼي که ئې گورې — چه دَ سر زلفيني تل تر زنخدان وړي
چه دِ زړه په ما هغه حکم فرمان کړه — د ما زړه به د تا هر حکم فرمان وړي
دَ خاطر خوښي مي هر کله پدا ده — چه دا ستا غمونه هر کله پرېوان وړي
دَ نور چا په ما څه کار دَئ زه پرې خوښ يم — که مي دين و زړه همه واړه تبان وړي
دَ وفا خصلت چه خداي ندئ ورکړي — څوک به څه لَره په کښليو دا گمان وړي

دَ زړه مينه ئې په کښليو ماته نکړه
خوار خوشحال به له دنيا نه دا ارمان وړي

زر ځما تر لاسه نه راځي وېرېږِي — که هر څو مي دلاسه ور سره کېږي
ځما لاس ورته تر اوره هم بتر شو — لا په اور کښ ئې يَو درنگ ساعت تېرېږي
زه او زر سَرَه له ځايه غليمان يُو — په جهان کښ غليمان سَرَه رغېږي؟
چه غليم دَ مړني بېه نظر کښوزي — نور ئې زړه دَ ده و مرگ وته پړ کېږي
شاه زلمی به خپل غليم کا تر ځان وړاندی — و نامرد وته به سل حيلې درېږي
په قرآن کښ ستا اصوال په غليم ياد دئ — بل به کوم حجت تر دا قوي يادېږي
کاڼي زر که سَرَه وگورې يو رنگ دئ — فرق ئې دا دَي چه په زرو زړه رغېږي
هغه زر تر کاڼی لوټه لا بتر دئ — چه ئې وَمنډې په مځکه نه خرڅېږي
چه اوبه په ځای حصار شي نور خسا شي — صفائي ئې هم پدا ده چه بهيږي

تل دِ لاس په غليم بر اوسه خوشحاله
غليمان دِ شرمنده تر تا ځاريږي

ساقي گل شگفته کېږي — خس له باغه رفته کېږي

که دَ باغ خوښي په زر شي   دَ راغ هسي مفته کېږي
دُر گوهر ځما بې میو   په مژگانو سفته کېږي
که ئې پټ لَرم له خلقه   راز مي نه نهفته کېږي
باد دِ زلفي آشفته کا   ځما زړه آشفته کېږي
هغه راز چه به ما تا کړ   په محفلو گفته کېږي
دَ خوشحال بخته بیدار شه
تَل څوک کله خفته کېږي

ستمگر به همېشه په دنیا نه وئ   پس له مرگه به لعنت لعنت په ده وئ
هسي خوښ دَ ظالمی په کار وَلاړ دئ   ته به وایې مرگ ئې نشته تل به ژوئ
ظالمان په نور څه هیڅ راغلي ندئ   خو دنیا وته ځوئېږي لکه روي
چه د خپلي کامرانی په کار راشي   که عالم ته وبا لا شي پرې ئې زړه وئ
په گفتار کښ دَ فرښتو سَرَه سیالي کا   په کردار کښ شیطانان ترې پوري څه وئ
که په سول ئې دَ دنیا مقصود حاصلېږي   دَ مکې په وره به هم پوري کا سوئ
پخپل زویه ورور یې زړه نه وئ ترلي   دَ خپل پلار و مرگ ته هم موړي[1] ورغوي
په هغه چاړه قلم روغ کا قرآن کښ   په هغه چاړه دَ وروره مري سکومي[2]
په رکوع کښ تسبیحات دَ مال و ملك کا   په سجود کښ خپل حشم غواړي که ښه وئ
که نېکخواه ورته دَ پند خبري وکا   چه دَ بدو خصلت پرېږدي زړه ئې چوي
زه خوشحال چه دَ اورنگ بادشاه نوکر یم
که وَ زویه ورکَول کړم زړه مي نه وئ

ستا له جوره ظلمه هیڅ نکړَي ژړلي   چه له وره دِ په څو گرزم شړلي
همېشه ځما دعا په غوږو اروې   یَوه ورځ دِ په ښکنځا نه یم زېږلي
رقیبان دِ لکه سپي په کوڅه غاپي   هم ترې ځیرې جامې وروهم هم خوړلي
چه به ته دَ هغه ټال په پریو زانگې   هغه پرې دَ ورېښمو وئ غړلي
قافلې دَ همراهانو شوې رواني   ما هم بار دَي دَ خپل کوچ پسې ترلي
حاسدان بې غمه خوب کا درېغه درېغه   چه په کور ئې دَ بلا نفیل نړلي[3]
د خوشحال ئې و کرم وته امید دئ
که هر څو په گناهونو دَي لړلَي

سا دَ کښلی مخ په خال مي زړه په داغ دئ   پدا داغ مي له عالمه زړه فراغ دئ
سخ چه ناست یم دَ گلونو په چمن کښ   بیا ساقي راته نیولي ډک اياغ دئ
یا د ښو زلمیو خیال دي په شمله کښ   یا دَ ښو جونو دَ تور وربل دماغ دئ

[1] ژویی.

[2] یعنی پرې کول او پوستول.

[3] نړلی یعنی غوغا کول او دربول او ډَبَول.

دَ زلفینو په تور تم کښ به ئې غوارم   دا ورک زړه که را ښکاره کا مخ څراغ دئ
چه دَ کښلیو دَ جمال ننداره کاندِي   وَ هغو ته سپېره ډاګ سیر دَ باغ دئ
په سپین مخ ئې تازه خط نوی ټوکېږي   زه به زړه ورځني ژغورم روږ[1] دي زاغ دئ
دَ ګلونو په بوي ځِي په ګلزار ورشي   دَ ګلونو بوي بلبلو ته سراغ دئ
نه په اصل هونبره ښه نه ښایسته يې   تا په کوم توکي راوړي دا دماغ دئ
دَ خوشحال سترګي هورې چه ښایسته وي
خلقه زړه ئې نه په باغ دَئ نه په راغ دئ

ستا وصال لکه دریاب دَئ زه ماهَی   په هجران دِ هر زمان دَئ په ماهی
په ژړا ہی ځَني خواست دَ شپېني خولې کړ   په خندا ئې وې چه څه کا دا سړی
ویې څوک يې چه ځما په کوڅه ګرزې   ښه حاضر ځواب مي ورکړ ستا مریَی
هم په څو رنګه ناله هم په تن نال شوم   ببلتانه را باندي وکړ کار دَ نَی
دَ ځوانیٔ بهار څه ښه دَي دربغه دربغه   دا بهار که همېشه په دنیا وَی
ګل، سنبل، نسرین، نرګس لاله غوټیه   دَ مقدم سَرَه دِ راوړه[2] درست پسرلَی
چه ئې ونیسم په غېږ کښ راته ګوري   لکه مست دَ مور په پیو کم کبلَی
دا شیرین یاران به نه وینم چه وَمرم   خدایه ما په جهان تَل لرې ژوندی
غم خو ستا دَ رسوائیٔ کړم نه دَ سر کړم   که مي دا اندېښنه نه وي تا کتَی
هسِي ستا دَ ببلتانه په آتش سوځم   لکه څوک په لمبه کښېږدي وچ لرګَی
ډېر صفت دَ ښاپېرېو اَرویده شي   ولي ستا دَ مخ څوک نه وینم مخَی
په ښایست کښ هیڅ لقب دربانديِ نشته   که دِ څه خو دَ عاشق نمنځه کړَی
اورنګ زیب به د کابل دَ خلل غم کا   ساقي وخت دَ نوبهار دَي راوړه مَی
چه زړه سوَی دِ دَ خوشحال په فریاد نشِي
په سینه کښ دِ سندان دَي که زړګَی

ستا په غم کښ لکه زه یم بل به نه وِئ   دروغجن یم که بل هسِي لکه زه وِئ
ستا له غمه مي ځګر له وینو ډک شو   چا ته وويَلي نشم زړه مي چوِئ
تا ویل ځما دیدن قیمت بها دئ   زه حیران یم ستا دَ مخ بها به څه وِئ
سر به درکړم په بها کښ دیدن را کړه   په سودا کښ خلل مکړه که دِ زړه وئ
هسي ګل دَ ګلستان په منځ کښ نشته   هر چه ستا رنګ و بوي پوري په ده نه وئ
که تل تا لَره درځَم ملامت مکړه   دَ بلبلو تل و ګل وته ورتله وئ
د ښه څیز پوښتنه مه کوَه له اصله   دَ یو هر دوکان چه وِي کالي دِ بله وئ
که صورت ژغورې له غمه کاته مکړه   زړه هاله په غم اخته شي چه کاته وئ
زه خوشحال چه آشنا وینمه[3] خوشحال شم

---

[1] روږد یعنی آموخته او بلد او آشنا.

[2] راشی.

[3] ووینم.

لکه گل چه تازه شوي په اَوبه وِئ!

سړی هونبره څو ئې نيت وئ   جامه هونبره څو قامت وئ
گړگډن گردن دَ فيل خوري   څه مېړی څه ئې قوت وئ
نه هر خره دَ عيسی بار وړي   نه هر سر سَرَه دولت وئ
وَ صورت ته نظر مکړه   په گرده دَ مرد قيمت وئ
زه مرَيَي دَ هغه کس يم   چه صورت وِئ هم سيرت وئ
که صورت سيرت دِ جوړ شول   سر تر پايه عنايت وئ
دَ خوشاحال په وينا غوږ کړه
په ويَل کښ ئې لذت وئ

ساقي تل به دئ دا ست وئ که به نه وئ   له جهانه به مهلت وِئ که به نه وِئ
راشه ډک دَ ميو جام په مي ناب کړه   تل به هسي فراغت وِئ که به نه وِئ
هر هوس چه دَ صورت کړې نن ساعت دئ   گوره کانده به صورت وِئ که به نه وِئ
په رشتيا وَ ما ته وَوايه طبيبه!   چه دَ رنځ مي به صحت وِئ که به نه وِئ
دَ وصال وعده دِ وکړه ستا سوگند دئ   پدا کار کښ به غفلت وِئ که به نه وِئ
که په تا پسې ملنگ دَ مسلې شم   شاه په تا مي به قيمت وِئ که به نه وِئ
سپينه خوله که بې ريباره ور پېنکښ کړم
په خوشحال به مي منت وِئ که به نه وِئ

ستا په تور مي مال تالا مانۍ نړېږي   راشه گوره که پدا دِ زړه سړېږِي
ستا غمونو لَره هر کله ژوندون وئ   پدا لږ عمر مي زړه کله مړېږِي
وايې ما وېشتلي څه کا حال ئې څه دئ   په کوڅه کښ دِ لا دم وَهِي غړېږي
دَ فراق په شپه ئې خوب په ما حرام کړ   وائي مالگي مي په سترگو کښ دوړېږي
لا به گوره څه شان شان غوټۍ وا کا   دَ ښايست بهار ئې اوس نوَي غوړېږي
ما به هيڅ په ورټ ورټ نه ژړل عالمه   ولي څه کړم چه مي ننه زړه ژړېږِي
دَ رشتيا خبري خېر و برکت دئ   په قاضي دَ دروغجن ژبه اړېږي
دَ خوشحال خټك په کار پوري حيران يَم
مينه لا وربانډی زور شوه څو زړېږِي

سخ د آئِنې دئ چه دِ مخ وته تل گوري   سخ دَ لونگين دَئ چه دِ پاس په ټټر ښوري
نه دِي ستا دَ غوږو غټي غټي مرغلرۍ   وصل دِئ په مياشت پوري يو سر بل سَره ستوري
روغ مي کړې له رنځَه چه د خولې ښېرې دِ اورم   شهد و شکر را گړې چه مي ستا شونډي وزوري
ظلم دِ دَ سترگو پما خوار هر گوره ډېر شو   څه کړم توان مجال دَ زور وَر لَري کمزوري
زه که ډوب په غم يم تل دِ ډوب وم چه عاشق يم   تا دِ خداي معشوقه تل هَري بلا ژغوري
ما وته ارزان دِئ ډېر په مښکو په عنبرو   څوک به توري خاوري ستا د پله په بها پلوري
تل ځَي ستا وَ لور ته په ارمان کاته کا

سپین ئې په کاته شي دَ خوشحال دَ سترګو تورې

ساقي راکړه وَ ما می   يَو څو جامه پياپَی
دا هم ظلم دَئ که ګورې   چه بې مِيُو ځَي پسرلَی
هغه ځَاي چه ګل و مل وئ   ورع څو کاندي سرَی
ګوره څه وايي پر غوږ کړه   چه آواز کا چنګ و نَی
بيا به تېر شاعت را نشي   آه ارمان ارمان هَي هَی
دَ دنيا ژوندون هم ښه دئ   که تر تلو همېش وی
چه تر تلو همېش ندي   نور ئې وګڼه لا شَی
ډېر مَين ئې و بله تېر کړل
فلك نه لَري زړه سوَی

ستا په زړه د دنيا څلِي[1]   دَ دوږخ لمبې دِئ بلِي
چه دَ ګور لَړم ماران دِئ   هم دا څلي دئ پېيلي
که دِ يَو ځله ځَان خلاص کړ   غم دِ نشته هورې ولي
دا لَړم شلوه له دِله   که دِ نه وِئ لېچی شلي
چه به وه تسپې په لاس کښ   مخ ئې تور ږېري ئې کلي
ته اصيل ځَان دِ مريَي کړ
هي توبه خوشحاله ولي؟

ساقی چه مهربان شِي په پياله کښ مَي زياتېږی   چه مَي ور ځَني اخلِي دَ رقيب ښيښه ماتېږي
قربان ئې شم تر سترګو په طالع کښ زورور دئ   چه هر کله ئې سترګي په زېبا جمال لواتېږي
بوسه دَ سپينِي خولې راکړه بد مه وړه مستحق يم   دَ حسن له نصابه دِ څو توکه زکاتېږي
آفت دَ هلکوالي وُ جمال دَ هغې تُرکي   چه کال باندِي تېرېږي آفت لا څه تازه[2] کېږي
ژوندون دَ عاشقانو دَ معشوقي په وصال دئ   چه بيل شي له معشوقه ژوندي ندي وفاتېږي
چه اوسپني تر خېژي هغه کانې رنګاررنګ دئ   ترخې خوږې ترې خېژي څوک فولاد ترې مراتېږی
دَ چا خوني چه وَ مرِي پسله مرګه شي مېراتي
دَ چا خوني خوشحاله په ژوندُوني مېراتېږِي

سترګی دِي که ورځَي که ئې زلفي که اوربل دئ   څو توري بلا دي چه مي زړه پکښې قبل دئ
چرته به خلاصېږِي دا بلا تر زړه چاپېري   مخ ته ئې که ګورې لا په سرو لمبو اوربل دئ
خيال ئې دَ زلفينو عقل و صبر و دين و زړه وړي   نه پرېږدي په کور کښ ښه کالي دَ خوني غل دئ
نور عالم لا پرېږده چه عاشق وته څه وايي   پلار که نصيحت کا و عاشق وته خجل دئ
قيس وُ که وامق وُ بيا فرهاد ورپسې نور وه   ما را وړي ندَئ دا دَ ميني دود اول دئ
مينه الستي شته لباسي شته نفساني شته   مښك شته دئ هم هوړه نفساني لکه بصل دئ

---

[1] دا بدله په نورو نسخو کښې نسته، له يوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه.

[2] آفتېږی.

هر چرته یو مخ دَئ که په سترګو احوال نه یې | یو چه ورته دوه شي خود پوهېږي چه احوال دئ
جام بینا ته ورکړه چه ئې ډک یوسي تر ځایه | جام ورکړه رانده ته هسي ووایه چه تل دئ
عشق دئ نور څه ندئ چه غواص په دریاب ډوب کا | ځان سوځي په اور کښې ښځه عشق ور سَرَه مَل دئ
ځای په ځای چه ګورم زه خوشحال ورته حیران یم[۱]
بله غوغا نشته همګي دَ عشق کل کل دَئ

ستم دِ دَ عینینو یاره عین عنایت دئ[۲] | بند دِ دَ زلفینو دَ خلاصِی کنایت دَئ
په شپه ځما وَیل کله آمېز وُ له هستی | په ورځي ځني دور یم هغه حرف چه شکایت دئ
خبري دَ مجنون او دَ لیلا ولاړې زړې شوې | ځما و ستا خبره تازه نوی حکایت دئ
دَ ما او ستا خبري دِي پټ راز څه هسي ندئ | چه چا ته ئې پیدا یا بدایت یا نهایت دَئ
په مخ چه ښایسته شوې که په پسول پسللی نه وئ | ساده دَ ورځیو خال دئ د درست حسن کفایت دَئ
هېڅ کله له مرګه دَ خوشحال اندېښنه مکړه
چه وې وژني دلبري خون ئې روغ په روایت دئ

سر په بېدي بېد یا ونیوي ژړلي | په صحرا دَ ونو پاڼي پټ خوړلي
که اشنا که نا اشنا واړه لیدل شي | دَ همه واړو په ډېره ورخړلي
چه دَ قام دَ خېلخانې په حال خبر شوم | څه روزګار به پکښي شي په غم لړلي
په ناحق مي آزادئ ته تلاښ کړ | په زندان دَ اورنګ زېب ښه وم تړلي
خپل پردی چه دَ دنیا شکر خواره دي | لکه مچ هسي له ځانه وشړلَی
دَ ما حال به و هغه وته معلوم وُ | که دا هونبره ډېر آهونه چا نغړلي
که خوشحال پنجهزاري کا مه ئې وینه
دَ مغل له نوکری دئ اغېړلي[۳]

شین مرزي چه ګېډي داړي | باند نخېژي خسي زاړي
څه عظمت[٤] څه مهموتي دئ | چه په مرګ به ئې څوک ویاړي
دَ ښادی سترګي دي ووزې | پرېږده دَي ور پسې ژاړي
په یَوَه غوټه یَو نیسي | باز نه دوه تارو ونغاړي
عابد خان ځما شنقار دئ | په غوټه وهي دوه ښاړي
هم شنقار مي هم شاهین شته | هم ښه باز لَرم لك غاړي
وخت دَ ښکار دَئ سهیل وخوت | خپل خپل ښکار به پسې غواړي
زه په ښکار یم دَ سر خابو | وړاندې زاغ راځي مرداري
خرقه څېري دَ زاهد شوه | رنګ ئې نه وینم دَ نماړي

---

[۱] شم.

[۲] دا بدله له یوې قلمی نسخې را نقل شوه، په نورو کښې نسته.

[۳] یعنی قی وهل، بد هضم کېدل.

[٤] عظمت خان او مهموتی او ښادی خان د خان معاصرین وه، چه په دې بدله کښې یاد سوی دی.

ژر به ورک شي مدعي مي   يو څو مچ دئ دَ غوباړي
ازمیبنت گوره دَ دهر   راته لیندي شول اوس شاړي
تېغ پرې سور مکړه خوشاله
چه لايق دِئ دَ څو باړي

شفاعت دَ محمد (ص) ثابت په نص دَئ   دا په دا چه دَئ دَ درست جهان اخص دئ
دَ موسی دَ عیسی کله دا صفت وُ   دَ لولاک نعت پده باندِي مختص دَئ
اولیاء ئې دَ امت واړه ممتاز دئ   هر ولي ئې په ارشاد کښ مرخص دئ
سر حلقه دَ اولیا وُ هغه شماره   چه شیطان ئې بندي کړي په قفس دئ
دَ رستم دَ مړنتوب خبري هیڅ شوې   ذوالفقار چه ئې یاد شوي په قصص دئ
دوستداران دَ اهل بیت له اوره خلاص دئ   بې دوستیه ئې عالم کله مخلص دئ
په وِلا که دَ علی رافضي کېږِي
سکه خوشحال ئې په وِلا کښ مشخص دَئ

ښې ښې شپې شي ځَني پېښي   غېږ په غېږ شي شفت حُبېښي
ځښي ځښي ښیښې تشېږِي   نن به شي بخښني ښې ښې
چېن چېن څونې ځِي په شین   بتي زشتي فتنې پېښي
شي په چین تشي پوښتني   چین چین څونې پښتنې شي
هسي ځِي په شین شین   نخښي نخښي ختي پښې ښې

ښه سر راست ټوپك دئ چه نظر ځَني لر بر شي   گوره چه گزار دَ کم خطا په چرته شر شي
ولي هسي نه وئ چه وېښته چوي په عقل   بیا چه درې څلور مصلحت وکاندی ښه چرشي
څوک چه مخه ولی لیندی ډېر و بله کښېني   کله په سپینکي دَ هلك غشی برابر شي
نوري لولی هیڅ دئ دَ نسب که دَ نور څه دئ   ښه لوئي هغه دَه چه لوئي ئې په هنر شي
ډېر دَ سروریِ دعوا کاندي په جهان کښ   یو سړی په زرو کښ په بخت سَرَه سرور شي
آس تر کته لاندِي شا په څو ځایه زخمي وئ   ځاي دَي دَ حیرت په رابتونو ساته خر شي
یو توریتي نشته چه خپل حال ورته معلوم کړم   کله به د ما دَ بخت دَ ستوري لا اثر شي
زور لرې که عقل پدا دواړه مه نازېږه
بخت راوړه خوشحاله چه دِ کار لکه سره زر شِي

ښه هغه چه ولاړ بې خوده په خیال ستا دئ   که اشغال دئ په جهان کښ اشغال ستا دئ
ښه مي ولیدل په سترگو واړه کښلي   چه تر واړه لا تېرَي کا جمال ستا دئ
دَ دنیا په مخ به ډېر وِئ ښه مخونه   چه تر هر څه ډېر لذت کا وصال ستا دئ
دواړه زلفي دِ حلقه کړې لکه لومي   چه دانه دئ پدا لومه کښ خال ستا دئ
دواړه پښې گلگوني سرې پدماغ درومې   گوره بیا څونبره وگړي پایمال ستا دئ
ته کشتن دَ غمزې کړه مه وَدرېږه   مقتولانو قبول کړي وبال ستا دئ
تا خو نوم دَ جنجالي را باندِي کښېښ   که په زړه کښ مي جنجال دَئ جنجال ستا دئ

که همه دَ خلقو کښلي سرَه ټول شِي   خسته زړه مي په ټولی کښ لېوال ستا دئ
چه دِ څوک په کوڅه تېر شي نور مېَن شي   چه تمام له عشقه روغ دَي ديوال ستا دئ
که مثال دَ صورت غواړې گوره مياشته   چه پوره دَ دوو هفتو شي مثال ستا دئ
چه سبا بېگا ئې لوند لَرم په اُوښيو   ياد گاري را څخه پاتو رومال ستا دئ
څو ريبار در سرَه نه بيايې دَ وړاندي   چه په چم به ئې تېرېږې مجال ستا دئ

که په قهر ئې شړې په لطف ئې بړلې
چه ئې نه پرېږدې په هيڅ کښ خوشحال ستا دَئ

ښاپېرک که په هوا ځي په تور تم کښي[1]   په راتله دَ رڼُا ورځي دَئ په غم کښي
لکه چتي درسته ورځ درومي په پورته   هغه هونبره باز شاهين درومي په دم کښي
د چندڼ او ښوانه[2] فرق سرَه هيڅ نه وُ   که چندڼ تر ښوانه ښه نه وِئ په شم کښي
چا له ډنډه دُر گوهر نه دِئ وکښلي   قيمتي لولو لالا غواړه په يم کښي
که گيدړ په خم کښ رنگ شو پدا څه شي   خو بيا هم هغه گيدړ دئ په شيم کښي
زاهدان شيخان مي وليدل نامرد دئ   مرد عالم رباني دَي په عالم کښي
څرخ مي ځکه په سر لوني گلونه   چه ئې خاوري غُندي پروت يم په حرم کښي
که هاتی دَ بادشاه ومري غم ئې نشته   چوهړي دَ سپی په مرگ دئ په الم کښي
عشقه واړه ستا د غمونه خرخښې دئ   چه په سوات را سرَه گرزي هم په سم کښي
گوتي وَمنډه په غوړو ترې تېرېږه   ذاکر زر ذکرونه کا زړه په درم کښي
که خوښیِ د وصال ورسرَه نه وئ   عاشقان کله خوښېږي په ارم کښي
هغه چر دواړه گوتو ته نظر کا   چه ئې وِئ سترگي نيولي په صنم کښي

آفرين دِ په وَيَلُو شه خوشحاله
چه دَ تورو رژول کړې په قلم کښي

ښه هغه چه ښه ئې رنگ ښه ئې جمال دَئ   ښه هغه چه په قوت دَ هر چا سيال دئ
ښه هغه چه په ميراث خاني مېري کا   فراغت بې غمه ناست صاحب اقبال دئ
ښه هغه چه که احمق وئ که جاهل وئ   په طالع په تخت صاحب دَ ملك و مال دئ
ښه هغه چه په رشوه قاضي گري کا   په مسند دَ قضا ناست په قيل و قال دئ
ښه هغه چه ډېر لښگر ورپسې درومي   ډېر ئې کبر ډېر ئې جاه ډېر ئې جلال دئ
ښه هغه چه په مجلس دَ ملوک ناست وئ   تمامي عمر ئې زيات روزگار ټېټال دئ

په عالم کښ بدي نشته واړه ښه دئ
چه وَ بدُو وته روغ دئ يو خوشحال دَئ

ښارونی دِ غواشينیِ پسې غواړي   باز دَ غره ښايسته زرکي سرَه نغاړي

---

[1] دا بدله له يوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه، په نورو کښ نسته.

[2] راحت زاخيلی ښوون په معنی د زيتون دَ وَنی راوړی دی.

که په رنګ کښ لکه غلوڅه[1] هسي روغ دئ   دَ خوږو هیله وَمکږه له غوباړي[2]
یو آواز دَ ښو آسونو دَ ششنا دئ   بل آواز د ګنده خرونو دئ چه ناړي
څوک ژړا دَ آخرت دَپاره کاندې   څوک د دې جهان دَ سود دَپاره ژاړئ
دَ ګزار دَپاره لیندي په څو ناست دئ   دَ قطرې په حرص ګرزي پسې شاړي
مرتبې دَ دواړو ندئ سَرَه سمي   څوک دَ ځَایه باز شهند څوک چوړي ځاړي
که دَ څنګ پرونه ئې هر څو کنبلي روغ دئ
دَ بازونو پرواز مه غواړه له ځاړي

ښه سړی ګڼه هغه چه په زړه صاف وئ   همېشه ور څخه شرم هم انصاف وئ
چه دا څو توکه ئې نه وئ سړی نشه   هر چه کاندي نور د کا هغه معاف وئ
په دنیا چه دا عالم سَرَه خلاف کا   لکه سپی چه په مراده ئې خلاف وئ
نوشیروان چه مخ په عدل په انصاف وُ   که ئې ګورې تر قیامته ئې اوصاف وئ
که دانا سړی بدرنګ وِی پدا څه شي   که د ښه توري ساز شوي بد غلاف وئ
دَ هیڅا غرض پدا خوبرو نشته   قلپ سره چه سره پېژنی صراف وئ
جوهري به ئې خود کار سَرَه ښکاره کا   تر یاقوتو که شبه په رنګ شفاف وئ
دَ یاری دپاره ګرزم نه ئې مومم   چه وفا لري هغه په کوم اطراف وئ
دَ بخملو په اودل به خبر نشي   په شماره که د اودنیو بوریا باف وئ
عشق په حق په باطل هیڅ ندئ راغلي   تر کعبه ئې ډېر وَ بت وته طواف وئ
ښایسته هر ګوره ډېر شول پرې وېریږم
ما خوشحال چه دَ تقوا وهلي لاف وئ

عاشقان که ستا دَ لاسه په جفا مري   باري شکر چه په عهد په وفا مري
بېدلان مي دَ هجران په تېغ قتیل وي   دا یَو حرف دَئ چه په توره دَ قضا مري
زه مرده وم ستا دَ جام په ګوټ ژوندي شوم   چه ئې دا جرعه نوشلې غه په چا مري
زړه مي ستا طرې طراري ته هوس کا   ځَان مي ستا غمزې بیماري ته رشتیا مري
اې تازه ګله بلبلي ته نظر کړه   په نوا کښ ستا له شوقه بېنوا مري
خوار خوشحال په مرګي حال دَئ ځَکندن کا
راشه ګوره په ارمان دَ لیدو ستا مري

عاشقان له بېش و کمه آسوده دئ   له وجوده له عدمه آسوده دئ
دَ ساقي له لاسه ډکي پیالې اخلي   په مستي کښ دم تر دمه آسوده دئ
بت پرست دئ دَ مغان په خرابات کښ   خوش خرم خوشحال له غمه آسوده دئ
ورځ و شپه باندې تېرېږي په ښادي کښ   هر زمان مي له ضمه آسوده دئ
تل ساقي دَ میو داد کا بې منته   کریمان مي له کرمه آسوده دئ

---

[1] یعنی د شاتو مچی.

[2] د خره مچ.

همېشه شونډي دَ جام په مورگه[1] ينبي — په خاطر له جام جمعه آسوده دئ
بادشاهان که خزانې و بله آسپي — دا گداي مي له درمه آسوده دئ
په درياب گښ ئې دَ عشق دَئ غسل کړی — له حدوثه له قدمه آسوده دئ
اې خوشحاله که نظر دربانديِ وکا
ډېر ئې تا غُنديِ له دمه آسوده دئ

عاشقان چه دَ معشوقي دلداده دئ — له همه واړه غمونو آزاده دئ
په يَوه لحظه کښ هست په بله نيست شي — که ئې گورې عاشقان په زړه ساده دئ
مگر زه له ځَايه غم لَره پيدا يم — په هر دم راته غمونه آماده دئ
نه يو زه دَ نظام پور په گوټ گښ پروت يم — سوختگان ئې په هر لوري افتاده دئ
په درون دَ عاشقانو نظر وکړه — دَ لاله غُنديِ دَ داغ سَرَه زاده دئ
ترک تاجيك عرب عجم عاشقان واړه — مست بې خود دَ ديو خمرو په باده دئ
دَ هوا خدايان دِ ليري کا له دله — يَوه خداي وته چه ناست په سجاده دئ
چه تر خپلی رضا تېر شي اولياء شي — اولياء له هَرَه غمه آزاده دئ
غوبانه شپانه ظاهر سړی ليدل شي — په معني کښ دَ پاده سَرَه پاده[2] دئ
شيخه ته چه ډېر طاعت کړې جنت غواړې — و جنت وته ورتله په اراده دئ
عاشقان که معشوقه په تېغ ورژنی — ور مېړونه ئې و تېغ ته نهاده دئ
چه دَ ننگ په چارُو نر نه دئ خوشحاله
که ئې نر وينې په سترگو هم ماده دئ

عمر هر زمان گداز کا لکه واورې — يا به ستا له مرگه واورم يا به واورې
هغه تېر ياران به بيا بيارته[1] را نشِی — که په سر باندِی را لونم توری خاورې
بربوکی[1] چه پوزې واخلی پورته درومی — نه پوهېږم چه به کوم لوری ته ماورې[1]
زور دَ چڼ د وږلو نه لری نادانه — نه پوهېږم چه دا دروند وری په چاروې
په سمن دَ شهلا نقش دَ سيور زېب کا — په شېوه چه سترگی کوزی له حيا ورې
دواړه سترگی مې چه ستا په مخ دوخته شوی — عجب ښه له ځَانه دوه قبله نما ورې
دَ خوشحال غُندِی به ډېر دا هسی نور وئ
ته چه هسی رنگه زړُونه رو نما ورې

ارتبې په عقل کمي — خود بخود دَ صورت غمي
ته دَ ديو سَره سم يې — دُوي له تا شره نا سمي
زر نېکی ور سره وکړه — په يوه ذره برهمي
درته زهر شي تا وژني — چه ئې ته گښې مرهمي
دَ وفا په خوي کښ ندي — همېشه جفا شيمي
دَ آدم په صورت روغي — په معني کښ نا آدمي

---

[1] يعنی کناره.

[2] دې کلمې ته محشی ليکلی دی: يعنی چارپای.

تاس به گرم په لږ گناه کا　　دوي په لوي گناه نا گرمي
څو ئې کج وړې هونبره کجې　　څو ئې درد وړې هونبره خمي
په هر کار کښ دیگر گوني　　په خوله رامي په زړه رمي
پاسه تن ئې ښیسته وي　　په درون لکه ارقمي
نور څه مه وایه خوشحاله
تر وجود ښې دي عدمي

غم آخر شو دَ ښادۍ روزگار راغَي　　چه موسم سو دَ گلونو گلزار راغي
په تلوار ئې تیاري دَ سیل کاندي　　و بلبلو وَته وایه بهار راغي
پدا هسي خاصه وخت دَ ښو گلوُنو　　دَ مطرب دَ ساز آواز مي په کار راغي
دا ئې واړه له خزانه نه فریاد شي　　چه گلونو ته طوطي په چیغار راغي
دَ هجران مشقت ډېر وُ خداي آسان کړ　　بیا مي سخ دَئ چه عشرت د دیدار راغي
که په نوُرو باندي هر کله اختر دَئ　　په ما دا زمان اختر دئ چه یار راغي
لون لون کالي بیا پېري خواجه شو
چه خوشحال دَ یار دَ مخ په بازار راغي

غم ښادي چه په چا وېر شي[۱]　　لکه وېر شي هسي تېر شي
سر رشته ئې مونده نشي　　گوناگون دَ دور پېر شي
چه په خوا په خاطر نه وِئ　　هسي چاري په تا دېر شي[۲]
په هجران کښ غم دَ یار دئ　　چه همېش تر زړه چاپېر شي
هر چه وَاته له سترگو　　عابت له دِله هېر شي
چه به سخه په خوشحال کا
گُندِي ژر دَ ده په څېر شي

غنیمت گڼه گلُونه میخوري کړه په چمن کښي　　چه به پس له هفتې نه وِی دا گلونه په گلشن کښي
په غنچه چه تطاول کا صبا دا کله باطل کا　　دَ بلبلو کام حاصل شی[۳] دَ گلزار په شگفتن کښي
وطن ښه دَئ که غمخور وِي ښه یاران دِ لور په لور وي　　څو چه شته که هونبره نور وئ لا غریب یم په وطن کښي
هم ماښی شته هم عتاب شته هم ترخه تروه خواب شته　　نه ئې شمار نه ئې حساب شته څه خوښي ده په دیدن کښي
اور اوبه نده نور څه ده چه په تله یا په راتله ده　　په راتله په اور اوبه ده اور را بل کا په رفتن کښي
که ئې تل په ظلم زړه وئ که مې زړه له غمه چوِي　　خداي دِ نکا دا به نه وِئ چه ئې خوږ کړم په گفتن کښي
چه بلبلي وته گوري له آوازه ژبه ژغوري　　د بلبل په آواز ښوري هونبره ژبه په سوسن کښي
چه جدا شی وَ دِ مرینه له غمونو چه خلاص شینه　　څوک چه بې یاره پائینه سود ئې کوم دَئ په زیستن کښي

---

[۱] وېر شی د قندهار په محاوره (ورشی) مگر دا کلمه په یوه نسخه کښ ډېر شی لیگلې ده.

[۲] دیر شي یعنی درشی.

[۳] حاصل کا.

که دَ سپی غُندِي ئې ولي په رو روبه پسې زغلي
خوار خوشحال به ئې اَخلي څو چه ځَان لَري په تن کښي

ګله ته چه په بلبلو هونبره خیال کړې   دا خیالونه همګي پخپل جمال کړې
دا جمال به دي جاوید په جهان نه وِي   ښه خو دا ګڼه چه شکر په دا حال کړې
دَ انصاف په سترګو ښه ننداره وکړه   جهان څو کښلي چهره هسي پایمال کړې
ډېرِي خوني دَ هجران په لمبو وسوې   ما لیدې چه تجلې ئې په وصال کړې
دا بهار ګلزاره ښه یې خوي دي بد دَئ   چه راتلَنَه یَو څو ورځَي په درست کال کړې
تر قدرت به دي ځَارېږم ذوالجلاله   رنګارنګ ګلونه ښه[1] هسِي نهال کړې
دَ بلبل دَپاره تَل وَي په چمن کښ   د پسرلي ګله تله ولي دم در حال کړې
که دي سترګي دَ عرفان شته مبارک شه   دَ ګلزار په ننداره چه استقلال کړې
ګل ته هسِي رنګ و بوي ورکړيَ چا دَئ   دَ لاله دَ ګل چا هسي پاښي لال کړې
چه ګلونه دَ ګلشن همېشه ګوري
لکه خضر هونبره عمر دَ خوشحال کړې

که په زغرو په چپَو کړی نېزې ځوري[1]   چه نیکي در څخه نشته واره کوږي[2]
دَ هر چا سَرَه خوږه ژبه بایده دَه   په خوږه ژبه ما هم وزی له سوړي[3]
واړُو دُوړو سَرَه فوج دَ سپرو نه وئ   په جهان کښ لږي نه دِئ تشی دوړي
یاوه ګوي دراز زبان مه شه که ګوري
بیهوده خبري مکړه پوچي بوږي[1]

که په زړَه کړې دَ خوشحال خبري زبري   دَ دانش له کاره نه دِي لري برِي
خلایق په تفاوت سَرَه پیدا دِئ   پوهی نه دِي سَرَه واړه برابري
په زرګونوُ کښ یَو دوه سرِي خبر دَئ   نوري واړه خلقې دِي ناخبري
لکه کار دَ خوي خصلت په تفاوت دئ   هسي زېږِي په ښایست سَرَه دلبري
دَ سیرت زیبایي ښه دَه تر صورت
چاري واړه د باطن دي معتبري

ګه مي یاد که مي نایاد کاندِي مخدوم دئ   دَ چاکر مي له څښتنه حجت کوم دئ
دا ګدا ئې وَ وصال ته څه هوس کا   چه بادشاه ئې له لیدنه نه محروم دئ
په عاشق چه ستا له لوریه ظلم وشو   اوس په هر لوري چه دَئ دروَمي مظلوم دئ
همېشه ئې سوړ سوړ اَه وِئ ګونه زېړه   دَ ویشتلو حال که نه وایې معلوم دئ
په جهان کښ چه څه رنځ وُ څه محنت وُ   هغه واړه سَرَه ټول شول عشق ئې نوم دئ

---

[1] دا بدله په چاپي نسخه کښ نسته.

[2] محشي ورته لیکي یعني عیجن او دروغ.

[3] سید راحت لیکي، چه بطزي کزي ته وائي، په قندهار کي بُږي بولي.

هغه یار چه وفا دار دَئ مونده نشي   په جهان کښ دَ وفا هنر معدوم دئ
دَ خاطر ویني مي خوري په ننکي ننکي   له گناهه وېره نکاندي معصوم دئ
که یار سر غواړِي له ده نه نه به نکا   هر چه پوه دَ عاشقئِ په رسوم دئ
چه په عشق کښ موافق نه وِئ اې دِله   دَ هغه لیدَل په څه گورِې چه شوم دئ
دَ دوږخ لمبې به نه رسي عاشق ته   چه دَ عشق په توره مړ شو غه مرحوم دئ
ما خوشحال ته ستا دَ خولې اسرار مکشوف شو
که دا راز دَ چا له سترگو نه مکتوم دئ

که مِې نوم په ژبه نه اَخلې هیچري   په تش نوم به دي هم سود کوم دلبري
دَ زاهد دَ سترگوُ آب هونبره په ځاي دَي   چه ئې سترگِي باندِي[۱] نه دِي برابري
دَ ښادیئ نوم پرې زور[۱] دَي تَل تر تله   چه په زړه ئې ستا دَ غم شیتي[۲] شي سري
زه به څه ځني مانه کړم یَو زه نه یم   په غمزه ئې خلقې کړلې ډېري
دَ ښو سېوره ئې خار[۳] په پښو څرخېږي   له حیا چه کوز کوز گوري ناز پروري
شونډي ستا لکه نبات هسي خوږې دِي   تریخ ویل ځنِي نه ښایي لب شکري
وایي شته په چین ما چین کښ کښلي ډېري   خداي دِي نه کا چه تر تا به وِي بهتري
بې خبر له ځانه ډېر ورته[٤] پراته دِئ   ته یې هم په حال خبر شه بې خبري
دَ ختا دَ ملك نافي واړه خجل شِي   چه د تا زلفي ښکاره شِي معنبري
که دي چېري دَ آشنا په لور گذر شِي
دَ صبا باده! ځما سلام پر وري

که یَو دم دَ یار په غم فراغت کښېني   پدا دم به له عالم فراغت کښېني
که دِ کار دَ محبت وینو په لاش کښ   پدا کار به خوښ خرم فراغت کښېني
که گداي شي دَ مغان په خرابات کښ   همېشه به لکه جم فراغت کښېني
ډېر و لږ دَ زړه زحمت دَئ که عاشق شې   ته به تل له بېش و کم فراغت کښېني
که اختر دَئ که نوروز دَئ خو هم دا دئ   مخ په مخ چه له صنم فراغت کښېني
که په کوي کښ ئې مقام وکړې زاهده   په خاطر له ارم فراغت کښېني
لاس په لاس بهشت دا دي خوشحاله
چه خپل یار سرَه هیو دم فراغت کښېني

که دا عقل دَ همه خلقو یکسان وَئ   سکه بایده وَ چه همه سړی لقمان وَئ
د دې لال قدر به نه وُ په عالم کښ   که دا کاڼي واړه لال دَ بدخشان وئ
په پخسر[٤] به دَ هر چا کرَه پراته وُ   که دا دُر مي دَ ژلئ غُندي ارزان وئ

---

[۱] په قلمي نسخو کښ زوږ لیکلي دي داسي: نوم پر زوږ دي تل تر تله.

[۲] شتي.

[۳] دِ خار.

[٤] دا کلمه عیناَ ولیکه سوه په ځنو نسخو کښ پېخر راغلی دی تحقیق غواړی.

هیځ حساب به ئې په هیڅ جنګل کښ نه وُ   که درمي[۱] واړه کني دَ هندوستان وئ
په خوراک به خرو غویو نه قبلولي   که ډېره دَ وني پاڼي واړه پان وئ
دا تپوس به هم په لاس دَ بادشاه ناسست وُ   که دَ باز او دَ شهند غُندي ئې شان وئ
دَ لیلی او دَ مجنون مینه به هیڅ وه   که همه خلق لېلی او مجنونان وئ
ما خوشحال دَ حقیقت په ژبه ووې
درېغه درېغه که څوک پوه پدا زبان وَئ

که صورت وته دِ ګورم په صورت کښ یو حیوان یې   که معنو وَته دِ ګورم شاهزاده دَ کل جهان یې
چه ظلوم جهول یادېږې کنت کنزا هم پوهېږې   ته و دا ته نظر مکړه چه دا غوښي استخوان یې
چه مسجود وُ دَ ملکو ځَاي ئې پاس وُ په فلکو   ته خلف دَ هغه هسي خلیفه پدر نښان یې
غوښی هډ څه په کار ندی داد ګاو دَ خره هم وئ   دَ ګدای په ګند کښ پټه ته یو څرنګه سلطان یې
چه ئې ستا په حال پېغور شو تر ابده ئې مخ تور شو   دَ چا نوش یې دَ چا نېښ ئې د چا درد دَ چا درمان ئې
د دنیا عقبی باغونه پکښي واړه نعمتونه   واړه ستا دَپاره جوړ دِئ ته مقصود دَکن فکان یې
که هر څو ګلونه ډېر دِئ تر حساب تر شماره تېر دئ   دَ فطرت په حدیقه کښ نو باوه دَ ګلاستان یې
نور به څه وایې خوشحاله له دې حاله له احواله!
هم دا هونبره وَیل بس دئ که پوهېږې نکته دان یې

که په باغ کښ رنکارنګ ګلونه ډېر وِئ   هسی نه چه دَ ګلاب دَ ګل په څېر وِئ
آشنایي دَ ګبینه دَه که شکري   چه خواږه ئې په څو رنګه را برسېر وِئ
ستا دَ ور دَ سپیو څو ثنا صفت کړم   چه تر پیره میره زړه وته را تېر وئ
آرزو به دَ حیوان دَ اوبو نکا   عاشقان دِ چه دَ خولې په میو سېر وئ
چه په عشق سَرَه ژوندي دي مرګ ئې نشته   که په ګور کښ تر دا تورو خاورو زېر وئ
دَ غمزې توره ئې هر چرته وژل کا   لور په لور ئې شهیدان په دا شمشېر وئ
تل ئې لوبي دي د ما د زړه په وینو   ستا دَ سترګو آهو ما ته لکه شېر وئ
ستا دَ زلفو هر هر پېخ وته چه وګورم   همګي په رنګ و بوي لکه کستېر[۲] وئ
په خوشحال دِ یو زمان لیده وَ نکا   یو زمان ورته تر کاله هم لا ډېر وئ
مګر هیڅ ئې دَ زړه حال ور ښکاره ندئ
چه لیده ئې دَ خوشحال سَرَه ډېر ډېر وئ

ګه دَ لویو کتابونو دانشمند وِئ   دَ هلکو کتابونو په کار بند وئ
چه خرما ئې دَ بلوټ نه وِئ خوړلې   و هغو وته پټوي[۳] خرما خوند وئ
چه دَ هند په شګر قندو خبر نه وئ   و هغو وته ګاځري شکر قند وئ
دَ اټك په مناره به نظر نه کا   چه هغه ته دَ دهلیَ ملك څرګند وئ

---

[۱] یعنی نل.

[۲] دا کلمه عیناً ولیکه سوه، معنی د مشکو به وی یا یو قسم خوشبو دار ګل.

[۳] د مېزری دانه او تخم (دریاب، پښتو لغت) .

هر سړی دَ خپل وطن ثنا صفت کا   د هر چا تر فهم کښلي خپل فرزند وئ
دَ ناپوه سړي دَ پند سَرَه کار نشته   ما چه وليده دانا محتاج دَ پند وئ
زه خوشحال ئې دَ دانش په سترګو وينم
دَ هر چا چه بده پوهه غلط سند وئ

که راضي مي په جفا[1] او په وفا يې   نور را درومه چه زه ستا يم ته ځما يې
بې له ما که جهان ستا شي په اوربشه   چه زه ستا شم که اوربشي خورې دارا يې
که دِ طمعه دَ مخلوق له وره پرېکړه   بادشاهي دِ مبارک شه که ګدا يې
غاړي غرونه خبر دار دئ چه مجنون يم   که جهان پدا خبر دَئ چه ليلا يې
ستا دَ غم په توره مړ په وردِ پروت يم   کله کله راته ګوره مسيحا يې
جګي جګي په ليمه مي قدم کښېږده   چه رِندې سترګي مي روغي شي طوطيا يې
کله ما و تا روزګار په يوه ځاي کړ   بر بر راشه دَ يار سپيه چه اشنا يې
چه ياري له ياره کړې دَ سود له مخه   په خاوند مي دِ سوګند وِي بې وفا يې
چه دَ يار سَرَه پخپل غرض ياری کړې   دَ ياری بلا په تا شه يار دَ چا يې
چه دِ بولم معطل مکړه را درومه   که دَ باز غُندِي حاضر په بِغ دَ بيا يې
په دربار مي چوتري دي دَ سرونو   راشه واروه چه پخپل وَژل شيدا يې
چه دِ خوي خصلت دَ رنګ سَرَه جوړ ندئ   رنګ دي ورک شه که هر څو په رنګ زېبا يې
پدا هسي ښايسته جمال چه ستا دَئ   غم شدت فتنو اَفت لَره پيدا يې
په اميد دِ دَ ليدو په ور کښ پروت يم
ګه ته هر څو له خوشحاله بې پروا يې

که خپل بشر دَ ګل غُندِي نما يې   کله کله دَ بلبل په ژبه وايې
چه هر هر زمان په هر شکل جلوه کړې   عجائبه دلربايه خود نما يې
په يوه وېښته دِ نه ارزي دوه کَونه   په غايت لکه ګوهر قيمت بها يې
دَ خپل درد دوا به زه له چا نه غواړم   چه هم ته محبوبه درد يې هم دوا يې
کله ناز کله ښکجځل کړې کله مهر
له خوشحاله مَروره که پخولا يې

که ئې لري له جماله نه جلباب شِي   حبطه به ئې تر مخ پوري آفتاب شي
که ئې بوي دَ پېچا پېچو زلفو ورشي   په خطا کښ به بې قدره مشکباب شي
څو بوسې که له دشنام سَرَه آميز کا   شماتت به ئې په قند و په ګلاب شي
که هر څو له زېبا مخه خاطر نيسم   زړه مي بيا په اضطراب لکه سيماب شي
يکباره ئې قرارَي له ما نه واخيست   درسته شپه په ما احرام شه که مي خواب شي
دَ هغو طاعت قبول ندي نور څه دئ   چه سجده ئې تل دَ ورځيو په محراب شي
دا پياله چه ځما نوش دَه زه پرې مست وم   دا مستي مي نه په بزم دَ شراب شي
دَ رندانو دَ شرابو هسي کار دئ   چه زاهد ئې هم په بوي سره خراب شي

[1] په جفا هم په وفا يې.

نا محرم مي و صحبت ته څه هوس کا　　چه ځما له محرمانو هم حجاب شي
که يو تول دَ ښايسته وَو سَره کښېني　　خو هم بويه دَ همه وُو انتخاب شي
غه روپي چه دَ تنګ سال له لاسه نه وئ　　و صراف وته ظاهره په هر باب شي
دروغجن غشي که هر څو ثابت روغ کړې　　خو به بيا دَ هلوکانُو تېر پرتاب شي
دَ خرما وَنه خو سازه کړي له مومو　　دَ خرما غُندِي به کله ترې دوښاب شي
ما خوشحال چه په پښتو شعر بيان کړ
دَ پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

که په عشق کښ زړه دَ نورُو په ليده ځي　　ځما زړه په ارويده تر ليده ښه ځي
نوري ميني ئې ځما له دِله يووړې　　يکباره مي په ليدو پسې لېمه ځي
هسي ياد بويه چه يَو ځَله يار ياد ګړې　　نور دِ ويني لکه باز تر هر وېښته ځي
پکښې خيال دَ سبر قد و دَي پالم ئې　　چه مي هر کله تر دوو سترګو اُوبه ځي
که په زړه شوي زه به اوس دَ يار سَرَه وم　　چا وې دا چه پښې هورې دورمي چه زړه ځي
نه په زړه ده نه په پښو دَ خداي په کړه دَه　　دا غريب سرَي همه دَ خداي په کړه ځي
که دَ مال وه که دَ ملك وه که د زر وه　　وار په وار مي دَ زړه مينه له هر څه ځي
دَ دنيا مينه په زړه باندي لوي بار ده　　آزاده به بار په زړه و ګور ته نه ځي
روغ به خوب دَ بې غمی کا خوشحاله
چه څه خوږ دَ زړه لري خوب د هغه ځي

که ميوه دَ چندنِ نشته هسي شنډ دئ　　لا ئې ښه تر ميوه دارُو ونو ځنډ دَئ
وايې زه به په تا وکړم ځني چاري　　زه دَ دې چاري ارمان لَرم ډېر ځنډ دئ
که مي ځان ځي که جهان پرې به ئې نړدم　　ما نيولی اوس دَ عشق دَ سپرو منډ دئ
پدا لار دَ شهسوارانُو ختل ګران دَي　　ګوډه څو به باندِي خېژې ملکښ[1] دئ
زه او دا دَ هر ناکس سازي ناسازي　　که رشتيا وايم خپل ځان را باندِي پنډ دئ
که مثال ئې په دنيا غوارې له ما نه　　چه الا بلا پکښې وِي هغه ډنډ دئ
دَ چړې دَ لاره کار نشته ناپوهه　　چه تبرُونه پرې ماتېږي هغه خنډ دئ
يا سبا دَئ يا غرمه دَه يا ماپښين دَئ　　مازديګر دَ ښکار تکل کړم ساعت لنډ دئ
څوک دَ حج، څوک دَ تلقين څوک دَ مکتب شول
يَو خوشحال په واړه خلقو کښ لونډ دئ

کام دَ زړه که هر څو ښه دَئ　　تر ايمانه نه ښه نه دئ
چه ئې دا اندېښنه نه وِئ　　هغه کس سرَی په څه دَئ
اعتبار پدا دنيا کښ　　دَ سرِی لکه لېمه دئ
دَ هر چا چه لېمه نه وِئ　　که بادشاه دئ خوار په زړه دئ
سپی به ښه کړم تر مزري نه　　سپی دَ کور مزري دَ غره دئ
خرکه بد دئ بيا وري وړي　　بد سړی بتر تر خره دئ

[1] دا کلمه په يوه نسخه کښې جلا ليکلې ده مله کنډ يعنی مه ځه چه کنده په مخ کښی ده.

ته ئې ویښ وینې په سترګو   غافل ویښ ندئ اوده دئ
په رشتیا کښ زوال نشته   دا د ما کلام په وله دئ
اولیا بللي بویه   چه حلال په خوله په زړه دئ
ته ئې سست وینې په سترګو
دَ خوشحال اختیار تېره دئ

که په حسن دَ کشمیر خوبا اوښار دي   یا د چین او دَ ماچین یا دَ تاتار دي
پښنې جونه چه ما په سترګو ځیر کړې   هغه کل واړه خجل دَ دُوي تر کار دي
په ښایست باندې ئې ختم دا وینا ده   چه په اصل دَ یعوب قوم و تبار دي
هېڅ حاجت نشته دَ مښکو دَ ګلابو   په پنځه وخته لمانځه عطر عطار دي
که ټیکه که کېماله که نور سنګار دي   دا همه تر تورو زلفو پوري خوار دي
که اوړنی[1] مقیش دوزي که سالو[2] دي   دا همه واړه تر سپین پروني ځار دي
تر صورت ئې دَ سیرت خوبي افضل ده   تر ظاهر ئې دَ باطن خواړه بسیار دي
کل روزګار ئې سر تر پایه پرده پوښ دي   نه ګرېوان تر نامه ښیری په بازار دي
له حجابه پورته غټ کتلي نشي   نه آموخته په ښکنځلو په پایزار دي
ما خوشحال له ډېرُو لږ دي ښه وَیلی
له دې حاله ګوي مګوي وَیل بې شمار دَي

کله رند غُندي ملا واقف دَ راز دَئ   دَ کتاب دَ مسلو زبان دراز دَئ
زه مریَي دَ هغه چا یم ترې ځارېږم   چه دَ زړه سرَه ئې جوړ دَ خولې اواز دئ
چه ئې رَو دَ خولې دَ زړه سرَه یَو نه وي   که په هر لمانځه اودس کا هم بې نماز دئ
وار په وار ځما په زړه کا هسې چارې   که دَ سترګو ئې غمزې دئ که ئې ناز دئ
لا به ډېر ګلوُنه وا شی پدا باغ کښ   دَ ګلزار دَ غوړېدلُو ئې آغاز دئ
ښوک به نه وئ چه به غاو وربانديِ نکا   د َهر چا وَ ملامت ته عاشق ساز دئ
ځان و تن سرَه مثال کړه دواړه توکه   محنت که حقیقت دَئ که مجاز دئ
چه عزت ترې پیدا کېږي قناعت دئ   چه خواری ور ځنی زېږي هغه آزاد دئ
زه خوشحال له خپله بخته دلګیر نه یم
چه ځما ستوري ځائي دښمن ګداز دَئ

که هر ښو پخپله پوهه کښی سقیم یې   دَ حکیم په حکم کار کړه نور حکیم یې
که په خوله په غوږ په سترګو ښه زده نکړې   نور ور درومه ازلي سیه ګلیم یې
دَ سیرت خوبي پیدا کړه چه جوهر دَه   په صورت خو هډ وغوښه وینه ریم یې
پیر اوستاد مرشد به واړه درته شا کا   که په جهل مرکب کښ مستقیم یې
عاقبت به دِ په بخره ندامت شي   چه دا هسي دَ جاهل سرَه ندیم یې
دا دانش چه دَ هندو دَ شمار حساب دئ   که ته دا دانش کښې لئَم یې

---

[1] پرونی، چادر.

[2] که شالونه.

سخاوت په روايت په روغ په رنگ کړه نه چه درسه دنيا وَ بازې کريم يې
همېشه په زړه خوشحال اوسه غم مکړه
په اخلاص چه وَ دانا وَته تسليم يې

که هر څو په هوا پرونه وَهِي چتي بيا ئې زړه وِي په ډکي دَوني نښتي
شاه زلمی توري[١] نېزې خوري تردد کا په برېښنا دَ توري تښتي تېر اَرتي[٢]
سترگه ور اور اورکي ويني چه برېښي نوې مياشت په سترگو نه ويني سترگ تتي
ناسوتي عالم په څو په دنيا شخ دئ هلك تل دَ مور په تي پوري وئ نښتي
دَي دَ خپلي گوتي غم کاندي که نه وئ په شگون کښ عالم ښه گڼي شپږ گوتي
په هر ښکار به بې خطا چورب اَلوزي ما خپل باز دئ په پهرو پهرو پرانتي
که ئې بل له بد بويىِ سېړمې نيسي دَ خپل بوي په بد بوئي خوښ وئ خسا گوتي
څوک به څه لَره خوشحاله ته نصيحت کا
عاشق نه دئ نصيحت دَ چا نه نغتي[٣]

که هر تار ئې دَ کوڅې مشك تا تار دَئ دَ کوڅې تر تار ئې ښه دَ زلفوو تار دئ
هغه ځَاي چه مي دَ زلفو بازار جوړ شي هغه ځَاي مي دَ ماتيو[٤] تش بازار دئ
چه لذت دَ تورُو زلفو را تر زړه شي دَ ماتيو زيست روزگار کله په کار دئ
دا خبره څه عجب دَه چا ويلې چه دَ تورو زلفو بد سوي تاتار دئ[٥]
چه دَ تورو زلفو خيال ورڅخه نشته توري خاوري ئې په سر عمر ئې خوار دئ
که همه دنيا پرې وَښندي هم هيڅ ده هغه کس مي چه دَ زلفو خريدار دئ
خوار خوشحال چه ډېر صفت کاندِي دَ زلفو
په قيمت دَ تورُو زلفو خبردار دَئ

که هزار ځَله هنر کا هيلي بيلي[٦] څوک به نکا دَ ازل چاري تبديلي
دَ ازل حکم په مثل دَ هاتي دَئ دَ سرِي فکر مثال پرِي دَ ډيلي[٧]
دَ حيات اُوبه سکندر په هيلو غوښتې حضر بيا مونده عبث شوې دَ ده هيلی
يَوه څرنگه خونرېزه لار دَ عشق ده پکښي ډېري قافلې شولې قتيلي

---

[١] توری تېرې خوری.

[٢] په برېښنا دَ توری تښتی تېز اَرتی يا په پرېښنا دَ توری نشی تېز اَرتی.

[٣] نغوتی.

[٤] دا کلمه په يوه نسخه کښی ماتويو ليکلې ده يعنی څوڼی چه يوې خوا او بلی خوا ته وی.

[٥] ناتار دی.

[٦] خپلی سيلی.

[٧] يو راض چمنی واښه دی.

عشق یو هسي پوديرشم توري را زده کړ   چه په دېرش توري څکوم دَ قلم کيلي[۱]
عاشقانو ته اندک دَ دنيا مال دَئ   تر همت پوري کثيري دِي قليلي
دا دلبري چه په دا کشور کښ نن دي   په کشمير کښ به ئې نه مومې عديلي
هغه تُرکه چه ځان جوړ کا را ښکاره شي   تر جمال ئې حوري هم ندئ جميلي
په ارمان ارمان مي ځان راغي په شونډو   تا دَ شونډُو دارُو نه راگړه بخيلي
بيا هاله دَ محبت په کوڅه پَل ږده   که دِ ويني لکه ما کړلې سبيلي
خپل پردی به دِ هيڅوک سيله وَ نکا
اې خوشحاله که دِ بخت نشي په سيلي

که خاطر دِ دَ خوشحاله نه دلگير دئ   په خوشحال باندي هم ستا دَ ماښي وير دئ
دَ بيمار ساهه په شونډُو باندِي راغله   دارُو گر ئې لا علاج ته په تدبير دئ
دَ موسی په معجزه به څه گروهېږي[۲]   دَ فرعون چه هامان غُندي وزير دَئ
يار ځما په پالنگ ناست زه ولاړ په خوب يم   سرا سر ځما له لوريه نه تقصير دئ
ما خپل سر تر فلك وليده په پورته   د دې خوب مي معبره کوم تعبير دئ
بيا مي کينه سترگه لاندي باندي راپي   مگر بيا مي زړه يارئِ وته خير دئ
په وفا سړی دِ يار دَ هيچا نشي   چه دايم ئې په يارئ کښ تزوير دئ
په ژړا پوري مي خاندِي چه مي وکوت   دا همه واړه د ما د بخت تاثير دئ
هيڅ يَو مخ به ئې مخي دَ ښايست نکړم   ما چه ستا جمال ليدلي په ځېر ځېر دئ
د ما زړه دَ يار زلفيني سَرَه گوره
ليوني په ليونتوب کښ په ځنځير دئ

که پکار دِ ده دَ خداي پېژندگلي   پير وي دَ محمد (ص) کړه دَ علي (رض)
هر آيت چه به راته پاسه له عرشه   لا په عرش به ئې علي وُ متلي
محمد چه هغه راز ئې په معراج کړ   يکايك وُ و علي وته جلي
په محشر به هغه تور مخونه پاڅي   چه ئې نه دِی توري خاوري دَ تلي
محمد علي چه دوه ويني په سترگو   پدا کار کښ احولي دَه احولي
دَ زړه زنگ په بل صيقل نه ليري کېږي   په دوستي ئې دَ علي ده مصقلي
که دا هوبنره وَيل کا ورته رخصت دئ   محمد دي پيغمبر علي ولي
چه په بغض دَ علي يا د عمر(رض) دي   رافضي دي خارجي دَي خللي
دَ علی دَآل دوستي دَ ايمان زړه ده   څوک دي شك پدا په زړه نه راولي
چه تر منځ دَ چار يارانو بد وَيل کا   په مذهب کښ دَ هغو ده درغلي
دَ علي دَآل په مدح کښ جنت دَئ
دَ خوشحال خټك پدا دَه تسلي

---

[۱] يعنی خط او د گاږئ د عربې خط.

[۲] يعنی منل او گرويدن.

که رُویت ئې نا ممکن وَئ په دنیا کښې — دَ اَرنی وَیل به نه وُ په موسی کښې
چه موسی وته ځواب لن ترانی وُ — څه عجب جلوه لیدله شي پدا کښې
چه په ملك په ملکوت کښ مونده نشي — هغه هسي څیز ئې ابښي دَئ پما کښې
زه حیران یم پدا خلقو نه پوهیږم — تږي مري ولاړ تر حلقه په دریا کښې
چه په لا احصی وَیل ئې خبر دار کړم — چا د ما ژبه گویا کړه په ثنا کښې
دَ عاشق دَ معشوقې سرَه یو راز دَئ — چه هیڅوک ترې خبر ندئ په دنیا کښې
چه لیلي کړه دَ مجنون کونډئ[1] ماته — خوار مجنون ئې سر افراز کړ په هر چا کښې
نور که هر څو پاکیزه زه گناهگار یم — غم مي نشته بیا مي ځاي دَئ په ماوا کښې
دَ خوشحال دَ هغو لار سرَه جدا دي
چه ئې غواړي په مسواک په مصلي کښې

که چرگان کرکره[2] دار دي — بیا و باز وته ناچار دِي
نه یَو باز دَ ښکار دَپاره — نه که چرگ چرگي هزار دي
دَ معشوقي ښښوې واړه — دَ نور چا ندي دَ یار دي
عاشق عشق لَره پیدا دَئ — کفر دین ئې څه په کار دَئ
عاشقان دَ معشوقې دي — نه دَ مور دِي نه دَ پلار دي
دَ خپل وَر عاشقان گوره — چه په څو پراته خاکسار دي
په هغو دَ خداي نظر دَئ — چه مَین په ښه دیدار دي
عشق ناپوه وَته اسان دَئ — ورته گران دَئ چه هوښیار دَئ
په خوشحال به عیب نکا
چه په حال ئې خبر دار دي

که اسمان دَ چا په حکم جار وتلي — ځني څه چاري به وشوې تا کتلي
په رندو باندي لا هسي توره شپه دَه — که همه عالم ئې ویني نمر ختلي
هم ئې هیڅ راته پرې نښول هم بیا وائي — چه پاده اوسه لا هیڅ نه ئې نتلي
بیا ئې شکل په څه شان راته ښکاره کړ — لکه باز وِي له کریږه را وتلي
چه ادب ور څخه وِي صحبت هغه کا — بې ادب له مجالسه وِي یستلي
هغه یار مي لکه باز په پرواز ولاړ شو — طالع بیا ځما تر لاسه را وستلي
ځان چه نن تر مَین ځار نکړې خوشحاله
ځان به تا وي وَ نور چا وته ساتلي

که په کور کښ د سر دې دَ بدخشان وئ — یا ږنکوري دَ انگورُو یا رمان وئ
چه ئې زړه ور څخه موړ وِي نه ئې گوري — دَ وږ سترگیو ورته څو رنگه ارمان وئ

---

[1] دا کلمه تحقیق غواړي ممکنه ده چه گونډه وي، یا به کونډیَ وي یعني په مقابله کي دَ گا دریدل.

[2] یعنی طره او کاکل.

مور به څه پوښتې له نغن[١] چه نغن څه دي — وړي سپی خوړلي نغن ته نګران وئ
کله کښلي معشوقې ته نظر نه کړې — کله کوځي درته هم راحت جان وئ
په ساعت ساعت کښ حال باندِي نوربړِي — چه مي وليده سړی کله يو شان وئ
دَ سړی فکر په مثل دَ سيماب وئ — اضطراب ئې هر هر خوا ارمان ارمان وئ
کله کله ښاېسته شي په ګلونو — ګله کله لکه باغ باندِي خزان وئ
کله کله دَ خوښی په صحبت کښېني — کله کله په غمونو کښي حيران وئ
چه دايم په يَوه حال دَئ هغه خداي دئ — چه حالونه پرې ور درومي دا انسان وئ
آخر تله دي له جهانه باور وکړه
که هر څو خوشحال ژوندی پدا آوان وئ

که هر څو يې پدا خپل حسن کښ لويَ — دَ يارئِ حق هم پېژندلی بويَ
ما به زړه لتا نه وتاړه په بله — که موندي شوي هسي تا غُندي دلجويَ
دَ شرابو په خوړو کښ فهم وکړه — چه دِ نه شي دا پياله له لاسه نويَ
چه مکان ئې نا پيدا نښان ئې نشته — څوک به څه غواړِي دَ شپينُو بازو هويَ[٢]
د تشنه خودَ اوبو سَرَه مقصود دئ — که اُوبه ئې دَ درياب وِئ يا له جويَ
عاقبت به برخوردار پخپل مراد شِي — که دَ پلار په نصيحت کښ درومي زويَ
دَ خوشحال وَيل خواږه تر نيشکر دي
که په خوند ئې خبردار شې وئې ژويَ

که ته خوله و ماته نه راکړې ملکی — بلي هم راته نومړې دَه خولکیَ
په غمونو کښ دي هسي ځنځيري[٣] شوم — لکه اوړکی چه زبون شي په بلکیَ[٤]
په کړکتيو[٥] کښی دِ ېېر زړُونه پراته دي — پدا دوه زلفو دَ زړونو يې غلګیَ
چه څراغ ورځني دورمي پتنګ خوار شي — يو زمان له ما نه مه درومه دلکیَ[٦]
ما دَ ښو مخونو ښه ننداره وکړه — نشته تا غُندِي زيبا بله جلکیَ
ما ساده پښتانه څه زده چه ئې وائي — په پارسي پارسي خبرو مغلګیَ
جدائي ئې هسي سخته په خوشحال دَه
لکه ځي دَ چا له ځانه نه سلګیَ

---

[١] يعنی د تبی ېوډی.

[٢] ها يا هوی يعنی هګی او بيضه.

[٣] زنځيری شوم.

[٤] د وړو ماشومانو د ستونو مرض.

[٥] پړکه، دام، جال.

[٦] د دل اسم تصغير.

که اشنا که نا اشنا دئ   بولاق واړه بې وفا دِئ
که ئې خوښې کړې یا ئې خپل کړې   شاهي بیګ غُندی بلا دئ
چه آصف خرم ښه نشه   نور خرم په یار دَ چا دئ
خوشحال که یار غاروه   هم دَ ده نه دا غوغا دئ
که ئې ځان کړم یا ئې زړه کړم   ځان و زړه کله ځما دئ
نه ئې ننګ شته نه ئې شرم   نه پخپل قول وینا دئ
چه ګوتك ورته ښکاره کړې   لکه بنځې واړه ستا دئ
پخپل سود پخپل مقصود دئ   بند په خپله مدعا دئ
د سیالانو خوي ئې ندَي   په بېکار خصلت پیدا دئ
مخامخ و تا ته خپل شي
پردی واړه پس شا دئ

که په فضل شي څه غم دَئ   که په عدل شِي ماتم دَئ
له ګناهه به خلاص نه وِئ   چه په نوم بنی آدم دئ
چه ظلوم جهول ئې یاد ګړم   که پوهیږې ډېر کرم دئ
په لاتقنطوا تکیه دَه   ګڼه اور ووري تور تم دئ
زه هغه ناتوان ضعیف یم   چه مېږي تر ما محکم دئ
پدا ضعف هغه بار وړم   چه ترې تښتي درست عالم دئ
که لویئِ ته مي ګورې   میاشت و نمر دَ ما پرچم دئ
اسمانونه مي خیمې دِي   پرې دَ ستوریو زینت تم دئ
لا مي نور باغونه نور دِي   کمکي باغ مِي دَ ارم دئ
غم مي هیڅ نشته خوشحال یم
که خپل بخت را سَرَه سم دئ

که دَ یار دَپاره غم شدت څوک مومي   په خندا خندا دِ مخي ور درومي
دَ هغه سرِي یاري څه یاري نده   چه بې یاره ئې اوبه درومي تر کومي
زه له ورایه ورته ګورم یار مي ګوره   دَ اغیار سَرَه دَ میو پیالې شومي
ما به څه پوښتې د ما دَ یار له نومه   یو بې رحم بې وفا بې مهر نومي
نه ئې زه یوازې قتل په غمزو یم   څو ئې ما غُندې په ورکښې دي لړومي
په فراق ئې دَ ما اُوښي هسي تله کا   لکه څوک چه اخته سوَي وِئ په دومي
دا دواړه بدان نه ګوري له کسته   په ښه مخ باندِي و مشه دانې سپومي
که تازه یارئِ ښې نه دي خوشحاله
څوک به نه خوښَوِي غوښې دَ ورغومي

که سړی په مصلحت کښې لَربر نشي   زه ضامن چه دَ ده کار به ابتر نشي
و هغه ته سړی مه وایه چه پوځ[1] وئ   آراسته څو سر تر پایه هنر نشي

[1] چه پوچ وی.

که هر څو مشکل کارُونه درته پېښ شي   فکر مکړه چه آسان به په زر نه شي؟
ما چه ولیده خو زر دِي پدنیا کښ   خو سرِی دِ ئې په مینه کافر نشي
زویه یار که لاف کَوي باوري ندئ   څو په ډېري حادثې دِ باور نشي
دَ رستم دَ مړنتوب خبري اَروم   ولي څوک به بې لښکره صفدر نشي
چه دَ مرد دَ نامرد شناخت ور څخه نه وئ   بد صاحب څخه دِ هیڅوک نوکر نشي
دَ خوشحال خبري واړه نصیحت دئ
مگر خر وِي چه په زړه ئې اثر نشي

که تا وته حیران دئ دَ لیلی حکایت کړوني   و ما وته په ځان دئ دَ مجنون روایت کړوني
د هر وېښته په سر لَرم زه تا سره زر کاره   خبر ندئ له حاله دا بې کار نصیحت کړوني
څه ښه وشول طالع وې چه ئې ولیدې په سترگو   تر ما پوري خجل شول دا د ما ملامت گړوني
دَ حسن یغما چه دِ الجه راوړي دَ زړونو   پڅك دِ ستا وَ سترگو ته ببل کا قسمت کړوني
چه درد لَري په زړه کښ دَ هغه دارو موندل شي   هیڅا لیدلي ندئ دَ بېدرد طبابت کړوني
چه زه دَ بت سجود کړم مخامخ راته حاضر دئ   څه څیز ویني حیران یم دَ مسجد عبادت کړوني
کوم ملك دَئ له ما پاتو چه مي پل ندئ پریښي   هر ځای به ورته یاد کړم که څوک سته سیاحت کړوني
چه دو اویا مذهبه راته یو شول صلح کل یم   دَ کوم یوه مذهب دَي اوس ځما عداوت کړوني
په هسي ځاي مین یم چه ئې نوم واروي وگړي
نور تښتي تار په تار شي دَ خوشحال حمایت کړوني

که هر څو په سر د خیال د ستا زرین ږدې   عاقبت به سر دَ خاورو په بالین ږدې
دَ سلیمان غُندي هم پرېوتل له تخته   په فرس باندِي به څو دَ زرو زین ږدې
دغه پښې به دِ خوراک شِي دَ چمجیو   چه ئې اوس په شین شین په قالین ږدې
په ارمان به خالي لاس ورځني درومې   که په کور کښ په هر لوري سره اوسپین ږدې
په الا بلا که ټول دَ دنیا گنج کړې   پخپل زړه به داغ په دم واپسین ږدې
چه کردار ئې دَ گفتار سرَه سَم وِي   تش گفتار واړه په ځان نابدي نفرین ږدې
تا په زړه کښ سل خدایان دِي کښېنولي   راته وایه سر و چا ته په زمین ږدې
دَ غفلت تسپې په ورځ و شپه جار باسې   څو منت به په کرام الکاتبین ږدې
هر اَیت ئې دَ معنو په سترگو گوره   دَ صورت سترگي تر کومه په یاسین ږدې
یو قدم که په رشتیا له دنیا واخلې   خداي ړو بل قدم په پاس په علیین ږدې
که اسلام دَ خلقو دا دَئ اوس خو بویه   چه هندو غُندِي ټیکه پخپل جببین ږدې
زمانې څه نا انصافه را ښکاره شوې   پانیاتونه پدا دور آخرین ږدې
شاه جهان غُندي بادشاه په بند بندي کړې   په اورنگ باندِي خطاب د محی الدین ږدې
دَ مچی لاشه هم جوړه ور سرَه ورې   په هر حلق کښ چه خواړه دَ انگبین ږدې
دَ خوشحال ختك کوم جرم کوم گناه دئ
چه په زړه کښ ئې آهونه آتشین ږدې

که منصور غُندي کافر دَ محبت شي | ته به هاله مستقیم په شریعت شې
دَ هوښیارُو مجالس به ورته هیڅ شي | که دَ عشق دَ لېونیو په صحبت شې
دَ جهان خواږه به تا وته ترخه شي | که خبر دَ یار دَ مینی په لذت شې
فراغت به دِ هاله وَ زړه ته ورشي | که له خلقو کناره کنج و خلوت شې
دَ جهان په خزانو به دي خندا شي | که تونگر په خزانو دَ قناعت شې
که نظر دَ کیمیاگر در باندِي وشي | که ته خاوري ئې تر زرو به قیمت شې
دَ بې آبي مرغلري هیڅ قیمت وِي | په ښایسته سیرت به قدر دَ صورت شې

اې خوشحاله بتخانې دِي زړې[1] بوندي
خلیلي ناره پرې وکړه په همت شې!

که په مخ باندِي خالُونه عنبرین ږدې | [2]هونبره داغ به په خاطر د ما مسکین ږدې
دَ پیالې اُوبه خوړې شي تر نباتو | په پیاله باندِي چه دواړه لب شیرین ږدې
خدایه زړه په ما دَ کښلېو مهربان کړې | ته په زړه کښ دَ بتانو مهر و کین ږدې
دواړه زلفي چه وَلوَل سرَه حلقې کړې | په هر وَل کښ ئې گلونه دَ نسرین ږدې
خدای دِ نکا چه ئې یَو سر کړم یا بل سر | که تل مي په دا چشم جهان بین ږدې
ستا دَ پله خاوري رنځور غُندي آخلم | په هر ځای چه قدمونه په زمین ږدې
ستا تمامه خندا بخت دَئ څوک ئې مومي | په دا نیمه خندا طعن په پروین ږدې
چه لیدلې دي دَ عشق قمار خانه دَه | په لمړی بازي به یار ته دل و دین ږدې

آفرن دِ په وَیَلُو شه خوشحاله
په بیاض باندِي عجب شعر رنگین ږدې

گله ته چه ښایی د دې چمن یې | خار و خس وته په څه په خندیدن یې
دَ خپل ځان په قدر ولي نه پوهېږې | پدا باغ کښ خو یَو ته نازکبدن یې
دَ بلبلو بِغ به تل در باندِي نه وِئ | کښلیه گله په وفا کښ مبرهن یې
پخپل بوي دَ بلبلانو خاطر خوښ کړه | یَو څو ورځې چه تازه پدا گلشن یې
که جفا و چا ته وایم شمار ئې نشته | پدا هونبره ستمونو جان من یې
چه دَ یار له جوره چا وته ژړا کړې | دَ یارئ بلا په تا شه دروغجن یې

په یاري پوري دِ پېچمي کا خوشحاله
فکر ښه وکړه په چا باندِي مین یې

گل کرَم اغزی ترې ښېږي | نوشدارو مي زهر کېږي
چه مي څراغ په اوبو بل وُ | اوس په تېلو نه بلېږي
که ئې مخ وِي که ئې شا وِي | پخپل بخت هر څوک پوهېږي
هرَه ورځ که سل غمونه | له جهانه را رسېږي
ځما زړه پدا ډاډمن دئ | غم ښادي واړه تېرېږي

---

[1] دا کلمه په ځنو نسخو کښی زړ بوندِی لیکلې ده، یعنی نسل، خټه، نسب.

[2] دا بدله په نورو نسخو کښی نسته، له یوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه.

هم خزان هم به پسرلی وي　　چه اسمان په سر څرخېږي
ځما اُوښی گرمي ندئ　　که سیلاب غُنديِ بهېږي
په حضور دیدن ئې ویني　　ظاهر خان ځني ښلېږي
اوس خو اور په خوشحال بل شو
بیا به څرنگه سړېږي

که هر څو دئ پښتنې جوني طنازي　　دا دَ هند سکښي هم نه دِئ بې نیازي
نه ئې جنگ نه ئې ماتی نه ئې هوډُونه　　څړه[۱] مهري څړه مېني څړه نازي
خو یوه زره پړه[۲] نا سازه در کا　　په ماني کښ نه دعوې کاندي آغازي
په خدمت کښ تر صباحه لکه شمعه　　په یوه قدم ولاړي ځان گدازي
په غمزو په کرشمو په مکیزونو　　فرخ بخشي، غم تراشي، دلنوازي
په ادب په ظرافت په رموږ پوهي　　دَ صحبت په علم څو رنگه ممتازي
که هزار جورو جفا ویني له تا نه　　بیا له تا سَرَه خندا کا په خوله وازي
نَوي نَوي شېوې کا درته جوړېږي　　په څو رنگه جلوه کا جلوه طرازي
د ښو څوکي ئې نېغي ځي تر زړونوُ　　چه تېره تېره کاته کا لکه بازي
په جیو جیو درته پسې خبرِي وایي　　هر زمان له تا په څو رنگه همرازي
عجب سرې په پاښو شونډې درته خاندي　　میخي غاښ په مسي تور عشوه پردازي
غټ غټ تِي لکه انار په ملا نرئِ　　سر تر پایه دَ اوُمو ورېښمو سازي
دَ صورت په لطافت بې مثله روغي　　په قامت تر سر وِئ وني سر فرازي
خرخښې ئې دَ خوشحال له دله نه ځي
که جدا دِي دماغي باریك مجازي

که مي سترگي د باور کړې سَرَه لواتي[۳]　　په جهان کښ خو نېکي دَه نوري باتي[٤]
که دِ لاس د نېکي نه رسي دَ زړه کړه　　راشه واروه "الاعمالُ بِالنیاتي"
په جهان کښ که حجاج که نوشیروان وُ　　هم دا داد، او دا بیداد شُو ځني پاتي
له قسمته به نه کم نه به څه زیات شي　　دا دواړه اندېښنې دِي کم و زیاتي
که په څه هنر دِ هونبره توان رسېږي　　چه به ته کړې د مرگي لښکري ماتي
بیا هاله په جهان خوښ گرزه هوس کړه　　گڼه نوري اندېښنې دِي بې ثباتي
د دنیا وداني خوني چه لېدې شِي　　عاقبت به ئې نوم شِي د نېکی پکښ پاتي
سر تر پایه د خوشحال سره لباس کړې
خداي دِ واخله لباسي دنیا کم ذاتِي

---

[۱] سه مهري.

[۲] منت.

[۳] محشي پرانتي ورته لیکلي دئ.

[٤] یعني نوري تشي خبري.

لاس په لاس مو سَرَه وکړِې څه چارې[1] | چه پرُون مو تور منګور وژې په لارې
دواړه پښې له تا نيوَل له ما اخستل | زه به پاس په سترګو کښېږدم ستا پايزارې
څه اغزې لرې په مخ کښ زړه مې سکنې | اې په تور بانه د ما د زړګې خارې
دَولت والې به ئې څو ثنا صفت کړم | چه صبا کړې دَ غنچې پاڼې وېزارې
چه مې پاس په غاړه پروتی څنډېدلې | ښې وِې ستا مختولې[2] زلفې تار په تارې
چه په تا باندې ئې جوړ کړم زړه مې ښه شِې | نوم دَ حورې دَ پرئ اې نګارې
غرول ئې هم وتا وته ښکاره دې | چه دا تورې سترګې ته لرې خونخوارې

څه کوَم، که ته ښکنَځَل کړې لا خوشحال شم
چه کوَمه ستا دَ مخ زيبا ننداري

لکه يار را سره يار وو ُ هسې ندئ | چه ډېر ډېر به مينه دار وُ هسې ندئ
که په څو رنګه به ما ور باندِې ناز کړِ | چه دَ ناز مې به خريدار وُ هسې ندئ
دَ بهار بلبلې ژاړه څو په تا شې | لکه تل تازه بهار وُ هسې ندئ
شکر شکر چه ئې څه خو خوې بدل شو | چه يك لخته ستمکار وُ هسې ندئ
ستا دَ مهر دَ باران باندې کمې شو | چه مې جوړ دَ زړه ګلزار وُ هسې ندئ
يا ئې وېره شې له خونه يا ئې هېر کړم | چه مې مرګ ته په تلوار وُ هسې ندئ

ډېرې مينې دَ خوشحال عقل تغير کړ
لکه نور کله هوښيار وُ هسې ندئ

لاله ګل ئې تر جمال پورې بد ررنګ دَئ | دَ زلفينو ئې دَ چين له مښکو ننګ دَئ
توری ورځې ئې ليندی بانه ئې غشې | دَ عاشق تر زړه ئې تللې هر خدنګ دئ
دواړه سترګې ئې په تن تورې بلا شوې | همېشه ئې دَ عاشق له دله جنګ دئ
ته به وايې حبشې شکرې پېرې | هغه خال ئې چه دَ دوو شونډو تر څنګ دئ
تجله ئې دَ جمال لکه مشال شوه | خوار عاشق پدا جمال باندې پتنګ دئ
چه له غوړو ئې مقصود د مومې لښتی ده | چه له پوزې ئې مراد مومې لونګ دئ
په ښايست کښ ئې تقصير دَ صورت نشته | څه خو دا عيب لَرې چه په زړه سنګ دئ

دَ هر چا پخپل غرض پسې کوښښ دَئ
دَ خوشحال ئې په جمال پسې آهنګ دئ

لکه بځَن[3] چه حلوا خوري | عاشق سپينه خوله دَ شا خوري
څوک دِ غاؤ ورباندِې نکا | واړه خپله خون بها خوري
زه ئې تل خورم خوړې شونډې | که دا نور من و سلوا خوري
دواړه تې ئې ناشپاتی دې | چه ئې يَو يَو امرا خوري

---

[1] دا بدله په چاپې ديوان کښ نسته..

[2] دا کلمه په ټولو قلمې نسخو کښ دغسې ده، چه معنې ئې نسوه را ښکاره.

[3] حريص (درياب).

هغه هیڅ مرِني ندئ — چه به توره په قضا خوري
هم عاشق مرِي ستا له لاسه — هم سوګند په سر د تا خوري
وړی څه پوښتې له حاله — چه روا که نا روا خوري
خوله ئې پټه خوره خوشحاله
باز دَ ښکار غوښې په غلا خوري

لکه قلب مهر په لاس باندې برېښنا کړې — چه دَ اور په تاو کښ پرېوزي ځان رسوا کړې
هیڅ ځما په زړه کښ ستا اشنایي نه وه — کومې چارې لَرَه خداي د ما آشنا کړې
که دېر بد را سَرَه کړې په ښه ئې نیسم — خپلی میني راته ستا ترخې حلوا کړې
چه په تا باندې مین شوم حال مې ګوره — مګر خداي ځما خوارئ لَرَه پیدا کړې
که وعده دِې دَ لیدو په ماخستن وئ — په بورجل باندِې دِ ناست په ما سبا کړې
که د ما په دوکان ناست یې کالې ګوره — په زر سل ځایه په څو ځایه سودا کړې
کله مخ کله دَ شا وِی و بلبل ته — ګله ته چه ښاېسته شوی دا په دا کړې
په دا خوې دې اور د ما په کوګل بل کړ — زه د شمع غُندِې ژاړم ته خندا کړې
چه وفا دې دَ خوشحال سَرَه ونکړه
راته وایه اوس به چا سَرَه وفا کړې

له شیخه خبر نه یم چه په کوم عمل مشغول دئ — چه عشق ئې را فرمائې هغه کار ځما قبول دئ
عشق لکه بادشاه دَئ زه په مثل دَ چاکر یَم — چاکر چه دَ صاحب په حکم نه وِې نا معقول دئ
دَ سبا نسیمه پاڅه په تلوار تلوار را درومه — په هغو مې سلام وایه چه په ور کښ ئې نزول دئ
بل استواځی دَ عاشق د معشوقې په منځ کښ نسته — پدا میدان کښ ګوره محبت دَ ده رسول دئ
دَ یار غم مې له خلقه پټ پنهم درله په زړه کښ — ولی څه علاج ئې وکړه چه مې رنګ دَ مخ پدول دئ
چه په تور دَ لېونتوب مې هر سړی په زَولنو شو — ګرم ئې خلقو مه کړې هم هغه ځما د کول دئ
هم هغه دَئ همېشه ژوندون موندلَې له باور کړې — چه دَ مستې دَ غمزې او د جلوې په تېغ مقتول دئ
دَ ګلونو پاڼِې بویه ګه کمیس شِې دَ ملوکې — دَ ورېښمو له کمیسه ئې نازک بدن ملول دئ
ګوره ښه جمال چه لا به کله ور ښکاره کا
دا چه همېشه دَ خوار خوشحال ور پسې نول دَئ

لکه زلفې دَ هغو چه سودا ستا وِئ — بویه دا چه ئې سروُنه تر پا ستا وِئ
لکه دَ سبر ونه لاف کا ستا تر قده — بویه دا چه دا په قدوبالا ستا وئ
هغه زړه چه تا ویشتلې زړه هغه دئ — تا ویشتلې زړه به تل په هوا ستا وئ
په خاطر کښ به ئې ځاي دَ نور څه نه وئ — په هغه زړه چه هوا تمنا ستا وئ
کله وِئ چه ستا له لاسه چا ته ژاړم — که هر څو بې حده جور په ما ستا وئ
که په سل رنګه زېبا دَ چمن ګل دَي — دَی به څرنګه په رنګ دَ لقا ستا وئ
د خوشحال غُندِې به مست ګرزي په میو
چه هوا دَ برندو سترګو دَ چا ستا وئ

له اوله په سر جوړي کا دړی — بیا ټېکه په ورځیو ږښي[١] خونړی
جړاوي حلقې په غوږ ږسر په پوزه — قیمتي دَ مرغلرُو دوه لړی
مرصع باهو په لاس گوتي په گوتو — ژر نگهار ئې دَ پایلو دَ ځړی
په ښېوه ښېوه عاشق ته ځان ښکاره کا — په غمزه ئې زړه کا وَو وړی
چه له هسي محبوبا ئې آشنایی وئ — پرې به کېږي پادښونه دَ نرې
په وصال به ئې په څو رنگه هوس کا — په هجران به ئې ساه راشی تر غړی
سر تر پایه آراسته شي په څو رنگه — په لیدلو ښاپېری دَه نه سړی
دَ زلفینو ښاماران ئې هسي ندئ — چه خوړلي ئې رغېږي په جړی
خلقو زه دَ تورُو زلفو لېونی یم — لا مي ښه په خنځیرونو وتړَی

زړه ئې هسي دَ هجران غمونو موړ کړ
دَ خوشحال تر ستوني ندرومي نمړی

لکه زه په یار مین یم بل نه وِي مین هسي — لکه زه پسې غمجن یم بل نه وي غمجن هسي
هم مي ووژني پخپله هم پما باندي ژړا کا — څه ښه یار دَئ ښه ئې مینه وژل هسي شیون هسي
مخ ئې درست سَرَه گلزار دئ رنگا رنگ لَري گلونه — تفرج دَ بهار گوره پکښې نشته گلشن هسي
زړه داغدار غرقه په وینو لاله گل وَته وگوره — هیڅ شهید ندي راوړي له ازله کفن هسي
تورُو زلفو ته ئې گوره ښایسته دواړه رخساره — دَ جهان په مخ نه وِي[٢] سنبل هسي سمن هسي
لکه زه ئې ننداره کړم ورځ و شپه پخپله خونه — خوار مجنون لېدلَي نه وُ په درست عمر دیدن هسي
که دَ گل پاڼي ئې خط کړي لا به هم باندي څرخېږي — دا نازک بدن چه ستا دَئ دَ چا ندي بدن هسي
که ئې رسم یا ئې دود دَئ یا وفا دَ هندوگی — چه له یاره سَرَه کښېني حڅک به وکا سوختن هسي
چه څوک ټاپ در پسې وکا سَرَه ټك وهي لاسونه — دا ژوندُون دَئ مردن ندَئ که دِ وشي مردن هسي
دَ ارم آرام مي بیا موند ستا په غولي کښ خوشحاله[٣] — خوښ له بخته له قسمته چه ئې را کړ وطن هسي

چه خوشحال خټك ئې وایي په پښتو ژبه خبري
په پارسي ژبه به نه وِئ که پوهېږي سخن هسي

له غمونو به خلاص شي دَ غم خوېش يې — که بد گوي و بد آموز بد اندېش يې
مه بد وایه مه بد اروه مه بد گوره — دروېشي دِ مبارک شه نو دروېش يې
ستا په زخم به دارُو مرهم نور کښېږدي — که په ځان مرهم دارُو دَ چا په رېش يې
که دِ ځان پخپله شمار تر هر چا کم کړ — نور ځما په پوهه ته تر هر چا بېش يې
یا به دد یا به منگور یا به لړم يې — که داړل کړې یا چیچل یا په چا نېش يې
پخپل دین نظر لَره دینونه ډېر دئ — څه جاسوس دَ چا دَ دین دَ چا د کېش يې
که هر څو در ځَنی غړېږم بده خویه — څه په هَره کوڅه بیا وَ ما ته پېش يې

---

[١] کښېږدي.

[٢] د جهان په باغ کښ نشته.

[٣] خوشحال شوم.

په کردار توره مشکښې يې خوشحاله!
په ګفتار سَرَه دَ سپينو درو وېش يې

ما ليدلی دي په دا سترګو پوهرِي[1] لکه نخښي دَ هر چا غشِي ته بَرِي
په زړه څو ځايه وړتوپن ئې روغي په خوله نر ناحق و هر چا وته زيري
په خندا خندا ئې اوښی ځي تر سترګو لکه چرګه دَ مستی وهي چقړي
په سبا ښېګاه ئې فکر نور څه نه وِئ تل ئې ذکر د ذکر دئ ولپړي[2]
هيڅ له خپله خويه نه اوړي په عمر که ئې دَړي په تندي کړې دړي وړي
همېشه سترګي نيولي و خپل ښکار ته وغوټې وته وار ساز کا[3] لکه لګړي
ږغ ئې ولاړ په درست جهان د بد کارئِ سور بيرغ د چټګي پوري په لګړي
په چووه په عطر غرقه سر تر پايه دَ اجمير په فليل دواړه زلفي غوړي
د محل دننه ناستي زربفت پوښي چوهړي ته ووزي پريوزي په غوشيړي[4]
که ئې پلار نيکه له ځايه بادشاهان وِئ نه د پلار نه د نيکه په شرم اړی
مړ هندو غندي په سر و لمبو کښ وسوئ
چه ئې ولېدې خوشحال دَ اور لوخړي

مخ ئې را څرګند کړ ويې هسي رنګ اَفتاب وئ زلفی ئې نمود کړې ويې هسي مشکناب وئ
وې مي خپله عمره په شتاب له ما نه مه ځه ويې که دِ عمر يم دَ عمر تله شتاب وِئ
هسي ئې بې اَبه دَ ګلابو ګل تر مخ شو زرمنه که وسېځې حرام که پکښي اَب وئ
هجر مي وژلو ته تيار دَئ که خوله راکړې هجر به هلاک شي زه به خلاص شم ستا ثواب وئ
مرم دَ عشق له لاسه نه دَ مستي په غمزه مرم کار تېره چاړه کا لاس او زړه خو دَ قضاب وئ
هر چه ته ئې وليدې په تا ئې زړه باي نه کړ زه وايم سړی ندي هغه به هم دواب وئ
نن کانده هر ګوره په آزار دَ زړونو مټ کړې هسي فکر نکړې چه آزار دَ زړه عذاب وئ
نور به دَ خپل يار سَرَه څرګند مهر آغاز کړم څو مي به له خپلو له پردَيُو نه حجاب وئ
ستا دا بې نظېر جمال چه وَوينم په ده کښ
تر زر سحر خېزئِ ښه خوشحال ته هغه خواب وئ

ما چه ستا په جمال سترګي کړې رُنې کښلي واړه ستا دَ مخ دی د ښې
چه په داد و په فرياد مي نه رسېږي دا دلبري بې پروا دِي که کښې
ګنُدي وِي چه بيا مي راشي په منګل کښ لکه باز دَ زرکي توې کا ښې
سپهنه زنه ئې منه سمرقندي دَه ګوره څوک به خوږ کا زړه پدا منې
که دِ سپين بارخو کبود کړم په چيچلُو اوس مي نه ګنې هاله مي به ګنې

---

[1] بد لمني ښځې.

[2] وله پړ.

[3] و غوټې ته وار ساز کا.

[4] مردار ځاي.

بخته ته که دَ خوشحال سرَه مدد کړې
دَ رقیب په سر ئې وَشلوه پنې

ما خو توبه وکړه که زړه هم را سرَه مل شي عشق دَئ چه همېش ئې په توبه باندې یرغل شي
ډېر کاندې فکرونه دا سړی په ډېر رنګونه کاشکي دَ چا چاری پدا خپل فکر فیصل شي
څو وایی پندُونه درومه اې نصیحت ګویه زه څه هغه نه یم چه و ما وَته اټکل شي
هوبنره رسوایی دم وهَل دَ پارسایی راشه که ئې ګورې چه دا څه دغا دغل شي
کار دَ عاشقی څه آسان او سهل ندئ اوس چه پشیماني کړې دِله دا فکر اول شي
زهد په لاس واخلم چه به نه ګورم دلبر ته خیال ئې دَ زلفینو راته بیا دَ زهد غل شي
زه وایم که تل دَ ښایسته وو ننداره کړم شرم دَ پېرۍ تر دا منځ راته خلل شي
تل به په ارمان ارمان مګس موږې لاسونه یاد ئې چه په زړه دَ شاه دَ لام و بې عسل شي
اور دَ محبت دَئ چه ځما په زړه کښ بل شو ګوره پدا اور به اور په څو ځایه نور بل شي
زه په بېلتانه کښ دَ وصال نارې وهمه څوک چه اوُبه واخلي و پایاب وته ئې زغل شي[1]
کښېنمه په طمعه دَ مَین دَ مخ په اور کښ نور ځایونه پرېږده که تنور راته بورجل شي
نه رسي تر یاره هر چه ډېري اندېښني کا نوري کیسې پرېږده دَ عشق کار په توکل شي
ګډ شم په ګلشن کښ لَمن ډکه کړم دَ ګلو بیا بې خوده ولاړ شم واړه ګل را څخه تل شي
هر چه بد غلیم دَئ ګرفتار په عاشقی شه اور ئې پیدا نه ولي دَ ده سینه منقل شي
هونبره دَ خوشحال خټك تقوی زهد پرهېز شته
ستا چه توری زلفي په سپین مخ باندِې ولول شي

ملاحت چه صباحت سرَه آمېز شي دَ دلبرُو حسن هاله شور انګېز شي
خدای پخپله په ښه مخ باندي مَین دئ خدای ئې واخله چه له کښلیو په پرهېز شي
په زمان به د زاهد خونه اُلجه کا که د سترګو دَ ترکانو ئې پرې خېز شي
دَ غمزې سمند ئې جوړ کړو جولان ته ګوره بیا به ئې په چا باندِی مهمېز شي
دَ دوږخ لمبې به هم ورځني ډار کا که دا اور مي دَ خاطر په حشر تېز شي
دَ عشق بوي مي به ولاړ نشي له هډُونو که هر څو په تورُو خاورو کښ رېز رېز شي
چه ګه ناز کا ګه عتاب کا کله مهر
دا ئې واړه له خوشحال سرَه مکېز شي

مخ د آئینه دئ باندي ندي تر سېري آه دا خوار عاشق دئ ډار ئې وکړه دَ چېري
سر تر پایه زېړي زعفراني جامې اغوستي راشه توري زلفي فلیل پوري اجمیري
تا وې چه دَ مخ قدر قیمت مي پتا څو دئ څو به درته وایم په ما دوه ګونه پېري
راز دَ خوار عاشق دَئ چه په شپه دَ جدایی درسته شپه بې خوابه دَ اسمان ستوري شمېري
تا وَیل ځېر ځېر مي مخ ته ګوره کُندي موړ شې زه یَم هغه وږي څه له ما غوارې سېري

---

[1] په ځنو نسخو کښ داسی دی: و پایاب ته ئې اړل شی. زغل به د زغستل مخفف وی، اړل په معنی د حرکت او رغبت دی.

تا سَرَه په سیل دَ ګلونو سهیلی — هسې نمائي کا لکه بلبل دَ سېرې[۱]
واړه را څرګندې دي دَ درست کلي دلبري — ته ګل دَ نرګس يې نوري ګل دَ ګنډېري
سترګي دِ بلا دِئ چه ئې واړوې ملالی — زخم پیدا نه دننه زړُونه خځیري
ته چه په ښه حسن جمال تیره تر لیلي يې
ځکه تر مجنون دَ خوشحال ډِغ دَئ دَ تېري

مزري کله پرهېز ګار دَئ — خو راغلي په خپل ښکار دئ
خوره خوروه له خپلو لېچو — مزري دا کا چه رویدار دَئ
چه په توره ترک تازي کا — هغه هر کله کامګار دئ
چه اخلاص لري په زړه کښ — هغه واړه ایمان دار دئ
چه ئې زړه نه وِي دَ توري — هغه زړُونه څه په کار دئ
ننګیالي چه په ننګ راشي — نه په زویه نه په پلار دئ
سل دَ ښکار تر تازي ځار شه — کوټګان چه دَ بازار دئ
مور دِ نشي باندي بوره — چه مېږُونه دَ کار زار دئ
څوک چه شته تر شرقه غربه — د تورزنو خدمتګار دئ
سر دِ نه غړوِي خوشحاله!
دَ بلا نه چه سردار دئ

مخ دي په پلو کښ که څراغ دَئ چه بلېږِي — خوله ده چه وَیل کا که شکري دي تلېږِي
سترګي دي که وروځي که په څو کښ تېر انداز دي — شونډې دي که غاښ دئ که دا لعل دُر ځلېږي
زړه دَئ په کوګل کښ که دا کاڼي په سپین زر کښ — قد دَئ که شمشاد دَئ چه تازه نوي څلېږي
مهر خندا پرېږده دَ دلبرو درته وایم — تش خالي کا ته ئې هم په هیچا نه چلېږي
چا ئې چه په غولي باندِي ینبي چېري پل دئ — بیا چه ځني درومي په ځاي پاتو شي شلېږي
تا ویشتلي ګوره چه جدا له نوره خلقه — سرې سترګي اوښتي په ژړا ژړا نخولېږي
ستغ لري هم ځوړ لري دَ غره غُندي سینه مي — تل باندي دَ اوښیو کاروانونه دِئ چلېږي
څه حساب شمار کړې چه په سر ګرزي دا ژونده — څو عالم ئې دَل[۲] کړ لا به څو عام دلېږي
لاف به مېړه نکا که ئې چېري تر خولې وووت — بیا که نور وَیل کا نور دَ ده ږیره کلېږي
هیچا ئې صفت دَ مخ دَ موتر سَرَه نکړ — سل د سخندان په ورځ و شپه سَرَه للېزي[۳]
زه خوشحال پښتون چه په پښتو په پارسي طاق یم
لا مي په پښتو ژبه کښ ژبه در غلېږي

---

[۱] وقف سوی ځای، دَ مسجد یا زیارت دپاره کوم ځای جلا کول، چه له هغه ځایه هیڅوک ښکار او نوره شخصي استفاده نسی کولای.

[۲] یعني ووړ او میده.

[۳] لل یعنی ویل.

ما څه شونډي غاښ دَ هغه يار ندي ستايلي   راشه که ئې گورې لعل و دُر مي دِي پېيلي
هر چه عاشقي کا خوب خندا باندی حرام شيِ   نور عالم به څه کړې ما په ځان دئ آزميلي
ځني عاشقان هوا هوس کا په وصال کښ   څوک جدا له ياره په آه آه کښ زېړ ځبېښلي
يو مزي وېښته په طريقت کښ لوي حجاب دئ   ځکه قلندر بِږېره بريتونه دِي خريلي
ما پدا جهان کښ بل استاد ندئ ليدلَي   پېر مرشد مي عشق دئ واړه عشق دي را ښيلي
سل سره بني دِ تر دا يو غزل ځارېږه
نن چه دا پښتو دَه گرلاني خوشحال ويلې

ما چه وکوت دَ دنيا خلق مختوري   قابوچي دي واړه گوري پتاو سيوري
چه ئې څه دَ دنيا سود څه ئې فايده وِئ   دَ خپل زړه په يرغ نيسي هغه لوري
خپل ئې لا په بدي پاڅي تر پردَيُو   خو دِ خداي دَ بدو نکا دَ چا ستوري
يا دَ لېچو زور پکار دَئ يا دَ زرُو   خوار هغه شو چه په دواړه وِئ کمزوري
سر تر پايه منافق واړه بد بوي دئ   که په سر ئې سپين منديل دَئ لکه اوري[1]
کال پل کال چه ورته وگورم نور نشه   دَ لاله دَ زړه په داغ ختلي غوري[2]
د ناپوه بخره ښادي دَ هوښيار غم ده   څوک به وران کا دَ ازل دَ قلم توري
دَ يوه گوله په خوله دَ بل په زړه کښ   په حساب لکه کې وري[3] شه دوه موري
غل بې غمه ننداره کاندِي خوشحاله
په تهمت تړلي ساد[4] درومي سر توري

ما فراق دَ حبيبانو ژړَوِي   زړه په ما دَ رقيبانو سړَوِي
چه سيلاب ځما د اوښو را روان شي   عمارت د ما دَ صبر نړوي
عشق ځما په عقل وکړ هسي چاری   چه هلك مي په خبره واړَوِي
مه هجران وَي مه دَ ده ترخه غمونه   چه مي تل له خوږه عمره مَړَوِي
دَ فراق په شپه ئې خوب په ما حرام کړ   دائِم مالگي مي په سترگو دوړَوِي
په پيغام ئې دَ وصال هسي تازه شم   لکه باد دَ گل غوټۍِ غوړَوِي
يمه پوخ دَ عشق پکار لکه کَودري   نور مي څه دَ غم وَاورته کړَوِي
په ليدوُ پسې ئې مرم سخ دَ هغو دئ   چه وَ مخ وته ئې سترگي غړَوِي
که دَ زړه په محبت شِي خوشحال ځوان دئ
پدا سپين وېښته ئې خلق زړه وِي

مښك افشانه په کاکل يې   عنبر بېزه په سنبل يې!
چه و مخ وَته دِ گورم   په مخ درسته لکه گل يې

[1] يعنی سپلنی، خردل، چه دننه تور او دباندی سپين دی.

[2] غور په معنی د پيغور ده.

[3] يعنی پسه.

[4] پاک، سوتره، ايماندار (درياب)..

تنګه خوله دِ غنچه ګل دَه　　په لبانو لکه مل یې
په رفتار کښ لکه زرکه　　په ګفتار لکه بلبل یې
پښتنه یې په بد جهل　　ستمګره تر مغل یې
پدا تورو شهلا سترګو　　هم شاهین هم ئې منګل یې
څو خوبیِ دَ جهان دِي　　آراسته په واړه ګل یې
لکه سبر په چمن کښ　　په قامت په تجمل یې
دَ خوشحال وَ مرګ ته ناسته
په غمزه په تغافل یې!

مار که هر څو پېچ و خم ځِي　　خپلي سوړي لَره سم ځِي
دَ غفلت له خوبه وېښ شه　　شېرين عمر دم په دم ځي
مرګ به هيڅ سرِی پرېنږدي　　وار په وار به درست عالم ځي
بې دليله به ځَان ورک کا　　مسافر چه په تور تم ځي
دَ پېښو وار ئې خطا کېږي　　چه قاضي لَره څوک ګرم ځي
که قضا وَته تسليم شي　　هم پدا له دِله غم ځي
دَ دوږخ دَ اور علاج کا　　چه سحر تر سترګو نم ځي
هغه عمر لکه باد دَئ　　چه په غم دَ بېش و کم ځي
چه تور مښك دِ حبطه کړل　　په کافورو څه ستم ځي
چه نه تول لَراي نه پوله[1]　　هغه هر چرته خرم ځي
منډي پرې مړده خوشحاله
که دِ سر لکه قلم ځي

مست دَ هغه مخ يَم چه مخموري لري سترګي　　هسِي پرې غوڅېږم وايي تورِي لري سترګي
يار مي په ښايست کښ بې نظېره بې مانند دَئ　　لا په درست صورت کښ ډېر مشهوري لري سترګي
ډېري کښلي سترګي ما ليدلِي دِي دَ کښليو　　تا غُنډِي يَو يَو په بڼو پري لري سترګي
سل ځَله دي شيخ ملا صفت ورځَني کاندِي　　ښې به ستا تر تورُو سترګو حوري لري سترګي؟
ناست دي لکه ځري[2] رقيبان و خوار عاشق ته　　ځَکه ستا له مخه هوري دوري لري سترګي
هر چرته چه ته يې هغه لور ته مِي نظر دَئ　　هر چرته چه زاڼي شاهين هوري لري سترګي
نشته په جهان کښ تل طلب ور پسې کړمه　　يو هسي منظور چه نن منظوري لري سترګي
نه ګوري و چا ته څو پخپل ښايست غره[3] دَه　　ګوره دا خيال په څو مغروري لري سترګي
سخ دَئ دَ هغه چه خوښ خورم دَ يار په وصل　　هر ساعت دَ يار په مخ مسروري لري سترګي

---

[1] چه نه پول لری نه پوله.

[2] سيد راحت ليکلي، چه ځرى هغه لرګي ته وايي، چه د ستون پر سر ئې کښېږدي، او شهتېر پر واچوي مګر دغه معنا دلته ښه نه ورسره لګېږي.

[3] وى.

راشه که ئې گورې چه خوشحال په درد و غم کښ
ورځ و شپه بې تا په اوښیو پرُېږ لري سترگي

مگر رسم دین آئین هسي لرې   چه دا خوار زړه مي غمگین هسي لرې
دا دَ زړونو مېني وراني پرتې ښې دئ   چه تل آس دَ جفا زین هسي لرې
عاشقان به لکه مچ ورباندي گرزي   دواړه لب چه شکرین هسي لرې
څه نسرین[1] دِ دَ سنبل سَرَه دسته کړه   چه دَ تورو زلفو چین هسي لرې
دا یو ستوري دَ اسمان دئ که تېکه ده   چه ئې ښښي په جبین هسي لرې
کله کله به مرهم ورباندِی کښېږدې   که همېش مي په زړه خوږېن هسي لرې
لکه مخ ځما دَ یار دَئ اې باغوانه!   په درست باغ کښ یَو نسرین هسي لرې
په کوڅه کښی ئې څه ته گرزې زاهده   که دا خپل عقل دوربین هسي لرې
میاشت به څه لَره اوس لافي دَ خوبی کا   ته دلبره چه مخ سپین هسي لرې
که هر څو ښایسته ډېر لرې کشمېره!   لکه یار یَو نازنین هسي لرې
چه ئې پورته کړې گلونه تر ښکاره شي   یو پلو دواړه آستین هسي لرې
دَ خوشحال په حال به چېري ترحم کړې
مستي ته چه زړه سنگین هسي لرې

ښېتر ستا دَ قد سیالي و نه کړه دنگي   اور ئې بل کړ پخپل ځان په ننگي ننگي
سَرَه ښه دَ زړه خوښي کاندي همزولي   نه دَ لوی نه د هلك، وی[2] یار دا کنگي
په خیال خیال ئې تر پوې بدري[3] و مه خوره   وَ منډیل شملې پرېښي سپور دَ منگي
دَ خوشحال وَیل و هر چا ته ښکاره دي
نه دَ مښکوُ بوي پُټېږِي نه دَ هنگي

نصیحت دَ دانایانو دَ کتاب دَئ   دَ احمق ځواب هم نه ځواب ځواب دَئ
چه عیسی په غرونو تښ له احمقانو   دا تعلیم ئې راته پاتو پدا باب دئ
لکه دد دَ صحرا ډېر دِي په هر لوري   په هر ځاي دَ احمقانو څه حساب دئ
سړي واړه سَرَه سم ندي په عقل   یو آفتاب دئ بل مهتاب دَئ بل شهاب دئ
یَو په قدر شهنشاه دَئ په دنیا کښ   بل دَ دین په مرتبه قطب اقطاب دئ
دَ هوښیار چه له نادانه زیست روزگار شي   که ئې گورې دا هم سخت گنده عذاب دئ
دا سړی دئ چه اغزی دئ سر تر پایه   دا سړی دَئ چه همه گل گلاب دئ
ما خوشحال چه ځان له خلقه کناره کړ
دا پدا چه نادان ډېر دانا نایاب دئ

---

[1] نسترن دی د سنبل سره دسته کړه.

[2] دِی.

[3] په ځنو نسخو کښ بودری لیکلې ده یعني نوک خوړل او خطا وتل.

نه د عشق مدار یواځِي په دیدن دئ   پدا کار کښ لا په هورته شنیدن دئ
ښه چه شپه دَ جدایئِ خداي آخر کړه   سبا کیږِي اوس دَ صبح دمیدن دئ
تل په ستغ په خوړ دَ اوښیو قاصدان دي   چه طلب ئې دَ دلبرُو دَ دیدن دئ
دَ خطا آهو په بوي دَ نافې ښکار شي   راته بس دَ هغو زلفو شمیدن دئ
دا ستم په عاشق هغه کا نه نور څوک   چه و کښلیو ئې ورکړِي دا دَیدن دئ
کله کله به آرام د ما دَ زړه شي   که یك لخته ئې زده کړِي رمیدن دئ
خوند دَ شهدو دَ شکرُو راته هیڅ دئ   څو مي یاد دَ هغو شونډُو مکیدن دئ
نور دارُو ور لَره مکَوَه طبیبه!
چه خوشحال ور پسې مري هغه دیدن دَئ

نفس شیطان دواړه بلا دئ   را پسې څرگند په غلا دئ[۱]
ځني چاري لَرِي پټی   ځني چاري ئې ملا دئ
دَ هغو جزا سزا کا   چه په جهل مبتلا دئ
خداي ئې خلاص لَره له عُجبه   څوک چه ناست په مصلی دئ
دَ دنیا دَ هوا چارِی   سر تر پایه ابتلا دئ
جاه به چاه شِی وَ هغو ته   چه دَ جاه په تولا دئ
دَ دنیا ښادیِ واړه   که باور کړې واویلا دئ
اندیښنې گوره خوشحاله
چرته سري په قلا دئ

ناقرار زړُونه قرار شوي   د زړه غم ئې تار په تار شوي
دَ هجران غمُونه لاړي   بیا دَ وصل دندو کار شوي
هغه لاس چه بې حنا دئ   بیا حنا سَرَه نگار شوي
شانه ورغلي تر زلفو   رانځه سترگو سَرَه یار شوي
دَ پایلو دَ څړیِ   په هر لوري ژر نگهار شوي
په گنگو دِ زیړ پړوني   په څو وه سَرَه خالدار شوي
وار دَ غم دَ ژړا لاړي   وار دَ بوس او د کنار شوي
په عذار دَ مهوشانو   بیا کبود کبود پرهار شوي
چه خوشحال ور پسې مرینه
ور ښکاره هغه دیدار شوي

نن ځما کره میلمه عزیز دَ خداي دي   چه ئې پاس ځما په سترگو باندي ځاي دئ
پخپل ځاي ناندِي قائم دَئ لکه قطب   همیشه دَ گم گشته وُو رهنماې دئ
چه پرې څه خو توجه دَ فکر وکا   یَو زه څه چه دَ هر چا مشکل کشاي دئ
چه گذر ئې پدا غولي باندِي وشو   سعادت ئې ور سَرَه راوړ همای دئ
ما پرې اوس د غلطِیِ کرښه وکښه   پخپل راي مي چه منلي دَ ده راي دئ

---

[۱] را پسې الا الا دی.

دَ پادشاه څخه ئې مه غواړه چه نشته — هغه گنج لکه په کور کښ دَ گداي دئ
تناونه به ئې ورسي تر نمره — لکه زلفي چه ئې سرېښي په پاي دئ
دَ ښه حسن به ئې څوک کاندي ستاينه — چه دَ خپل حسن پخپله خود ستاي دئ
لکه عمر لارغه[1] رايشي ژر درومي
په هجران ئې دَ خوشحال خټك هاهاي دئ

نن دَ يار دَ لاسه بيا يو تير راغلي دئ — بد رسا دَ ځان په وړلو خير راغلي دئ
زه چه دو اسپه له عشقه تبنم پټېدلم — بيا را پسې گوره گير اگير راغلي دئ
ښه چه پکښي بند شو وَئې مشلوه له زلفو — زړه مي ليوني دئ په خنځير راغلي دئ
چرته يې اې عشقه چه وربوز ئې راته مات کړې — بيا گوره چه عقل په تدبير راغلي دئ
څو نبره ښايسته يې چه دَ مخ په نندارو دِ — درست وگړي مات شه ما وې پير راغلي دئ
ټول محبوبه راغلې سمن بوئي سيه چشمي — ما وې چه ته راغلې درست کشمير راغلي دئ[2]
څوک که جهان نيسي په لښکرُو هغه ترک مي — گښي ځان دَ زړونو په تسخير راغلي دئ
زړونه ئې زخمي کړه چه ئې گوتی په بم کښېښوې — غوږ باسه له بمه اوس په ځير راغلي دئ
وچولي چه تر يو کړې ورته نه گورې په مهر
وايه له خوشحاله کوم تقصير راغلي دئ

نادانان پخپلی چاري ښه پوهېږي — دانايان که ئې په چارو اندوهيږي
چه نادان ئې په مخ وخوري هاله پوه شي — گڼه هونبره په خبره نه گروهېږي
کاني بوټي وچ لانده هر څه پر مخ وړي — مشيت لکه درياب دَي چه بهېږي
چه سرې اوبه ئې کښېوزي په نظر کښ — کله ترې له سرو اوُبو سهېږي
په هغو خوړو پېښ مشې چه ئې نخورې — سرَی هسي په ليدو ورته سوهېږي
که وَيل ئې په هزار رنگه سودمن دِي
دَ خوشحال په وَيل کله حؤک گروهېږِي

نن ځما په خېلخانه کښ څونبره غم دَئ — چه حيران ځموږ په کار پوري عالم دَئ
ناخلف زويه اغزي کړي خپل پلار ته — د خلف زويه گلزار له عمره سم دئ
نا قابل زويه دوږخ غُندِي پيدا دئ — ښه قابل زويه په خونه کښ ارم دئ
ښه فرزند دَ پلار په خونه څراغ بل شي — بد فرزند دَ پلار په خونه کښ تور تم دئ
په لوي والي کښ ئې خوي د دام وَ دد دَئ — اوس دَ زويه خوبي هونبره وئ چه کم دئ
نالايق زويه ننگ نام دَ بابا ورک کا — که ولاړ ئې دَ نيکه دَ پلار علم دئ
دَ قابل سرَه به غم دَ نام و ننگ وِئ — ناقابل په غم نيولي دَ شکم دئ
چه دا هسي رنگه سپي ځني پيدا شول
لا په شك يم چه خوشحال کله آدم دئ

---

[1] يعنی رهرو، او مسافر او پر لاری تلونکی.

[2] ما وې چه په راغله ئې کشمير راغلی دی.

نور څوک نشته لاندي باندي   واړه دَي دَي چه څه کاندي
د ده حکم به نور نشِي   که ژړا کوي که خاندي
دَی قادر دَي باندِي ښايي   که کيميا کا گل د سپاندي
څو سينې ئې کړې قراري   چه په غم وې ځَلبلاندي
څو ړې بيا ورباندي پاس کړل   چه پراته وُو تر بل لاندې
خلقې ئې دِي که گورې   سرَه يو تر بل هړاندې
په ليدو دَ يار مړې شوې
دَ خوشحال سترگي نغلاندې

نه مي زړه په سرداریِ درست خوشحال دئ   نه ځما دَ خېلخانې څه حال احوال دَئ
دَ ختك اُولس په ننگه نه پوهېږي   کار ئې درست دَ ناديده وو په خصال دئ
ښتانه لکه مگس ورباندِي گرزي   ورته ښي دَ مغل دَ حلوا تال دئ
نور ئې واړه تکئي تار په تار خپرې شوې   اوس په منځ کښې يو کرم دَ ذوالجلال دئ
ايمل خان دريا خان واړه خورد بين ولاړل
اوس خو پاته و مغل ته يَو خوشحال دئ

و سړي وته دا خپل عيب وښته دَئ   دَ بل عيب ورته لا کته تر غره دئ
پخپل ځان پسندنه نېکه په بل بده   دا مذهب دَ مؤمنانو مذهب نه دئ
هنر وريې نېك سير يې لوړ اختر يې   که بل تا وته تر خپله ځَانه ښه دئ
چه مي يَو ځَله اخلاص ور سرَه وشو   يار که سل ځَله جفا کا تور لېمه دئ
بيا دِ خپل مَيَن د ما له سترگو نه ځَي   که په سترگو کښې مي څرخ لکه بانه دئ
چه غمونه درته راوړي سترگي غوږ دَي   چه دِ ځَان دَ بل مريَي کا هغه زړه دئ
که خواړه خوري که اوبه څښي پدا څه شی   مرده دل که ژوندي وينې شمار په مړه دئ
د ما زړه تر کاڼي کلك وُ ښوي ترې پرېووت   تر الماس ئې دَ غمزې غشي تېره دئ
که ياران مي تر حساب تر شماره تېر دي   په کوگل کښ مي زړه يَو دَئ دَ يوه دئ
دَ سړي دَ صورت کار دا هسي نه وئ
چه ئې زړه دَ خوشحال يوړ لا نور څه دئ

و څراغ ته دَ اور ښتي حال معلوم دئ[۱]   په دا منځ کښ دَ خبري حاجت کوم دئ
يو د بل له حاله نه کاندي پوښتنه   دَ دې ښهر په عالم کښ بد رسوم دئ
يا يك لخُته هغه يار واړه جفا زده   يا له ما سرَه جفا کا بخت مي شوم دئ
نن چه زه باندي مَيَن يم په ډېر رنگه   درئې وښيَم چه کوم دَي څه ئې نوم دئ
يَو په حسن بل په دا چه عاشق وژني   په دا دوه توگه په درست جهان کښ سلوم دئ
نندارچی ئې دَ جمال دئ نور څه ندئ   چه په هر لوري هر ځَاي خلق هجوم دئ
چه گلُونه دَ بهار باندِي ليدل شِي   دَ بلبلو سير تل په هغه بوم دئ

[۱] دا بدله له يوې قلمی نسخې څخه را نقل سوه په نورو کښ نسته.

څه به هر يَوه ته حال وايې خوشحاله
دَ لېمو په حال خبر کله ادوم دئ

واړگونه شوې همگي دَ دنيا چاري[۱] چه ليدې مي هَسيي نه دِي واړه لاري
زوى ئې پلار سَرَه کا رُونه دَ غليم کا لُونِې مور ته لکه بَنِي دِي تياري
چوهړي[۲] پلا وشولې خوږه حلوا خواري په سيد باندِې حلالي دِي مرداري
باوري دَ بادشاهانوُ لکه غله شول رهزنان ئې په دربار کا ځَني چاري
بلبلان طوطيان حيران په بيابان گرزي په کلزار باندِې کارگان کاندِي چيغاري
په وښو د َعراقيانو ژواک ژوندوُن دَئ راتبونه[۳] وهـي زويَ داَ حماري
نادان خوش بې غمه خوب په فراغت کا په هوښياروُ باندِې راشي شل دشواري
په ښتنو باندِې حکم کا مريوُنه تر مېرمنوُ تَل وينځِي دِي روېداري
په دوران دَ عالم گير بادشاه خوشحاله
خانه زاد ئې واړه بخرِي لَرِي خواري

ورځ په ورځ دَ باغ غنچې دِي چه غوړېږي دَ بلبلو وړي سترگي پرې مئړېږي
چه ښه مخ وته نظر کاندي لازم دئ که ئې سترگي وَ بل مخ وته غړېږي
جگي جگي ماني مکوَه پخولا شه چه پما دَ رقيباُنو زړه سرېږي
دَ عاشق خاطر په مثل دَ نافې دئ که کالُونه پرې تېرېږي نه زړېږي
زه جدا له ياره خوب په شپه و نه کړم وايې مالگه مي په سترگو کښ دوړېږي
روغ عالم خندا خوښي هوا هوس کا پرهار ژلي په غمونو کښ نرېږي[۳]
نور عالم ئې تار په تار تښتي له غشيو
يو خوشحال دَئ چه ئې غشيو ته برېږي

وايم خلق نه دري زړه مى يوړ يَو مزري
دا خبره چه زه وايم تر وېښته ده لا نرئ
چېري نه وئ لېوني شم چه په خوب وينم پرى
زه له ياره سَرَه څه يم دَ يوه مزي مرئ
چه ئې خوند دَ ميوې خوړ وي هم هغه بوټي کري
ته هم خر ور سَرَه مشه که څوک خر شي په خري
په کهترو دِ نظر کا څوک چه غواړي مهتري
بله نه گوري َبل مخ ته تل دَ سترگو کړم ږغري[٤]

---

[۱]دا بدله په چاپي ديوان کښ نسته.

[۲]مزدور او خاوري پاکونکي.

[۳]ژړېږي.

[٤]ږغول او ژغول يوه معنا لري.

دَ وروشتي پسرلي نرگس دئ
دَ خوشحال قدر لَري

و ښه مخ وته نظر دَئ هر چا کړي
نه دا دود دَئ په جهان کښ ما راوړي
زه به هيڅکله له عشقه نه وانوړم
که هر څو راته وَيل کاندي وګړي
ما وَيل چه زړه به نه ورکوَم چا ته
ولي څه کړم چه بد زړه لَرم و ووړي
دَ عاشق دَ رښتينې نخښه دا دَه
چه په عشق کښ سر حساب کاندِي خسرِي
په يو ګوټ به ئې دَ عشق دَ ميو هېر کړې
که دِ واړه دَ جهان لذت دئ نغړي
چه په ښاخ باندي ئې اوړي ژمي ګل وئ
خداي ځما په زړه کښ نهال کړ هسي زړي
چه به بيا په څه علاج په لاس کښېوزي
دَ خوشحال خاطر ئې ندی هسي وړي

و مجنون ته دَ ليلا له شونډُو وايَ
لال و دُر ياقوت وَ نورُو وَته ستايَ
دَ مجنون له ودانی سرَه څه کار دَئ
هر چه ورانه ويراني هورې ئې بيايَ
چه به بله اندېښنه کاندې اغيار دئ
يار دِ څوک دَی چه دِ نه ووزي له رايَ
درست جهان دِ تېرې توري درته واخلي
يَو وېښته به دِ کنډَو نکا بې خدايَ
ما دا هسي دماغ اوس ندئ راوړي
زه دا هسي دماغ راغلم له ځايَ
وايې کانده به خپل مخ درته ښکاره کړم
زه په کانده مانده نه يم نن ئې نمايَ
دَ دولت شهپر کارګانو څخه نشته
که ئې غوارې خو ئې غواړه له همايَ
ته دَ زړه اَغزي په کوم طبيب وکاږې
چه و کښلي ئې اَغزَي ندي له پايَ
دَ منصور په حال خبر نه يې خوشحاله
درته چا وې چه دَ راز خبري وايَ

ورته ګوره ځما يار څه ننداره دئ[١]
لکه اوړمکی په ستوريو کښی ښکاره دئ
څو عاشق په معشوقې باندِي مَين شي
هونبره دَئ و معشوقې ته بېچاره دئ
ما وې عشق خو يَو ښه څېز دئ خبر نه وم
چه دَي لا تر مست هاتي نه خونخواره دئ
چه نصيب ئې دَ ښه مخ ننداره نشوه
هغه څوک ځما په پوهه آواره دئ
غم ځما له دِله نه درومي بل لور ته
ته به وايي چه ځما په اجازه دئ
عقل، علم، هنر مه يادَوَه ما ته
چه مي وليده مدار ئې ستاره دئ
هغه زه يم چه دَ اوښ وري په شا وړم
دَ غوا وري ځما په پشتاره دئ
چه علاج ئې په چا نشي څوک ئې څه کا
چه په ما باندِي ئې زړه سنګ خاره دئ
غم په نورُو يَو ځَل وَريشي بيا تېر شي
خو پما باندِي که ګورې سل باره دئ
چه ئې هېڅ دَ ښايسته وُو مينه نه وئ
رنګ ئې مه وينې چه نفس اماره دئ
دَ ښه مخ ننداره نکا خلوتي شو
زاهد ځان ژاړي بې ځايه هيچکاره دئ
بادشاهان دِ هم سيالي ور سرَه نکا:
خوشحال ستا دَ ور مرييو په شماره دئ

---

[١] دا بدله په نورو نسخو کښ نه وه، له يوې قلمي څخه را نقل سوه.

ولاړم قلندر شوم دا مي حال دا مي احوال دئ　　مات کچکول په لاس کی بل مې ګند دَ دنیا مال دئ
وران وګړي ګوره په څو قلب کارُونه کاندِي　　واړه اقبال غواړي ولي لابقا اقبال[1] دئ
زه تر هغه ځار شم چه ئې راکړه تر ځان ځاره　　ځار تر ما هغه شه چه ځار شوي تر مثقال دئ
هيڅ په منځ کښ نشته په خالي دکان غوغا دَه　　ما چه فهم وکړ واړه وهم خوب و خيال دئ
يَو په ګور کښ ښخ کا، بل په ګور کښ نکا فکر　　درې ورځې ماتم وي څلورمه ورځ بل حال دئ
ما خو لاس په غوږ کړل ځَني تښتم که خلاصېږم　　خلق پر خوارېږي شهوت څه عظيم جنجال دئ
نور عالم به څه کړې دَ خپل ځان په خلاصي مټ کړه
لاندِي يې خوشحاله دا يو څه دَ بلا جال دَئ

وې مې که زه درشم ستا تر ځایه خوله به را کړې؟　　وَې سکه هزار سَرَه لَرې چه دا وينا کړې
وې مي چه په مخ دِ توري زلفي تور ښامار دئ　　وَې تروسکه، څه لَرَه ښامار وته ويسا کړې
وې مي چه په کوم توکي به تا وته نزدې شم　　وَې چه که سر له تنه بې تيغه جدا کړې
وې مي چه په تا هر ګوره لېوني يم　　وَيی چه په دا عقل به لا صورت رسوا کړې
وی می چه ما تا سَره خندا په يوه وخت کړه　　وَيې هغه څوک وُ چه ئې تا سَرَه خندا کړې
وې مي چه هر ګوره کبريا شوې خداي دئ ويني　　وې چه که کبر کرم ستا څه دَي چه غوغا کړې
وی می چه دَ سپينی زيبا خولی عاشق دی زه يم　　وَې چه خداي څه دا عاشقیِ هم ويړيا کړې
وې مي چه له نتي دي چارګل په پوزه زيب کا　　وَې دا خبري کړه هاله که چا په تا کړې
وې مي که زه ستا په کوي کښ وَمرم ستا رضا دَه　　وَې کشکي خلاص له دردِ سَرَه سپی ځما کړې
وې مي چه په رنګه خوشحال په تا مَين دَئ
وَې دَ ختِك سرِی دَ ميني څه ثنا کړې

همېشه مي تر پرهار ويني بهېږي　　که هر څو باندِي دارو ږدم نه لږېږي
که فرياد له درده کرم ملامت نه يم　　چه پرهار په پرهار وشي خو خوږېږي
همېشه مي دَ يار ياد دَ زړه سبق شو　　چه ډېر ډېر ئې يادَوم زړه مي خوږېږي
زړه مي ګل دَ نيلوفر مخ ئې آفتاب دَئ　　نيلوفر مي و آفتاب وَته کږېږي
دَ خوشحال دَ خوشحالی وخت هم دا دَئ
چه رباب سرينده جوړ سَرَه غږېږي

هېڅ صفت ئې نه ځائېږی په تحرير کښ　　چه دَ زلفو مښك عنبر کړم په نظير کښي
ستا دَ مخ دَ شونډُو مثل را معلوم شو　　لکه نهر دَ جنت شهد په شير کښي
نه چه خوله دَننه زړه مي هم په خوږ شي　　چه دِ نوم دَ شونډُو واخلم په تقرير کښي
ما چه ستا دَ څهرې ښه ننداره وکړه　　څوک به ستا په حسن نه وئ په کشمير کښي
زړه مي ستا په زلفو بند شو پرې خوشحال شوم　　ليوني ترلي ښه دَئ په خنځير کښي
که هوا دَه که سودا دَه پکښي ستا ده　　بل خيال فکر مي هيڅ نشته په ضمير کښي
زه چه ستا په تير زخمي شوم فراغت شوم　　چه عجب دارو دي ينښې وه په تير کښي

---

[1] د "اقبال" حروفونه چه قلب شی لابقا شی یعنی چه پاتېده نه لری.

لکه بوي دَ يار دَ زلفو دَئ عطاره — هسي بوي نشته په مښکو په عبير کښي
محبت مي هډ و پلو سرَه مخلوط شو — ناصحانو راته شا کړه په تدبير کښي
چا به هونبره دَ عشق گنج را عنايت کړ — که مي نه وَئ خپله بخره په تقدير کښي
دَ خوشحال ويل په نورُو کښ څرگند دئ
لکه ږغ دَ ويره ژلي په گڼ وير کښي

همېشه مي له ښه مخه گفتگوي شي — چه په لوښي څه دِئ هغه ترې توي شي
دَ بلندي په قامت باندِي مَيَن شوم — هر چه لوئې چاري کاندي هغه لوي شي
چا خپل يار په غېږ کښ ونيوه خوښي کا — لا دَ چا ورپسې هسي جست و جستجوي شي
دَ منصور غُندي به غل دَ خاص و عام شم — که ښکاره مي و عالم ته گوي مگوي شي
په زړه هونبره پروتي ندئ چه ئې شمار شه — اوس ئې چا وته سپړ نه موي په موي شي
خارو خس سرَه ئې څه مهر پيوند دَئ — دَ بلبلو مينه تل په رنگ و بوي شي
نه به زهد وِئ نه علم نه څه نور څه — که څرگنده مي عالم ته پدا روي شي
ځکه هر کله خوشبوي او معطر دئ — دَ صبا ئې چه په چم کښ تگ و پوي شي
دَ ناپوه ياري په مثل دَ ډک جام دَه — له هر څو ئې ښه ساتم را څخه توي شي
دَ خوشحال ژړا څه نر ناحقه نده:
چه ئې تېره درسته شپه په هاي و هوي شي

هر دم تر نقاب لاندي — و عاشق ته شېوه[1] کاندي
تازه اوربل اودلَي — توري زلفي اَوېزاندي
انگڼ ئې ښايسته کړ — چه را وَوَته دباندي
ځما په مرگ دِ زړه دَي — چه بې درودو سره خاندي
څه ظلم څه ستم کړې — چه پلو نيسې دَ وراندي
څه عجب غزل ئې ووې
اَفرين په خوشحال باندي

ءهر گناه چه په توبه په استغفار ځِي — دَ هغه گناه به څه په زړه کښ ډار ځې
ساقي راشه سره شراب راکړه سرې شونډي — تر چشمانو دِ ځارېږم چه بهار ځي
په هر چين کښ ئې دَ څوڼو مښک دَ چين دئ — لخلخي ځني توئيږي چه په لار ځي
دَ خپل زړه خبري واړه ويراني کا — يار هغه چه همېشه په زړه دَ يار ځي
جهان ځاي دَ خوښي ندئ وَ ناورين دئ — چه طوطا له گلستانه په چيغار ځي
په وار وار چه په دنيا باندي راغلي — عاقبت به ځني واړه وار په وار ځي
که له درده مي خبر ندئ وگړي — چه مي سرې ويني تر سترگو په رخسار ځي
دَ هغه طبيب نوم څه اخلې په ژبه — چه بيمار ور لَره رايشى بيمار ځي
که مي پېژني هغه ليونَي زه يم — چه نادان را لَره رايشي هوښيار ځي
دروغجن به همېشه وِئ په خزان کښ — دَ رښتينو په مخ هر کله بهار ځي

[1] جلوه.

د رقیب خلل به نه ووزي له میانه   وخت نېژدې راغي دَ وصل دندو کار ځي
چه محروم ئې دَئ له میو یَو خوشحال دَئ
ګڼه واړه حریفان ځني سر شار ځي

هره مینه چه په خال په زخه کېږي   هغه واړه دَ ښه مخ له مخه کېږي
زړه[۱] دلګیر مشه دَ خلقو په جفا کښ   په عاشق دَ رقیبانو رخه کېږي
خاوند خداي دِ سر زنش دَ هغو وکا   چه په جال ئې دَ دردمنو سخه کېږي
غه مرغه به له همایه څه پرواز کا   چه لا اوس ئې تن وجود په پخه کېږي
که هوس کوي خوشحال هوس ئې نهېل[۲] شه
غه هوس چه به بې ستا له مخه کېږي

هر زمان چه دَ فلك مهر بنیاد شي   نا مرادي د مانې[۳] پخپل مراد شي
په هر شام پسې سحر شته نظر وکړه   عاقبت چه څوک غمجن شي بیا به ښاد شي
ساقي نن دَ سر شارئِ شراب راکړه   محتسب چه حاضر ندئ څه هداد شي
چه نه مَئ نه معشوقه پسرلی رفتن کا   نن ځما له خپله بخته نه فریاد شي
یَو له بله زده کَوي دَ جهان دود دَئ   له اوله چه شاګرد شي بیا استاد شي
یار به مخ راته ښکاره کا لکه شمعه   عاقبت[٤] به دَ رقیب خو را نامراد شي
یا دېر زر بویه یا بخت بویه یا توره   چه په سپینه ږېره څوک دَ چا داماد شي
دَ ملحد په زړه به نه لګي خبري   که وَیل دِ ورته تل دَ نون و صاد[٥] شي
زمانه به ئې پرېږدي و ثبات ته   په هوا چه دَ حباب غُندي پر باد شي
صورتی عمر فاني دَئ باقي دا دَي   چه ئې پسله مرګه نوم دَ نېکو یاد شي
عقله ته له عشقه لیري لیري ګرزه   مخالف چه سَرَه وریَشي فساد شي
دَ هغه سړی په مرګ ژړا هیڅ مکړه   چه دَ بدو نوم ئې خپور په هر بلاد شي
په هر ځاي باندې ئې زړه دَئ لکه ژاولي
په خوشحال باندي ئې زړه لکه فولاد شي

هر سړی که رشتیا ګوي وئ   نه دَی مړ که سرئې ګوي وئ
دَ لویی لافي به نکا   چه په اصل هنر جوي وئ
که ئې نغاړې پټ به نشي   په هر ځای چه رنګ و بوي وئ
چه خپل یار له ما بېلتون کا   د ما سترګي پسې جوي وئ
په بېلتون دَ مَیَنانُو   زړه تر دوو سترګو را توي وئ

---

[۱] ته دلګیر مشه.

[۲] مایوس، نا امید، محروم (دریاب).

[۳] نامرادی د نړئ، یا مراد دَ زمانې.

[٤] عاقبت به د رقیب په سر مراد شی.

[٥] نون و صاد یعنی نص چه په اسلامی احکامو کښی اساس دی.

چه قیمت دَ کالي څونبره پسی هونبره جستجوي وئ
څو جفا کا زه خوشحال شم
یار دِ هر کله بد خوي وِئ

هر ناپوه زلموټی څه زده، چه څه دَه دَ عشق بازي ترو څه مچ څه ئې مجال چه په هوا کا پروازي
هر قلاش چه خپل صورت په عشق کښ باي کړ که باور کړې په مذهب دَ عاشقانو هم شهید وئ هم غازي
که دَ یار به غم کښ وَمري خاصګي ژوندون هغه دَئ که په پښو ئې تندي کښېږدي هم دغه دَه ممتازي
حقیقي سجده هغه دَه چه دَ یار په لور[1] ئې کړې د کعبې ته چه سجده شي دا سجود دِي مجازي
تورُو زلفو ئې په باد کړه ډېر سرُونه دَ مظلومو توري سترګي ئې په زړونو کا همېشه ترکتازي
اې خوشحاله چه عاشق شوې اوس له خپله سَرَه تېر شه
دا ځما خندا خندا ته بازي مه ګڼه بازي

هغه دم چه مي دَ یار سره صحبت وئ دَ فرښتو آواز په ما باندي زحمت وئ
ګه له یار سَرَه باده خورم په خلوت کښ باده! ستا دِ له غه ځایه نه رخصت وئ
ښه یاران چه سَرَه ناست وئ محبت کا چه اغیار وَرباندِي راشي قیامت وئ
تل ګدای په بادشاهانو مَیَن شوئ نه دا کار به له ما خواره نه بدعت وِئ
عاشقي مي خداي له ځایه خوي خصلت کړه هم هغه کاندي سړی چه ئې خصلت وئ
ستا د شونډُو تر لذت به نه رسېږي که هر څو مي دَ شکرُو زیات لذت وئ
ما به زړه د معشوقې له لاسه خلاص کړ ولي درېغه که له عشقه اجازت وئ
دَ زنخ دَ څا دَ بند فراغت غواړم په تنور کښ پراته کله فراغت وئ
ښه صورت خو هم هغه چه زړه ئې یوور نه چه کړه اووړه ئې ښه وی ښه صورت وئ
ما به سترګي لکه باز درلې اندرتي[2] که مي زده وئ چه دَ سترګو بد شدت وئ
خو به مه راځه په ملك ځما دَ سترګو ګڼه ځان به دِ په وینو کښ لت پت وئ
شیخ به ولي دَ رندانو عیب نکا تل له مرد سَرَه نامرد په غم غیرت وئ
ستا په زلفو کښ مي خوار خاطر ښاد نشو دَ مومن په کفرستان کښ څه حرمت وئ
مګر واړه جوهري په مرګ تام شول چه تر دُر به دَ ژلې زیات قیمت وئ
بل جنت ئې شیخه تا وَته بخښلي
دَ خوشحال دِ هم دَ یار کوڅه جنت وِئ

هغه مخ چه ښایسته دَ ننداروئ[3] چه ئې ویني دَ هر چا پسې هو هو وئ
دَ بلبلو له بلغاک نه دلګیر مشه هغه ځاي چه رنګ و بو وي ګفتګو وئ
که هر څو ښایسته ډېر دي ګمان نکړم چه به بله لکه ته پاکېزه رو وئ
تور ګیسو پر همګي صورت خپاره کړه چه دِ درست صورت همه دَ مشکو بو وئ

---

[1] په لوری کېږی.

[2] پټې (درياب) .

[3] دا بدله له يوې قلمی نسخې څخه وکښل سوه په نورو کښی نسته.

زه به سترګي ستا له مخه نه وانخلم   مخامخ که تیر انداز راته یو څو وئ
قاصدان ځما دَ اوښیو کښته پورته   همېشه دَ کښلي مخ په جستجو وئ
نن چه ته لمانه ځې زړه مي خوشحال کړه   یاره ستا وعده به کله دَ راتلو وئ
کاتبان به ئې په کومو ګوتو کښینه   غه خبري چه سوځونکي تر لمبو وئ
دَ سحر په بلا ته یاد شې اې چرګه!   ستا په بړغ دَ عاشق زړه په پرهرو وئ
دَ خوشحال خټك له حاله خبر دار شوي
چه په زړه به ئې دَ عشق داغونه څو وئ

هغه څه دَي روغ صورت دئ   چه بهتر تر سلطنت دئ
دَ دنیا دولت که ښه وئ   یَو دولت نه ښه عزت دئ
چه ډېر ښه دئ تر توقیره   یَو عفت بل صداقت دئ
چه سړی له غمه خلاص کا   هغه څه دَئ قناعت دئ
په طاعت که ته لوئي کړې   حبطه هغه طاعت دئ
چه فایده لري بې شماره   هغه څه دئ، مصلحت دئ
په منت چه ورکول کا   هغه کله سخاوت دئ
چه دوږخ دئ په دنیا کښ   دَ ناپوه سره صحبت دئ
خپل نیت ښه لره خوشحاله
که څه ښه دَئ خو ښه نیت دئ

هغه یار که په ظاهر له ما جدا دَئ   په باتن کښ هر زمان را هویدا دَئ
دَ ژوندیو یو سرَه ګرزي په علم کښ   خوار عاشق په معشوقه باندي فدا دئ
کښت چه وسیځي باران ورباندي مشه   که په خوارو به کرم کړې ساعت دا دئ
که ئې غوارم په کوګل کښ مونده نشي   زړه مي ولاړ دَ ښایسته وو په سودا دئ
خدای به امن دَ هر چا له سترګو وکړه   یو عجب صحبت دَ مینی ابتدا دئ
زه به زار کَوم له دِله نه له یاره   چه په څو په بې پروا باندي شیدا دئ
خپله مینه په عاشق باندِي سور اور شوه   چه پرې سیځي خبر دار باندي خدا دئ
ګوره څو قرنه کالونه باندِي تېر شوه   چه فرهاد په بې ستون کښ لا صدا دئ
زه خوشحال به چا ته څه وایم له حاله
دَ زړه حال دَ مخ په رنګ پوري پیدا دئ

هر سړی چه دَ اخلاص په لاري درومي   که هر څو په غرونو درومي نه به نغومي
نومیدي د ښه بادشاه په درګاه نشته   هر سړَی چه خدمت کا نتیجه مومي
د ما زړه دَ ټول دلبرو تر میان ورک شوم   نوم دَ کوم یوې آخلم چه څه نومي
ښه چه زه په عاشقی کښ شهید شوم   پدا لاري کښ څه لږ ندئ لړومي
ما دَ سویو ښکار کاوه هوسی ښکار کړه   د ما زوق به کله تله دَ بل تر کومی
نور دِ صافي پیالې خوري نصیب ئې غم دئ
که خوشحال په درد و دوک کښي پیالې شومي

هغه یار چه له ما لیري په هواد[1] دئ   همېشه راته حاضر دَ زړه په یاد دَئ
دَ وصال خوښي ئې هم لا هونبره نده   چه مي زړه دَ ده له خیاله سَرَه ښاد دئ
بېهوده له یاره زار کوَم وَ چا ته   دَ خپل یار له جوره چا موندلي داد دئ
پما واړه چارې وکړې آشنایی   په ناحق مي له بېلتونه نه فریاد دئ
چه مي هیڅ اثر دَ آه وربانديِ نشي   دا ناترس خاطر ئې کاڼی که فولاد دئ
دَ خطا هوسی په بوي دَ نافي ښکار شِي   راته بس دَ هغو زلفو بوي مراد دئ
ته چه ما وته ارشاد کوې په عشق کښ   کله غوږ دَ عاشقانو په ارشاد دئ
چه په هیڅ توکي د ما له زړه نه ځِي   دَ خپل یار دَ میني څه محکم بنیاد دئ
یو زمان ورځني خلاص نه یم په عمر   په ما خوار باندِي دَ عشق جور معتاد دئ
څه عجب ښه بوي راځِي دَ یار له لوریه   نن ځما دَ زړه دمه دَ صبا باد دئ
تل ګرېوان په اوښیو لوند ساړه آهُونه
چه خوشحال مَین کېده دا ئې هِداد دئ

هر خاطر چه نا قرار شِي   قراري ئې په دیدار شي
چه خپل زړه و چا ته ورکا   هغه څه په خواري خوار شي
هسِي سیند لَرم په سترګو   چه جمنا ورته رودبار شي
یَو څه راز لَرم په زړه کښ   هیڅوک نشته چه راز دار شي
هسي ژاړم له بېلتونه   چه غلیم را سَرَه یار شي
زه هم عار لَرم له خلقه   که دَ خلقو له ما عار شیي
واویلا علاج ئې څه کړم   پرهارونه په پرهار شي
هونبره ډېر پیران شیخان دِئ   نشته یَو چه مدد ګار شي
په بېلتون دَ خندا مخو
دَ خوشحال ژړا آزار شِي

هوسی سترګي لب شکري   په غاښو یې مرغلري
تا به ستایم په څو رنګه   ستا ثنا دَ مخ دلبري
چه جمال وَته دِي ګورم   حیرانېږَم سمندري
خوي دِي نن را سَرَه نور دَئ   دَم واهَه نشِي له ویري
ذکر ستا د تنګی خولې دَئ   رنګینه پري پېکري
زړه چه ستا سَرَه یاري کړِي   سلامت به اوسِي چري
شور دِي ګډ کړ په وګړِي   صبر وړُونې شور و شري
صبر وړې چه له تا دور شِي   طربناکيِ ناز پروري
ظاهر نن له تا جدا یم   عینِ ما ته برابري
قامت سَم لرې تر سرو   کج کلاهي قد عرعري
لیرِي مه درومه له ما نه   مخ په ما کړه مخ قمري

---

[1] هیواد.

نور به ستا له وره نه ځَم　　وینا دا ده پرده دري
هر چه ستا رضا هغه کړِي
خوشحال وَینوې په غوري

هي هي توبه لتانه ستا له خویه بویه تښَي　　د ما خاطر دِ وریت کړ لکه سیخ په لمبو یښَي
له سترګو ورځیو زلفو له ښو به دئ ځان څه وړم　　دَ مخ سپایان دِ هسي راته جوړ لښکر زه ګُښي[1]
د ما په بخره نیاز دئ چه عاشق یم زه به نیاز کړم　　دَ ناز اسباب مي واړه معشوقې وته پریښيَ
په مخ دَ مهوشانو چه څه خال و خط لیده شي　　بلا دَ ځان دَ زړه دي که ئې ګورې ګُښي ګُښيَ
عاشق په اندېښنو کښ دَ تازي غُندي نس نغښتي　　غافل په بې غمي کښ دَ سنډه غُندي بد غوښيَ
بد خواه دِ په قصد کړې دَه خوشحاله ملا محکمه
څه وېره څه اندوه کړې ته هم ورونه یې چابلښيَ

هر چرته چه ته کښېنې هغه ځاي دَ ګلو باغ شِي　　چه درومې په چمن کښ دَ لاله شینه داغ داغ شِي
چه باد دِ توري زلفي په سپین مخ کاندي پرېشاني　　دَ مښکو دَ عنبرو بوي پرېشان په هر دماغ شِي
په زلفو کښ دِ ورک د ما زړګي شو مخ څرګند کړه　　دَ ورک کالي غوښتنه تل په توره شپه په څراغ شِي
چه ما مزه موندلې ستا دَ شونډُو دروغځَن یم　　که دا مزه به هم مونده دَ میو به اياغ شِي
پیغام ځما اې باده تر شیدا بلبلو وروړه　　لا شك چه پدا باغ کښ دَ ګل بوي د ګل سراغ شِي
یَو دم دَ خوار خوشحال سَرَه ته هم فراغت کښېنه
چه زړه ئې له د یو ډېرو اندېښنو څه خو فراغ شِي

یا ما زده یا مي سترګو چه نن شپه را باندِي تېر دئ　　یا ما زده یا هغو زده چه وهلي په شمشېر دي
دارو ئې د درد مکړه نه ئې روخ دَ رغېدو دئ　　چه خود په زړه داړلي دَ خوبا دَ چشمو شېر دي
له درده نه خلاصېږم چه طبیب پسې طلب کړم　　ګڼه هیڅ کمي ئې نشته طبیبان په جهان ډېر دي
عاشق دِ لا دوخته خپله زېرمه دَ کفن کا　　چه تور بانه ئې غشي و کشتن وته دلیر دي
عاشق ته ښکارېږِي لکه مخ په آئینه کښ　　دَ شاه دَ جمال نخښي که تر زر نثقَ تېر دي
څه ته و ما ته وایې اې ناصحه چه عشق هېر کړه　　چه بې دَ عشق له کاره مي نور ټول کارونه هېر دي
خوشحال خټك چه بیا مونده لذت دَ یار د شونډُو
و ده وته نور واړه دَ جهان خواړه ګنډ هېر دي

یا خو مکړه لېوني سَرَه یاري　　یا دَ ګند د پهوړۍ[2] کړه تیاري
چه په نور څه ئې حساب ګڼی هغه زده　　زه بې یاره عمر کل ګڼم خواري
چه دَ یار دَ راغلو زېري په ما وکا　　تر هغه سړی به زه شم بلهاري[3]
په خرام کښ د هوسۍ علامت ګوره　　دَ ګزار وار ئې خطا کړ دَ ښکاري

---

[1] زه کښی.

[2] پهوړۍ یا پوهړۍ یعنی بوریا.

[3] محشی ورته قربانی لیکلی دی.

ځما حال به و هغه وته معلوم وِئ   چه تمامه شپه بیدار ستورِي شماري
خداي دِ تا په جهان تل لَرِي اِيْ باده   چه ځما دَ یار تر منځ کړِې رهباري
معطر دَ شاه دَ زلفو نه را درومېِ   ستا له بویه نافه ځار شه تاتاري
چه وعده دَ یار دَ وصل نېژدې کېږي   دَ عاشق له زړه نه درومي قراري
که ئې ستا د وروځیو خال په نظر کښېووت
دَ خوشحال شِي نور له غمه وېزاري

یَو قدم چه په خلاف دَ نفس روان شي   په هغه زمان ولي هغه انسان شي
چه دَ نس په حکم درومي هغه خوار وِئ   سړی توب ور ځخه مه غواړه شیطان شي
دا سړی چه فرښته دئ هم شیطان دَئ   که سړی و خپل عمل ته نگران شي
یو په بد عمل کښ ځي تحت الثراي ته   بل په ښه عمل کښ پاسه په اسمان شي
دا سړی دی چه په عقل کښ سړی دئ   دا سړی دئ چه په عقل کښې ددان شي
دا خونونه په ټوپك په توره نشي   دا خونونه چه دَ خلقو په زبان شي
تربیت كه دَ باغوان له لاسه مومي   په هر ځای باندِي گلونه دَ بوستان شي
هوا ستا د سَرَه چه کښېني یَو ځو ورځي   دَ هغه هنر په ده کښې نمایان شي
دَ نېکانو په صحبت کښ به ښه کېږي   اولیا له اولیا نه را عیان شي
چه مغلو سَرَه کښېناسته مغل شه   دَ افغان سَرَه که کښېنی نور افغان شي
دَ خوشحال سَرَه که کښېنی یَو ځو کاله
دا دَ غره ختِك به واړه شاعران شي

یا په تخت باندِي بادشاه وَئ   یا دروېش دَ خانقاه وَئ
چه په لار دِي هغه یېر دِئ   یَو ځو ما غُندي گمراه وَئ
زه هر دم په بسم اللّه یَم   که یاران په بسم اللّه وَئ
چه ئې کار دَ مېړه نه وِئ   هغه نه وَئ مېړه داه[1] وَئ
په شماره مي زویه ورک دِئ   که یو ځو بکښي واه واه وَئ
غاړِي غرُونه ځني ډک دي   سر انجام که دَ سپاه وَئ
ابلقي په کار کښ هېڅ وِئ   یا درست سپین وَئ یا سیاه وَئ
توره شپه دَه دَ غمونو   دَ ښادئِ صبح گاه وَئ
په خوشحال به ئې بد نه وِي
گه ئې ځوک په حال آگاه وَئ

لمړی ټوک بشپړ سو

[1] محشی ورته وینځه کښلی دی، یعنی خدمتکار.

(الف)

اې چه خیال کړې په دنیا　　دنیا څه دَه بې وفا
که دِ یو زمان زړه ښه کا　　بیا دِ ژړ کا په ژړا
راحت نشته په دنیا کښ　　الدنیا دار البلا
دنیا مه گڼه څه نور څه　　دا دَه ځاي دَ استنجا
زه چه تا گورم حیران شم　　اي ابله مشت گیا
هر زمان نوي خیالونه　　هر ساعت نوې هوا
یَو دِ زړه دَي زر دِ یاره　　یَو دِ سر سل دِ سودا
کله مست دَ مال و ملك شې　　کله مست شې دَ صهبا
دَ مسند دَ پاسه کښېنې　　لور په لور دِ متکا
په یوه لوري غلطان شې　　چا ته مخ وَ چا ته شا
څوک و تا وته ولاړ وي　　په تسلیم په سل جفا
څوک له تا سَره مجلس کا　　واړه هزل مشغولا
څوک له ورایه درته ناست وي　　ږغوي چنگ و سرنا
څوک په ور درته للېږي　　په نمط ستا دَ لقا
صاحبانو ته وَیل کا　　که مه ورسي دعا
ته په ځاي بېخوده پروت یې　　نه دِ غم نه دي پروا
هي فریاد فریاد له تا نه　　هي توبه توبه له تا
نه دِ غوږ دَ اورېدو شته　　نه دِ سترگي شته مینا
بېهوده په ځان غره یې　　حبطه یې په رشتیا
فلك ډېر زبر و زبر کړل　　چه تر تا وه هم والا
ته په مثل دَ دانې یې　　دا فلك لکه آسیا
ډېر ئې تا غُندِې میده کړل　　اوس ئې وار دَی هم پتا
که بادشاه دَ درست جهان یې　　خو دِ بیا تشه غوغا
څه دعوا ئې دَ جهان کړې　　نور به هم وه ستا پخوا
نه سلیمان شته نه ئې تخت شته　　نه آصف دَ برخیا
نه بهرام شته نه ئې گور شته　　نه سکندر شته نه دارا
نه جمشید وُ نه ئې جام وُ　　نه قباد وُ نه کسرا
په شماره کښ به مانده شم　　زیات ئې څو شمارم تر دا
که هزار که سل هزار وُ　　که تر دا وه هم ډېر لا
واړه ولاړ له دې جهانه　　جهان واچَول تر شا
غه شاهان چه ذیشوکت وه　　څه ئې هم شته هویدا؟
ساماني په جهان هم وه　　سلجوقي وه هم پیدا
غزنوي وه په غزني کښ　　چه ئې کړلې هم غزا

کر و فر دَ عباسیو مگر ډُوب شو په دریا
دَ فلك فرېب پېژ ندي چه ئې تل کانډي لتا
کله زر وَ تا ته ښه کا کله آس او عېلي غوا
کله زویه درته ښه کا کله خوېښ او اقربا
نه به زر و تا ته پرېږدي نه مالُونه نه اشیا
په شداد ئې فساد کړَي په قارُون ئې وکړ لا
نه ته پلار ئې دَ زامنو نه زامن دِي زویه ستا
پخپل ځان دَ هر چا کار دئ که پسر دَئ که بابا
خلق په خپلو لاړو لوند دي د گدا هم دَ بادشا
ته دَ ځان ئې زه دَ ځان یم ته جدا یې زه جدا
غم ښادي دَ هغو بخره چه لَري ژړا خندا
که حشم دِ شي بې شماره خزانې دِ بې احصا
چه اجل در لَره راشي نه هغه په کار نه دا
لکه هسي رنگه کار دَي راشه واروه اې فتا
مهیا وَ مرگ ته کښنه سر انجام کړه دَ عقبا
که دِ توان وشي تقوا کړه که تقوا نه وِي فتوا
بهښت ځاي دَ نور چا ندَي خداي یاد کړي اتقیا
که پخپله پارسا نه یې خاکپاي شه دَ پارسا
هر چه شته شریك له واړو مشترک دي هدایا
که غني یې سخاوت کړه که فقیر یې سخ دِ لا
یَو چه خلاص وِي له حسابه بل به نه وِي مبتلا
په شوکت لکه شهباز شه په همت لکه عنقا
لکه جغد هسي مشه نه ئې رنگ نه ئې معنا
خوره خور وه له خپلو لېچو غضنفر شه نه روبا
سخاوت کړه ځو پتا شي اسراف نشته دَ سخا
په سر توري پرې نارې کړه چه تالا دنیا تالا
چه ئې قطع عوائق کړل په اسمان کښېناست عیسی
دَ عسل په دود شیرین شه نه حنظل نه گندنا
مه لړم شه مه اپي شه غم فزا راحت زدا
بار دَ نورُو په گردن وړه خپل بار مه کښږده په چا
جهان ځاي دَ مکافات دي بد به مومي چه بد کا
دَ بدی جزا بدي دَه دَ ښېکی نېکي سزا
چه به کښِږي توري خاوري خپسر خاوري کړه پخوا
که په حسن لکه گل شې یا تر گل شې هم زېبا
بیا دِ ځاي دَي توري خاوري تار په تار واړه اعضا
دا ځه توري خاوري ندي چه پرې ځې سبا بېگا
همگي جونه زلمی دِي خاوري شوِي دَ بېدیا
چه په سترگو باندِې ښېې ږدې بارِی ورو ږده ځه خو پا

د پسرلي گلونه ښه دي　　که يې تل درلي بقا
ځکه سبزه زرغونه شي　　دَ حمل په ابتدا
رنګا رنګ گلونه وا شي　　هم په باغ هم په صحرا
نه يِو گل دَ بل په رنګ وِي　　نه ئې بوي سَرَه همتا
يَو څو ورځې شګفته شي　　ژر فنا شي په جوزا
تر بلبلي ناپوه څوک دَي　　يا کم عقله تر بورا
چه په هسي څېز ئې مينه　　چه ئې څو ورځې بقا
هغه څيز چه بې وفا وِي　　زړه پرې نه ترې دانا
په جهان کښ مينه هم وه　　دَ يوسف دَ زليخا
که ويسه وه که رامين وُ　　که مجنون وُ که ليلا
که فرهاد وُ که شيرينه　　که وامق وُ که عذرا
اوس ئې نخښې ليدې نشي　　دې جهان کړل پوپنا
نه به گل دَ چمن پرېږدي　　نه بلبله نه طوطا
نه به طفل ځني خلاص شي　　نه سپين ژيري نه برنا
نه به پاتو عشق دَ ځوان شي　　نه ښه حسن دَ خوبا
گاه دَ زويه لور په غم شې　　گاه دَ يار او دَ آشنا
چه به پس له ما دا څه کا　　حال به څه شِي دَ هر چا
غم دَ زويو کړې دَ لوڼو　　هم دَ مور هم دَ بابا
ولي هسي فکر نکړې　　چه په دا څه دي ځما
بخري اوس ندي اول دي　　چه نه ارض وُ نه سما
خپل قسمت به هر څوک مومي　　که افلاس وِي که عنا
څه اندوه دَ يوه نفس کړې　　اې د نفس په غم شيدا
خو د نفس ځله دِ ومري　　که کشکاب وِي که حلوا
غرض تن دَئَ تن دِ پټ وي　　که خاسه وِي که خمتا
که دَ نفس په نغوته درومې　　تا به ژر کاندِي رسوا
نفس پدا راغلي ندي　　چه روا يا ناروا
چه اروا پرې خوښي مومي　　هغه چار گڼه اعلا
مټ په علم کړه چه علم　　اژدها دَي هم عصا
يا په علم کښ لذت دَي　　يا په عشق کښ د مولا
نور همه چاري عبث دِي　　که اعلا دِي که ادنا
که ته تر يو کښېنې خوشحاله　　دَ فلك ترو څه پروا
اندېښنو ته زړه ور مکړه　　څو حيات هې په دنيا
که تل خوښ اوسې تل خاندې　　بې اسم با مسما
تر هغه نادان څوک نشته　　چه نن غم خوري دَ سبا
غم غيرت په يوه لور کړه　　خاطر صاف شه له هر چا
دَ سبا اندوه نن مکړه　　گوره څه وشي فردا
واړه وسپاره و خداي ته　　که دوستان دِي که اعدا
که لقمان شې په حکمت کښ　　يا که بو على سينا

نه به لار دَ مرگي بند کړې   نه به خلاص شې له قضا
دَ قضا سَره جنگ نشي   و قضا وروړه رضا
که رضا په قضا ورکړې
نور خوشاحال یې په رشتیا

که دروغ کا که رشتیا   هر څه ښه دئ دَ دانا
تر دانا دي زه ځارېږم   نادانان واړه تر ما
مړه ئې پاڅَول له گوره   نا بینا ئې کړل بینا
یَو نادان ئې دانا نکړ   په درست عمر مسیحا
نادان ځان لَره بلا دي   هم جهان لَره بلا
چه نادان وکا دا ورانه   هسی نه کا اژدها
نادانان دِي ناپوهان دي   نن د ما کره پیدا
لکه دوي کاندِي دا چاري   دا مي نه وې په آبا
دَ ناجنسو نه پیدا شول   که دود نور شو دَ دنیا
دَ یوه پلاره زوولي   سَرَه تل شور و غوغا
که څلوېښت دِي که پنځوس دي   سَرَه واړه شا په شا
مال و ملك دولت مي ژغوره   پدا حال کښ ربنا
اتفاق پکښ باقي شه   د اتفاق ئې شه فنا
نفس شیطان دواړه بلا دی   راشه گوره دا بلا
چه په دې بلا پایمال دي   شهیدان دَ کربلا
خدایه ته بې چه خپل کړه کړې   دا بلا پیدا کړه تا
له حکمته خالي ندئ   کړه دِ واړه دِي زېبا
زه خوشحال دَ ده له لاسه
دا فریاد کوَم په چا

دَ غواص[1] دَ کال وبا   خدا ئې مه راوله بیا
اکوړ خېل مي پکښ ومړل   لوي هلك مرد و نسا
بخت ناک خان مي پکښ ومړ   مور ئې هم بوته قضا
یَو هلك ئې وُ را پاتو   ور پسې شه ژر فنا
چاته ژاړم لدې غمه   سود مي کوم دَي دَ ژړا
لور په لور په دا لمبو کښ   عالم پروت په واویلا
تر دکنه تر کابله   را خپره شوه دا بلا
په لکونو عالم ومړ   چه ښهرونه شول صحرا
اول قحط بیا وبا وه   په هر لوری وه غوغا
سر فراز د سعادت وُ   ښه نمسي مي وُ زیبا
هم حافظ دَ درست قرآن وُ   هم په خط وُ بې همتا
د ښکار سپي ئې وُساتلي   لېوني شو بې غوغا

[1] [illegible] (۱۰۹۷) [illegible]

لاس ئې وروړ بې خبره   چه گانه ئې خپل آشنا
دَئ ئې وچيچه په لاسو   لا علاج شو لا دوا
په دا کال له ما قضا کړ   په ارمان ارمان جدا
کال حصغ[1] شو وبا ولاړه   هم عسرت کړه راته شا
باراڼُونو دې وربېرې   وداني شوه په دنيا
نه تل غم وِي نه ښادي وي   وار په وار وي هغه دا
په هر حال شکر بايده دئ   چه بدتره نشي لا
اوس څه غم دَ عالمگير دي   چه عالم ئې کړ رسوا
دَ وبا غُندې ژر ورک شوي   بل يَو ښه شوي را پيدا
يَو خوشحال دا دغا نکا   درست جهان کا دا دعا
اجابت به ئې ژر وشي
که دَ خداي وِي په رضا

زړه سفر لدې دنيا[2]   په تحقيق دَي په رشتيا
که څه زر کاله پائېږې   هم دِ نه وينم احيا
راشه وگوره همزولي   چه ئې ځاي دَي په ببېديا
باندې جوړ دَ خاورُو ځلي   زرغونه باندې گيا
که ئې گور کړې سرَه بيارته   هېڅ به نه وِي مهيا
که نارې ورباندې وکړې   هيڅ به نشي در گويا
چه دا حال وينې په سترگو   ولی هسي بې عميا
چه ببړۍ پکښ زرو ځي   څه خوني دَي دا دريا
توري خاوري شول پگور کښ   چه دَ سترگو وه توتيا
دا جهان فنا پذېر دَي   تر ثرۍ تر ثريا
دَ دنيا راحت محنت دَي   تاريکی ئې ده ضيا
که دَ عيش طلبگار يې   دَ جنجال نه يې جويا
تر اطلس ښه ده شريه   تر گليم ښه ده بوريا
زړه تړل په دنيا مکړه   بود ئې نشته دَ اشيا
موړ په مثل دَ دانې يَو   پاس په موږ گرزي آسيا
چه خپل گور لَره راحت وړي   هغه څوک دي اتقيا
چه خپل گور لَره زحمت وړي   هغه څوک دي اشقيا
باندې پرېوزي موتې خاوري   په مرگ نه مرې اوليا
اوليا دِي په جهان کښ   په مثال لکه کيميا
دَ باطن خيري ورکيږي   په صحبت دَ اصفيا
يَو سجود په اخلاص ښه دئ   نه سل زره په ريا
همگی دَ ښو خويُونه   وابسته دِي په حيا

[1] حصغ د ابجد په حساب (١٠٩٨) کيږي.

[2]

دَ خوشحال ژوندُون په خداي دي
نه شهباز دَي نه يحيا[1]

چه يَو حَٔل ښېگړه ووينې له چا   په يوه ئې شل بدىِ كړه تر شا
دروغجن سړى دَ عفو لائق ندي   په رشتينو باندِي عفو دَه روا
غلطي دَ يگانه غلطى ندہ   په خطا دَ يگانه بويه عطا
كه له ياره نه ترخې خبري واروې   خوږ شيرين حَٔواب ئې وكړه په خندا
د كمذات سَرَه ياري اشنائي مكړه   له كمذاته به بيا نه مومې وفا
رخنه گر دَ ملك هر گز دَ پرېښو نَدي   كه هر څو ئې شفاعت كا شيخ ملا
مرد به خپله وينا ژغوري څو ژوندي دئ   دَ نامرد وينا نن شته نشته سبا
دَ ځارويو په حساب دئ سړى نه دئ   غوبانه شپانه گه پيائي غېلي غوا
چه ستا عيب تا ته وائِي يار هغه دي   نه چه نورُو وته وائِى عيب ستا
بازارى سړى بهتر تر روستاېي دئ   كه هر څو دَ بازاري نشته حيا
كه سړي پېري دِ وژني و به نمرې   څو چه نه وي رسېدلې ستا قضا
بند د ما په رضا يِو نشته ياران مي   په ياري ياري كښ كا خپله رضا
چه د ما دَ مرگ مشتاق وه هغه ومړل   زه لا دا يم ژوندَى پايم پدنيا
مړنى په خپله توره نظر نكا   ښايسته پخپل جمال دِئ نا بينا
مست اوښان مي هسي شان وړي مست باروته   چه په لوړ په ژور نه لَرِي پروا
شناخت ادب شرم سړيو لَره بويه   پدا درې توگه ځاروي ندي آشنا
چه ئې مور و پلار سُچي سُچي زوولي   په هغه كښ به خطا نشِي پيدا
چه دَ سپى په پېو لوي كا څوك ورغومي   لكه سپىَ هسي ورغومي كا غپا
دا خبره وَ هر چا وته ښكاره دَه   چه دَ ښو غوښونه ښه كښېږي ښوروا
عاقل ډېر عيب دَ حَٔان په عقل پټ كا   نادان لَږ په ناپوهىِ كا رسوا
په ويل ښيل به هيڅكله ښه نشي   چه بد بخت له موره پلاره شِي پيدا
چه خپل بار په هيچا نږدي بار دَ بل وړي   هم هغه سړى لايق دَئ دَ ثنا
چه په زړه كښ ئې ځراغ دَ عقل بل شى   ورځ و شپه دَه په هغه باندي رڼا

سجنجل دَ خپل استاد لَرِي په مخ كښ
چه گويا شو دَ خوشحال د زړه طوطا

(ب)

كه له كوره توښه نه واخلي غريب   په خواري بدي به مومي خپل نصيب
چه وِ خواست وته وَلاړ وِي يا حرص ته   له ژوندون نه به وېزار شي عنقريب
دَ چا زخم دَ چا حد دَ چا تعذېر دي   هر سړى پخپل انداز مومي تأديب
كه انصاف و عدل داد سياست نه وَي   شك به نه وُ دَ وگړي په تخريب
عالمان دَ شريعت لكه څراغ دئ   لور په لور دَ روښنايىِ اساليب

---

[1] [illegible]

دا د مځکي مخ ئې واړه په حساب دئ — بیرونه تر شرعي نشته يَو جريب
په دانه دانه غلې واړه حساب دي — په حساب کښ هم مو يزدي هم زبيب
دَ درياب اوبه دَ شرعي په حساب دي — و هر څه ته ئې ورکړې دَي ترتيب
دا همه واړه دَ شرعی خدمتکار دي — محتسب، قاضي، مفتي، ملا، خطيب
عاقبت مريد دَ شرعي دَ اُمّی شو — که خبر بو علي کړې عندليب
په جهان کښ بل رقيب دَ شرعی نشته — که رقيب دَئ يو شيطان ئې دَئ رقيب
مخالف دَ شرعی واړه شيطاني دي — مخ ئې تور شه چه عمل کا په تکذيب
چه غمخور دِ دَ هر کار ندي پدين کښ — نه دِ يار دَئ، نه محب دَئ، نه حبيب
دَ عنصر دَ صنائع فکرونه پرېږده — که پوهېږې شرعه نور لري ترکيب
فلسفه معتزله واړه گمراه دِئ — چه بې شرعي پخپل راي کاندِي ترغيب
دو اويا ملته واړه آلوده دِئ — پکښ يَو ملت دَ شرعي دَئ نجيب

رنځ زحمت دِ خداي در نکاندِي خوشحاله
گښه کړه دارو دَ شرعي په طبيب

(ت)

درته وښدَيَم کيميا دَ سعادت — دَ بدانو سرَه مه کوهَ صحبت
مه بد گوي مه بد آموز مه بد انديش شه — که دِ زړه وي چه در نَرسِي آفت
که لوئي غواړې ځان کم گڼه تر بله — بل تر دا دَ پاسه نشته نصيحت
پدوستانو تلطف کړه څو پتا شي — دَ دښمن سرَه هم ښه کوهَ خلقيت
دَ نېکخواه خبره نغوږه پرې عمل کړه — نا نغتانو ته تيار دَئ ندامت
دَ نمانځه تر قضا گرانه دا قضا ده — چه قضا شي دَ ځلوروُ مصلحت
نوراني کا هغه ځاي چه سرَه کښېني — ديرينه ځلور هوښيار په مشورت
په اخلاص چه په دعا لاسوَنه هسك كا — ور به پرانت شِي دَ فتح دَ نصرت
بې کنگاشه به هيڅ کار په لاس وانخلي — چه خبر دي د کنگاش په برکت
چه په تشه تواضع کښ گټه کښېږي — هونبره سود نشته دَ ډک طباخ دست
که گنجونه دَ قارون درته انبار شي — په هر لور ئې غورځوه په سخاوت
ناپوهان به ئې پرېږدِي وروستو و بل ته — عاقلان به وړاندي بيائِی خپل دولت
ناپوهان له ئې شدت وته تيار دي — لا ئې ندي خبر دار په حقيقت
څو دوستی دَ دنيا ډېري وِي په زړه کښ — هغه هونبره ډېر فساد دي قباحت
شور غوغا جنگ و جدل به تر منځ نه وه — که هر څوک سرَه راضي وي په قسمت
که حاتم غُندِي کرم کړې دَ مهرانو — دَ يوې د مرئ په چا مړده منت
څو بدانو سرَه بد شې هونبره ښه دي — ولي عفوه کرم ډېر لري لذت
دا نابوده دنيا هيڅ متاعه نده — چه به کاندي عاقلان باندِي شدت
که دِ سر ځَي که دِ مال ځَي که دِ نور څه — استوار اوسه پکار دَ رفاقت
په ظاهر باطن کفران دَ نعمت مکړه — هوا خواه اوسه دَ خپل ولي نعمت
که راحت غواړې په ځان محنت قبول کړه — بې محنته هيڅوک نه مومي راحت
که دارَو په خواست موندل شي مه ئې اخله — که دِ مرگ وته نيژدې کاندي زحمت

که اسمان د دَ مزری په خوله کښ ورکا   دَ مزری په خوله کښ مه پرېږده همت
دَ عمل ذخیره واستوه دَ وړاندئ   دا یو څو ورځې ژوندون دَي غنیمت
په اوبو چه روا نه دي شونډي مه ږده   په ورځ زر خونونه کړه په شریعت
که ژوندون دَي هم هغه دي په جهان کښ   چه یادېږي دَ سړي دَ ښو خصلت
دا راحت لکه دَ فقر دَ پوزئ دئ   دا راحت نشته په تخت دَ سلطنت
چه کالي ئې پاتو نشي مرده شوي ته
خدایه ورکړې و خوشحال هسي رحلت

(د)

دَ خدای عرفان مي وشو په عرفان د محمد(ص)[1]   پاک دي محمد پاک دَي سجان دَ محمد
درست خلق که یو کړې انس و جن دواړه جهانه   لا تر واړو به دَي گنبُي ځان دَ محمد
شق دَ رود نیل که دَ موسی په حکم وشو   شق دَ قمر وشو په فرمان د محمد
دور دَ نا قوس که یو څو وخته وُ فاني شو   تل به تر قیامته وِی اذان د محمد
ندي قسېس رهبان قائم پخپل دین و مذهب کښ   نه زر قسیس رهبان نه یو سلمان د محمد
یو لك څلېرویښت زره زیات و کم پیغمبران دي   کل واړه مدام دي ثنا خوان د محمد
څه دَي دا اسمان وَلاړ بې ستنې بې شاتیره   دئ یو مختصر هلك ایوان د محمد
څه دِی اوه ستوري چه په دوولس برجه ښوري   واړه خدمتگار دي چاکران د محمد
دا جهان هغه جهان که دواړه سرَه یو کړې   لا تر دانه لوي دَي بل جهان د محمد
واړه جنتونه پکښ څو رنگ نعمتونه   څه دي درته وایم یو بوستان د محمد
څه دِی دوږخونه بگښ هومره عذابونه   جوړ دَي دښمنو ته یو زندان دَ محمد
ورځ چه دَ قیامت وئ مرسلان به په هیبت وئ   هورته به جولان وِئ په میدان د محمد
سل صلوةَ تل لما په آل تقي نقي شه
سل دروده تل په چهار یاران د محمد

زه مدد غواړم له تا نه اې یوه خدایه احدَ   که مدد دي را سرَه وِي چار به نشي ځما بدَ
زه عاجز مریی د تا یم تا به ستا یم ستا په فضل   ستا ثنا صفت به وایم څو زه توان لَرم بې حدَ
ستا ثنا ده تر حد تېره دَ بیابان تر شگو ډېره   هسي حؤک دَي چه خبر شي دَ دیو شگو له عددَ
نه ته زوړ یې نه ته ځوان یې لکه هسي یکسان یې   لکه وې هسي به وینه له ازله تر ابدَ
مځکه سبع سمواته دواړه گَونه کائناته   واړه تا گُنبي پیدا کړل بې دَ نورو له مددَ
دا همه واړه ملکونه تا زوول له کاف و نونه   هم والد یې دَ ملکونو منزه یې له ولدَ
که سپید دي که سیاه دي په وحدت د تا گواه دي   ته محیط له هرَه څیزه له سفید و له اسودَ
د تا کار واړه خوبي دي، په خوبي او په نېکي دي   دا وموړه ته رسېږي کله نېکه کله بدَ
دا شامت دَ موړه خپل دي چه مو کار هسِي مشکل دي   گنه ته څه هسي نه یې چه خپل ورترې له ردَ
هر چه نه دی وُ په نغوته تا لبیك ووې هغو ته   چه په یا صنم ویل کښ دا غلط دَي یا صمدَ

---

[1] دا نعتیه قصیده د دې کتاب په (۷۵) مخ کښ لنډه دَ یوې بدلی په ډول راغلې ده، دلته ئې موږ هغه بېتونه ولیکل چه هورې
[illegible]

ته پوښتنه کړې له حاله چه ئې حال ښه وُ تر قاله   دَ بلال اسهد قبول شه دَ دیو نورو له اشهدَ

د خوشحال وَیل اومه دي، لایق ستا دَ صفت ندي

ستا په فضل به پخېږي دا اومه وَیل احدَا!

(ر)

دَ حکمت وَیل به وایم مختصر   په معني کښ قیمتي لکه گوهر

په هفته کښ صحبت یو ځله بایده دئ   که هر څو ورباندې عشق وَي زورَور

دَ صحبت په کار کښ ډېر فکر بایده دئ   څورب آس شي په یوه گزار ډنگر

دا دَ ملا اُوبه ئې واړه دور گوهر دئ   که سرې ئې شي له قدره نه خبر

دُر گوهر به هغه څوک لوني بې ځایه   چه په پوهه کښ ابله وي گیدي خر

په ډېر رنگه دخول کېږي بهتر دا دي   چه تر تا وي ښځه لاندې ته زبر

چه دِ عمر تر پنځوسو کالو تېر شي   په دخول کښ یاوه ډېر مکره ذکر

که قوت زیاتوې تل خوره شودې پې   چه تر دانه دارُو نشته معتبر

په مَرَه گېډه صحبت په شومه مکره   پسله خوبه ئې پرې جوړ کړه په سحر

چه حاجت دَ غسل وشي ژر ولامبه   پسله لامبو لږ څه وخوره گرم و تر[1]

دَ شهوت چه ضعیفي لېري کوینه   په بادام او په پسته طائفې څر

دا څلور توگه نفاخ دي مبهي دي   یو چڼه، لوبیا، گاځره، بل ټېپر

که دَ غره دَ مږه په تریخي ځان ککړ کړې   دَ جماع لذت به بیا مومې بېشتر

دَ زړې ښځې صحبت دَي لکه زهر   هر سرې دِ ځني وکاندي حذر

دَ هغې ښځې صحبت لکه دارو دي   چه ئې لور نه وِي زوولې یا پسر

که دِ لاس په بکره بر شي پرې ئې مړده   که دِ ځاي شِي په هغه جهان سقر

دَ مخ رنگ تازه کوي صحبت د بکرې   ورکوِي سستي دَ تن درد دَ کمر

تر زعفرانو تر عنبرو لَرې ډېره   په خوراک او په بخور نفع اکثر

زعفران خوره که دی دَ زړه تازگي غواړې   ولي لا تر زعفرانو ښه عنبر

تر زعفرانو تر عنبر ولَرې ډېره   په خوراک او په بخور نفع اگر

په تودو اوبو چه اوړې ژمي لامبي   په دا کار کښ تندرستي دَه د بشر

مستکي مستکي وخوره درته وایم   چه خوراک ئې په مثال دي لکه زر

که دَ غره دَ بزو په تریخي ئې علاج کړې   رنځوري به دِ پرېښږدي دَ بصر

که توبري له زخمه نه خېږي چنگاښ مي   باندي وتړه هاله به شي بدر

که اوبه دَ پیازو شهد سرَه وخورې   دَ فاسدو وینو نه پرېږدي اثر

په خوراک دَ یاسمین دورمي څو رنځه   تر سېږي، لقوه، فالج هم درد سر

ناست و نماست دِ دَ سړي په اعتدال وي   په ساړه په غارمه نه بویه سفر

په هغه کلي کي خونه میشته مکړه   چه درياب ئې په جنوب په شمال غر

گرد غبار غارمه چیگر هوا بد بویه   رنځ علت وبا پدا کېږي اکثر

---

[1] [illegible]

په څلور فصله کښ ښه فصل بهار دي   تابستان سرِي کم خور کاندي لاغر
ډېر زحمت په وخت دَ مني پيدا کښېږي   لکه سل، تبه، قولنج بلا بتر
رنځ زحمت دَ زمستان په فصل لږ وي   دَ ساړه نه ځان ساته په اور په نمر
چه په شپه له خوبه وېښ شي اُوبه مه څښه   په نهاره هم اوبه لَري ضرر
دَ چندېنو مېښل خوراک دواړه بهتر دي   په بدن که ئې محرور مړي بهتر
خداي دي ټوخي دَ سياريِ[1] دَ چا و نکا   او کنه ورته دارو دي شير خر
دَ مولی په خوراک کښ دِي دوې گټي   بد هضمي رېگ مثانه کاندي بدر
چه دَ مېښو ماستې خوري زحمت به مومي   تر خواړه ئې لا تروه گڼه بتر
که ماسته پۍ به خورې خوئې دَ بزو خوره   هم هغه چه ئې چکه کړې شيرين تر
که د غوا دَ بزو شلومبې څښې زيان ئې نشته   اشتها دَ سرِي زياته کا په خور
که به پۍ څښې شودې پۍ خو دَ بزو څښه   که غوړي خورې خو غوړي خوره د بقر
دَ تمځري دَ حلوان غوښې اعلا دِي   لا تر څورب مرغي ښه دي دَ کوتر
که دَ پيازو په خوړو شهوت زياتېږي   ولي ډېر خواړه ئې زيان دي د بصر
که هزار رنگه طعام دَي په جهان کښ   تر ډوډۍ نه بل خواړه نشته بهتر
که يخني او ډوډۍ مومې نور څه مخوره   چه بهتر نه دي تر دا شير و شکر
کله کله هوږه خوره چه سود ئې ډېر دي   په سفر به ئې همېش خوري دا نشور
څو ترشي په جهان شته واړه زحمت ده   دَ صفرا علاج په دې شِي مقرر
که ئې مومې اوړي ژمي گبينه خوره   خو په سود ئې خبر مکړه خپل پدر
خوږ او تر يو انار همه واړه دارو دي   فوائد دَ خواړه لا دي افزون تر
په سابو کښ دَ سووې سابه مفيد دي   ولی بويه چه محرور ئې خوري کمتر
که اوبه دِ دَ باران يا دَ چينې دي   دَ کوهی اوبه ضرر دي دَ بشر
ښې سرې خوږې اوبه دَ سري ځان دي   ولی تود خواړه سرې اوبه ضرر
چه تودې اوبه څوک څښي غارمه وهلي   پرې نقصان دَ اشتها شي رنگ اصفر
تود کچړَي دَ غوا غوړي په وخت دَ ژمي   تر حلوا تر سلوا زيات لَري هنر
دَ صحرا ويلني خوره پرې به ورکښېږي   که دَ نس موړه لرې وکړه باور
دَ باغي ويلني سود دَ خوراک ډېردي   په وجود کښ دَ باد نه پرېږدي اثر
په خوراک توره بنگره[2] زاړه زلمی کا   که خوراک ئې څوک يو کال کا مقرر
لېوني گلاب داړلي لَره ښه دي   که پرهار کا دَ هلك په بَولو تر
که دَ نغن سَره ئې خورې خټکي ښه دي   په نهاره ئې جوړل دِي تنها شر
حرارت لَره کاسني چه خداي پېدا کړه   نور دارو په خوله ياد مکړه خشك و تر
وريته کَړي بنگ هم ورک کاندي نس خوږي   ور سره شربت نبات بويه شکر
دَ تازه پنېر خوړل سرۍ فربه کا   ولي بويه چه دانا ئې خوري کمتر
په کماله ځواني فصد دَ قيفال بويه[3]   گوناگون زحمت ورکېږي پدا چر
څو چه ډېر طلبگار نشې خواړه مه خوره   هر زمان په شخوند کښ مشه لکه ستور

---

[1] يعني سالنډي، ضيق النفس چه يو مرض دئ.

[2] نڅا، بډا.

[3] په دوهم دريم کال فصد دَ قيفال بويه   غلبه دَ وينو درومی يدا چر

دَ طبيب دارُو هاله خوره چه حاذق وِي دَ فاقص طبيب دارُو لَرِي خطر
خوشبوئي څو لگوې هونبره فايده ده تندرستي ده هم سنت دَ پيغمبر
دَ صفرا زحمت به درومي له هغه نه چه ښه حسن وته کاندِي تل نظر
دَ بلغم زحمت به درومي له هغه نه
چه غتيان په هَره مياشت کا مکرر

چه مي وليده دَ خپلو زويو کار زويه واړه جگر خون دي دَ خپل پلار
خو چه وزيږِي دَ پلار دَ ځان بلا شِي په خدمت په تربيت ئې شي گرفتار
چه تندرست تر و تازه وِي پرې خوښيږِي دَ زړه نول ئې شي چه لږ ئې شي بيمار
څو ئې ږيره بريت لا نه وي همره گل وي دَ وېښتو سَرَه ئې مخ پيدا کا خار
چه دَ خپل قوت څښتن شي دماغ واخلي دَ ځوانی له خياله سم نه ځِي پر لار
هر هزار رنگه هوا په زړه کښ روشي ورځ و شپه سَرَه ښوريږِي ناقرار
له خودیِ هسي مست بې خوده ولاړ شي خو يو زه يم چه پيدا شم پدا دار
وخت ئې هيڅ دَ هلکوالي پياد نه وي چه به پروت وُ په اوښي کښ خوار و زار
گرنگ په خوله باندي راغلي تن لړلي په گندگی کښ په بد بوي گنده مردار
توان طاقت دَ مچ شړل ور څخه نه وُ په ساتنه به ئې مور کاوه تېمار
که ئې غل دَ مور په غيږ کښ کړل متياځې په دا کار به ئې نه عيب وُ نه ئې عار
که مور پلار ئې وښو چارو وَته بولي نصيحت دَ مور او پلار وِي ورته نار
نوري چاري ورته واړه حبطه وي هم هغه کا چه په زړه ئې خپله چار
يکباره دَ خود رايی په سيند کښ ډوب وي چه واته ئې ځني نه وِي په کنار
چه دَ زيست او دَ روزگار شعور پيدا کا کار و بار ئې په څو رنگه شِي اظهار
څوک بهرام غندِي منحوس بد بخت بخيل شي په شامت ئې خېلخانه شِي تار په تار
منافق لئيم مردود دَ زمانې شِي دَ خپل پلار سره آغاز کاندِي کارزار
څوک يحيی غُندِي اوده غافل پيدا شي چه هيڅ کار نېولي نشي استوار
څوک سدو غُندِي نامرد عبدالزوجه شي په تنگڅه له خپله پلاره شي وېزار
څوک مالو غُندِي جلو[١] غُندِي پيدا شي سراسر واړه نابود او نا پکار
څو د ما کره زوولي دِي بهر زويه دَ نور چا ندي پيدا پدا ديار
څو دواړو کار و بار درته شمارم که ئې شمارم درمانده به شم په شمار
موافق مي په خورمنځ[٢] يو زويه نشته همگي واړه دَ خپل غرض دِي يار
که ما زده وي چه دَ زويو هسي کار دي ما به زنا کاوه نه کور دَ کور روزگار
حال ځما دَ اولاد دا دئ چه مي ووې په اولاد دَ نورو نه يم خبر دار
اورنگزيب بادشاه هم زوی دَ شاه جهان دئ خبردار به يې دَ ده په کاروبار
مال اولاد دواړه فتنه دي په جهان کښ پدا دواړه به زړه نه ترِي هوښيار
يا پدا زمانه خوي دَ خلقو نور شو يا څو وُ دا جهان هسي وُ مکار[٣]

---

[١] جالو.

[٢] طبيعت، خواهش.

[٣] بيگار.

نور تر دا دَ پاسه شکر کړه خوشحاله   چه له تانه خپل بابا نه وُ آزار
که دَ درست جهان دولت وِي ستا په لاس کښ   په اخلاص به دِ دَ پلار تر سر کړ جار
اوس تا هسي زویه راوړه هم بد ته ئې   چه تر سر به دِ ځار نکا یَو دینار
نور لا هم ویلی نه شم ګُندي ښه دِي   سررشته دَواړو بده کړه سردار
دَ هجرت زر سل کالونه نه ترې کم دي   چه تري کښ[1] مي آغاز کړ دا اشعار
عابد خان په دا محنت را سَرَه مل دي   چه ګانډه شِي پرې ځما دَ زړه پرهار
خالد خان بخو شاکر طاهر دا هم دي   مجاهد کامران همه شه برخوردار
دَ بهرام لښکري پروتي په تېري دئ
امید دي چه خداي ئې ژر کا شرمسار

ښه که وزېږي له ډکي ښځي مار   نه زوولي ځني زویه ناهموار
یا دَ چرګ غُنډِی چاپېر ګرزی تر چرګو   یا بلبلي توت خورې دي بهتی[2] خوار
سراي هر ګوره بد ولد دَي چه مي وکوت   له بازونو نه پیدا شي مرک مار
که په سلو کښ یو ښه شو غنیمت دي   دَ راحت دَ فراغت دِي دَ تلوار
نه ئې شرم نه ئې ننګ شته دَ مېړونو   ځما زویه دَ بل ورور ندئ غمخوار
نه یو باز دَ سر درو نه ډېري چرګي   دَ ځنګلو مزری یَو، ګیدړ هزار
اکوړی یحیی شهباز واړه سره زر وه[3]   پخپل دور واړو ښه تېر کړ خپل وار
هم په ورکړه هم په توره هم په عدل   پدا درې توګه درې واړه وه اوځار
په بهرام باندي چه وار راغي اوس ګوره   چه ئې څرنګه بدنام کړه دا نامدار
که زه دیو غُنډِي نه یم باري شکر   چه په ما باندِي بد نام نشو تبار
هغه پلار بې بخته نه وِي په جهان کښ   چه خلف ورځني پاتو شي یادګار
اوس فاسده زمانه ده له ښځمنو   نا خلف نا اهل زېږِي بد کردار
اکوړې یحیی شهباز واړه مزري وه   زه هم نه یم دَ ګیدوړو په قطار
واړه تېر په مزري توب کښ شول په توره
پخپل دور واړو ښه تېر کړ خپل وار

لمړی زړه ښه کړه دَ یار   ښه په بوسه په کنار
بیا له پسه که پوهېږې   و صحبت ته شه تیار
په ورو ورو لذت آخله   ښورېده کړه په وار وار
دَ شهوت په توئېده کښ   په تعجیل شه په تلوار
چه فارغ شې له شهوته   په سینه ئې شه قرار
د خپل یار مقصود پوره کړه   دَ خپل یار اوسه غمخوار
خوله ئې پاس کښېږده په شونډو   کښېدَلَوه ئې ګلعذار
په هفته کښ یو صحبت کړه   که هر څو ئې قوت دار

---

[1] په نرئ کي.

[2] هندی کلمه ده یعنی ړدن.

[3] شهباز خان د خوشاحل خان پلار او یحیی او اکوړی ئی نیکونه وه.

مکرر صحبت بلا دي   ستا به وباسي دمار
سړی توب بویه په کار کښ   عادت مکړه دَ حمار
دغه ځاي لکه کوهي دي   پکښ مشه نګوسار
که شهوت په امساک بند کړې   په سوزاک به شې بېمار
تل شوده پی دَ بزو خوره   یا دَ غوا څښه په بهار
ور سَرَه میده لونګ کړه   له شودو پیو شه ځار
مه معجون خوره مه څه نور څه   دَ ځان مه غواړه آزار
تل ترید خوره دَ ښو پسونو   ورسَرَه څه خو اچار
دو پیازه دَ چرګو هم خوره
نور به څه وایم بسیار

چه دانا تر نادان لا وژني بتر   مګر ندئ دا ژوندُون څه معتبر
چه مي فهم فکر وکړ باور وکړه   پدا باغ کښ ګل له خار دَي برابر
چه له کومو غرونو راغي چرته درومي   ابا سیند لا پدا هیڅ ندي خبر
دَ شلمان غرونه پدا کله خبر دي   په شلمان کښ چه زر ګونه شول ډېر
نه اسمان ځني خبر دَي نه دا مځکه   چه عالم شو په طوفان زېر و زبر
په یَوه زمان کښ څه قدرت ښکاره کا   څه قادر دَي توانا الله اکبر
مکافات دَ کوم ګناه دَ کوم شامت دي   چه ډېر دَ میر جمله شو درست تبر
چه دا هسي ئې پېرې کړلې بنیادي   دَ فلك په سر کښ شته څه شور و شر
نه په ډېر ده نه په لَږ دَ خداي په کړه ده   لږ لښکر په ډېر لښکر مومي ظفر
څه شنواري څه مهمند څه افریدي وه   چه ئې مات کړ دَ صوبې واړه لښکر
دا طوفان چه په مغلو باندِې ساز شو   په کشتن په الجو هیڅ مکړه نظر
که آسونه که فیلان که اسبابونه   په انبار انبار سپین زر وه یا سره زر
هغه ښې پري پېکري دَ پالکیو   همګي پر پوري لال و دُر ګوهر
په زرګونو پښتنو کړې تر ځان لاندي   دا به څوک کا دَ مغل له زړه بدر
دا کینه به یَو په سله ترې وَباسِې   که ئې لاس شي په جمله پښتانه بر
پښتنو څخه که سته څه عقل پوهه   اېل یاغی دِ ځني کاندي اوس حذر
دا متل دَ زمانې دي څه اوس ندئ   چه نامرد خر په پالان وهي نه خر
مستجاب مهمند که چرګه دَ مغل دي
زه خوشحال ختِك خو باز یم ځاي مي غر

بیا له کومه را پېدا شو دا بهار   چه په هر لوري ئې ملك کړ یو ګلزار
ارغوان دي ضمیران سوسن ریحان دي   یاسمن دِي نسترن نرګس ګلنار
دَ پسرلي ګلونو ډېر په هر هر رنګ شته   ولي سره لاله دئ لا پکښ اوڅار
جونه موټي موټي ګل ږدي په ګرېوان کښ   دَ ځوانانو ګلدستې دِي په دستار
مغني په چغار نه لیندي کښېږده   په نغمو په پردو غواړه هر هر تار
ساقي راشه ډکي ډکي پیالې راکړه   چه دَ میو په مستي کښ شم سرشار
پښتنو ځلمیو بیا لاسونه سره کړه   لکه باز منګلي سرې ګا پخپل ښکار

سپيني توري ئې گلگوني کړې په وينو   په اهاړ کښ شگفته شو لاله زار
ايمل خان دريا خان دواړه مرگ ئې موه   هيڅ تقصير دواړو ونکړ وار په وار
دَ خيبر دره ئې سره کړله په وينو   په کړپه ئې هم روان کړ دند و کار
تر کړپه تر باجوړه سمى غرونه   په لرزه په زلزله شول په بار بار
په هغه لوري چه کېږي ينځم کال دي   هَرَه ورځ دَ سپينو تورو خرپهار
چه پدا لوري زه راغلم حبطه شوم   زه مردار يم که دا خلق دِي مردار
په لښکر لښکر ناري شوم روته ستړي   دا کاڼه راته نه مهېرک وائي نه ځار
چه احوال دَ يوسف زيو را معلوم شو   لواغه و ما ته ښه وه نه دم غار
دَ ختکو سپي بهتر تر يوسف زويو   که ختك دي هم په خوي تر سپي بېكار
درست پښتون تر قندهاره تر اټکه   سَرَه يَو دَ ننگ پکار پټ و آشکار
گوره څو جنگونه وشول په هر لوري   ولي هيڅ دَ يوسف زيو نشته عار
اول ختك دَ لوړي شا دَ تهترو وُ   په څلوېښت زره مغل شول تار پتار
خويندی لوڼه ئې په بند دَ پښتنو شوې   آس اوښان هاتيان الجه قطار قطار
دوهم جنگ مير حسيني په دوآبه کښ   چه ئې وټکښده سر لکه دَ مار
بيا له پسه دَ نوښهر دَ کوټ جنگ وُ   چه مي وکيښ تر مغلو خپل خمار
بيا له پسه جسونت سنگه شجاعت خان وه   چه ايمل ئې په گنداب ويوست د مار
شيړم جنگ مکرم خان شمشير خان دواړه   چه ايمل کړل په خاپس[1] کښ تار پتار
چه ځما په ياد د دِي لوي جنگونه دا دِي   دَ هلکو په هر لوري نشته شمار
همېشه فتح و نصرت دَي لار تر اوسه   پسله دا ده بيا تکيه په کردکار
اورنگ زېب راته يو کال وشو چه پروت دي   په صورت حيران پرېشان په زړه افگار
کال په کال امرايان دِي چه پر بوزي   چه طوفاني شوې لښکري کوم ئې شمار
خزانې دَ هندوستان دِي را خپرې شوې   سره مهران دي ننوزي په کوهسار
دا دَ هيڇا په اتلس فکره نه وه   چه به دا کارونه شِي پدا ديار
دَ بادشاه دَ بد نيتىِ کمي نشته   په بد نيت ئې آزار واخيست دَ خپل پلار
ځکه اوس دَ چا باور ورباندي نشي   هم بد نيت دي هم بد قول هم مکار
بله هيڅ ليدله نشي پدا منځ کښ   يا مغل د منځه ورک يا پښتون خوار
که گردش دَ اسمان دا دَي چه ليده شِي   که دَ خداي رضا پدا وِي راغي وار
اسمان هر کله پېرې يکرنگي نکا   گاه په کام دَ گل جار وزي گاه دَ خار
پدا هسي وخت چه وخت دَ نام و ننگ دي   دا بې ننگه پښتانه کا څه رفتار
پښتانه چه نور څه فکر کا ناپوه دي   بې دَ توري خلاصي نشته په بل کار
تر مغلو پښتانه په توره ښه دِي   که په پوهه پښتانه وَي څه هوښيار
اولسونه چه سند وبله وکا   بادشاهان ورته سجود کاندِي اختيار
که نفاق که اتفاق که جهل پوهه   د هر چا د خداي په لاس ده هره چار
افريدي مهمند شنواري گوره څه کا   دَ مغلو لښکر پروت په ننگرهار
زه تنها پکښ په غم دَ نام و ننگ يم   يوسف زئى فراغت په کښت و کار
اوس چه هسي بې ننگي بې ناموسي کا   عاقبت به ور ښکاره شي خپله چار
مرگ ځما په پوهه ښه تر دا ژوندُون نه دئ   د عزت سَرَهَ چه نه وِي نيست روزگار

[1] ١٠ ش

همیشه به په جهان کښ ژوندون نه وئ   د خوشحال خټك به پاتو شي یادگار

دَ دریمی خور اول کال دَ غفوُوُ[1]

ما چه وې په برمول کښ دا اشعار

هر سړي چه لېونی کا خپل ذکر   په هر ځاي کښ ئې منډي خاوري په سر
دَ صحبت په کار کښ ډېر فکر بایده دي   له صحبته پیدا کښېږي خیر و شر
چه سیپیٔ[2] ئې دَ دریاب نه وِئ اصیله   کله ښه ترې پیدا کښېږي دُر گوهر
پدا کار په توره ډېره خبر نه وم   دا یم اوس په سپینه ډېره شوم خبر
ښځه کښلې ښایسته پاکیزه بویه   چه ئې پلار نیکه له ځایه[3] معتبر
شرمناکه پرده پوښه دلاوره   آراسته په عقل و هوش په ښه منر
نه وهمي نه وسواسي نه بد معاشه   نه ئې مینه په دنیا نه زر زېور
که دا هسي محبوبه په لاس کښېوزی   له وجوده ئې پیدا شي ښه پسر
چه ئې مور او پلار تفچاق وِي خداي دِ نکا   چه بهاڼ خِنی پېدا شي لکه خر
تر مېرمني وینځه ښه دَه په ښه خوي کښ   نه مېرمن چه نه ئې خوي وِي نه بشر
آدم زاد په اصل واړه آدمزاد دئ   ښه هغه چه خوي ئې ښه لکه سره زر
طالعمن قابل یو زویه دَ پلار بس دئ   نه نابود زویه په کور کښ جوړ لښکر
چه حیا شرم لَري فرزند هغه دئ   دَ فرزند خو دِ رشتیا غواړي پدر
چه ئې شرم حیا نه وي نه راستگوي وئ   پلار دِ کا له هغه زویه نه حذر
چه نېکخواه دَ بابا نه وِي هغه زویه   گوره دَئ دَ ځه بلا لَري اثر
خپل وجود دَ خپل وجود په بدي نه وِي   بل وجود دَ بل وجود غواړي ضرر
که دَ خپل زویه په سر دَ پلار ښه کښېږي   ښه فرزند به ځني نه ساتي خپل سر
ابراهیم چه اسماعیل ته تېغ تیار کړ   اسماعیل ابا ونکړه پدا چړ
اوس د دې زمانې زویه زویه ندېئ   مار لړم زېږي که لا تر دا بتر

یا دَ خپل اولاد دَ لاسه جهان زده

یا خوشحال دَئ په فریاد په ناره سر

نا خلف مي حواله کړ په تقدېر   نصیحت ور باندي نکا ندئ تأثیر
خوي خصلت چه ازلي وِي نه نورېږي   په ارشاد او په تلقین دَ کامل پیر
بد فرزند دِ خداي دَ هیچا پیدا نکا   په خصلت ئې پلار په ځان وي مور په ویر
چه نصیب دَ بو لهب وُ نور ځه نشو   محمد که نصیحت کړ یا تدبیر
عیسی یو ناپوه هوښیار نکړ په عمر[4]   که ړانده ئې په نفس شول ډېر بصیر
محمد دَ ابو جهل خوي نور نکړ   نه خصلت دَ بو لهب بیا موند تغیر[5]

---

[1] غفو د ابجد په حساب ۱۰۸۹ کیږي.

[2] د سیند خاوند دا کلمه په معنی د کاجوغی را وړې ده، چه کړ یځی هم ورته وائی مگر دلته ښه نه ورسره لگېږي.

[3] ځائی وي.

[4] هوښیار په معجز نکړ.

و هوښیار ته دَ ناپوه عقل حنظل دئ   و نادان ته خپله پوهه شهد و شیر
چه بد خوي په چا کښ کښیني نور عادت شي   عادت نه درومي له شخصه په تغیر
يَو زمان به خالي نه وي له عذابه   چه خپل خوي شي و سړي وته سعیر
لکه سرای دَ کاروانونو تل پایمال وئ   په نادان ده خپله پوهه غم بهیر
دَ نا اهل سړي کار دَ جاهل کوم دئ   چه مهمل ئې عبارت خالي تفسیر
د ناقصی پوهي پډل په کار ندي   دَ دانا فکر خطر لَري خطیر
یو جهان هسي ګډ وډ ما ته ښېریه   چه مغل پښتون په غم وبله خیر
بل مي زویه نالائق خیلخانه ورانه   زه په زړه له زمانې هسي دلګیر
درسته مخه[1] تیر انداز سړی خطا کا   دَ ټکي په سر دَ اوړکي لګي تیر
واړه زړونه په دانش سَره سم ندئ   دَ چا زړه لکه دریاب دَ چا غدیر
په نري آواز په تراه له هر څه درومي   د هوښیار سړي به کار وي دَ نخجیر
تفاوت دَ هر وجود لکه مرغونه   یَو همای شو یَو کارګه شو بل کجیر[2]
دَ کوتاه تروني نرسي لاسُونه   بیا دَ ونو دَ مېوې کاندي تفسیر
په هنر دَ هنرمند پېچمي نا خوال کا   بې هنر چه په هنر نه وي خبیر
کاشکې دا دعوا عالم کاندي منظوره   چه سهار پاڅي دَ نمر کاندي تحقیر
په صابون وَلَلي زړګی دَ هغه کس دَئ   چه په زړه کښ ئې نفاق نه وي تزویر
چه په هسي زړه به ګرد غبار پرېباسې   مکافات ئې لاس په لاس شي دامنګیر
زمانه دَ ربابي د لاس رباب ده   هر زمان نوي نغمې دَ بم و ځیر
چه پخوا په خاطر نه وي را پیدا شي   په لحظه لحظه کښ چاری دَ تاثیر
په لحظه احوال دَ جهان نور شي   دَ سبا دَ چاري فکر په ضمیر
هَرَه ورځ دَ زمانې احوال بدلېږي   هَرَه شپه نوي خوبونه نور تعبیر
په ساعت کښ رنګ و خوند دَ چاري نور شي   وینه پی شي پی شنوبې شنوبې پنیر
فراغت دِ مبارک شي دَ ګیدړُو   دَ مزري دَ غاړی بخره دئ ځنځیر
باد باران ساړه غارمه لَره پکار شي   عاقلان چه مشقت کا په تعمیر
یا ئې ځاي په سر درو چه لیده نشي   دَ مزریو یا وژل دِي یا ځنځیر
چه ژلئ دَ دهقان په تول شي سازه   په زړه ډېر له دهقانی شي زهیر
دَ دولت دَ ناوي مَهر ککری دَه   پلو غوټه ئې دنیا ده واروه ځیر
بې دولت چه له دولته نه محروم دي   دا ئې واړه په همت کښ دي تقصیر
عاقبت دَ نا قابل دولت برباد وي   په طالع که یا امیر شي یا وزیر
کله څرخ دَ ژرندي اَرد دَ هغه ورکا   چه غنم په ناپوهي ګني شعیر
مار چوبه دِ تن دَ مار په شکل ساز کا   پخپل ځان کښ به د مار کښېږدي تاثیر؟
و کېمخاب وته ئې مه غروه سترګي   په ورېښمو کښ چنجي دي دَ حریر
چه ئې پاس په اوړو واچَوي پړانګ پش شي   په ټکي ټکي شالونه دَ کشمیر
دَ ناکام دَ پاره پاسه په سر کېږي   لکه زېږ غندی په وخت دَ زمهریر
کله خپل نمود په رنګ دَ مېو وکا   کله خونه شِي دَ ماشیو خرابخیر
پکښ واړه بېهوده حبطه حشو   لکه فرد دَ لغمانیو دَ تقریر

---

[1] موخه.

[2]

نا هموار دي نا هنجار دي نا پکار دي — بد سيرت دي بد فطرت دي بد خمير
برامد وربانديِ صوت د غراب دئ — خوشامد پرېِ دَ ببلي ښه صفير
قباحت ئې د فاسق د نالايق دئ — ظرافت ئې دَ ياوه دئ د شرير
په جهان کښ بې شعور رذاله طبعه — حميت غيرت ئې تللي له ضمير
نه دَ نوم دي نه دَ ننگ دي نه دَ شرم — دَ بخچې دي د صندوق دي د توفير
چه پيشو ورته به څو فکر ئې نشته — هَوَسېږِی لکه مږک په دنا نير
تربيت بې ځايه واړه حبطه دي — کنبيده دَ زرو نشي په حصير
زه ئې هيڅ په تربيت نکړم تقصير — ولی څه کړم نا خلف دي بد ضمير
دَ نطفې اثر مي ولاړ پکښ ضائع شو — واړه پی د مرجاني لَري تأثير
که لوگي دَ اور فرزند دَئ پدا څه شو — چه نه تاو نه لکه اور هسي منير
سر رشته د ما د چاري هغه خط شوه — چه بې فکره د انشا کښلي تقرير
په مقدار دَ خپلی چاری فکر غم کا — په دنيا کښ که غني دَئ که فقير
دربغه يو پکښ شهباز شوي يا خوشحال شوي — شل پنځه لَرم همه صغير کبير
مشران ئې د شرِئ گنده پشم — کشران دِي په مثال اومه حرير
زمانه دِ ئې په قصد په کينه نشي — چه يو څو پکښ گوهر دِي بې نظير
سيم وزر مس و سر ويل ترې پيدا کيږي — دَ مور نس لکه بوته دَي دَ اکسير
چه قابل دي هغه زويه پاينده شه — نا قابل دِ لا هلك شي سرو تير
نالائِق زويه له موره پيدا مشه — دا لا ښه که ځَني وزېږی خنزير
يو لائِق زويه تر زرو زويو ښه دئ — ډېر به څه کا څوک چه نه وِي دلپذير
دَ شوال وروستنی ورځ د غفا[1] دي — ما چه دا شپېته بيتونه کړل تحرير

خپل تدبير دَ لاسه مه پرېږدَه خوشحاله
که کارُونه حواله دِي په تقدير

(ړ)

په پښتو شعر چه ما عَلَم بلند کړ — د خبرو ملك مي فتح په سمند کړ
مدعي د توري شپې اور اورکي[2] وُ — دَ سهېل غُندِي مي ځان باندي څرگند کړ
راز دَ زړه ننه ساته نشی په زړه کښ — په ساته کښ ئې استاذ و ما ته پند کړ
يو په حال او په ماضي کښ هسي نه وُ — چه ښکاره ئې دَ خبرو راته خوند کړ
دَ ميرزا ديوان مي ومانده په گوډِي[3] — مسخره مي ارزانی خوښکي زمند کړ
که دولت وُ که واصل وُ که دا نور وُ[4] — په خبرو مي دَ هر يوه ريشخند کړ

[1] غفا د ابجد په حساب ١٠٨١ دي.

[2] يعنی کرم شب تاب.

[3] گوډ يعنی کنج او زاويه سيد راحت ليکی چه گوډِئ بنی او مشك ته هم وائی.

[4] [illegible]

کتلمې مي ورته سازي کړې دَ قندو   دَ اوربشو په ډوډیو چه چا شخوند کړ
لعل و دُر مي ورته پېیل د نظم   دَ مشکښو بنجاره مي مستمد کړ
هر کلام مي واردات دئ یا الهام دئ   چه موزون مي په تقطیع دَ بحر بند کړ
په تشبیه او په تمثیل په نزاکت کښ   عذوبت مي دَ خبري چند در چند کړ
په تازه تازه مضمون دَ پښتو شعر   په معنی مي دَ شیراز[1] او دَ خجند کړ
دَ بوستان وني مي واړه پیوندي دي   حقیقت مي دَ مجاز سَرَه پیوند کړ
نه اندوه دَ مدح وذم نه هغه کس یم   چه دَ زړه په زور مي شعر چا پسند کړ
په پارسي ژبه مي هم ژبه گویا ده   په پښتو ژبه مي خلق بهره مند کړ
دَ جاهل په بخره تش سر ښورَول وِئ   آفرین مي په خبرو دانشمند کړ
یا به درست په حسد ډک یا به جاهل وئ   چا چه زړه پدا خبرو نا خورسند کړ
جاهلان لکه کارگه گندگي خواره دي   شنو طوطیانو به دَ زړه مهر په قند کړ
نه مي سود نه مي مقصود شته پدا کار کښ   محبت ځما په غاړه دا کمند کړ
که نور سود له شعره نه لَرم دا بس دي   چه حاسد مي دَ حسد په اور سپند کړ
چا ځما مړوند ټینگ نکړ پدا کار کښ   ما دَ هر سړی نه خلاص په زور مړوند کړ
هم دَ زار دي هم دَ سخ که فهم وکړې   زړه چه تا دَ شاعرۍِ کار پسند کړ
سخ دِ دا چه سخندان دَ زمانې شوې   زار دِ دا چه دِ په فکر زړه نژند کړ
تر قیامته به یادېږِي په جهان کښ   هر سړی چه خداي په فضل ارجمند کړ

عشقه ته تر اورنگ زېب پادشاه بهتر یې
چه خوشحال دِ په عالم کښ سر بلند کړ

(ک)

څه داغونه ږدې په زړه باندِي فلك   چه نظام[2] دِ لما بېل کړ خوا ئې ډکه
خدایه ته خو ستمگر نه ئې دا څه کړې   خلقه دِ پدا کار کړه هکه پکه
په لحد کښ هغه مخ خورې په چنجیو   چه دَ هیچا پرې پېرځو نه وه جوانکه
په غمونو کښ دِ زوړ په دنیا پائِی   دَ زاړه په ارمان ته ومرې کودکه
کشکی ځوان دَ پښتانه په ننگ کښ مړ وَئ   نه چه گور لَره روان شو له تولتکه
چه دَ قام په ننگ کښ ومړ هغه زویه   په عالم کښ دَ خپل پلار غاړه کا لکه
رنگ دَ اوښیو سَرَه ویوست ځما سترگو   نور به نه راشي ځما له مردمکه
لاس و دست دې سَرَه درست در هم برهم کړي دریغه دریغه لاس در نَرَسی فلکه
نظام لس میاشتي بیمار زه په شل کروهه   دا شل کروهه راته لا ډېر شول تر لله
هغه وخت به بیارته نه راشي نظامه   چه به نه وتې دَ خپل بابا له وکه
که حیا وه که وفا وه که صفا وه   ښایسته ستا په وجود وه هَرَه یکه
اسماعیل غُندِی به دَی راته تسلیم وُ   که په حلق مي دَ نظام کښښوه گزلکه

---

[1] مراد ځنی شیرازي حافظ او کمال خجندي دَي چه د پارسی نامتو شاعران دي.

[2]

که دَ پلار په رضا زوی درومي جنت ته — سکه نظام ور لَره وَرَغي بې شکه
خداي مي نور گلونه جوړ لَره پیاغ کښ — که یو گل ورځِني پرېووت له خونکه
زه به ولي هسي ژاړم یا به نه خورم — که په نه ژړا مي مل شې زړه به څه که
څو ژوندی په دنیا پاېی خداي دِ نکا — ستا څهره ځما دَ زړه له تختې حکه
دَ نظام دَ غشي یو برابر نه دئ — که خوشحال په زړه خوړلي ډېر ناوکه

مگر زړه ئې دَ هاتي وئ چه زغمي ئې
دا شیتی چه دَ خوشحال په زړه شوه لکه

(ل)

زه دَ شعر په کار هیڅ نه یم خوشحال — ولي خداي مي کړه په غاړه دا مقال
نه په فکر نه په ذکر را برسېر شِي — ناگهانه لکه وور دَ ښښگال
رنگ ځما دَ شعر هیڅ سَرَه ساز ندئ — لکه سپی را پسې گرزِي په دنبال
ښکاري[1]سپی چه دَ نخجیر په ښکار کښ ښه شي — له خوشیِ ئې په مخ مړي رویمال
که دَ شعر وَیل هر څو دَ صفت وئ — بیا په شعر کښ پیدا کښړي انفعال
دا خبره بده نه ده چا ویلې — په تحقیق چه شعر حیض دَي دَ رجال
په جهان تر شاعرئ بد څه نشته — خداي اخته مکړه سړی پدا جنجال
تفکر دَ شاعرئِ لړمون شین کا — دَ غلیم دِ په نصیب شي دا اشغال
یو ئې زړه له واړه خلقو نه جدا شي — بل اخته وي دَ خپل فکر په نکال
بل د هیچا ناخونده په جهان نه وړي — بل دَ هر سړي د خوي وي بد سگال
بل که هر څو دُر گوهر پیيي په شعر — عیب جویه جاسوسی کا دَ افعال
هر شاعر ئې په وَیلو گوت[2] منډی کا — که په شعر کښ ته من يې دَي مثقال
بل په هسي شان دروغ پکښ ویل شي — چه پخپله دروغجن شِي دم درحال
دَ یار مخ دَ لاله گل سَرَه نسبت کا — دَ لاله دَ یار له مخه څه مثال
دَ هوسیِ دَ نافې ویني نابودي — برابري کا دَ یار له خط و خال
دَ یار قد له سبروني سَرَه سم کا — سبرونه دَه په باغ کښ نو نهال
دَ معشوقی توري سترگي غمزه گري — په غزل کا لکه سترگی دَ غزال
سر هوا لکه تبجن هسِي ویېړي — دَ خپل ځان سَرَه خوله پټه ځواب سوال
خلق خوښ په خوب اوده وي دَی بې خوب — دَ پالنگ دَ پاسه خوب وي پر محال
پټ په پټ وبله اوړي تر صباحه — دَ ښه لفظ دَ ښه مضمون په اتصال
چه د شعر فکر ورشي په مجلس کښ — نور عالم خندا هوس کا دَي ملال
چه د شعر فکر ورشي په نمانځه کښ — دَ اعوذ ذال بدل کاندي په دال
چه د شعر فکر ورشي په خواړه کښ — سپیني وریژي[3] په مزه شي ورته گال

---

[1] تازی سپی.

[2] یعنی انگشت زنی چه مطلب ځنی تنقید دي.

[3] بی مزه شی.

کله کله ئې مخ پټ[1] شي په ډېر فکر چه په ده دَ لېونتوب شي احتمال
دا همه دَ خپلي پوهي نتیجه دَه چه شاعر له فکره نه وِي فارغبال
فلاکت دَ شاعرئِ سَرَه مل دئ که شاعر سړی لَري جاه و جلال
دَ دنیا په مال ئې هیڅ نه وي وتَنه راشه وگوره دا مال او دا منال
سمرقند و بخارا څه، هغه زه یم[2] چه جهان بخښم دَ کښلي مخ په خال
ما دا څو توگه چه ولیدل دَ شعر هی توبه دَ شاعرئِ دَ افعال
کشکه زه بې ژبه گنگ وَی شاعر نه وی تر دا هسي گویایئِ ښه وم لال
که رشتیا وایم چه غور مي پرې وکړ شعر کار دَي د ملوک یا دَ هزال
که دَ شعر مذمت عیبو نه ډېر دي دا هنر دَ شعر ښه لَرِي اقبال
در گوهر یا د لولی یا د بې بې دي ښه قماش یا دَ بادشاه یا دَ رذال
چه دَ شعر په سبب سَرَه یادېږي که حسَن دَي که خسرو دَي که کمال
دَ دوږخ لمبې به کار په عاشق نکا چه ئې تاو دَ دروني دي په دا دال[3]
دانائي علم و حکمت پکښ زیاتېږي څوک چه ښه وکا دَ شعر استعمال
دَ خبرو تنستې چه واودې شِي څوک اطلس وو دِي په شعر ځَني شال
دَ هر بحر ئې په شمار واړه حرفونه په تقطیع سَرَه ئې جمعَ انفصال
دَ صفت کښلي ټکي پکښ روغي دَ تجنیس او دَ ترجیع او دَ اشکال
په غروض کښ کارستان وکا حېران شې د خبرو ناوې کښېنڈوِي تمثال
کرامت دَي یا اعجاز دَئ یا جادو دَي چه په شعر را پیدا شي له قوال
په هر بیت ئې هسي شولَې[4] وي چه پاڅي لکه زېږي په ډېر درد سَرَه اطفال
دَ شاعر ویل اوښو سَرَه نسبت کړه توروې تریخی اوبه یا خوږې زلال
شعر کار دَ هر فاسق دَ فاجر ندي نه دَ هر یو وړي سترگي دَ کنگال
شعر کار یا دَ سالك یا دَ مالك دي دَ عاشق دي دَ دردمن دي دَ ابدال
د هغه شاعر دانې وشه په ژبه چه دَ شعر دُر دانې پلوري په مال
چه دَ عشر و شاعرئِ مذکور وشو څه خو غوږ باسه ځما په حسب حال
قصیدې لرم غرا له هَرَه بابه په حکمت په نصیحت کښ مالا مال
په تعریف دَ دلبرانو غزلونو په صفت دَ سترگو وروځیو زلفو خال
رباعي ده که قطعه که مثنوي دي همگی واړه گوهر دِي دُر و لال
په پارسی ژبه که نور تر ما بهتر دي په پښتو ژبه مي مه غواړه مثال
طبیعت می عطائی نه دَ تحصیل دي که خبر یم دَ املا په استعمال
یَو ساعت مي به په درس شل مي په ښکار وُ کله ښکار پرېښوم په کسب دَ کمال
دَ جهان تحصیل به کل واړه ځما وُ که اخته نه وَي دَ ښکلر په اشتغال
غاښ وتِلي ږېره سپینه لا تر اوسه باز په لاس گرزم په غرونو په جبال
بند و بست دَ پښتو شعر ما پېدا کړ گڼه شعر دَ پښتو وُ غیر سال

---

[1] مخبط شي.

[2] دا بیت د حافظ په دې قول تلمیح دي: بخال هندویش بخشم سمرقند و بخارا را.

[3] په ځنو نسخو کښ وال هم راغلی دي.

[4] [illegible]

نه ئې وزن نه تقطیع نه ئې عروض وه — دوه مصراع ئې دَ خفیف بحر دوه طال
دَ غزل نه ئې مطلع نه ئې مقطع وُ — نه صفت نه ئې تشبیه نه ئې مثال
مگر زه ئې چه گویا په شاعري کړم — پښتانه ئې پوهَوَل ایزد تعال
پدا بند و بست به نور تر ما بهتر شي — پسله ما چه کا دَ شعر قیل و قال
نن ځما زویه یو څو دي برخوردار ښه — چه پدا هنر کښ نه لَرِی همال
که دَ شعر ویل عیب یا هنر دي — دَ ښه مخ له محبته ئې دَي حال
محبت دَ همای سیوره دَه که څه دي — که کیمیا دَي زرگَوِی سنگ و صلصال
دَ عاشق له رگه وبَهَوي ویني — چه جراح د معشوقې وهي قیفال
زړه چه خوږ دَ ښکلي مخ دَ میني نه وِي — پگښ مات شه د تېره توبري سفال
عاشقان چه په ښه مخ کا هونبره مینه — مگر خداي ویني دَ ښکلیو په جمال
گلستان ځما دَ نظم شگفته شو — پرې وهي شیدا بلبله پر و بال
گلدستې ئې لور په لور په ملك خپرې شوې — تر کابله تر کشمیره تر بنگال
هر مضمون ته چه دَ زړه توجه وکړم — طبیعت ئې راکَوِي په استعجال
شبستان مي دا بکارو معنو ځاي دي — تي ئې نمورم په غدو په آصال
دَ الهام غُندي خبر وي چه را دورمي — چه ځما په زړه نزول کا لا یزال
درست دیوان مي لکه باغ د علم گنج دئ — پکښ هر رنگه گلونه هر نهال
دَ دیوان مي که بیت بیت سرَه حساب کړې — تر څلوېښت زره به تېر شي په سړ کال
په غزل په رباعی مي زړه مین دَئ — چه مداح یم دَ دلبرُو دَ جمال
په هجران کښ ئې بلبل غُندي فریاد کړم — که ئې نه مومم گلونه دَ وصال
چه به ما لیدل په سترگو هغه ولاړل — مخ ئې زه په تصور وینم په خیال
دَ هغو دلبرو پښې شوې توري خاوري — چه په پښو ئې ژرنگېدل راته خلخال
دَ څړیو به ئې ړغ لکه رباب وُ — په آواز به ئې د ما وُ وجد و حال
په دیدن به ئې له درده رغېدل وُ — جدائي ئې لکه درد وُ دَ اسهال
دَ ځوانیِ په وخت ښه سرَه جوړېږي — ډېري جونه یَو زلمی سرَه همسال
گه یَو دم ئې جدایي وبله وشِي — زړه ئې بیا وِي و وصال وته کشال
په نوبت نوبت مي ولیدې دلبرې — یا دَ تورو وېښتو عشق وُ یا دَ خال
اوس دا نوي ښایسته که هر څو یار کړم — دَ ځوانانو څه پروا په پیر زال
که بوسه ورځني غواړم ور نیژدې شم — په خندا خندا مي غوځ کا په ناخوال
دَ هغه یاري په کار نده دَ ښکلیو — چه په مخ باندِي ئې نه ویني توروال
چه دَ کارو باره ووزی په زوروالي — کوم صفت دَ هغه خره کا خر دلال
زوړ که سپینه ږیري توره په خضاب کا — ځواني ښځې وته ځان کا ځوان رجال
نه د سپیني ږیري عیب په خضاب ځي — نه دَ تیز عیب پټېږِی په سعال
دَ سړي د عمر کار راته ښکاره شو — کله بدر کله سلخ کله هلال
په حُوانی کښ هر کار په سړي زېب کا — په پیریه کښ زشتی لَرِی هر خیال
دَ زاړه نه زړه دَ ځواني ښځې خوړین دي — که ساتی ئې په نعمت او په نوال
دَ ځوانی وخته که بیا راتلي په بیرته — ما به ځار کړ تر خپل ځان واړه اموال
دا هم ښه چه می پرې سود دَ خاطر کېږي — چه تازه دلبره وینم پدا کال[1]

---

[1] [illegible]

په بوسه د شکر لبو زوړ ځوانیږي
باز د خپله ښکاره نه وزي چه زوړ شی
چه دلبري ظاهر بیني شوې بد کار دي
عاشقان په سپین وېښته کله زړیږي
دَ ایمان سلامتي دَ هغه کس ده
چه د کښلیو دَ جمال برکت ډېر دي
په محشر به مینه وړمه دَ زړه سنگو
زه مداح دَ هیچا نه یم بې دَ کښلیو
زه څه خداي په کښلي مخ باندي مین دئ
نه مې طمعه له چا ده چه مدح گوي شوې
که له هجوي له غندني درته وایم
فردوسي لَري څو بیته له محموده
چه دَ دور شاهنشاه دَ ذم لایق شو
ما هم هیڅ تقصیر په ذم دَ چا ونکړ
که محمود بنده زاده وُ دَ خپل پلار وُ
چه په رنگ په خوي خصلت دَ بابا نه وئ
درست عالم په خوي خصلت دَ خپل پادشاه وئ
که له خپله حقیقته درته وایم
په آباوُ په اجداد خان و سردار یم
که بَرَي که هزیمت واړه لیدلي
پلار نیکه مې شهیدان و گور ته تللي
که به ډېر په هزیمت را څخه توي شول
لکه دم پخپل همت بیا به هغه وَم
که دَ جنگ دَ پرهارونو درته وایم
یو پرهار مې به لا روغ په وجود نه وُ
چه قضا دَ سري نه وي سرَی نه مري
قدردان د ما دَ کار شاه جهان وُ
چه نېکخواه بد خواه همه ورته یکسان دي
چه دَ ده دَ بادشاهۍ دَور وشو
په دوران ئې درست جهان سرَه گډ وډ شو
چه پخپل بابا ئې نده صرفه کړې
چه دَ ښو سړیو قدر باندي نشته
لکه دئ ځما زوال وته ناظر دي
دا همه د ما دَ توري صدقه ده
نن به درست دَ هندوستان دولت دَ دوي وُ
یگانه ځوانان که زر لما سرَه وئ
که هر څو ئې سازَوم رانه سازیږي

دا خبره تجربه ده دَ خوشحال
تر زاړه مزري ځاریږه ځوان شغال
دَ انصاف رانځه ئې وشوی په کحال
لا په گور کښ به ئې هم نشي احوال
چه ښه مخ ویني په وخت دَ ارتحال
مخ ئې ځکه مبارک نیسي په فال
که پیدا درنیږي تَله د اعمال
دَ نور چا په صفت نه لَرلم یو قال
گوره احسن القصص په استدلال
نه مي چا سره لباس شته نه ټېټال
فردوسي مي پدا کار کښ ندي سیال
زه لَرم دَ اورنگ زېب دَ ذم جوال
دَ غندني گنه هر یواق[۱] سقال
دَ اورنگ پادشاه په غاړه دا وبال
په زوونه کښ خو نه وُ دَ بل آل
هغه زویه دَ بل آل لَري ماَل
لکه دَي وئ دَ عالم وئ دا خصال
زه ځائي یم دَ مغل نمك حلال
کار نامې لرم دَ جنگ او دَ جدال
خوي خصلت لرم دَ قتل دَ قتال
پښتا پښت مي هنر دا دَي آل په آل
وړاندي وروستو په یمین او په شمال
په بل جنگ کښ و نصرت ته په آمال
چه له درده مي به تن وُ لکه نال
بل پرهار مي به په تن شو یا په ډال
که ئې درست وجود په عشیو شي غربال
دَ اورنگ بادشاه ښکاره دَي خود احوال
نه تمېز نه ئې دَ عدل اعتدال
په دوران ئې لور په لور دَئ اختلال
ته به وایې امانه شوه دَ دجال
د جفا ئې په دا نورُو څه اهمال!
ځکه زه ور ځني گرزم په جبال
زه لا نه غواړم دَ ده هسي زوال
پښتانه چه پر گنې خوري سیورغال
پښتانه که کم همت نه وَي جهال
نور ځما و په پنجاب باندي یرغال
پښتانه دي د تړو کاڼیو دیوال

۱ [illegible]

هونبره قام هونبره عالم سردار ئې هِسي سرګرادان ګرزه په تېښته دا منوال
دَ دانا سردار د تېښتي شرم نشته چه علاج کا دَ غليم دَ استيصلال
چه په مرګ دِ غليم سخ کا هسي مه مره و سردار وته هم دا دَي استقلال
تر اويا کالونو تېر شو د ما عمر زړه هغه دَئ تن پېرئ کړ پايمال
لکه ما به له مغل وهلې توري درېغه درېغه په ځوانئ وئ دا حال
نوې مياشت دَ محرم غصه[1] ئې کال دئ په غليم مي غصه ورېږه دا کال

خدايه هونبره مهلت ورکړه په دنيا کښ
چه کاږه کارونه سم کاندِي خوشحال

هغه خداي چه بندي کړي دي خوشحال هم هغه به ئې خلاصي کا په هر حال
مه منت دَ خوېشکی مېشکي باندي بار شه نه منت دَ باقل زئِ دَ بقال
نېستي واړه په نصيب د بېګ محمد شوه په نېکي واړه په بخره دَ جلال
نام و ننګ ناموس که دا دَ افغانی وئ چه ښکاره ئې شو پدا دور احوال
مخ دَ درست غوري دِ تور شِي په تبی ببا دَ واړو پښتو ژبی په دنبال
دا ناسازی چه پما شوې که په دوي شوې دروغجن يم که پرې نشوي سر و مال
که دَ سمي که دَ غره دي يوسف زيه همګی مزري دِي مه ئې وه زوال
د خپل ځان صفت به نکړم چه زه څه يم لرو بر واړه روباه دي يا شغال
ما دَ دوي سَرَه دَ ننګ پالنه ښه زده که می عمر سَرَه تېر دَي په قتال
دَ حريف قدر حريف وته ښکاره دي ښيښه ګر په ښيښه ګر زده کلال په کلال
قيمتي دَ قيمتي سَرَه جوړېږي په يوه مزي پېيل شي دُر و لال
که د ما دَ دوي سند و بله يو شي[2] څوک د مور زويه لَري د مخ مجال
که خوشحال خټک وار بيا موند په جهان کښ خود به ووينې د دِې چاري مآل
زه له خپله خدايه خوښ له خپله قومه په عزت د لَري واړه ذو الجلال
هغه څوک چه دَ بدئ دَ معرکې دي خجالت ور لَره بس دَ خپل افعال
که کفران ئې دَ نعمت په جهان کړي خود به بيا مومي جزا دَ خپل اعمال
دغه يَو خو کا لعدم دَئ په معني کښ دغه بل دَ دجال خر دئ يا د جال
خجالت لَره ئې خر وهي په ګېډه کله سالي چاري کاندي غير سال
خو به هيڅکله دَ آس برابر نشي که دَ آس غُندي پيدا کا سم ويال
مشګيرک خو مشګيرک دَئ باز به نشي که اوږده لَري تر بازو پر و بال
دَ اُورو پيشو خو سازه کړي ميو څوک کا هوښيارانو ته ښکاره دَي دا مثال
خال و خط پرې حبطه ځان دَ خندا کا چه بد رنګه ښځه کښېږدِي په مخ خال
عاقبت هغه چندخ[3] په خواري خوار شي چه واته کا له دريابه په جبال
حبشي دِ نوم په ځان د هلال کښېږدي په دانش نامه به هيڅ نشي هلال
په رِندو سترګو رانځه زېبائي نکا نا قابل دِ هوس نکا دَ اقبال

---

[1] غصه دَ ابجد په حساب ١٠٩٠ کېږي.

[2] که د ما د دوی مِنی سره يو شي.

[3] يعنی چنګوښه.

چه لوئي غواړي هنر دَ لويی زده کا   بې زينې دي په محل خاته محال
د سړي لوئي په رنگ په پساله نده   په همت ده په هنر ده په خصال
نه د خلقو بد نامي نه جام دَ زور   نه د خلقو نېکنامي په لاس سفالٰ
پدا هسي رنگه کار به راضي نشول   که ئې فکر اندېښنه وَي يو مثقال
که ئې زويه نمسي ما وَي په کور کړي   دَ غزت مي به لا هم نه و کيال
که يو څو گاهه ژوندی وم پدنيا کښ   خود به واروم دَ مدو و دَ بابا حال
که څه حق شته دَ نېکئِ په جهان کښ   ناسپاس به گرفتار شي په نکال
زهوزاد به ئې ښخېږي بې کفنه   په جهان کښ به رسوا گرزي کنگال
واړه هسي چاري کا چه پکار نه وي   چه ئې پاڅي زمانه په استيصال
ما پخپله په ځان کړي دِي دا چاري   چه مي ورکړه وَ نا اهلو دا منال
چه همېش په يَوَه حال وئ هغه خداي دي   په سړيو باندِي تل نه وِئ يَو حال
که په نحس طالع بند شوم عيب نشته   کله کله تندره هم نيسي هلال
څلوېښت کاله مي خوړه کامرانی وکړه   څه شو چرخ که مخالف شو يَو نيم کال
نه پر کېږِي نه فرياد کا نه چيچل کا   هر هوښيار مرغه چه لاندي شي تر جال
و تقدير وته ځان وسپاري يکباره   راضی نه وي په پرخاش او په جنجال
د خدای حکم چاري ندي بې حکمته   هيڅ دَ دِي خبری نشته قيل و قال
خپلو ورونو يوسف واچوه کوهی ته   مشرف شو دَي په جاه او په جلال
واړه چاري په قسمت په مشيت شي   باد په لاس دَ منجم دَي دَ رمال
دَ هغه چه زړه محکم په توکل دي   نه په خوب باندِی نظر کا نه په فال
څه يواځی په ما نَدَه که ژوندی وي   اورنگ شاه بادشاه به ډېر کاندي پايمال
ده په لاس دَ بخت نصر ظلم واخيست   زه دَ ده له لاسه بند لکه دانيال
حق ناحق ئې چه څوک راشي په منگل کښ   خواره وي ئې غم ئې نه وِي دَ وبال
چه په پلار باندي ئې نده صرفه کړې   په نور چا ئې څه صرفه څه ئې اشکال
که رشتيا وايم دا هسي بادشاه نه وئ   واړه کار ئې دَ رهزن دَي دَ داړوال
يو په ظلم يو په مکر نور څوک نشته   که حجاج وي که يزيد وي دَ ده سيال
دَ هغه بادشاه به نمونځ دَ غاړي طوق شي   چه دَی نه لَري دَ عدل اعتدال
نه انصاف شته نه تميز نه نور د عدل   په دربار ئې تاريکي ده غول و غال
امرگان ئې همگي دَ ده په رنگ دي   هر خېله دَ خپل کردار کا استعمال
چه په اصل په نسب ئې نظر وکړې   لږ په ديو کښ اصيل دِئ ډېر هزال
دَ گداي له لاسه هم پوچك را نيسي   که په کور کښ ئې مهران دِي په جوال
سيد مېر او مير بابا دواړه حاضر دي   که د دې خبري غواړې استدلال
دَ کابل صوبه خرابه هغه سگ کړه   دا بل سپی په بنارس کاندي دا چال
په دوران د دې بادشاه هوښيار هغه دي   چه وطن کا په فرنگ په پرتگال
مقرب ئې فدائي عبدالقوي دئ   چه تل کاندي دَ بدئِ اشتغال
يو سفيه دَ گجرات دَ ده قاضي دئ   چه دَ ده غُندي به بل نه وِي هزال
په دربار کښ ئې عزت دَ نور چا نشته   پېشگاران ئې دِئ بد ذات و بد سگال
دَ نېکئِ حکم ډېر په تأمل کا   دَ بدئِ حکم کا په استعجال
اول دئ بيا ئې دا نور دَ خداي دپاره   چه په پڅه چاره واړه کړې حلال

په خوشحال باندي خو وار دَي دا دي راغي ... خداي دِ درست جهان ساتي لدې جيپال
پدا هسي حال هم شکر کړی بويه ... که ښه کال مي کېده ولاړه تر هنگال
په بل کال مي وېره شي ولاړه دِ نشي ... په ملکونو تر شهال او تر توروال
پښتانه لَره منصب ندَي عضب دئ ... چه تلاش دَ اضافو کا لا بې دال
که هزار کاندي پښتون مغل به نشي ... بويه دا چه له زړه وَباسي دا خيال
دَ هاتي دَ مزري روغه که څوک غواړي ... هيڅ دَ دې خبري نشته احتمال
پښتانه لره شرړئ انديرئ ښه دئ ... نه اغوستي دَ مغل دَ مجرې شال
ما وې زه به دَ مغل په نوکري کښ ... رکېبونه کړم دَ سرو، دَ سپينو نال
په ناحق ئې ځنځيرونه را په پښو کړل ... واه واه هسي نوازش هسي آمال
امرگان مي په دربار کښ ډېر نيکخواه دئ ... په خاطر دَ سيد مېر دئ واړه لال
آفرين دَ مير جمله په زويه باندي ... چه نن دئ دَي مېر بخښي په استقلال
که هزار توري چاړې غشي وربېرئ[1] ... ده دَ ما په سر نېولي دَي خپل ډال
که بادشاه که اُمرا ځما دَ پاره ... دَ هر چا سرَه دَ ده دَي جواب سوال
بل ميرخان دَ خليل خان زويه تلاش کا ... بل دَ نېکو نيت ليده شي دَ کوټوال
چه په نيم وېی ئې کار کېږي دَ خلق ... دَ خلاصي مي همېشه کاندي جدال
لا تر اوسه کار موقوف په اراده دَئ ... گوره څه دئ لا دَ دې چاري مآل
چه له بخته ياري نه وې پدا څه شي ... که جهان دِ ښکخواهی کا مياشت و کال
د رنځور زحمت دَ خداي په حکم دورمي ... په طبيب باندي خو سعيه ده کمال
مخ دِ تور دَ سپېد شمس شي دواړه لوريه ... چه هر گوره بې بدل دي په تېتال
دَ خلاصئِ خلل ده گډ کړ په منځ کښ ... چه ئې کړ په ضامنئِ کښ اهمال
که دَ بند او دَ زندان مشکل آسان شي ... وار په وار به خداي آسان کا کل اشکال
په څيله پشې گلونه دَ بهار دَئ ... په اهاړ پسې را دورمي ښښگال
چه په ژمي ښاخ بري وشي دَ وني ... په بهار کښ ئې لا ښه وِی پر و بال
لا به کله دَ خلاصئِ زېرَي وشي ... چه ښادي مي شِي په اهل په عيال
چه همېش په خوشحالئِ آموخته وئ ... هغه زړُونه دِ خداي نلري ملال
انتطار د دې خبري ډېر عالم کا ... ولي خوار ختك به واړه شي نهال
لا به کله هغه وخت هغه ساعت شي ... چه به وينم دَ يارانو ښه جمال
دَ هجران محنت به واړه فراموش شي ... که ښادي را باندې وشي دَ وصال
څوک به خاندي څوک ژړا کا حؤک به آه کا ... په هر ځاي چه دا بيان بولي قوال

زر پنځه اويا کالونه دَ هجرت وُ
په آغاز دَ نوي کال شو دا مقال

(م)

څو وانخلي له غليمه انتقام ... مرد نه خوب کا نه خواړه کا نه آرام

---

[1] [illegible]

چه دَ ننګ او دَ ناموس اندوه ئې نشته دَ هغه سرِي به نه وِي احترام
که همت او حميت غيرت پکښې وي تر ځښتنه نه بهتر ګڼه غلام
په ورو ورو پر قدم ږدِي وربانديِ خېژي په يَوه ځله ځوک نه خېژي پر بام
په طلب کښ که سستي نه وِ باور کړه دَ ژوندون اوبه به بيا مومي په کام
واړه ورځی سَرَه نه دِي برابري کله درد کله دارو کاندی ايام[1]
دَ مردی دَ نامردی تر منځ ميل ندي تفاوت ئې په ذره دَي يا په ګام
چه دَ بل تر لاسه وَرَغي دَ بل شو مرد به خپل لَري دَ خپل فکر زمام
چه په ذات ئې پلار نيکه توري وهلي پرې جوړېږي کار دَ توري د صمصام
دَ کنبت غصه مي وَوته له دِله خداي چه را کړ په ډوډه دَ بري کام
چه په مخ ئې برى درومي عابد خان دي په هر ځاي د خپل بابا کا تازه نام
خداي ئې عمر دَ خپل پلار کړه کام و نام هم په غليم دِ ئې لاس بر اوسي مدام
غليمان دِ تر حذر خوري که پوهېږې تېره تېغ ئې اږدهار دَي خون آشام
چه دا هسي تورزن ورور ئې خدای پيدا کړ پرې دِ فخر کا همه ورونه مدام
دَ لښکرو کار ځه هسي آسان ندئ چه پرې هر سرَی به مومي انتظام
چه دَ بخت يو ځو وېښته لَرِي په سر کښ دَ هغه په مخ ظفر درومي مدام
چه رښتيني تر سر تېر بخښل حوړل کا دَ هغه دَ ورانی سر کښېږدي انام
دَ مزري بخره ورمېږ دَ نيله ګاو دي ګيدړ تروړي ئې مرېږی په لحام
دَ ميدان هوسیِ يو يو تازي نيسي ډوډی غپ په کلي ډير ګرزي انعام
دَ ډوډه حصار ئې درست په وينو سور کړ په ډوډه بانديِ چه وشو قتل عام
دَ ډوډې حصار ځه هسي آسان نه وُ چه ئې فتح تېرېدله په اوهام
پاس په غره بانديِ محکم وُ چا وهَلي دَ کوهاټ تر کوټ ئې ښه وُ استحکام
دَ خاوند په حکم هسي فتح وشوه چه ئې کار شو په دوه ورځو سر انجام
دَ اووو کوټونو کار دَ خداي په حکم وار په وار شو په هفته کښ انصرام
له هيبته په اسمان کښ په لرزه شو چه دَ تورو خرپا واروېده بهرام
دَ ټوپکو دَ وېشتلو په لوګېو بل اسمان اتم پيدا شو کبود فام
دَ خټکو نېزې هسي تلې په زغره لکه ستن په خېمه درومي دَ خيام
دَ خټکو نېزه بازو سپرو توي کړه دَ بنګښو دَ سپرو فوج تمام
ډېر ځوانان غاړه غړی شول پدا جنګ کښ که تقصير نه وُ دَ تورو دَ سهام
صدر خان لا چېري جنګ ليدلي نه وُ پدا جنګ ئې سر نېزه کړه په خصام
دَ شاهين مرغي چه والوزي له جاله په کاته کا نورو[2] زاوېښو ته پيغام
شجاعت د هوښيارانو ښايسته وئ بد جلب حبطه ومري بد لغام
دَ جهان ښادیِ واړه دَ هغو دي چه په حکم دَ يَوه لَري قيام
دَ ګنبت ارمان مي درست له دله ووت که شکست وُ که پرهار وُ که دشنام
په بد بوي دَ کشتګانو مځکه خسا شوه چه رېز رېز شوه په ډوډه کښ په حسام
عنايت سردار چه ځه ملك ميری وُ دَ ډوډې په جنګ شول مالګه دَ طعام
دَ بنګښ بخره دَ پالي دَ ځوکی ده نور دِ ننباسِي توره په نيام

---

[1] کله دارو درکا ايام

[2]

ځوک چه خپل کسب پرېږدی بل کسب نیسي   تر هغه نه به بل نه وي عقل خام
که گاوز په جنگ باتور دئ جنگ ئې هېر دئ[1]   چه په سرو خوري ځپېره دَ ضغام
که بنگښ ځخه څه ننگ وَئ پرې به نکړي   ما دَ ده له ډکه باغه یَو بادام
چه بې ننگه چاري کا په واړو ورشه   لکه راغَي په بنگښو دا هنگام
چه دَ فکر بدرقه ور ځخه نه وِئ   پخته کار به په لار نه اخلِي یَو گام
دَ بنگښو شامت خپل سزا ئې دا ده[2]   چه په غوښو ئې مړېږِي ددو دام
هر کهتر چه دَ مهتر سَرَه ستېزه کا   دَ عمل سزا به مومي په انجام
هسي غم الم ماتم ور باندي راغي   ړنا ورځ شوه دَ کوهاټ په عالم شام
دَ کوهاټ په عالم واړه عالم ډک شو   دَ بنگښو کډه ولاړه تر بگرام
بد مذهب رافضی ډېر دِي په بنگښ کښ   چه خبر ندي دَ شرع په احکام
ناسنت په مردگانو کښ هم ډېر وُ   پدا جنگ کښ چه عالم شو انعدام
دَ بنگښ له بده بویه به خلاص نه وئ   که په ملك کښ سړي وَوینی تمام
دَ بنگښ په زړه کښ ډېره شیطاني ده   که په خوله و تاته شیخ شي دَ بسطام
که مي ښبه په گنبت ونیوه هېده څه شو   په همت مي ثابتی وه دَ اقدام
د ډوډه په جنگ کښ بیا له میوه ډک شو   په گنبت کښ چه خالی وُ هغه جام
ښه چه مخ دَ هغه سوبي را ښکاره شو   چه لیدله می په خوب او په الهام
هغه کار چه تر سر وَرسېږِی بخت دئ   چه په زړه گرزِي په وېښه په منام
دَ سړی مراد هاله ورشی په غېږ کښ   چه راضی شي ذو الجلال و الا کرام
تل تېره توره وهه که حکم نه وِئ   یو وېښته به کنډَو نکا دَ اندام
که تری دي که بولاق رحمت پرې باندیي   په سیالي توري وهلي واړه قام
چه اول ئې خپل ښبان په غونډی لك کړ   په رحمت دَ انو خېلو وُ ناکام
دَ تېری دَ منډهېو ښه تنبیه وه   پدا کار کښ دَ یوسف په اهتمام
شاهي بیگ مزرا دارو یو څو سپاره وه   نه وه نور د څو تیرې نمك حرام
پدا هسي وخت یو دوه اپسوړي نه وُ   نه خورم نه درویش خېل وُ بد فرجام
شابي خېل وُ که مکوړي په اولجه شول   دَ خورمو تبنې ښه وکړ خرام
عالم خان صاحب اولاد جمال الدین دئ   په ساغري په بنگیخېل کښ د اکرام
شاهی بیگ ساغري په تن ملك مېري دي   تر شېرا اول دَ ده کړي کار تمام
پدا جنگ کښ اولجې وشولې بې شماره   دَ ښو جونو دَ آسونو دَ انعام
توري زغري که لیندئ وې که درستې وې   په وسلو سَرَه معمور شو هر کدام[3]
شپږ اوه زره خټك وه پدا جنگ کښ   په اولجه سَرَه خوشنود شو هر کدام
دَ گنبت جنگ مي په ننگ دَ پښتانه وُ   بل غرض مي په منځ نه وُ نه مرام
یَو په لس وربانډِي وشوه یو په شل وه   که لښکر په ډوډه کړَي وَئ مقام
د دې جنگ نارې به درومي په ملکونو   پرې خوښېږي به همه پښتون په نام
چه د دې سوبی آواز وشي په هند کښ   بیا به ږغ شي دَ بادشاه په خاص و عام

---

[1] جنگ ئې هېر شي.

[2] د بنگښ د خپل شامت سزا ئې دا ده.

[3] یو په سل سره معمور شو درست احشام.

چه په نام پښتون غوځېږي پرېږ خوښيږي   اورنگ زېب هسي بادشاه دَئ دَ اسلام
دَ اسد تحويل زر يَو نوي رجب وُ   په دريم دَ جنگ آغاز وشو دا كلام
په كاغذ كښلي خبري پاتو كېږى   دا بيان په بياض ځكه شو ارقام

په غليم باندېږ دي هسي فتح تل وه
لكه دا فتح چه وشوه و السلام

زمانې له ښو يارانو نه مهجور كړم   څه بلا ئې مبتلا په ډېر ضرور كړم
دَ ښو اوښي مي پاسه پرېږ تارونه   ببلتانه په تن په مثل دَ طنبور كړم
اوس پما دَ خوشحالى نوم جوړ ندئ   چه دا هسي زمانې له غمه پور كړم
ما وېږ ترق به سَرَه وچوم له غمونو   ولي لا تر اوسه پايم خداي صبور كړم
نوره واړه پښتونخوا په ځاي ميشته ده   خو يَو زه دي زمانې پكښ منصور كړم
اشرف خان په ناپوهي په غم كښ ونښت[1]   زه د ده غمونو لا په زړه رنځور كړم
جدائي دَ صدر خان لكه سوراور وه   كه دَ واړو فرزندانو غم چور چور كړم
سل تناكي مي هر آه سَرَه په زړه شي   په درون ئې لكه وړي دَ انگور كړم
هغه وخت مگر دَ خداي په وعده راشي   چه به بيا دَ خېلخانې سَرَه سرور كړم
دَ هر مخ خالونه داغ ځما دَ زړه دي   زه حېران ئې يا دول په كوم دستور كړم
دا ارمان مي هيڅ ارمان سَرَه سم ندي   كه په زړه كښ ارمانونه نا محصور كړم
مرگه هونبره مهلت راكړه په جهان كښ   چه جمدر دَ مدعي په وينو سور كړم
چې مى اوس له لاسه وَتې اسمان شوې   د هغو خبرو څه لَره مذكور كړم
كه ئې درست دَ متو زور راته ښكاره كړ   بيا فلك سَرَه كشتي پخپل دستور كړم
نه به بيا په غاړه كښېږدم دَ ننگ توره   نه به بيا په قوم كښ كښېنم نه به هور كړم
عجب مار مي جار وتلي تر دوو پښو دَي   مگر لوي پاړو پيدا شي چه ئې دور كړم
مست هاتيان خوني مزري په خنځېر كېږي   بويه دا چه ځان فلك وته تربور كړم
پخپل آه مي باور شته اثر به وكا   رقيبان به اور لروني دَ تنور كړم
يَو دوه سري مار مي پروت په دواړو پښو دي   په ديدن ئې له نشاطه نه نفور كړم
پاړوگان د پيښور واړه ناقص وُ   دايم هند كره روان شوم كه ئې دور كړم
چه مي فكر دَ ازل په توري وشي   پدا كار كښ خپل پردي واړه معذور كړم
دا بيان مي دَ غعد[2] په كال ويلي   په شعبان چه دَ لاهور په سيند عبور كړم

واړه خلق دَ خوشحال په پت وَلاړ دئ
بخته تا له كومه لوريه را حضور كړم

پرورده كه دَ مغلو په نمك يم   دَ اورنگ له جوره هم له غرېوه ډک يم
په ناحق ئې په زندان كړم يَو څو كاله   خداي خبر دي كه پخپل گناه زه شك يم
پښتنو سَرَه زړه تور دَي دَ مغلو   خبر دار ئې په نيتونو يك په يك يم
كه سره كه ناسره راته معلوم دِئ   پدا كار كښ په معني لكه محك يم
يا زه باز وَم يا شاهين شاه جهان ته   وَ اورنگ وته كارگه يا مشگيرک يم

---

[1] كښېووت.

[2]

هغه زیست چه دَ عزت له مخه نه وئ
چه ئې کا په هغه زیست پوري هك پك یم

اور ئې پوري په منصب په نوکري شه
چه تر فهم و تر نظر دَ مغل كك یم

پخپل نام و ننگ چه راشم لېونی شم
خبر دار کله په سور و زیان دَلَك یم

چه په طعمه دَ اُوړو زغلي وَ شست ته
گمان مکړه چه هغه ناپوه سمك یم

تر قضا پوري دَ هیچا چاره نشته
او کنه تر زاړه ذئب لا ځیرک یم

و بینا وته سور مهر یم دَ زړو
په دلیل دَ نا بینا لکه یو چك یم

هیڅ[1] له قدره مي وګړي خبر ندئ
که رشتیا وایم دَ سترګو مردمك یم

دَ چنبې تر گلو ډېر دَي ځما قدر
و بې شناختو وته گل دَ پیزک یم

لکه باز په لوي لوي ښکار ځما نظر دئ
نه چه گرزي گونګټ نیسي باد خودک یم

چه په غوښو ئې روزگار هغه مزري یم
نه چه ولي وښو خوري هغه مږک یم

پدا سپینه ږیره شرم عزت ښه دئ
څه به نوري چاري کړم مگر خوردک یم

که عالم راته کُن تاو کا غم مي نشته
په رشتیا وَیل دَ ډېرو پول پولك یم

پدانش چه په شعور نده په قسمت دَه
چه دا هسي سرگردان لکه پټك یم

هو پښتون چه دَ مغلو نوکري کا
که دِ زده دَ هغو واړو بهترک یم

چه منصب مي دَ مغل خوړ یو ملك وم[2]
چه منصب دَ مغل نشته اوس ملك یم

دَ فرمان دَ پروانې حکم ئې نشته
شکر دا چه پخپل حکم پخپل وک یم

نه مي کار په خاص و عام نه په دیوان دئ
نه په وَر ولاړ دَ هر یوه مردک یم

نه تصدیق شته نه یادداشت شته نه توجیه شته
نه په فکر دَ سند نه دَ دستك یم

هر گیدي به چه لما سر کوزي غوښته
دَ هغه دَ سر یا توره یا کوتك یم

که په بدو باندي شوم شوم زه ئې سو کړم
لکه ښه ستوري په اصل مبارک یم

هر ساعت را باندي عید دَ استغنا دئ
که په نور عالم ژړا زه په خرسك یم

پښتانه لَره شرئ انډېرئ بس دَئ
نه په فکر دَ مسند نه توشك یم

آزادي ده په ساده سپینه جامه کښ
خلاص له غمه دَ زربفت او د میلك یم

دَ وښو جونگړئ هسي راته ښې شوې
وایې ناست په محلونو دَ آهك یمء

که اوگره دَ بټو شته په شلونښو سپینه
دَ مغلو پلاو پاتو ډېر پرې ډک یم

چه نښولَي مي دا هوډ دَ ننگ و نام دَئ
که له خپله هوډه واوړم کنیزک یم

په بل غشي ټوپك هیڅ ویشتلي نه یم
که ویشتلي یم خو بیا په خپل ټوپك یم

چه شهپر مي بټي خښل وُ کنډکپر شول
پروا دار په لنډو پرونو دَ بارک یم

دَ کرېز بڼي مي تولی لکه باز کړې
گمان مکړه چه بې پرونو ښاپېرک یم

سکه وروڼه مي تري دي حال ئې دا دئ
له بولاقونه لا لیري یو څپك یم

په دروغ دروغ وعدې نفاق آمېزي
ما غلوي ورته په مثل دَ کودک یم

تف په ږیره دَ همه واړه بارکو
لا ځما په ږیره هم که زه بارک یم

که دَ واړو پښتنو راته تسلیم دي
زه خو بیا دَ سباکی انا خښتك یم

نن خو قام را سَرَه ډېره جفا وکړه
کانده بیا دَ خداي و حکم وته څك یم

که خټکو راته شا کړه مخ ئې تور شه
زه یواځې په تکیه دَ خداي شېرک یم

که څه حق یا دَ وروری یا دَ نېکي شته
و پاداش وته په طعمه دَ هر یك یم

---

[1] خو له قدره.

[2]

مهمندي ځما دَ کړي لاس و پښې دئ　　راضي من دَ افرېدويو په کومك يم
ډېر چينې چه تراوش وکا درياب شي　　چه ليده شم اوس خو دا يم يو بولك يم
کرلاڼی ځړبنی ځو پښتانه دئ　　زه دَ ننګ پکار له واړو مشترک يم
دَ هر چا سَره چه کښېني هم هغه شي　　اوس مي نيمه ژبه خوښه شوه شيتك يم
چه دا هسي رنګ ځما په سيله ګرزي　　منت دار په ګرزېدنه دَ فلك يم
که مي عمر په شماره تر شپېته تېر دَئ　　لا پکار دَ سواری لکه ازبك يم

دَ افغان په ننګ مي وتړله توره
ننګيالَي د زمانې خوشحال خټك يم

چه قانع دَ زمانې په خشك و تر يم　　که مي پېژنې بادشاه دَ بحر و بر يم
نه مي تخت نه مي افسر نه مي سپاه شته　　په تسخير دَ درست جهان ختلی نمر يم
په درون کي مي پراته دِي ډېر کنجونه　　په معني کښ لکه کان دَ سيم و زر يم
که مي لاس لکه درياب خالي ليده شي　　دَ ټټر دننه ډک په دُر ګوهر يم
دَ طالع په سود و زيان مي نظر نشته　　سر تر پايه درست وجود واړه هنر يم
که مي حلق له تندي وچ سي په همت کښ　　پروا دار کله په حوض دَ کوثر يم
لا يو شور را ځني لاړ نه وِي بل راشي　　مګر زه پيدا په ورځ د شور و شر يم
که‌لوئي مي دَ اسمان سَرَه سيالي کا　　په پستي تر تورو خاورو نه بتر يم
په سپين والي که مي زړه تر واوري سپين دئ　　په تور والي دَ دوږخ دَ اور شرر يم
ځوک مي پرې موزه دَ قهر تر کمرو　　که په حکم په سکون لکه تور غر يم
وباطن وته مي ګوره که دانا يې　　په ظاهر صورت که هر ځو محقر يم
د حاتم غندي مي خېل و حشم نشته　　په عطا که له حاتمه برابر يم
سخاوت مي په تقليد په رسم ندئ　　زه له ځايه دَ سخي بابا پسر يم
نه دا يَو عيب ځما نه ډېر هنره　　چه بهرام ځما پسر زه ئې پدر يم
په وګړي مي خبري دَ مردی شي　　په همت کښ په هر لوري نامور يم
دَياقوت دَ اوبو غم نشته له اوره　　که دايم دَ زمانې په اور کښ در يم
خپل‌پردي سَرَه ډېر حلم هم ښه ندئ　　زه دا هسِي در مانده په در ګذر يم
ځوک‌دِهيڅ ګمان په ما دَ روغو نکا　　چه په ملك کښ لېوني دِئ زه ئې سر يم
لا پردي را سَرَه بر ګرندي وکا　　زه دَ خپلو په سلام کله په چر يم
ځوک دِ لافي دَ خپلوالي راته نکا　　چه په حال دَ نيك و بدو ښه خبر يم

زيست‌روزکار به مي له خلقه سَرَه نشي
زه‌خوشحال له واړه خلقه مرور يم

زه پخپلو ګناهونو توبه ګار يم　　چه مي کړي دي په واړه شرمسار يم
پدا سپينه ږيره ما فضيحت مکړه　　که په توره ږيره هر ځو بزه ګار يم
اوس و ما ته توان توفيق دَ طاعت راکړه　　ستا و فضل و کرم ته اميد وار يم
ستا له لوريه همګي فضل و کرم دَئ　　زه دَ خپلو شامتونو نه په ډار يم
نور عالم مي په کردار خبر دار ندئ　　زه پخپله خبر دار په خپل کردار يم

په عمل به هسي گبر و جهود نه وئ — لکه زه پخپل عمل کښ خوار و زار یم
هندو هم په نیمي شپې پاڅي خپل جپ[1] کا — تر هندونه دَ عمل په کار لا خوار یم
زړه په سلو فتنو ولاړ په سجده سر ږدم — همگي عمر دا هسي نمونځ گذار یم
نه ثواب دَ جماعت نه سود دَ نفل — دَ قضا نمونځونو هم لا تاوان دار یم
که حلال وِي که حرام مزه ئې بویه — په بزه دَ گولې کله پروا دار یم
خلقې ځما په فعل گور ته ولاړې — لا دَ نورُو وَوژو ته په تلوار یم
نفس و ما ته حق نا حق کا نا حق حق کا — تل دَ ده تر فرموده پوري نا څار یم
راکښي خوي خصلت دَ دو اویا فرقو دي — په ظاهر دَ مؤمنانو په قطار یم
د هوا په دریابونو کښ غوټې خورم — دَ حرص په حصارونو کښ حصار یم
که په رسم په تقلید مسلماني شِي — سخ د ما مسلمانانو سَرَه شمار یم
نفس شیطان راته په هره ساه په څو دئ — تر وروستی ساهي زه ځَني پډار یم
حمیده مي لکه زر ذمیمه شگي — توري خاوري مي په سر دئ که زردار یم
اعتقاد ئې دَ خاصانو و ما راکړ — که زه هر څو په عمل کښ خوار و زار یم
دَ کونین پیدا کړوني لا شریك یې — پدا هونبره اعتقاد کښ استوار یم
که فرښتې که دریابونه کښ غوټې خورم — په همه پیغمبرانو په اقرار یم
دَ قیامت په ورځ قائل یم بې گمانه — نیك و بد واړه لتا دِي خبر دار یم
پسله مرگه به ژوندُون دَ خلایق وئ — په دا واړه کښ له شرکه نه بېزار یم
پېغامبر مي محمد دَ عبداللّه دي — مینه دار ئې په اصحاب په چهار یار یم
امامان ئې دَ اولاد واړه پر حق دئ — تر مهدي پوري دَ واړو خدمتگار یم
چه دښنه[2] ئې دَ اولاد او دَ اصحاب دئ — په وکښنه ئې دَ بېخ او دَ تبار یم
دَ مذهب څښتن څلور دِئ پنځه نه دئ — حنفي سني مذهب دَ دین په کار یم
دَ عذاب طاقت مې هیڅ نشته بخښه مِي — و درگاه لَره دِ درغلم طیار یم

چه هم ډک له گناهونو هم مغرور وي
زه خوشحال هغه بنده دَ خپل غفار یم

دَ نوروز منت په باغ دَئ په صحرا هم — نوراني ئې شِي له فیضه هغه دا هم
چه په باغ کښ رنگا رنگ گلونه وا شي — غنیمت ده دَ گلونو تماشا هم
لخلخې دَ نو بهار په هر مشام ځَي — گلدستې ئې څنډوِي پیر و برنا هم
دَ گلونو هار په غاړه دَ دلبرُو — شرمَوي لعل و یاقوت لؤلؤ لالا هم
دَ معشوقُو په زلفینو کښ ځَاي وکا — ښایسته گلونه پاس په وربل لا هم
ارغوان که بنفشه که شقایق دئ — زېبائي لَري يَو ځَاي جدا جدا هم
په هر گل باندي ټټو مرِي بلبلي — بیا له شوقه په هوا کاندي نوا هم
د هر گل په مخ چه سر کښېږدِي بلبله — پرې غلطان غلطان راځِي باد صبا هم
په گلزار پسی بلبله زړه کباب ده — په ارمان ئې ځگر خون دَي دَ مینا هم
څوک په عیش په عشرت کښ څوک په غم کښ — ځَنی څه چاري لیده شِي پدنیا هم
دَ قفس بلبله ژاړي گریاني کا — چه به چیري په گلگښتت والوزو بیا هم

---

[1] ثعنی ذکر.

[2]

په هغو د ما سلام ما دِ هم یاد کا　　په گلزار کښ چه نگار لَري صهبا هم
څو بهار مي بې میو معشوقه ځِي　　دا خود راي فلك څه چاري كا په ما هم
ما وې ژر به ځرخ د ما په كام را وخوري[۱]　　ولی دېر تعطېل ئې وكړ لا ئې كا هم
چه و خپلي كامرانی ته مي شا كړه　　غم اندوه دَ فلك نه لرم پروا هم
دَ سفله منت به هيڅ دانا وانخلي　　چه خبر ئې په خصلت شِي په عطا هم
دَ منت دارُو كه مرم په كار مي ندئ　　كه علاج لَره مي راشي مسيحا هم
دَ فرښتو آمين منت دَئ پدعا كښ　　لا جرم ورځني پټه كړم دعا هم
دَ جهان غمونه واړه پكښ ځاي شول　　شكر دا چه زړه ئې لوي را كړ و ما هم
چه ليدلې دِ وفا دَ هغه يار وِئ　　په دوه سترگی قبلوه دَ ده جفا هم
ښاپېرئ مخ په خوب كښ را ښكاره كړ　　لېونتوب مي ورسَرَه مونده سودا هم

كه خوشحال دَ يار وصال په دنيا مومي
تمامي دنيا ترې خار شه ما فيها هم

---

[۱] ما وې ژر به چرخ په كام د ما څرخ وخوري

(ن)

راته درست دَ دهلي ښهر وُ بوستان   چه پکښې وُ باز باقي سعادت خان
په هغه زمان چه دوي لما روان شول   بلا سخت يم چه ئې نه مرم په هجران
چه دَ ديو له ديدنه نه محروم شوم   که رشتيا وايم زه اوس شوم په زندان
خېلخانه مي لکه باغ زه ئې باغوان وم   څه عجب و بله جوړ وُ باغ باغوان
زمانه چه باغ باغوان وبله ببېل کا   دا ببېلتون په دواړه توکه دي خزان[1]
چه يَو گل دَ هغه باغ ويني په سترگو   په باغوان باندي ښادي وي هر زمان
دَ مجنون څهره تصورير په کاغذ گوره   زه هم هسي هډ و پوست يم اسختخوان
په جهان کښ هر څوک يَو ځله په مرگ مري   زه بې مرگ مرم نه يَو ځل زمان زمان[2]
په ناحق دَ اورنگزېب په بند بندي يم   خداي خبر دَي په تهمت او په بهتان
زه په ځان کښ گناه نه وينم په خداړو   ولي نور خلق خبري کا شان شان
دَ گناه مي سربښته نده معلومه   مگر خپل هنر دَ ځان وينم تاوان
لکه زه دم په راستي په درستي کښ   دَ مغل په خدمت نه وُ بل افغان
بادشاهانو لَره ترس دَ زړه بايده دئ   مروت، غوررسي، عدل و احسان
څوک به چا لَره په داد او په فرياد ځي   چه په ظلم راضي من شول بادشاهان
چه ځما په خېلخانه په اولس وشول   وَ دِ نشِي په هندو په مسلمان
چه د خپل پردي تميز ور باندِي ورک شو   بادشاهان دَ خپل دولت کاندي نقصان
اورنك شاه بادشاه که تل کا هسي چاري   لکه اوس ئې په لاس وېنوې امان
يا سبږ کال يا په بل کال به خلق واروي   چه جويونه شي دَ سرو وينو روان
زه لا څه يم نور به هم ځما په رنگ کا   څو خانان دِ نوم په نوم دَ کوهستان
چه زړه سوي په پلار په زويه باندي نکا   دَ هغه به څه صرفه وِي په جهان
له غروره هسي مست بې خوده ولاړ دي   چه نظر ئې هورې پاس دي په اسمان
دَ داد خواه ځواب لاټی يا کوتك دئ   په دربار چه ئې غوغا کا داد خواهان
و به نه وايي چه ولي دا دِ څه کړل   که په ملك ئې قتل عام کاندي خانان
نه يو حرف دَ صوبدار نه شل محضره   چه رقوم ئې پخپل مهر کا قاضيان
رفتگي بډي رشوت حمايت بويه   که څوک غواړي دَ خپل کار سر و سامان
دَ هر چا څخه چه دا خويونه نه وئ   په دربار به سر گشته گرزي حيران

طبيبانو ته هيچ مه وايه خوشحاله
قادر خداي به وکا ستا دَ درد درمان

---

[1] دا ببېلتون په دواړه توک دي خريران.

[2] زه بې مرگه مرم څو ځل زمان زمان.

راشه واروه دا داستان — نیك و بد پکښي بیان
هم عبرت هم نصیحت دئ — پرې دِ پوه شي دانایان
زه خوشحال دَ شهباز خان یم — چه تورزن یم کان په کان[1]
شهباز خان دَ یحیی خان وُ — چه بل نه و هسي ځوان
یحیی خان دَ اکوړي وُ — چه په توره شو سلطان
هم په توره مړَنی وُ — تیر انداز وُ شخ کمان
چه غلیم ئې پیدا شو — ژر ئې ځاي وُ گورستان
هم ئې تېغ وُ هم ئې دېگ[2] وُ — هم ئې خلق وُ هم احسان
په هغه ستوري پیدا وُ — چه پر زېږي بادشاهان
لا پیدا په جهان نه وُ — پرې خبر وُ دروېشان
دَ اکبر بادشاه په دَور — شو دَ خپل اولس تور خان[3]
چه له ده سَرَه به ناست وُ — هغه واړه وُ مزریان
همت ناک باسل باذل وُ — په هر کار کښ صادقان
گورته ته رنگ په وینو لاړل — چه همه وُ سرداران
قبیله شوه سَرَه ډېره — اکثر ښه لایق ځوانان
متفق په هَرَه چاره — نوم ناموس په واړو گران
دَ هجرت زر دوه ویشت سن وُ — چه زه راغلم په جهان
هغه کال پوره پنځوس وُ — چه شهید شو شهباز خان
دَ هغه دَور بادشاه وُ — قدردان شاه جهان
دَ پلار ځاي ئې و ما راکړ — په اولس شوم حکمران
که دَ توري که دَ ورکړو — هیڅ مي پرې نه ښ ارمان
لکه خرڅ مي دَ بابا وُ — دَ مالا وُ دو چندان
واړه دېرش زره خټك دِي — درست ځما وُ په فرمان
په لښکر به ځما خرڅ وُ — یا مي خرڅ وُ په مهمان
که ځما کره به سل وُ — زر به تله په خاندان
درست خټك ځما په دور — نامور شو په دوران
که خټك په مځکه پروت وُ — پاس مي یووړ په اسمان
که څه عیش که عشرت وُ — زړه مي سوړ کړ په هر شان
که آسونه که بازونه — گښت دَ باغ او دَ بوستان
زر و ما ته هسي خوار وُ — لکه خاوري دَ بیابان
نه زکوة په ما واجب شو — په درست عمر نه قربان
چه ئې خپل عزت پکار وِئ — زر به خوار کا هغه ځوان
تر اورنگ بادشاه مي ویوست — تاو دَ بند او دَ زندان
نقش مي کښېناوه دَ توري — په هندو په مسلمان

---

[1] محشی ورته لیکلي دي یعنی پښت په پښت.

[2] لکه تېغ چه کنایه له تورزنی او شجاعته ده، دېگ هم پر سخاوت او مېلمستیا دلالت کوي.

[3] یعنی چه په توره او مېړانه خان سوی وی.

دَ خپل ځان صفت به څه کړم　　مگر نور ئې کا بیان
ښې ښې ناوي په کور راغلې　　پلار نیکه خانان میران
دَ اویا کالونو اوس یم　　پدا میاشت دَ رمضان
کال یو زر نوي دَ هجرت دئ　　هم تحویل دَئ دَ میزان
واړه دېرش زویه لرمه　　اوس حاضر پدا آوان
چه په عمر شوم اتلس　　دَ شباب په عنفوان
را کره راغله جینیَ　　پلار نیکه ئې بد ذاتان
بل هنر کسب ئې نه وُ　　سفیهان وُ پادهٔ[1] بان
بد سرشت په څو کرسَی　　احمقان په خوي ددان
سَکه پلار په تبغ وژلي　　هم دَوروڼو قاتلان
پخپل کورکښ سَرَه وژنه　　تل نفاق شدت تر میان
نه په شرم پوهېدلي　　نه په دین نه په ایمان
خپل قسمت کړه را تر غاړه　　د دې هسي خاندان
مشران زویه مي واړه　　خداي له دې نه کړل عیان
څه بلا ده چه راتله به　　دا د ما په شبستان
خپل بابا کړه را تر غاړه　　گڼه هیڅ نه وُ گمان
د دې هسي به څه حال وئ　　چه دا شان لَري نیکان[2]
زړه مي خوږ په یَوه نشو　　خوږ دَ زړه دِي خوږ دَ ځان
واړه یَو تر بل اخته دِي　　پخپل کور کښ جنگجویان
یَو وَ پلار نیکه ته نشو　　همگی دَ مور په شان
په سپلمی په گنډېري کښ　　که پیوند شي تاک رمان
په مېوه به ئې خوږ نشِي　　دَ چا کام دَ چا دهان
څه بې ځایه تربیت وُ　　چه به ما کاوه ارمان
چه په بد بوټي محنت کا　　غرامت دي په باغوان
نه ئې ننگ شته نه ئې شرم　　څه نابود دِي دا سگان
زه غلیم دَ اورنگ زیب یم　　سر په غره په بیابان
زه په ننگ دَ پښتانه یم　　دوي نیولي مغلانٔ
لکه سپی هسي جار وزي　　دَ مغل په آش و نان
دَ منصب په اضافو دي　　تل پما پسې روان
د ما لاس ور باندي رسي　　را واهه نشي خپل ځان
پدا هونبره رسوائی　　بیا بد مه گڼه خپل ځان
چه ئې پلار سَرَه غلیم وِي　　هم هغه ئې زړه او ځان
چه په واړو کښ ارشد دئ　　نن یادېږِي اشرف خان
د مور پلار نیکه ته نه دَئ　　دا ناکس دَئ لا بل شان
په ژوندُون مي خپل ځاي ورکړ　　باندِي زه شوم مهربان
زر ئې ټول کړه په لکونو　　طبیلې ئې عراقیان

---

[1] یعنی شپنیان او حیوان څړونکي.

[2] نیکان یا نېگونه، جمع د نیکه.

لوی ځما په نوم په توره   خواروِي مي فرزندان
دَ خپل ځان په شیرازه دئ   تار پتار برادران
بد خواهانو سَرَه خاندي   په زړه چوي نېکخواهان
ښه کارونه چه ځما وُ   یا د ما دَ دودمان
یو په ده کښ پیدا نشو   ورته خلق دِي حیران
که ئې بولم گلستان ته   باندي اور دَي گلستان
دَ گونگټ غندِي جار وزي   په سرگین او په گریوان
دي نامرد دَ نامردئِ   تل له وروڼو ترسان
دَ گلونو په پټي کښ   کره ځان ته خارستان
ښه لایق زویه مي نور دئ   ولي خدای کړل کشران
زین دَ زرو په خره پروت دئ   په ښه آس بابدي پالان
قسمت کاندِي خپلي چاري   نه علاج شته نه درمان
تربیت ځما په ده وُ   په ښوره باندي باران
که مي ولوستل و ده ته   کتابونه دَ لقمان
نه اثر وربانِدي وشو   نه ئې ځاي شول په جَنان[1]
د پنډ اور په سوخته لگی   نه دَ پشم په رِسمان
که سرود ورته آغاز کړې   سرود څه اَروي کران
آئېنه که ورته کښېږدې   پکښ څه گوري کوران
له قرآنه که وَیل کړې   خو انکار کا کافران
حمیده به پکښ لږ وِي   ذمیمه چندان چندان
لکه دَی دَي په حسد   بل به نه وِي هیڅ انسان
سر تر پایه و هم، وېره   پخپل زویه بد گمان
دَ مردئ په کار و بار کښ   تر زنانو شه قربان
تر څلوېښت کالونه تېر شو   باندِي څرخ نشو پیکان
په هر ځاي چه په جنگ پېښ شي   تل ئې تېښته په میدان
مرصع توره تر ملا کا   تېځي ښه ښه عراقیان
نه ئې توره چرته سر کړه   نه ئې خوړ شو بر گستوان
که په کور لَري لکونه   ځني شوم درومي مهمان
که څه لږ و ډېر ئې خرځ شته   په هزال په قلتبان
دَ دنیا په حساب تللَي   همېشه لکه هندوان
ذکر فکر ئې دَ زرو   ټولَوِي روپۍ مهران
شوم منحوس لئیم سفله دي   مصاحب ئې همچنان
ځاي دَ مرد ورڅخه نشته   ورته ناست دِي نامردان
ځان ستایه په ډېرو زرو   نا دار بوله خپل بزرگان
شوم مکار محیل بې شرم   ډېر وَیونکی بد زبان
دَ لویی پکار خبر نه   په زرو کړه دَ لویی شان
برآمد ویل پرې اور دي   خوشامد باندي ریحان

---

[1] یعنی زړه.

ځني زشت کارُونه نور دي څه ئې اخلم په زبان
يا خو دَي مه وَي لمانه يا زه مه وَي په جهان
چه ځما څه بند و بست وُ ده بد بخت کړ واړه وران
هنگامه دَه لا په مخ کي دَ مغل او دَ افغان
زه په نقش دَ خپلی چاري که څه شي سر و سامان
دَي په وهم په وسواس کښ تل لما دَي هراسان
خپل شامت دَ بد فعلی ورته ناست په هر مکان
چه د ما سَرَه څوک تړول شي دَ ده زړه شِي نور لرزان
چه د ما دَ لښکر غړ شي اوبه کېږي دَ ده ځان
زه په لويو انديښنو کښ دَي په کور کښ دي غران
پدا دوه کاره خوښېږي دا احمق سفله نادان
چه ځما سَرَه څوک نه وِي بل چه سوړ مي وِي ديگدان
ځما زويه لما نيسيي اقربا، برادران
و مغلو ته مجرا کا چه خپل پلار مِي کړ دا شان
زه دَ ده په کار خندان يم دَئ ځما په کار خندان
چه ځما له غمه وار وِي بې حسابه شي شادان
چه ځما سَرَه بدي کا پرې رحمت کا مغلان
په چمته کښ لوي غر ځاي کا په کوزه کښ ږدي عمان
دي لا هر څه ورته وائي ور سَرَه شي پارسي خوان
دَ مغل په زور ئې لاندي ځما ملك کړ درست تر ځان
نه ئې مال و ما ته پرېښ نه نوکر نه غلامان
نه په ملك يم نه په نور څه خپل عزت دي په ما گران
خداي ئې خوار په دين دنيا کړه دَ عزت مي کا نقصان
ځني سپي ئې را پسې کړل په تېري کښ ردهان
چه نا پوه ئې پخپل ځان کا هسي نکا دښمنان
رسوائی شوه تر منځ پېښه نه څه ورک نه ئې څه زيان
دَ سزا په سنگ ئې مات کړ دَ همه واړو دندان
نظام پور لَره اوس راغلم دغه گوي دغه ميدان[1]
چه مي وار وربانديِ ساز شي بيا را وړانديِ کا دوستان
وار دَ هري چاري تېر شو فکر لوي دَي دا زمان
هر چه دي هغه به وشي څو لاحول په شيطان
قافيه شوه سَرَه تنگه دَ زغملو نشته توان
اوس همه چاري تر شا شوې خو هم[2] دا مهم تر ميان
حماقت ئې لکه اور شو ځما زړه ئې کړ بريان
چه اساس دَ توري کښېږدم دا نامرد ئې کا غلطان
چه ځما کره پيدا شو څه آفت دَي د اسمان

[1] دغه چوگان.

[2] خو دَ ده مهم تر ميان

نن به هیڅوک هسي نه وِي لکه زه په زړه پرېشان
که کښېنم نام و ناموس ځي که پاڅم پاڅي طوفان
په دې کش مکش کښ تېر شو په ما عمر رایګان
پښتنو وکړې ګټني د ما کور دا هسي وران
دَ یوه سړي شامت دَئ چه خوارېږي درست جهان
دَ ګټني وخت تېرېږي وا ویلا افغان افغان
ځواني لاړه پېري راغله په پسرلي راغي خزان
چه به ما وربادي مټ کړ مشکل کار به شو آسان
پدا کار باندي مي مټ دي که آسان ئې کا سجان
مفاجات دِ ئې نصیب شي یا ئې تور مار ځانستان
چه هیڅوک پرې بد نام نشِي هسي ګور ته شي روان

لکه عاق دَئ عاق دِ درومي
دین دنیا دواړه خسران

چه تحویل شِي دَ میزان توغ څرګند کا زمستان
توغ ئې څه دَ سهېل ستوري چه ښکاره شي په اسمان
دَ غارمه په رنځ رنځور وئ بیا تندست شي دا جهان
د خوړو لذت پیدا شي اوبه ولګی په ځان
غېږ په غېږ سَرَه نماستې شي لب په لب شي مشتاقان
دَ جامې قدر څرګند شي زین قبول کا عراقیان
نه په زغره ځوان خبر وئ نه آس دروند په برګستوان
چه دَ ښکار هوسناکي کا پرې ښادي شي دا آوان
دَ شمال مرغونه واړه په جنوب شِي را روان
نوی باز راشي له سواته لکه ښه سیلي جوګیان
دَ سپوږمی په شغله یون کا ږغ کا زاڼي په اسمان
قاز او بتی را خپرې شي هم هېلی صد چندان
زرکي کوزي شي و سَم ته په دانه دَ دهقانان
تغدري لکه دوړني[۱] ځان څرګند کا په میدان
که شاهین که څرخ که باز وئ را ئې واخلي میر ښکاران
دَ صد برګ ګلونه وا شي په رنګ ښه وِي تر زعفران
څوک دَ ښکار په هوس ګرزي څوک په سیل دَ بوستان
عباسی په دوه درې رنګه سپین او زېړ وِي ارغوان
دَ چنبې دَ ګلو بوي ځي دَ هر بوټي تر ګرېوان
دَ سبزې ئې تماشا شي لا په تېره دَ ریحان
په تنکي تنکي ښاخونه هره ونه شي شان شان
که بلبلي که طوطیان دئ لور په لور کاندي فغان
دَ دې هسي وخت هوا به مګر موې په جنان

---

[۱] دا کلمه په ځنو نسخو کي مختلفه ده، ممکنه ده چه (دروی) یعني نل، ني، قصب.

که رشتیا وایم دا وخت مي   په پسرلي لَرِي رجحان
د دې وخت په مخ خلاصي وئ   دَ پسرلي په مخ زندان
په خوشحال دِ قدر ډېر دي   یمانی ستوریه جان جان
چه دیدن دِ ور ښکاره شِي
نور په ده کړې خط پرېوان

(و)

دَ دهلی دَ ښهر ښه شان و شوکت وُ   لور په لور ئې کښلي کښلي عمارت وُ
ښایسته ئې بازارونه وه دَ ښهر   مهیا ئې په بازار کښ هر نعمت وُ
دَ شانهر فوارې دِ په هر کور کښ   دَ بازار به ئې څه کم بیگه وسعت وُ
په دهلي باندي گواهي د جنت وله   که راغلي پدنیا چېري جنت وُ
چه به جوړ دَ شاه جهان بادشاه دربار شو   په دربار کښ به ئې دوه اویا ملت وُ
که هوا ئې دَ عراق دَ خراسان وَئ   دَ جنت به دَ دهلی سَرَه غیرت وُ
دا زینت چه شاه جهان و دهلي ورکړ   بل بادشاه کله ور کړَي دا زینت وُ
دَ دهلي بنا دَ چا په لاس ده شوې   په نوبت نوبت دَ چا پرې سلطنت وُ
همگي به نوم په نوم درته بیان کړم   چه دَ هر یوه څه خوی څه خاصیت وُ[1]
دَ دهلی بنا اول وکړه څو هاڼو   پر دَ دیو تېر سو کاله سلطنت وُ
د اسلام بادشاه اول مغزالدین وُ   چه یو کال ئې په دهلي کښ اقامت وُ
چه دهلي ئې را نیوه له پټو رایه   په دا کار کښ ئې ډېر کړَی مشقت وُ
چه ئې سر دَ پتورا پرېکړ له تنه   شپږ سو دولس کاله کم سن دَ هجرت وُ
بیا له پسه قطب الدین دَ ده مریَی وُ   چه پریښي ئې په هند په نیابت وُ
بیا له پسه شمس الدین دَ ده پالك وُ   چه په خلقو ئې اواز دَ عدالت وُ
بیا له پسه فیروز شاه د شمس الدین وُ   چه په هند کښ بې نظیر په سخاوت وُ
بیا له پسه رضی لور د شمس الدین وه   چه راضي ځني سپاه او رعیت وُ
بیا له پسه ناصر دین د شمس الدین وُ   چه مشهور په عدالت په عبادت وُ
بیا ساطان معزالدین کیقباد وُ   چه ور ښخه هم صورت او هم سیرت وُ
بیا سلطان جلال الدین په سریر کښېناست   چه په اصل کښ غلجی دَ ولایت وُ
بیا نمسی دَ فیروز شاه علاءالدین وُ   چه په خلق او په کرم دَ ده شهرت وُ
بیا له پسه قطب الدین دَ علائی وُ   چه همېش ئې مخ په عیش او په عشرت وُ
بیا له پسه تغلق شاه چه امرا، وه   پرورش ئې دَ غلجیو په دولت وُ
بیا سلطان محمد شاه دَ تغلق شاه وُ   چه دَ ده په عصر خلق فراغت وُ
بیا له پسه فېروز شاه چه د ده تره وُ   چه په هند دَ ده دَ چاري خاتمت وُ
بیا سلطان محمد شاه دَ فیروز شاه وُ   چه دَ پلار په زندگي ئې سلطنت وُ
بیا سلطان غیاث الدین دَ فېروز شاه وُ   چه نیولي ئې له وروره مملکت وُ

---

[1] چه دَ هر یوهٔ ه خوي څه ئې خصلت وُ

بیا له پسه ابا بکر په تخت کښېناست — چه دَي هم دَ فیروز شاه له ذُریت وُ
بیا له پسه سکندر شاه دَ محمد شاه وُ — چه په تخت ئې یَوه نیمه میاشت مهلت وُ
بیا ئې ورور ناصر الدین په سریر کښېناست — چه په ده دَ ښو ځوانانو ډېر قیمت وُ
بیا له پسه چه تیمور په هند را کښېووت — خضر خان ته ئې ورکړي حکومت وُ
بیا سلطان مبارکشاه دَ خضر خان وُ — چه ښکاره ئې له جبینه سیادت وُ
بیا سلطان محمد شاه د دَه وراره وُ — چه پښتون دَ ده په عهد پر عزت وُ
بیا سلطان علاءالدین وُ دَ ده زویه — چه اکثر ئې دَ نساء سَرَه صحبت وُ
بیا بهلول لودین بادشاه شو دَ دهلیَ — چه په تخت ئې نه ویشت کاله سکونت وُ
بیا له پسه دَ بهلول زوي سکندر وُ — چه عمل ئې موافق په شریعت وُ
بیا له پسه ابراهیم وُ دَ ده زویه — چه بابر سَرَه ئې جنګ په پانی پت وُ
بیا له پسه دَ دهلي بادشاه بابر شو — چه ئې کار دَ پښتانه په برکت وُ
بیا له پسه دَ بابر زوي همایون وُ — چه بېحده ئې لښکر ډېر ئې دولت وُ
بیا له پسه شاه عالم دَ حسن سور وُ — چه همایون دَ ده له لاسه هزیمت وُ
بیا له پسه اسلام شاه دَ شاه عالم وُ — چه له پلاره نه هم زیات دَ ده جرأت وُ
بیا له پسه عادل شاه دَ ده تربور وُ — چه پښتون دَ ده په دَور فضیحت وُ
بیا له پسه دَ همایون زویه اکبر شو — چه وَ هر لوری ته مل دَ ده نصرت وُ
بیا له پسه جهانګیر دَ اکبر زویه — چه دَ ده په دور هند لکه جنت وُ
اوس بادشاه شاه جهان دَ جهانګیر دئ — چه په بلخ په بدخشان دَ ده نوبت وُ
زه خوشحال چه دا شمار کړم شاعر نه یم — پدا کار مي ازمیلَي طبیعت وُ
که مي شعر شاعري ځرګندَولَی — ما به ډېر کړي دَ خپل بادشاه صفت وُ
چه دَ هند سیر مي وکړ اوس مي ووې — ګنډه دا تاریخ لارغه ځما په نیت وُ
که ددې ویلو کال غواړې لمانه — په حساب کي واوره کال دَ قرشت وُ
ابتداء ددې بیان په نماز پښین وُ
دَ ماښام په وخت ئې شوی نهایت وُ

(هـ)

بیا دِ څه فتنې آغازي کړې اسمانه — چه عباس[1] دِ را روان کړ له ایرانه
شاه جهان لا په اندوه دَ ترکستان وُ — تا ناګاه بله چار کړه ور عیانه
منصوبې دِ هونبره ندي چه ئې شمار شي — هی توبه توبه له تا ستا له دورانه
کله کله ستا فتنې لا په څه رنګ وې — ولي دا ځله څو کړې نکړې ودانه
یو سختی او رنځوري دِ په ملك زور کړه — بل دِ بر برکت واخیست له جهانه
در پورهېږم چه هغه دِ لا په یاد دئ — چه خلاص شوي وُو دَ واوري له طوفانه
څو همه واړه کسکړ[2] وبله نکړې — خوا به ستا نشي سره په یَو څو خانه

---

[1] شاه عباس صفوی دَ ایران پاچا وُ.

[2] برباد، تباه.

دَ کابل مېوې خوراک دِ دَ طوطیانو   پرې خپاره شول تور کارگان له هندوستانه
یَو شدت دَ بادشاهانو تر منځ پرېووت   بل دا ملك شو یَو څو کاله بې بارانه
دَ آوي ځښتن دعا کا چه نرخ گران کړې   للمي کار په زړه پرېشان مېنه ویرانه
غه سړي چه به په زور مېلمانه غوښتل   اوس سر پټ کاندِي تېرېږي تر مهامانه
ما په عمر هسي کار لیدلي نه وُ   نه مي کله اروېدلي وُ له چانه
چه پسر له لوږې مري پدر ئې گوري   دَ پسر اندوه ئې نه وِي بې له ځانه
هندوستان به گوره څه شي ستا له فعله   خداي دِ ورک کړه رافضي علي مردانه
له هغې ورځې چه راغلې پدا ملك کښ   غم دِ راوړ تر سپاهه تر دهقانه
چه دا هسي شوم قدم دِ په ملك کېږ کړ   چه دِ گورم څه ناپوه يې شاه جهانه
که دا ملك له اولیا وُ نه خالي وَئ   پدا ملك به تر دکن پیښه وه گرانه
که دِ حکم دَ عالم د ورانی نه وئ   رزق دَ هر چا ورکوهَ دَ رزق ضمانه

خوشحال تل شکر وگاړي خوښ لتا دَئ
تا چه ده له هَره توکه کړه پرېوانه

خبر مشې دَ فلك په ستمونه   په خاطر کښ لَرم څو رنگه غمونه
چه همېش به ئې سر پروت ځما په پښې وُ   اوس هغه ځما په سر بِږدِي قدمونه
چه به تل ځما کرم ته په امېد وُ   با رَوِي په ما منت په کرمونه
چه ځما په مرهم روغ پدنیا پائیِ   هم هغه خاندي ځما په مرهمونه
زه ئې چا لَره وهم قدر ئې چا زده   په اور وَ سېځه دا توري قلمونه
څه یواځې ننگ پما راغلي ندئ   پښتانه دېر دِي په غرونه په سمونه
یا به واړه دَ مغلو درم پرېږدي   یا به زه هم په لاس واخلم درمونه
چه ښوروا خوري د مغلو واړه سپي دي   دَ سکانو په خوله څه اخلم نومونه
که خټك دي که بنگښ که ورک زي دي   وار په وار ئې په کور وشه ماتمونه
یا مي خپل قهر ارمان تر هر چا وکښې   یا مي پرېښوي دا دَ ننگي شیمونه
له پردیو نه به څه لَره مانه کړم   چه خپل هم را باندِي باسِي اړمونه
نا خلف زویه دَ چا کَره لوي مشه   چه و پلار وته گندي کا قسمونه
هسي زویه مي نه ولیدل په دېر کښ   چه په مخ کښ ئې دَ اور ځي علمونه
چه شاعر پخپل غلط شعر خبر شي   پرې څکوي دَ غلطیِ رقمونه
چه ځما سَرَه ئې کا پوري حیران یم   خپل پردی فن او فنوُن سحر دمونه

گوره هم په ژړا سر کړم که ئې وروړم
زه خوشحال دَ زړه دا هونبره المونه

خپل استاد و ما ته ووې څو پندونه   هر یَو پند ئې مرغلري دِي لاونه
وَئې هره بدي کړه هغه بد مکره   چه له لاسه دِ آزار شِي دَ چا زړونه
که دِ زړه دَي چه بد نه مومې له چانه   اول ته پرېږده دَ بدو خصلتونه
دَ شهوت په نغوته مه ځه شهوت اور دَئ   پدا اور دَ دېروُ سوِي دِي کورونه
ته کینه رخه حسد له هیچا مکره   دَ ازل په ورځ مقسوم دِي قسمتونه
دَ هر چا سَرَه دَ ښو سلوک بایده دي   په بدي کښ څه فائده ده کوم سودونه

دَ دنيا په مال دَ نېکو نوم حاصل کړه　　تل جهان و چا ته نه پرېږدي مالونه
دَ هر چا سَرَه نرمي کړه　　گُندي وِي چه پدا خپل کړې دَ چا زړونه
خپل پردي ته دَ زړه راز خبره مکړه　　دَ بخچې دننه ښه دِي خپل رختونه
خوشخوئی هر گوره ښه ده نه دا هونبره　　چه په باغ کښ د خرتيزی وهی خرونه
هغه کار چه په نرمی تر سَرَه کېږي　　څه حاجت چه رساوه شِي تر جنگونه
و هغو وته که قهر کړې روا دئ　　چه لَري دَ بدو فعل بد خويونه
دَ هغو په مرگ ثواب گټلي بويه　　چه ئې سبخي له شامته غاړي غرونه
که دښمن دِ ډېر زبون ته ځَني ډار کړه　　په يوه بڅري وسوځي ښهرونه
دَ دښمن په تملق غلطي مکړه　　دَ رستم غنُدي هم مړه دِئ په مکرونه
عاقبت به خپل ورغوي په غاښ پرې کا　　هر چه کار کا دَ دښمن په ورمرنه[1]
چه دِ لاس په دښمن بر شِي پرې ئې مړده　　عاقلان به ژوندي نه پرېږدي مارونه
که پخپله دَ خپل ځان په بدي نه يې　　دَ مارونو په غار مه منډه لاسونه
په خپلوانو باندي هونبره خشم مکړه　　چه پردي در ځني تښتي په ملکونه
دَ بادشاه په مهر مينه غره مشه　　زورَور په لږ گناه وهي سرونه
بادشاهان چه په چا مخ کا دَ بدئِ　　و سيندونو ته ترل نشي بندونه
په هغې معشوقې څه باور دَ کړو دئ　　چه په هر لوري ياران لَري زرگونه
دَ پېپلو پاڼي خوره نه هغه پاستی　　چه ئې خورې دَ نوکرئِ په شرطونه
که عمل که وکالت که پېر و پلور دَئ　　دَ هوښيار له لاسه ښه ېسي کارونه[2]
له بد خويه سَرَه هيڅ بدي ته مکړه　　غليمان ور لَره بس دِي خپل خويونه
دَ کمذات په ښو خبرو غلط مشه[3]　　دَ گنډېرو نه خواږه لَري گلونه
په هر کار کښ چه در پېښ شي بېره مکړه　　په تلوار سَرَه ورانېږي جوړ کارونه
چه دِ قول له چا وکړ نور ئې مکړه　　تل په عهد، قول ټينگ وِئ ښه مېړونه
په رشتيا که په دروغ وِئ سوگند مخوره　　منافق دي چه ډېر خوري سوگندونه
دَ حرص سترگي مَړې په قناعت کړه　　چه په کور کښ دِ انبار شِي نعمتونه
که هر څو دِ علم ډېر چه عمل نکړې　　ته حمار يې په تا لښلي کتابونه
دَ ښه دين دَپاره علم دانش ښه دَئ　　نه پدا چه پرې لوټي[4] پردِي کورونه
په جهان کښ که مردان دِي هم هغه دي　　چه د سختي وته ونيسي ځَانونه
په لښکر کښ دِ هم ساد وِئ هم دی غله وئ　　کله غشي پکار کېږي کله گزونه
چه بدانو سَرَه ښه کړې قباحت دي　　دَ بدانو خو هم تور ښه وِي مخونه
عاقبت به ملگيري در څخه پرېکا　　چه په لاري تر تا تېر درومي ستا ملونه
که دِ ورور دَئ که دِ زوي دَئ چه بد کار شو　　په څپېړه ئې کاږه کا ور مېړونه
چه بد فعل بد غرض و بله ناست وِئ　　دَ هغو له ناستی تښته په کروهونه
چه په کالو مشران ته ئې حرمت کړه　　بيا هغه چه دِ په ځاي دِي لکه ترونه

---

[1] د ورم جمع په معنی د صلاح مشوره، شیطانۍپند او نصیحت. په یوه نسخه کي داسي دي: د دښمنو په درمونه.

[2] د هوښیار له لاسه ښه شي دا کارونه.

[3] په کمذات باندي ښېگړه حبطه ده　　په ښوره مځکه کي مه کره گلونه

[4] لوټول یعنی چور او تالا کول.

چه د ښځو تر اَواز پوري زبون وئ — په جهان کښ هغه ږېره دَه زبونه
په هغه کور کښ چه ښځه چرګه بانګ لي — دَ هغو خونونه ځـي برکتونه
هر چه شرعَ فرمائي په هغه کار کړه — مه عمل کوَه په رسم په دودونه
نېکو کار په فقراوُ خير خيرات کا — هرزه کار په عمارت کاندي خرڅونه
که دِ زړه له وينو ډک شي و دښمن ته — لږ و ډېر په زبان مه راوړه غمونه
په هر کار به دِ لاس بر وِي په ځواني کښ — که طاعت که عبادت که نور کارونه
په ځواني کښ چه دِ کار له لاسه ووزي — په پېري به دِ ور نه رسي لاسونه
درته وايم چه په کوم توکي به دروند شې — چه دَ هر چا سرَه نکړې ځوابونه
همېشه اوسه خوله پټه لکه ناوې — چه ضرور شي هاله وکړه دوه حرفونه
تر هغه به نا معقول په جهان څوک وئ — چه همېش په خندا سپين لَري غاښونه
که خبره که خندا کړې جګي جګي — هَره چار تر حساب مه کوَه بېرونه
که دِ زړه دَي چه دِ عيب ښکاره نشي — چا ته مه شماره دَ خلقو پټ عيبونه
که تر تا نه په قوت دَ متو زيات وئ — له هغه سرَه حجت مکړه بحثونه
چه توانېږې دَ هغې خبري لاف کړه — او که نه په دروغ مه وهه لافونه
په دښنو[1] کښ چه دَ جنګو خرخښې وئ — ته بې غمه خپل هوس کړه خپل ښکارونه
که دِ واروېدل چه بيا و بله روغ شول — نور پخپله وسله وَوهه لاسونه
چه دَ ښځو نه بتر دي هغه څوک دي — چه دَ ښځو سرَه کا مصلحتونه
په جهان کښ چه په نام و ننګ ګاټه شي — که پوهېږې څاربه مړونه دي آسونه
خداي هغه په دواړه کونه دي نمنځلي — چه په ورځ ئې عدل و داد پشپه نمونځونه
چه په زړه پتا مين دَ هغو ناز وړه — تل نيازمنو سرَه وړي دِي نازونه

دَ اصيل ښېوه خپل اصل نه لباس دي
په زربافو کښ يا ډم وِي يا مريونه

څه داغونه ږدي په زړه باندې فلك — چه نظام[2] دِ لما ښېل کړ خوا ئې ډکه
خدايه ته خو ستمګر نه ئې دا څه کړې — خلقه دِ پدا کار کړه هکه پکه
په لحد کښ هغه مخ خوري په چنجيو — چه دَ هيچا پرې پېرځو نه وه جوانکه
په غمونو کښ دِ زوړ په دنيا پائی — دَ زاړه په ارمان ته ومرې کودکه
کشکې ځوان دَ پښتانه په ننګ کښ مړ وَئ — نه چه ګور لَره روان شو له تولتکه
چه دَ قام په ننګ کښ ومړ هغه زويه — په عالم کښ دَ خپل پلار غاړه کا لکه
رنګ دَ اوښيو سرَه ويوست ځما سترګو — نور به نه راشي ځما له مردمکه
لاس و دست دې سرَه درست در هم برهم کړي دربغه دربغه لاس در نَرَسی فلکه
نظام لس مياشتي بيمار زه په شل کروهه — دا شل کروهه راته لا ډېر شول تر لله
هغه وخت به بيارته نه راشي نظامه — چه به نه وتې دَ خپل بابا له وکه
که حيا وه که وفا وه که صفا وه — ښايسته ستا په وجود وه هَرَه يکه
اسماعيل غُندې به دَی راته تسليم وُ — که په حلق مي دَ نظام کښښوه ګزلکه
که دَ پلار په رضا زوی دروميِ جنت ته — سکه نظام ور لَره وَرَغي بې شکه

---

[1] دښني د دښمنی مخففه او مغفنه ده، دښن عيناً په معنی د دښمن دي.

[2] نظام د خان زوی وُ، چه دا د هغه مرثيه ده.

خداي مي نور گلونه جوړ لَره پیاغ کښ
که یو گل ورځني پرېووت له خونکه

زه به ولې هسي ژاړم یا به نه خورم
که په نه ژړا مي مل شي زړه به څه که

څو ژوندی په دنیا پاېی خداي دِ نکا
ستا څهره ځما دَ زړه له تختې حکه

دَ نظام دَ غشي یو برابر نه دئ
که خوشحال په زړه خوړلي ډېر ناوکه

مگر زړه ئې دَ هاتي وئ چه زغمي ئې
دا شیتی چه دَ خوشحال په زړه شوه لکه

که هوس دَ باز دَ ښکار کړې پسره
خبر دار ئې شه له عیبه له هنره

څو دَ باز وزر نری مهین باریك دئ
دروند په وزن هونبره چا ئې دَه بهتره

رنگ ترکیب وته ئې مه غَروَه سترگي
چه څه لوي وِي هغه باز نیسه په غوره

دَ هر باز چه سترگی سرې وِي ژبه توره
هغه نه وِي بې مرانی بې سیره

څو ډېر اوږد غاړه اوږده اوږې هم پلنیي
دَ ترکیب وینا ئې دا ده مختصره

تر سپین باز نه قدر ډېر دَ ښبنتن باز دئ
چه دَ پاسه شا ئې شنه سینه احمره

سپېنه ژبه په شاتور اوږې باریکي
خورند لم لکیور گران دَي په گاځره

دَ میزان نیولی ښه دي یا دَ قوس
په عقرب نیولي نه وِي بې ضرره

خپله مینه ئې په دام په جال بندي کا
که دَ باز په ځان بلا شو له کوتره

میزاني نیولَي دم در حال ښکاري کړه
دَ عقرب نیولي پرانزه په ویره

په درست ژمي ئې ساته په تاوده ځاي کښ
تماغه ئې په بهار واخله له سَرَه

دَ بازونو هنر هسي آسان ندي
چه ئې طمعه سرِی کا له یوه هره

نوي باز چه اول ښه په چرگ تیار شي
بیا ناولي ور لَره بویه هنر وَره

چه یو څو باولي وخوري ستا له لاسه
بیا ئې ښکار لَره روان کړه برادره

چه پگه پگه ئې سیر کړه څلوېښت لاسه
نور به ښکار ته غاړه کښېږدي برابره

نوی باز دِ دَ سبا په وخت الوزي
یا چه پاتو شِي پنځه گړي له نمره

خوي خصلت دَ ښو دَ بدو څه پگښې دَئ
همگی دَ باز ښکارېږي له بصره

هر یَو باز گُښی خپل خوي لَري خپل فعل
خبر دار ئې شه له اصله له جوهره

چوز هاله صاف کړي بویه چه فربه وئ
دَ صافیِ تکلیف واخله له لاغره

دَ صافیِ دِ اووه حبه نبات وئ
تر یوه دِ مالگه نه وِي افزونتره

که چړه نبات دِ ور کړ عیب نشته
دا هاله که ئې پیدا کړه لره بره

چه دَ باز په هر علت زحمت خبر شي
میر ښکاري دَ هغه کس دَه معتبره

باز چه ښه ترگرُېز وَ باسي میر ښکار دي
کنه واړه دَ ده چار گڼه ابتره

باز چه ووزی له کرېزه هاله پوخ شي
په چوزي کښ اومه خښته ده نیم تره

دَ چا باز دِ په دارو اموخته نشي
د ستکشی ورلَره بس ده هنر وره

سیه چشم لَره ډېره پهره بویه
کلال چشم لره بس ده دوه دوه پهره

لږ خوراک دَ باز صحت ډېر ئې زحمت دئ
یکخوره طعمه ئې نده بې خطره

دار چینی د پر مهرې سَرَه لازم دئ
دَ سبېرمو ناسوار ئې یو سي رنځ له سَرَه

دَ ساړه دارو ئې مښك او مومیایی دئ
هم دیږې تریحي باز ساتي بې ضرره

که دارو دَ خوشخویيِ خوري په ژمي
دَ بد باز به بد خوئي ووزي له سَرَه

دَ اغېز دارو ئې دا دئ نور څه ندئ
چه یوه دوه ورځ ئې منعه کړې له خوره

که تازه طعمه ئې رد کړه پدا څه شي   چه دَ ګيډی طعمه وَ جار باسي ويره
په ساړه ژمي دَ باد دَ پاره ورکړه   دَ کوکري طعمه درې ورځې مکرره
دَ حلوان غوښي دِ خوري دَ ورې چرګي   دَ تارو تمځري يا دَ کور کوتره
چه دَ زرکي غوښي تل خوري کرېز نکا   مرغاوي ده و کرېزو ته بهتره
په ساړه د چکس نغښتي په نمد وئ   چه فارغ وئ دَ ساړه له هره شره
باز چه موږ په چکس واچوې له ورايه   پدا کار به پاتو نشي بې ضرره
ډک تغار دَ اوبو تل کښېږده وَ باز ته   په ساړه غارمه دا چار کړه مقرره
دَ مړه ګوري غوښي ښې دي په کرېز کښ   يا هاله چه باز باښه شي کلنجره
چه په شپه په ورځ فرياد په هر ساعت کا   دَ هغه علاج څربښت دَي له لاغره
هغه باز به تر باښې نه لا تېز پر وي   چه مهين دَ لکی بال نري شهپره
هغه باز چه ښاري نه نيسي ناقص دَئ   که هيلی يا سرخاب نيسي بې مره
که دَ ژمی په وخت ښې نيسي بټېري   تر باښې نه هغه باز ګڼه تېز پره
تريناک بُزم تولك تر چوز کم ندئ   په وهنه تر چوز لا دي افزونتره
دَ شاهين په ښکار به کاندي هغه مينه   چه ساتي په هر شاهين پنځه نفره
د مرغونو مزري چرخ دي که ئې ګورې   خو مير ښکار ور لَره ښه بويه پسره
که دَ باز مينه په ښه جره ماتېږي
ولي ښه باښه ترې لا ګڼه بهتره

خدايه ته ځما پرده مکړه پاره   بد مي مکړه و عالم وته ښکاره
هغه لار چه دَ نېکی دَ نېکنامی ده   په هغه لاره مي بيايه همواره
چه دَ دين دَ دنيا ښې چارې پګښې دي   همېشه مي په هغه چارُو ګماره
په دنيا کښ مي همېش لَره زړه جمعَ   پرېشاني دِ ځني اوشي کناره
نفس شيطان د واړه قرين دي په شماره کښ   را ښکاره لَره دَ دواړو مکاره
ما لره په ملهمه په لوامه کښ   ته مي وژغوره له نفس اماره
که هر څو مي لوي ګناه له لاسه وشي   په توبه سَرَه ئې ته کړه آواره
په توبه کښ هسي رنګه ثبات راکړه   چه توبه مي ماته نشي دوباره
کبيره راته ګنده غوښي دَ خوګ کړه   صغيره کړه راته غوښي دَ فاره
ذميمه مي وار په وار له دله واخله   چه په زړه کښ ذميمه دِي خونخواره
دَ بدبخته ستاره مي امان وکړه   را سَرَه لره نېکبخته ستاره
توان توفيق دَ عبادت دَ طاعت راکړه   زه خاکي بنده عاجز يم بې چاره
په حساب کتاب مي رنګ دَ خلاصی نشته   ما يك لُخته خپل کرم ته وسپاره
چه اروا مي له قالبه نه جدا شي   نور مي بيايه دَ جنت په ننداره
چه کراما کا تبين را څخه خوښ ځي   هسي رنګ مي ګورستان ته وسپاره
مخ مي سور لَره همېش په استغنا کښ   په طمع مي زېړه مکړه رخساره
تر ايمان چه مي چا پېر دَ يقين کوټ دئ   سلامت ئې وساته برج و باره
پدنيا کښ مى غزېز لَره تر تلو   آل اولاد مي پيدا مکړه هيچکاره
وخت آخر شو غافل مه اوسه خوشحاله

يَو څو ورځې شپې باقي دِئ په شماره

عاقلان چه پدنيا نکا وتنه — دَ يقين په سترګو ويني ترې وتنه
پدنيا وتنه دانده هوښياره — چه دِ هيڅ په دنيا مال نه وِي وتنه
دَ دنيا مالونه واړه سره اَسپه — دَ دنيا په مال د زړه نه وئ ترِنه
دَ سليمان غُندي ئې پاسه په سر کښېږده — نه قارون غُندي ئې بِده دَ زړه دننه
زيست روزګار دَ چاريارانو غُندي وکړه — په روزګار دَ هر يوه وکړه پوښتنه
ابا بکر څخه هيڅ نه وُ بادشاه وُ — که عمر دَ خزانو وُ په ساتنه
دَ عثمان تونګري غنا ځائي وه — دَ علي به خرڅېده واړه ګټنه
ډېر اصحاب دَ پيغمبر غني مالدار وُ — اما هيڅ ئې په دنيا نه وه وتنه
مؤمنان دِ پيروي کا دَ اصحابو — دَ اصحابو وه دَ شرعي په لار تلنه
په هر کار کښ چه بې شرعي سرِی پل بِدي — هغه پل به ئې سربېږي په بوښتنه
شريعت وائِي چه ښه خوره ښه اَغونده — په حلال او په حرام کَوه پوښتنه
چه دَ چا په باغ کښ ګډ شې فهم وکړه — نا روا نظر ئې مه وکړه په ونه
ښې محبوبې لوبوه په پالنګ خوب کړه — نا روا مکړه دَ سترګو اړونه
که دَ تخت دَ پاسه کښېنې مبارک شه — خو ثابت په شريعت اوسه مينه
سل خونونه په فتوا په روايت کړه — خوله له شرعى نه بيرون مشه مؤمنه
دَ باغوان په اذن واړه ونې ستا دِئ — چه روا نه وئ نظر مکړه په ونه
که دِ چېري ناروا له لاسه وشي — په توبه وکړه و حق ته جارونه
څوک به هسې پاک معصوم لکه فرښته شي — دَ سرِي جامه ګه سپينه ګه ريمنه
دَ توبې صابون به هيڅ باندي پرېنږدي — که دَ ځان جامه دي هر څُو وِي خيرنه
په هر کار کښ هسې کار کړه جګې جګي — چه څوک نه وائې و تا ته دروغجنه
دَ سرِي خو اعتقاد او ترس دَ خداي دِئ — يا چه هر زمان دَ مرګ کا يادونه
چه دا درې توکي لَرِي اَټکل مي نشي — چه به خداي رسول راضي نه وِي له ده نه
دانايان به غافل نه اوسي له مرګه — دَ مرګي دَ فوج ناڅاپه ده وهَنه
مرګ پتا پسې دائم هسې طلب کا — لکه څوک دَ ورک کالي کاندي مرستنه
که دَ اوسپنيو په کوټ کښ ځان خوندي کړې — عزرائيل به دِ خبر واخلي دنَنه
زيارت وکم به دِ يَو دم دَ ژوندُون نه وئ — هغه دم چه دِ پوره شِي دَ مرګ ژمنه
باز تړه تکل دَ تلو کوه خوشحاله — همراهانو دِ غوغا وکړه په لښنه
ليري ملك وته سفر دَئ فکر وکړه — بيا په بيارته دَ چا مه ګڼه راتلنه[1]

چه سفر بې توښې کا ارمان به يوسِي
ګورستان لَره له دې ځايه دَه ورِنه

يار مي ذوق دَ تماشې کا له اغياره[2] — زه فرياد نارې وهم چه ياره ياره!
دَ خاطر طمع مي هسي رنګه نه وه — چه به هسي رنګه ظلم کا يکباره
چه يك لخته مي وباسِي له خاطره — فراغت به شي د ما دَ زړه له زاره

---

[1] به دي نه کېږي راتلنه

[2] دا قصيده لکه هندي اشعار دَ معشوقې له خولې څخه خطاب دَي و مين ته.

مگر خون ځما په شرعَ کښ روا شو   چه جلاد مي وېره نکا له آزاره
زه حيران وم پدا کار نه پوهېدلم   چه گناه مي ثابت نه زه گناهکاره
هو دا يو گناه لَرم زه گناه گار يم   چه پتا باندي خاوند کړم مينه داره
که دا ستا مينه گناه زه گناهکار يم   که دا ستا مينه بد کار دَئ زه بد کاره
گنِه بل گناه زه نه وينم په ځان کښ   نور ستم را باندِي مکړه ستمگاره
زه سينگار دَ صورت وکړم په اميد شم   چه به ته په ما پېره راوړِي دلداره
ته پېره په ما و نه کړِي دل مانده شم   وشرمېږم دَ همه خپله سينگاره
لکه بند بلبله تا وخورم په قفس کښ   چه جدا يم ستا دَ وصل له بهاره
په وگړِي ځما ستا مينه ښکاره ده   چه مين دَي په فلاني فلانه بې شماره
دا چه اوس پما جفا جور همېش کړِي   تر وگړِي پوري زه يم شرمساره
دَ وگړِي د پېغوره مي به خلاص کړِي   که له خپله وصله ما کړِي دلقراره
که ته وگورِي دا شرط دَ مېنى ندئ   چه په مينه کښ ته روغ يې زه بېماره
دَ ليلي او دَ مجنون مينه په ياد کړه   مگر نه ده دا خبره در اظهاره
چه فضا ئې په ليلى نشتر گزار کړ   دَ مجنون له رگه تله دَ وينو داره
په معني کښ سره دوه تنه يو تن کا   محبت هسي اثر لَري اې ياره!
معشوقې مي و عاشق وته وَيل کړه   دا دَ دوي له حاله وشول څو گفتاره

ما خوشحال څه دا اشعار ويلي ندي
يو اسرار مي هويدا کړ له اشعاره

هممراهانو دِ کوچ وکړ واړه ولاړل تر منزله   ته لا کلك په خوب اوده يې اې ځما دله غافله
له نېستىِ و هستى ته له هستى ونېستي ته   کاروانونه دِ ځلېږي قوافله قوافله
لار مي واړه گل ولاي ده ته په سهل ټټو سپور يې   ښه سپاره دى پکښي تللي واروه تښته لدې گله
د دنيا په درياب ډوبه دَ پاياب طمع وَ مکړه   دا پاياب دَئ ډېرو غوښتي خبر نشول له ساحله
و کنار ته به وَ نوزې لدې هسي شان دريابه   په ساحل ئې خبر ندئ بې له اهل سواحله
دَ دنيا حاصل ئې واړه ناکامي او رنځوري ده   که دَ چا پکښي حاصل شِي هم ئې مگنِه حاصله
له قسمته به نه کم نه به څه زيات په ډېر کوښښ کړي   هم هغه به در رسېږي چه دِ بخره اوائله
دنيا څو د بله آسپى چه مقصود دَى په دنيا کښ   خو يو نغن يَوه شړيه نوره واړه دَه فاضله
په فضا ئې رضا ور وړه هر چه ستا په باب ئې کړي   په هيڅ به رنگ به دفعَ نشى په تعويذ په حمائله
خپلو لاسو خپلو پښو وته وگوره نظر وکړه   دا همه واړه دَ خداى په معرفت دي دلائله
همېشه وايې چه خداي مي پېژندلَي په يکي دَئ   که دِ خداي و پېژندلَي مينه مکړه په باطَله
بې له خدايه راته وايه بل يَو کوُم دَئ چه پيدا کا   آدمي له تورو خاورُو پدا شکل و شمائله
په خوړو او بيديدو کښ له ځاروي برابر مشه   دَ عمل په کاروبار کښ مشه کم تر عوامله
دَ دنيا په کار و بار کښ په څو بې حده بيدار يې   دَ ښه دين کار کښ څه رنگه اوده يې سست کاهله
پخپل حسن غره مشه که په حسن لکه گل شې   زمانه به دِ يَو څو ورځِي کا زائله
په دولت کښ په حشمت کښ که سنجر شې يا طغول شې   يَوه نخښه را ښکاره کړه له سنجره له طعزله
دَ بدانو نه دِ هيڅوک دَ نېکى اميد و نه کا   دَ عسل خواړه به نه مومې له زهر هلاهله
دَ هغه عالِم خبره چه عمل په ده کښ نه وِى   په مثال لکه براق دَئ چه جدا ځِي له عامله
غه عالم چه عمل نه لَرِى په مثل لکه خر دَئ   باندِي څو کتابه لښلى مشقت ئې بې حاصله

چه گفتار کردار ئې واړه موافق سَرَه يَو رنګ شِي   هاله هر رنګه خبره اثر کانِدی له قائله
په زېبا ګفتار دِ هيڅ تقصير و نکړ اې خوشحاله
که کردار دِ هم زېبا وَئ چار به ولي وه مشکله

پارينه چارى چه ښه نشته خوشحاله   دا دَ سږ چارى به هم نه وِئ تر کاله
دا سږ کال چه د غصج[1] دَئ چه غصد شي   اميد وار اوسه له بخته له اقباله
بخت اقبال که و تا درکا هسي ناوې   چه مهتاب ئې منفعل دَئ تر جماله
ستا به دوه اويا کالُونه وِئ دَ عمر   سود فايده ئې راته وايه له وصاله
دوه اويا به دِ هاله دَ زړه په کام وُ   که ځواني ور سَرَه هم وَئ اتصاله
دَ پېرئ په وخت کښ هر هوس ګنده وئ   لا په تېره عشقبازي ده غير ساله
دَ دلبرو مينه چا دا هوښره را ګړه
چه ئې هيڅکله خالي نه يم له خياله

ځما زړه له چا نه روغ ندَی بهرامه   دَ هر چا سَرَه مي زيست دَي له ناکامه
نوکري ځواني دا دواړه لکه بام دي   په پيري کښ له ما ولاړل دواړه بامه
اوس دا دواړه بامه ستا دِي ننداره کړه   غافل مشه يَو زمان تر صبح و شامه
پدا اوښ باندِي چه ستا کجاوه ايښې   رسوه ئې چه پرې نوزې تر مقامه
ځو دِ دا ننداره شِي شکر وګاږه   په چا ئې نه وِي دا خوښی علی الدوامه
تولا تيرا بويه په اسلام کښ   چه ئې نه وِي هغه ندَئ له اسلامه
اهل شر ته دَ شاهين منګل پيدا کړه   اهل خير وته حليم شه تر حمامه
ځو دِ توان توفيق رسېږي بيرون مشه   په هر دم دَ پښتانه له ننګ و نامه
په فرمان دَ بادشاهانو څه باور دَئ   چه بتر دي دَ قاضيانو تر اعلامه
د مغلو دولت خواه اوسه ځو ژوې   و نفرو ته ئې هم کړه سل سلامه
دَ هغه به فيروزی په جهان نه وِي   چه ئې وَخوري دَ چا مالګه کا حرامه
که دِ زړه وِي چه به پايې لکه خضر   دَ نېکئِ نوم ژوندي دي تل مدامه
ته دَ چا و جام ته هيله اميد مکړه   حريفان دِ باده نوش وِي ستا له جامه
دَ ګنګاش دَ پرخاش ښه ځوانان پيدا کړه   چه پرې چا دَ ملك و مال شي انتظامه
خوره خوروه ته[2] ساته د کار دَپاره   کامراني شِي دَ دنيا له سر انجامه
ښه سردار وَته دَ نوم خزانه بويه   که نور هيڅ ور څخه نه وِي بې له نامه[3]
ورکوَل توري وهَل دا دواړه بويه   چه پرې چار دَ سرداری شِي انصرارمه
يا تکيه دَ يوه خداي دَه يا دَ توري   په جرګو مَرَکو به نشي کار تمامه
که سردار دَ خلقو زر لَرِي هنره   بند و بست دَ عالم نِشي بې صمصامه
رخنه ګر دَ ملك په خونه کښ ماران دئ   چه ماران دَ خوني شته خوبی کدامه
که دِ نقش دَ توري کښېني راته غوږ کړه   کامروا به شې هاله له هَرَه کامه

---

[1] غضج په ابجد کي ۱۰۹۳ کيږي، له غضد شي يعنی ۱۰۹٤ هـ شي.

[2] غوټه.

[3] بې چدامه.

رعايت له رعيته سَرَه ښه دَئ | دا هاله چه بيرون نه وِي له احکامه
چه خلاف دَ حاکم کا خلاصي ئې نه وئ | رعيت په لږ گناه له قتلِ عامه
دَ خټکو نه مي هونبره زړه ناخوښ دي | چه توبه دَ همگی خټك له نامه
دَ نعمت په قدر هيڅ خبردار ندئ | نوم خټك مي به خلاص نه وِي له انعامه
دَ وفا په ځاي همه واړه جفا دَه | چه به ما ته رسيده له خپله قامه
خټك واړه ددو دام دِئ که ئې گورې | څوک به څه غواړِي خپلوي له ددو دامه
چه ئې خوښ کړي يا ئې دوست کړې لا بلا شي | دَ ددانو څه غرض له احترامه
که دَ موږه خانه نوي خټك ورک وه | دَ خواجه په نوم اصيل دِي څو غلامه
که په توره خټك خپل کړې گُندي خپل شي | گنې هيڅ نه ئې خپل نکړې له اکرامه
اول خپلي خېلخانې وته نظر کړه | چه په لاس واړو نيولي دي څه خامه
اتفاق دَ خېلخانې عجب دولت دي | په نفاق ئې واړه ووزی له آرامه
همگي شهد و شکر قند و نبات دِئ | هيڅ برهم مشه دَ ورونو له دشنامه
چه په شرم نام و ننگ سَرَه شريك وئ | په هر کار وبله نه وئ بې آلامه
څو جفا دَ خپلو وړې هونبره به ښاد شې | که دَ خپلو جفا سخته وِي مدامه
دَ گلاب دَ گلو هونبره اغزي ياد وي | څو ئې بوي راغلي نه وئ تر مشامه
ښه ځوانان به خپل هوډ پرې نږدي له لاسه | که ئې سر شِي دَ خوني مزري تر زامه
که تل توري غشي خوري ماتي دَ جنگ وړي | مرد به سوړ نشي په زړه له انتقامه
کليله دمنه به سو کړې راشه گوره | چه څه دُر مي درته توي کړه د کلامه

چه دِ زړه هغه گوهر به پکښې مومې
که پرې پوه شې له آغازه له انجامه

دَ خداي منت را بادِي چه ئې هست کړم له عدمه | بل خلقت ئې نکړم را پيدا شوم له آدمه
پښت په پښت راغلي مسلمان محمدي يم | چار دَ چاريارانو سَرَه واړه منم سمه
درست پدا پوهېږم چه څلور مذهبه حق دِئ | زه دَ حنفي مذهب دعوا لَرَم محکمه
مينه ئې په زړه کښ دَ علماوُ راکړه ډېره | مينه ئې دَ دَور دَ شيخانو راکړه کمه
نه خراباتی نه قمار باز نه زنا کار يَم | نه قاضي مفتی چه ئې نظر په څو درمه
بخره ئې دَ تيغ راکړه په اصل کښ پښتون يم | پلار په نيکه نه يم بې دولته بې حشمه
پلار مي سُور کفن وَ گورته ولاړ نيکونه واړه | ډېر خلق پرې وَمړ خون ئې ولاړ شو تر عالمه
پلار مي شهباز خان په سخاوت لکه حاتم وُ | زړه ئې دَ مزري په توره تېر وُ تر رستمه
ټينگ ولاړ په شرعه تل ئې کار وُ په رشتيا کښ | خط سواد ئې نه وُ نور دانا وُ له فهمه
څو به نيکه ستا يم يحی خان جنت ئې ځاي شه | روغ لکه يوسف وُ درست تر سَرَه تر قدمه
بل سړی که سپور وَئ دَئ پياده سَرَه به سم وُ | قد قامت ئې هونبره دَ مرانی چار پرې تمه
بل نيکه ځما ملك اکو چه په خټك کښ | دَه راوړه دا بخره دَ لوئیِ مقدمه
دېرش کالونه وشول چه مي پلار دَئ شهيد سويي | مړ کړ يوسف زيو ما هم اور کړه باندي سمه
نور پښتانه ډېر دِي خو يو زه پکښ توره يم | واخلم ورکړم بند کړم پرېږده وَوژنم تر دمه
ډېرو اولسونو غليمي را سَرَه وکړه | سر ئې راته کوز کړ هاله خلاص شول له ماتمه
يو يوسف زی دئ چه پما ئې منت بار کړ | لا په اکوزيو دَ ننگ چار دَه مسلمه

زه چه دَ غعد[۱] په کال بندي دَ اورنگ زیب شوم　　کور او خېلخانه مي پکښ ډېره وه له دمه
څو کاله بندي کړم اورنگ زېب په هندوستان کښ　　روغ راغلم تر کوره بیا ئې خلاص شوم له ستمه
هر چه زه ئې وژلم په زندان کښ هغه واړه　　وَمړل خوار شول ورک شول خالي ندي له المه
زه لکه یوسف له بندَ خلاص شوم کامراني کړم　　پاک پاکیزه زړ وم اور مي نکړه بها کمه
زوي مي اشرف خان دَئ چه خپور شوي کور پرې ټول دئ[۲]　　زه چه په بند ولاړم خېلخانه مي شوه برهمه
څلېرویشت زویه نور لَرم یودئ پکښ چه لوي دَئ[۳]　　واړه بر خوردار شه خداي ئې وساته له غمه
اوس پنځه نمسي لَرم افضل دَ اشرف خان دَئ　　خداي ئې بر خوردار کړه په ده ډېره لَرم تمه
یو مي سکه ورور دَئ چه ئې لار دَ حق نیولې　　دوه وروڼه مي نور دي یو په نم دوهم بې نمه
ځاي مي ملك پور دَئ چه ئې سراي بولي وګړی　　قام اولس مي پروت دَئ ترلکي په غره په سمه
شل زره ځوانان لَرم همه له یوه ذاته　　واړه یګانه شا په خدمت کښ راته خمه
څه شو شمشیر خان ترین که پوخ پنجهزاري دئ　　ما وته هیڅ ندئ مګر بې اُومه شلغمه
څو به دَ منصب په زور ځما برابري کا　　څه مجال دَ ګډي[٤] چه سیالي کا له ضیغمه
خوار شه یوسف زئیِ چه ترین ئې حاکمي کا　　اوس که ښکار دَ باز کانديِ هېلۍ نده ګرمه
زه دَ شاه جهان بادشاه دنَنه دَ زړه سر وَم　　چار مِي اوورنګ زېب په نادانیِ کړه برهمه
دم وهلَی نشم څوک نشم څوک مي داړ دلاسا نکا　　داغ لَرَم په زړه کښ بې طبیبه بې مرهمه
څو زره سپاره دِي سرګردانه په څو کاله　　زه که په زړه روغ وَي چار به ولي وه درهمه
سل کاله که تېر شِي دا مهم به فیصل نشِي　　دا رنګه چه کېږي ګوره څه وشي له همه
څو چه په څو کاله شمشېر خان ترین کار کړي　　ما به په څو میاشتي واړه چار ګړه مستحکمه
دا مکر فرېب چه دَ حیات ترین هنر دَئ　　کله دا دَ مرد دَي دا دَ ښځَي دَي عالمه
پوهه تمیز نشته دا فلك په سترګو ړوند دئ　　ښځه دَ خانیِ په خطاب کا مکرمه
دا انشا املا واړه چه دَي دَ شیطانی کا　　تل بانديِ نفرین اورِي له لوحه له قلمه

حال حقیقت وایم چه هر چا وته معلوم شي
زه څه شاعر نه یم هَي توبه له مدح و ذمه

حجت د ورځو شپو دَئ ته ئې و نغوږه همدمه　　که ښه فهم پرې وکړې زړه به خلاص کړې له المه
چه ورځ و شپې حجت کړ یَو دَ بله ئې صفت کړ　　وَېل ئې منتشر شول هم له مدحه هم له ذمه
شپې ووې چه اې ورځِي ځما فضل تر تا زیات دَئ　　په دا سبب چه زه یم په ازل ترتا قدمه
دوستان دَ خداي طاعت او بندګي ډېره په شپه کا　　دَ شپې سجده پقدر وِئ دَ ورځِي له قیمه
موسی وکوه طور وته له قومه تله په شپه کړل　　هم لوط په شپه جدا شو دَ بیداد او له ستمه
احمد مي له اسمانه په شپه کړله میاشت را کوزه　　معراج وته ئې تلنه هم په شپه وه له حرمه
یو څو وخته په تا کښ دي چه نمونځ دَي پکښ منعه　　زه درسته په طاعت په عبادت یم مکرمه
تر زرو میاشتو بهَ دَه په فضل و په شرف کښ　　یَوه شپه دَ شب قدر خبر واخله له عالمه

---

[۱] غعند د ابجد په حساب (۱۰٤۷) وي.

[۲] چه پرې خپور وګړي ټول شو.

[۳] نن دوولس پکښ لوی دئ.

[٤] سید راحت لیکی چه اوږد او ژغونی او زګړي.

[٥] دا قصیده په چاپي کلیات کښ نسته.

اسمان وته چه وگورې په ورځ يَو شين گنبد دئ / په شپه چه ورته گورې ښايسته دَي تر ارمه
زه شپه يم ستو پوښه عيب فاشه مي ته ورځ يې / راحت مومي له مانه ته مي پکه ئې له غمه
چه ورځې مي له شپې نه دا دَ مدح ويل غوږ کړه / په ورو ئې ورته ووې چه خوله چپه کړل له ذمه
لږ وار و ما ته راکړه چه زه هم درته ووايم / څو ته هسې گډېږې په خبرُو نا محکه؟
روژه چه مؤمنان سرې لرې واړه په ورځ ده / مجمع په عرفات باندې په ورځ دَي له اممه
اختر دَئ که جمعه دَه که عمره که عاشوره دَه / همه واړه په ورځ دَي دا له عقله له فهمه
په ورځ دَ قيامت به دَ عالم شحر په ورځ وِي / ايجاد دَ واړه خلق هم په ورځ وُ له عدمه
پما سترکی رُڼا شي دَ عالم پتا تاريکي / يادېږم په وَيل کښ رُڼا ورځ له توره تمه
ځما څهره گونه ده له اسلامه ستا دَ کفر / دَ عيد جامه د ما ده، ستا جامه دَه له ماتمه
ته په مثل دَ بادشاه يې مياشت و ستوري دِ لښکر دئ / لښکر دى تار پتار شِي چه ورځ وخېژي له همه
که پټ وي په ورېځ کښ هم تر مېاشتي نمو تېرَى کا / همه عالم خبر دَي چه زر ښه دِي له درمه
چه سير دَ گلونو دَ گلزار کا يا څوک ښکار کا / هغو وته په قطعَ نده شپه له ورځې سمه

پما کښ فريضه نمونځونه ډېر پتا کښ لَږ دي
پتا کښ ځکه حکم شو چه ته يې له ما کمه

(ى)

مخ دَ هغو تور شه چه ئې ميني نفساني دي / يوه مينه باقي ده[1] نوري کل ميني فانى دي
نس يَو کوټه سپى دئ نورڅه نکاندې خو غوارِي / هر چه ورکوَل کا هغه خير په سگباني دي
مکړه دَ نس نغوته دَ هوا په لوري مه ځه / واړه دَ نس چاري شيطاني نه رحمانى دي
زړه په چا ښه مکړه که دِ زويه که دِ ورونه / مله د تنگځې نشته هيڅوک واړه جان ځاني دي
غم دَ هغو نشته چه هيڅ نلري په کور کښ / غم کاندې هغه چه دَ دنيا په وداني دي
ما نَدې ويلي له کتابه دي ختلي / غوږ دِ باسي خلق دا خبري حقاني دي
گر دَ بدو مکړه بد کاران دَ بدو کر کا / هر چه نېکو کار دئ دَ نېکى په دهقاني دي
هر چه نېکي وکا بيا بدي ور باندي کاندي / کور دَ عمل روغ کا بيا ئې خير په ويراني دي
نشته هسي زړونه چه اخلاص لري په زړه کښ / وخت دَ آخر راغي آشنائِى زبانى دي
نه په چا کمېږي نه ئې کار دَ زياتېدو شته / نوري به ئې نکا هر چه بخرى اسماني دي
لږ عبادت وکړې نور هر گور په ځان غره شې / هر چه ډېر طاعت کا هغه لا په حيراني دِي
درست تحصيل تمام کړه پدا کله دانشمند يې / حرف ور لره بس دَئ چه عالم رباني دي
کانده به په گور کي وئ ريمن کفن آغوستى / نن دِ سر تر پايه که جامې زرافشاني دي
ما قرآن منلي چه نازل دَئ له اسمانه / نورو ته بخښلي که خبري يوناني دي

[1] د خداي مينه باقى ده.

وخورې څمللې پاڅې نه دِ فکر نه دِ ذکر
ته څه سرِی نه یې دا خویونه حیواني دي

مه اوسه بې ذکره همېشه اوسه په فکر
ذکر و فکر واړه دَ زړه کار دي روحاني دي

راغلم پدا عمر چه مي سپین دَ سر وېښته شول
لا مي دَ زړه توري هغه هسي شیطاني دي

ډېر همزولي لاړل توري خاوري شول په گور کښ
لاړل کاروانونه یو څو پاتو کارواني دي

ډېر شاهان خانان وُ چه دعوې ئې دَ جهان کړې
راشه که ئې گورې اوس په گور کښ زنداني دي

روغ کړه محلونه پکښ کښېنوه ښې جونه
مرگ به دِ ترې بېل کا نه چه دا جاوداني دي

پروت به یې په خاورُو تر سر لاندي اومه خښته
اوس که د سر وېړدي نهالی کاشاني دي

ډېر خلق ناپوه دي چه ئې ډار نشي له مرگه
خاندي هوسېږي په څو خوښ په ناداني دي

ډېر مښبود ئې وکړ دَ دنیا په ودانی
تش لاسونه لاړل نور ئې ناست په وداني دي

دا فکر و مکړه چه زه ځوان یم مرگ مي نشته
ډېر تنکي زلمي و گور ته تللي په ځواني دي

مرگ لکه یَو باز دَي په هوا وَهی کوتره
فهم فکر وکړه چه دِ بلښي طولاني دي

چا وته ویل کړم ترجمان نشته په منځ کښ
زه سمرقندي یم یاران واړه ملتاني دي

امر کړه خوشحاله په ستنه اوسه له نهي
هر چه نهي کاندِي هغه ژر په پښېماني دي

چه په وخت ئې دَ بهار عشرت په مَی دَئ
بادشاهي ئې مبارک شه لکه کَی دَئ[1]

پدا باغ کښ ډېر گلونه شگفته شِي
د َلاله غنُدي دَ چا په زړه کښ کَی دئ

چه په کور کښ ئې جار وزي یو څو کښلي
دَ هغه په انگڼ هر کله پسرلی دئ

مجنون غاو په عشق کښ وکړ زه خاموش یم
که انصاف وِئ تر مجنون مي لا تېرى دئ

هغه هوډ هغه دماغ را پاتو نشو
که زړه سوي را باندي کړي ځاي د زړه سوی دئ

خط دَي ستا په مخ که ښښې په مښك ککړي
دَ چنبې دَ گل په پاڼي ولاړ مېږی دئ

په یوسف باندي دا هونبره غوغا نه وه
خریدار ئې په لکونو یَو زلمی دئ

خدایه ته چه ښایسته له دنیا بیایې
مگر ستا هورې دَ حورو څه کمی دئ

دم، دعا، توري، تاوېز، ستانې، رویونه
چه په هیڅ کښ مونده نشي هسي شی دئ

دا خپل ځان مي چه پېښکښ کړو خپل یار ته
و سلیمان ته دَ مېږي په لاس ملخی دئ

همېشه دَ هغه سخ چه باندي وشي
تش نظر ئې په معني دَ همای پی دئ

سپینه خوله ئې و ما راکړه وئ مي موړ شوم
وئِې خواره وریه دا خو نېمریځی دئ

یار مي هسي رنگ ځائي وکړ په سترگو
چه و هر لوري ته گورم واړه دَی دَئ

که هر څو شیرین اشنا وِي چه جدا شي
په هجران ئې نور څه هیڅ نشته یو هَی دَئ

حسن، ناز، مهر، نیاز، فتنې. جنگونه
پدا څو توکه دِ کوم سړی مخی دئ

شکر دا چه نه مي یو سر کړنه بل سر
که په دوو سترگو مي ښې یار تلی دئ

که فرښتې دي که پېري دي غم ئې نشته
چه ئې غم لَره پیدا کړه دا سړی دئ

دَ غافل په سپینه ږیره غلط مشه
دا هلك غُنډي ئې لا په خوله کښ تی دئ

ما چه ستا دَ مریي والي لافه وکړه
دَ اورنگ غُنډي بادشاه ځما مریَی دئ

دا لوئي را لره بس دَه په عالم کښ
که دِ ووې چه حیران عاشق می سپی دئ

دَ هغه یاري په نه یاري شمارلې
چه ئې نن لتا خندا کانده مانی دئ

یا دا درست خلق هوښیار زه لېونی یم
یا یو زه هوښیار دا خلق لېوني دئ

---

[1] په دې بیتو کښ لفظي تجنیس دي، لمړي کي نوم د بادشاه او دوهم کي په معني دَ داغ دي.

واړه مینه ده پوهېږم چه ئې زېر کړم — عالم عالم راته ویل کا ستا زېری دئ
که هر څو ئې پوهَوم پرې نه پوهېږي — زیست روزگار ورسَرَه مه وشه څاروی دئ
یوه ورځ به نوبهار راشي بلبلي! — هونبره ډېره اندوه مه کوه که دَی دئ
چه چا دم وهلي نه شو و هغه ته — راشه گوره چه دَ چا باندي غورځَی دئ
زمانې دَ خلقو حال راته څرگند کړ — په یوه زمان دِ خپل په بل پردَی دئ
که جزا سزا ور نکړې په ځَان خاندې — چه له رایه دِ بل راي کا که دِ زوَی دئ
خو چه والوزي له ځَالي منگل سرې کا — په وَهلو آموخته دَ باز مرغی دئ
مزري توب بویه دَ تورو په میدان کښ — په خالي میدان هر یَو گیدړ مزری دئ
که دَ جنگ په کار کي ډېر دي حکمتونه — چه دَ سر صرفه و نکړي نور برَی دئ
هغه سر چه زېب ورکړي وُ افسرو — اوس ئې گوره چه دَ کوم پالېز کودی دئ
ځَان دَ پت دَپاره سېځَي هندوگیه — چه ئې هونبره همت نه وي نور سوپړی[1] دئ
په طلب ئې سر گشته په کلیو گرزم — که ئې خداي را لَره را کا یو کالی دئ
چه گوندئِ جنبې وشوې غم پیدا شو — هغه ځَاي دَ اور لمبې شي چه لوگی دئ
جال مرغونو لَره پټ په وښو یښي — په سوگند ئې باور مکړه تنولی دئ
بند په بند ئې نظر کړه خوند ئې آخله — دَ دانا دَ خولې کلام لکه گنی دئ
خاص و عام دِ طمع کا بخره به مومي — لوی واده لویه خوړه لوي ئې خونی دئ

نه یم هیڅکله خالي له یوې میني
ما خوشحال چه پېژندلي کیني او ښَی دَئ

تروخته تر پرېوته څو ښځَي پیدا کېږي — [2]څو دي په جهان واړه څلور ذاته حسابېږي
گل فامي، نېك فرجامي، ددو دامي فیل اندامي — هم دا دئ چه مي ووې پرې دِ هر څوک و پوهېږي
گل فامي دِ هغه چه نیلوفر غنُدي ئې تن وئ — له تنه ئې ښه بوي درومي بورا باندي څو خېږي
ښې غټي توري سترگي لوی باڼهٔ نرئ ورځَي — که پان خوري که شراب خوري ترمري ئېښکاره کېږي
غنچه غُندي خوله تنگه سر ئې گرد نریه پوزه — بارخو ئې لکه گل دَ چېنې سپېن نازک ځَلېږي
پلن وچولي سرې شونډي هلك څاه ئې په زنخ کښ — واړه هموار غاښونه په خندا کښ سپېن برېښېږي
ښې سپېني ډکي لېچي گرداور غوي اوږدې گوتي — هر ځَاي ته چه ئې گورې هیڅ لقب پرې نه جوړېږي
دَ تیو سر ئې تور تی ئې هلك سینه کشاده — په قد سمه ثابته سم الف شي چه ودرېږي
دَ سر وېښته ئې تور نرئ اږدې ولول ئې زلفي — په ځَان لکه باغکه[3] چه وېښته پرې نه نمائېږي
دَ سپو خڅې وېښته ئې هم نرئ په نښت شمارلي — ورنونه کوناټي ئې ښه لیدل شي چه خوځېږي
ډېر خوب لږ ئې خوراك گېډه ئې ناسته ملا نریه — آلت پکښ نامه څخه په گوته څرگندېږي
لږ قهره عقل منده کم د خوله مهربانه — ساده لږه خندا خو هم په شونډُو کښ موسېږي
گلفامه خو مي ووې، نېك فرجامه درته ستا یم — په حسن په ښایست کښ و گلفامو ته رسېږي
دا دوه توک ئې نه وِي چه بورا ناندِي څرخېږي — یا پان خوري یا شراب خوري تر مري ئې ظاهرېږي

[1] یعني نامرد، اصلی معني ئې کوني ده.

[2] وخت، پرېوت یعني مشرق او مغرب.

[3] د یوه مرغي نوم چه وزر ئې ډېر ښکلي وي.

وېښته ئې په وجود باندي هم لږ و ډېر لیدل شي
نه څړه وي نه بد رنګه په وجود ئې ښه خورېږي

خوراک په اندازه خوري خوشبوئی ئې لکه ځان وي
لږ خوب کا ډېره لانبی تل په ستر سحو ویښېږي

مَیَنه په هوس وِي خنده رویه شېوه ناکه
په اوبو په سندرو په سرود ئې زړه خوښېږي

نه غم نه دلګیري کا همېشه ترو تازه وِي
پخپلو سهېلیو مینه کا باندي خوږېږي

د خپل مېړه په بد په ښه په هر چاره ئې نازېږي
که بل سړي سره زر وِي ورته خاوري څرګندېږي

په نیت جوړه په پت جوړه ظاهر باطن یَو رنګه
دَ یار دَ پت دَپاره دَ کباب غُندي وریتېږي

رشتیا خبره هم په ډېر ضرور په ډېر ناکام کا
دروغ خو ئې هر ګز په خوله په ژبه نه جوړېږي

په خوله پاکه په زړه پاکه بې وېري بې وسواسه
په غولي په جوس ئې هیڅ ناپاکه نه تېرېږي

له ځانه ئې ښه بوي دَ ګبینه غُندِي خوږ درومي
دخول وته ئې زړه دَ خپل مېړه په رضا کېږي

تعریف دَ ددو دامو درته وکړم راته غوږ کړه
په زړه کلپه ناغسه په خبره نه شرمېږي

بد ګویه بد زبانه ډېرَ وِي لړه خبره
ځان تود بوي ئې له ځانه دَ لیوه غُندي بهېږي

مَیَنَه په چیچل وي په سکوندل وي په داړل وي
له تاوه ئې هم هر کله خښتك مښتك لنډېږي

وېښته ئې دَ سر څړه دَ تن هم څړه ګرلنډ بدرنګي
یکدله ګېډه وره په خوړولو نه مړېږي

مېوه لونګ جائفل لاچي پېدا ئې غرض نه وي
تروه ترخه شونډ موند بلا بتر ته ئې زړه کېږي

چه تا و خاربښت ور پاڅي نا قراره شي ښورېږي
که لوي وِي که هلك وِي و هر چا وته قهرېږي

نه پت ګوري نه شرم نه ئې حق وته نظر وِي
دَ خپل مېړه په غېږ کښ زړه ئې نور وته پرکېږي

د کلي د محلت ناپاکي ښځي ورته ناستي
دَ بدو بد کارونو قصې وائِي مشغولېږي

چه خپل مېړه ئې بولي ورته ځان کا لکه حیزه
بل ځان چه بد کاري کا په شل ځله نه سړېږي

زیارت میارت بانه کا دَ رنځور منځور پوښتنه
چه لاړه په هر لور شي دَ هر چا سَرَه خوارېږي

اوس غوږ باسه و ما ته مخ ئې تور دَ ددو دامو
بیان دَ فیل اندامو هم ضرور دي بیانېږي

کتِه مخ بد کولکونه ورځي پلني وړي سترګي
لوي سر وېښته ئې څړه تیره سرونه سَره ځلېږي

درست ځان کتِه لاس پښې کتِه، کتِه دَ لاسو ګوتي
بد شونډي داړه وري چه سړی ځني وېرېږي

یون دروند آواز هم دروند په زړه هم سخته ناشولته
کم مهره قهر ځنه چه بل خاندِي دا پخسېږي

هاتی غُندي خوراک کا دَ هاتي غُندي ترې بوي ځي
په عشق په محبت په مهر مینه نه پوهېږي

خواړه ماړه چه وخوري اړړمی په واره خوله کا
لاس پښې په بیارته بیارته هر ځاي پرېوزي وغزېږي

د چین او دَ ماچین په ملك کښ ډېري دِي ګلفامي
د هند په لته[1] هم خال خال په چرته څرګندېږي

کشمېر فرخار کابل قندهار څو چه خراسان دئ
پیدا کښ نېکفرجامي ډېري ډېري موندي کیږي

هیڅُ ملك کشور اقلیم له نېکفرجامو خالي ندئ
په هر لوري نوبت دور دَ دوي دي چه ږغېږي

اسمان چه ورځ و شپه قراري نکا هسي ګرزي
تر سر دَ نېکفرجامو زه خوشحال وایم ځاریږي

چه په خوا په خاطر نه هسي عیان شي
ځني څه چاري پېدا پدا جهان شي

په لاچي په څو تره وګرزېدلم
اوس مي ګښت دَ افریدیو په میدان شي

لکه باز په یو غر ګرزي په بل لوري[2]
بیا ځما نظر دَ سوات په کوهستان شي

دَ مغل منصب مي پرېښ هسي خوښ یم
لکه خلاص دَ لویه بندَ بندیوان شي

دا نادره عقیده لکه ځما ده
لا عجب که بل پیدا هسي افغان شي

---

[1] یعني علاقه او سیمه.

[2] لکه باز په یوه غره ګرزي بل ګوري.

که مي چېري ننګيالي په لاسو کښېوزي — پرې به لیري دا ځما دَ زړه ارمان شي
د مغل وته به هسي کار ښکاره کړم — چه راضي را څخه روح دَ فرید خان[1] شي
په اعوذ به ئې فتح کړم که خداي کا — په دا کار کښ که څوک ما وته شیطان شي
په هر کار چه همت وتړي له دله — که اغزی وي هغه کار ورته ریحان شي
که فرښته وي بې بدی نه پاتو نه وئ — چه قرین ور سَرَه هر کله بدان شي
چه ئې خپله پوهه نه وي ښه هغه دي — چه دَ بل سرې په پند پسی روان شي
هیڅ بهبود خبره وانورې له چا نه — بیهوده خبري ډېري تر دا میان شي
زه به نن غرض وګانده ته پرېښږدم — که د ګانده د ژوندُون سري ضمان شي
چه خندا په خوب کښ ووینې وژاړې — دَ نادانو یاري سود ګنې دا زیان شي
په یوه بڅري وسوځي درست کلي — په یوه خبره ولاړ واړه ایمان[2] شي
ساقی نن ځما په دَور جام ګردان کړه — ګوره ګانده به دَ چا دور ګردان شي
اورنګزېب بادشاه زړه ډک په لاهور راغي — ګوره ګانده به څوک وران څوک به ودان شي
لکه کښت لَره باران او باد پکار دئ — دَ عالم ټولي په خلق په احسان شي
درومه هیڅ دَ میاشت و کال خبري مکړه — هره ورځ پېرې څو شانه دَ اسمان شي
ډېر و تا وته نن لافي دَ یاری کا — ګانده ستا و سر ته کښېنې غلیمان شي
په جهان دَ ننګیالي دي دا دوه کاره — یا به وخوري ککری یا به کامران شي
دَ بازونو د کارکانو مصاف وینم — تر دا منځ به ئې دَ وینو رود روان شي
عاقبت به خداي ظفر کا دَ بازانو — تار پتار به آواره واړه کارګان شي
چه و کار ته ئې حیران دئ دا خو لږ دئ — ډېر عالم به و خوشحال وته حیران شي
چه په داغ باندِي ئې ږدي څه خو پنبه ده — نور به کوم دَ لېوني پاتو سامان شي
دَ مزریو مرنتوب په لښکر نه وِئ — مې ئې هر کله یوازي پخپل ځان شي
آزادي تر باشاهی لا تېري کا — چه دَ بل تر حکم لاندي شي زندان شي

چه په څه دِ زړه مشغول شي هغه واړه
په سلوک کښ ستا دَ لاري رهزنان شي

انبیا تر محمد پوري معلوم دئ — لکه ستوري تر آفتاب پوري معدوم دئ
مرتبه ئې تر اسمنانه دَه بلنده — دَ براق ئې دَ اسمان دَ پاسه سوم دئ
که تورات دي که انجیل دئ که زبور دئ — دا همه دَ ده په نام سَرَه مرقوم دئ
محمد ئې دَ غبرا خلقه بولي — کروبي ئې ذاکران دَ احمد نوم دئ
په طفیل ئې پیدا شوي دوه جهانه — په ما زاغ ئې و نظر وته مذموم دئ
په معجز ئې د قمر کمر دوه نیم کړ — په اعجاز کښ که پولاد و چا ته موم دئ
چه د عرش ئې په نعلینو بڼائي شوه — چه دَ پښو ئې خاوري نشول هغه شوم دئ
یك تنها ئې دَ جهان مهم آغاز کړ — دَ دښنو فکر ئې نه وُ چه هجوم دئ
بادشاهان ئې واړه ځان ګني مریونه — که دَ چین دئ که دَ هند دئ که دَ روم دئ
په افلاس کښ به دَ جهل خوار و زار شي — چه دَ شرعي له دولته ئې محروم دئ
سر ګشته دَ ضلالت په تیه کښ ګرزي — چه دښنه ئې دَ خسرانو یا دَ زوم دئ

---

[1] د شیر شاه سوري اصلی نوم فرید خان وُ، چه له مغلو څخه ئې دَ هند پاچهی ونیوله.

[2] کښلي ایمان.

هر اصحاب ئې لکه ستوري دَ هُدې دئ — دَ هدې دَ لار ښیون کاندي نجوم دئ
که خلاف ئې دَ اصحاب په منځ کښ وشي — دَ مفهومو کار هغو زده چه مفهوم دئ
چه په جنګ کښ دَ علي له لوریه ومړل — په هغه باندي ګواهی وله مرحوم دئ
په یزېد بانديِ لعنت شه په اعوان ئې — چه په تېغ ئې دَ نبي نمسي مظلوم دئ
دَ امت ئې برګزین دي اثنا عشر — په بزرګی کښ دَ همه جهان مخدوم دئ

دَ خوشحال خټك دِ حشر له هغو شي
چه دوستدار دَ پنجتن پاك چارده معصوم دئ

چه موسم مي دَ ګلونو دَ ګلزار شي — نرم نرم ترشح په مرغزار شيِ
دَ هغه له بخته څوک برابري کا — چه په هسي وخت ئې سیر په ګلزار شي
نن ځما طالع لما سرَه مدد کا — بخت دِ هر کله دا هسي مدد ګار شي
چه مي ناسته دَ صورت په هسي ځاي دَه — چه ثنا ئې په لته دَ هندو بار شي
پدا ځاي چه دَ ابدالو نظر وشو — عاقبت به په همه جهان اوڅار شي
په چمن کښ ئې اُوبه درومي رواني — په سبزه باندي نارې دَ جویبار شي
پدا هسي پاکېزه اوبو سلسالو — شماتت ئې دَ کشمیر په شاله مار شي
دَ سرِي سترګي روښانی زړه خوشحال کا — چه اوبه دَ فوارو سرَه تار تار شي
چه له پاسه نه اوبه راځي په کښته — وایې سپیني مرغلری دي نثار شي
هغه ځاي چه دَ مرمرو فوارې دي — تر غه ځاي د دې ارم تماشه ځار شي
ته به وایې دَ اسمان تنا غوزار شوه — چه اوبه ئې را رواني دَ آبشار شي
که په سر ئې دَ حوضونو څوک ګذر کا — وایې پاس په آئینو بانديِ رفتار شي
مرغاوۍ په حوضونو کښ غوټې کي — دَ محل په مخ کښ ناست دَ بازو ښکار شي
ته به وایې دَ نمرود دَ اور لمبې دي — سره لاله چه په چمن کښ انتشار شي
سه برګه ئې عجائب سرَه وودلی — فرق ئې لا د َیراقونو تر کنار شي
په اطراف دَ هر چمن شګفته شوي — دَ زنبقو دَ سوسنو هم دیدار شي
پدا باغ کښ دَ ګلونو کمي نشته — دَ همه واړو دَ چا په ژبه شمار شي
که سل برګ که بنفشه که ارغوان دي — دَ هر ګل په ننداره خاطر قرار شي
دَ هغه صانع تر صنعه صدقه شم — چه ئې هسي دَ قدرت په لاس نګار شي
واړه وني ئې اسمان سرَه سیالی کا — ولی فرق پکښ دَ ولي دَ چنار شي
په هزار رنګه نوا شي دَ مرغونو — هغه دم چه په چنارو کښ چغار شي
دَ مرغونو دَ نوا له موجه ښوري — نه له باده ښورېدنَه دَ اشجار شي
عمارت ئې ګچ وهلي پکښې کړي — په هر کور کي دَ جویونو شرهار شي
دوه سو تېر هور هروان دي بکښ طرح[1] — د سپین والي ئې تېرې په سپین چوتار شي
لطافت ئې دَ هوا تر حده تېر دَئ — پکښ روغ به دَ اتیا کالو بېمار شي
که زاړه په ده کښ کښېناستَی زلمی شوي — په هوا ئې ځما هسي اعتبار شي
دا مکان به دَ بهشت سرَه داخل کا — که رضوان ئې له نشاطه خبر دار شي
همګي صفت ئې تېر دَي تر حسابه — له همه وو که ویل کوَم طومار شي
دا بنا د آصف خان له لاسه شوې — اوس په حکم دَ خورم پکښ دا کار شي

[1] دا مسرئ په بله نسخه کي داسي ده: دوه سو تېر سور هروان دي پکښ طرح، حل غوائي.

زر اته پنځوس کلونه دَ هجرت وه
دَ نوروز په دوولسم چه دا گفتار شي

په خوشحال وُ هم دا هونبره چه ویل شول
نور دَ عقل حکم ندي چه تکرار شي

معطر مي دغه گل په بوي مشام دئ
چه جمال ئې دَ بلبل دَ زړه آرام دئ

دَ گلونو حسن ښه دَئ بلا دا شوه
چه ئې وصل په آغاز پوري انجام دئ

'دا دَ گلو خوي خصلت دَي په چمن کښ
چه راتله ئې ډېر لارغه لږ ئې مقام دئ

گله ته چه له بلبله مخ جار باسې
مگر ستا په خپل ښاېست امید مدام دئ

دَ بهار دَ سرو گلونو صفت څو کړم
ولي بې یاره هر گل دَ زهرو جام دئ

دَ اجل ساعت که هر څو گران یادېږي
نه چه سخت دَ جدایۍ تر هنگام دئ

جدائي مي به هر گز قبوله نکړه
ولي څو کړم دَ قضا په لاس زمام دئ

چه هوس مي دَ وصال په وخت وُ کړي
هجو خیر په هغه هونبره انتقام دئ

ظاهري صورت په تن سرِی لیده شم
ځان او زړه مي دي هورې چه دلارام دئ

خوب خندا مي له خاطره فراموش شه
په ویشتلو باندي خوب خندا حرام دئ

هغه خاوري تر عنبرو لا تېرَي کا
چه خوبا پرې قدم ږدي په خرام دئ

گرفتار ئې څو ځان کاږي لا ټینگېږي
دَ شهی دَ زلفو لا دَ بلا دام دئ

زړه مي بې دَ عشق له کاره نه خوښېږي
دَ دنیا روزگار مي واړه په ناکام دئ

دَ زړه درد او محبت زړه لَره بس دي
دَ آتش مي یو بڅري هم تمام دئ

عندلیب مي په قفس کښ گریاني کا
زاغ په څو په زیرو گلو کښ انعام دئ

دوه مین چه سرَه ووینې په سترگو
هم دَ سترگو په کاته کښ ئې اکرام دئ

نور عالم سرَه په خوله سلام علیك کا
دَ یارانو هم په زړه سرَه سلام دئ

اې چه طمعه دَ تور سترگیو له یارۍ کړې
دَ صحرا آهو هم کله چاته رام دئ

چه په قندو په گلابو ئې پېغور شي
یو ئې ښې خوږې ښکنځلي بل پیغام دئ

طبل څه لَره پنهان وهي له خلقه
دَ هغو چه پریوتلي طشت تر بام دئ

نور چه تل ډکي پیالې تشوي ښه دي
په یَوه پیاله خوشال خټك بد نام دَئ

تور گیسو دِ په چندن باندي ښامار دئ
توري زلفي دِ سنبل دَ نو بهار دئ

توري سترکي دِ هوسۍ دَ خطا شوې
چه و څړ وته پرتې په سنبل زار دئ

توري ورځې دِ لینده بانو دِ غشي
عاشقان ئې زخمي شوي په گزار دئ

مصفا تندي دِ ښه دَي تر بلوره
بېدلان ئې په سر ونو خریدار دئ

دغه خال چه دِ دَ ورځیو په پیوند دي
دَ خطا دَ ملك اصلي نافې تر ځار دئ

سپینه پوزه دِ غوټۍ دَ زنبق ده
چه چاپېر ترې نور گلونه دَ گلزار دئ

بنا گوش دِ نسترن دَئ غوړېدلي
دَ چنبې تر گلو به دواړه رخسار دئ

سپینه خوله که دِ غنچې سرَه نسبت کړم
دَ غنچې غوټۍ کله شکر بار دئ

دواړه سرې شونډې دِ ښې دِي تر سرو لالو
سپین غاښونه بې بها در شهوار دئ

ښایسته ځنې دي سېب دَ سمرقند ده
چه خواړه ئې تر نباتو نه بسیار دئ

صراحي دَ سپینو زرو سپینه غاړه
سیم آسا اوږې دِ هم په دغه شمار دئ

وارہ تن دِ دَ حلب تر ښیښې صاف دي
چه رازونه دَ درون ترې نمو دار دئ

سپیني لېچی دِ مصری توري تېرې کړې
چه خونونه ئې په غاړه سل هزار دئ

دَ یاقوتو نگینی دِ سره نوکونه
ځاي په ځاي دِ په اوړدو گوتو قرار دئ

چه مي ستا دَ تیو ښه ننداره وکړه
هغه کلك په لذت ډک خواږه انار دئ

دَ نامه غوټی دِ گل ده دَ گلابو
کېن اوښي دَ گلو پاڼي پرې انبار دئ

دَ نامه دي کښته دم وهَلي نشم
هم هغو زده چه خبر پدا اسرار دئ

چه وَ ملا و کوناټیو ته دي گورم
آوېزاندي پاغوندې په نري تار دئ

دَ پنډیو تر صفت دِ نه رسېږم
ولي سپیني په سپین والی تر چوتار دئ

سپیني پښې دِ د زنبق دَ گلو پاڼي
د پښو کوتي دِ گلی دَ انار دئ

تمام قد دِ په مثال دَ سبرونه
ولي سم ولاړ دِ عین دَ چنار دئ

سر تر پایه ننداره بې ځان دِ جوړ کړ
تر تا ځار واړه راښی د هندو بار دئ

ستا مثال په هندو بار کښ را ښکاره شو
دَ لوبیا دانه یوه مېر خروار دئ

دَ تېکي د دُکدکی لعل او دُر دِ
گوښي گوښي واړه کښل وته تیار دئ

ته خو ډېر مهر کوې عمر دي ډېر شه
دَ خوشحال ختك د تش مهر په کار دئ

چه بهتر تر هر نعمت دَئ
که نعمت دئ روغ صورت دَئ

چه ئې دا نعمت روزی دئ
سر تر پایه عنایت دئ

که ئې پېژني نه قدر
روغ صورت لوي غنیمت دئ

ستا د گوښي ځان یواځي
تر جهانه زیات قیمت دئ

که دِ ځان نه وي جهان وي
په عدم ئې اشارت دئ

دا جهان لکه معني شو
ستا وجود ئې عبارت دئ

چه په ځاي ئې عبارت وئ
دَ معنو هونبره قوت دئ

دَ صورت دَ خوشحالی
مدار واړه په صحت دئ

چه صحت دَ صورت نه وي
ورته خس مال و دولت دئ

رنځ په کور کښ هم بلا وي
لا څه نور څه په غربت دئ

اَس چه ورو درومي په لاري
پرېواته ځني اَفت دئ

پښه مي هسي رنگ په درد شوه
چه تېرېږي یو ساعت دئ

چه دَ سر بلا په پښو شوه
دا لا خیر خیریت دئ

پدا هم شکر بایده دي
یو بتر تر بل زحمت دئ

ما وې تېر شو ولي پوه شم
لا څه پاتو مصیبت دئ

ما وې اوس خو مهربان شو
لا ئې ما سَرَه شدت دئ

هند په ما باندي دوږخ شو
که په نور عالم جنت دئ

بندیوان ور لَره راغلم
دا یو څو میاشتي فرصت دئ

هغه شان لکه بندي وم
ترې مي لا بتر محنت دئ

هره ورځ ورتله دربار ته
گوره دا څه مشقت دئ

دَ بل حکم پرې زندان شي
چه پر خپل حکم عادت دئ

نه شیرین خواږه یاران شته
نه دَ چا سَرَه صحبت دئ

نه خپل ورکړل را نیول شته — نه خپل حکم حکومت دئ
نه دَ ښکار هوا هوس شته — نه دَ نورو مصلحت دئ
یو په بل پوښتنه نه کا — هسي ښهر بد خصلت دئ
په شماره یو څو سړي دي — چه ئې جوړ را سره نیت دئ
یو اکبر په غم شریك وُ — هغه هم پخپل عشرت دئ
که بادشاه دي که خانان دي — را ښکاره ئې حال حالت دئ
دَ هیڅا برکت نشته — ځان ځاني شوه قیامت دئ
ما چه دا قصیده ووې — په ډهلي مي اقامت دئ
څلورمه دَ رجب وه — زر اُوه اویا هجرت دئ
نور څه مه وایه خوشحاله
که څه وایې قباحت دئ

تور وېښته ئې ندئ په وړو کوڅو اودلي — واړه ښاماران دي په چندڼ باندي ختلي
سترګي وروځي ندئ نه مژګان نه ئې زلفیني — دا ئې و دعوا وته فوځُونه دِي تړلي
سپین بارخو ئې ندي نه خولې پرې برېښېدلي — ګل دَئ دَ ګلابو دَ سبا پرخي وهلي
تنګه خوله ئې نده چه ئې نه وینې په سترګو — درج دي د ګوهرو لعل و دُر پکښ ساتلي
هیڅ په منځ کښ نشته چه ئې وینې په سترګو — واړه ئې دَ سترګو په جادو زړونه وکښلي
دوه سترګی ئې هسي چه څو مېنی پرې تاراج شو — خداي ږو چه آخر لما به لوټ کاندي ګټلي
وګوره و ما ته دَ شهسوارو روش دا دئ — نښي[١] ته نظر کا بیا له پسه نښه ولي
ځیر چه و جمال ته کتي نشم سبب دا دي — ځیر مي هیچا ندئ و آفتاب وته کتلي
ستا دَ ور احرام مي ستا دَ مخ په نیت تړلي — ندئ بې مقصوده و کعبې وَته څوک تللي
تل که دو دسته تندي وهي څه فائده ده — ستا دَ عشق په غم کښ عاشقان په زړه نتلي
دا خبره مکړه چه ځما له لوریه واوره — هر چه راته وائې نور مي واړه دي منلي
څه به دِ په یاد کړم څه منت به په چا بار کړې — ووایه چه څوک دِ په ښکنځل هم دي نمنځلي
پند وایم و تا ته ګله نه کړمه دا ښه کړې؟ — ستا په سر چه لوړي هغه تا له وَر رټلي
ما سره دِ نیت که د اخلاص او یاری ندئ — تش لباس خو شته دي تا څه لږ ندئ غلولي
تل که هسي مېني په اغیار کړې لکه اوس دي — تل به دِ په کوز وي دَ خپل یار مغل ختلي
ما سره که تل جنګ و غوغا کوې پرې خوښ یم — مرم چه رقیبان به دِ اوربل کاندي په کلي
مره ئې دَ غمزې په تېره تبغ څه هونبره ندئ — یا ئې چه څوک ښخ کا یا ئې روغ کاندي څوک څلي
کوک په کوک که ژارم ستا په کوي کښ عیب مکړه — درد چه بې دوا شي خو نارې وهلي ویشتلي
خال دَ نیلو کښېږده چه په ګلو باندي پېر کړې — اور دِ ډېري سترګي لور په لور په یوه کښلي
یَو دِ ستا دَ مخ غُندِي هم څوک راته ښکاره کا — هر چرته په باغ کښ که ډېر ګل دي غوړېدلي
خداږو زه به هیڅ بلا و تا وته پرېښږدم — چېري په جهان که یَو دَ بل بلا اخلی
ځار ئې تر همت شم چه ئې ستا دیدن اولجه کړ — ستا په ور چه ناست دي په سپېرو ایرو لړلی
سترګي دِ ګواهي په نوي خون لي دَ خوارانو — په دروغه بهانه کړې چه شراب مي دي نوشلي
نه زړه لرم نه دین لرم نه صبر شته نه عقل — دا کل واړه لا کله په ښه مخ دِي ما ښندلي
خوبا چه دَ رنجور په بهانه میل وهي په سترګو — امداد کاندي دَ سترګو چه که ښې له زړونو نښلي

---

[١] نخښي.

خوبا په آئینه کښ چه خپل ځان وته نظر کا
حساب غواړي له مخه چه د زړونه دي لوټلي

دَ شونډو په ارمان ئې ځما ځان په شونډو راغي
چه مرگ کا دَ حیات اوبه چا هم دِي اروېدلي

دا څه شعر ندئ چه خوشحال خټك بیان کړ
واړه لعل و دُر دِي دَ بیان په تار پېیلي

په ځان او په جهان کښ ما دوه څېزه دي وکښلي
په ځان کښ دواړه سترگی په جهان کښ واړه کښلي

دَ زلفو په هوا ئې بې خودي ځما نصیب شوه
له ځانه له جهانه تل بېخود دِي مار خوړلي

د کښلیو په جمال په نندارہ کښ ما خداي بیا موند
لږ ندي له مجازه حقیقت ته رسېدلي

ښه مخ وته چه وگورم په دوه سترگو نه مړېږم
دَ تن وېښته مي واړه وازي سترگي دي ختلي

سیه دل دَ محبت له سوزه سازه خبر نشول
په کار دَ پتنگانو مچان ندئ پوهېدلي

دَ هغه خوني له تېغه دَ خلاصی فکر و مکره
چه دَي له ناترسیِ زړه وکاږي دَ وژلي

دَ خداي ملامتونه گوښي گوښي تهمتونه
په عشق کښ له وگړیه ما څه لږ ندئ زغملي

ښه مخ په مثال گل شو زړه ځما لکه بلبل شو
شیدا بلبله هر چرته چه گل دي هورې ېلي

مدد وکړه دَ وینو دَ ژړا په وخت اې دله!
نور اوښي پاتو نشوې چه ډېر ډېر مي دي ژړلي

دَ شعر څه ثنا کوم چه دَي حیض الرجال دي
بد کر کا چه له ده نه ډېر زیانونه رسیدلي

که شعر ته نظر کړې پخپل اصل کښ بد ندئ
بد دا چه څوک په شعر کښ ویل کا نا پسندلي

چه چا دَي شعر کړي بې مېزانه بې عروضه
دا هیڅ شاعري نده یو څو سپي دي ټمبېدلي

پارسي شعر مي هم زده سلیقه لرم دَ واړو
پښتو شعر مي خوښ شو هر څوک خپل گڼي ښاغلي

په وزن په مضمون په نزاکت هم په تشبیه کښ
پښتو ویل مي عین تر پارسي دِي رسَولي

پښتو ژبه مشکله، د دې بحر مونده نشي
هم ما لَره یو څو بحره په ډېر مښود راغلي

له چا نه په پښتو کښ ما میزان لیدلي نه دئ
میرزا پدا زبان که ویل کړي وي تللي

مخزن مي دَ اخوند په تمامي په نظر کښېوت
پده کښ نه عروض شته نه ئې بحر ما موندلي

دانا به پرې پوهېږي دَ ناپوهو کار پرې نشته
دا دُر چه دَ بیان په تار خوشحال خټك پېیلي

کذاب دي که دا شعر لکه ده پښتو بیان کړ
که هسي وَیل اوس شِي یا پخوا دِي چا ویلي

د شعر په ویلو ډېر خوښ نه یم ولي څو کړم
چه زړه مي بې اختیاره کله کله ورته زغلي

په شل کاله کښ دېگ ځما دَ شعر په اوربار شو
پدا دَور مي پوخ کړ چه شپېته کاله مي تللي

حاسد مي که په شعر له حسده گوته کښېږدي
چه دَي مومي له شعره واړه ده وته بخښلي

دَ شعر په وَیل کښ که مقصود لَري هم دا دئ
پدا بهانه گُندِي چېرې یاد کا نازولي

په تور کسوة کښ پټه رنگینه معني وگوره
زر شو یو مي سره زر له تورُو شگو دِي یستلي

دوه بحره دوه مطلع لَري که دا قصیده گورې
زر یو اتیا کالونه په صفر کښ ما ویلي

هر احمق چه په دنیا خاوند دَ جاه شِي
نور وتلي ځني نشي جاه ئې چاه شي

په وَیل دَ مرسلانو نه گروهېږي
دَ فرعون او دَ نمرود غُندي گمراه شي

دَ دنیا دَ مال او ملك هغه لایق دَئ
چه سلیمان غُندِي ئې خوي شي که بادشاه شي

خو که ډېر عیب لَري عیب ئې پټ شي
آس که لږ عیب پیدا کا دَ پایگاه شي

سپین چوتار دِ ځَان ساتي له توره ټکیه
دَ ماش رنگو عیب کوم دَي که سیاه شي

دَ عسل خواړه مچی زده نه چه مچ زده
چه عسل وته نېژدې شي نور تباه شي

بدان سل بدیِ کا پروا ئې نه وِئ   په یوه خطا نېکان په غم په آه شي
د نېکانو په خطا عفوه لازم ده   دَ بدانو چه گناه بخښی گناه شي
پند هوښیار وته پکار دَئ و نادان ته   چه دَ نېکو نصیحت کړې لا بدراه شي
درست جهان ئې که نېکخواه شي سود ئې کوم دئ   دَ هر چا چه خپل خصلت دَ ځان بد خواه شي
دَ کلاه لایق یا باز دَئ یا شاهین دئ   پدا څه که دَ کارگه په سر کلاه شي
هر جولاه په تنسته کښېنی څه وویې   نه خاسه وودل په هر یوه جولاه شي
په زرگونو پکښ کښېناستل ترې ولاړل   گوره ځای به لا دَ څو وُو دا خرگاه شي
دَ یوسف غُندې په خوب بنده عزېز کا   محمد وته دَ غېږې تار پناه شي
سببونه ئې په غم کښ اندوخته شته   مبتلا دِ دَ اندوه پدا آگاه شي
رنځ محنت چه په سرې باندې ور درومي   دا پدا چه اوده نه وِئ انتباه شي
دَ عاقل صحبت عاقل لَره راحت دَئ   دَ جاهل سَرَه ئې ناسته په اکراه شي
دَ هغې مځکی نه لیري لیري گرزه   په هغه مځکه چه تل زهر گیاه شي
اعتماد په رفیقانو پاتو نشو   یو دِ مال و ملك تالا که نور گواه شي
دا مستي دَ خرابات په منځ کښ نشته   دا مستی لکه په منځ دَ خانقاه شي
دا کوتاهي پائڅې هاله پکار دِئ   که ئې لاس دَ بدو چارو نه کوتاه شي
شپه دَ هر چا عیب پټ کا چه بېگاه شي   تور و سپین هاله څرگند کا چه پگاه شي
دَ سړي قدر قیمت په اعتبار شي   چه خواره ور ځنی ولاړل گنی کاه شي

دا غر غر فکر چه ته لرې خوشحاله
ستا به کومه چار تر سَرَه په بېگاه شي

که په زړه کښ مي دَ یار مهر وفا وَئ   کله دا رنگ به نصیب خواري ځما وَئ
زه چه هونبره پسي ژاړم خلق خاندي   دریغه مخ ځما دَ یار لیدلی چا وئ
چه مي وَویني غوڅه غندي ترهېږم   که په خوي را سَرَه لږ غُندي آشنا وَئ
دَ هجران شپه مي یلدا شوه نه تېرېږي   یا په خوب څه خو اوُده شوی یا سبا وَئ
دَ دوری اندېښنې له منځَه ولاړَې   بیا دَ یار په مخ مي ذوق او تماشا وَئ
تر نقاب ئې مخ ښکاره کړلي و ما ته   دین دنیا مي ورته واړه رونما وَئ
هوښیاری دَ دنیا مال دولت دَ نورُو   چه ملنگ دَ مسلې شوم خو هم دا وَئ
اې چه وایې ښیښه ما ته کړه پارسا شه   ښه وَیل کړې دَ بهار په وخت پارسا وَئ
دَ شرابو جام په لاس توبه په شونډو   یا یك لخته لایعقل وئ یا تقوا وَئ
دا کشور له سر تر پایه کفرستان شو   یا مي ځَاي کړې غاړې غرونه یا غزا وَئ
نه به سپك نه به بدنام نه به بدبوي وُ   که بورا غُندی گونگټ په گل شیدا وَئ
د رقیب دَ مرگ آواز وشو په کلي   سخ په دا ساعت که دا وَیل رشتیا وَئ
خوږه خوله ئې دَ خوږو شکرو خوان ده   پدا خوان باندې زه وږي یك تنها وَئ
سونتي مي به د نورو هونبره نکړه   که په ما باندې نظر مهر د تا وَئ
دَ کاکلو تر نافې به ئې خجل شوه   که حاضره اوس هوسیه دَ خطا وَئ
د شندي د نرگس فرق به سره نه وُ   که گلونه دَ چمن واړه زیبا وَئ

همېشه دِ مخامخ ورته ښکنځَل کړَې
دَ خوشحال خټك و تا وته دعا وَئ

تجربه شوه راته چار دَ باز داری   سررشته ده دَ تمامي مير ښکاری
په ورو ورو ئې مزي ليره کړه له سترګو   چه ونه پرکښېږی باز په هوښياری
په سبا بېګا ئې تل په غوښه بوله   هم په غوښه ئې کار کړه دَ تياری
په تاوده منی اول چه په لاس راشي   هغه باز ته ور کړه څو شپې بيداری
چه تمام تناب په غوښه ښه تيار شي   بيا دَ چرګ سَرَه ئې کار کړه دَ ياری
درې څلور چرګان چه وخوري نور پرې ښکار کړه   يَو يَو لاس ئې سيروه په دلداری
په طلب په ښکار ئې هسي رنګ تيار کړه   چه ئې نه وئ کج خلقی نا همواری
که څلوېښت لاسه يکه يکه ښکار وخوري   هغه باز لَره به ور نشي خواری
په ساړه ژمی که باز راشی په لاس کښ   فکر مکړه دَ هغه دَ تياری
تمام ژمي ئې ساته په تماغه کښ   په هنر کړه په پسرلی دَ باز داری
باز که دي خانه ګرېز دئ په ساړه   کله چوز پېڅی دَ ژمي دشواری
ګرم ځاي ساته بازونه چوز په ژمي   په ساړه مومي په ژمي بيماری
له لوګي نه له ساړه نه له غارمه نه   څو پتا شي باز ساته په بې شماری
هر باز دار چه باز خيرن کړ دَ سزا دئ   په سزا ئې کوتك مار و ګماری
باز چه ښه وي ښه بازدار ور لَره بويه   جګي جګي په بد کس ئې مه سپاری
تغدری[1] دَ باز معراج دَئ چه پرې سېر شي   په کلنګ په قاز ئې هيڅ مه ګزاری
دَ چوز باز صافي ضرر دَه صاف ئې مکړه   دَ انار اوبه پرې خوره په نهاری
پرمهره دَ دارچيني سره ضرور ده   هم دِ تل کېږی دَ باز طعمه داری
باز نه څورب نه ډنګر په مقدار ښه دئ   کج خلقي واخلي دَ ګوشت په بسياری
باز چه ښکار خطا کَوِي ګناه ئې نه وئ   دا ګناه دي دَ باز دار دَ بد کاری
ښه باز دار به ښه کرېز و باز ته ورکا   بد باز دار لَری څو رنګه بېکاری
دار چيني زعفران چه دوي سَره پاخه کا   په کرېز کښ دَ غوا غوړ دارو شماری
باز چه صاف کړې په کرېز کښ بيا ئې واخله   بې پروا مشه دَ باز دَ غمخواری
د ستکښي طعمه داري شب بيداري ده   دا درې توکه دِ دَ باز د همواری
همېشه دِ ئې له حاله خبر دار وئ   چه بازونو سَرَه کاندي څوک ياری
ښځه باز په يَوه خوي سَرَه پيدا دي   ځني مه غواړه هر ګز وفا داری
دَ باز ښکار دِ ملوک کله کله کاندي   هَرَه ورځ ئې دَئ خلل دَ سرداری
مخ په ښځو يا شراب يا چه ډېر ښکار کا   دا درې توکه دِي دَ مرد هرزه کاری
څه خو صبرِ سقوطري دَ وخته ورکړه   که خطا کا باز طعمه په بد خواری
د دومي علاج ئې تريخی دَئ د يَږی   خو هم دا دارُو و باز وته څاری

نه تمامه باز نامه نه دا دېرش بيته
که ئې ياد کړې دَ خوشحال دَ ياد ګاری

مخ تور دَ کاسيرئ چه دا کار دئ شيطاني[2]   خوښی دَ يوه درنګ دَ همه عمر پشېماني
کاسير سړی هغه وِئ چه ئې نه وِئ عقل پوهه   يا دي په ذات په اصل کښ پيدا وِئ نقصاني

---

[1] محشی څاړی ترجمه ورته کښلې ده.

[2] دا قصيده په چاپي نسخو کي نسته.

شهوت بده بلا ده چه پدا بلا قادر شي
همدا ده که ئې ګورې دَ سړی پهلواني

دَ بدو همراهانو په صحبت کښ سړی خوار شي
يا غل شي يا رهزن شي يا بنګي قمار زاني

په ملك ورځني تبنته بد همراه دِ هغه کس دئ
چه ستا تر فهم ښې کا بدي چاري نفساني

دا دوه سړي غليم دئ دَ هر چا په حقيقت کښ
که فهم فکر وکړې جګي بد تر غله زاني

چه نه پسندې پخپل ځان هغه مه پسنده په بل ځان
هم دا ده که ئې ګورې په صحي مسلماني

چه بل وته نظر کا يا آواز دَ بل غوږ باسي
دَ ښځې زنا هم دا ده نور پرې کړه بد ګماني

سپيه چه سپېمې شي سپیَ خپل ځان لَره پيدا کا
څه سود که بده ښځه په ديوال کړې زنداني

چې مور بد کاره نه وئ لُور ئې کله وران کاري کا
دَ مور له ځانه راوړې لور دَ خوني ويراني

که ګډه په بازار شي په کوڅه کوڅه جار وزي
دَ پاکو پاکدامنو ستر جوړ دَئ رباني

چه پاکه پاکدامنه په حيا په دين مَيَنه
دَ مرد په کور کښ کښېنی مرد دِ کاندې کامراني

چه بې خپله حلاله ځان و بل وته برمنډ کا
دَ مرګ دَه هغه ښځه نور ئې څه زندګاني

څو ځيزه په ميراث دې زه ئې وايم له کتابه
زحمت دَ موېښی[1] بوي دَ تخرګ قلتباني

که هر څو خطا ويني بيا خو ښه پرده پوښي ده
عطا په خطا بويه سهوه کېږي انساني

نيکانو سَرَه زيست روزګار په مهر محبت کړه
بدانو سَرَه زيست روزګار هم بويه لساني

چه عقل شعور راغَي بده چار شوه راته بده
افسوس په هغه چارو چه به شوې په ناداني

خوشحال که نبي ندئ نصيحت خو ئې خوار مکړه
الهام دَئ چه ئې وايې دا کلام په افغاني

لاري دِي بې شماره هر ديار لره ور درومي[2]
تلي په هغه لاري چه خپل يار لره ور درومي

څوک ئې بې رېباره پخپل بخت کا ور کناره
څوک په زړه ورژلي وَ ريبار لره ور درومي

سل جشنه نوروزه تر هغه ساعت ځاريږه
هر چه دلداده عاشق خپل يار لره ور درومي

څو رنګه نافې ئې په هر چين کښ دي د ځينو
خلق په نا حقه چين تاتار لره ور درومي

نور عالم ئې واړه وار په وار په ځان مين کړ
اوس په شين شين پرهيزګار لره ور درومي

زړه مي دَ دلبرو تورو زلفو هوس کا
ګوره دا په ځان خوني نور مار لره ور درومي

مرم دَ خداې دَ پاره په شتاب شتاب را درومه
چيري هم طبيب ورو ورو بيمار لره ور درومي

ځم دَ يار په لوري په هوا هوس خوښي کړم
ذوق کاندي بلبلي چه ګلزار لره ور درومي

سخ دَ هغه لاسو چه په سپين مَروند ستم کا
سخ دَ هغو غاښو چه رخسار لره ور درومي

مخ ئې ور ښکاره کړ دَ زاهد زهد ئې يووړ
بيا ئې ځني تاو کړ بل ناتار لره ور درومي

سخ دَ نا پوهانو چه هيڅ غم اندوه ئې نشته
هر چه څه غمونه وئ هوښيار لره ور درومي

تش لاسونه ووزي دَ بازار له نعمتونو
هر چه کيسه تشه و بازار لَره ور درومي

هر څوک چه طلب کا پته نده دا خبره
هر کله مطلوب و طلبګار لره ور درومي

وايې چه هر دم په خوږو زړو کا پرهارونه
زخم زخمك چه و هر تار لره ور درومي

نور جهان سقر شو باندي سراي دارالقرار دئ
کله به خوشحال دارالقرار لره ور درومي

سل فکرونه وکړه تر دا نشته بل ښه فکر
چاري واړه خداې کا کار اختيار لره ور درومي

ويښ اوسه خوشحاله ما ليدلي دِي ډېر غلونه
کور دَ اُودو ډوند کا بيا بيدار لره ور درومي

---

[1] مرض دَئ چه په مقعد کښ چنجي پيدا سی او خارښت کوی.

[2] دا قصيده په چاپی نسخو کښ نسته.

نشته هیڅ یو تش جنجال دَئ پدا منځ کي[1] / خالی بحث او قیل و قال دي پدا منځ کي
چه په مکر دَ وېښته دَ پاسه درومي / شل په دواړه پښې یَو زال دي پدا منځ کي
دَ یزید دَ شمر نه نه دَ حجاج دئ / دَور دَور دَ دجال دي پدا منځ کي
نه شراب شته نه گلاب شته ښیښه ډکه / قاروره که څه تمثال دي پدا منځ کي
دښمنی له واړه سر وَهِي له ډاگه / دَ آشتِی کار محال دي پدا منځ کي
گوره څو کلې به پرېوزي دواړه لوریه / زید و عمر اختلال دَي پدا منځ کي
سررشته دَ چاري هیڅ نده معلومه / خو هم هسي غول او غال دَي پدا منځ کي
یو څلور پنځه خو وشول څو به وشی / یو یو کوټه په هر کال دئ پدا منځ کي
چه ئې کاندي چه ئې وینم چه ئې اروم / دَ هر چا مکر ټېتال دي پدا منځ کي
دا واړه واړه خو ډېر مي دِي لیدلي / دَ کټو کټو زوال دي پدا منځ کي
دروغجن چه هوښره ندئ پدنیا کښ / دَ رشتینو څه مجال دي پدا منځ کي
آواره نوره گټنه تلف مشه / چه گټلي ملك و مال دي پدا منځ کي
چه ئې هر چرته څکوي ور پسې درومي / یو عجیب شتر مثال دي پدا منځ کي
خر یې پاسه دَ سرِیو په سر گرزي / شل په دواړ پښې دجال دي پدا منځ کي
دَ ټټوانو بیعه ښه کا تر آسونو / نا دیده گنده دلال دي پدا منځ کي
یَو به سله سل به هیڅ که یو سری وئ / کومه گران کومه اشکال دي پدا منځ کي
چه په چا دَ نصیحت وینا لگېږي / دا یو خوب دي یَو خیال دي پدا منځ کي

پښتانه مغل هندکي واړه هوښیار دي
لېونی خو یو خوشحال دَي پدا منځ کي

دوهم ټوک تمام سو

---

[1] دا قصیده په چاپی نسخو کښ نده راغلې.

دریم تھوک

رباعیات

الف

که واړه خلق ثنا دَ خداي کا
نور هر څه پريبږدِي خودِ هاي هاي کا
ثنا ئې ډيره دَه تر حساب تېره ده
څوک به ئې کومه ثنا په ځاي کا

دَ باغ گلونه عجب نماي کا
ځني غوړيږِي ځنې آي آي کا
سوسن ته گوره په هونبره ژبه
بې حرف و صوتَه ثنا دَ خداي کا

ته قهقه خانده عاشق که غم کا
غم کا بې تا نه تل تل ماتم کا
يوسف که هر څو څه ښه نومېږي
باء به ئې چېري له تا عالم کا

فلک کجرو دَي کارونه کج کا
دانا په غم کښ نادان فرج کا
دَ صافو ميو پيالې دروَ څښوِي
بيا په کښ هونبره خمار مزج کا

لقمه حرامه نطفه ناپاک کا
فرزند چه وشي چاري بې باک کا
تقویٰ په دواړه کَونَه لوي کار لَري
په هر هر کار کښ خوا فرحناک کا

یَو موتي خاوري زیبا صورت کا
زړه ئې کڅوړه دَ معرفت کا
گویا ئې ژبه په خپل صفت کا
بیا ئې له خاورُو سَرَه لت پت کا

زر دئ چه زېرمه دَ ننگ و شرم کا
صحبت دَ هر چا وَ بله گرم کا
ډېر گران کا رُونه په زر آسان شي
زر په فولاد کښېږدې فولاد هم نرم کا

ژړا خوشحال لَه که تل دا دود کا
چه پېچمي ستا په مینه مښود کا
چه را ښکاره شِي په خوب و خیال کښ
دا بڅن زړه مي په دا هم سود کا

شیخان چه هسي اوړده نمنځونه کا
پکښ باغونه آسونه جونه کا
پکښ رنگین رنگین گنډي وریښمین سکني
پکښ دَ سپینو دَ سرو گنجونه کا

شوده چه رغاندي ثنا دَ دوغ کا
هر څوک پوهېږِي چه دا دروغ کا
فرق دَ وَيلو خبرو ډېر دَي
وکيل چه بد وِي روغ کار ناروغ کا

که بد خواهان دِ ښېرې غوغا کا
لا دِ ئې ډېرِي په هر سبا کا
خوشحاله غم دَ ښېرو هيڅ مکړه
سل که ښېرې کا دوه سو دعا کا

ورَځ چه کږَه شِي خداي دِ امان کا
دا هسي فضل مگر سِجان کا
چه لکه سَمَه وه بيا هسي سَمَه شِي
فکر دِ هر څوک سَرَه په ځان کا

چه کښېني ستا نه دَ زلفو راز کا
هغه دِ فکر دَ واږو دراز کا
که هر څو ناز کړې ناز به دِ زه وړم
دَ کښلو دود دَي په عاشق ناز کا

چه طبيبه ئې دَ زړه په زور کا
دارو ئې درد شي ځان دِ پېغور کا
دَور څه نور شه که څه بلا شوه
دَ شهسوارِي لافي خر سپور کا

هوښيار پخپله ورته ځان پَړ کا
نادان ورځي په قاصي غړبړ کا
که دولتمن وِي چه نا انصاف وي
په وړاندِي وروستو ځان دَ کپړ کا

مردان نن جنگ کا آشتي سبا کا
چه سره کښېني صلح و صفا کا
څو ئې ژړا وِي هونبره خندا وِي
څو ئې جفا وي هونبره وفا کا

ځني يوه کا ځني دوې درې کا
په انځورنو کښېدې سرې کا
دَ دنيا خلق ياري ياري کړي
چه سود ئې نه وِي ياريِ پرې کا

ما ډېر ليدلي دِي چه نرد شطرنج کا
ځني شطرنج کا ځني صد رنج کا
ځني نتلي دَ دو و يک دِي
ځني ذوقونه په شش و پنج کا

څو دِ زړه خاندِي خوله دِ خندا کا
چه زړه دِ ژاړي سترگي ژړا کا
مدار دَ هري چاري په زړه دَي
زړه دِ مفتي دَي هره فتوا کا

هندو دَ قندو وزن په تلو کا
خوشحال ئې گوره تر لب وتلو کا
شکري وخوري مزه ئې ولاړه شِي
خوړې خبري لذت تر تلو کا

وخت دَ قيامت دي خدر له هر چا
پرېکړه خوشحاله باور له هر چا
وروڼه که زويه دَ خپل غرض دي
پکار کښي يشي ټټر له هر چا

دا پند دِ هر څوک سَرَه سند کا
هوښيار به نه وِي چه څوک حسد کا
همراه چه ښه وِي بد سړَي ښه کا
همراه چه بد وِي ښه سړي بد کا

چه له حرامه سړَي نفوت کا
خداي به ئې اَرت حلال نعمت کا
هونبره به لوئي مرتبې مومي
چه دَ نېکانو سَرَه صحبت کا

خوشحال چه تشه مینه په بل کا
تر خلق به پورته خالي وَیل کا
خدا ئې ور پرېږده یَو هسي یار لري
په قهر راشي روته ښکنځل کا

په باغ کښې خلق په میوه شخوند کا
په خوله کښې هَره مېوه خپل خوند کا
ترخه هم ښه دِي په دا جهان کښې
دَ خوږو قدر ترخه څرګند کا

لوئي هغه ده چه لوئِي خداي ورکا
لوئي هغه نده چه ئې کتخداي ورکا
لوئي له خدایه ده نه له همایه ده
دَ خداي په حکم سیوري همای ورکا

په ګل چه هونبره مینه بلبل کا
سېل دَ بلبلو باندِي غلغل کا
دَ ښایسته وُو عاشقان ډېر دِي
عالم به ولي هیداد دَ ګل کا

ډېر ډېر فکرُونه چه آدمزاد کا
عقل ئې ولاړ شِي جنون بنیاد کا
چه ډېر دروغ وائي فسق فساد کا
خپل ځان پخپله په بلا یاد کا

قابل که تښتي دولت ته شا کا
دولت ئې مخې وته راتله بیا کا
بدر هلال شي هلال شِي بدر
په کم وکاست کښ کله پروا کا

خاص به له عامَ اختلاط کم کا
که کا بد کار کا په ځان ستم کا
پړانګ چه ګیدړُو سرَه جار وزي
خپل ځان پخپله له ګیدړُو سم کا

ځوک چه له خلقه شور و غوغا کا
ناپوه حریص دَي هغه چه دا کا
چه عاقلان دِي چه صابران دي
هغه به کله جنجال له چا کا

هوښیار به مینه په ورمونو زیاته کا
ورمونه وایم که ځوک مخ راته کا
محتاج دَ نورو نورو نغریو شي
سړَي چه خپله کټَوه ماته کا

مخ چه په پسول سرَه و تا ته زېب کا
ګنهه یو ټګ وي مکر فرېب کا
مخ هم هغه ګنهه چه پسول ئې نه وي
تاخت دِ په دین و په دل شکیب کا

عاشق دِ هیڅوک ملامت نه کا
زړه ئې خپل نه دَئ ویل دي څه کا
اور ئې دَ عقل په خونه ولګي
چه دَ دلبري سترګي تر زړه کا

قاضي چه اُوم وِي بې علمه کار کا
هم خپل ځان خوار کا هم خلق خوار کا
غلط غلط لولي خطا خطا وائي
وسل لعنت ته خپل ځان تیار کا

شیخان چه هونبره بندګي طاعت کا
که اجر غواړي څه قباحت کا
هغه بنده به نابود بنده وِي
چه به په طمعَ دَ ښتن خدمت کا

احمق چه وپوښتي خپل زړه زبان کا
په وَیل ګډ شي وَیل شان شان کا
هر چه په زړه کښې څه نېک و بد لَرِي
هغه به واړه ورته بیان کا

ګل چه په باغ کښې جامه رنګینه کا
څو چه تازه وي بلبل پرې مینه کا
په ښه صورت سَرَه په ښه نګهت سَره
ګل دَ بلبلي مینه متینه کا

وګړي واړه کارُونه خپل کا
مردان هغه دِي چه کار دَ بل کا
څوک چه آرام ګټي دَ نېکو نام ګټي
دَ خوږو زړونو دارُو به تل کا

ځني په علم ګردن دراز کا
ځني په زهد په شيخي ناز کا
ما سر نيولي دَ عشق په کار دئ
ما دِ پدا کښ خداي سرافراز کا

سيلاب په څو خاشکي غوبر پيدا کا
بنياد ئې نشته غړ پړ پدا کا
چه لوي وي نور ئې صفت ثنا کا
درياب چه لوي وِي کله غوغا کا

چه خاندِي نورُو وته کتَل کا
ژاړه خوشحاله دا خوي که تل کا
سترګي ئې نه دِي دواړه قصاب دِي
چړې په لاس کښ واړه کُتل کا

بې له بندگۍ دِ بنده نور هيڅ نکا
په لړ په ډېر دِي له ښتن پيچ نکا
که ئې و مرگ ته په قهر وکاږي
بنده دِ تېښته دَ ښتن له قليچ[۱] نکا

چه طبيبان مي دَ رنځ درمان نکا
رنځ مي که ډېر شِي بيا دِ ارمان نکا
کفر که گورې فرمان دَ نفس دي
مؤمن به هيچري دَ نفس فرمان نکا

که څوک پيدا شي چه عدل و داد کا
غوږ دَ درمنو په داد فرياد کا
چه مقرب دِي عرض ئې لگېږي
عمر ئې ډېر شه خوشحال دِ ياد کا

توره چه بيا مومي غازي غزا کا
توره چه نه وِي غزا ته شا کا
توفيق له تا نه تقوا له ما نه
توفيق چه نه وِي څوک به تقوا کا

---

۱. يعني توره.

يَو چه رشتيا کا دويم دروغ کا
عجب که کار په دروغو روغ کا
رښتيا غوړي دِي دروغ متياځ دي
چراغ په غوړُو سَرَه فروغ کا

ځان به په قدر هغه فرزند کا
چه چاري واړه دَ پلار پسند کا
روش ئې واړه دَ پلار روش وي
خپل نوم تر پلاره تر نيکه بلند کا

چه ډير دخول کا يا ډير خوراک کا
چه ډير وَيل کا ځان به هلاک کا
دخول ډېر خر کا خوراک ډېر ستور کا
په سړي هوښ کښ دِ سړی خپل ژواک کا

لينده هغه ښکوه چه مټ دِ خوږ نکا
ښځه هغه کوَه چه زور دِ لږ نکا
دَ هغې غوښي کباب په خَوله مکړه
چه په سکرو ئې کتره خږ بږ نکا

ښوک چه بد ذات ته علم هنر ورکا
خوني رهزن ته توره خنجر ورکا
دَ ځان غليم به دَ گرگ بچړي ساتي
خپل به ئې نشي که خپل ځگر ورکا

گني بند بند کړه و تا شکر درکا
سر دَ صدف پرېکړه و تا گوهر درکا
بتر تر کاڼي مه شه خوشحاله
کاڼي چه وسېځي و تا ته زر درکا

نه سرداري ورکا نه زر داري ورکا
نه لوي ملکونه اُوبه جاري ورکا
چه له ازله خداي څوک نمنځلي دي
هغو سړيو ته خداي هوښياري ورکا

چه نوکري کا څوک ډېر گنده کا
سړي آزاد وي خپل ځان بنده کا
تر آزادي نه بهتر هيڅ نشته
چه څوک په کور کښې خپله دنده کا

اولاد چه ښه شي راحت دَ زړه کا
اولاد چه بد شي ښه پلار مور پړه کا
اولاد چه ښه شي بد مور پلار ښه کا
اولاد چه بد شي رنځور دِ زړه کا

ما وې نن شپه به را سره تېره کا
راته به شمعَ دَ مخ برسېره کا
سنگين مي بخت وُ چه درسته شپه ئې
وعده دَ وصل له دل و هېره کا

هوښيار به هيچېري بې ځايه کار نکا
هم به بې وخته دَ خولې گفتار نکا
په خوله په لاس به هيڅوک آزار نکا
چه بد کردارَ دئ هغه به يار نکا

سړی آزاد وِي آز ئې بنده کا
بنده لا پرېږده لا ئې گنده کا
هونبره خوارېږِي څو آزاد زړه لَري
په څو څو رنگه ئې بيا شرمنده کا

هوښيار به هيڅکله وَيل باطل نکا
هم هر يو چا ته دراز وَيل نکا
دَ خپل راز ځاي به ئې ننه په زړه کښې وي
دَ رړه بې حکمه به خبره تل نکا

طمع بلا ده اصيل بنده کا
ښه ښه سړي وي دا ئې گنده کا
ما ډېر ليدلي دي چه طمعَ نلري
په بادشاهانو پوري خنده کا

سړي دَ نيکو عمل ارشد کا
دا ئې هاله وِي چه بخت مدد کا
چه بخت ئې ښه شي عمل هم ښه کا
چه بخت ئې بد شي عمل هم بد کا

ډېر دِي چه تا ته خپل ځان ملک کا
په ښو خبرو ځان په فلک کا
نعوذ بالله چه ښه ئې خير کړي
شيطان تر ځان پوري لکه کودک کا

چه عاشقئ ته هوا هوس کا
خپل ځان دِ وژاړي خپل ځان دِ خس کا
چه عشق مي وليده پرې خندا راشي
چه عاشقئ ته هوا هر کس کا

سفله پخپله خپل ځان رسوا کا
چه دولتمن شي غيري هوا کا
سفله قاضي مشه شراب روا کا
سفله طبيب مشه رنځ لا دوا کا

چه په ځواني کښې پرهېز دَ کک کا
که آدمزاد وِي کار دَ فلک کا
پرهېز پيرئ لَره په کار دئ
تش دِ په وخت دَ ځوانئ زړه ډک کا

ژوندي که هر څو ژړا غوغا کا
مړَه کله بيارته راتلنَه بيا کا
سکه لکه دود دَ ژونديو څه دئ
دَئ دِ په صبر کښې کار دَ دنيا کا

دَ اور دَ تېغ سَرَه سړي بازئ نکا
له مار لړم سَرَه مهم سازئ نکا
چه نه تدبير لَرِي نه جود نه توره
هغه سړی به سرفرازئ نکا

زر دِي چه هر چا ته اعجاز معلوم کا
معدوم موجود کا موجود معدوم کا
وينځه مېرمن کا خادم مخدوم کا
زر په سندان کښېږدې د سندان هم موم کا

مغرور په چرخ مشه که دِ سلطان کا
زبون دَ چرخ مشه که دِ چوپان کا
خواږه ترخه ئې بقا هيڅ نلَرِي
نوي نقشونه به هر زمان کا

ݫيز چه کم باب شِي عزت پيدا کا
زنگي په هند کښ قيمت پيدا کا
حلوا چه موړ خوري لذت ئې نه وئ
ډوډئ په وږي لذت پيدا کا

نوري نوري سَرَه موافقت کا
ناري ناري سَرَه مواصلت کا

طوطي طوطي سَرَه موانست کا
زاغ دَ زاغانو سَرَه الفت کا

که هر څو سعي کوښښ څوک وَکا
نه به ښه بد کا نه به بد ښه کا
وائِي چه زوي مي هوښيار قابل شي
چه خداي ئې نکا خوشحال به څه کا

مرد به دَ تېرُو چارو ارمان نکا
رنځور چه وِمرِي څوک ئې درمان نکا
مردان هغه دِي چه شرم ننگ لري
لاف دِ دَ شرم دا بې شرمان نکا

غني که هر څو دَ زرُو وېش کا
پروا پرې نلري صبر دروېش کا
دا صبر ښه دَي دَ غني تر ورکړو
صبر به نور نور نعمت در پېش کا

نامرد هغه دي چه و چا څه ورکا
منت دَ پاسه ورباندِي زبر کا
په رنځ کښ ومره هغه دارُو مخوره
چه په منت ئې و تا څوک درکا

پلَو که کښلي له مخه ليرِي کا
راته په مهر خندا خبري کا
ما به توانگر کا دَ لعلو درُو
هم را به توئي تر خولې شکري کا

پايښت ئې لنډ وِي چه ځوک لباس کا
مخ به ئې تور شِي چه کوز او پاس کا
په شان شان خولې دي شان خبري
نادان چه وائي هوښيار قياس کا

هغه باز چه په عصفور غوټې کا
که دَی ځه باز دَئ کار دَ باښې کا
دَ بزرگانو همت بلند بويه
کار دِ په قدر دَ مرتبې کا

ب

فولادي توره وِي که لويه تبه
تر دا لا بده دَه بد گويه ژبه
ډېري بلا نه در ځخه واوړي
ژبه که بند کړې دَ پند طالبه

په واک چه نلري په کام کښې ژبه
که گنگ شِي ښه دَئ په لويه تبه

په بده ژبه به ځان ځِي جهان ځِي
ايمان لا هم ځِي واروه طالبه

طالع که ډک لَرِم له هَره عيبه
يَو کار مي ښه دَئ بېشک وريبه
چه څوک مي پاځي په غلېمئِ
ور باندِي پرېوزِي بلا له عيبه

چه ډير ويل کا په ډېره ژبه
څو ئې چه ژبه هونبره ئې تبه
دَ باغ بلبلو وته نظر کا
په خپله ژبه دَ قفس طالبه

دَ ميو مسته هغه محبوبه
درسته په مشکو په گلابو ډوبه
سر توره راغله خپرې زلفيني
بوسه ئې راکړه تر قندو خوبه

چه زړه فارغ لَري له مکره ريبه
هغه به مومي نصرت له غيبه
دَ بل په عيب نظر هاله لَره
که ځان دِ خلاص وِي له هَره عيبه

ښځه چه خلاصه وِي له هَره عيبه
زړه ئې خالي وِي له مکره ريبه
په مصلحت به ئې چرته بيا مومې
مگر پيدا شي چېري له عيبه

څو څو فکرونه څو څو آشوبه
زړه مي په غم کښ سترگي بېخوبه
دا ځل مي وشوه په مخ کښ سوبه
نور توبه توبه له مَيَن توبه

لنډۍ به وا نوړي له لنډۍ توبه
لولۍ به وانوړي له لولۍ توبه
که همه عمر سپی حلوا خور وئ
منعَ به نشِي سپی له سپي توبه

خوږه نمړۍ دَه که خوږه ژبه
چه څوک پرې خپل کړې ځما صاحبه
هنر هم دا دَئ که دا هنر لرې
چار به دِ تل وِي تر سيال غالبه

چه رَو يو نه وِي دَ زړه دَ ژبي
تل به نيولي وي هغه په تبي
چه بد بوئي لَري ډېره تريخي لَرِي
ځکه غوڅيږي سر د ترُبي

سړي خالي شول له سړي توبه
دَ چا چه گورم فتنې آشوبه
په بل کښ شل دي پخپل کښ سل دي
بل وِي که خپل وِي ترې توبه توبه

ت

تیراه مي ولیده راغلم تر سواته
پښتون مي ولیده دا لوي لوي ذاته
عقل همت مِي دَ چا و نه لیده
په بیارته راغلم ناست یم ملاماته

چه په وار وار ئې له ما نه بوته
ځما خوبي ئې په چرته بوته
پیريِ وکړې را باندِي چارِي
فولادي توره یم خوړلې پروته

په چرته لاړې دَ لوبو وخته
ته چا تالا کړې دَ ځوانۍ رخته
پرې خبر نه وم یَو اُوه غله وه
راته په ځو وه شپه ورځ یکلخته

نېکان له خپله خویه خصلته
خلاص وِي له هَره عیبه علته
عفو بدانو لَره پیدا دَه
نو میدي مکړه ته له رحمته

نه ننگ نه شرم نه حمیت شته
نه مهر مینه نه محبت شته
زویه چه لوي شي زوال دَ پلار غواړي
نن په دا دَور دا قباحت شته

که دِ په تن کښ دَ نس هوا شته
بالغ لا نه يې نه دِ صفا شته
که کار په حکم دَ روح آغاز کړې
فیروزمندِي دِ په دین دنیا شته

که هر څو کاندِي څه کمي زیاتي
میخوري پېښې کا دَ څنو ماتي
که ئې خلل په ایمان کښ نه وِي
مؤمن به نشي په دوږخ پاتي

مخ دَ ساقي گوره څو لا بهار شته
غوږ په رباب لَره څو ئې لا تار شته
شیخان د ژاړي ته خانده رند اوسه
غم د گَناه مکړه چه استغفار شته

که مرد يې مه پرېږده مردِي له دسته
مرد دَئ دَ پاسه ښځه ده پسته
مرد چه تر ښځه پوري زبون شِي
مردي ئې نيست شوه ښځه شوه هسته

هنر مي جوړ کا و تخت و تاج ته
طالع مي ناست دي تاخت و تاراج ته
بل ارمان نلَرم ارمان مي دا دئ
چه پيري راغله ځما علاج ته

چه ئې کاسه کړه دَ مجنون ماته
مينه ئې لا شوه په ليلي زياته
جور دَ ښکلیو په معني مهر دي
ښکنځل ئې ښه دِي تر ښه نباته

چه پکښې لوي شي بې مصلحته
خونه خالي شي له برکته
تر بدبخت زويه نيکبخته لوُر ښه ده
فرزند دِ نه وِي بې سعادته

لکه چه شوِي دِي ځما له دسته
شوِي به نه وِي له مي پرسته
شهوت بلا دئ سړی گمراه کا
دَ ده مستي ده تر هر څه مسته

دَ چا په مرگ شي خونه میراته
ځما بې مرگه شوه لاته پاته
ښه چه دا هسي شوه زه هم پرې خوښ یم
چه لا را نشوه دا بلا زیاته

چه بدي چاري ښې شي[1] و چا ته
هغه سازېږي بدي بلا ته
چه کار دَ کړلو وِي په کښ کاهل شي
تر دې بد خوي نشته دوهم و ماته

که دَ گلابو دَ گل خارُونه شته
بیا ئې په گل کښ ډېر ډېر کارُونه شته
اول ئې روي گوره بیا ئې ښه بوي گوره
بیا ئې پسولو کښ څه کوپارونه شته

که ډیري کښلي په صورت بزرگي شته
لکه مَهرودَه د کومي پرگي شته
هر چا چه ولیده زړه ئې پرې بایلو
خوشحال وېرېږي دَ ده هم سترگي شته

ښکار دَ توپک نشته نه ښکار دَ باز شته
که مي په زړه کښ دَ دواړو راز شته

---

۱. ښِې و چا ته.

کتاب قلم لرم اوس پرې وېرېږم
دا دَ پیریِ ناز او نیاز شته

چه زه ئې وَروستم نیژدې و گور ته
بیا ئې راوَستم دَ دنیا کور ته
له سخته رنځ ئې تندرستي را کړه
گوره ساتي مي بیا کوم شر شور ته

ستا تر چشمانو خمار دَ مل کښېناست
ستا تر خبرُو بڼِغ دَ بلبل کښېناست
چه دِ رخساره ورته ښکاره کړه
ځکه په سپینو خولو کښې گل کښېناست

څو دِ دولت شته هونبره عزت شته
څو دِ صحت شته هونبره راحت شته
چه پیري راشِي دواړه په مخ وړي
که دِ دولت شته که دِ صحت شته

هر څوک چه کار کا بې مصلحته
هیڅ به و نه خوري بر له دولته
که بخت ئې هر څو کا رُونه ساز کا
خالي به نه وِي له ندامته

چه کار ئې بیا ئي فلک په کښته
چاري به کاندِي بې مصلحته
کجیر که ځیر دئ چه بې تدبیر دَئ
په خزه بند شي له دې شامته

مهر په زړه کښې ځما دَ یار نشته
ځما په زړه کښې صبر قرار نشته
نه څوک غمخور لرم نه زر نه زور لرم
و چا ته دم وهم ځاي د گفتار نشته

ژبه مي نه دَري بې نصیحته
وایم دَ عمر له حلاوته
اول ځواني دَه بیا تندرستي دَه
بیا ئې خوبي دَه له ښه دولته

چه مستغني وِي له نصیحته
هغه به نه وِي بې قباحته
یا به احمق وِي یا به بد ذات وِي
یا به محروم وِي له ښه دولته

چا ته به زار وایم چه مي زاردار نشته
غم مي به څوک اخلي چه غمگسار نشته
کیمیا به بیا مومي وفا به نه مومي
هزار یاران لَرم یَو وفادار نشته

چه باز دِ ولاړ شي چېري له دسته
په غره په سمه کړې ورپسي مرسته
هنر هم هسي يَو ياغي باز دَي
طلب ئې نه کړې په همت پسته

تبراه مي وَغوښت رسم مي وکوت
رنځ مي دَ دواړو ځايونو ولوت
يم دئ که غم دَئ په برمل مول کښې
په گرَوَلو مي پوستکي وخوت

کامل چه وگوري و کائنات ته
نظر ئې وشِي و هر ذرات ته
په هر ذرات کښې هستي دَ حق ويني
دليل ئې وَروَلِي دَ حق و دات ته

پرهار په دَه باندِي که دَ سوزن نشته
عاشق شهيد دَئ په دا کښې ظن نشته
دَ شهيدانو جنازه بويه
دَ شهيدانو غسل کفن نشته

غم دَئ که غر دَئ را باندِي پرېووت
که سرې لمبې دِي زړه مي پرې کښېووت
را باندي تل تل دَ غم تاختونه دي
زبون ئې بيا موندم خورا پسې ووت

ث

درته پښتو وايم صافه سليسه
بهره که واخلې له دې حديثه
ذات ئې خبيث دَئ هندکي هر گز مکړه
چه ترې پيدا نشي يو ځو خبيثه

ج

که مي په سر شې د ميني تاجه
نور مي به خلاص کړې دَ غم له باجه
بېدرد دَ تا دَ قدر خبر نه دئ
ما ته را درومه دَ عشق تاراجه

ښځه چه ورشِي تر چل و پنجه
خوبي ئې ولاړه مار دَه بې گنجه
که ځان ترې مومې ترې په ستنه اوسه
خلاص ئې له رنج شه خلاص ئې تر گنجه

خ

اې چه دِ نول دَئ ځما له مخه
دَ رقيبانو په بده رخه
په عشق کښن مرد اوسه پروا ئې مکړه
زه به دِ نه کړم دَ چا په سخه

خلق په ما کا کينه هم رخه
که خداي مي نکا دَ چا په سخه
بېل شوم له ياره ژوندَي لا پايم
څو ډېر شرمېږم دَ يار له مخه

د

زمانه اور ده ته لکه سپانده
که نن و نه سوې په اور کښن گانده
هم به لوگي شې هم به ايرې شې
که ژاړې ژاړه که خاندې خانده

باران چه وشي په پټي باندي
هاله تازه شي خوبيِ کاندي
زړه مي پټي دَي باران دِ مهر
پرې تازه کېږم څو راته کاندي

سړي څه څيز دئ چه څه به کاندي
خالي تش نوم دَئ اختيار پرې باندي
که بادشاهان دِي که لوي خانان دِي
زور ئې هيڅ نه دَئ دَ قضا په وړاندي

تېږي چه سخت وِي ساعت پرې باندي
خوږېږي اوبه ورشي سړې ورباندي
وخت دَ اهاډ وي ته راته ووايه
چه څو خوښي به حاصله کاندي

اوښ مي تيار دَئ کجاوه باندي
ياران مي لاړل واړه دَ وړاندي
دايم روان يم ورپسي درمم
جرس فرياد کا خبر را کاندي

و ما ته څو ستايې شيخه نابوده
دَ جنت حوري نور نور مقصوده
نن به گلرنگه معشوقه گورم
ځما توبه ده له نسيه سوده

که هر څو دودي درازي بلېږدي
په مرگ به واړه په مځکه کښېږدي
حاصل دَ عمر خو دا دوه توکه دِي
چه وړاندي وروستو دَ وروستو پرېږدي

مرد دَ میدان دَئ ښځه دَ کټ دَه
نه دا خبره دَ غش دَ وټ ده
دَ اوښ بارونه په تا څوک نه لېږدي
مردي که گورې په څه خومټ ده

هم مي خیالونه هم مي ښیوه زده
هم مي په عشق کښ دراز پرده زده
چه یار مي نشته دا واړه هیڅ دِي
که یار مي وشي یاري مي ښه زده

چه گل دَ باغ کا خندا بنیاده
بلبلي ژاړي په ډېر فریاده
څوک په خندا کرې څوک په ژړا کړې
دا چاري ستا دِئ دَ صبا باده

واوره دوه پنده ځما فرزنده
طمع حرص لَري خواري څرگنده
دولت دَ صبر دَ قناعت دَئ
همای چه خلاص دَئ له هره بنده

که ئې دَ خضر پیاله خوړلې ده
دانا هستي د ژوندون ژړلې ده
هر چه کمال لَري هغه زوال لري
هستي نیستي ئې سره تړلې ده

چرگان بې وخته بانگونه کاندي
بيا څه بلا دي باندي هړاندي
زه ئې بې وخته له ياره بېل کړم
چاړه ئې سازه شه په ستوني باندي

هوا هوس کړې په قهقه خاندي
بې غمه خوب کړې پالنگ در لاندي
ښه مبارک شه ښادي درباندي
غمونه نلرې د گور دَ وړاندي

په کوه قاف کښ که رهبر دَوړاندي
که درومي نه به وي سختي ورباندي
که بې رهبره په سم ميدان درومې
څو څو بلا به شي په تا هړاندي

قافلې ولاړې تر ما دوړاندي
زه کوډ بارگير يم کتَه را باندي
ورپسي درومم سَرَه ښورېږم
پرېوزم ځارشکي بازي را کاندي

چه زغلَونه دَ آسونو کاندي
نظر دِ کوز لري په مځکه باندي
چه آَس په لوړو ژوروو زغلي
آس ئې پرېوزي تر ځان د لاندي

ځوک چه خبر شي دَ خط له خونده
قلم به نښدي په حرف بې بنده
شماره دَ نورو حرفونو څو کړم
چه يَو الف دَي په درې پيونده

زمانه اور ده اې نا نغتانده
ته وچ لرګي ئې نه لښته تانده
دا اور به تا وته په منډه درشي
که ژاړې ژاړه که خاندې خانده

ته دا وينا کړه له ما نه ياده
بهره آخله دَ بهار له باده
لکه دا باد ئې په واړو ونو کا
هسي به ستا کا درونه ښاده

وږي چه نغن ومي شکر دِ کاندي
غوړي که نه ومي پاسه ورباندي
سترې دِ شکر کا که آس ئې نه وي
په لار کِه خر ويني تر ځان دَ لاندي

چه سختي چاري لَرِي دَ وړاندی
په څو بې غمه په قهقه خاندي
هسي په زړه کښې فکرونه کړې
چه هونبره څوک دئ تر خاورو لاندي

که ئې تر سپینو تر سرو کړه لاندي
دا واړه هیڅ دئ په بدرنگه باندي
که ئې دَ پوزي لونگ هم نه وي
ښه مخ بې پسوله زېبائي کاندي

دنیا هسي وبله بلېږدي
چه څه ترې آخلې ورباندِي رېږدي
خبر لا نه يې په دا خبره
نامرده واروه چه کښېږدې پرېږدي

هغه چه عار کړي دَ خوشحال له پنده
بلا پرې ورو شه اسمان څرگنده
ورته زرگونه بلا خولې واز کا
سړي چه ووزِي دَ نېکخواه له پنده

په جنگ کښ مټ کړه تر بل دَوړاندي
نور به خبري در ځني کاندي
ژوندَي که پاتو شې ځان دِ عزیز کړ
که ومړې ومړې رحمت در باندي

خزان وهلې دله ناښاده
غافل مي مشه له دې ارشاده
وخت دَ بهار شو بیا به ارمان کړې
بهره نن آخله دَ بهار له باده

عاشقَ خانده نن څو چه خاندي
ښه مخ تر تا شو لاندِي ته باندي
طالع که هر کله هسي مدد کا
تل تل به هسي تر ما شي لاندي

تل که ښېگړه له آدم زاده
نه ښه که وکړې څه کمي زیاده
درته به خیر شي په سل بدئِ
هیڅ به دِ نکا ښېگړه یاده

زرکي چه هسي په قهقه خاندي
هم دا خندا دِ کا دَ باز دَوړاندي
هر څوک چه خاندي ښادئ کاندي
غمونه ورشي پر هغو باندي

خلق چه هونبره یارئِ کاندي
ځان کا پخپله تر غمونو لاندي
مرگ ئې له ډېرو غمونو خلاص کا
منت دَ مرگ دَئ په هر چا باندي

ډ

لؤلؤ دِ غاښ دي ياقوت دِ شونډي
د ډير خوني ور پسي ډونډي
چه تا څوک ويني په تا مَيَن نشِي
په زړه دانه دئ يا سختي پونډي

هونبره بلا دي و تا ته پنډي
چه شمار ئې نشته پټي برمنډي
گوره په کومه بلا به سر شي
چه پکښ ته گرزې په منډي منډي

ر

دَ حسن نام لري عاشق غلام لري
باده په جام لري دَ زړه هر کام لري
خيال به ته نه کړې خيال به نور څوک کا
چه دَ خوبيِ اسباب تمام لري

دهن دِ ميم دئ زلفيني دام لري
ذقن دِ سيم دئ سترگي بادام لري
خيال به ته نه کړې خيال به نور څوک کا
چه په دا دَورِ دَ حسن نام لري

تن یَو غلاف دَئ زړه پکښې توره
دَ تور دَ سپین نده وینا منظوره
مدار په توره دي په غلاف نده
چار ئې په هر چا ده مشهوره

په زلفو کفر په مخ اسلام لرې
دَ سترگو سحر په زړونو عام لرې
خیال به ته نه کړې خیال به نور څوک کا
چه نن څه ځان گڼې هغه غلام لرې

که ځاي دَ امن خوراک پوشاک لرې
شکر وَکاږه نور څه بلغاک لرې
مټې په طاعت کړه خلوت گزین اوسه
خضر دَ وخت یې که نفس هلاک لرې

که خپسر خوار کړې تر توري خاوري
په هر چا سوړ شې تر سړې واوري
جفا دَ خلقو په مخ په شا وړې
رنگ رنگ گلونه به له تنه راوړې

ارمان دي دریغه دا یو څو کاره
تل تل به نه وِي تازه بهاره
تل تل به وار دَ ځوانۍ نه وي
تل تل به نه مومې مهر له یاره

چوز باز چه وَوني دَ جال کوتره
پروا ئې نه وِي له خپله سره
لګي که هر څو غوټه تېره لري
نه برابره بیا لَره بره

خبر چه نه وِي دَ عشق له کاره
په هغه کس وِي یاري دشواره
بې یارَه عمر څه عمر نه دَئ
ژر دِ په ګور شي سړی بې یاره

په ما څه کار لرې درومه هوښیاره
زه لیوني یم مینه شُد یاره
نه څوک ادیب لرم نه څوک طبیب لرم
درد مي له یاره دَئ دارو له یاره

ګل دَ ګلابو شوې چه رنګ و بوي لرې
شیدا بلبله په هر هر سوي لرې
دریغه دا کار دِ په ذات کښې نه وي
وفا دِ نشته دا خوي بد خوي لرې

په ځان خبر شه چه چرته ځاي لرې
چه تخت نشین یې څه هوي و هاي لرې
ځاي دِ په پورته تر ملکوت دئ
چه ناسوتي شوې خوي دَ ګداي لرې

هونبره بدلي هونبره سندري
تمامي نه شوې دَ عشق خبري
فهم مي وکړ دَ عشق په کار کښ
ليرِي نيژدې دِئ نيژدې دِئ ليري

ځوک چه يادېږي په نيژدې ليري
تر هر چا ښه دِي دَ يار خبري
ځني خبري لکه مشکښې دِي
ځني خبري دِي مرغلري

که ريګ ماهي خورې که مړه پاره خورې
ځواني چه لاړه دا آواره خورې
ځواني چه لاړه هوښيار هيڅ نه يې
غم دَ ځوانیِ چه دوباره خورې

توري زلفيني په مخ شان شان لرې
اوربل په وچولي پرېشان پرېشان لرې
دَ نورو کوډو حاجت هيڅ نشته
دَ سترګو سحر جهان جهان لرې

هر گوره ښه يې دَ زرگر هنره
چه سپين جدا کړې له سيم و زره
تر دا دَ پاسه کبوتر باز دَي
دَ ښځي ها[١] کا جدا له نره

تور غرُونه سپين کړې په سپيني واوري
په سبزه شنې کړې دا توري خاوري
رنگ رنگ گلونه چمن ته ورکړې
باده! دا ته يې چه دا څه راوړې

چه را ښکاره شِي څو څو طوره
څو څو فتنې لري څو هورَ زوره
بل فکر مکړه بل گمان مه وړه
فرياد مي واړه دي دَ يار له جوره

که قايم الليل يې که صائم الدهر
غم به لا ډېر کړې دَ خداي دَ قهر
دَ مخلصانو خطر لا ډېر دئ
سړی شکري خوري پکښې وي زهر

باغ وُني وچي لري هم تري
هم ئې بهتر شته هم ئې کهتري

١. يعني دَ ښځي هگۍ.

په سايه کوزي په ميوه ډکي
ته هغه وُني گڼه بهتري

راشه ښيگړه دَ وُني گوره
خپل ځان په نمر کا بل کا تر سيوره
په سنگ ئې وَوله مېوه در واچَوِي
خصلت له وُني واخله اې وروره

که تل تل نومړي په خوله شکرِي
خوند به ورنکا په دا خبري
مزه به هاله دَ شکرو بيا مومي
چه خوله پر وُوهي چه ئې ونغري

ته يَو طلسم يې بې اعتباره
له خاورو باده له ابه نازه
اول هم هيڅ وې بيا هم هيڅ شې
په ځان خبر شه دَ خداي دَپاره

لکه مي غوښته هغه نگاره
غاړه غړۍ دَه را سرَه ياره
په سخ مي مکړه دَ رقيبانو
دعا مي دا ده پروردگاره

حيرام يم پاکَ پروردگاره
تا چه پيدا کړل دا دواړه داره
محتاج هيڅ نه يې دَ څه دپاره
دا هونبره نقش هونبره نگاره

که ئې وفا درلي ښې دِي دلبري
ولي هيڅ نه دِي پدا خبري
دَ تورو زلفو دَ مهر بوي نشته
که په نمود دِي لکه عنبري

که لعل و دُر دِي دَ خوشحال خبري
چه ته ئې نه منې له تا دِي ليري
بخري دَ هر چا جدا جدا دِي
کارگان گندگي خوري طوطيان شکري

له لاري مه غړيږه خوځه په لاري
که پرېوزې پاڅه خوجه په لاري
بې لاري واړه غولان ددان دئ
غولان دَدان نشته خوځه په لاري

تل دَ کمزوري وِي دا يو څو کاره
مکر دروغ کا په څو انگاري
ښځه کمزوره ده ځکه انکار کا
پدا سبب دَه هونبره مکاره

په خوله خبري له کردګاره
په زړه خبري له کښت و کاره
فرياد فرياد دَي په هسي زيست کښ
توبه توبه دَه له هسي کاره

چه ښه مردان دِي دَ دين دَ لاري
پتي به نه وي دَ ديو چاري
اوبه چه نه وي روا په شرع
هغه اوبه به ګڼي مرداري

دَ مور په نس کښ فرښتې اې ياره
د سري وکښي دا يو څو کاره
زرق او فعلونه، عمر ښه، بدبخت
دا وسوسې دِي دَ څه دپاره

که زر هنره په هر وېښته لرې
بيا به په کار کښ توکل ته لرې
خوشحاله يَو نشته چه زړه پرې ښه کړې
نن ورځ که زويه نمسي شپېته لرې

که چار دَ عقل لري بسياره
چارپاي به نه کړې ګويا هوښياره
ته خاموشي زده کړه له چارپايانو
چه خاموشي لري فائده تياره

پور که دَ مړي دئ تښته له پوره
اور که لوګي دَئ تښته له اوره
دښمن که سهل زحمت که لږ دئ
بې غم ترې مه اوسه اې ځما وروره

دَ مار که نه وِي په تن کښې زهر
سردار که نه لَري خنجر دَ قهر
دا دواړه توکه به ځما په پوهه
نه ياد په کلي وِي نه ياد په ښهر

دَ بابا زويه دَ بابا پلاره
په زلفو ليلَ په مخ نهاره
يوسف که هر څو ښايسته روغ وُ
ګويا سمن وُ ستا له ګلزاره

بې عيبه يار نشته په ملک هوښياره
په عيب مکړه زړه بد له ياره
که ګرزې واړه باغونه وګورې
ګل به بيا نه مومې خالي له خاره

په زړه مي هونبره نه دِي انباري
چه ئې قلم کا په کاغذ نګاري
يا بيانيږي ځما په ژبه
يا ئې قاصد کا درته تکراري

سړي چه کښېني تر سَړه سیوري
غارمه پرې تېروي که ته ئې ګورې
رضا ئې نشِي و پاڅېدو ته
که ئې لمبه کړې په لمن پوري

ثنا صفت کا عالم له میوره
نقش و نګار لَري په څو طوره
نظر چه وکا و خپلو پښو ته
زړه ئې اخته شي په ډېر ډېر ځوره

خوشحاله څو به غمونه نغرې
غم به دِ کله شي له دله لیرې
سترګي مي وختې دَ آسمان و پېر ته
که چېري وار راشي هاله خبرې

څوک دَئ چه واوړي له بده کاره
څو ئې وا نه ړوِي پروردګاره
توبه هاله ښه دَه له توبه ګاره
چه ته ئې ټینګ کړې پروردګاره

دَ هوښیارانو خوږې خبري
قند دئ نبات دئ شهد و شکري
نادان په مثل غل خواره خر دئ
دَ خوږو خوند دَئ ور ځني لیري

خپل بند و بست دَئ دَ هري چاري
پاکي مشکوکي شته اوبه مرداري
پاکي اوبه بويه زيست او روزگار لره
مرداري کله دِي سزاواري

هر څوک چه لاف وهي دَ عشق له کاره
عاشقي چېري دَه لا هسي خواره
په مړو ايرو کښې بڅري چېري وي
عاشقان مړه دِي دَ يار دَپاره

شراب خوښي لري په څښل بسياره
خوښي ئې نه وي بيا بې خماره
هر چه دولت لري نکبت دِ ياد لري
غره دِ نشي په ځانَ يکباره

چه يادَولي شِي گذشته چاري
فائده نشته شته څه خوباري
کنُدي څوک پند واخلي ځاي دَ حذر دئ
غلط نور نه درومي په غلط لاري

منت دَ چا مه وړه دَ يوې توري
شونډي کښې مړده په غوړي سپوري
نور څوک لا پرېړده که زويه ورور وي
اور کړه دَ ديو په خپلوي پوري

آسمان پېرې لري څما پسره
مه ډېر غافل شه مه ډېر بې سره
په غم کښ طمعَ دَ ښادمانۍَ کړه
په ښادماني کښ له غمه وَېره

کال دَ غفج[1] وُ په خیبر کښ هوري
مغل بندي شوې هم کُنډې بوري
همند شنواري څو آفریدي وُ
واړو وهلې دَ یادو توري

چه بادشاهانو ته واخلي توري
دَ دُوي خبري شِي په ملک مشهوري
که بیا باور کا په بادشاهانو
هغه به میَندِي په ځان کا بوري

ښځي مي ولیدې ډېري بې شماري
پاکي نېکزني بدِې بد کاري
چه نکا نکا چه کا خو وکا
دَ مرد په غیرې کښ ناپاکي چاري

په لاس چه واخلي مرداري چاري
نوم شي دَ ښځي دَ زنا کاري

[1]. ۱۰۸۳.

که نه ئې مرگ وِي نه ئې طلاق وِي
په مرد ئې بند شِي دَ جنت لاري

زویه بدبخت شي پدا دوه کاره
عاصي له خدایه عاصي له پلاره
بدبخت چه کښېني په گلستان کښ
گل به ئې نشي نصیب بې خاره

هغه مفلس یې که څه غنا لري
که څه غنا لري ولي عنا لري
که حق دَ چاري یا دَ اشنا لري
ورځني ولي ځان نا آشنا لري

په چا چه وشِي دَ همای سیوره
دولت ور درومي له هَره لوره
مهر دَ خاصو دَ همای سیوري دئ
په چا به وشِي دا سیوره گوره

کاته دَ سترگو دَ خولې خبري
و چرته تلنه نیژدې یا لیري
دا چاري واړه په لاس دَ زره دِئ
بادشاه ئې زړه دئ وجود لښکري

بې قدره نه دِي د راز خبري
دَ راز خبري دِي مرغلري
ځاي ئې دَننه دَ زړه صندوق دئ
ور به ئې نه کړې همدم ته ليري

دا سحرگره دنيا مکاره
زويه وېزار کا له موره پلاره
چه ئې له موره پلاره ويزار کا
هسي دا هم شي ځني وېزاره

پاکان به درومي په پاکي لاري
ناپاک به کاندي ناپاکي چاري
چه سترگي نه لري ورته به څه ښيم
دَ هر هر باغ دي مېوې تياري

چه را ښکاره شوې دَ دنيا چاري
فکر مي لاړ شي په لاري لاري
فکر مي ستړي په بيارته راشي
دَ وړاندي راشي لاري حصاري

خلق چه غواړي لوړي ژوري
له ما نه مه غواړه ته دا خبري
په پټي سترگي به ننداري کړم
چه راته يو دئ نيژدې هم ليري

که ډېر نمونځونه روژه تل تل لرې
هغه به مومي قسمت چه خپل لرې
که دوږخي ئې دوږخ به مومې
که جنتي ئې څه غم دَ دل لرې

سخ دِ په کور دَئ چه دا څو چاري
لرې په کور کښې ښې ښې نګاري
ښه ښه ځایونه ښه ښه بویونه
حمام په عطر و جامې بویداري

چه ښه زوولي وي له موره پلاره
ښه تنسته لري سپینه چوتاره
که باندي خيري یا ټکي پرېوزي
پاکیزګي دَه ورته تیاره

ځار تر هوښیار شم دَ هوښیار خبري
دروغ رښتیا ئې دِي واړه شکري
دَ نادانانو رښتیا څه سود لري
چه ئې خبري دِي له خیره لیري

ارمان دَئ دریغه ځما ګلزاره
عنچه ریژېږي اوس له شاخساره
مځکي "طاهر" مي در لَره درغي
بدرنګ ئې مه کړه دَ خداي دَپاره

دَ احمقانو بې ځايه چاري
څه هونبره نه دِي چه ته ئې شماري
ښېگړه دا ده چه رنگ ئې مه گوره
ورسَرَه مېږده قدم په لاري

نن په نظر راغله يوه وزيره
ښه ترتيبت وه هم تر کشميره
زلفي ئې ښې وې دَ تيبت تر مښکو
په تورو سترگو وه دَ کشمير ميره

څوک چه مرور شي له پيره ميره
خالي به نه وي له غمه ويره
زړونه چه زړونه دئ لکه ماران دئ
زهر و مُهره لري په ځان خبيره

هندکي تور سکاڼ دِئ له موره پلاره
پښتانه واړه سره سپين اې ياره
تاثير که تخم آب و هوا لري
ته واړه وگڼه له کردگاره

نافې دَ مښکو دِئ دَ دانا خبري
څو ئې پرانِزې نگهت ئې نغري
دَ نادانو خبري هوړي دي
دَ مښکو بوي شي په هوړو ليري

دین دئ که دل دئ که عقل صبر
له ما ئې یووړل واړه په جبر
اوس راته پاتو دا یو نفس دئ
دا به هم یوسي بچي دَ گبر

شته ستا خبري پنڅ پنڅ شکري
پنڅ پنڅ شکري شته ستا خبري
په هر سپي نغري په څو شکري
په څو شکري په هر سپي نغري

ځما توبه دَه له نادان یاره
چه ئې یاري ده میرڅي تیاره
دی به دِ ښه غواړي تا ته به بد شي
غم به پیدا شي دَ ده له پیاره[1]

پیريِ رانیول له ما څو کاره
ولاړم دَ غشي دَ توپک له ښکاره
چه مهر مینه یاري ترې غواړم
را پوري خاندِي ځوانه نگاره

خواږه دَ مهر وي خواږه دَ زهر
وریځ دَ رحم وي وریځ دَ قهر

---

١. دا کلمه هندي ده یعني مینه او محبت.

ځني وریځي واوري اوبه وي
ځني ږلۍ تندري دَ دهر

وفا به نه مومې له هره یاره
یارئ مکړه له چا هوښیاره
دَ اوس یارئ دَ وښو خوني دِي
وا ورته خونه دَ وښو تیاره

واړه فاني دِي دَ دنیا چاري
په ځاي تل نه وي سَرَه قراري
چه زړه ئې وتاړه باندي یکلخته
دَ هغو سړیو دِي بخري خواري

توري زلفیني لکه سنبل لرې
خوبي دَ حسن زیاتي تر گل لرې
چه د سړیو په زړونو گرزې
ته هغه هونبره زیبائي کُل لرې

ښې دي تر مښکو دَ وطن خاوري
تودې اوبه دِي دَ وطن واوري
زړه تا خسړي دَ لوي دریاب کړم
اوس به په کومو موجونو ما وړي

دَ گل تر پاښیو نازک اندام لرې
شیرین تر قندو دَ خولې دشنام لرې
خیال به ته نه کړې نور به ئې څوک کا
چه پخپل حسن دماغ مدام لرې

هوښیار چه واروي دَ پند خبري
ورباندِي لګي لکه شکري
نادان دَ خرونو په شمار حساب دي
دَ پند شکري په خورنو نغري

زړه چه روان شې په لاري لاري
فایده ئې وایه و ما ته باري
څو پسي درومې اندوه به مومې
ټولي به نه کړې پریشاني چاري

چه راته غوټه دَ ورځیو میان لرې
په زړه دِ څه دئ بیا کوم گمان لرې
ناحق دَ بدو گمان ښه ندي
کافره نه یې ته هم ایمان لرې

په چا نه پسندې گراني دشواري
په تا به نه درځي دشوارِي چاري
په خدایږو واړه جزا سزا لري
تر پښو که لاندِي کړې مېږي په لاري

ياري له بده بد خويه ياره
شلوې ښه دَه په څو اعتباره
که ښايسته وي جور و جفا ئې وړه
گلونه کله وِي دَ باغ بې خاره

په روم په شام شي دَ ليلي خبري
په هند په سند شي دَ مجنون سندري
عشق مي په مثل نافه د مښک شو
چه بوي ئې خپور شي په نيژدې په ليري

که چيري ووينې عيب له ياره
ښکاره ئې مکړه دَ خداي دَپاره
عيب پوښي ښه ده که عيب جوئي ښه ده
فکر دَ دواړو وکړه هوښياره

په حق ولاړ اوسه اې ناصبوره
صبر کړه صبر دَ صبر توره
چه څوک پلاس کا ما امتحان وکړ
فتح دايم دَه ورته حضوره

چه پاک زوولي دِي له موره پلاره
ناپاک ئې مکړه پروردگاره
دين و دنيا لره پاکي پکار ده
ناپاک به خوار وِي په دواړه داره

درویشي دا ده که تل حلال خوري
که تل حلال خوري بیا دَ خپل مال خوري
کښېنې وعدې کړې مخ دِ خداي تور کړه
پردي مالونه پدا ټیټال خوري

عاشق وېزار دئ له موره پلاره
پروا ئې نه شي له نوره ناره
و ځان ته شا کا تر ایمان تیر شِي
کفر قبول کا دَ یار دَپاره

ښه ئې پسندلي عقل تمیز لرې
څو وایې هونبره هنر هر څیز لرې
موسيٰ دَ خضر په پیروي ته
دَ دې خبري خبر که نیز لرې

که زور د فیل لرې زړه دَ ضیغم لري
له تا چه غم لري ځني به غم لري
علاج ئې وکړه له پسه خوب کړه
په خپله خونه کښې چه مار لړم لري

ړ

ته ولاړې درنګ ته خپل ځاي دِ درنګ کړ
په درنګ دِ ولي دا هونبره درنګ کړ
ستا په فراق کښ لکه نارنج شوم
غم دِ هم چیري ځما دَرنګ کړ

چه عیب نه لرِي که هسي یار غواړي
دا هسي یار به په کوم دَیار غواړي
بې عیبه یار به چیري بیا نه مومې
که ګرزې ګرزې جهان بسیار غواړې

خدایه چه پاک دِي ناپاک ئې مکړه
دَ ناپاکانو صابون توبه کړه
چه په مخ روڼې و ګور ته درومي
کرم دِ ډېر دَئ ما هم هغه کړه

چه آئینې ته ښکاره دیدار کړې
آئیه درسته سَرَه ګلزار کړې
چه شونډِي کښېږدې دَ جام په مورګو
اُوبه په جام کښ رُبِ انار کړې

اور که بځري وِي ځني به وېره کړي
غليم که ځړي وِي ځني به وېره کړي
نور نور رنځونه به و تا ته څه وايم
ښځي که خري وي ځني به وېره کړي

دَ هر سړي سرَه چه آشنائي کړي
نه چه په طمعَ ترې روښنائي کړي
دَ آشنائيِ سرَه غمونه دي
ځان به ترې ژغورې که دانائيِ کړي

پلار ئې په بند کړ ورور ئې بند بند کړ
ځان ئې هم شيخ کړ هم دانشمند کړ
اوس په غزا کښې خبل ځان غازي بولي
په څو څو رنګه ئې خپل ځان ځرګند کړ

چه هونبره قهر دَ ګوتو مروړ کړي
په دا پوهېږم زړه به را سوړ کړي
چه اوس دِ نوي په لاس نيولي دئ
بې بخته نه يې که دا کبر زور کړي

نادان په خپله دَ ځان غم ډير کړ
نابودي پوهي سرَه تېر بېر کړ
هغه چه هېر بويه هغه ئې ياد دي
هغه چه ياد بويه هغه ئې هېر کړ

له خپله یاره چه بد گوئي کړي
دَ اغیارانو چه دلجوئي کړي
حق شته انصاف شته عذاب ثواب شته
ولي دا هسي ناپېرجوئي کړي

له تا چه وېره کا ځني به وېره کړ
یا به ئې وېره له زړه بدره کړ
که ئې دَ وېري علاج در ونشي
مټ کړه چه زر ئې مهم تر سره کړ

تعلیم دَ زاغ و زغن که ډېر وکړي
ښکاره به پرې کله دَ باز په څېر وکړي
دَ ترخې اوسپني توره کړه سازه
غزا به کله په هغه شمشېر وکړي

عزت په دا کښ چه هیڅ دروغ نکړي
دَ چا له غوړه خوانَ آروغ نکړي
که زړه دَ یار ساتې دَ یار په راي درومه
خپل زړه چه بد نکړې بل زړه به روغ نکړې

مرد یې که هیڅېري وېره ه چا نکړي
طمع له چا نکړي غم دَ دنیا نکړي
که لوي منصب لرې خاص د بادشاه وي
له میره پیره به خوف او رجا نکړي

ربَ و ما ته دولت اقبال راکړ
په لون لون دَ دنیا مال را کړ
حرام که شبه دَ کار دَپاره
چه مي تر ستوني ځيِ هغه حلال راکړ

غافل خوړ عمر په ځان کندهېر کړ
امید ئې لبړ شو حسرت ئې ډېر کړ
نه ئې څه ورکړل نه ئې څه واخیستل
عمر ئې هسيِ حبطه تېر کړ

په مار چه وار جوړ کړي که گذار پرې نکړي
خپل زړه خو وَپوښته چه زړه دا څه کړي
که غول توب دئ که ښاغل توب دئ
خود په زړه کښ ننداره وکړي

خپل ځان ئې روغ کړ یار ئې بیمار کړ
یو څه ښه یار دَئ خوشحال چه یار کړ
لا یو ناترس دَئ یا ئې یاري نه زده
یا ئې پکار نه دئ تر ځان ئې ځار کړ

زویو مي خوي دَ خټکو نور کړ
ځما په نقش ئې پوري سور اور کړ
وخت دَ گټنيِ دَ نام و ننگ وُ
بدُو زامنو را څخه خپور کړ

که څوک دِ وښکنځي غيرت پيدا نکړي
دَ ده و سر ته توره تر ملا نکړي
نه حميت لري نه شرم ننگ لري
مردِي دِ نشته غيرت پدا نکړي

له دې دنيا نه به آخر سفر وکړې
پاتو به نشې که ډېر هنر وکړې
عمل دَ نېکو دَ وړاندي واستوه
ښه نام دلې پرېږده که هونبره چر وکړې

وخت دَ بهار دَئ خوشحاله څه کړې
ولي گلگشت دَ گلونو نه کړې
سترگي مي تتي شوې گل ته به څه گورم
پيريِ چاري را باندي وکړې

ما چه دا هسي در پسي ځان کړ
دَ دنيا کور مي در پسي وران کړ
د زړه په حال مي واړه پوهېږې
که ډېر هوښيار ئې ځان دِ نادان کړ

يو موتِي خاوري وِي هونبره دماغ ورکړي
ننه په زړه کښ دَ عقل څراغ ورکړي
دَ ملک دَ بندو دَ بست خبري
فکر دَ کښت و دَ کر دَ باغ ورکړي

خوشحاله څو به فکر تدبير کړې
غم به دِ ورک شي دا کار که څير کړې
چه نيکي بدي درته رسېږي
که حواله ئې ته په تقدير کړې

ځواني چه ولاړه ور سره ولاړې
ډېري خوبۍ که ژاړې ژاړې
بيا به په بيارته ځواني را نه شي
که ئې له پيره له طبيبه غواړې

چه چا ته ورکړې بيا ئې پرې زباد کړې
خپل ورکړه ګوره واړه برباد کړې
که توره ما ته کړې په جنګ کښ هيڅ يې
کار دَ مړاني چه چا ته ياد کړې

درخو هوښياره وه ځان ئې نادان کړ
نوم ئې بد اصل دَ آدم خان کړ
تل ئې د مور او دَ پلار پيغور ټاړه
په زړه مَيَنه کار ئې دا شان کړ

دم واهه نشي دا چه خدائي کړې
څوک فرعوني کړې څوک موسائي کړې
چه دواړه توکه دِ يو رنګ پيدا نکړل
کبريا ئې کړې که دانائي کړې

څو ډکي خوني وې چه مرګي لوټ کړې
څو خلقې ئې سَرَه کوټ کوټ کړې
مرګ يو تريخ جام دَي درته نيولي
څو به ترې خوله نيسې دا جام به ګوټ کړې

اې چه له ما نه علم مکتب غواړې
دود دَ عجم غواړې دود دَ عرب غواړې
روغ يې که روغ نه يې راته ووايه
له عاشقانو چه ته مذهب غواړې

خپل دِ پردي کړل پردِي به خپل نکړې
خصلت دِ بد شو خصلت به بل نکړې
غم دِ په بخره شو ښادي به تل نکړې
چه ناقابل يې ځان به قابل نکړې

چه کنګه پيغله شوې کبر دِ ډېر کړ
خصلت دِ واړه په بل بل پېر کړ
چه سپينه خوله دِ ورته نومړې وه
هغه دِ ولي له دِله هېر کړ

اې چه ياري کړې په څو څو غاړي
په تله ورکړې په خروار غواړي
يار دِ دَ خپله لاسه په ګور کړ
بيا ئې په هاي هاي په ورټ ورټ ژاړي

که زه دِ ژاړم چه ته مي نه ژاړې
که زه دِ غواړم چه ته مي نه غواړې
کوښښ به واړه ځما برباد شِي
ما به دَ غم په مزريو وداړې

مخ دي له ورايه راته عيان کړ
اور دِ راپوري په خانمان کړ
نظر دِ هورې په بل بل شان کړ
آشنا مي نه گڼې ځان دِ نادان کړ

ځو به دِ تل وِي دا اوړي پاوړي
چه دِ په زړه وي په خوله ئې راوړي
ځو ئې ونخوري کله به آوړي
چه بلا غواړي په بلا واوړي

په درسته ورځه چه تلاتوب کړې
دَ دنيا چارِي په ځه آشوب کړې
خوشحاله پاځه دا سړي توب کړې؟
چه چرگ به ويښ وِي ته به لا خوب کړې

چه خيال مکېز کړې هونبره خونرېز کړې
چه خپل عاشق سَرَه خيال و مکېز کړې
رانجه چه پوري کړې په برندو سترگو
خنجر دَ جنگ او دَ فتنې تيز کړې

خوار زړه مي واخيست په تا مي باندي کړ
تر ډېرُو ډېرُو اندېښنو مي لاندِي باندي کړ
سترګي د باز دئ زړه مي تمځري دئ
خلاصي ئې نشته اوس ئې دَ وړاندي کړ

خدايه دردمن کړې بې دردان واړه
چه واړه ژاړي د ما په غاړه
خوشحاله ملک دَ بې دردُو ډک شو
دردمن په نورُو ملکونو غواړه

ز

چا ته چه څاه کينِي څاه کښ پرېوزي
بلا چه غواړي په بلا کښېوزي
په څو به روغ اوسې دا فکر ښه وکړه
په پړانګ پرهار وکړې بيا ور پسېوزي

دَ چا چه ډک وِي زړګي له رازه
که په وَيل ئې نکا خوله وازه
يا ئې له خولي نه څه بوي روان شي
يا به ئې رنګ وِي دَ مخ غمازه

که په یجوز لا یجوز پسېوزې
واړه کوهي دي پکښې به پرېوزې
راشه په دین دَ قلندرانو شه
چه بې وسوسه په هر څه کښېوزې

درته به وایم دا دوه رمزه
که پوه پرې نشې لېمه دِ ووزه
څو چه د خپل وي خپل به د بل وي
تر سیال به نه وړې خبره کوزه

تر غرونه پرېوزه تر زړونو پرې موزه
دَ سرو مزریو په ډکه کښې موزه
چه څوک ئې نه پسندي هر چا ته بد وي
په هغو هسي چارُو پسې موزه

په غرونو مه ځه تر غرونو پرې موزه
تر غرونو پرېوزې تر زړونو پرې موزه
زړونه څه واړه برابر نه دي
درومه تر زړونو دَ مړونو پرې موزه

سردار ته بویه دا یَو څو څیزه
چه مَړَني وِي ځما عزیزه
داد و دهش لري دین و دانش لري
نه بې رشتیا وِي نه بې تمیزه

ږ

نیستي هستي دَه که ته پوهېږې
لوئي پستي دَه که ته پوهیږې
بده تر هر څه په دا جهان کښ
خود پرستي ده که ته پوهېږې

زړکي دَ ښکار خورم بره دَ مېږي
دَ سړو اُوبو یم دَ تَودې غېږي
تنګ لنډ مي مکړه پل دا څو توکه
بې نیازه خدایه که دعا مي نغوېږي

هوښیار ته ګول شه که ډېر پوهېږې
څو خاموشي کړې نه به ستوهېږې
منګي چه ډک وِي کله آواز کا
څه ښه دلیل دئ که پرې ګروهېږې

س

څو چه توانېږې هونبره نافع اوسه
تل تل دَ نیکو دَ خصلت واضع اوسه
سود ئې تر جود تر کرم دَ پاسه دَئ
دَ خداي دَپاره متواضع اوسه

که ته پادشاه بې دَ تخت دَ پاسه
خداي ته ګداي شه خبر شناسه
عارف دَ ځان شه دوست دَ سجان شه
غير فکرُونه له زړه وَباسه

زويه مي ډېر دِي واړه عزيز اوسه
په هَره چار کښې صاحب تميز اوسه
خو يَو بهرام دَئ په خوي ناڅيز دئ
لکه ناڅيز دَئ هسي ناڅيز اوسه

په زړه دَ دواړو خلقو نيکخواه اوسه
هدايت کړُوني دَ هر ګمراه اوسه
طمع له چا مکړه سخا په هر چا کړه
بې تخت و تاجه لکه بادشاه اوسه

خوي دَ خوشحال راوړه په زړه خوشحال اوسه
په زړه حلال اوسه په خوله حلال اوسه
مَيَن په شرم دښمن دَ مال اوسه
دَ نور چا مشه دَ ذوالجلال اوسه

که هر څو ډېره ده دنيا تر قياسه
ځاي دَ دنيا کړه تر زړه دَ پاسه
زه به فتويٰ درکړم چه باک ئې نشته
دنيا سودمنه وِي وَ تا ته ناسه

په عدل و داد کښې په هر چا سم اوسه
وقار هم دا دَي په توره کښې کم اوسه
که ته په کبر دَ ځان لوئي غواړې
گيدي دَ وژلو يې يَو مار لَړم اوسه

طباح چه وَوزي تر يَو څو لاسه
ورځني وخورِي دَ پاسه پاسه
پاتو خوراک ئې خوراک دَ سپيو دَئ
په دا خبر شه سخن شناسه

په شرم ننگ کښې دَ دنيا وَلاړ اوس
دَ دين پکار کښې له دنيا ولاړ اوس
په خپلو باغ شه رو رودبار شه
و بيگانه وُو ته سخت لکه گاړ اوسه

آسمان که نه کا خِسَت دَ پاسه
لکونه راشي دَ خوشحال تر لاسه
چه تار پتار ئې په خلق نه کا
ته دا خبره له زړه وباسه

دولت چه مومي دَ چا له لاسه
نکبت هم مومي له هغه ناسه
دي دِ په مثل پروردگار شه
بد کړې که نه يې ترې بې هراسه

ش

اندېښنې مکړه ډېري دروېشه
دنیا به نه مومې تر قسمت بېشه
شکر غني لَره صبر دروېش لره
که کا هم دا دِ کا هر چه شِي پېښه

چه ئې لرزه وه په ملک له جیشه
زړه ئې ښادکام وُ له هره عیشه
گوره په گور کښ هغه شاهان دِي
چه ړِغ ئې نشِي دَ مرگ له طیشه

ما دَ دانا کړه دا وینا خوښه
ړانده دِ نه ځِي بې عصا کشه
طمع مَرغونه په دام بندي کا
سړی خواریږي له خپله اشه

ض

دَ ښو خبره دَه په هر چا فرض
درته به وکړم پوره دوه عرض
دَ بدخواه ومنِه د ښځو مه منه
له مرگ مه تښته تښته له قرضَ

ق

و خداي ته خوار دي بهتر د خلق
له ځانه پرې کړه باور دَ خلق
که خپل دَ خداي يې په حقيقت کښې
مؤمن دَ خداي شه کافر دَ خلق

ک

له زاغه زده کړه دا دوه درې توکه
يَو چه رزق نړدي کانده ته دوکه
بل چه دُخول کا مخفي له خلقو
بل چه په تراه وِي له واړه لوکه

بارک مَيَن دئ په دا دوه توکه
په سپينه وازده په سپينه روکه
بولاق دَ وينځي په خوي خصلت دئ
ور لَره بويه لويه متروکه

که پند مي نغوږې مکړه دوه توکه
خواست دَ خسرې له خپله روکه
دروغ خبره په خوله را مه وړه
په کار و بار کښې له واړه لوکه

څونبره د خوا ده و ما ته ډکه
چه تَشَوِې ئې په ما فلکه

هم دِ پېرې کړه په ما تعیینه
هم دِ مېږخې کړه دَ مغل را لکه

په نیلي سپور یې کرکره لکه
دعوا دَ کبر په زړه کښې کلکه
که فهم وکړې چمچې دَ غُلو یې
هونبره لوئې کړې دَ غُلو ډکه

تل ئې خبرې له ښه خوراکه
ذکر مذکور ئې له ښه پوښاکه
خپل کسب هیڅ نه واړه له ظلمه
هې توبه توبه له هسې ژواکه

گ

جن په حجاب کښې دَ مور له څنگه
مگر ځان ژغورې دَ مرد له چنگه
که په صحرا گرزې که کوڅه گرده شې
شنده به ور کا په خپله تنگه

هر گوره ښه ئې دَ باغ سل برگه
سر دِ راوکینښ دَ شیر له تخرگه
ستا په دیدار مې سترگې خوږېږي
زړه مې را وَوت دَ غم له درگه

که زړه دِ خلاص وِي دَ شک له رنگه
اندوه به نکړې دَ غلیم له جنگه
بړستن دَ خوب دَه که صف دَ جنگ دئ
دا دواړه توکه نه دي دوه رنگه

که سَرَه ټولي کړې دَ کلي چرگي
نه واړه چرگي نه دَ باز سترگي
نه دوه سو کښلي جونه بې باکي
نه یوه کښلې دَ پاکي پېرگي

مغل بې قدره پښتون بې ننگه
توبه له توري توبه له جنگه
تسبیح په لاس کښ په نظام پور کښ
ناست په مسجد کښ جمدر تر څنگه

غلیم مي زر دِي په دا دوه رنگه
لکه چه راشي ځي مي له چنگه
بل په آسانه را لَره نه رائِي
بې سپیني توري بې ډېره جنگه

ل

دَ ځان مي وليدَل اخوان مي وليدل
ياران مي وليدَل دوستان مي وليدل
چه ښه مي ځير کړل واړه سړي ندي
سګان مي وليدَل ددان مي وليدل

چه ئې مخمور وې سترګي بې مُله
سنبل ئې هيڅ وُ تر ښه کاکله
وګوره ولاړل هغه مخونه
چه ښايسته وُ دَ باغ تر ګله

راشه که ګورې اهل نا اهل
يَو ابوبکر وُ بل ابوجهل
په ابوبکر محمدﷺ نمر وُ
په ابوجهل تر سَهَا سهل

دا سبز ګلونه ګوره خوشحاله
ګوره چه څه شِي تر بله کاله
لکه چه ګل دَي هسي ستا عمر دي
راشه خبر شه له دې مثاله

که ډېر اغزي لرې په څنګ کښې ګله
اغزي دِ نه ويني شيدا بلبله
چه پر مَيَن وې عيب ئې نه ويني
هر څه ئې آخلې بې تامله

ياران مي ولاړل تر خاورو لاندي شول
موږه ئې پرېښوو تر موږ دَ وړاندي شول
په ګور ئې ورشم سپاندِي پرې ووينم
مګر زموږه دَپاره سپاندي شول

چه دَ ليدل وُ هغه مي وليدَل
چه دَ خوړلو وُو هغه مي وخوړل
آخر که ګورې دا واړه هيڅ دي
لکه مي ووَيل هسي مي ومَنل

دا يم زه تير شوم تر اويا کاله
ته را خبر يې يا زوالجلاله
دا غم مي نه دئ له اعداء ليدلي
لکه ئې وينم له خپله آله

که لوي ملا شي په لوستل لوستل
آدم که نشي لوستن[1] دي لوستل

---

١. لوستل: يعني ويل، قرائت (لوُستل) يعني خپورول او تيتول او خرابول.

ځني لُوستل کا ځني لوستن کا
په شان شان کېږِي سبق آخيستل

وخت دَ پيرىِ راغَي خوشحاله
لا دِ په زړه دِي دا يَو ښو خياله
خيال دَ ننګونو خيال دَ جنګونو
خيال دَ دلبرو له خط و خاله

دَ مرد دَ علم دَ هنر له حاله
زر خبر دار شي له قيل و قاله
دَ نفس له حاله ئې هاله خبر شي
چه ورسَرَه وي په يو ښو کاله

خبر هيڅ نه يم له خپله حاله
حال مي به څه کړې يا زوالجلاله
تکيه مي ستا ده ستا دَ کرم دَه
دايم در تلوني شوم ډک له وباله

که ښايسته يې په مخ تر ګله
بوي د جفا ځي ستا تر کاکله
ګل که زيبا دَئ چه بې وفا دَئ
ځکه فرياد کا ځنِي بلبله

گل ته گويا شوه دَ باغ بلبله
چه ناز ډېر مکړه دَ چمن گله
گل وې په بخره دَ کښليو ناز دئ
خبري مکړه بې تامله

گل په شونډو په مخ من کلي
سترگي دَ باز دِي بانړه منگلي
که يو لک کښلي وبله ټولي شي
يو لک من ته يې نوري من گُلي

غريب يم بولم دَ غربت بدله
رنځور شو دواړه دَ بابا دله
نابود بولاق دي که بر وړي دئ
راغلي مه وَي تر بَرمَوَله

زه هيڅ خبر نه يم له خپله حاله
هغه جنين يم بې قيل و قاله
وړي شم وژاړم موړ شم خندا کړم
هونبره پوهېږم په څو اشکاله

م

دا یم که زړه له دلبرُو ونیسم
پسي ړندیږم زړه به په څه نیسم
څو مي ژوندون دَئ پدا دنیا کښ
زړه به له کښلیه مخه وَ نه نیسم

ما وېِ چه تا به دَ ځان په رنګ کړم
لکه ملنګ وېِ زه دِ ملنګ کړم
سبږ دِ دوهین شوم تَر بله کاله
دَ ځاَن به لویه مصلېِ لنګ کړم

نه مرد دَ کفر نه مرد دَ دین یم
نه دَ ګمان یم نه دَ یقین یم
په دواړه توکه مذبذ بین یم
هم په زړه تور یم هم په زړه سپین یم

قرآن دَ وړاندي په لاس کښ جام لرم
په لون لون حلال حرام لرم
عمل مي تریخ دَئ که خوږ کلام لرم
نه درست کافر یم نه درست اسلام لرم

لینده چه نه وِي په غوږ یوسمه
غشي چه کوږ وي پر خانه کمه
نه به دَ نخښي ګذار پرې وکړې
نه به په غشي کړې غرځه بې دمه

دا ته یې یاره که دا زه خواب وینم
تا ته یې یاره که په شپه آفتاب وینم
چه ستا دَ زلفو نګهت مي ولیده
مه تور عنبر وینم مه مشکناب وینم

چه جدا شوي یاران تر زړه کړم
لېمه په ډېرو ژړلو سره کړم
کښېنم بیا صبر دَ خداي په کړه کړم
چه صبر نه کړم وایه نور څه کړم

دا ډېر فکرونه چه صبح و شام لرم
چه فکر وکړم واړه ئې خام لرم
خلق په منځ کښ دَ اختیار خبري کا
فهم مي وکړ دَ اختیار نام لرم

دَ څرخ له څرخه و څرخ ته ساز شوم
نیازمن دَ هر هر ناکس دَ ناز شوم
لکه په لاس دَ بې شناختو کښېوزِي
هسي بې قدره پر ماتي باز شوم

په زړه کښې ستا دَ کوڅې غبار لَرم
په سر کښې ستا دَ پیالې خمار لرم
پرېشان دَ زلفو بېمار دَ سترګو یم
زه دا دوه توکه له تا یادګار لرم

په غم دِ سوي لوغړن زه یم
سبا بېګا دِ په اوښیو اُوبه یم
دَ عشق سپاره دِ په ما هړانده کړه
په رنګ ځبېښلي سوي په زړه یم

مست یم په سر کښې مستي دَ مي لرم
چه په نشا ئې کي کي لرم
رقص مي په تار دَ هغه رباب دئ
چه په نغمه ئې هَي هَي هَي لرم

پیري په ما راغله زه ئې خراب کړم
په پېچ و تاب ئې دَ هر اسباب کړم
هر هر اسباب ئې له ما نه یووړ
فائده مي کومه چه پېچ و تاب کړم

یار مي کافر دئ زه مسلمان یم
دَ ده له بده خویه په ځان یم
زړه ئې ځما له کوګله وکیښې
ځني په وېره دَ خپل ایمان لرم

ځار شم بلهار شم دَ يار تر نامه
دَ يار تر خطه تر ښه پيغامه
باد چه را والوزِي دَ يار له لوريه
ور سَرَه راوړي خوښي تمامه

سخ خو د ما دي چه هسي يار لرم
چه ئې له لاسه دا زړه خوار زار لرم
که راته کښېنې په تا ډېر کار لرم
در به ئې پرانزم دَ گليو بار لرم

تا چه پيدا کړه هونبره اقوامه
حکمت دِ څه دَئ يا ذوالاکرامه
تا چه پيدَا کړه حکمت ئې تا زده
موږه هيڅ نږده په دا تمامه

چه ځان ته گورم لا هسي زوړ نه يم
چه څنو څنو چارو ته جوړ نه يم
چه غاښ مي پرېوتل فساد را وشو
که هر څو غوښي خورم به غوښي موړ نه يم

نه زر په کور کښ نه کښت و کار لرم
وابست له ځان سره تر سل بسيار لرم
رازق دَ خلق يې په دا اقرار لرم
څه غم چه تا غُندي پروردگار لرم

له خپله بخته و چا ته زار کړم
زر مي اغيار شي چه زه ئې يار کړم
نور مي توبه ده که اکوړي راشي
نه به ئې يار کړم نه به ئې پلار کړم

زه که مي خور يم يا شاهد باز يم
فسق و فجور کړم گنده په نماز يم
اندوه مي نشته خبر په راز يم
په ولا تَقنَطوُا و کرم ته ساز يم

زه تا پيدا کړم به دا قائل يم
که بيا مي وژنې دلگير په دل يم
وايې چه بيا به دِ بل ژوندُون وِي
هر چه ته وايې زه په منل يم

دَ کوب و چوب دِي دا څو اقوامه
اول عورته واروه اې خامه
آسونه خرونه مرَيونه اوړکي
بل رعيت دَئ په دا تمامه

خالق څما يې په دا پوهېږم
حکم دِ حق دَئ منم گروهېږم
چه دِ ظلوم او جهول پيدا کړم
په بد مي نيسې دا اندوهېږم

پيري په ما راغله زه ئې تاراج کړم
زه ئې محتاجو وته محتاج کړم
رنځ دَ پيرئ دئ بتر بتر شي
فائده ئې کومه چه ئې علاج کړم

منصور چه مست وُ له هغه جامه
جرعه ئې راغله ځما تر کامه
منصور په دار شو زه به لا نور څه شم
که راز مي ورشي تر خاص و عامه

که ويني ژاړم گرېوان چاک چاک کړم
په غولي گرزم غوغا بلغاک کړم
په دا به تللي ياران را نشِي
سکه بايده دا دي چه ځان بې باک کړم

خواره حيرانه بني آدمه
په هيڅ غمجنه په هيڅ بې غمه
خاندې وژاړې وژاړې خاندې
دا چار دِ تل دَه له عمره سمه

تر غينَ تير شوم دا هسي زه وينم
احوال يَو دوه ويني زه يَو اُوه وينم

ترف که درشم غفد[1] سبږ کال دي
اوه به شل وینم دا کار زه ښه وینم

که هر څو مست یې اې دُر د آشامه
مستي دِ هیڅ ده ځما تر جامه
ته لا َخبر یې له ننګ و نامه
ځما مستي دَه علي الدوامه

اولاد مي ډېر دي منت دَ خداي لرم
دَ واړو مهر په زړه کښې ځاي لرم
یَو څو بد بخت دي زوال ئې ژر وشه
دَ دوي له بده خویه هاي هاي لرم

مرګ را نیژدې راغي پیرئ کر کړم
غاښونه لاړل غم دَ بصر کړم
وخت دَ آرام وُ دَ زړه دَ کام وُ
قسمت په غاړي په غرونو سر کړم

تل به شړلي لېږلي تا یم
بیا په دا کار کښې کږلي تا یم
چه ستا په نه دیدن دَ ځکندن شوم
که مي ته نه وژنې وژلي تا یم

١. ١٠٨٤.

چه ځان ته وګورم ځان ګنهګار لرم
دَ نفس له لاسه فریاد چغار لرم
حال مي به څه وُ که استغفار نه وي
شکر چه ژبه دَ استغفار لرم

دَ مرد چه نه وِي وینا محکمه
په ده به نشي درغله سمه
چه یو ئې زړه وِي یَوه خبره
خلاص وِي له همه خلاص وي له غمه

خبر دَ دهر په مکر دروه شوم
دا څه چه ښاد شم یا په اندوه شوم
نه ئې ښادي شته نه ئې اندوه شته
دواړه فساد دِي چه ښه پرې پوه شوم

مرګ را نیژدې راغي زه لا غافل یم
په شور و شر کښې دَ دنیا تل یم
په تور ویښته مي سل ګناهونه
په سپینه ږیره لا ډېر خجل یم

که ته جفا کړې زه به وفا کړم
که ته ښېرې کړې زه به دعا کړم
څو دا جهان دئ هونبره دِ ته وې
که ته مي نه وې نیاز به په چا کړم

زويه که هسِي وِي لکه چه زه لرم
که هر څو ډېر دِي يو زويه نه لرم
يَو يحيي خان نشو يَو اکوړي نشو
چنجو منجو دي پټ به ئې څه لرم

دَ ښکار پکار کښ که هر څو ښه يم
چه باز مي ځان دي هغه يو زه يم
په باز که هر څو قاز و کلنګ نيسم
ډيره مي سپينه شوه مير ښکار لا نه يم

دا آزميښت ګوره په ما چه زوړ شوم
له نورو چارۇ په زړه کښ سوړ شوم
را پاتو مينه دَ ښو دلبرو دَه
چه زوړ شوم لا ئې په عشق کښ جوړ شوم

خلق هوښيار دي زه لېوني يم
نه اوسني يم لا لرغوني[1] يم
هغه چه لافي دَ هوښيارئ کا
تشي درمي دي پکښ ګنَي يم

هونبره خطا لرم څو چه عاقل يم
هونبره هوا لرم خو چه فاضل يم

١. يعني سابق، دمخني.

تسپې په لاس کښې زړه په وسواس کښې
ولاړ په باطلو کارونو تل یم

اوس زه په خپلې چارِې خورسند یم
مال ملک مې نشته زاهد څرګند یم
خو دا عالم مې ور پسې نه پرېږدي
لا ځني نه شلیږم په قسمت بند یم

توبه مې وکړه له میو پیر شوم
پسرلي چه راغي په زړه دلګیر شوم
دَ ګل په مخ مې باده را واخیسته
بیا دَ ځوانۍ و کار ته خیر شوم

مرګ دَ نا اهل سبا بیګاه غواړم
دعا مې دا ده الله الله غواړم
ځما توبه دَه دَ بهرام له خیره
دَ ده له شره امان پناه غواړم

لکه ملنګ وې زه دِ ملنګ کړم
لکه بې ننګ وې زه دِ بې ننګ کړم
څوک یې خبر دِ ذاته نه یم
په څه خپلوي دِ دَ ځان دَ څنګ کړم

په سردارۍِ چه پوهېدلي يم
سرداري غم دَه ترې ترهېدلي يم
ور ځني وتښتم په غاړې غرونو
لا ئې تر اوسه په غم نيولي يم

چه خپل عمل ياد کړم خاورې په سر لرم
ډک له گناهَ تمام دفتر لرم
وخت دَ حساب راغي بله تکيه نشته
تکيه دَ خداي لرم دَ پيغمبر لرم

که نور په نورو چارو جلي ستا يم
زه به دَ تورو په کار علي ستا يم
ورود دَ رسول دي ورباندي ښائي
که ئې له فرقه بيا تر تلي ستايم

دَ چا چه نه وِي دَ سترگو شرم
درته به نه وِي په پندونو نرم
ځني امان غواړه که دِ بسر وِي
پلار والي پرېکړه دَ بې آزرم

که دِ له خويه چا ته فرياد کړم
يا هيڅ دم نه وهم صبر بنياد کړم
په دواړه توکه ځما پروا نکړې
يَو څه ناترس يې څه به دِ ياد کړم

په غم کښې شوخه بني آدمه
دربانديِ راشي څو څو ماتمه
شيرين ياران دِ په مرگ جدا شيِ
سخت يې چه نه چوې له ډېره غمه

زه په خپل ملک کښې خو دا دوه دم لرم
ښايسته پردي نصرت قدم لرم
يوه مي توره دويم مي ډال دئ
پدا څو توکه عرب عجم لرم

په خوب کښې هر کله بوي دَ دنيا وينم
جرگې جنگونه هوس هوا وينم
مگر يکلخته دَ دنيا سړی يم
چه نه يَو شيخ وينم نه يَو مُلا وينم

خبر هيڅ نه وم چه ورَځ وه کومه
چه زووم سعد وه که نحسَ شومه
غمه په چرته غلط غلط درومې
غرض په ما لرې دلې را درومه

شهره په واړه عالم مدام ښه يم
پرېبرده په خوله کښې دَ خاص و عام ښه يم
شيخه ته شيخ يې زه رند هيڅ مه وايه
ته دِ نېکنام اوسې زه خو بد نام ښه يم

مرگ را نيژدې شو زه دا ارمان لرم
که زوړ ليده شم اختيار دَ ځوان لرم
ارمان مي جونه دِي دَ نام جنگونه دي
مقصود مي ښکار دَئ غم دَ ايمان لرم

زوړ کړم غمونو دَ اشنا زوړ کړم
له کل هوسه ئې دَ دنيا سوړ کړم
څوڅو تاونه را باندي تير شوه
کومي مې وچ کړ هجران رنځور کړم

پريشان په ځان کښ په ډېر حيرت يم
څه وم دا څه شوم په څه حالت يم
چه تل مي ځاي شول غرونه رغونه
زه دا په چا پسي مجنون صفت يم

چه سر دِ خوړ شي امان امان کړم
وايم چه رنځ دِ واړه په ځان کړم
څو دا جهان وي هونبره دِ ته وي
که نه اور به پوري په درست جهان کړم

دَ ښکار په کار کښ زړه دَ ځوانۍ لرم
غم دَ پيرۍ دَ ناتوانۍ لرم
سترگي هغه ندي هغه قوت هغه ندي
چه باز په لاس کړم خو حيراني لرم

وايې جنت لرم حور او قصور لرم
بل دار تر دانه په نعمت پور لرم
چه وايې هسي دي واړه منلي
ما ته دا پرېږده چه دا حضور لرم

که دا گناه دي چه په تا چور چور يم
سکه سر تر پايه له گناه پور يم
دَ تورُو زلفو په مار دِ وخوړم
گونه مي زيړه په زړه رنځور يم

په غم غمجن وم په خوب کړمن وم
خلاص له غمونو ستا په ديدن وم
په خوب په هسي رنگه اوده شوم
چه خلق وينبں وي زه په خفتن وم

خواره حيرانه بني آدمه
چه دِ خمير دي خاوري له غمه
يَو دم که وخاندې پدا دنيا کښں
بيا دِ ژړا وِي په ځو ځو دمه

ن

کله د خاصو نصیحتونه
کله دَ عامو ملامتونه
لا دَ اوله په عشق کښې دا دي
بیا پسي نور نور فضیحتونه

نادان په سر لري ځیره زرینه
هوښیار دوه ګزه پټکي لرینه
تر هر څه ګوره دا بد ترینه
نادان چه پائي هوښیار چه مرینه

دَ مرد چه نه وِي لَمَن خیرنه
پاک وِي په ژبه پاک وِي په ژمنه
که زر بلاوِي اندوه دِ نکا
فرښتې به واړَوي بلا لَهٔ دنه

ځواني مي ولاړه په غفلتونه
په غسرتونه په شدتونه
لولئ چه زاله شِي تسپې په لاس واخلي
هسي مي اوس دي دا طاعتونه

و چا ته وایم دا ښه پندونه
چه دَ منلو مات شول بندونه
پلار د خپل راي شو زوي دَ خپل راي شو
جدا جدا دِي سرَه سندونه

چه غم ئې نه وِي له ناحقه خونه
اور به ئې ولگي په درسته خونه
نيست و نابود به شِي په دا دنيا کښې
هورې به پاځي تور تور مخونه

پند دي سودمند دَي واوره تورزنه
اسانه نه ده دَ سر ښندنه
مصلحت مه پرېږده دَ خپله لاسه
هم به خپل راز لرې دَ زړه دننه

کار چه خفه شي په افکارُنه
واړه ابتر شِي هغه کارونه
ځني کارونه نن لکه گل دي
کانده هغه شِي لکه خارونه

تا ته چه شمار کا دَ چا عيبونه
چا ته نه شمار کا دَ تا عيبونه
دَ سخن چينو مخونه تور شه
په مخ ثتا کا تر شا عيبونه

اې چه خبري کړې خوږې شيريني
ولې دِ ووتې په عمل کښې سپيني
گفتار سور گل دَئ د انار دَ وني
کردار انار دَئ که ته ئې ويني

هونبره ثواب دي څو مفسدان وژني
څو مفسدان وژني ګڼه ددان وژني
و بال ئې واړه ځما په غاړه
فتوا دَ عدل ده څو چه بدان وژني

که کاڼه نه وَي دَ چا غوږُونه
موږه به ووې دَ سود پندونه
که ړندې نه وَي دَ خلقو سترګې
موږه به وښَيل ورته ملکونه

کښلي ځوانان دِي که کښلي جونه
پرې مي سلام دي موږه به ځونه
سخ دَ هغو دئ چه لمن پاک وي
قضا ئې نه وئ روژې نمنځونه

آخيست چه نه شِي په غاړي غرُونه
وري د عشق دئ موږه ئې وړونه
مست مست بارونه به مست مست اوښان وړي
غرض پرې څه لري غوايه يا خرونه

تا چه پيدا کړل هونبره ملکونه
ربه په تا شِي دا قدرتونه
که تا پرې نه کړَي دا بارانونه
واړه به هيڅ وُ دا سمي غرونه

ربه چه مات کړي دا صورتونه
بيا به ئې ساز کړي په حکمتونه
د نور چا نه دي دا صنعتونه
ربه په تا ښائي دا قدرتونه

دروغ که آړ وي بلا له تانه
دروغ خوي مکړه اي ځما ځانه
راستي پرې مبړده له خپله لاسه
خداي به په تا کا گرانه آسانه

دَ شيخ شاب سَرَه تل طرباني
دلبري ښې دِي بې ادباني
هغه به ولي غم دَ پيرۍ کا
چه تل تر ځنگ لري شکر لباني

نه سره سم دي واړه مړونه
نه سَرَه سم دِي دَ هر چا زړونه
زړه هم هغه گڼه چه لکه غر شِي
که باندِي را شِي هزار غمونه

چه تجلي وه هغه مخونه
سپيرې ايرې شول دَ گور په خونه
دَ صورت ونه تابوده ونه ده
هم ئې ښاخونه ځي هم ئې وېخونه

نه اوس ځپلوي شته نه پیوندونه
ګڼ سَرَه نه دِئ دَ چا سندونه
خوشحاله بس کړه خاموشي ښه ده
و چا ته وایې دَ سود پندونه

دین چه خالي شِي له ښه یقینه
کفر بهتر دَئ تر هغه دینه
چا دا خبره څه ښه وَیلې دَه
ما ته لینده دَه ناقصه مینه

که دِ هر څو وکړې دَ دنیا عیشونه
کوټونه مات کړې پخپل جیشونه
عمر دِ ډېر شِي له جَم دَ عمر
په تا به وشي دَ مرګ طیشونه

نه اور بشینه دَ خپلي خونه
نه چه غنمینه دَ بلي خونه
ځنو بې ځایه خوني تالا کړې
په ځاي مردانو خوړولي خونه

د مرد پیغور ده جامه وریښمینه
نه دِ مهینه وِي نه لا رنګینه
دا کِسوتونه دَ ښځو بویه
ښیوه دَ مرد دَه په جامه سپینه

نفس په آرام دئ زړه په خوندونه
دا دواړه زده کړه واروه پندُونه
نفس په لنده په وچه آرام وکا
زړه په خوندونو مات کا بندونه

قرآن چه لوست شِي په هغه خونه
ځني به ديو کا خپمه بيرونه
څو چه ښادئِ دَ دواړو کونو دي
پرېِ به دَ ده شي خونه مشحونه

دنيا مي وليدله دَ دنيا کارونه
ښادي ئې غم دئ گل ئې خارونه
څو درته پريوزي په انبارونه
په زړه دِ پريوزي هونبره بارونه

زه تا پيدا کړم له ما ؤطينه
بخره دِ را کړه دا دين متينه
دين مي منلي دَ پاک رسولﷺ دَي
ځما توبه ده له غيره دينه

څه ښه بادشاه وې شاه جهانه
هم غور رسه هم قدر دانه
چه ته ئې بند کړې زويه دِ نَدَي
يوه بلا دئ پيدا له تانه

هوښیار هغه دئ چه سخت جنگونه
تر خیرَ راولي په فرهنگونه
نادان هغه دئ چه پکار دَ صلح
گډ کا دَ شر دَ فساد رنگونه

په فتنو ډکه توره اسمانه
لا به دِ کله شِي دا خونه ورانه
چه بل یو نوي جهان پیدا شِي
گنُدِي څوک بیا مومي خلاصي له تانه

ما ډېر تېځلي دِي بد خوي آسونه
چه غلا دَ زړه لري بد وسواسونه
ټکه هیچري په متروکه نه ځي
که په وَهَلو سَرَه کا لاسونه

هم مي دولت شته هم مي ملکونه
هم مو ځوانان دِي هم لوي لوي غرونه
دا واړه هیڅ دي په کوم حساب دي
چه په کښ نشته ښه ښه مړونه

چه عاشقي کا پریږدي ننگونه
قبول کا توري توبري جنگونه
خپل زړه خالي کا دَ یار وَ میني ته
له زړه نه واخلي نور نور رنگونه

که هر څو تېر یې تر صحبتونه
علم ادب لرې فصاحتونه
لا به پخپله ژبه ډېر فهم کړې
دَ ژبي ډېر دِي قباحتونه

بلبلي څه غواړې له گلستانه
گل به بیا نه مومې بې له خزانه
لکه خوښۍ دَ گل دَ وصل وِي
غم به ئې هونبره وي بیا له هجرانه

تر سر تر پایه کښلي مخونه
دا یو یوسف وُ دَ پلار په خونه
هر مخ چه ووینې زړه دِ پرې خوښ شِي
مخ هم هغه گڼه کړه پرې سخونه

وُنه تل نه وِي سرَه یکسانه
لښته وِي ونه نشي سته شي جانه
خوشحاله مکړه ماڼه له چانه
ته هم آسمان کړې په څو څو شانه

هغه مي سترگي وې چه په ملکونه
غرڅه به ما لیدل په لیري غرونه
پیري چه راغله چه را نیژدې راشِي
هاله ښه ځیر کړم آشنا مخونه

که عقل ورک شِي له دې جهانه
هيڅ پاتو نشي اې ځما جانه
هيڅوک به نه وائي چه زه نادان يم
هر يَو به ښه ګڼِي ځان له لقمانه

دولت خيمه دَه زويه ميخونه
ښه زويه زېږِي دَ پلار په خونه
غم دَ مور پلار دَ دولت ناتار وي
تور شه دَ بدُو زويو مخونه

خوشحال چا ته وايې پندونه
خلق خوشحال دي پخپل سندونه
که زړه دِ وار کا ژبه قراره کړه
مات دِي دَ پند دَ باړي بندونه

نظر مي وکړ په کتابونه
ډېر ئې ښَيل دِي ډېر ئې بابونه
نوري به نشي ازلي چارِي
که ثوابونه نه دِي که عذابونه

هغه مي سترګي دِي چه په ښکارونه
غرڅه به ما ليدَل په کوهسارُونه
اوس چه باز واچَوم غوټه ئې نه وينم
آه د پيرئ دِي دا آثارونه

مرهم په زړه بږده په پرهارونه
دانا به ګل کړي نادان خارونه
په هر هره سوړه لاس مه منډه
پکښې به خوب کا خوني مارونه

چه در سره کښېني يَو څو شيطانه
ياران به ليري کړې له خپله ځانه
سود به دِ نه وِي بيا به ارمان کړې
ارمان به يوسې تر ګورستانه

چه خبردار شوم له دې جهانه
څه مسخرې کا په هر چا ځانه
هوښيار لا هونبره په ځان خوښ نه وي
لکه نادان کا خوښي له ځانه

خوشحاله مه کړه ماڼه له چانه
فکر په زړه کښې وکړه اې جانه
په تا چه کېږي دا هونبره چارِي
بلا دِ واړه دَه له خپله ځانه

هغه چه نه لري پنام و تنه
و مخ ته مه کړه دَ هغه کتنه
که سکه زوي دي يَو سګ ئې وګڼه
په ښه په بد ئې مه کړه پوښتنه

ښځه چه پاکه وي او پاکدامنه
دَ دې په نور وِي خونه روښنه
پل دَ ناپاکي لکه اوربل وِي
په خونه بل شِي دَ دې له تنه

درته به وَوايم دَ ښکار رازونه
چه سَرَه ونښلي دَ ښکار بازونه
تر منځ به خلاصه شِي دَ ښکار هيلۍ
آسمان ته درومي په پروازونه

دا منصبونه دا انعامونه
واړه زندي دِي واړه دامونه
پښتون مغل به سَرَه دوستان نشي
خوشحال ئې مه وينه دا اکرامونه

دا اکرامونه دا انعامونه
دَ چا په ياد دِي هسي کامونه
په بوي دَ ميو مست شم صوفي يم
ساقي را سر کړل ډک جامونه

عثمانؓ دِ ووژمي خوني آسمانه
عليؓ دِ هم کړ په تيغ بې ځانه
حسنؓ حسينؓ دِ دواړه شهيد کړل
اوس به ته واړَوې توره له چانه

دَ ننگ خواهانو تربیتونه
دَ بد خواهانو سیاستونه
چه دا ئې نه وِي ملوک ئې مه بوله
که هر څو ښه وِي په خصلتونه

که کښلي ټولي شِي سَرَه لکونه
را باندِي پریوزِي دا فلکونه
خپل یار به هیچېري پکښې غلط نکړم
که دا مي سترګي وي دا کولکونه

که ډېر ښکارونه وه که ډېر بارونه
واړه مي ولیدل نور نور رازونه
چه خبر دار شوم په انجام دَ چارِي
یا بڼغ دَ توري دئ یا نمازونه

لاري دشواري غاښي غارونه
اوښان پرې بیایي په قطارونه
که څړه روې دَ غره په سر به ځې
دَ غره به سر به ځِي لښلي بارونه

چه دَ شیخیِ نمط لرینه
شیخي دِ کاندِي په بڼیره سپینه
ځواني به ولي حبطه ځینه
ښه مخ دِ ګورِي شراب دِ څښینه

په باغ کښ گوره لاله گلونه
یاقوت پیالې دِي غواړي مُلُونه
ساقي را پاځه تر دا دَ پاسه
بې میو نشته تحملونه

پنډ پنډ شکري هسي شیریني
په هر سپي نغري په مخ نسریني
مین ستا هسي په غم کښ کسي
تلي خبري ستا شکرینه

ډوډۍ غنمینه وِي که اوربشینه
په وخت دَ لوږي خوږه لگینه
موړ دَ نباتو حلوا ته نه گورِي
هوښیار به پوه شِي پدا رازونه

که باوري شي د ښکار بازونه
بیا ئې نظر وِي پروازونه
ښئې هم هسي دَ ښکار بازونه دِي
هوښیار به پوه شِي پدا رازونه

چه بد ئې ژواک وِي بد ئې رنگونه
نه مصلحت لَري نه آهنگونه
نه ډېر دولت لري نه ډېر عزت لري
له هغو څه غواړې شرم ننگونه

که ته وفا غواړې له ما نه جانه
وفا به نه مومې له دې جهانه
وفا به بيا مومې په بل جهان کښې
چه عوضونه نه وَوزِي له ميانه

په تا که راشي ډېر محنتونه
يا راحتونه فراغتونه
ته ئې په نور چا حواله مکړه
چه ازلي دِي دا قسمتونه

دَ ملوکانو دَ قرب بامونه
لوړ دِي پرې نه خېژه پڼېر ګامونه
که ناګهانه ورځني وَرغړې
روغ به بيا نه مومې خپل اندامونه

خداي دِ اضغاث کا دا وران خوبونه
چه اوس ئې وينم په آشوبونه
دَ روم لښکري په هندوستان راغلې
نسکور دَ شاه دَ خيمې چوبونه

و

تر سر تر پایه ککړ په غلو
په لاس نیولې دسته د گلو
کښېنه مستانو ته صفت دَ میو کړه
نوم اروېدلي چېري دَ ملو

دا کار سړیو زده نزده ددانو
نظر چه کاندي په فرقدانو
عشا چه ودري نه سر دَ قطب
جوزا نور تېر شي اې بخردانو

جهان په کام دئ دَ وفا کېښو
قصد ئې له چا دَئ له بد اندېښو
عمل دَ ښو کانې بلا تر پېښو کانې
اې بد عملو په بلا پېښو

شکر په دا چه له نېستَ هست شوو
عقل ئې را کړ خداې پرست شوو
رتبه به کانده په عمل مونده شي
عمل کړي ولي په همت پست شوو

سوگند مي ستا نه په سترگو تورو
په زړه دَ تا یم په خوله دَ نورو
پرېبرده له هر چا سَرَه یو مخ وړم
له ما به څه وړي په کیسو سپورو

خاندم په زهد دَ فاسقانو
خاندم په بذل دَ احمقانو
چه نه ئې دین شو نه ئې دنیا شوه
چاري بې نه وي دَ لایقانو

یا بد تر ښو کړه دَ پردیو خپلو
یا غم ته واخله توښه تر تلو
دَ دواړو توکو سود و زیان خپل گورم
حاجت هیڅ نشته نور دَ وَیلو

یارئ ښې وي دَ ښو بخردو
چه په کښې نشته وهم دَ بدو
دَ ناکسانو یاري دَ ددو دِي
سودمني نه دي یاي دَ ددو

راپاتو یو نشو دولس مي ترونه وُ
ولاړل فنا شول چه اولسونه وُ
څه بادشاهان ولاړل څه څه خانان ولاړل
چه په دربار ئې وَلاړ زرگونه وُ

کښلې دلبره دَ ځورلس کالو
خوله ئې خوشرنگه حقه دَ لالو
راغله ژر ولاړه څما زړگيَ ئې
یووړ په دواړو سترگو ملالو

واوري چهووري په سپيرو خاورو
خاوري سپين زر شي په سپينو واورو
په منځ دَ دلو په منځ تيري کښ
سَمه غر سپين شو په سپينو واورو

ښه وصيت دَئ دَ بخردانو
يار دَ ددانو شه نه دَ بدانو
بدان دِ ځان وړي هم دِ ايمان وړي
ايمان خو خلاص کړه خپل له دَدانو

کلي مي وليدل دَ ناکسانو
واړه په خوي کښ دَ کرگسانو
گوتي په هيڅا پسي دَ وړوندِي
خپل گذران بويه همنفسانو

پيغمبران وُ شاهان خانان وُ
ډير خوبش له ځانه ښه ښه ځوانان وُ
له دي جهانه هسي روان شوه
وايي چه کله په دا جهان وُ

که چيري وار راغي بيا به خبري کړو
خلق به وير کا موږ به سندري کړو
دا ډير زنگونه چه پراته په زړه دي
طمع اميد لرُو گندِي ئي ليري کړو

پیرئِ پریستم له تا لا ښونو
هاي کښلیو سترګو کښلیو غاښونو
هغه خوږل نشته هغه لیدل نشته
ولاړم له نورُو ښو معاشونو

موره میږي یو په مځکه ګرزو
دَ نس له غمه وبله غورزو
ښه وو په مځکه بلا را سازه شي
چه پر پیدا کړو اسمان ته ووزو

نښتر که لوي دئ له نورو ونو
چینار که پلن دي په پاڼیو پلنو
لکه کمال لري هسي زوال لري
نظر پرې کاڼي دَ کمال څښتنو

څښتن دَ مزکي یې دَ اسمانونو
دَ عرش و فرش او دَ جهانونو
هاتي که ما شي کړې ماشي هاتي کړې
توانیږې رب یې دَ دیو توانونو

سواري دَ جونو دَه که د آسونو
لا مي ترې رسي توان دَ لاسونو
ښکار دَ توپک نشته که ښکار دَ باز شته
دا هم پیرئِ کړې په وسواسونو

چه چا ته پېښ شي غم دَ خوږلو
یا غم دَ ښځلو دَ آغستلو
نور نور غمونه واړه تر شا شي
که دَ سند رو وِي که دَ بدلو

موږه به وَمرو هسي پوهېږو
یاران مو ولاړل لا نه گروهېږو
خاندو خوښي کړو هوا هوس کړو
نه مو ژړا شته نه اندوهيږو

چه په مړوند ئې باهو دَ خیال وُ
گوتې دَ زرو غمي ئې لال وُ
و گور ته ولاړل هغه لاسونه
چه په حنا به لاله مثال وُ

دَ خپلي خوني نغن دَ خمچو[1]
نه چه غنمینه دَ بل په گچو
نه اور دَ خپل نغري دَ لندو پچو
نه اور دَ بل نغري دَ دړو وُچو

که شور غوغا کا سره تر تلو
پاژه په نه ځي سره دَ خپلو

---

١. يعني دَ باجرو ډوډۍ.

بدي دَ خپلو دَ بل تر ښو ښه ده
که څوک پوهېږي په دا ويلو

ښه ښه ياران وُ ښه آشنايان وُ
چه په دولت کښې را سَرَه ځان وُ
دولت چه لاړ شو راته ئې شا کړه
جدا له ما نه په يوه نان وُ

دَ خپلې ګېډې په خدمت خم يو
په نورو نورو فکرونو کم يو
سبا شي وخوړو بېګاه شي وخوړو
آدم صورت يو دواب شکم يو

که موږه وايو واړه هيڅ نه يو
يو موتي خاوري يو چونګ[1] اوبه يو
که دا مجاز دي تحقيق به بل وي
سکه زړه به ښه کړو هر ګوره ښه يو

ژبه عادت کړه په ښو ويلو
چه دِ عادت شي هغه تر تلو
که ئې عادت کړې په بد ګوئۍ
مخ به دِ تور کا تر پرديو خپلو

---

۱. چونګ يعني د يوه لاس اندازه.

چه دا د ساهي څښتن همه يو
که فهم وکړې لکه رَمه يو
مرگ له شرمښ را باندي زغلي
دَرب و فضل ته په سمه يو

پند مي په ياد شو دَ حکيمانو
ياري به نه مومې له غليمانو
ښه ئې په بند کښ دَ کريمانو
نه په بوستان کښ دَ لئيمانو

فلک په قصد دَئ دَ بې دردانو
ولي وکاږي دَ دل سردانو
دَ مور په نس کښ مرد لا علقه وي
تل پرې پېرې وِي دَ ښو مردانو

نخښي خو درې دِي دَ عاشقانو
خوب کا په مثل دَ غريقانو
ويل کا په مثل د ويرژليو
خوراک په مثل دَ رنځورانو

شکر چه زړونه په غم کښ ښاد لرو
دَ غم څه غم دئ چه پير استاد لرو
وايې چه ځان ساته له غمه غم راغي
موږ څو غمونه دا هسي ياد لرو

په نظام پور کښې په سو سو سو
قمري نازېږي وهي چه کو کو کو
تل به دَ خوړي په بڼ کښې نه وُ
وائي دا هسي چه څو څو څو

۵

بېره دِ سپينه شوه ځواني دِ ولاړه
و گوَر ته لاړل همزولي واړه
اوس دِ دَ غمه سَرَه ژوندون دي
ژاړه خوشحاله خټکه ژاړه

چه خوشي زړه مي له تا آشنا شه
له واړه خلق نه بې پروا شه
نه ئې څوک ياد دِئ نه ئې څوک هېر دئ
په بوي د ما وُ په خوي د تا شه

دَ ملکوکانو له رازه خبر مشه
که پرې خبر شې دَ ځان خطر مشه
راز ئې دَ زړه په صندوق کښې وساته
په ښکاروَل ئې چا ته لربر مشه

دښمن چه وائيِ درته دا مکړه
که ته هوښيار يې واړه هغه کړه
شيطان دِ نه پريږدِي دَ خداي طاعت ته
څو ډېر بهبود دَئ پکښ دا زده کړه

وَ چا ته مکړه دَ راز خبره
څو چه توانېږې رازونه نغره
دَ راز خبره دَه يا تېره توره
يا دُر گوهره دَه يا مرغلره

خوي ئې د ښو شو بي بي زاهده شوه
تل په تسبيح په اودس ساجده شوه
دَ لاس په وللو مېرک د تهليل شو
دَ مخ په وللو پيشو عابده شوه

خوشحاله مخ کړه و ښو کسانو ته
شا کړه نا اهلو بوالهو سانو ته
شکري توي کړه و شنو طوطيانو ته
مرداره واچَوه و کرگسانو ته

هم مي خيالونه هم مي ښېوه زده
هم مي په عشق کښ دَ راز پرده زده
چه يار مي نشته دا واړه هيڅ دي
که يار مي وشي ياري مي ښه زده

نه ننګ نه شرم نه حمیت شته
نه مهر مینه نه محبت شته
زویه چه لوي شي زوال دَ پلار غواړي
نن په دا دور دا قباحت شته

چه ورته ګرزي په اوډه ډوډه
باغکه ورشِي آخر تر کوډه
لوي په مکان دَ هوډي ځان بیایي
خوشحاله ما وړه له خپله هوډه

هر چه وفا لَرِي اهل هغه ګڼه
چه بې وفا وِي سهل هغه ګڼه
چه ته ئې اړوې وَښو ته نه اوړي
ځما په پوهه جهل هغه ګڼه

که تازي ژبه هر ګوره ښه دَه
فارسي هم ډېره په خوند خوږه ده
چا ئې پلو دَ جمال وا نه خیست
پښتو لا هسي بکره پرَته دَه

چه زړه مي وتبې په طنازي ښه
په ځو ځو رنګه په عشقبازي ښه
چه ته مي غوره کړې په هونبره کښلیو کښ
رحمت ځما په نظر بازي ښه

که خبر دار ئې بې شکره نان مخوره
دَ تېرې چارې په زړه ارمان مخوره
پیوند دَ عمر په وېښتو تړلې دې
غم دَ خپل ځان خوره غم دَ جهان مخوره

شپه دَ برات وه یَو خوب مې ولیده
کال ئې غصه[1] دې هر گور مې ښه لیده
دوه توري ماتې شوې یَوه مې روغه شوه
دویم صصام مې په رغېده لیده

دَ خلقو ځکه دَ پېرې وېره دَه
پیرې تر مرگه په ژوندُون تېره ده
درد چه په ځان راشې هاله پرې پوه شې
په درد مې خپله سینه خیره ده

دولت چه ستا وِې موجود ئې وگڼه
چه دَ نور چا وې نابود ئې وگڼه
حسد په مال مکړه حرص دَ مال مکړه
هغه چه دا کا مردود ئې وگڼه

په تا که راشې حادثه لویه
تېښته تسلیم و صبر ته بویه

---

۱. ۱۰۹۵.

ته به ئې دفعَ په صبر وکړې
نه په لښکرو په زر او زویه

که ئې دَ خضر پیاله خوړلېده
دانا هستي دَ ژوندون ژړلې ده
هر چه کمال لَرِي هغه زوال لري
هستي نیستي سَرَه تړلې ده

په باغ په راغ کښې ګلونه واړه
یَو ګل به نه وِي بیا تر اهاړه
هستي دا هسي نېستي دا هسي
ژاړه حیرانه بلبله ژاړه

ما چه میدان دَ دروغو ولیده
بل یَو میدان مي تر دا لوي نه لیده
خو ملک ئې واړه کندي کودري دئ
مار و لړم مي په کښې پراته لیده

دَ مرد دَ عمر خوبي تر چِل ده
تر شپېته پوري لا دا وربل ده
تر دا دَ پاسه وخت دَ پېري شي
که ئې دَ عمر بقا تر مل ده

که پند څما منې نمک حرام مشه
تر ډېرو پاتو جوته طعام مشه
جوته تعام مي خوراک دَ سپیو دئ
غصه په زړه کښې پدا کلام مشه

که تا په پایې غم دَ جهان خوره
دَ جهان غم مخوره غم دَ خپل ځان خوره
دا نقد په لاس کښې حبطه مکړه
د ضائع شوي عمر ارمان خوره

چه لعل اسا دِئ په دواړه لب دِ وه
چه سمن سا دئ په سپین غبغب دِ وه
وخت دَ سبا شو په بورجل ژر راځه
څما په هونبره یارب یارب دِ وه

نادان پخپله پر ېوزي وَاور ته
بلا پخپله راوړي خپل کور ته
مه نصیحت وایه و ناپوهانو ته
مه آئینه نیسه چېري و کور ته

دَ خپل غلیم سَرَه په توره جنگ کړه
نه چه ښکنځلي دَ ښځو رنگ کړه
پرهار په زړونو دَ ژبې مه بړده
دَ نامردۍ له کاره ننگ کړه

تن د په مثل دَ روح قباده
لکه آغوستې چه قبا تا ده
دا واړه توکه فنا پذیر دِي
فنا ئې نشته دَ روح بقا ده

گمراه مي مکړه تل مي په لار لره
دعا به دا کړم ما پرهېزگار لره
دَ نیک مرادانو سرَه مي شمار لره
خدایه لایق مي دَ خپل دیدار لره

صبر دَ زړه راوړه رشتیا دا دواړه
همت پکار کښ له خدایه غواړه
که کام د فتح و ظفر بیا نه مومې
تاوان دِ واړه ځما په غاړه

نامرادِي ښه دَه دَ چا تر پوره
خاني میري کړه نه چه تر گوره
څه ښه متل دي پښتنو کړي
چه غل شاړه شي نه چه تر کوره

چه بل خبر کړې دَ زره له رایه
هوښیار په څه یې و ما ته وایه
هر چه هوښیار وِي هنر ئې دا دَي
خبره نه کا چا ته بې ځایه

ساقي را پاځه دَ بوټ[١] هوا ده
دا رضايئ لا تر جوزا ده
ځو لا يَو گَل شته په باغ و راغ کښ
اياغ را نوشته ځما رضا دَه

اې چه سړي يې په يَوه ساهَ
که دِ دا ساهَ نه وِي ناگاهَ
هسي به پروت وې لکه مرداره
په ځان خبر شه دَ ځان گمراهَ

تازه خبري تازه بهار کړه
چه پرې مَين دي هغه هزار کړه
رنگ رنگ خبري دِي رنگ رنگ گلونه
گل دَ گلابو ځما اشعار کړه

خوبي دَ عمر تر چل و پنج دَه
که غاښ که عشق وي تر شصته گنج ده
که غاښ دِ نه وِي سترگي دِ تتي شِي
نور مره که نه مرې پيري دِ رنج ده

---

١. دا کلمه په يوه نسخه کښ پوټ راغلې ده. د جواري هغه پېسي چي د لوبي د شروع کيدو نه اول ميدان کښ اچولې شي او چي څوک بازي وگټي هغه ئې واخلي (درباب).

د َصاحبانو حکم په ځاي لره
نظر دَ دويو په حکم راي لره
که ئې له حکمه خلاف عدول کړې
زېرمه دَ گور کړه يا ځان گداي لره

ځنگل ته اور راوړه حکم ته زور راوړه
لښکر څو ډېر لرې لا هونبره نور راوړه
داد و دهش کړه غريب نوا شه
چه مفسدان دِي پرې شر و شور راوړه

کار دَ بېچون او دَ بېچگون گوره
د مزکي مرگ گوره بيا ئې ژوندون گوره
په سر دَ پاسه دا شين سيحون گوره
په کښ دَ ستوريو دَ ماهيون گوره

نېکان عزيز دِ د څپله رويه
بدان خوار زار دِي له بده خويه
نېکان به بيا کاَ گڼُون له بدو
که تېښته ښه دَه دَ دې له بويه

دا فاني چاري فاني دِي واړه
يوه باقي دَه باقي وغواړه
مولا په ياد لَره زړه پدا ښاد لره
پدا ښادي کښ همېشه ژاړه

ژبه په تن کښ څه عجائبه ده
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده
چه ښه مي خير کړ ښه پرې خبر شوم
جنت هم ژبه ده دوږخ هم ژبه ده

تر سر تر پايه ليلي ښاغلې ده
سينه ئې ځکه دَ مجنون داغلې ده
مينه څه هسي آسانه نه دَه
چه دا بې ځايه په چا راغلې ده

له تا چه بيم کا ورځني بيم کړه
مه ئې محرم کړه مه ئې نديم کړه
په زور که هر څو دَ ده دَ پاسه يې
حذر ترې بويه کار دَ حکيم کړه

څو چه توانېږې خو خاموشي کوَه
عيب جوئي مکړه پرده پوښي کوَه
په زړه زاهد اوسه تنها عابد اوسه
فتوىٰ مي واخله باده نوشي کوَه

په سفاهت دَ سفيه آزار مشه
و مکافات ته دَ ده تيار مشه
سپي وَ مزرَيو وته غپېږِي
کم تر موزي ته پخپل وقار مشه

د مهوشانو مینه مشکله ده
غم ئې دَ یارې ښادې ئې خپله ده
څو ورته نیاز کړې دربانديې ناز کا
دَ جدائې بلا ئې بله دَه

پند دَئ که اروې ځما پسره
په کښ فائده وینم زه سرا سره
څو دِ شراب شته په قرابه کښ
څښه ئې څښوه ئې کار کړه تر سره

د چا ناحقه له پیرې ویره ده
پیرې ایمان دَه ځوانې کافره ده
شکر وکاږه څو لا ځوانې لرې
که درته ناسته نوې دلبره دَه

که سرورې غواړې آواره کړونې شه
پاره دوزې کوه نه پاره کړونې شه
چه بد لتا وَکا په څرخ ئې وسپاره
ته ئې و کار ته نداره کړونې شه

ساقي را پاڅه په ویرې راشه
د تا دَ سترګو بلا په ما شه
یَو څو لبریزِې پیمانې راکړه
دا وړې مړ یم ته مې عیسٰې شه

که ته رنځور يې طبيب طلب کړه
ورته زارۍِ ژړا شغب کړه
که روغ ئې واه واه خوښي طرب کړه
چه تل تندرست اوسې هسي سبب کړه

څو دِ به مخ دِي تسلسلونه
ساز و ناساز دِي واړه گلونه
دَ عاشقانو تر مرگ بتر دي
دَ مهوشانو تغافلونه

تر وړي په مکر مزري په زور زده
غازي په توره دَ شپه نه لور زده
ملا خبري په سپين په تور زده
دَ گنگو ژبه دَ گنگو مور زده

چه ستا په دين نه دئ معدوم ئې گڼه
چه څه ترې زده کړې مخدوم ئې گڼه
حوص شومي لري څوک چه حرص کا
حضرت وَيَلي دِي محروم ئې وگڼه

چرگان نارې وهي سحر سبا شه
يار په ارمان کښ له ما جدا شه
غم ئې هيچېري په عشق کښ نشته
دَ عشق په کار کښ رقيب بلا شه

ځواني دِ راکړه له کامرانۍ سَرَه
پیري دِ را کړه له پرېشانۍ سره
بیا مي به څه کړې په دا خبر نه یم
چه مي ژوندَي ساتې له حیرانۍ سره

مین مي راغي دَ ملنګ په څیر سره
خبر پرې نشوم را باندي تېر شه
چه سَرَه نه شوُ و غاړه غړۍ
افسوس افسوس دا دي ارمان ډېر شه

که مهتري غواړې دَ هر چا وړوني شه
آواره کړوني شه آواره کړوني شه
دَ زړه په کور کښې ځاي دَ رحمان وکړه
دَ زړه له کوره شیطان شړوني شه

زر غورزوُني شه ځوانان ساتوني شه
ځوانان ساتوني شه زر غورزوُني شه
له هر چا وړوني شه سرداري کړوني شه
سرداري کړوني شه دَ هر چا وړوني شه

پرده پوښي کوهَ لکه پړوني شه
آواره کړوي شه دَ هر چا وړوني شه

دَ حلم خوي واخله له برداري وني
چه څوک دِ وَولي مېوه ورکړوني شه

وېښتو تلوار وکړ برېره مي سپينه شوه
را ځني توره دَ کښليو مينه شوه
په غم دَ برېري وم غاښونه ولاړل
اوس مي په سترګو پيري تعينه شوه

خوشحاله زوړ شوې نوره ځواني مکړه
بې زر او زوره حکمراني مکړه
چه در سَرَه دِي دام او ددان دِي
له دام او دده زندګاني مکړه

حق دَ خپلوىِ دَ خپل په زړه کړه
که هر څو بد کا ور سَرَه ښه کړه
په هر سلوک چه پردِي خپلېږِي
سلوک هم هسي ور سَرَه وکړه

چا ته به راز وايم چه مي راز دار نشته
غم مي به څوک اخلي چه غمګسار نشته
کيميا به بيا مومې وفا به نه مومې
هزار ياران لرم يو وفا دار نشته

ستا تر لبانو خوند دَ شکر ورک شه
ستا تر دندانو نرخ دَ گوهر ورک شه
ستا تر چشمانو دَ ملو خمر ورک شه
ستا تر مژکانو تېره خنجر ورک شه

که ډېر ماړه وِي دَ ښکار بازونه
په زړه دَ زرکو لري رازونه
ناز ئې دَ وړو دَي ورباندي ښائيِ
که ښايسته کا هونبره نازونه

په څو غافل ئې غفلت نتليه
له کاره تښوله امل يستليه
هيڅ دِ له مرگه اندېښنه نشي
که جنازه وزي له هره کليه

چه ليري باسي تا له دا داره
نفس دي شيطان دئ دنيا ده ياره
دوستي دَ خلقو دَه څلورمه
دَ ځان دَ بلا دِي واړه هوښياره

څوک چه قانع دئ مخدوم ئې وگڼه
څوک چه حريص دئ محروم ئې وگڼه
که ور ورکه زويه که خوېښ که دوست دئ
چه ستا په راي ندَئ معدوم ئې وگڼه

سر په زانو کښېږده خوشحاله راشه
قدرت ئې گوره په تماشا شه
لعل پيدا کا له سخته کاڼي
خليل پيدا کا له بت تراشه

نه پخپل راي راغلم و دې عالم ته
نه به رضا درومم بيا وَ عدم ته
په څه شان راغلم په څه شان درومم
قطره چه بيله شي درومي بيا يم ته

له بدي اوسپني کړه توره سازه
په غوښوَل شِي بيا بد آوازه
که ئې په مښک په عنبر کښې ځاي ورکړې
بد بوي به بيا ځِي له بده پيازه

د ليلي سترگه يوه گل داره وه
مجنون ته پاکه له عيب و عاره وه
چه پرې مين وِي عيب ئې نه ويني
مينه له ځايه مگر مکاره وه

خوشحاله مه ئې په زوي والي وياړه
هم ځني مهر وفا مه غواړه
هر چه زوولي دي دَ توتيا له نسه
دَ پدر کُشو په بوي دي واړه

درپسي واوښتم مکړه پوښتنَه
هسي به نه وِي دَ چا لوښتنه
بار خو دِ گل دي و ما ئې راکړه
مذمونه نه دَه دَ گل غوښتنه

وخت دَ تلاش دَئ په ما پيري راغله
په زړه کښ خوشه بيا فقيري راغله
زويه مي ډېر دِي چه ناقابل دِي
ځکه په خوني را دلگيري راغله

چه ته ئې وويني په سترگو واړه
بقا ئې نشته باندي مه وياړه
هغه چه تا ويني هغه باقي دِئ
فاني به څه کړې باقي وغواړه

ثو نعمتونه تر سر تر پايه
چه تا موندلي دِي له يوه خدايه
په هَره ساه ئې شکر وَکاږه
که غافل نه يې ثنا ئې وايه

که وِي هوښيار دِ وِي نادان دِ يار مشه
ته به ئې گل گڼې درباندي خار مشه
وخت دَ فساد دئ سړی لونډ ښه دئ
که ښځه وکا دَ زويه پلار مشه

هر څوک چه جن کا په سپینه ږیره
هر سپین ویښته ئې دئ تېره تر تیره
د هغې جني دي تر زړه وتلي
درته مي ووې واروه په ځیره

که ته آدم ئې کار دَ آدم کړه
کېږې به څو کړې کارونه سم کړه
دَ دنیا خلق سپي دِي ددان دِي
صحبت له سپیو له دَدانو کم کړه

وخت دَ پیرئ راغي ځواني ولاړه
په کام ناکام مي شوه پیري په غاړه
دا هم پوهېږم چه قدر نه لرې
که خاندې خانده که ژاړې ژاړه

خداي په خدائي ښائِي چه هونبره مینه
دَ دوو په منځ کښ هسي کښېږدینه
په هسي شان ئې وبله مین کا
چه ځبله ځان و جهان ښندینه

ربه دردمند کړه بېدردان واړه
چه واړي ژاړي ځما په غاړه
خوشحاله ملک له بېدردو ډک شو
دردمند په نورو ملکونو غواړه

خدايه دا کار مي تر انجام راوله
تللي مَين مي تر مقام راوله
نيولي باز مي له دامه ووت
بيا ئې په بيارته تر دامه راوله

نوم مي دَ بدو په خلق خپور شه
که صاف صوفي يم وائي مَي خور شه
هيداد دَ ما شي دَ هغه نه شِي
چه له مستيِ هړاند پي خور شه

خزان بد باد دَئ حذر ترې بويه
پاڼي دَ هري وني کا تويه
فائده آخله دَ بهار له باده
تا به دَوني په رنگ کا زويه

که ته لوئي غواړې ځما پسره
لوئي به نه مومې بې دردِ سره
صرفه دَ زر مکړه وېره دَ سر مکړه
مگر په دا کړې لوئي تر سره

ما وي ځما غُندي ميخور بل نشته
چه ئې بې ميو شرشور بل نشته
هسي مستان مي په نظر کښېوتل
چه ئې بې ميو بيور بل نشته

دَ خپل بدخواه سَرَه په تېغ بازي کوه
نه چه ښکنځلي يا غمازي کوَه
ژبه خوندي لَره دَ بد گوئۍ
په حق راضي اوسه سر فرازي کوهَ

درته به وايم کار دَ خليل گوره
په څو ئې وساته داور دليل گوره
سبطي ئې پوري يوست قبطي ئې ډوب کړ
دا عقل پوهه دَ رود نيل گوره

ځما دايَم خدايه موجوده
وجود دَ هر چا دئ دِ تا له جوده
معبود د بل نه لرم معبوُد مي ته يې
معبود مي بل مکړه ځما معبوده

ځما دائمه قايمه خدايه
پخپل صفت کښې قدرت نمايه
تا مسلمان کړم تازه کامران کړم
عزيز دِ راوستم عزيز مي بيايه

که راته غوږ کړې ښه دلسوزي ده
که مرگ قبول کړې فتحَ روزي ده
مټ کړه زخمونه خوره ظفر که مومې
که نه ستا تېښته هم فيروزي ده

يو څه فراق دئ چه را برسېر شه
ارمان افسوس دئ دا يو څو پېر شه
بيا نه ئې دور دَ ځواني را نشي
وار دَ دلبري د زلفو تېر شه

که ډېر هوښيار يې خپسر نادان کړه
له ښو له بدو سلوک يکسان کړه
هر څوک پوره دي دَ خپلي چاري
خوشحاله جانه غم دَ خپل ځان کړه

که هر څو لږه ده په ډېر ئې ونيسه
دنيا به تېره شي په تېر ئې ونيسه
چه نوم دِ شوم کا کار دِ مذموم کا
واروه په زهر په گندهېر ئې ونيسه

خوشحاله مکړه دَ دنيا څله
زه درته وايِم په څو څو ځله
نه به زياتېږي نه به کمېږي
هر چا موندلي وېش له ازله

دَ کرېړونه ترخه هم خږه ده
ميوه ئې ولي پسته خوږه ده
اثر د اصل هر څيز پيدا کا
په خوله خوږه دَه په زړه کږه ده

زه چه پیدا یم و هغه کار ته
چار مي ښکاره ده و کردگار ته
یا ننگ یا توره یا دل آرامۀ
یا زړه تل تللي و هر هر ښکار ته

چار ئې په هر چا باندي ښکاره ده
د گل یا بوي دئ یا ننداره ده
چه نه ئې بوي وي نه ئې ښه رنگ وي
گل به ئې نه بولم دَ چارپاي چاره ده

دَ غره په کاڼیو کښې که چا کیمیا مونده
درته به وایم باور کړه ما مونده
په نونس توکه ښایسته روغه
لکه مي غوښته هغه مي بیا مونده

توغي حج وکړه په روم په شام شه
کور ته چه راغَي په احترام شه
شیطان گمراه کړ کوڅي ئې ونیوه
په هونبره چاري رسوا بد نام شه

بل دِ یو ځان غُندي راته پیدا کړه
هاله له ما څه و ما ته شا کړه
گڼه دا کومه یاري خپلوي ده
ما غم ته پرېږده ته ځان جدا کړه

ښځه چه ځوانه ده هونبره صحت ده
څو چه زړه دَه هونبره زحمت ده
اولاد چه بد راوړي مېرمن و مه وینې
اولاد چه ښه راوړي وینځه نعمت ده

ساقي و ما ته ډکي پیالې راکړه
شراب په خم کښ دَ دنبالې راکړه
بل به ځما غوندي میخور پیدا نشي
کوزې په ځاي کښ دَ سنهیالې راکړه

دلبري سازي دي سحر سازۍ ته
له خود رایۍ و بې نیازۍ ته
که زور که زر لرې توان دَ شور شر لرې
هاله هوس کړه شاهد بازۍ ته

که بادشاهي ده که وزیري دَه
که خواجگي دَه که امیري دَه
زوال دَ دواړو وَ تا ته ووایم
څرخ دَ فلک دئ مرگ دئ پیري دَه

په طور طور پیدا یُو موړه
مښک یُو عنبر یُو بصل یُو هوړه
شهد شکري زهر زقوم یُو
روئین یُو نیل یُو نسپال یُو شوړه

بادشاه سني دَئ خلق حيران شه
دَ رافضانو دَور آوان شه
که څوک په ملک کښې يو شاه زلمي دئ
توره تر ملا کا وخت دَ افغان شه

که سرداري غواړې خپل زړه دِ شير راوړه
صرفه په ځان مکړه حمله په ډېر راوړه
ضرب المثل دَئ دَ هوښيارانو
ملک ته شمشېر راوړه ښځې ته کېر راوړه

صحبت چه نه وِي له ښه احباب سرَه
عمر تيرېږِي له ډېر عذاب سرَه
هوښيار به هيچېري بې غلطۍ نه وي
خطا تړلې ده اهل صواب سرَه

مرگ د ميدان را په بستر مي مه وژنه
مؤمن مي وژنه کافر مي مه وژنه
چه په ميراث مي حساب کتاب شِي
هسي غوولي تونگر مي مه وژنه

دَ عارفانو له زړه مردوده
ولاړې دَ دين او دنيا له سوده
که هر څو گرزې تر شرقه غربه
سعي دِ ووينم واړه نابوده

دَ بادشاهانو نمنځل واړه
تر هر چا هسکه کا خپله غاړه
که اصل نه لري اصل پيدا کا
که عقل نه لري عقل ترې غواړه

دَ مرد وقار ګوره دَ مرد تمکين ګوره
مهر له دوسته له اعدا کين ګوره
بيا ئې له پسه دين و آئين ګوره
هغه چه دا لرِي بخت ئې قرين ګوره

څو چه توانېږې له هيچا بد مکړه
څوک چه ښه کېږي باندي حسد مکړه
که ئې اوبه وړي که ئې لمبې سوځي
زړه سوي په مار په لړم په دد مکړه

که نور څه نه وي دا هونبره زده کړه
چه زړه دِ يو دئ ياري يوه کړه
څو چه يارئِ هونبره غمونه
ډېري يارئِ له هيچا مکړه

که خپل خداي پېژني راته ووايه
درته به وايم اې رهنمايه
خداي مي هغه دَي چه نيست و هست ئې کړم
ځما توبه دَه له بله خدايه

خبر هیڅ نه وم چه دا افعال شته
دَ پلار له زویو سَرَه دا حال شته
لکه عابد وکړه یا بد فرجام وکړه
دا حال په هر چا دَئ که په خوشحال شته

قدر دَ گلو دَ مل مستانو زده
نه تېره دلونه تنگدستانو زده
هغه چه نه خوري په مي څه کار لري
راز مي دَ میو مي پرستانو زده

که غوږ که سترگي که خوله که پوزه
هر یو خپل کار لري تر بل ئې کوزه
کار چه دَ سمع دَئ بصر ئې کله کا
دَ خولې پکار نه ده پوزه فیروزه

چار دَ مرگوټي معاینه ده
ښه تر ژوندونه هر آئینه ده
پښې تېشه ماته کا ائینه سازه کا
چه تر تېشه نه ښه آئینه ده

دَ یار وفا گوره راستي دا دواړه
هغه چه دا لري ورباندي ویاړه
که ښایسته وِي ادب هنر لري
یار دِ هم دا دئ بل یار مه غواړه

چرته غره ولاړې په باد مغروره
حباب ته گوره بلا دِ دوره
نیستي هستي ئې فنا کېدل دِي
واړه ستا چار ده درته خصوره

ورور چه د ځان شو ژوند ئې واژړه
که هر څو ښه دي په ښه ئې مه ویاړه
کمین چه مست شِي ځني پناه غواړه
خوشحاله ځان په سگانو مه داړه

باغبان چه کښېږدِي په باغ کښې ونه
تپاک پرې څو کا تل په ساتَنه
که بر ئې ښه شي زړه ئې پرې ښه شي
که بد شي نکا باندي وتنه

خسیس دِ پرېږدِي په دوه پشیزه
هلک دِ پرېږدي په دوه مویزه
که ته دانا ئې زړه به پرې نه تړې
یاري دَ دواړو گڼه ناڅیزه

زه ډېر مین یم په ښه خبره
نه ښه خبره نه مرغلره
چه ښه خبره له چا نه واروم
وایم چه ځار کړم ترې مُهران څو زره

دَ خپل پدر سَرَه دَ خپل پسر سَرَه
دَ پیر استاد سَرَه د یوه هر سَرَه
خپلوي که مینه که محبت کا
په سود نظر لري نه دَ ضرر سره

دنیا پاله[۱] ده یا سپینه توره ده
نیکي بدي ئې درته حضور ده
چه دِ رضا ده هغه په لاس واخله
په هَرَه چار کښ راستي منظوره ده

زویه چه ووت دَ پلار له رایه
توبه دِ وکا کم بخت ته وایه
توبه کَه نکا سزا به مومي
په ووارِه کَونه له یوه خدایه

ته معشوقه بې پروا دِ کومه ده
زار د عاشق دي چه چارې شومه ده
بې تا کباب دي په اور وریتېږي
چار دِ د هجر دَ اور معلومه ده

خوشحاله ته مه گوره کوگل ئې گوره
ډک دَي دَ بلو لمبو دَ اوره

۱. پاله یو راز ټوپک وُ، دَ قلبې تېش ته هم وائي.

که شین مزري ئې که مست هاتي يې
خپل ځان له بلو لمبو نه ژغوره

خوراک پوشاک دَ سړي دا دواړه
خوښي ئې ګوښي خپل ځان ته غواړه
ښه ښه ځایونه ښه ښه باغونه
په دا چه وشي شریک دي واړه

قاضي مجنون یم عمر دِ ډېر شه
و عشق ته ګوره تر عقلَ تېر شه
خوله دَ لیلي ده دَ عشق په شرعَه
په موزي ګیو زهر ګنډهیر شه

مه سلطنت غواړه مه ډیر دولت غواړه
ښځي ته وایه عصمت عفت غواړه
توفیق له خدایه دَ عبادت غواړه
خدمت دَ شوي کړه دَ ځان صحت غواړه

عطا دَ خداي دي دا یو څو څیزه
تر دا به نشته نور څه عزیزه
یو ښه جمال دئ یو ښه خصال دئ
چار دَ قوت ده ور سَرَه نیزه

که جود په ما وکړې بهتر دئ تا لره
که جود په ما نکړې بهتر دئ ما لره
دَ جود په کړه به منت په ما بار کړې
منت چه نه وي ښه دي دانا لره

وَ ما ته ښه ده هوښياره کُنډه
تر پېغلي جني کم عقله تنډه
هغه به زيست و روزگار په عقل کا
دا به روزگار کا پخپله هنډه

خانان ئې واړه تلاوت خوان کړه
د هند هندوان ئې دانشمندان کړه
وخت دَ اورنگ دَئ عمل هيڅ نشته
خو کتابونه ئې په عالم گران کړه

چه بخيل کېږې هسي ساتل مکړه
چه مسرفېږې دا هسي تل مکړه
خپل خوان په هر چا خوره منت پچا مکړه
دَ بل و خوان ته خالي کتل مکړه

دَ چا و خوان ته خالي کتل مکړه
که تل دِ خوان خورې منت په بل مکړه
چه پرې باور ځي هسي ويل مکړه
چه مال دَ بل شي هسي ساتل مکړه

راته ښکاره شو وګړي واړه
دوه به نه ووينې په يوه غاړه
وفا به نه مومې له آدمزاده
له تا چه وَزېږِي باندي مه وياړه

غضب ملوک لَره دروغ ملا لره
بخل غني لَره فحش نسا لَره
دا څلور توکه هر ګوره بد دي
فکر چه راغي په زړه کښ ما لَره

په درست وجود کښ ښه دي دوه څيزه
يَو زړه بيا ژبه ځما عزيزه
زړه ښه همت لَره ښه خوي خصلت لره
ژبه فصيحه رښتينۍ نيزه

اوس بې وفا شول دا ياران واړه
دَ پلار په راي نه ځي فرزندان واړه
که نيک که بد دي پدا دستور دِي
سَرَه خپلوي نکا اقربان واړه

درته به وايم خپل حال په ځيره
دَ آزاده وُ په حال خبيره
په توره بړېره مي که څه پکار وه
په تبر مي ونيوه په سپينه بړېره

وخت دَ بهار راغي خزان اوس کم شه
مطرب په زېرمه دَ زېر و بم شه
شراب له خمه راغله ښيښو لَره
کوزې کاسې راوړه خوشحاله ډک خم شه

دنيا ناڅيزه دَه بې دنيا ژوه
دنيا که څيز وي دَ نادان به نه وه
اهل به نه مومې نا اهل ډېر دِي
له خلقو ګرزه جدا به يوه

ځما له دله دَ بدو خواست بيايه
و ښو کارونو ته ئې په زغاست بيايه
ظلوم جهول يم په کږو لارو ځم
الله ته مي په راه راست بيايه

لافي دَ عقل و علم هوش هونبره
دَ کام دَپاره جوش و خروش هونبره
دَ سود په لوري هر چا ته ګوش هونبره
دَ زيان دَپاره دَ خاطر جوش هونبره

چه بادشاهيان دي خانان دي وروره
نور څه ئې مه ګڼه بې بَلَه اوره
که سور مزري يې که تور هاتي يې
خپل ځان له بَلَه اوره نه ژغوره

زويه که ووزي دَ پلار له رايه
زويه دَ چا دَئ کم بخت ته وايه
تر قتل که لاندي شي اندوه ئې مکړه
په فيل که پاس کښېني هم ئې مه ستايه

رنځ ئې په غاړي په غرونه کښېږده
گوهر گوهر دي خدا ئې راپرېږده
سعادتمند شه دَ پلار په خونه
ميندي دا هسي زويه تل بلېږده

چار دَ ځوانئ دَ فسق فجوره
له لاسه ولاړه لکه ښه توره
اوس مي دا زهد چه دَ پيري دئ
کشکه ئې چار وَي هورې منظوره

فرښته که کښېني چېري له دېوه
څه به ترې زده نه کا بې مکر و ريوه
چه سَرَه گډ شي خوند به ئې نور نشي
که مړغونې کښېږدې له سېوه

که راست گوئي لري پاکه عفيفه ده
که زر خريده دَه په ذات شريفه ده
که لور دَ پير ده که دا ئې نه وِي
بده کثيفه ده گنده خفيفه دَه

چه مستغني شې له شاه و میره
که درته بد وائي که ښه په ځیره
که هیڅ پروا دِ وربانديِ نه وِي
مرد يې رحمت دِ په وللې ږيره

نېکان عزيز دِئ له خپله رويه
ښه کړه له بدو سرَه خوشخويه
په باغ کښې هرَه وَنه اوبه مومي
تروه ترخه وِي خوږه خوشبويه

دَ رود په غاړه کښېنه نظر کړه
غافل که نه يې په دا باور کړه
لکه رواني اُوبه چه درومي
رخصت خپل عمر ته هم هسي ورکړه

که کار په ږېره دَئ يا په غاښونه
له ما نه پاتو شوې گلرنِگي جونه
که کار په نور څه دَئ خواجه خضر يم
لا به دَ جونو گورم مخونه

مستي دَ ميو مکيال مکيال دَه
بيا دَ ځوانيِ جوال جوال دَه
که دا مستيِ دواړه سرَه کړې
ور ځني ډېره دَ مال دَ مال دَه

عجب سودا دَه دَ کابین غوټه
چه ښه وِي ښه شي وبله بوټه[۱]
فرزند چه ښه راوړي سود ئې بېشماره
که نه دَ دُرو سودا شوه تروټه[۲]

څوک چه توانګو شي په قناعت سَرَه
افلاس ئې نشته په روایت سَرَه
حرص ډېر شوم دَئ حریص محروم دَئ
نظر که وکړې په حدیث آیت سَرَه

دا چار تر نمره لا مشهوره ده
نور څه ئې مه ګوره دَ مرد چه توره ده
دَ مرد تر توري دا ښځه ښه ده
که ستر پوښه پاکه مستوره ده

ساقي تحویل دي وکړه وته[۳]
پاڅه راواخله هغه ته ته
چه ما به تا سَرَه پیاپي وڅښه
هغه زه یم هغه ته ته

---

۱. بوټه یعني ناراضي او خفقان.

۲. یعني فضوله او نقصاني.

۳. دې کلمې ته محشي لیکلي دي یعني برج دلو ته دَ لمر تحویل دي.

له خپله یاره غواړه څو څیزه
تش دِ ئې نه وِي زړه له تمیزه
ټینګ دِ په شرعَ ټینګ دِ په دین وي
دنیا دِ نه وِي ورته عزیزه

په درست جهان کښ مي آشنا بیا نمونده
څوک به ئې څه غواړي چه ما بیا نمونده
عمر مي تېر شو په آشنائي کښ
له چا مي بوي دَ وفا بیا نمونده

مردي دا مه وایه چه په ذکر ده
یا په دنیا ده یا په مال زر ده
که شرم ننګ لرې دَ سر پروا نکړې
مردي هم دا ده که دِ په څر ده

ځواني که ګورې لکه سره زر ده
تر سر تر پایه واړه هنر ده
که هر څو ښه یې عیبونه نلرې
پیري دواړو عیبونو سر ده

شرم یوسف دَي ارزان ئې مه پلوره
غټه پکار ده وړو ته مه ګوره
نریَ ونه په نرِي باد ښوري
که لویه ونه یې په لږ باد مه ښوره

خپل خپل فعلونه دَ سړي رهبر ګڼه
پخپله پوهه کښې قابل يو هر ګڼه
چه خير غواړې خير نه بيا مومې
چه شرطلب وِي بخره ئې شر ګڼه

ځواني که هر څو يَو نوبهار دَه
چه درومي تله کا بيا څه پکار دَه
په اور کښې وسېځه دَ ګلابو ګل شې
چه بوي دِ پاتو شي دا چار په چار ده

ګوره دا فکر عبث ځموږه
هسي په باد ځي نفس ځموږه
عمر په لهو په لعب تېرېږِي
موږ دَ هوس يُو هوس ځموږه

صوفي دا هونبره له ما نه زده کړه
نور چه پوهېږې واړه هغه کړه
مستانو مستي پيالې نوشلي دِي
هر څه چه وائِي غرض پرې مه کړه

جن هونبره ښه ده چه مهر داره ده
دَ پلار په کور کښې ناسته قراره ده
چه دَ جن والي دفتر ئې خپور شه
که صاحبي کا بيا خدمتګاره ده

دنيا مرداره دَه گنده بد بويه
چه پرې ټلېږي له هَره سويه
واړه سگان دِي گرگان دَدان دي
باندي غوغا کا دَ نفس له خويه

لقمه طيبه صلوٰة دا دواړه
که ستا په ځاي وي ښادي کړه وياړه
که دِ په دا کښ خلل شِي
غم دِ په کور دَي کم بخته ژاړه

سړَي که تور دئ که سپين پدا مشه
دَ مرد په کار کښ عقل خطا مشه
تن يو غلاف دَئ زړه پکښ توره
مدار په توره دَئ غلاف نما شه

چه عاشقانو دَ حق ديدار ليده
موسٰي په ونه منصور پدار ليده
جلوه ئې وکړه په بايزيد کښ
دَ تېرې توري په مخ عطار ليده

که سرداري غواړې بلا دِ دوره
عقل همت راوړه بيا جود بيا توره
لکه آسمان وَته ختَنه گرانه ده
سرداري لا دَه گرانه منظوره

که ته خبر شې له دې رموزه
سپیه چه لنگه شي له گرگه یوزه
نتاج یې واړه نابود پیدا شي
وحشي صفت وِي مرتبه کوزه

یَو بخت بل عقل دا دواړه څیزه
دَ مور له بطنه ځما عزیزه
که دَ ښتن دئ که دَ مریي دِئ
که ئې میرمن لَري که ئې کنیزه

خوبي دَ عمر تر څلوېښت کاله ده
چه په ځوانۍ کښې مالا ماله ده
حراس که درست لرې شکر وکاږه
څو دِ ودانه دَ عمر ځاله ده

یا واړه ویني فاسدي لیري کړه
یا دَ زړه لیري د فصد[1] خبري کړه
یا د کور سرې دربلي پرېږده
یا واړه لیري له کوره سِري کړه

له ښو سړیو یگانگي ښه دَه
له بده خلقه بیگانگي ښه دَه

١. فسق خبري.

په هوښياري کښ چه خلاصي نه مومې
ځان دېوانه کړه دېوانګي ښه دَه

دَ عقل بخره عنايتي دَه
لاله ميثاقه هدايتي ده
قابل به هيچيري کم عقلَ نه وِي
ځما خبره دا آيتي دَه

عشق دَ ځوانِۍ وکښلې توره
ځار ئې تر فسق هم تر فجوره
چه مي نيولي دَ پيرۍ په دور دي
اوس کم دا زهد دئ له ضروره

نه دِ څه مهر دَ زړه پما شته
نه دِ دَ ژبي دروغ رښتيا شته
هيښ يم که مست يم که لېوني يم
چه لا مي طمعَ دَ يارۍ پتا شته

خپله خبره دَه مرغلره
بې فکره مه وايه خپله خبره
پند مي په ياد لَره که مي نېکخواه ګڼې
څو چه توانېږې خبره نغره

یا ترس دَ خدای دئ یا هوښیاري ده
دین و دنیا لَره چه کامګاري ده
هغه چه دا لري پرې مي سلام دئ
په دواړه کونه ئې رستګاري ده

مهر نېکانو سَرَه جاوید لَره
تل زړه له دیو سَرَه سفید لره
بدان که هر څو لایق دَ بدو دَي
نه چه یلکخت ئې محروم نومید لره

پوري په خونه دَ ایمل خان شه
په سول دَ خوني د خان خانان شه
دا اور که و نه مړ دایم نارې وهم
په وار وار پوري په درست افغان شه

غرق په نعمت کښ یم سر تر پایه
زه دا نعمت لرم له خپله خدایه
شکر سپاس به ئې په څو په ځاي کړم
چه پیدا شوي یم ضعیف له ځایه

څو تجربه نه کړې خپل زویه وروڼه
هونبره دَ دیو پکار مه موڼه
زویه هغه دئ چه ځان څرګند کا
ګڼه بهتر دئ له زویه لوڼه

چه سل په زړه لري يوه په ژبه
هغه دِ پرېوزي په لويه تبَه
چه زړه او ژبه سَرَه يکرنگ لري
هغه به خلاص شي له معاينَه

که دا خو دا ده بېدي بېديا ده
چه دا ځما دَه کله ځما ده
که دا فنا ده بله بقا ده
عجب غوغا ده عجب سودا ده

اې چه دَ نول ده ځما له مخه
دَ رقيبانو په بده رخه
په عشق کښې مرد اوسه پروا ئې مکړه
زه به دِ نه کړم وَ چا په سخه

زړه مي دروغ کړ دلبري واه واه
که ژر ئې را کړې په غېږ کښې آه آه
وخت د گلونو شو تازه بهار دئ
ښه مخ تل تل گوره باده هم گاه گاه

زاغ او زغنو خالي غلغل زده
دَ گلو قدر شيدا بلبل زده
هغه چه نه لري مستي دَ ميو
هغو مي کله په گل و مل زده

دوستان دِ ژوه بدخواه دِ ومره
زه برله تا وخورم ته برله عمره
چه هونبره مهر ته په اغیارو کړې
یار به دِ پائي له هسي عمره

دنیا که دا دَه چه ښکاره شوه
ښه چه دَ وخته لا اواره شوه
خواږه خپل زوي وُ خواږه خپل وروڼه
ځما له دیو نه سینه پاره شوه

هغه چه شوي دئ دَ ده له لوریه
هغه به کېږي له بخته ستوریه
که دِ دوستان دئ که دښمنان دئ
وتلي نه دئ دَ ازل له توریه

احمق په کلي کښ پیدا خداي مکړه
که دِ په کور کښ پیدا شي زده کړه
لا ئې په لیري ملکونو وشړه
یا ئې له تورو خاورو سرَه کړه

که هر څو پوه یې خوشحاله راشه
خضر پیدا کړه پسې موسٰي شه
سخ د هغه دئ چه ښه پیشوا لري
غم به دِ نه وي خبر پدا شه

ښځه که هر څو په مخ زیبا ده
په هر هنر کښ پسندلې دا ده
ظاهر ئې مه ګوره باطن ئې ګوره
هاله ئې ستایه که دا پارسا ده

ځواني ئې ولاړه ځني مایوس شه
باز دي عالم ته خوشحال ټپوس شه
شاه د شطرنج دئ نیژدې و مات ته
ورته اوس پاتو یَو فیل منحوس شه

ګمان دَ نیکو تل په دوستانو کړه
ګمان دَ بدو په دښمنانو کړه
دَ جاهلانو سَرَه قرین مشه
صحبت یکلخته له عاقلانو کړه

دروغ په ځان باندي خون خنزیر کړه
که دارو کېږي روایت ځیر کړه
طبیب چه وائِي هسي تدبیر کړه
دارو دَ وینو سَرَه خمیر کړه

یاري ئې نه ده دا سرابي ده
که وداني ده هم خرابي ده
چه زړه پرې ښه کا هوقیار به نه وي
هستي نیستي ئې په شتابي ده

بل تر خپل دست لَره دَ چا تر دست مشه
شرم پرست اوسه شهوت پرست مشه
چه کار دَ دین دَ دنیا خراب پریږدې
هسې بېخوده دَ میو مست مشه

چه زړه ژوندې لرې دَ عشق په مینه
هغه که وَمرِې گڼه نه مرینه
فرهاد که مړ دَئ مجنون که مړ دَئ
نوم به ئې هر کله په جهان وینه

که چا ته وکړې دَ زړه خبره
تاکید پرې وکړه چه وئې نغره
که دِ خپل زوې دَئ گمان پرې مکړه
چه به ئې نکا چا ته ظاهره

که دین دنیا غواړې پرده پوشي کړه
فتنې له خولې پاڅې خو خاموشي کړه
که نه خاموش یې نه پرده پوش یې
بېخوده پرېوزه باده نوشي کړه

چه دِ په زړه دي هغه په خوله لره
چه دِ په خوله وِي هغه په زړه لره
دا دواړه توکه لکه مَرییِ
په یوه تار ئې پېلي ته لره

بله لمبه دِ دَ وصل ژمنه دَه
بله مي عين دَ زره دننه ده
که دا دَ خولې دي که نور دادُونه
چه کښليو نه زده کومه نمځنه ده

څو مي له تا نه درنه سينه دَه
هونبره مي دي سَرَه ډېره کينه دَه
چه ورته وګورې فتنې په لاس واخلي
چه ته ئې مسته کړې ستا آئينه دَه

که دِ په غولي وَلاړه ونه دَه
هونبره پرې وياړه څو لويه پلَنه ده
يا به مېوه لرِي يا به سايه لري
جوړه په ونه باندِي ستاينه ده

دَ پاسه نشوه دا چه دَ لاندِي ده
بل ګل به نه کېده چه دا دَ سپاندِي ده
مه ترې حيا غواړه مه ترې وفا غواړه
هغه لنډۍ ده لکه دَ وړاندِي ده

جفا چه ووينې له چا وفا وکړه
که څوک ښکنځل وکا ورته دعا وکړه
که آدمزاد يې خوي دَ آدم راوړه
غمجن چه وَوينې باندِي ژړا وکړه

ځوانمرد که نه یې له ما نه نن زده کړه
بخښل دَ جرم خوړول دَ نغن زده کړه
چه راغله راغله چه ولاړه ولاړه
خوي دَ شادمنو نه دَ غمجن زده کړه

چه عاشقي کړې پېغور قبول کړه
دَ واړو خلقو شر شور قبول کړه
که څوک دِ اچوي و سرو لمبو ته
دَ یار دَپاره سور اور قبول کړه

غم و غلیم ته له دله دور کړه
خانده هوس کړه ښادي سرور کړه
که مخ دِ زیړ وِي په دلګیري کښې
ته ئې په دواړو څپېړو سور کړه

ډېرو لیدلي دَ لیلي رخت وه
شویه پرې سوپ وُ نادیده وخت وه
زه یار مشفق لرم ده یار بد خوي درله
زه بختور یم مجنون بد بخت وه

دا سحرګره دنیا مکاره
زویه وېزار کا له موره پلاره
چه ئې وېزار کا له موره پلاره
هسي دا هم شي ځني وېزاره

که سبروَنه په قد درازه ده
نه چه تر تا نه هم سرفرازه ده
ځما حذر شي د تا له سترگو
که دَ کوترې وېره له بازه ده

څه شي مي بيا مونده معني له جاهه
که جاه باله شي بد وي تر چاهه
په جاه به هيڅوک غلطي نه کا
بې له احمقه بې له گمراهه

که په ديدن ده ديدن هم ډېر وشه
که په خوردن دَه خوردن هم ډېر وشه
خوشحاله بس کړه وخت دَ عمل دئ
لوستن هم ډېر وشه گفتن هم ډېر وشه

سحر مي خوب ليده اندوه مي زياته شوه
مَي مي چه وڅښل پياله مي ماته شوه
سمند مي پاسه په بام جولان کړ
له بامه پرېووت شا ئې غبراته شوه

يو نيم گړَي ده دنيا نيمگړې ده
نو عاقلانو په هيڅ نومړې ده
چه ئې ياوَ جوړه يا ئې چا ورکړه
دنيا خو هغو له ځانه وړې ده

ژاړه غافله په بار بار ژاړه
دَ ځان بلا شوې پخپله واړه
که دا جهان دَئ که بل جهان دَئ
در څخه ولاړل په غفلت دواړه

ته قهقه خاندې غم تم په بل شه
غم تم په بل شه بل چه تل تل شه
قاتله ځله په کابو بويه
پرې باندې پاڅه غرڅه غافل شه

دَ چا ناحقه له مرگه ويره ده
دا چار که گورې هر گوره غوره ده
زرگر وَښې مات کا اوړئَ سازه کا
لا تر وَښې نه اوړئ بهتره ده

که هر څو ښه دَه چه تېريدونې ده
دنيا په پچه نه پېرېدونې ده
که ښه کړې ښه کړه که بد کړې بد کړه
کرده دَ هيځا نه هېريدونې ده

جفا دَ خلقو هر گوره ډېره شوه
وفا دَ هر چا له دِله وهېره شوه
وخت دَ قيامت شو که نور آفت دئ
يَوه بلا دَه چه را برسېره شوه

زر دِ ور نشي دَ نادان تر کوره
په زر دولت دئ عزت دئ گوره
په بد ئې خرڅ کا قدر ئې نه لري
کاسه ئې زر شي په ډاګ نسکوره

سخا تر هر چا پخپلو لا ښه ده
په ښه وَيلو ژبه ګويا ښه دَه
دَ ښو دلبرو سرَه خندا ښه ده
خوشحال خټک ته دنيا پدا ښه دَه

په قد چه نوم لري سرو پڅولکه[1]
په مخ چه نوم لري تمام اوږمکه[2]
خوله دِ حقه دَه دَ سرو ياقوتو
په سپِينو دُرو ګوهرو ډکه

دا چار ځرګنده په هر ديار دَه
بدي ښېګړه دَيار دَيار ده
د زړه دِيار مي خالي له غير دئ
په کښ دلبره ديار ديار ده

---

١. دا کمله عينا وليکله شوه.

٢. يعني سپوږمۍ، ماهتاب.

زړه[١] بوډۍ ده دَ کالو ډېره
تر سلو زرو مړونو تېره
دَ ډېرو مړونو ماغزه ئې وخوړل
لا به ئې څښي پرې نه ده سېره

تر باز که لاندي کړې دَ کارګه هویه
باز به را نه وړي کارګه ترې بویه
که دَ مزري سَرَه یاري آغاز کا
کوم خوي به واخلي دَ مزري مویه

که زوي دَ پلار يې دَ پلار هنر واخله
نه چه ئې مال و ملک وَ یا زر واخله
بهرام که زوي دَ خوشحال ختټک وُ
هنر ئې نه وُ ځني خبر واخله

دَ لور عفت غواړه دَ زویه توره
هغه چه دا لري بلا ئې دوره
چه دا ئې نه وي مرګ ئې مېلمه شه
مور دِ دَوخته شِي په دواړو بوره

تل سي ساله وَي دَ خدای دَپاره
ګل و لاله وي دَ خدای دَپاره

١. دنيا بوډۍ ده.

د ښو ښو جونو جمال تل تل ليدي
په لاس پياله وي د خداي دَپاره

ښځه خوشخويه غواړه خوش رويه
کنه بد رويه ښه ده خوشخويه
مينه ئې ډېره تر رنګ به بوي شي
څوک چه خبر دئ دَ ګل له بويه

له قامه ولاړ شوم ليري په کروهه
خالي ارمان دَي وروستنۍ پوهه
په تېرو چارو پسي ارمان کړم
اوس مي څه سود دَئ له دې اندوهه

ساقي بيا مهر کړه دَ ميو مهر شه
دَ منځ دَ تلي[1] مقام دَ مهر شه
په کښ به ډېر ډېر خوښۍ وي
بيا را بر سېره دَ فلک مهر شه

دَ نو دولتو دنيا که ډېره ده
دَ جود وينا ئې له دله هېره ده
څوک دِ ئې ګرم او ملامت نکا
يوه بلا ئې تر تندي تېره ده

١. يعني دَ ميزان د برج منځ ته لمر راغي.

دَ رقیبانو په ډېره رخه
دایم جدا شوم دَ یار له مخه
شوم یم چه پایم په دا ډېر غم کښې
یو جدائي شوه دوهمه سخه

در پېښه مشه دَ بخت کږوه
خوني مزري کا په تا بږوه
دَ باز شڼلې زرکه مي ولیده
دَ باد خورکو باندي خوږه وه

زه ئې خبر یم له زیانه سوده
حسد مذموم دَئ غبطه محموده
حسد دَ چا دِئ دَ نامردانو
غبطه را پاڅي دَ مرد له جوده

چه علم وکړې عزیزه زویه
فهم په علم په عمل بویه
کمکیه ونه بار داره ښه ده
نه پلَنه ونه بې باره لویه

که یار دِ سپین دَئ و تا ته تور مشه
که دَ صفت دئ هم دَ پېغور مشه
نیک بد به واړه په دا پوهېږي
که ته هغه یې خود دِ اوس نور مشه

په شيخ رحمکار مي تازه توبه وکړه
هغې نګارې راته ښېوه وکړه
زړه مي هر ګوره په اندېښنو شو
توبه مي بده ده که توبه مي ښه وکړه

زه دِ کباب کړم خداي دِ کباب کړه
غليم خو نه يم څه خو حساب کړه
نه دِ وفا شته نه دِ جفا شته
ناکسَ درومه خداي دِ خراب کړه

که سروري غواړې دَ هر چا وړوني شه
پرده پوښي کوَه لکه پړوني شه
که بد ګفتار دئ که بد کردار دئ
چه عذر خواهي شي آواره کړوني شه

وفا ترې مه غواړه دا دوه درې څيزه
چه بې وفا دي ځما عزيزه
يَو آس بل ښځه که هر څو ښه وي
دريمه توره ور سَرَه نيزه

درېغه ښه زويه درېغه ښه ورونړه
چار ئې تر لعلو تر دُر و چونړه
چه دواړه توکه لايق قابل لري
هغه ته وايه که مونړې مونه

سر په زانو کښېږده دا چارحاشا ښه ده
تر باغه راغه دا تماشا ښه ده
څو کام ترې مومې په غم کښ درومې
دنیا که دا ده دنیا ته شا ښه ده

تخم ضائع کا بد اصله مځکه
ښه پیۍ خسا کا بده غوڼکه
هغه چه کرکا یا پیۍِ شاربي
هغه دِ نکا دا پوهه ورکه

دَ دنیا میني یاریِ واړه
بقا هیڅ نه لرِي باندي مه ویاړه
چه به ئې ژاړې په جدایيِ
جدا چه نه دِي واړه وژاړه

چه په قران کښ دي منلي واړه
مشکاة مصباح ته نیولې غاړه
نفس دِ په دا کښ که فضولي کا
شیطان خوار کړې بدبخته ژاړه

چه هر زمان مي په زړه میشته ده
هغه مهرویه دَ زړه دمه ده
خداي خو دِ صبر له دِې را نه کا
دَ صبر خبرَه که هر څو ښه ده

نه به دا مځکي وي نه آسمانونه
واړه به واوړي دا ديوالونه
باقي به بل يو جهان پيدا شي
مولا لرِ نَلرِي خپل جهانونه

دا خاوري نه دِي چه موږ پرې ځونه
دَ خيال زلمي دِي گل گوني جونه
گوره له کومو خاورو به گډ شو
په هر زمان دِي دَ مرگ پيچونه

ی

اې چه دولت لرې بد دِ خصلت دئ
دولت به بايلې ښه نَصيحت دئ
باز چه له بده باز داره ولاړ شي
و به ئې نه نيسي دا تجربت دئ

آس دَ خانانو دَئ دَ ښو کسانو دئ
نه دَ نادارُو دَ مفلسانو دئ
ماړه ښاربه ښه دئ وږي گنده دئ
ډنگر د چاري د کرگسانو دئ

آزار د خولې دئ آزار د لاس دئ
له دواړو خلاص دئ هغه چه ناس دئ
سړي به نه وِي هغه به دد وي
چه په دا دواړه توکه الماس دئ

اور وَړانده ته په تاو مفهوم شي
و سترگه ورته ښرگند معلوم شي
هغه چه پرېوزي وَ اور ته رنگ واخلي
هر ښوک خبر دَئ چه اور ئې نوم شي

ابله هغه دي په ورځ ښراغ کښېږدِي
يا چه بې درده په صورت داغ کښېږدي

یا چه دَ شګو عمارتونه کا
یا چه په بده مزکه کي باغ کښېږدي

اهل کیمیا دئ کیمیا به څوک مومي
اهل وفا دئ وفا به څوک مومي
نوم دَ عنقا شته پدا جهان کښ
اهل عنقا دئ عنقا به څوک مومي

اصیل چه نه لري ادب هم هیڅ دئ
جمیل چه نه لري نسب هم هیڅ دئ
چه دانشمند دئ حکمت هنر لري
که دَ بادشاه لري منصب هم هیڅ دئ

اندوه هیڅ مکړه خوشحاله سخ دئ
خوارِي دِ ولاړه دولت ته مخ دئ
هغه چه تا وته خوړوني سپي وه
په لیري لیري ملکونو چخ دئ

امید که ګورې بهتر تر بیم دئ
عطا پرې مه نیسه که دِ غلیم دئ
چه له اعدا سرَه په مدارا وي
دا کار دَ چا دئ کار د حکیم دئ

اې چه بې مثل په کړه اووړه يې
ګل رنګه روغه دَ خداي په کړه يې
دا هسي ولي دَ زړه په وړه يې
په هيچا نه يې خو پخپل زره يې

آتش قبول کا ګني چه قند شي
په هر ديار ئې صفت دَ خوند شي
ادب دَ زويه دَ ورور بايده دي
جوهر دَ توري په صيقل څرګند شي

اسمان چه هونبره لوئي رفعت لري
مزکه چه هونبره ستر وي وسعت لري
دا به خداي واړه سَرَه فنا کا
چه لوي عظيم دي عظيم ساعت لري

آفت که ګورې په بې ننګي کښ دئ
نکبت دَ دهر په ولتنګي کښ دئ
ما له دوُ رنګو فايده و نه ليده
که سود دَي سود خو په يکرنګي کښ دئ

احمق در وښيَم که احمق ګورې
احمق ړانده دي په سترګو توري
تور وته سپين وائي سپين وته تور وائي
په غوږونو آوري خبري نوري

اې چه په رَو کښې گزار ته ساز يې
سترگي دِ لکي غوړ په آواز يې
غاري غرڅه دئ درباندي درغي
په تخرگ ئې وله که تير انداز يې

اې دَ چشمانو په غمزه الماسي
دا څه هنر دئ له عاشق ستاسي
تر سر تر پايه راته ووايه
ترې دِ يستلَي يم لا مي وباسې

اى نفس فضول از فضولي باز آى
چون مردم جو فروش گندم منماى
هيچي و از هيچ چه خيزد هيهات
بيهوده مگوى و هر زمان ژاژ مخاى

اوس له ديو ښځو کله مردم زېږي
ور ځني واړه مار و لړم زېږي
دخول که نکړې ور سَرَه ځاي لري
چه ځني واړه په عقلَ کم زېږي

اې چه حکيم و عليم دِ نوم دَئ
ورکړې آخلې کار دِ معلوم دَئ
شيرين ژوندون دِ درباندي تريخ کړ
خوشحال چه نه وژنې حکمت دِ کوم دئ

احمق که هر څو دنیا دولت لري
دولت به باي کا چه حماقت لري
که ډېر نادار وِي شکر دِ کانِدي
که خوي ئې ښه وِي علم حکمت لري

اصیل به شرم حیا وفا لري
اصیل ئې وګڼه هغه چه دا لري
که شاهزاده وِي چه دا ئې نه وي
اصیل ئې مه ګڼه یوه بلا لري

ایمان دَ سرو زرو تر غرونو ښه دئ
منافقانو وته هیڅ نه دئ
لال دُر چه پېژني هغو ئې قدر زده
چه شناخت ئې نه لري سوړ ئې ترې زده دئ

اې چه پرئ ِ و ما ته ستایې
که یار مي ووینې بیا به ووایې
هر چا چه ولیده باندي بلبل شو
مخ دي که ګل دئ د دلربا ئي

ادب چه نه وِي په سپین په تور کښي
عزت به نه وي په هغه کور کښي
دولت به درومي له هغه خلقَ
چه سَرَه تل وي په شر و شور کښي

اوه آسمانه اوه ئې ستوري
دولس برجونه دِي چه پکښې ښوري
غمجن دِ طمعَ دَ ښادئ کاندي
دَ شپې ځښتن دِ سحر ته ګوري

اسپې آسونه وته ساتلي شي
ټټوئ خرونه سَرَه شړلي شي
ټټوان يا خرونه باندي ختَنه کا
ځني نابودي ګلې حاصلي شي

آزار دَ اهل و ما ته جهل دئ
خپل ځان که ځار کړم تر اهل سهل دئ
دوږخ در وَښيَم په دا دنيا کښې
دوږخ صحبت دَ سفله نا اهل دئ

اې چه رحمان او رحيم دِ نوم دئ
عظيم بادشاه يې کار دَ معلوم دئ
نادان په تاج کړې دانا محتاج کړې
ما پرې خبر کړه حکمت دَ کوم دئ

آسمان روغ زړونه ندي پريښي
دَه دِي په هر چا چاپونه يښي
څو ئې دا ستوري په سترګو وينې
واړه داغونه دِي کښُي کښُي

بنیاد دَ چارې په مصلحت دئ
بیا دَ مردانو په ښه همت دئ
چه سَرَه یو شِي دا دواړه توکه
واړه دولت دَي عزت حرمت دئ

بدخواه دِ کوم دَي چه دِ په بدو یاړې
نیکخواه دِ کوم دَي چه دِ بهبود غواړې
که هر څو خوې دَ فرښتو حاصل کړې
له چا به ته ژاړې څوک به له تا ژاړې

باغ په خوبۍ لکه مخمل دئ
را سَرَه گوره یو څه مخمل دئ
ساقي را پاڅه مینا را واخله
پرخه وریږي گل دئ حمل دئ

باور که وکړې په جز او کل کښې
مردان به تل وِي په توکل کښې
دا ډېرې غاړې نغمه صوتونه
نشته په باز کښې دِي په بلبل کښې

بله به نه وِي په حق شناس کښې
تل به په حمد وي تل په سپاس کښې
چه ئې جار باسي هورې جار وزي
زړونه تسخیر دِي دَ خداي په لاس کښې

باغ وي سرود وي نقل و شراب وي
ښې ښې دلبري ښه ښه احباب وي
مجلس دَ خاصو کتاب په منځ کښې
نقل دَ تورو وخت دَ شباب وي

بارخو ئې نه دئ گل د گلاب دئ
زلفي ئې طعن دَ مشکناب دئ
راشه که دواړه شونډي ئې گورې
چه پرې مستېږي هغه شراب دئ

بته تل لا بني اوبه تل مومي
بد بوي ئې ولي له تنه درومي
بد بوي ئې ځکه درومي له تنه
هره بلا ځِې دَ دې تر کومي

بلا بلا وايې بلا هم ته يې
خپل ښه هم ياد کړه که بلا نه يې
توره دَ ژبي توره دَ اوسپني
څه غوښوَل کا خبر لا نه يې

بخت و دولت دَ سرِي له ځايه وي
نه له هنره نه له همايه وي
هنر هاله راشي هماي هاله راشي
چه باندي حکم په چا له خدايه وي

باز په دیدن دَ طاؤس وویاړي
سر پښې ئې هر څه سَرَه ونغاړي
پخپل خپل ښکار پسي هر څوک تلاښ کا
مزري که زوړ شي غوا بزې غواړي

باغ دَ گلونو کنج و کتاب وَي
رود و سرود و نقل و شراب وَي
ښې ښې محبوبي ښه ښه احباب وَي
خوبي دَ عمر وخت دَ شباب وَي

بادشاهان ښه دي چه په ځوانانو زر ښندي
ځوانان پرې ښه کا چه ورته سر ښندي
زر سر دا دواړه توگه ډېر گران دي
یو یو ئې وښندي نه ئې یَو هر ښندي

بیهاڼ دَ اسپو کله یکسان دِي
ځني ټټوان دِي ځني اسان دِي
ځني دَ بار دِي دَ زیست روزگار دي
ځني دَ توري دَ برگستوان دِي

بې غمه خوب کا چه روغ په تن وِي
خوب به په څو کا چه څوک غمجن وِي
موړ دَ شکرو حلوا ته نه ګوري
وږي دِ سپوري روټې کازمن[1] وِي

بازونه ولاړه بهادران دي
چه بد شي نيسي بد باز داران دي
چه په آسونو کښې خم چم پيدا شي
آسونه ساز کا چه شهسواران دي

بلبل دَ ګل دئ ګل دَ بلبل دئ
بلبل هورې غواړه هورې چه ګل دئ
مينه په پټه دَ هيچا نه شي
خپل بوي دَ مښکو په ځان چغل دئ

بد خواه دِ خوار اوسه ته ورته غټ اوسې
خپل نيت دِ زغره ته په کښې پټ اوسې
څو چه ښادئ دي څو چه غمونه دي
و دواړو توکو ته په مخ په څټ اوسې

---

۱. کازمن ته محشي مشتاق ترجمه کښلې ده.

بد مخ ناحقه په زر پساله شي
ښه مخ چه بيا مومي پسول دِ هاله شي
که هر څو رنګ لري سر سپيني پاڼي دي
شندَي به چېري نرګس باله شي

بدي به لاس واخلي چه ګنهګار شي
چه ګنهګار شي هغه دَ دار شي
چه څوک له خپله شامته خوار شي
خپل پردي واړه ځني وېزار شي

بزرګي په تا ښائي که ته ستار يې
ستار که نه يې کله بزرګوار يې
چه پرې حاجت دَ محتاج پوره نه شي
که مال دِ ډېر دئ کله مالدار يې

بار دَ اوښانو په خرونو ليښ نشي
جام دَ مستانو په صوفيانو څيښ نشي
دَ ويښ له حاله اوده خبر نه دئ
څو چه له خپله خوبه نه ويښ نشي

بدي له خپلو چه آواره نشي
خپلوي دَ خپلو په چا ښکاره نشي
که ښه دي ښه خو هغه سړی دئ
چه يې پخپلو کښ ګرېوان پاره نشي

بخت دَ مغلو پښتانه نه پرېږدي
چه اتفاق وکا په توره زړه کښېږدي
ګڼه که څه هونبره پښتانه نه دي
چه ئې په ياد کا دَ مغلو زړه رېږدي

باڼه که هر څو دَ سترګو زېب لري
چه ور کاږه شي بلا آسېب لري
زويه که ښه دئ نور دئ دَ سترګو
زويه که بد شي ماران دَ جېب لري

بيا مي له بخته مدد څرګند دئ
خوب کړم خوښي کړم زړه مي خورسند دئ
چه خوب مي نه وُ دَ ده له غمه
تر سر مي لاندي هغه مړوند دئ

بوي دِ له نطقه دَ کبر وآز ځي
لکه دَ خولې نه چه بوي دَ پياز ځي
په نمانځه وُ درې فکرونه نور کړې
عمر دِ هسي ګنده ناساز ځي

عابد[۱] بې بندَ دَئ هم بې پیوند دئ
مور پلار ئې نشته پیدا له شخوند دئ
سړي ليده شي که خوي ئې گورې
لکه چه د دوِي هسې بې سند دئ

پکار هيڅ نه دئ خالي مستیِ
څو لا په زړه لرې دَ غم هستیِ
هستي تمامه په مستي كښې وبازه
له ما نه زده کړه مي پرسیِ

په ننگ خبر نه دِي بې ننگه کلي دئ
وفا ئې نشته له عقله پلي دئ
که نمونځ اودس کا په پنځه وخته
هم بې صلوة هم مخ ناولي دئ

په غم دَ نورو و غم ته ساز مشې
سپک و عالم ته پخپل آواز مشې
سړی په طمعَ دَ بل بنده شي
دعا به دا کړم آخته په آز مشې

---

۱. بهرام.

په رنګ رنګينه يې په مخ نسرينه يې
به لب شيرينه يې په تن سيمينه يې
درسته ګلزار يې تر سر تر پايه
عيب دِ دا دَي په زړه سنګينه يې

په ځان مي لږ ډېر ځايونه مښلي دي
چونې چونې مي کښلي کښلي کتلي دي
ستا تر ښايسته چه نا ښاغلي دي
دَ خلخ کښلي کشميري کښلي دي

پلار دَ خپل زويه په کار ډېر وياړي
په هره چار ئې بهتري غواړي
په خوي ئې بد شِي نصيحت نه مني
دَ ده له خويه په اوښيو ژاړي

په کاغذ وکښ خوانا ئې ولولي
چه کښلي نه وِي هغه څوک څه لولي
هسي مردان شته په دا دنيا کښ
تختې دَ وچولي تختې دَ زړه لولي

پند دَي سودمند دي که څوک ئې ونغوږي
وخت دَ فساد دَي له تا چه وزېږي
زوي ئې مه بوله حذر ترې بويه
چه دِ له حکمه له رايه وغړېږي

په تار دَ غڼې ذباب بند کېږي
نه په دالومه عقاب بند کېږي
پند و عاشق ته بند د خسړيو دئ
په دا به کله سيلاب بند کېږي

پونډه په اور کښې گونه گونه شي
کاڼي په اور کښې گچ يا چونه شي
عادت به هيچېرې دَ ناکس نور نشي
که اور ئې پوري په درونه شي

په خپل مقصود پسې په څو مجنون يې
په خپل مطلب پسې يو څه مفتون يې
په څو خوشحال شې چه په کام کامياب شې
دَ کام په نمونډَل هر دم مخزون يې

په رنگ ميتائې لکه اوبه دي
په خوند په بوي کښې دَ اُوبو ندي
لکه چه مخ ويني څوک په اوبو کښې
هسې په دې کښې دَ مخ ليده دي

په خصلتونو کښې عدل انصاف ښه دئ
له ښو له بدو سَرَه زړه صاف ښه دئ
چه څوک دِ غاښ مات کا ته ئې هم غاښ مات کړه
که عذر خواه شي غاښ ئې معاف ښه دئ

په پوهه ډک دي هر يو زوولي
و ځان ته نه وائِي هيڅوک غووَلي
هغه چه خر پيائي يا چه حکمت وائي
هر يَو فلک دي سَرَه رسولي

په تن هډونه رگ وريشه يې
په دا که گورې يَو دوه پشه يې
خوي دَ ددانو دَ حيوانو پرېږده
که ته سړَی يې په اندېشه يې

پند دَ سړي دئ سړی دَ پند دئ
پرې به پوهېږِي چه دانشمند دئ
سړی په پند نيسي څاروي په بند نيسي
و هر سړي ته دا کار څرگند دئ

پښتون په اصل سړه بني دي
يا غرغشتي دي يا بټني دي
لودي غلجي دي دَ پټي له لوره
په سړه بن پوري بيا کرلاني دي

په دا خبر شه چه سړی څه دي
سړی د غشي کبړه درمه دي
چه بې استاذ وي لا غشي ندي
چه ښه ئې ساز کا سړی هاله دي

په رنګ په حسن په څو نادره یې
ښېوه غمزې لرې څو جلوه ګره یې
له خپله یاره څو زورَ وره یې
خو چه پخولا شې بیا مَرَوره یې

په عطر ډوبه هغه خوش رویَ
راغله ناګاهَ له یوه سویَ
تمامه شپه ئې را سَرَه تېره کړه
سپېږمې مي ډکي دِي دَ دې له بویه

په ډېره پوهه که بو علي دئ
چه جود ئې نشته احمق جلي دئ
که کلمه لولي عقل ئې مه ګوره
چه څوک ئې نغن خوري هغه ولي دئ

په قد دَ سبر تر وني بوک یې
په رنګ په اصل په خوي ملوک یې
کمي دِ نشته په شش و پنج کښ
په چارِ په هر څه دَ زړګي څوک یې

په دا به پوه شي هغه چه کس وي
ډېري رمې لَره یو شرمښ بس وي
چه یو بڅري دَ اور پیدا شي
په مخ ئې وړي انبار دَ خس وي

په دا دنیا کښې ښې خوږې میني
بدرنگ[1] ترخې شي که ته ئې وینې
نور څه ئې مه گڼه واړه مقصود دي
تر خوله وَباسِي ترخې شیریني

په استخفاف دَ بادشاه دولت بایلي
په استخفاف دَ ملا جنت بایلي
په استخفاف دَ چهار یارانو
هم مودت بایلي هم مروت بایلي

په سپین وېښته مي په زړه سرور راشي
ډیره چه سپینه شي په مخ کښې نور راشي
غم دَ زوړوالي په زړه هاله راشي
چه په غاښونو په لېمو فتور راشي

پخپله پوهه که ذوفنون وي
ویل چه نه مني پکښې جنون وي
دولت ته ورَسي ټینگ ئې و نه نیسي
قابل ئې مه گڼه چه په راي زبون وي

په کار دَ علم عالمان موښي[2]
شیخان په کار دَ شیخي ځان چوښي

---

۱. په درنگ.

۲. یعني لوئي کوي.

دا واړه هيڅ دِي زما په پوهه
ګوره څوک ورشي په مخ مخ روښي

په عاشقانو څو څو خبري شي
ورته لښکري شي توري شي زغري شي
چه عاشقان دي چه صادقان دي
عشق به ئې کله له دله ليري شي

په باغ چه ګڼ شي چه ترې وتوني وي
که لون لون مېوې خوږوني وي
که هر څو وخوري ګلونه بوي کړي
خو عاقبت به ورځني تلوني وي

په ښايسته وُو چه مبتلا وي
بې فکره کله خلا ملا وي
بې ميني مشې مَيَن هم مه شې
دا دواړه توکه الا بلا وي

پاکي چه راشي په هغه کور کښي
بلا ئې وَسېځي نوره په اور کښي
يوسف چه پاک وُ ځکه بادشاه شو
څه شو که بند وُ ناحق په تور کښي

په شپه آرام شي په ورځ هر کام شي
په ما دا کله په صبح و شام شي
په شپه په ورځ دِي دَ عشق غمونه
آه و ژړا مي سَرَه مدام شي

په مخ که هر څو صاحب جمال وي
ننه په زړه کښ افعي افعال وي
که زر تسبيح لولي باور پرې مکړه
ښځي مي واړه دَ مکر جال وي

پلار مور که هر څو نيکو فرجام وي
په بد فرزند پوري خجل بدنام وي
فرزند که ښه وِي خداي ئې کامران لَره
دَ بد فرزند دِ زهر په کام وي

پړين[۱] که ښه وي پکار و بار کښی
نه ډېر فکرونه نه زرغه پکار کښي
زرغه نامرد کا له کاره پاتو شي
مرد تړول اختيار وِي په زيست روزګار کښي

۱. دا رباعي حل غواړي لمړئ کلمه په يوه نسخه کښ ترين په بله کښ پرينې ده، په يوه قلمي نسخه کښ تر زرغه لاندي محشي ليکلي دي يعني نامردي او کاهلي.

په رنګ په خوي کښې سَرَه پرخې وي
په مرتبو کښې سَرَه تېرې وي
يو سيند بل پورې لکه لښتَې وي
يَو غر تر بل پورې لکه غونډۍ وي

پيوند دَ زړونو عجب پيوند دئ
په کتره غوښه وبله بند دئ
خو چه وفا وي هونبره ټينګېږي
جفا ئې پرې کا کار ئې څرګند دئ

په باغ په راغ کښې کرل هر څه شي
په خپل خپل اصل بيا واړه وشي
که لويَول ئې په شودو پې وي
مولي مولي وه نور څه به نه شي

په باغ کښې ډېري ونې ولاړې وي
چه ښې ئې ځير کړې په څو څو غاړې وي
پلنِې نَرۍِ ګورې ناګورې
ځنې په پورته ښايسته ولاړې وي

په دا جهان کښې چه څو غمونه دې
څو څو خوارۍِ څو څو ستمونه دې
واړه په بخره دَ عاشقانو شول
بخرې له ځايه په قلمونه دې

پاداش دَ هري چاري تيار وي
چي نيک کردار وي که بد کردار وي
چه ترس د زړه لري دا کار به ښه لري
څو بې پروا وي هونبره ئې زار وي

په زړه کښې څړيکه دَ ښکاري ولاړه شي
هي هي نارې وَهي بوره ئې غاړه شي
چه سَرَه ونښلي دَ ښکار بازونه
زرکه دَ دواړو له منګولو ولاړه شي

پرې مي سلام دَئ جرګې چه پنځې شي
زړه مي هورې دَئ هروې چه هنځې شي
خوشحاله زوړ شوې قرار ناست اوسه
پښتون چه زوړ شي دَ نغري دَ څنځې شي

پند د نيکخواه دئ خداي دِ ئې ښه لري
ورمون[1] دَ نيکو نيکان په زړه لري
هوښيار لازم دَئ چه خطا ئې ولې
نادان معذور دَئ چه عقل نه لري

پيوند دَ ميني هم ټينګ هم سست دئ
جفا ئې پرې کا په وفا درست دئ

---

۱. محشي ورته تدبير او مصلحت او پند ليکلي دئ.

ډېرُو دَ ما نه په جفا پرېِ کړِ
اوس خو دَ لړُو څخه آمست[۱] دئ

په سړيتوب کښ واړه يکسان دي
که مؤمنان دِي که کافران دي
ايمان دَ چا دَئ دَ مومنانو دئ
ايمان ئې نشته چه کافران دي

په چا چه عدل يا ستم کېږِي
هر ځاي چه بېش و يا څه کم کېږي
بې ځايه هيڅ نه دي واړه په ځاي دي
يَو ازميښت دَئ که عالم کېږي

په هَرَه چار چه همت بسته شي
تېره خارونه هم گلدسته شي
که بې همتو ئې په لاس واخيسته
دَ هغو بخره خواره خسته شي

پښتانه واړه لکه مارونه دي
مغل دم کړِي پخپل کارُونه دي
چه په مارونو کښ لوي مار پيدا شي
پسي ئې غواړي که په غارُونه دي

---

۱. محشي ورته گهؤن او پيوند کښلي دي.

پسرلي چه راشي يا پښگال شي
دَ خټک زوني شيخان خوشحال شي
شکرانې آخلي دَ باران وعدې لِي
په دروغجنو وعدو نهال شي

پدا جهان کښ که خرابۍ دي
يا ناحقۍ بې حجابۍ دي
يَوه به نه وِي دَ هوښيار له لاسه
دَ نادانانو دَ شتابۍ دي

پرې مي سلام دَئ هغه چه مَي خوري
خدا ئې دارو کړه که پدود ئې دي خوري
اول خلوت بويه بيا ښه صحبت شه
مَي دِ په صوت دَ چنگ و نَي خوري

په څو دَ ځان په ښېوه بيدار يې
وېښته دِ کوز شي هم پرې آزار يې
فکر دَ گور دَ خوارۍ نه کړې
بند بند به پروت وې ناپروا دار يې

پرېږده پرې سترگي دَ وږيو وَوزي
باندي پراته اوسي وږي سر کوزي
لوئي غړۍ د ډک طباخ وي
دوي دي خوړلي دَ طباخ څخوزي

په څو واي واي لرې چه لږ بېمار شې
پروا دِ نه وِي چه چاق تيار شې
هيڅ يې نابود يې چه ښه مي وليدې
غفلت خوار کړې که خبردار شې

په هَرَه ژبه سخن سنجان دئ
دَ ځان په فخر پاک د سبحان دئ
په خوله ئې ذکر په زړه نور فکر
فساد دې دور دانا شيخان دئ

په شمار مي زويه تر شپېته زيات دي
نيمگي په مړه وِي نيمگي حيات دي
چه را څرگند شول په کاروبار کښ
تر دې ژوندون يو بهتر اموات دي

په رنگ په شکل ښايسته ميور يې
په زړه سنگينه ناترسه گور يې
ياران ډېر خوښ کړې بيا ئې ډېر خوار کړې
دارو دَ زړونو دَ زړونو ځور يې

پنځه دِ گوتي دِي که يَوه نه وي
دَ نورو گوتو چار به دِ څه وي
دَ لاس خوبي ده په پنځه گوتي
چه سَرَه جوړي وي کار به دِ ښه وي

په رنګ په حسن تازه بلوڅه يې
په تن کښ سپينه تر تازي پوڅه يې
تر سر تر پايه کمي دِ نشته
په ښو خبرو څه خبر لوڅه يې

په خپلو اوښيو کښ سړی شنا ښه دئ
له هره هر سړي سَرَه اشنا ښه دئ
که ګل له نورو دئ اغزي له ياره دئ
منت تر هر څه دَ خپل آشنا ښه دئ

په ما دا عدل که دا ستم دئ
چه غم په ما باندي په هر هر دم دئ
واړه مي خپل دي پردی څوک نه دئ
چه ئې له ما سَرَه دا هونبره غم دئ

په سوات وربړي په سمه شين دئ
تر غره په کوز شي لا نماز پېښين دئ
بتې دَ تالي دَ عبدل لښکري
خوشحاله له زړه دِ له واړو شين دئ

په رنګ که هوره ده پرې ګرفتار مشې
چه خوي ئې بد وِي دَ ښځي يار مشې
خوشحال ته ګوره چه يو څه بار لري
له بده خويه ئې ته خبردار مشې

په سرطان کښې به مزري په وړي
مرد به خپل ځان ژغوري ځما که نغوړي
لنده ورغومي صحبت هم زيان لري
پدا منزل دِ په بهار کوړي

په عاشقانو آرام حرام دئ
عاشق ئې مه بوله چه په آرام دئ
په عشق کښې شرم په ننگ کار نلَري
دا دواړو توکو يِو خالي جام دئ

په دا خبره هر څوک خبر دئ
تر آروېدلو ليدل بهتر دئ
تا غنُدي کله هوسۍ دَ مښکو دئ
مښک دِ دَ زلفو که برابر دئ

په تن سيمين يې په رنگ رنگين يې
په لب شيرين يې په مو مشکين يې
زه دِ مجنون يم که ته ليلي يې
زه دِ فرهاد يم که ته شيرين يې

په هر چا کوټه غمونه خپل دئ
څوک دِئ چه نن مي په غم دَ بل دئ
دَور دَ چا دَئ دَ عالمگير دئ
لاس به په غوړ لري چه څوک عاقل دئ

پنځه[۱] بارونه دِي بردن ئې غم دئ
ورمېږ دَ خلقو تر لاندي خم دئ
پنځه په نورو دي په تا دوه کم دي
خوشحاله شکر کړه چه بار دِ کم دئ

په دواړو زلفو که عنبر بېزه يې
په دواړو شونډو که شکر رېزه يې
دا څه لا نوري خوبئ دِ ډېري دِي
بابا دِ ومره بلا سر تېزه يې

په لار چه درومم په مخ دلبر راشي
يا ښه څه بيا مومم يا ښه خبر راشي
هسي دَ کښليو په ديدن خوښ شم
لکه په خوارو باندي اختر راشي

پاسه يا کوزي دا کار سازئ
په څو څو رنګه دلنوازئ
آسمان ته ګوره مزکي ته ګوره
دا چاري ندي لوبي بازئ

۱. مطلب حني پنځه دَ مسلمانئ بناوي دي چه له هغو څخه حج او زکوة پر غني فرض دي. خان ځکه چه په سخا کښې هيڅ وخت دَ نصاب مالک نه وُ نو دا دوه فرضه له ده ساقط وه.

تیښتن دَ خوني چه بې تدبیر وِي
وینځي مریونه ئې وتېښت ته ځیر وِي
یا ئې ډېر مست کا هوا ئې نوره شِي
یا ئې ډېر خوار کا لکه اسیر وِي

تازي چه نه نیسي کوټه چه نیسي
خلق په ښه نظر کوټه ته کسي
تورزن پخپله خپل ځان په قدر کا
چه توري غشي په ځان را نیسي

توري دِ زلفي دي تور دِ اوربل دئ
مخ مي دِ ولیده لکه اوربل دئ
هم تور لوګي دي هم سرې لمبې دي
دَ غوښو زړه مي بکښ قبل دئ

تل خاموشي کړِي چه تل بېغم وي
طمع له چا مکړه چه بِه ترجم وي
خوښ په هنر اوسه خوښي په مال مکړه
هسي کارُونه کړه چه بې ندم وي

تر باز نه نور نور مرغونه کټ دي
هنر چه نه لري ځکه ښوهټ[1] دي

---

۱. دې کلمې ته محشي نابکار کښلي دي په ځلورمه مسرۍ کښ کویټ حل غواړي.

خپل کار څرگند کا پدا دوه ځایه
مردان دَ کویټي ښځي دَ کټ دي

تر لعلو دُرو عقل تمیز ښه دي
د بل تر مُهر خپل یو نشیز ښه دي
چه خبردار دي دَ صحبت په علم
تر بې ادبي خبري تېز ښه دي

توبه هاله ښه دَه په گناه چه لاس رسي
چه لاس په هر چرته په کوز په پاس رسي
چه لاس و نه رسي توبه څه سود لري
خالي خبري پخوله دَ پاس رسي

ته چه بادشاه دَ سمن رویو یې
غوره دلخواهه دَ سنبل مویو یې
تر سر تر پایه گل یې سنبل یې
بد چه په نغوته دَ څو بدخویو یې

ټټو به هیچېري دَ آس په یون نشي
په توره هیڅوک لکه پښتون نشي
اصل په هر څه کښ خپل ځان څرگند کا
خوند دَ مټرو به گندم گون نشي

تل تل تل مي ور پسي غم دئ
مينه ئې ډېره راحت ئې کم دئ
چه نه ئې وينم په سترگو تورو
دا جهان واړه په ما تور تم دئ

تري که بد دئ خو بيا همجد دئ
هر چه همجد دئ هغه امجد دئ
بولاق که هر څو خټک يادېږي
دَ سباکیِ دَ لوريه بد دئ

ته اوم سبو يې تر خرخ وتلي
دَ اور تر تاوه نه يې ختلي
که چيري ووزې دَ اور له تاوه
نوم به دَ اوم وي له تا نه تللي

تر سر تر پايه چه سړی ساز دئ
فهم که وکړې درست سَرَه راز دئ
سړي هغه گڼه چه خپل ځان پېژني
چه بېخبر دئ يَو تش طراز دئ

تازي چه زوړ شي په قدر خر شي
مزري چه زوړ شي تر شغال بتر شي
زوړ دِ دماغ دَ ځوانیِ نه کا
پدا وَيل دِ هر څوک خبر شي

تر ظل کښېنې دَ هغې وني
چه ئې نه سته نه پاڼې وني
نه يَوَه ونه باغي په غولي
نه ډېري وني پلوسي غني

تا چه پيدا کړه دا اوه شتوري
چه ستا په حکم وَبله ښوري
په ښورېده کښ ئې ډېر ډېر کارونه شته
ړانده ئې نه ويني بينا ئې گوري

تونگر هغه دَئ چه قناعت لري
نه چه بارُنه يا بضاعت لري
چه خوي خصلت ئې دَ سړي نه وي
يَو دد ئې وگڼه که شجاعت لري

تل تل چه غورزي دا سعد ستوري
دَ هنرمندو په طلب ښوري
که چېري ورشي په بې هنرُو
ځني دَ تلَلو دروازه گوري

ثابت په ما کړه گناه مهروئي
لاله عذاري عنبرين موئي
له هغه پسه توره را واخله
ويني ځما دَ گردن کړه توئي

جنت دَ چا دَئ دَ صادقانو دَئ
دوږخ دَ چا دَئ دَ کاذبانو دئ
قرآن چه لولي کذاب عذاب مومي
ثواب بې حده که دَ قران خوانو دئ

جنت دَ چا دئ دَ حق شناس دئ
دوږخ دَ چا دئ دَ ناسپاس دئ
کانده به نوري فتنې پیدا شي
کار کړه که کار کړې چه نن دِ لاس دئ

جنگ دَ هاتي دَ مزري آسان دئ
دَ خپلي ژبي آفت لا گران دئ
چه خپله ژبه ئې پخپل فرمان کړه
هم ئې رستم گڼه هم لا لقمان دئ

جنت په څه کښ دئ په خوشخوئي کښي
دوږخ په څه کښ دئ په بد گوئي کښي
چه نیت ئې لوي دئ هغه خداي لوي کا
کمي ئې نه وي پدا لوئي کښي

جهان کمر دي دَ څځلئې
فعل دِ دروغ دي دروغکروني ته یې
لکه چه دروغ کړې هغه به واروې
راشه خبر شه که خبر نه ئې

جهان که واړه سَرَه سور اور شي
گمان و مکړه چه عارغ نور شي
که سمندر غُندي ښه اور کښښ کار نکا
عارف ئې مه گڼه مخ دِ ئې تور شي

جهان که واړه سَرَه اُوبه شي
دا دوه بېړيِ به ډوبي نشي
يَوه بېړیَ چه څوک رښتني وي
بله چه وږي په چا ماړه شي

جهان درست ډک شو دَ نا حقِيِ
لکه پېمدلي اوږې په مِيِ
چه ځاي پرې نه نيسي ښوري ښوئېږي
دَ سر دانه ئې خوشحاله ته يې

جونه چه نه وِي واده لا حور وِي
اولاد چه راوړي آدم دستور وي
چه سر ئې سپين شي مخ ئې بې نور شي
يَوَه پيريه درته حضور شي

جدا چه نشي ترې اوسپن خړي
ترې پاتو نکا دَ پونډي زړي
په څو به سازه شي ترې تېره توره
فکر دِ ښه وکا استاذ زوي مړي

جهان دَ چا دَي چه څوک تورزن وي
داد و دهش کا په نوم مَيَن وي
ناستي دِ دَي دَ علم تر سيوره کا
چه څوک دَ علم د ورع څښتن وي

ځواني ډک جام دَه په پيرۍ اوړي
بقا ئې نشته په وار وار واوړي
پيري يوائې په هيچا نه رائې
څو څو عيبونه ور سَرَه راوړي

ځان و جهان لره پکار سلوک دئ
ملوک چه ښه لَري سخ دَ مملوک دئ
ملوک د ښه وائي پوچ پوچ دِ نه وايي
دَ ملَکانو کلام ملوک دئ

ځاي او مسکن دِ دَ کارگه گلشن نشي
کمذات سړَی دِ دَ جاه څښتن نشي
حسن هغه دئ چه اصل ذات لري
دَ سپاندِي گل به گل دَ سمن نشي

ځني خبري په تکلف کيږِي
ځني خبري په تائسف کيږي
ځني خبري په بله ژبه
لکه يعقوب ته قال دَ يوسف کيږي

ځني په علم په دنيا مستي لري
ځني په زهد په تقويٰ مستي لري
ځني په توره په غزا مستي لري
خوشحال په کوم توکي دا مستي لري

ځني په وينځي وي لکه مېرمني وي
ځني مېرمني دَ وينځو کني وي
عقل هنر بويه په آدمزاد کښ
مېوه چه ښه لَرِي قدر دَ وني وي

ځني په عقل په هنر دولت مومي
څوک ئې په جهل په حماقت مومي
يو په دارو دَ طبيب رغېږي
بل بې طبيبه شفا صحت مومي

ځني[1] خپل جيش لښکر حشم کسي
ځني خپل لعل گهر نعم کسي
ځني خپل علم هنر قلم کسي
ځني ختېکه هغه صنم کسي

چه سړی خوږ نشي سړی چه داغ کښېږدي
هر څوک پوهېږي ځان ته بلا بلېږدي

---

١. په دې رباعي کښ دَ درو ټکو کلمو صنعت سته، ټوله کلمې درې ټکي دي.

له چا چه جنګ کړې روغه په زړه لره
هوښیار په جنګ کښ دَ روغي ځاي پرېږدي

چه نه دَ دین دئ نه دَ دنیا دئ
هغه که ګرزي پکار دَ چا دئ
پرېږده چه وَمري جهان ترې خلاص شي
پدا جهان کښ یوِه بلا دئ

چه نن دِ یاري کانده اغیار دي
کانده اغیار دي چه نن دِ یار دي
خداي دَي چه دا زړونه سَرَه جار باسي
دا زړونه کله په اختیار دي

چه نه طالع لَري نه مصلحت لري
دولت به بایلي که ډېر دولت لري
چه شکر نلري کله نعمت لري
چه صبر نلري کله حکمت لري

چه قدر نلري دَ بادشاه دَ میني
توئِي بې نکا په خدمت کښ ویني
هغه نوکر دِ ښادي و نه کا
هر څه به بَایلي که ته ئې ویني

چه څوک ئې سَمَه ګڼي کږَه شي
چه ئې کږه ګڼي سَمَه هغه شي
دخل دَ چا دَئ دَ خداي په کړه کښ
په حال خبر شه چه څه دِ زده شِي

چه غم ئې نه وِي دَ نيکنامئِ
واړه ئې مخ وي په خود کامئِ
نه به ئې دين وِي مه ترې وفا غواړه
هر څه ئې هيڅ وِي پدا خامئِ

چه ئې په کور کښ لايق فرزند وشي
کرم له خدايه په سړی څرګند وشي
قابل چه نه وِي په هغه کور کښ
دولت ئې هيڅ دئ که چند در چند وشي

چه زړه له تا نه دَ چا ښه کيږي
ښه کړه دعا ګټه دعا قبليږي
آزاد هيچا دَ آخستو نه دي
ښيرې دَ خوږو زړونو لګيږي

چه دم ئې نه زده دَ اُوښَکئِ[1]
دَ اژدها نيسي لويه لکئِ

۱. اوښکئِ يو راز ملخ دي لکه اوښ چه اؤشاره ئې هم بولي، په پاړسي ګهواره جنبان ورته وائي.

نادان دي پريږده ورباندي مه مږه
دَ نصيحت دَ صابون چکۍ

چه را ښکاره شوه يوه مږۍ
زړه مي پرې بايلو هغه گړې
دَ زړه ښندنه آسانه نه ده
بې ځايه څوک ښندي يَوه دمړې[1]

چه نه ادب لري نه عقل راي لري
دوپاي ليده شي خود دَ چارپاي لري
چه بې ادب وِي آدم ئې مه گڼه
څه شو که شکل آدم نماي لري

چه درست گلزار دَي دَ اتفاق دي
چه درست خار خار دَي گنده نفاق دي
خار دِ په بخره دَ خارکشانو شي
هوښيار دَ گلو دَ گلزار مشتاق دي

چه پاځم درومم په لار دلبر راشي
يا ښه څه بيا موممم يا ښه خبر راشي
هونبره د کښليو په ديدن خوښ يم
لکه په خوارو باندِي اختر راشي

۱. يعني يو پشيز.

چه رنګ و بوي لري ګل ګل هاله شي
پرې د بلبلو غلغل هاله شي
چه نه ئې رنګ وِي نه ئې ښه بوي وي
ورځني پاتو بلبل هاله شي

چه تا څوک ووینې مهر به څه ویني
مهر به څه ویني چه تا څوک وَویني
عاشق څه نه ویني چه تا و نه ویني
چه تاوَنه ویني عاشق څه نه ویني

چه ذات ئې بد وِي اصل ناپاک لري
ګنده به فعل ګنده به ژواک لَرِي
زاغ و زغن ګوره بلبل طوطي ګوره
خپل خپل پرواز کا خپل خپل خوراک لري

چه جنګیالۍ لري ښځه په کور کښې
دَ هغه کس وي ژوندون په اور کښې
ښځه حلیمه ښه دَه خوشخویه
بده به تل وِي په شرو شور کښې

چه ژر ئې ونیسي ژر ئې بیا پریږدي
خو یَو نامرد به وي زړه به ئې ریږدي
یا دِ ئې زلفي په لاس کښې نه نیسي
یا دِ ئې ونیسي سر دِ پرې کښېږدي

چا ته چه ځاه کيني په ځاه کښ پريوزي
بلا چه غواړي په بلا کښېوزِي
په څو به روغ اوسي دا فکر ښه وکړه
په پړانگ پرهار وکري بيا ور پسېوزي

چه څوک ئې کاندي کله يارۍ دي
يا خود کامۍ دي يا عيارۍ دي
چه ښې مي خير کړې دا بهتري
يا وېزارۍ دي يا اغيارۍ دي

چه نادان دي چه فاسقان دي
يَو دم کار وکا بيا ژر پښېمان دي
چه ئې پکار کښ پښېماني نشته
يا عاقلان دِي يا صالحان دي

چه هر سيرت په وجود غالب دئ
په هغه رنگ ئې حشر واجب دئ
حريص به خوک وي حاسد به گرگ وي
په رنگ دَ دواړو خبر طالب دئ

چه کاهلان دي چه احمقان دي
دولت به بايلي که بادشاهان دي
دولت دَ دين دَ دنيا دَ چا دي
چه هوښياران دي پکار چسپان دي

چه تنگه خوله لَري اوږده بانه لري
توري ئې وروځې ملال کاته لري
نور څه ئې مه ګڼه ځما په پوهه
تر سر تر پایه به صورت ښه لري

چه کښېني آوري فریاد ښېرې لري
دَ زره دَ آه توري تېرې لري
پېر به په هر چا په وار راشي
اندوه دِ نکا آسمان پېرې لري

چنګۍ جیحون نه ده غنُډۍ به غر نشي
شمعَ قمر نه ده سها به نمر نشي
که اوښکۍَ په رنګ دَ مار ده
بیا اوښکۍ ده دا به اژدر نشي

چه جنګیالي دي دولت هغه مومي
چه ننګیالي دي عزت هغه مومي
دا دواړه توکه سَرَه تَړَلي دي
څوک چه محنت کا راحت هغه مومي

چه نه طالع لري نه مصلحت لري
دولت که غواړي څه بد خصلت لري
دولت هغه دي چه در پسې درومي
چه ور پسي زغلې بلا آفت لري

چه ئې دروغ ندي چېري ويلي
چا ته ئې نه وِي په بد کتلي
هغه به هيچېري خواري بيا نه مومي
عزت دولت به ور پسي زغَلي

چه ئې رشتيا نه وِي بل ئې اخلاص نه وي
هغه به هيچېري له غمه خلاص نه وي
دولت دَ دين دئ چه دَ دنيا دئ
بيا به ئې نه مومي چه خاص الخاص نه وي

چه خوي ئې نه وِي جمال زيبا لري
لکه ښه لوښي خالي غوغا لري
ښه مخ په مثل لوښي دَ زرو دئ
ښه خوي په لوښي کښ خوږه حلوا لري

چه نه ئې ننگ وِي نه ئې فرهنگ وي
نه ئې ښه اصل نه ئې ښه رنگ وي
ژر دِ په تورو خوارو کښ پټ شي
ژوندون ئې مه وه چه ځاي پرې تنگ وي

چه نه ئې دين وِي نه ئې دولت وي
نه ئې په علم ښه خوي خصلت وي
سړی ئې مه بوله يو گاو خر دئ
دَ گاو و خر به څه برکت وي

چه دَ بدانو سَرَه مقيم شي
که بيم ئې نه وِي هغه په بيم شي
ضرب المثل دَي دَ دانايانو
دښمن چه دوست کړې دوست دِ غليم شي

چه قبول زړه ته دَ چا چار بده شي
چار ئې نور بده تل تر ابده شي
روپي چه قلبه شي يَوه صراف ته
هغه روپۍ په هر چا رده شي

چه دَ بزگانو خفت آسان گڼي
هغه خفت دِ آفت دَ ځان گڼي
لېږي بلا به ورباندي ور نشي
جوړ دِ زرگونو بلا ته ځان گڼي

چه مي په غېږ کښې يې ساعت هم دا دي
بېلتون دِ بلي لمبې په ما دي
پاڅه ور درومه په سر دِ وېره کړم
زه ئې سبا گڼم وخت دَ سبا دي

چه غر دَ سرو زرو دَ سړي خپل شي
مُهر ما سي ته ئې کله کتل شي
چه بادشاهانو سَرَه ناستې په تخت کا
دا نور ځايونه ورته خجل شي

چه بد بنیاد وي چه بد نهاد وي
په هَره چار کښې ئې مایه فساد وي
دَ نیکي چاري الف ئې نه زده
په بده چار کښې کامل استاد وي

چه خوند دِ راغي دَ آشنائۍ
گران یې دَ سترگو تر روښنائۍ
دعا به دا کړم په پنځه وخته
چه درد دِ نه وي د جدائۍ

چه د تازي سره د ټټو رگ وي
کله تازي غُندِي په لار ئې تگ وي
رنگ ته ئې مه گوره عمل ئې گوره
که سور که سپین وِي که تور که برگ وي

چه ئې ځکلي دَ مغلو مزې دي
د دې په غاړه ډېري بزې دي
په ښکار د چا دي دَ پښتنو دي
نور څه ئې مه گڼه لکه خزې دي

چه پوزه نلَري غوړونه نلَرِي
شرم اندوه به له چا نه څه لري
رنگ ئې و مه وینې ستر ئې ښه دي
که رنگ بې غوړو بې پوزي ښه لري

چه دَ کهترو جفا په ځان وړي
کهتر به کله دَ مهتر فرمان وړي
سزا دَ وخته دَ کهتر بويه
که نه مهتر به په زړه ارمان وړي

چه را په ياد شي دَ نفس بدیِ
لا ئې تر اوسه دَ غم غديِ
ځواني لا پرېږده په سپيه ږيره
فرياد فرياد دَي هونبره بديِ

چه در کول کا چه کرم کرد وي
اسراف که نلري هاله درست مرد وي
هغه درويش ندي چه دنيا نه ساتي
درويش هغه دَي چه ترې دلسرد وي

چه زر دِ غم شي هسي زر دار مشې
چه زر دِ هيڅ نه وي هغه پېشکار مشې
پدا لاس راشه په دا لاس درومه
دَ لږو ډېرو پحساب په شمار مشې

چه ئې له چا گنې لا ته ولي نه يې
کامل دَ خداي په پېژاندگلي نه يې
احوال ئې وگوره په تواريخ کښې
خوشحاله صبر کړه بِه تر علي نه يې

چه کښت اوبه غواړي اوبه بیا نه مومي
له هغه کښته به گټه څوک څه مومي
دَ هري چاري یَو وخت یَو وار دي
گل په تموز کښ که تل اوبه مومي

چه بخت ئې تور شي عقل ئې نور شي
مخ ئې په بدو په شر و شور شي
دَ بدو خواهانو وَیل پرې ښه لگي
دَ نېکخواهانو وَیل پرې اور شي

چه رشتیا نلري نه ئې اخلاص وي
زړه دِ له هسي یاره ژر خلاص وي
چه دَي خو زړه دَي په درست وجود کښ
ورکړي بویه و چا چه خاص وي

چه ترس دَ خداي لري مرگ ئې پیاد وي
زړه به ئې کله په ظلم ښاد وي
تل به ئې مټ وِي په ښو ښو چارو
مخ به ئې هر کله په عدل وداد وي

چه در پسي زغلي هغه دولت وِي
چه ور پسي زغلي هغه زحمت وي
قابل هغه دئ چه دَ چا منت نه وړي
په ناقابل باندي وَیل منت وي

چه لاس مي نه رسي غليم مي يار دئ
چه لاس مي وَرَسِي غليم مي پلار دئ
دا پند به نه مومې په شاه نامه کښې
په شاه نامه کښې که ډېر اسرار دئ

چه عاشقي کا خوشحال دِ وپوښتي
له شرم و ننگ دِ په کروهونو تښتي
تر مال دِ تېر شِي تر سر دِ تېر شي
چه عاشقان دي تر لوي کمر رغښتي

چه نه ادب لري نه اهل راي دئ
دوپاي ليدل شي په خوي چار پاي دئ
سړی په خوي سَرَه سړی ليدل شي
په رنگ په شکل سړی دَ خداي دئ

چه رباعیٔ د خوشحال خان دي
د لاجورديو غشيو په شان دي
تير گوهر که هر څو غشي ښه روغ کا
پرواز ئې بويه که پر ئې وران دي

چه خپل سر خرڅ کا بها ئې واخلي
چه ئې مدار وِي مولا ئې واخلي
که ئې صاحب وته بلا پيدا شي
نمک حلال دَي که بلا ئې واخلي

چه درست په مښک په عنبر کښ ډوب وي
چه په گندگۍ ککړ شي خوب وي؟
قرآن چه لولي هر گوره بد کا
چه بیا په فسق و فساد معیوب وي

چه عالمان ئې په تور و سپین ویني
چه درویشان ئې په علیین ویني
دَ عارفانو علم څه نور دئ
تر عرشَ فرشَ په خپل یقین ویني

چه کار پرې بیښ شي په جز په کل کښي
مردان به تل وِي په توکل کښي
په باغ کښ نور نور مرغۍ مېوې خوري
بلبل نظر لرِي دَ باغ په گل کښي

چه ستا خوبي غواړي دغه دِ یار دئ
چه ستا خواري غواړي هغه اَغیار دئ
چه ستا په غم خوښ شي صرفه پرې مکړه
بیا به ارمان کړې که د خپل وار دئ

چه ځان غواص کا گوهر هغه مومي
چه بې ننگي واخلي دلبر هغه مومي
دا کار مي څو ځله په ځان راغلي دئ
تر سر چه تېر شي ظفر هغه مومي

چه هَره چار ئې په روايت وي
د هغه بخره دَ ولايت وي
بيهوده نه آروي بيهوده نه وائي
غوږ ئې دَ نيکو په هدايت وي

چه عقل ئې کم وِي کله آدم وي
کله آدم وي چه عقل ئې کم وي
چه عقل ئې کم وِي تل باندي غم وي
تل باندي غم وِي چه عقل ئې کم وي

چه دُر وکاږي وېره دِ پريږدي
خالي به ووزي که زړه ئې ريږدي
يا به را وکاږي گوهر له يمَ
يا به دا خپله کله پرې کښېږدي

چه خپل حرم ساتي خدم حشم ساتي
بويه چه واړه دِ محترم ساتي
ادب دِ ډېر کا دَ زويو وروڼو
چه بې ادب شي و ځان ته غم ساتي

چه ډېري وني لښتي کم آب لري
ښتن دَ ونو څو پېچ و تاب لري
نصيب زه هسي په پېچ و تاب کړم
ما به تر کومه پدا عذاب لري

چه بد بنیاد وِي چه بد نهاد وي
دَ مور په نس کښې په بلا یاد وي
هر چه زووَلي دي دَ فساد دَپاره
څو چه ژوندی وي هم د فساد وي

چه را ښکاره شوې یو څه نگاري
څه جفا کاري که پري واري
څو مي په تا باندي مینه زیاتېږي
ته راته غاښ چیچې هسي خونخواري

چه بد اندیش وي چه بد آموز وي
چه بد گوئي لري واړه بد روز وي
که ته لوئي غواړې لوئي په چا مکړه
نېکان په دواړه کونه فیروز وي

چه دین دنیا گټې دانا فرزند وي
غوږ به ئې هر کله دَ پلار په پنډ وي
اوبه به نه څښې دَ پلار بې حکمه
نه به ئې پورته شونډې په قند وي

چه نه ځوانان لري نه زر نه شولي
هغه به ولي زور ور بولي
که دا ئې واړه وي که ئې ځواني نه وي
زړه بوډۍ به وَ چا ته پسولي

چه سپيني پیِ سره ئې غنم وي
حرم حشم لَري آرام ئې هم وي
چه شکر نکا په خپله بخره
دَ هغه بخره دَ مار لړم وي

چه حرص ناک وي يا ترسنده وي
ياري له دواړو سَرَه گنده وي
دا به دِ پريږدي په تنگځه بلا ته
بتر تر دا نه شکم بنده وي

چه غم ئې نه وي دَ بدنامیِ
واړه ئې مخ وي په خودکامیَ
دا رنگ سړی که دِ زوي ورور وي
ځني ويزار شې په دا خامیَ

چه ښه صورت لري شرم غفت لري
واړه دَ دين دَ دنيا دولت لري
چه ښايسته وي عفت ئې نه وي
څه قباحت لري څه قباحت لري

چه ښکار په کور کښې ورته تيار وي
دَ چا به ولي دَ صحرا ښکار وي
په باغ و زاغ کښې دَ بهار گل څه کا
چه ئې په کور کښې تازه بهار وي

چه څوک دنیا لري په ځان ئې نخوري
دَ گور غه توري خاوري دِ وَخوري
چه مال ئې پاتو شي وَ بل حریف ته
چه ئې له خپلو یارانو ښه خوري

چه اصل بد لري ځائي بد خو وي
یا رنگ ښه نلري ځائي بد رو وي
دا دواړه توکه به هیڅوک ښه نکا
که کرامت دي که ئې جادو وي

چه فهم درست لري هوښیار هغه دئ
چه فهم سست لري خمار هغه دئ
اوبه چه لږ وي آبدست پرې نه کیږي
چه پرې پاکي مومي رودبار هغه دئ

چه دانسته دromي چه آهسته درومي
فتحَ هغه مومي نصرت هغه مومي
چه کاهلي کا یا ډېر تلوار کا
نامرد هغه نومي ناکس هغه نومي

چه ډېر یاران ئې تر نظر تېر وي
اخلاص ترې مه غواړه لباس ئې ډېر وي
په مخ که هر څو مهر خندا کا
چه درته شا کا واړه ئې هېر وي

چه په کښې بانگ دَ مسجد امام نه وي
په هغه کلي کښې میشتي مقام نه وي
په هغه کلي کښې قتل روا دئ
چه هغه کلي به دَ اسلام نه وي

چه مور ئې ښه وي بابا ئې ښه وي
بد به ئې لوڼه زويه په څه وي
چه اصل بد لري بد به ولد لري
قچر به هیڅېري بې فتنې نه وي

چاري د دهر په هغه دستور دي
لکه په تورو په سپین مسطور دي
لا هم هغه دئ چه پکښې ورکي
هونبره لښکري د سلم تور دي

چه شرم نلري عیب ته نه گوري
لولي بې شرمي دئ ځکه خپل ځان پلوري
هغه چه پاکي دي شرم حیا لري
زړه ئې فساد ته په لکونو نه ښوري

چه ښه لذت غواړي نېښې و آفت غواړي
نیښې و آفت غواړي چه ښه لذت غواړي
چه محبت غواړي غم دَ فرقت غواړي
غم د فرقت غواړي چه محبت غواړي

چه څه پکار دي ختټک تري دي
تر میر یخیلو بر کویټ بري دي
ډېري پېښې لري حیلې مکرونه
پښتون ئې مه بوله بولاق هندکي دي

چه ورځ دِ بده شي دولت دِ یار وي
واړه وګړي دِ خدمتګار وي
چه ورځ دِ بده شي دولت دِ پېرو کا
خپل زویه ورُونه له تا ویزار وي

چه نه تدبیر لري نه څوانمردي لري
تل به پکار کښ دَ مخ زردي لري
پوندي ته اور راوړه هنر چه توره شي
هغه سړي نه وِي چه دل سردي لري

چه نه لنګېري نه ئې ځواني وي
دَ هغې ښځي روزګار فاني وي
ښځه محبوبه ځوانه دیني بویه
چه زیست روزګار کا په ښادماني وي

څه ئې حیرانه سړیه څه یې
خاوري یې باد یې وار یې اوبه یې
که یَو دِ نه وي پدا څلور کښ
نور دَ ژوَند یو په شماره نه یې

څوک چه ختلي په ملکوت وي
د هغه کله په کار ناسوت وي
فرقان ناطق دَي په امر نهي
چه نهي نکا ځاي ئې لاهوت وي

ښبتن دَ خوني دَ خوړو خوند غواړي
وينځي مريونه دَ خوړو شخوند غواړي
نادان په بند دَ چاري نظر نکا
هوښيار په هري چاري کښ بند غواړي

څو غم غيرت کړې چه غليم مي نمري
قضا چه نه وي سړی په څه مري
نه به ته پاتو شې نه به دَي پاتو شي
هيڅ بيړه[1] مکړه هر څوک به وَمري

څو آزموده نشي په کار و بار کښي
په صحبتونو په جنگ په ښکار کښي
هونبره په زويه په ورور باور مکړه
وراني به درولي په لوي لوي کار کښي

چه سَرَه لوي وُو په يَوه غولي
و گور ته ولاړل هغه همزولي

---

١. يعني عجلت، شتاب، چابکي.

زه ئې پدواړو غوږونو آروم
نارې دَ دیو چه ما هم بولي

چه څوک دِ ښه یسي ور ځني ښه وایې
که دَي بلا وي ورته لیمه وایې
چه دَ زړه مهر ور ځني مات شي
که هر څو ښه وي ورته ښه نه وایې

څوک چه دنیا غواړي هغه رنځور دئ
هر چه عقبا غواړي هغه مزدور دئ
هر چه مولیٰ غواړي تر هغو ځار شم
هغه په دواړو کَونو مسرور دي

چه پرې مَیَن وې که بد وګورې
پرې دِ ووزي دَ سترګو توري
ورته دعا کړه که دَي ښیرې کا
ورته خندا کړه که دَي دِ زوري

چه پس له مرګه سَړی ښه یاد شي
که هسي خوي کا پدا د ښاد شي
چه خوي ئې نه وِي دَ نېکنامۍ
ژوندُون ئې هیڅ وِي ژوندُون ئې باد شي

چه څوک سوګند کا کار ئې ښرګند وِي
سر دَ دروغو ژر ژر سوګند وي
سوګند به نخوري چه راست ګويان وي
دَ دروغجنو سوګند کمند وي

څوک چه ډوډۍِ دَ دهقانۍ خوري
خواړه دَ حورو دَ مهمانۍ خوري
چه ئې په ظلم خورې واړه دِ زهر شه
که شولانونه دَ سلطانۍ خوري

چه ئې وهلي قلم مطلق دئ
ايمان که حق دئ په کافر ناحق دئ
په چا سحر شو په روښنائي شوه
په چا شپه راغله باندي شفق دئ

څوک چه قمر ياد کا روي دِ را ياد شي
څوک چه عنبر ياد کا موي دِ را ياد شي
څوک چه مقر ياد کا کوي دِ را ياد شي
څوک چه سقر ياد کا خوي دِ را ياد شي

څه نعمتونه دِي تر سر تر پايَ
چه دِ موندلي دِي له يَوَه خدايَ
په هَرَه ساه يې شکر وکاږه
که غافل نه يې ثنا ئې وايَ

ځوک د هواد هوس نتلي دئ
ځوک مي په بغض په حسد تللي دئ
پلار دَ خپل ځان دئ زوي دَ خپل ځان دئ
پخپل خپل جور هر ځوک نيولي دئ

ځوک چه آشتي غواړي که دِ غليم دئ
"والصّلح خير" ځاي دَ تَسليم دئ
عفو بهتره تر انتقام ده
نيکي په بدو کار د کريم دئ

ځوک چه خبري ستا دَ ښايست وائي
ښه خوي خصلت به دِ راته په څه ستايي
زه درته ژاړم ته راته خاندې
دا هسي کبر په هيچا نه ښائي

ځوک چه په خوي کښ پاکيزه پاک وي
سخ ئې په کور دئ پاکيزه ژواک وي
سلوک چه بد لري زار ئې دَ ځان دئ
که هر څو ښه وي هغه هلاک وي

څو دا جهان دَي دا هسي تل شي
خپل دِ پردي شي پردي دِ خپل شي
دَ بل وي ستا شي په يوه دم کښ
هغه چه ستا وِي هغه دَ بل شي

څوک په چا گرم وي په چا ناگرم وي
ځني بد فعل په هر چا گرم وي
ته خپل خوي ښه کړه په چا گرم مشه
خود به شرمېږي چه تر تا گرم وي

څو دِ د تورو زلفو خمونه دي
هونبره په ما باندي پراته غمونه دي
دَ خپلو تورو سترگو غمزې پوښته
چه ئې په ما باندي دا ستمونه دئ

څو به بريتونه دَ ځوانۍ ځوانان پوسي
خوبي يې دا دَه که خبردار اوسي
مرگ شته پيري شته دواړه را تلوني دي
سړی يا مرگ يوسي يا ئې پيري يوسي

څو څو قرنونه به ورباندي تېر شي
شيرين صورت ئې په بل بل څېر شي
لکه چه هېري دِي پخوا پېړي
خوشحال به هسي لَه دله هېر شي

څو به په لويه غاړه د ده بولې
دَ غريبۍ بدلي بولې
زه در پوهېږم زړه دِ زخمي دي
دَ رغېدلو طبيب در بولي

څو ئې غیرت وي څو ئې همت وِي
دَ مرد به هونبره قدر قیمت وي
مرغه چه نلري تندرست دوه څانگې
پرش ئې کله په رفعت وي

څو څو ښادۍ دي په دا آفاق کښې
واړه به بیا مومې په اتفاق کښې
څو څو غمونه یا محنتونه دي
یا په دروغ کښ دي یا په نفاق کښې

څوک دِ غم نه کا دَ نامرادۍِ
نه به تَل غم وِي نه تل ښادۍ
دَ فلک عدل انصاف ښکاره دي
کار ئې دَ ظلم دَ بیدادۍ

څو به سودونه کور ته راوانې
څو به خوانونه دَ خوړو خوانې
څو به خوبونه دَ خوښۍ کانې
آخر به پرېوزي درباندې کانې

څو ئې همت دَئ هونبره قوت لري
هر مورت لري هر فتوت لري
خلیل آسا دَئ لکه موسي دئ
ابدال په اور په اوبه نصرت لري

حب د دنیا دئ چه څه بلا دئ
چه څه بلا دئ حب دَ دنیا دئ
هونبره رسوا دئ دا حب چه څونبره
دا حب چه څونبره هونبره رسوا دئ

خداي چه ښه کړي په دې جهان دي
که پرې پوهېږې انسان اسان دي
چه سَرَه یَو شي دا دواړه توکه
مشکل کارونه ورته آسان دي

خوشحاله زوړ شوې سړَی چه زوړ شي
دَ مهوشانو له میني موړ شي
ته څو زوړیږې لا مین کیږې
زړه به دَ کله ترې موړ یا سوړ شي

خیال د هغې دي چه شوخ و شنګه وي
شونډې ئې شهد په مخ ګلرنګه وي
چه دا ئې هیڅ نه وي ناز به په څو کا
که ناز کا ناز به ئې بتر تر جنګه وي

خُټ خُټ دَ دیګ دئ سرو دَ وږي
غبږ دَ اوبو دئ ژوندون دَ تږي
چه ئې کښې کښې شي پرتوګ وکاږي
هغه آواز دَي چه زړونه کوږي

خار دِ په بخره دَ خارکشانو شي
گل دِ په بخره دَ گلرخانو شي
قند دِ په بخره دَ شنو طوطيانو شي
سوز دِ په بخره دَ پتنگانو شي

خبري گراني دي اساني چري دي
دَ چا مشکنې دَ چا گوهري دي
پدا دنيا کښ چه ئې بهتر گڼې
ښې ښې خبري ترې لا بهتري دي

خپل مال په ترس په صرفه په بيم خورې
دَ بل غم نه کړې که درست که نيم خورې
په کور دَ کنُډِې رنډې يتيم خورې
ملا دا ولي اور دَ حجيم خورې

خواري ئې نشته چه څوک هوښيار وي
هوښيار چه نه وي په خواري خوار وي
نراد چه ښه وي دَ نرد گټَنه کا
بد باز په بده بازي نا تار وي

خوشحال که هر څو فاجر فاسق دئ
عيب ئې مه کړه شيخَ عاشق دئ
چه پارسايان دِي پخپل خدمت به ځي
دَ خداي دَ فضل فاجر لايق دئ

خوب مي دروغ دئ نه د ناروغ دئ
خوب دَ درمنو زړونو دروغ دئ
لکه په ويښه وي هسي په خوب وي
چه چا موندلي دَ زړه فروغ دئ

خزان بهار دئ بهار خزان دئ
هجران وصال دئ وصال هجران دئ
شپه شي بيا ورځ شي دود دَ جهان دئ
غم چه ښادي لري کار ئې اسان دئ

خبر لا نه يم چه لا به کله شي
چه مي به کسي سَرَه و بله شي
ته آئينه گورې نه مي سينه گورې
چه دِ دَ هجر په لمبه سوله شي

خصلت ئې دا وِي چه لئيمان وِي
نن چه څه ورکا کانده پښېمان وِي
که هر څو ډېر ورکا خپل ورکړه کم گڼي
دا شان ئې دود وِي چه کريمان وِي

خوشحاله بس کړه شان شان دِ ډېرو وې
پيشو دِ ډېر ووې اوښان دِ ډېر ووې
سود دِ سکوت دئ مشغول پدم اوسه
ژبه خوندي لره پرېشان دِ ډېر ووې

خال دِ د زړونو په دا غل راغلي دي
دننه زړه دِ د ما داغلي دي
چه ښه جمال لري هغه ښه خال لري
مخ دِ ښاغلي دِي خال دِ ښاغلي دي

خسيس که مال لري پرې ښاد به نشي
بنده بنده دَي آزاد به نشي
چه همت ناک دي هغه آزاد دي
آزاد آزاد دي عباد به نشي

خوشحال که تور دي دَ گناه پتوري
خلق حيران شِي چه ورته گوري
خپل دين محکم لري خداي ډېر کرم لري
مخ به ئې روڼ کا دَ سبا تر ستوري

خوشحاله څو دِ جوش و خروش دئ
نه دِ څه عقل شته نه دِ څه هوش دئ
هونبره ته نه يې په ځان غره مشه
دَ خداي کرم دِ لا پرده پوش دي

خواږه دَ ميني نه را پټېږي
واړه په مينه سَرَه غټېږي
مينه په مثل نافه دَ مښکو دَه
نافه دَ مښکو چرته پُټېږي

خوږ تر شکرو بحر سگرف دئ
خوشبوي تر مښکو صفا تر برف دئ
کاسې خمُونه کوزه څه حرف دئ
راوړه آخله مدار به ظرف دئ

خوب دَ سحر که هر څو محبوب دئ
سړی چه ویښ شي سحر لا خوب دئ
دنیا به پاتو شي دَ دنیا عیشونه
هغه جهان لَره طاعت مطلوب دئ

خو شرنگ تر بازه مرغ زرین دئ
باز مي په قدر کښ تر صد چندین دئ
څه شو که لوي لوي وزر پرې پوري وي
کرگس گرگس دئ شاهین شاهین دئ

خانان هغه دي چه په خپل نام دي
نه په دنیا دي نه په خپل کام دي
چه په کوم توکي د نام ښېگړه وي
په هغه فکر کښ په صبح و شام دي

خصلت بدا لري چه منافق وي
دَ هر مذهب سَرَه به موافق وي
یو به ئې زړه وي یَوَه ئې ژبه
یو به مذهب لري چه څوک صادق وي

خونه چه پاکه وِي پرې برکت ووري
ورباندي هر کله عزت دولت ووري
پاکي چه نه وي په هغه خونه کښې
ورباندي واړه بلا آفت ووري

خلق چه بد شي بادشاه ئې بد شي
په هَره چار کښې حيران بخرد شي
خوبي په دَور دَ عالمگير نشته
دا چا به ولي له چا حسد شي

خوړه نمرئَ که ښه مزه لري
ترې مي توبه ده که دا بزه لري
هماي مرغه مي ځکه هډونه خوري
اسمان له غوښو سرَه خزه لري

خوشحال که هر څو په رنځ کښې ژاړِي
نامرد ئې وګڼه که په مرد نه وياړِي
ژړا ئې واړه پدا سبب وه
دَ خدايه خير دَ خپل ايمان غواړي

خان دَ وګري چه شمشير زن نه وِي
دَ ده ښه ور کړل دَ ده ښه نغن نه وي
لکه نامرد مېړه چه واده وکا
خوار زار روزګار کا حال ئې دَ زن نه وي

خوي چه دَ بدو دَ چا عادت شي
په پند په زجر لا زيادت شي
طبيب ئې څوک دَئ ملک الموت دئ
چه مشرف ئې په شهادت شي

خپل بد خويونه بد خوي هنر گڼي
په ځان که خاوري وي خاوري هم زر گڼي
په ځان چه څه وي بل هم هغه گڼي
يو چه کافر وي بل هم کافر گڼي

خپل حکم مکړه چه کم يا ستر وي
دا فکر مکړه چه لس يا زر وي
دَ کښيد گري په لاس کښ ستن شته
دَ خطا وهوني په لاس کښ در وي

خوشحال غريب دئ درويش گداي دئ
خپل حکم نلري دَ يار په راي دئ
چه چرته حکم هورې بي درومي
چه کښېنوي ئې هغه ئې ځاي دئ

خوشحاله عمر دِ تر شپېته تېر دئ
نېکي دِ لږه گناه دِ ډېر دئ
دفتر دِ ډک دئ دَ گناهونو
درته به ياد شي که دِ تا هېر دئ

خواره سړیه خو هونبره ښه ئې
چه روغ په تن یې چه روغ په زړه یې
چه دواړه توکه در شخه نه وِي
په تخت که کښېنې وایه ترو شه یې

خو یَوه ساه یې بود دِ هم دا دَئ
یو موټي خاوري جود دِ هم دا دئ
نور سود دِ نه وینم پدا دنیا کښں
که شه نېکي وکړې سود دِ هم دا دئ

خیر پدا کښں دَئ چه ډیر مالدار نه یې
په غم دَ عشر دَ زکوٰة گرفتار نه یې
لکه دِ دخل دي هسي دِ خرڅ دي
محتاج و چا ته په لږ بسیار نه یې

خوشحاله پاڅه روغي دِ پښې دي
مکې ته درومه شه خرخښې دي
زویه که وروڼه که ښه یاران دي
واړه دِ ولیدل دَ خپلي ښې دي

دنیا شو ډېره هونبره ئې غم ډېر وي
چه نه وِي نه خوري هم ئې الم ډېر وي
هستي نېستي ئې دواړه بلا دي
خوبي ئې دا ده چه درته کم ډېر وي

دَ ځان دښمن دي دښمن چه يار ګڼي
دښمن چه يار ګڼي مرګ دِ تيار ګڼي
هوښيار به ځان دَ نادان په شمار ګڼي
نادان هغه دَي چه ځان هوښيار ګڼي

دَ ښو تير دِ په څو تېره دئ
واړه لک شويَ ځما په زړه دئ
دا دَ نکريځو نګار پرې نه دي
دَ خوار په وينو ئې ورغوي سره دئ

دَ تن خولې دِ بوي دَ ګلاب لري
زلفي دِ طعن په مشکناب لري
عتاب نوِر مکړه دَ خداي دَپاره
خوشحال دِ کله د عتاب تاب لري

دريغه وړنبيه عمره وروستي وي
دريغه ورستيه عقل وړونبي وي
هغه بيا راځي پدا هيڅ کار نشي
پدا به پوه شي که ښه سړي وي

دريغه له ځايه هسي هښيار وي
لکه چه اوس يم خپل مي اختيار وي
راته ښکاره شوه ياري دَ خلقو
نه دَ چا يار وَي نه مي څوک يار وي

دَ مانې خوږ ئې هرگوره گران دئ
خوږ ئې د توري پرهار په شان دئ
په څو پخپله راغله پخولا شوه
خوشحال که زوړ دئ باطن ئې ځوان دئ

دا توري ږيري چه ايمانداري دي
سپيني ناپاکي ږيري ترې ځاري دي
صدق وفا بويه چه دا ئې نه وِي
ږيري دَ ځوانو دَ زړو مرداري دي

دَ چا په کور کښې روپي مهران وي
دَ چا په کور کښې دُر و مرجان وي
که ته هيڅ نلرې گمان دا مکړه
چه به د تا غُندي واړه ناتوان وي

دَ مرد چه صبر چه استقلال نه وي
چه غم پرې راشي پکښې خوشحال نه وي
مردي ئې هيڅ دَه ځما په پوهه
که ئې په جاه و دولت څوک سيال نه وي

دننه زړه مي ور پسي ربړدي
چه زلفي تاو کا دړئِ کښېږدي
زوړ شوم نارې وهم توبه له عشقه
که مي دلبري ور پسي پرېږدي

دَ شاه پالنگ دِ د موزي مسکن نشي
گلزار دِ ځاي دَ زاغ و زغن نشي
گل دَ بلبل دئ بلبل دَ گل دئ
په ښه جمال به غافل مَيَن نشي

دَ مرگ فتال دي په هر هر کلي
غشي په گرت کښ نیازمن پرې ولي
چه مي په سترگو هغه یاران لیدل
اوس ئې لیدل شي په سترگو څلي

دولت په مثل مرغه دَ ښکار دئ
باز دَئ شاهین دَئ چرغ دئ شنقار دئ
له لاسه تللي مرغونه څوک نیسي
دَ ښکار مرغه مي دَ ښه میر ښکار دئ

درد چه په بل وي خبر پرې نه وې
چه دِ په ځان شي له درده چوې
سود زِیان دَ هر چا جدا جدا دئ
کله دَ بل په خوراک موړ ته وې

دا يَو څو توکه دَ وقوفدار دي
باز دَ میر ښکار دئ زر دَ تجار دئ
کتاب دَ چا دئ دَ دانشمند دئ
ښځه دَ مرد دَه مښک دَ عطار دئ

دَ پند پروا لَري خاوري خوړوني
وربانديي بد لگی نصيحت کړوني
بد دِ دَ هيچا تر فهم ښه نشي
نه وي دَ پلار دَ خبرو وړوني

دَ خپلي خوني دېوال که کوږ وي
دَ خپلي خوني په ښتن خوږ وي
زيست و روزگار ئې په کښ خوندي وي
لوښي کالي ئې په ده کښ بوږ وي

دولت دَ خلق په اتفاق کښ دي
هغه به خوار شي چه په نفاق کښ دي
زوړ شوم يَو يار مي يکرنگ و نه ليده
زړه مي تر واسه په اشتياق کښ دي

چه تل ئې مت وِي په خودکامَۍ
اندوه ئې نه وِي دَ بد نامَۍ
درست ناسپاس وي حق ناشانس وي
هر څه به بايلي په دا خامَۍ

ډېر څه مي وکړل ما وې که يار شي
ديدن ئې وَوينم زړه مي قرار شي

چا وې چه صبر کړه بصر مي هم وکړ
سيکن[۱] يم کله په صبر کار شي

د بوټ[۲] هوا دَه نن په شاخزار کښي
زرکي فرياد کا په مرغزار کښي
په بړغ ئې ذوق کا ځما بازُونه
پرخه وربېږي گرزم په ښکار کښي

دا چه و تا ته شيخان پيران دي
بد خواه دَ خلقو بد خواه دَ ځان دي
علم عمل بويه مرشد دَ لاري
چه دا ئې نه وي واړه سگان دي

دَ يار دَ ظلم د غشي پړوکي
ځما په زړه کښ پراته دي اوکي
دور دَ سپيو سَرَه ئې مل شوم
تو ئې وَنه وې راته په ورِوکي

درته رښتيا وايم که مي ښه يار يې
څه خوي خصلت لرې څه ناقرار يې

---

۱. دا کلمه په يوه قلمي نسخه کښ سيکڼ او په بله کښ سينکړ ليکلې، په يوه کښ محشي بد شامت ترجمه هم ورته کښلې ده. موړ، ډک، د ډېر خوراک کولو په وجه د زړه خرابوالي (درياب).

۲. بهر، له خپله ځايه په زور بهر کړې شوي څيز يا کس (درياب).

کله مي یار يې کله اغیار يې
هم وفادار يې هم جفا کار يې

دَ یار عتاب مي قبول په ځان دئ
په عاشقانو دا دود روان دئ
هم ئې وصال شته هم ئې هجران دئ
جنگ چه آشتي لري کار ئې اسان دئ

دروغ دَ چا دَي د کمذات دَ وړي
یا دَ کمزوري په قوت لړي
چه دا ئې نه وِي دروغ به ولي کا
دروغ که کاندي خوړ ئې په سړي

دَ چا چه نه وِي دوراند یشیِ
مه ئې یاري وینې مه ئې خوښیِ
دَ هغي وني گلونه مه وینې
چه ئې اغزي وي دَ دلرېشیِ

درته به وَوایم څو کړې پوښتني
که دِ بایلَني دي که دِ گټني
ځاي دِ هم دا دَئ بل ځاي دِ نه دئ
که پهَ منگلي وي که پهَ لَمني

دَ بل په عیب په څو وېښته چوې
دَ ځان په عیب نظر هیڅ نه کوِې

خپل سل زناره درته ښکاره ندي
هندو خو يَو لرِي هغه ئې هم شلوې

دَ چا چه دننه سينه په درد وي
دمه ئې عين په آه سرد وي
که مرد دَ لاندي وِي ښځه دَ پاسه
پدواړه توکه ظفر دَ مرد وي

دا د بارخو دي خوله نولي
که لاَله گل دَي پرخي وَهَلي
دا دِ سرې شونډي دِي که سپين غاښونه
که لعل و دُر دِي سرَه پېيلي

دَ مخ په رنگ يې تر گل ښاغلې
دَ باغ لاله يې راته راغلې
لاله په خپله سينه کښ داغ لري
تا ده سينه دَ عاشق داغلې

ډېري مرغئِ په زړه دلکښي دي
سحر چه ږغ کا هغه مي خوښي دي
ډېر نعمتونه مي په جهان کښ وليدل
چه لوي نعمت دئ نعمت خو غوښي دي

دَ خپله لاسه چه ستمونه دِي
کُښي په ما نَدِي په عالمونه دِي
دَ خپله لاسه لکه ښادئ دِي
دَ خپله لاسه هونبره غمونه دِي

دَ بیم په ځاي کښ سړی ضلال وي
چه ئې امید وي هورته خوشحال وي
هغه په خړو اوبو نظر نه کا
چه تل ئې بخره آب زلال وي

دَ چا به څه لَره ماښه له بله شي
چه نیکه بده په عمل موندله شي
هغه چه وکړې هغه به وَرېښې
له خپله لاسه هَرَه کرَله شي

دَ وړاندي یښي درته یَو خوان دئ
نعمت ئې گوره الوان الوان دئ
ته به ترې پاڅې بل به ترې کښېني
له واړو پاتو دا خوان دا شان دئ

دَ څرخ له لاسه زړګوتې رېږدي
دا خوي به چېري له لاسه پرېږدي
هر څوک چه ووینې چه داغ په زړه لري
دَ داغ دَ پاسه بل داغ پرې کښېږدي

دا چه و تا ته دَ دین اخص دئ
که پرې خبر شې کافر دَ نص دئ
په نورو حکم دَ لَن تَنَا کا
دَ لَکَنوُد دَ ایت مختص دي

دَ شپې څښتن دِ سحر ته گوري
گُندي پرې وَخېژيَ دَ سبا ستوري
هیڅوک دِ طمع امید پرې نه کا
باران په تږیو کښتونو ووري

دریغه ځوانۍ ستا کامرانۍ
ږغ مي دَ تورو ږغ دَ خانۍ
زوړ شوم نا توان شوم خیال مي دَ توري
که بیارته راشي ځما ځوانۍ

دریغه جاویده ځواني بقا وَي
دَ ښو دلبرو دیدن لقا وَي
ډک ډک جامونه تږیو ته تل نیوي
دَ مهتر خضر دَ اوبو سقا وَي

دریاب چه لوي دي هونبره هوار درومي
شور و غوغا کا په څو قرار درومي
سیلاب په څو څاځکي غړپړ پیدا کا
بقا ئې نه وِي په ډېر تلوار درومي

د ما په باغ کښ گلونه ډېر دي
خداي ئې را پرېېږده په هر هر ځېر دي
داغ مي په زړه باندي دَ معظم دي
دا داغ چه راغي نور مي پرې هير دي

دا نمر په ورَځي په شپه دا ستوري
چه ناقرار دي و بله ښوري
دَ ډېرُو سترگي پرې لگېدلي دي
ولاړل لا ډېر به ئې په سترگو گوري

دَ وطن وني چندڼ اگر دي
خاوري ئې واړه مښکو عنبر دي
که سراي و نورُو وته سنگېږ دئ
کاڼي ئې واړه ما ته سره زر دي

دَ تن مي تېر سَو شپېته رگونه دي
ستا نه غمونه پکښ زرگونه دي
جدا له تا نه چه يَو نفس درومي
ځو نفسونه هونبره مرگونه دي

دا جام چه چا چيښ هسي لا چيښ شي
مستان ئې خوب کا کله به ويښ شي
خال ئې و هيچا وته معلوم نشته
آه دې له دِله هر دم وکيښ شي

دَ خولې وَيل دِ واړه نبات دِي
خواږه دِ لا دَ ښکنځلو زيات دِي
څوک ئې چه کُښل کا سخ دَ هغو دِي
شونډې دِ دواړه آبحيات دِي

دَ بخت په مخ کښ زر ودانۍ دِي
دَ بخت په څټ کښ زر ويرانۍ دِي
بخت دَي دَ شاه دَ گدا يا نو هيڅ نشته
په بخت خوارۍ هم کامرانۍ دِي

دَ ملوکانو صحبت بل اور دي
دَ اور سکروټه دَ دې بيور دي
که تور هاتي يې که تور مزري يې
ستا مي له اوره سَرَه څه زور دي

دروغ چه فاش و بې صرفه وايي
خپل ځان پخپله خواري ته بيايي
تر دا هغه بد چه شيطاني لَرِي
مکر فريب کا په نفاق پايي

دَ ملک سردار د هوښيار قلاش وي
تل دِ له ښو سَرَه په ښه معاش وي
ځاي دَ اشتې پريښي بويه
چه ئې له چا سَرَه جنگ و پر خاش وي

درویش هغه دَئ چه ترس دَ خداي لري
دَ نیکو فعل دَ نیکو راي لري
طمع له چا نکا لقمه حلاله خوري
جدا له خلقه دَ آسودگۍ ځاي لري

دا خوار خاطر چه په قمر نهال دئ
دَ سمد نال ئې پدا مثال دئ
مېږي چه واخلي دانه و غار ته ځي
ستا مي اخيستي و گور ته خال دئ

دا دَ آسمان دي دا دَ مزکۍ
چه دَ څو شپې لرې دنیا ته څه ی
څو دِ په پورته آسمان ته بوتل
بیا دِ ئې خاوري کړې کپړۍ

دَ ده په حکم بالا پستي شي
مستي خمار شي خمار مستي شي
نه تل بهار وِي نه تل خزان وي
هستي نیستي لرِي نیستي هستي شي

ډېر دِي چه ږيري دَ شیخۍ پوسي
ډېر دي چه مي خوري په رندي کښې اوسي
بنده دَ چا یم دَ هغه کس یم
چه ئې نیولي تر سره یوسي

دَ عقل زاڼي چه تا ليدَلي دي
دَ صبر قازي چه تا کتَلي دي
که هر څو زور لَرِي يا تېز پري لرِي
دَ شاه دَ سترګو شاهين وَهلي دي

د بادشاهئِ په تخت چه ناست وي
دا کار ئې هيڅ دئ سحر چه نماست وي
دولت دولت دَ سحر خيزي دي
مردان د هسي دولت پخواست وي

ډېره خوشرنګه صاحب جماله يې
تر سر تر پايه پري مثاله يې
عيب دِ دا دَي درد دِ و مه وينم
په مرد حرامه په نامرد حلاله يې

دَ سردارئِ چه څوک هوس لَرِي
خپل ځان دِ خاورِي خپل مال دِ خس لري
غم دَ وسلو دَ جنګ هيڅ نکا
که دَ خپل ځان سَرَه يګانه لس لَرِي

دعوه دَ چارِي په يَوَه هرکښ وِي
عقل هم بويه چه ئې په چرکښ وي
چه بيهوده درومي بلا هغه مومي
سر[1] په هغه کښېږدِي چه به هنرکښ وي

---

١. سر په هغه کښېږدې چه دِ په سر کښ وي.

دَ کور پرېښونه سرمه پېغور دَي
هر[۱] ځاي چه وزېږي هغه دِ کور دي
هر هر کال ئې په ځاله تاخت کېږي
هغه شاهين دي هغه ئې کور دي

درزي لا گز لرِي مقراض سوزن لري
يو جمدر گوتې خوشحال خيرن لري
کوچ ئې آسان دئ مشکل هيڅ ندئ
غم دَ يارانو درد دَ وطن لري

دَ هوښيارانو وَرمونه زر دِي
دا د هغو دِي چه پرې خبر دِي
چه د هوښيارانو ورمونه نه مَنِي
د هغو هر کله خاوري په سر دي

دا چه خانان دِي يا امرکان دِي
په هند کښې گرزي په هر مکان دِي
غوښي هډۇونه دَ مظلومانو خوري
ځما تر فهم واړه ددان دِي

دَ بادشاهانو چه ښه خانان دِي
کار کشائي کا مقربان دِي

۱. هر ځاي چه وزېږي.

که ئې آشنا شې ځني حذر بويه
اور دِي اوبه دِئ درد دِي درمان دِئ

دَ باغ گلونه چه ننداره شِي
څو څو کارُونه پکښ ښکاره شِي
چا ته پخوارُو سترگو هيڅ مه گوره
ډېر نا گټلي دِي چه په شماره شِي

درته وايم که ته عاقل يې
ناحق په نورو چارو خوشدل يې
دولت که نلَرې خپل دِ پردِي دي
که بخت دولت لرې دَ هر چا خپل يې

دَ خولې خبري دِ خوږې ترمَن دي
و بختورو وَته من من دي
ترخه وَيل دِ دَ خولې هر گز نه وو
دا چه ترخه وايې دارو درمن دي

دَ سردارئِ چاري دشواري دي
څو څو کمرِي څو څو ئې لاري دي
براق دَ عقل دَ همت پيدا کړه
په کښ بېشماره بلا تياري دي

دَ باغ تیښتن ته يَو سیب پېشکش راوړي
دَ ده له باغه بیا ئې په اش راوړي
هغه به ځوک وِي غافل نا اهله
دَ زړه فکرُونه چه مشوش راوړي

دَ یار په عیب چه یار خبر شِي
یاري ئې ولاړه که پرده درشي
دَ یار دِ عیب هنر دَ ځان گڼي
پوه دِ په عیب هم په هنر شي

دَ بادشاهانو چه امرگان دِي
دَ یوه بحره ولي شان شان دِي
واله که لویه وِي که کم لښتي وِي
آبدست پاکئ لَره واړه یکسان دِي

دریغه په باد ولاړې څه شوې ځوانئِ
يَوه شپه خوب وُ ستا کامرانئِ
ویښ شوم بیدار شوم په پیري واوښتم
نه بڼِغ د توري شته نه دَ خانئ

دَ سر غلیم دِ که دانائيِ لَرِي
بهتر تر دوسته چه کانائي[1] لَرِي

---

١. محشي ورته لیکي چه کانا یعني احمق او نادان.

توان يا دَ زور يا دَ ځوانانو دَئ
لاف دِ هغه کا چه توانائي لَرِي

دَ ما دَ يار په ياري کار دئ
که مسلمان دئ که زنار دار دئ
که مهر مينه وفا رشتيا لري
نور څه ئې مه گوره چه پوره يار دئ

دَ ده په ذکر واړه گويا دِي
که دَ خشکۍ که دا دريا دِي
دَ ده له حکمه وَتَلِي نه دِي
که ناست په تخت که په بوريا دِي

دَ دولت ستوري گرزي قابل غواړي
قابل چه بيا مومي نه پسي بل غواړي
که چېري مل شي دَ ناقابل سَرَه
ټکاؤ ئې نه وِي رخصت ترې تل غواړي

دروغ وعده دِ په ما رشتيا لگي
ترخه دَ کښليو لکه حلوا لگي
دَ ښو ناوک دِ په نورُو نه پسندم
پرېږده چه واړه په زړه ځما لگي

دا ووي[١] مي خوښ دَي چه چا ويلي دي
ډير مي په زړه بانديِ ښه لګېدلي دي
بد خواه دِ خوښ کا په ښو خبرُو
نېکخواه په بدو خپل ژړولي دي

دا مخ چه ته لرې دَ بوري لوريِ
مګر دا مخ لري ښې حوري هورې
يَوه به تا غُنديِ ښايسته نه وِي
چه اروېده شي دا هوري دوري

دانا ئې مه ګڼه چه صبر نلَريِ
چه صبر نلَريِ حکمت به څه لريِ
سړی دَ صبر په کار کښں وازميه
چه صبر ناک وي هر څه به ښه لَريِ

دَ يار مي واړه دَ سترګو تور دئ
چه سپين و تور ئې دَ چم دَ کور دئ
چه دَ معشوقي تر سپي ځان جار نکا
مَيَن ئې مه بوله هغه څه نور دئ

دَ آسمان دور خالي رونق دَئ
ورکا بيا واخلي دا ئې نسق دَئ

١. يعني قول او ګفتار او جمله.

لکه ئې راکړل هسې ئې واخيستَل
اوس ئې راته پاتو دا يَو رمق دئ

دا غم فکرُونه په زړه کښې باز دي
تل دَ ښادئِ وَ ښکار ته ساز دي
خداې به ئې ښکار دَ ښادئِ ساز کا
بازُونه کله خالي پرواز دي

دريغه سړيه چه څه بلا يې
واړه دَ ځان يې نه دَ بل چا يې
تا به دَ پلار سَرَه خپلوي وَ نکړه
مقصود دِ خپل دي چه دَ بابا يې

دا دود ځنۀن دي پدا عالم کښې
نادان بې غمه دانا په غم کښې
جهان يَو باغ دي نوي خبري
گل دَي غوړيږي په هر هر دم کښې

دَ هر چا قدر پخپل همت دئ
دَ هرِي چارِي مدار په نيت دئ
دَ نيکو فعل دَ ځان راحت گڼه
دَ بدو فعل دَ ځان زحمت دئ

دا آسمان ندَئ يو خوني پړانگ دئ
راته غړنبېږي تلتل په بانگ دئ
خوله ئې سره کړې دَ دارا په ينو دَه
شفق ته گوره دا ووي په ټانگ[1] دئ

دَ غرونو گاڼي تر حساب تېر دِي
چه واړه کاڼي دَ لعل په څېر دِي
که اهل وَوينم زه به ترې ځار شم
اهل څوک نشته نا اهل ډېر دِي

دَ عشق غمونه تر عمره سَم دِي
په هره ساهه په هر هر دم دِي
دَ نامردانو ور سَرَه کار نشته
غم دَ مردانو دَئ مردان دَ غم دِي

د خپلي چاري هنر يَو هر لري
مغز ئې په سر کښې هونبره څو سر لري
مزري گاوز دَ ځنگل پځو نيسي
گيدړ دَ شلانډُو دَ ښکار هنر لري

دَ عشق په ښکار کښې يو هر گډېږي
يا په کښې قهر سترگي رډېږي

١. د پښتو مرکې په قاموس کښې ټانگ په معني دَ آوازې راغلي دي.

دا دواړه توکه په عشق کښ یاد دِي
سړی ناحقه په باد ډډېږي

راغله په وخت دَ ګلونو کُښلې
ما وه له میو توبه وکښلې
وئې چه تا ده توبه وکښلې
باده ئې بیا وه په زور را ښکلې

رنګ دَ طوطیانو لَري شین کوسي
هنر چه نه لَري بېقدره اوسي
چه اصالت لري چه ښه خصلت لري
هغه به بخره له میانه یوسي

روغه کټوه په نغري سَمَه وي
ما ته کټوه په نغري خَمه وي
جن چه ځان خوار کا ملته روپۍ شي
ملته روپۍ په قدر کمه وي

رند یم ښرګندي دي ځما بدۍ
چه راته یو دي خپلِي پردۍ
پېغور ځما مکړه شیخه خپل زړه ګوره
چه پکښ پنډي دي دَ عشق غدۍ

روژه دَ خداي له وېري درلله شي
که نه په هر چرته روژه خوړله شي
په آشنائي کښې مهر اخلاص بويه
گنُدي په درنک کښې آشنائي بله شي

راشه که گورې دا خونړۍَ
سر ئې وړۍِ په سر دړۍَ
تل تل سرُونه دَ عاشقانو
و حلق ته اَچوِي لکه نمړۍَ

زړه دِ مېَن وي په توري سپيني
خالي دِ نه وِي له يوې ميني
دا وُوي رښتيا دي عاشقان نه مري
مجنون ژوندَی دَي که ته ئې وينې

رنگ رنگ گلونه په باغ کښې وا شي
لکه چه وا شي هِسي فنا شي
گرمي هيڅ نه دِي دَ باغ بلبلي
چه ئې دا هونبره فرياد ژړا شي

راغله اختر او نوروز همغاړي
مينا خندا کا چغا نه ژاړي
ساقي دا وخت دي چه توبه نغاړي
و ما ئې راکړه زړه مِي مَي غواړي

زور که بادشاه وي که اولیا وِي
دَ ځواني ښځې ځني بلا وِي
زوړ ئې که هر څو دَ ځان مزدور شي
دَ ځواني ښځې نوره هوا وِي

زلفې چه تاو کا په مخ ئې پرېږدِي
کښلې گلونه په بارخو کښېږدِي
زړه مې بلبل شي وربانډِې راشِي
له ډېره شوقه وربانډِې رېږدِي

زویه هغه دَې چه خوي دَ باز لرِي
لوي لوي ښکارُونه لوي لوي پرواز لرِي
نه خوي دَ چرگې نه خوي دَ زاغ لرِي
چه ځان دَ غولو خوراک ته ساز لرِي

زړه وَ هغه ورکړه چه زړه دِ وساتي
که دوه درې وِي چه زړه دِ ښه ساتي
زړه یو ښه څیز دَې و سپې ئې ورکړه
نه و هغه ته چه زړه دِ نه ساتي

زړه مې زخمې دَې وینې ترې څاځي
ژاړم له درده څرېکې ترې پاځي
تیر ئې خوړلې دَ هسې لیندې دې
چه په آواز ئې دَ ژړیِ ناځي

زر شوي دَ زرو په حال خبر وِي
چه چرته خېژي په کوم مقر وِي
زر به په سپينو شگو کښ نه مومي
شگي ئې توري تر خاکستر وِي

زړه دِ دَ هر چا سَرَه صفا وِي
په چا گرم مشه که دِ رضا وِي
که څوک ناحقه له تا پرخاش کا
اندوه ئې مکړه ظفر به ستا وِي

زه ئې ميلمه يم زړه مي مېزنان دئ
را باندِي هر کله دَ ده احسان دئ
په هر زمان ئې راته صلا دَه
راته ئې يښي دَ معنو خوان دئ

زړه مي په تن کښ لکه بادشاه دئ
ولاړ په فکرونو صبا بېگاه دئ
سترگي غوږُونه ژبه دا درې دي
خانان نور واړه څو دي سپاه دئ

زړه چه نسکور وِي غم ئې په کور وِي
که ډېر ئې زر وي که ډېر ئې زور وِي
تل به پرې پوري دَ سيال پېغور وِي
مخ ئې که وينځې هم به ئې تور وِي

زاغ و زغن دَي په باغ کښې وزري
چمجي ممجي خوري په ځانګو ګرزي
خوشحال و چا ته خپل کار ښکاره کا
بلبلي نشته چه باندي غوزري

زويه هغه دَي چه فد وي د پلار وِي
دَ پلار تر هري خبري ځار وِي
چه دا ئې نه وي ژر دِ په ګور شِي
پيدا دَ پلار نه دي يَو عيب عار وِي

زر دَ خانانو دَ بادشاهانو دئ
دَ نوکرانو دولتخواهانو دئ
خوري دې ګټې دې عيش و عشرت دِ کا
نور څوک چه زر ساتي د ګمراهانو دئ

ډيره دِ کله د پښتانه شي
چه دَ مغل په منصب ئې زړه شي
مغل کمزوري غليم په رحم دئ
کله ئې زړه وِي چه پښتون ښه شي

زرکه دِ ليري له باز وګرزِي
سرړه[1] دِ ليري له پړانګه غوزري

---

١. غرڅنۍ ګړه (درياب).

که نه ښې به ئې په پورته غورزِي
په څو که کښېوزي نوره به پرزي

زاړه واړه غوايه په غاښي ځان وړي
چه توان قوت لري خپل بار په توان وړي
خوشحاله له پرېبرده خپل بار په خرو موړه
مست مست بارُونه مست مست اوښان وړي

زړه مي ډېر ښه شو چه ته مي يار شوې
زه دِ بلبل شوم ته مي گلزار شوې
چه بې وفا وې حال دِ وليده
ځما په زړه کښ يو تېره خاَر شوې

زويه ورور مشه چه ځوانمرد نه دئ
مرد دَ تېکلي مرد دَ نبرد نه دئ
ميړه ئې مه بوله ښځه پرې نوم کښېږده
چه دَ جنگ غشي ورباندي ورد نه دئ

زويه هغه دئ چه په راي د اَب وي
که نه له ځانه پيدا غضب وي
که هر څو ښه وي چه ستا پسند نه وي
غافل ترې مشه اقرب عقرب وي

زويه هغه نه دئ چه هوا پرست وي
زويه هغه نه دئ چه حيا پرست وي

عهد و وفا لَرِي سخا عطا لَرِي
طاعت تقويٰ لَرِي خدا پرست وي

ژوندي كه گرزِي ځان ئې ژړلي دئ
تورزن دَ سر په وينو لړلي دئ
چه صبر نه لري ظفر به نه مومي
ظفر له صبره سَرَه تړلي دئ

زار دَ هغه دَئ چه آز حاجت لرَِي
نه ډېر دولت لَرِي نه ډېر همت لَرِي
هغه به ولي دَ آسمان منت وړي
چه مستغني وي عيش و عشرت لَرِي

ډيره غاښونه مي جدا جدا وائي
ځواني دِ ولاړه راته هم دا وائي
چه چا تِه وگورم يا چا ته وخاندم
راته دادا وائي كاكا بابا وائي

زړه مي دَ كښليو سَرَه بيا بيوور غواړي
گوره وَ ځان ته بلا په زور غواړي
زلفي ښكاره كړه خوشحال ختټک ته
جنون پرې زوړ شو بيا رنتهبور غواړي

زړه مي په تن کښ په ډېر آشوب شِي
چه کښلې ياد کړم کله مي خوب شي
زوړ شوم لا خيال لرم دَ مهوشانو
په سپينه ږيره هم عاشق توب شِي

سړی په مثل کاڼي دَ کوه دئ
ښځو څو رنګه ګروه ګروه دئ
چه جواهر دِې پکښ کم کم شته
نابود بد رنګ ئې انبوه انبوه دئ

سړی که ښه دئ په ښه ګفتار ښه دئ
ګفتار که ښه دئ په ښه کردار ښه دئ
ګفتار صورت ګڼه کردار معني دئ
چه سَرَه يَو شي دا دواړه کار ښه دئ

سړي چه ووړي شي کچکول پلاس واخلي
شهوت پر زور وکا نور نور وسواس واخلي
خدايه پښځل کي خوشحال معمور لَره
چه بل له لارِي نه کوز و پاس واخلي

سړَی که وړوني شِي آواره کړوني شي
دَ لويو لويو بخرو په وړوني شي
راشه پخپلو سترګو ئې وګوره
فايده ئې کومه دَه سپَی چه خوړُونَي شي

سهیل چه وخېژي اوړي تمام شي
زېرمه دَ ژمي دَ سر انجام شي
په آته میاشتي هسي هوا وِي
چه دَ ځوانانو پکښ هر کام شي

سړی چه ځوان وي دَ جونو ځان وي
زوړ ئې په ځنگ کښ لکه سوهان وي
زاړه که ښه کا جونه دِ نه کا
جن دِ هاله کا که دَی سلطان وي

سړي په اصل سَرَه یکسان وي
که چوهړي دي که بادشاهان وي
فرق ئې په فعل په خوي هنر وشه
ځکه دُوي هسي سَرَه شان شان وي

سردار هغه دَئ چه شرم ننگ لري
مدام دَ شرم توره تر ځنگ لري
صرفه په زر نکا صرفه په سر نکا
چه دښمنان وي له هغو جنگ لري

سترگي دِ نَدِي ستوري دِ بخت دي
چه ورته گوري ځښتن دَ تخت دي
دَ ناز په غشیو هغه شیخان وله
چه لاف دَ زهد کا په زړه ډېر سخت دي

ساقي باقي دي دَ روژې څو ورځي
زه په خندا يم ژاړي وريځي
تحويل دَ تلي اختر يِو ځاي راغله
حاضر په ميو شه په چرته خوځې

سړَی څاروَي دَئ که ته ئې وينې
په تن په غوښي په هډ په ويني
فرق له څاروي لري په گويائي کښ
په راي په عقل په شناخت په ميني

سحر چه پاڅې په استغفار کښېنې
په يادَولو دَ خپل غفار کښېنې
دا وخت نور مه گڼه ځما په پوهه
گڼه په باغ کښ دَ دارالقرار کښېنې

سړي هغه دَئ چه ترس دَ خداي لري
خپل ځان عالم ته آدم نماي لري
حق دَ حقدارُو آشنا په ځاي لري
خوبي دَ عقل خوبي دَ راي لري

سخ دَ هغو دِي چه پاک پيدا دي
که انبيا دِي که اولياء دي
خلاص دِي دَ نفس دَ شيطان له شره
په ښو په بدو ځائي دانا دئ

سحر سبا سو وخت دَ بامداد دئ
را الوتلي دَ صبا باد دئ
خوشبو ئې راوړ دَ يار له لوريه
په څو څو رنګه مي خاطر پرې ښاد دئ

سخ دَ هغه دي چه ښه ئې نيت دئ
نېکخواه دَ خلق په ښه خصلت دئ
تل ئې په علم په طاعت مټ دئ
حاصل دَ عمر علم طاعت دَئ

سخي که لک ورکا و دَه ته کک وي
بخيل که کک ورکا و دَه ته لک وي
دَ هغو ورکړه په ورکړه مه نيسه
چه ورکا زړه ئې له غمه ډک وي

سړی عزيز ښه دَئ پدا دنيا کښي
که نه فايده ئې دَه په ژرفنا کښي
چه وَمرِي غم نه وِي غصه الم نه وي
نه ئې سيالي وِي د سيال په خوا کښي

سوځم بې تابه په لمبو کښي
خوب و آرام دَي راځني تښي
مخ را عيان کړې بيا ئې پنهان کړې
تا يم دا هسي په لمبو يښي

سفله په مثل لکه ډېران دي
دولت په مثل باندي باران دي
باران چه نه وِي بوئې دربلي دي
باران چه وشي بوئې روان دي

ساقي غوړېږي سل برگ په مني
دلبري خيال کا دَ ده په ميني
دَ چا په بخره دَ ميو جام شو
دَ چا په بخره پوپي پمني[1]

سړی که ښه دئ چه ديندار ندئ
که ډېر پکار دَئ هم پکار ندئ
توښه طاعت دئ له دې جهانه
جهان په هيچا باندي پايدار ندئ

سړی چه ولانبي په اوبو پاک شي
سپی لا بدبوي شِي چه څو نمناک شِي
احمق چه ولولي څو کتابونه
په څه خو لوسته ياوه کاواک شِي

سړی چه زوړ شي زبون په تن شِي
حواس ئې نور شي په زړه هېرجن شِي

---

١. محشي ليکي، چه پوپي پمني دَ غره دَ غريبانو خوراک دئ.

لطيف خواږه دِ خوري دخول دِ لبږ کا
که کا، نو خېزه چه پرېږ مين شي

ساقي را پاڅه چه بيا نوروز راغي
گل په گلشن کښې جهان افروز راغي
غم دِ په بخره دَ دښمنانو شي
فال دَ دوستانو عجب فيروز راغي

سړی پخپلو سَرَه بې غمه وِي
ونه پخپلو وليو محکمه وِي
دَ چا چه نه وي خپل زويه وروڼه
سيالي ئې کله له سياله سمَه وي

سر شوي په غاړي غرونو ژړلي
دَ ونو پاڼي ماڼي خوړلي
دَ آشنايئِ پيوند مي وليده
نابود پيوند دَي په وېښته تړلي

سترگي چه نه وِي مخ په پساله نشي
خوي ئې چه بد شي دَ خپل کاله نشي
فهم که وکړې دا حال به وَوينې
عيب چه ډېر شي عيب باله نشي

سړي که زوړ وي ښه زويه ځوان لري
څه په اندوه لَري څه به ارمان لري
دَ پلار ښه زويه دوباره عمر دي
بد زويه پلار لره بلا شان شان لري

سړی هغه دَئ چه نوش و نیش وي
نه بدگوئي لَري نه بد انديښ وي
په هَرَه چار کښې همت په ځاي لري
که مال و ملک لَري که خوار درويش وي

سړی چه زوړ شي وَرنځ ته جوړ شي
که ډېر هوښيار دئ په عقل بوړ شي
چه بې ايمان وي حرص ئې زيات وي
که ايماندار وي له هر څه موړ شي

سپاره دَ عقل په براق ښاغلي دئ
له عقله پلي په غم نيولي دئ
بدري دَ عقل دَ براق هم بده ده
سپاره ئې سر په ښتي لوېدلي دئ

سفله دِ هيچېري دَ مال څښتن نشي
دَ ښو جامو دِ به آغوستين نشي

شمله چه پرېږدِي کټوه[1] شخه کا
له کبره خیاله ورته گفتن نشي

سفله چه زر ټول کا دَ مال څښتن شي
وراني په لاس واخلي دَ ځان دښمن شي
دَ نېکخواهانو په پند پروا نکا
دَ بد خواهانو په صحبت مَیَن شي

سبا به تل وِي مسا به تل راځي
چه يَو تېرېږِي باندِي به بل راځي
يَو به خوشحال غُندي پیدا څوک نشي
په شپه په ورَځ کښ خوشحال که سل راځي

سردار دَ غفو دَ کرم څښتن ښه دئ
دَ جنگ تر کار په آشتي مَیَن ښه دئ
ډېر هنرُونه دَ سردارۍ دِي
چه واړه تېر شي تېغ مبرهن ښه دئ

ساقي را پاځه بسرلي تېرېږي
اهاړ را درومي غارمه ډېرېږي
گوره لا کله به سهېل را خېژي
چه درد و غم به دَ غارمه کمېږي

---

۱. دَ پټکي نېغه شمله.

ساقي را باځه ګل او ګلاب دئ
په باغ و راغ کښ لاله سېراب دئ
په دواړو سترګو په انتظار کښ
هم دَ رباب دئ هم دَ شراب دئ

سږي په مثل دَ ګبینه دئ
شرم په ده کښ لکه خواږه دي
خواږه چه نه وي په ګبینه کښ
قدر دَ ژاولي بې خوږو څه دئ

سږ کال چه کال دَ رحمت تم دئ
باران په هر چیرته په غره په سم دئ
پسله شپږ میاشتو په چنګاښ شروع سو[1]
په هَرَه ورَځِي تر نیم ضیغم دئ

سل خپلوان لږ دِي یو دښمن بد دئ
چه ډېر دښنه لري ځاي ئې لحد دئ
په ښه سلوک سَرَه پرَدي خپلېږي
چه خپل پردَي کا کله بخرد دئ

سګان دَ بدر له نوره جنګ لري
ګونګټ دَ مښکو له بویه ننګ لري

١. په دې بیت کښ له چنګاښ او ضیغم مطلب دَ سرطان او اسد برجونه دي.

سره زر څه نور څه دِي زرنيخ څه نور څه دي
څه شو که برېښي دَ زرُو رنگ لري

سخي ئې مه گڼه چه نغن ئې خوار نه وِي
باتور ئې مه بوله چه پرې پرهار نه وِي
که دانشمند وِي تفسير په ياد لولي
چه ډېر وَيل کا دی به هوښيار نه وِي

سخ دَ هغو دئ چه بې خبر دي
بې غمه خوب کا په خوب و خور دي
روزگار په غم دَي دَ خبردارؤو
چه په زرگونو فکرونو سر دي

شرم ئې نشته ښاروي خو ډار لري
نه هونبره مهر به مور په پلار لري
فرق له سړيو که ښارويو هونبره دي
چه شرم مهر پخپل مقدار لري

شونډي دِ نه دي آبحيات دي
زلفي دِ نه دي مښک هبات دي
مخ دِ بهتر تر نسترن دَ باغ دئ
سنان سنان دِ باڼه يکذات دي

شاهين که پر لري سردار که زر لري
سردار که زر لرِي شاهين که پر لري
مهم به سر لري کام به دربر لري
کام به دربر لري مهم به سر لري

شرم دئ ننگ دئ که ډار دَ سر دئ
سَمَه مي پرېښو ځاي مي تل غر دئ
پښتانه واړه دَ مغل ښوروا خوري
ما ته ئې پاتو دا شور و شر دئ

شيطان هر گوره ښايسته روغ دئ
چه ئې بدرنگ بولي دا وُوي دروغ دئ
بدرنگ پدا شو چه بد رسوا شو
پرې درېدلي دَ لعن توغ دئ

شمعه که هر څو سوز او گداز لَرِي
ژاړي په اوښيو چهره طراز لَرِي
دا کار ئې واړه ځما خوښ نشو
چه خپله ژبه اوږده په راز لَرِي

شاهان بل اور دِي چه هر څه نغري
اعوان سکروټي دَ اور بخري
چه يو بخري ځان ته پرې نږدي
هوښيار به تل وِي وَا ورته ځري

ښځي دَ هيڅا په رنگ ريښه نه دي
 څرگنده چرده وفا پېښه نه دي
پخپل مقصود دي په غرض سود دي
په نورُو چارو کښ دِ همېشه نه دي

ښځي له ځايه په عقل کمي دي
سمِي به نشي پيدا نا سمِي دي
وفا ترې مه غواړه په ياري ئې مه وياړه
که دِ محرمي که نا محرمي دي

ښځي په اصل کږې نا سمي دي
په عقل کميِ په دين هم کميِ دي
شومت ئې اور دَي چه چرته ولگيِ
په دم پيرئِ په دم آدمي دي

ښځو ته ډېري بلا تعيني دي
څو ستر پوښي هونبره مهيني دي
چه بې ادبه بې نمازي لوئي وِي
ورته نظر مه کړه که مخ نسريني دي

ښه به ترې څه غواړې هغه چه تل بد وِي
هم په بازل بد وِي هم په ساتل بد وِي
دَ بل علاج وشِي دَ خپل علاج نشِي
چه دِ بد خواه شِي تر بل نه خپل بد وِي

ښه خو هغه دئ چه دَ چا په چر نه دئ
که دَ وګړي په شور و شر نه دئ
ځان په ژوندني د مړو په شمار کړه
نېسي هستي دَه څوک پرې خبر نه دئ

ښځي طراري دي ښځي مکاري دي
ښځي مکاري دي ښځي طراري دي
که هر څو ياري دي ښځي اغياري دي
ښځي اغياري دي که هر څو ياري دي

ښه خو هغه دئ چه په هيڅ خبر نه دئ
په غم په فکر دَ سيم و زر نه دئ
چه له خلقه په ګنج کښ اوسي
څوک ئې چاکر نشته دَ چا چاکر نه دئ

ښې ښې دلبري دَ دين ياراني وي
په دا دنيا کښ غمګسراني وي
چه خوله ئې کښل کړې زړه ئې ډېر ښه شي
په دواړو شونډو شکر باراني وي

ښېړې دِ واړه په ما دعال لګي
ښکنځل دِ واړه په ما حلوا لګي
که ته مي ولې په سرو سکروَټُو
واړه به ګل دَ لاله په ما لګی

ښې ښې څهرې شته پدا جهان کښې
کمې ئې نشته په هر مکان کښې
که هر څو کښلي مخونه تل ګورم
بیا به ترې لاړ شم په ډېر ارمان کښې

ښې چین چین څټې پښتنې جنې[1]
په شین شین ځې شین جنې
نن نغتې نشې تشې پُښتنې
تشې پُښتنې فتنې شې جنې

ښکاره په هر څه دَ چاري بند دئ
قدر دَ ښځې دَ مرد دو چند دئ
ځنې سړی دئ چه ږیره بریت لري
جوړې له ښّځې سَرَه پیوند دئ

شېکره چوړې نیسي زاڼې شنقر نیسي
شرمښ بیهاڼ وَهِې مزرې ایغر نیسي
وَ لوي مېلمه ته سړي ساغر نیسي
مفلس مېلمه ته ساغر لاغر نیسي

ښځې ښه څیز دِې که په مخ کښلِې وِې
له موره پلاره پاکې زووَلِې وې

---

۱. په دې رباعې کښ صنعت دَ تجنیس شته.

که دا ئې نه وِي ژر دِ په گور شِي
چه نه ليدلِي نه چاَ کتلِي وي

ښايست دَ ښځي دَ مار يکسان دِئ
ظاهر ئې مه گوره باطن ئې وران دئ
ښځه په زړه کښ څو څو بلا لري
که مار په خوله کښ دَ زهرو کان دئ

ښه ښه ځوانان دي دَ ننگ يکدلي
حاضر په کار کښ سپاره هم پلي
ډېر زر دولت وَي باندِي خوړولي
ورته بخښلي هر څه بخښلي

ښه خوي بدېږي بد خوي ښه کېږي
په صحبتونه که څوک پوهېږي
نافه دَ هوړي په بوي خوشبوي نشيِ
حنظل شکرو سَرَه خوږېږي

ښځه چه ډکه شي که کښېني مار راوړي
مار ښه نه زوهه چه ناهموار راوړي
گل چه نه رنگ لرِي نه بوي ښه کاندي
ښه دا چه ونه بوټي خاردار راوړي

ښه مخ چه وَويني په زړه سخ سخ وائي
بد مخ چه وَويني په زړه چخ چخ وائي
که دَ خوشحال غُندي مَين په مخ شي
تل به مخ مخ وائي تل به مخ مخ وائي

ښځي به نشي دَ هيچا ياري
په خوله دِي ياري په زړه اغياري
زهر دَننه په اندرون کښ
دَ پاسه کښلي ښايسته ماري

صحبت له جنسه لکه گلاب دئ
دَ ناجنسانو صحبت عذاب دئ
کس به ناکس نشي ناکس به کس نشي
طوطي طوطي دَئ غراب غراب دئ

صبي که هر څو مرسل نبي وِي
دَ پلار له ميني بيا اجنبي وِي
يعقوب چه ړُوند شو يوسف هيڅ نشو
په غم کښ ستر وي نه چه صبي وِي

عقل دَ مزکي يا دَ اسمان دئ
چه دواړه نه لري هغه حيوان دئ
عقل دَ مزکي دَ مور دَ نسه دئ
چه دَ آسمان دئ دَ دبستان دئ

عشقه ستا واړه چارِي اوترې دِي
چه زوروَري واړه[1] بهتر دِي
تر مرګه پورې سَرَه نظر لرې
زلمي بازونه جونه کوترې دِي

عشق چه پخپلو موجونو سر شي
تر ابا سينده لا زوروَر شي
بلا ئې ليرې هر څه په مخ وړي
چه کاڼي بوټي په مخه وَر شَي

عادت چه بد لرې ځان ئې ژړلي دئ
عادت چه بد لرې سر ئې خوړلي دئ
عادت په پند نه ځي عادت په بند نه ځي
عادت له سره سَرَه تړلي دئ

عجب کارُونه سبا بېګاه شِي
نېکخواه بد خواه شِي بد خواه نېکخواه شِي
زړُونه دَ خلقو دَ خداي په لاس ګڼه
تبديل دَ خلقو په هَرَه ساه شِي

عزت دَ زور ډېر دَئ عزيز دئ
هغه چه زر ساتي صاحب تميز دَي

---

۱. ځکه بهتر دي.

که هر څو ښه دئ په حقیقت کښ
زر عاقلانو وَته ناڅیز دئ

عالم پرې وني تلي کپ گوري
دورونه خداي کا نه ئې دا ستوري
نظر دا نه کا چه افلاکونه
دَ چا دَپاره سَرَه تل ښوري

عاشق په وخت دَ وصال سلطان وي
هاله ئې مه وینې چه پرې هجران وي
چه یافت ئې څونبره خوښي ئې هونبره
څو چه کالَي وِي هسي ئې زیان وي

عاشق خپل کار کا شرم پېغور څه دئ
چه پرې مَیَن شوې دلبر سپین تور څه دئ
زنبق ته گوره سوسن ته گوره
کړه وړه څه نور څه دئ نمک څه نور څه دئ

عفو کرم دِ په هر چا عام نه وي
په کس نا کس دِ دا کار مدام نه وي
کس چه خطا وَکا باندِي عطا بویه
ناکس لا بد شي چه اِنتقام نه وي

عرب هم ډېر دي عجم هم ډېر دي
شماره ئې نشته تر حساب تېر دي
نور کښلي واړه غټ واړَه ستوري
تا غنُدي کله دَ نمر په څېر دي

عيب ئې مه گوره چه ډېر هنر لري
څه شو په مخ که تر سېري نمر لري
سر چه دَ تاج دَ خولۍ لائق وي
څه شو که څه خو پخي دَ سر لري

عام دِ دَ خاصو په مجالس نشي
يار دَ فرښتو سرَه پېري ناغس نشي
دَ ناسو کار له نسناسو مه غواړه
دَ پيازو بوټي گل دَ نرگس نشي

عمر که ډېر شي بيا دِ هفتاد شِي
تر دا دَ پاسه لکه رماد شِي
چه دَ ځوانۍ ساعت را ياد شِي
په هر زمان مي پسي فرياد شي

غم دَ گناه مکړه گناه قربت دئ
گناه هغه بد دئ چه قطيعت دئ
که سل ناسازي په ناز معشوقه کا
څه شو پکار ئې ستر عفت دئ

غلیم هوښیار ښه دئ که مرګ دِ غواري
ډېر به تر جنګه په آشتي ویاړي
هوښیار چه نه دئ غلیم ئې مه ګڼه
پرېږده پخپله به خپل ځان وژاړي

غم که په زړه کښې دَ دَلارام لري
ګرم دَي که فکر دَ ننګ و نام لري
چه یار ئې څه وي هسي دِ دَی وِي
که دین دَ کفر که دَ اسلام لري

غاښ چه دِ وښوري مرَیَي دِ غل شي
بد خویه ښځه سر دِ ئې کل شي
چه آواره شي هاله ترې خلاص شې
ګڼه و تا ته واړه خلل شي

غم به دَ دین خوري چه مؤمنان دي
دا نور غمونه واړه آسان دي
چه دین ئې نه وي که په تخت کښېني
ښادي ئې غم دَه که بادشاهان دي

عشي چه کوږ وي یا عیب جن وي
ځاي ئې په کېش کښې کله سودمن وي
یا علاج وکړه چه باوري شِي
یا دِ ئې فکر دَ دور کردن وي

غشي چه راشي په واړه تن لګي
ګوره رسا لګي که برسېرن لګي
بده خبره تر غشي بده دَه
دَ زړه په سر باندِي دَ مرد و زن لګي

غشي دَ تېنګي لیندۍ خطا شي
دَ نرمي سستي ګزار رسا شي
ښه تېره توره په لاس کښې واوړي
دَ پڅي توري ګزار بلا شي

غشي چه ډېر ولي ښه تیر انداز شي
چه مشق د خط کړي و خط ته رسا شي
کار دَ محنت دَئ دَ مشقت دئ
ورو ورو په هر هر هنر ممتاز شي

غشي چه سم وِي ګزار پرې ښه کېږي
چه ښه سم نه وِي ګزار پرې نه کېږي
رشتیا په هر څه کښې لکه سره زر دي
په لاس که زر لرې په زر هرڅه کېږي

غوټي دَ باغ دي تل تل غوړېږي
پرې وړي سترګي دَ بلبل مړېږي
خداي دِ تازه لري دَ باغ ګلونه
چه ورتهٔ سترګي دَ بلبل غړېږي

فرښتې له نوره پېرَي له ناره دي
که پرې خبر يې سړی له چاره دي
ځکه دا هسي ډېري فتنې لري
له باد و خاکه له آب و ناره دي

فصل به فصل کندو ډکېږي
لکه ډکېږِي هسي تشېږِي
چه دا اسمان شته په سر څرخېږي
يَو فصل درومي بل را رسېږِي

فلک يو سترگي کهنه تيرگر دئ
دَ ده په هر هر لرگي نظر دئ
زيات په دا دور چه رَغَوِي ئې
دَ سر اغزيو په غشيو سر دئ

فرزند هغه دَي چه متقي وِي
نه بد گمانه بد خوي شقي وِي
خبر چه نه وِي دَ خداي له حقه
دا نور حقونه پرې ناحقي وِي

فرزند يَو پړوکي دَ پلار له ځانه دئ
دَ پلار غوښو دَ استخوانه دئ
دَ پلار په خوړو چه پروا دار نه وي
له پلاره نه دَي گوره له چا نه دئ

فرزند چه وَوزي دَ پلار له رايَ
ښادي ئې گومه ده بدبخت ته وايَ
دانه که وَوزِي دَ پلار له حکمه
خروار به مومي بدي له خدايَ

فرزند هغه دَئ چه شرمناک وِي
له بدو چارو په زړه کښ پاک وِي
چه شرم نلَري خبره نه مَنِي
چه لا هلک وي ژر دِ هلاک وِي

فرزند چه عاق وي که ته ئې وينې
بدي اوبه دِي مرداري ويني
مېني[1] دَ باکو پاکان پيدا کا
ناپاک پيدا کا ناپاکي مېني

فرق دَ سړيو سَرَه بسيار وِي
سړَی هغه دَئ چه څه هوښيار وِي
چه څه ترې تېر وِي څه ئې ليدلي وِي
علم ادب لَرِي په صحبت تيار وِي

فتنې دَ ښځو هر گوره ډېري وي
په شيطاني تر شيطانه تېري وي

---

۱. مني.

لکه لټکه هسي ټګي لَرِي
زهر په خوا کښ کښلي بر سېره وي

فرزند که هر څو دَ پلار عاصي شي
چه پلار ته پریوزي بیا به په خلاصي شي
خداي په بنده باندِي لا ډېر مین دئ
له هر ګناهه په توبه خلاصي شي

فرزند که ښه شي دَ سترګو نور شي
دَ سترګو نور شي دَ زړه سرور شي
فرزند که بد شي غاښ دِ رنځور شي
غاښ چه رنځور شي نور دَ اَنبور شي

فکر مي وکړ چه دا انسان دي
حني فرښتې دِي ځني شیطان دي
ځني سړي دي په خوي خصلت کښ
ځیني بې شکه لکه ددان دي

فاني دیِ واړه دا نوري میني
یوه باقي ده که ته ئې وینې
خبر که نشوې په باقي مینه
ژاړه که ژاړې په اوښي وینې

قلپه روپیه ښایسته روغه وِي
خو چه سوراخه شِي نور بې فروغه وِي
هیڅوک دَ خپلو شنوبو بد نه وائي
صفت دَ هر چا له خپله دوغه وِي

قاضي په وخت دَ قضا په یاد شِي
غازي په وخت دَ غزا په یاد شِي
طبیب په وخت دَ دوا په یاد شِي
زاهد په وخت دَ دعا په یاد شِي

قوت مي لړ شو نفس مي لنډ دي
وَتَي ترې نه شم دَ سریښو ډنډ دَي
منزل مي اُوږد دَي که روغ ترې ورسم
په سر مي یښي دَ سریښو پنډ دي

قام ته مي کله لوئي ښکاره وي
په وړو چارو کښې آواره وي
لاس مي نیولي دي په دواړو غوږو
ترې توبه توبه چه هیڅکاره وي

قابل هغه دئ چه درست طلا شي
له زرو سیمَ په استغنا شي
نه ئې زکوة وِي نه ئې قربان وِي
هسي ترې درومه لکه چه راشي

قرآن چه لوست شي په هغه کور کښي
غم به ئې نه وِي په سپین په تور کښي
که ئې گناه وِي هسې به سوځې
لکه خځله سوَځي په اور کښي

قرار په دا لَرم حال مي عیان دئ
نوم مي دَ خان دَئ کار مي بل شان دئ
نه مي زکوة شته نه سر سایه لَرم
نه مي اختر شته نه مي قربان دئ

قابل که نه وِي دولت که بیا مومي
لکه ئې بیا مومي هسي ترې بیا درومي
باور په بخت مکړه باور په تخت مکړه
اسمان ئې ونغاړي که شاهنشاه درومي

قربان تر خاصو چه خاص الخاص دئ
په زړه له نورُو فکرونو خلاص دئ
که ډېر غمونه وربانِدي راشي
تسلیم قضا ته په ډېر اخلاص دئ

که څوک په څیر څیر وَیل وېرېږي
خوشحال نه وېره کا نه شرمېږي
هوښیار به واړه پدا پوهېږي
چه کاږه زېږي کاږه لوئېږي

که هغه یار مي راضي په مرگ دئ
دا دَي نیولي مي ورته تخرگ دئ
غشي دِ ښه په سوهان تېره کا
چېري به بند شي توبري ئې بغرگ دئ

کله یار غواړې که یار درشي
کله کار غواړې کله کار درشي
آسمان په ډَول ډَول پېرې کا
خوشحاله گوره گندِي وار درشي

که مي په ډېره ژړا لېمه ووزي
یار مي ناترس دَئ پدا ئې څه ووزي
گلگوني اُوښِي ساړه آهونه
څه مي له سترگو څه مي له زړه ووزي

که ډېر والا شې په پارسائي کښي
سیال دِ څوک نه وي په ملائي کښي
غافل هیڅ مشه دَ نفس له مکره
بلا پرېوزِي په آشنائي کښي

که راته غوږ کړې یو نصیحت دئ
نه دِ بد خواه یم نه خدیعت دئ
بار دَ فکرونو په زړه هیڅ مږده
هغه به مومې چه دِ قسمت دئ

که زړه څوک تېنګ کا چه ئې قضا نه وي
که تل جنګونه نه کا مرګ ئې روا نه وي
قضا چه ورشي بلا پرې سازه شي
که په ملکونو چېري بلا نه وي

کوم دَي چه واړه خوبىِ کل لري
خمار دَ مل شته خارونه ګل لَرِي
يار که نور ښه دَي يو خوي مه ګوره
اکثر که ګورې حکم دَ ګل لَرِي

که بد وَيُونَي بد لمسوُني يې
په ځان پخپله اور لګوُني يې
که څوک دِ وليد په اسکبار کښي
جهان که غم شي ته ښادي کړُوني يې

که نيت دِروغ دئ اندوه هيڅ مکړه
په قول فعل په کار و بار کښي
په لار که درشي سلام ئې مه له
پاتو چه پل بږدي دَ ده په لار کښي

که بخت مي يار شي يار مي به يار شي
بوسه به را کا را به کنار شي

چه مي نېکخواه دِي زړه به ئې ښه شي
چه مي بد خواه دِي هغه به خوار شي

که ته په قدر دَ ځان خبر يې
ته سر تر پايه واړه سره زر يې!
زر دِ پخپله تر مس بتر کړه
چه ناسوتي يې، په بدُو سر يې!

که رنگ دِ سپين دَئ که رنگ دِ تور دئ
پدا څه نشي مطلب څه نور دئ
بوي په نافه کښ ويني په قدر کا
شمشاد بې بويه دَ چندڼ پېغور دئ

کريم هغه دَئ چه خوش معاش وِي
هم خطا پوښ وي هم عطا پاش وِي
چه ورکا خوښ شي ډېر ورکړه لږ گڼي
باندِي دَ هر چا شاباش شاباش وي

که مرگ دَ لوښو دشوار فرقت دئ
ژوندُون دَ ديو هم مصيبت دئ
چه کور ئې لوي وِي شر شور ئې لوي وي
چه کور ئې کم وِي يو لوي نعمت دئ

که بادشاهي غواړې کار ئې آسان دئ
تسخير دَ زړونو خلق و احسان دئ
لښکر چه وشو طالع دِ ملي شوې
داد او دهش کړه خپل دِ جهان دئ

کرَي په رنگ دَ طوطا نمود دئ
په رنگ مدار نه دَي هنر مقصود دئ
اصل پيدا کړه هنر خصلت راوړه
چه اصل نه لَري هغه مردود دئ

که نور څه نه وِي سَړی چه زوړ شي
دَ کنگاشونو په کار کښ جوړ شي
ځوانان چه نه منِي دَ زړو بد کا
دَ بد خواهانو زړه به پرې سوړ شي

که ډکه ښځه کښېني يَو دد راوړي
بهتر ترې دا دئ چه بد ولد راوړي
دا ځاي حيرت دئ څوک به څه دم وَهِي
بدان چه ښه راوړي نيکان چه بد راوړي

کاږه کارُونه ناپوه ته سَم وِي
ښه سَم کارونه ناپوه ته غم وِي
فرق دَ هوښيار دَ ناپوه په دا وشه
پدا خبره به خبر اعلم وِي

که سخاوت دئ که شجاعت دَئ
ځموږ په کور کښې ځائي خصلت دئ
چه دا ئې نه وِي له موږ ئې مه ګڼه
ګوره په ځان کښې ئې يَو څه علت دئ

که په رشتيا کښې دَ زړُو تله شې
ته به په قدر په قيمت تر تله شې
خوبي دِ هونبره دَه په خوله کښې ژبي!
څو له دروغو هونبره ساتله شې

ګنج دَ ځوانۍ تر چل و پنج دئ
بهتر دَ سيم و دَ زر تر ګنج دئ
ځوان په افلاس کښې دَ ځوانه خوښ وي
زوړ که بادشاه وِي زړه ئې ترې رنځ دئ

ګناه که هر څو دَ سړِي ډېر شي
په شمار دَ ونو تر پاڼو تېر شي
نوميد دِ نشي دَ خداي له فضله
ګنُدِي دَ فضل په ډکه وېر[1] شي

که بد ئې ښه به شې په ښه خصلت کښې
که کم يې لوي به شې په لوي همت کښې

---

۱. وېر شي په شعري ضرورت سَرَه اماله دَه دَ (ورشي).

وفا له هر چا کړه جفا له هر چا وړه
دين او دنيا غواړه په ښه صحبت کښې

کړل دِي وَيَل دِي دواړه آوان لري
چه وخت ئې تېر شي افسوس ارمان لري
چه کار دَ نن ورځې پرېږدِي سبا ته
هوښيار به نه وِي دا خوي نادان لري

کښلې هغه ده صفت ئې ښائي
چه هر هر ځاي ئې وګړي ستائي
هغه دَ ګښليو په شماره نه دَه
چه دَ کور ډمه ئې ستايَنه وائي

که خوله مي پټه پرېږدې هيڅ نه يې
که باد دِ بند شي وايه چه څه ئې!
په هَرَه ساهه شکر وَکاږه
چه تندرستي لرې هم هونبره ښه ئې

که په ګناه کښې سبا بېګاه وِي
ګناه ئې نشته چه څوک آګاه وِي
که هيڅ ګناه نه کا په غفلت کښې اوسي
هم دا غفلت دَ غافل ګناه وِي

کنگاش په مثل دَ سودا کار دئ
که په سودا کښې فائده دینار دئ
اهمال پرې نه بویه سودا سودمنه ده
چه پرې اهمال کا کله هوښیار دئ

که دَ نباتو حلوا پخه شِي
په ناگهانه په سپي جوته شِي
نور دَ سړیو له کاره وَوزي
جوته دَ سپیو په سپي خوړه شِي

که پرې پوهېږې دا کار ښرگند دئ
پند دَ سړي دي سړی دَ پند دئ
په دا خبرو کار دَ نادان نشته
پرې به پوهېږي چه دانشمند دئ

که یار ځما دَئ درست به ځما شي
سستي به پرېږدي چست به ځما شي
زړه به وزگار کا له غیره فکره
په شپه او ورځ به په لوست ځما شي

که میندي لنگي دَ افریدیو دي
دَ دیو دَ توري، توري دَ دیو دي
دَ دین په کار کښې که اراسته وَي
عزت دَ خپلو هم دَ پردیو دي

که ژاړې ژاړه په ژړا څه شي
که په ژړا دِ لېمه ړانده شي
هغه چه لاړل له دې جهانه
که ته باور کړې بیارته را نه شي

ګندګي چه پروت وي ګونګټ پرې ګرزي
چه نه وي پاڅي وَ ورزِي
دَ دنیا خلق اکثر ګونګټ دي
څو چه مومي وَرباندي غورزي

کفر په بخره دَ کافرانو دئ
اسلام په بخره دَ مؤمنانو دئ
چه هيڅ په کفر په اسلام خبر نه دئ
عشق مي په بخره دَ عاشقانو دئ

که ښې ښې جونه که لباسونه دِي
که ښه بازُونه که ښه آسونه دِي
خوشحاله زوړ شوې اوس دا هوس مکړه
دَ ښو ځوانانو دا هوسونه دِي

ګلزار ته راغله ګلونه چوڼې
تر مخ ئې نه دي لاله مخ روڼې
چه کور ته درومي له ګلستانه
ګل ئې لَمنَ نیسي لاله لستوڼې

که ئې له حاله خوشحال پُښتَیَ
ښځې همه دِي کړې پُښتنیَ
کړې پُښتنیَ به در سمِي نشي
که په هنر کښ نامي پُښتنیَ

که دِ دَ یار په یاریِ زړه وِي
دَ یار به هر څه و تا ته ښه وِي
قدیم بې مثله دَي عیب ئې نشته
حادث به هیچېري بې عیبه نه وِي

کښلي که ډېر دي په قندهار کښې
یا په کشمیر کښ یا په فرخار کښې
لکه دا کښلي دَ پېښور دِي
هسي به نه وِي په هیڅ دیار کښې

گل شوي دَ خوړي دَ بڼ پلوسي
خوشحاله ولي بې گښته اوسې
گښت دَ گلونو ښکار دَ بازونو کړه
چه کور ته ډېري خوښیِ یوسې

که څوک نېکان دِي که څوک بدان دي
پدا دنیا کښ چه په هر شان دي
مه ئې ستاینَه کړه مه ئې غندنه
ته به ئې څه کړې چه دَ خپل ځان دي

که یار ځما یې سکه درد آشام بشې
که صاف صوفي یې پخپل فرجام بشې
زه اوس قلاش یم رند یم اوباش یم
را سَرَه مه کښېنه ګنه بدنام بشې

ګران تر ایمان دئ که ته ئې وینې
کار دَ ښې میني ځګر کا ویني
سل کبیره کړې ایمان په ځاي وي
په صغیره ځِي دا ښې ښې میني

که مړني یې مغفر شګاف یې
دَ بادشاهانو دَ لوي مصاف یې
تر دا دواړه بهتر دا کار دئ
په عهد قول که سینه صاف یې

که دَ مردانو په دین ائین یې
نه بند په سره یې نه بند په سپین یې
که نه دِ تخت شته نه دِ افسر شته
قیصر دَ روم یې فغفور دَ چین یې

که مختورن دي خو دروغجن دِي
ریښتني کله په مخ خیرن دِي
په صف مي مکړه دَ دروغجنو
که دَ ګنجونو دَ دولت څښتن دِي

که ناسپاس يې ناسَ نسناس يې
ناسَ نسناس يې که ناسپاس يې
که حق شناس يې هاله ته ناس يې
هاله ته ناس يې که حق شناس يې

که دِ نيت ساز دَئ عمل دِ ساز دئ
که دِ روژې دِي که دِ نماز دئ
مدار په نيت راغي مراد په نيت راغي
دين او دنيا لَره په نيت کښ راز دئ

گيدړ بې زړه دئ وهم وسواس لري
مزري زړه ور دئ کله هراس لري
هغه مزری نه دئ هغه گيدړ دئ
پکار و بار کښ چه زړه کوز پاس لري

که پلار که زويه که ورور که يار دئ
پدا دنيا کښ سَرَه يَو کار دئ
که سود ئې نه رسي پدا دنيا کښ
ژوندون ئې مه وه عمر ئې خوار دئ

کمي هيڅ نه وه په ذوالفقار کښ
دَ روم دَ جيش په کاروبار کښ
چه تېغ برش کا فتنې جنبش کا
ويَل هيڅ نشي په هسي کار کښي

که یاري دواړه وبله راي شي
درومي له ژبي په زړه کښ ځاي شي
چه دا باریکي معني ئې بیا موندې
په هغه کس دِ رحمت دَ خداي شي

که زړه سخي لَري چه مال ئې نه وي
په ځان مي ولیده څه حال ئې نه وي
که باز دِي واړه هنر دَ ښکار لري
ښکار به په څه کا چه بال ئې نه وي

که سترگي نلَرم چه هسي گوري
بې دَ عینکو دَ کتاب توري
پیرئ تتي کړې شکر وَکاږه
چه لا پرې وینم دَ آسمان ستوري

که باد ئې یوسي په هوا سخ سخ دئ
که شکر خور شي مگس مگس دئ
که ئې دولت وشي که دانشمند وي
دا ئې هیڅ مه گوره ناکس ناکس دئ

که سحر دَ سترگو غمزې ئې دا دي
لکه چه ستا دِي بلا دِي دا دي
خوې خبري دِ خوږې شکري شوې
مښکو گلاب دِ په کښ ادا دِي

گل دَ گلابو نیست و موجود شي
لکه موجود دِي هسي نابود شي
که بوي ئې پاتو شِي په ابگینه کښې
په هغه بوي ئې هر څوک خوشنود شي

کنَاس که واغُندِي وربښمیني رنجي
بل څه به نشي په تځي پنجي
که ئې د مښکو په نافه کښې واچوې
خپل بوي ښکاره کا په هر ځاي هنجي

که بادشاهان دي که دورېشان دي
که په دا منځ کښې ښه ښه ځوانان دي
که په زرگونو کالونو پايي
عاقبت واړه دَ گورستان دي

کبلَي چه پریوزي مور ورته وَدَري
په دوه درې میاشتې په پیو وَلرِي
که پرورش دئ دَ کبلي که څله ده
څوک ئې په زړه کښې د هوسیو وکرِي

که ورور ناکس دئ پخوي کښې کس دئ
دا خوي به دي لري ورلره بس دئ
دَ مشر ورور به آب پځاي لَرِي
ناز به دَ کشر وړي څو ئې دسترس دئ

کار ئې ښکاره شي وَنه چه بر واخلي
يا خوږ ثمر واخلي يا تريخ ثمر واخلي
فرزند هم هسي دَ وني کار لري
يا ښه هنر واخلي يا بد هنر واخلي

که سر دَ ښځي سپيني وړۍ شي
زړه ئې و غين ته هره گړۍ شي
سړۍ نه دئ لکه پېړۍ دئ
چه غين پرې ولاړ شي هاله سړۍ شي

که نادانان دي که هوښياران دي
گمان دا مکړه چه بېکارن دي
خواږه ترخه ئې واړه پکار گڼه
چه پيدا شوي پدا باران دي

کمال دَ کفر تر ناقص دين ښه دئ
يار درست گمان ښه دئ يا درست يقين ښه دئ
چه کله دا شي کله هغه شي
دانا ته کله مذبذبين ښه دئ

که لوي نعمت دئ دَروغ صورت دئ
که لوي دولت دئ دَ نېکو نيت دئ
چه دا ئې نه وِي مزه ئې مه غواړې
که بادشاهي دَه که سلطنت دئ

که ځان دِ وَپېژانده هاله سَړی یې
کنَه وَ ما ته دَ خره څړي یې
اول هم هیڅ وې بیا به هم هیڅ شې
چه روغ وِي مات شي هغه ګړي یې

ګرېوان ئې تل تل له ګله عار لرِي
مژګان ئې تل تل کشته بسیار لري
چه ئې ځما غُندِي دلبره بیا مونده
هغه له نورُو سَرَه څه کار لرِي

ګوره پرې غوږ کړه شپېلۍِ څه وائي
بېلتون پر وَرَغي هر ګوره ښه وائي
سینه ئې ګوره څو ځایه سوې دَه
زار دَ فراق کا نور څه هیڅ نه وائي

که سود دئ سود دَ سجود دئ
بهتر تر درستي دنیا دا سود دئ
نه به تل ته وې نه به دِ سر وِي
سجود له سَرَه سره موجود دَي

کلهِو چه هسي په منډه دانګې
پاسه دِ ولاړ شي په بهار څانګې
دا کار دِ بد نه دَئ بلا دِ دا شوه
په ساړه وچ شې هبتهَ زانګې

که ډېر هوښيار يې يا مړَني يې
په خوشخوئي کښ شکر گني يې
مدار په بخت دَي چه بخت مدد نکا
هم هيڅکاره يې هم لېوني يې

که ورته وايې کله پوهېږي
قرآن که لولي کله گروهېږي
دَ پلار په پند ئې وتَنه نه وي
بدان پخپلو بدو ستوهېږِي

که لعل و دُر او ياقوت الماس دي
واړه دا ناس دي واړه دا ناس دي
چه ناس دِ نه وِي په سيند کښ پرېوزه
که جواهر دِ بيرون تر قياس دي

که شير مردان دِي هغه ځوانان دِي
چه درست دښمن سرَه په خوي شادان دي
تل خوښ له ديو ياران دوستان دي
تل ترې په طمعَ لا دښمنان دي

که دَ غندنِي که دَ صفت يې
کمي دِ نشته هسي صورت يې
غندنه هونبره چه دَ دوزخ يې
صفت دِ هونبره چه دَ جنت يې

که زړه مي دا دئ غلیم ځما دئ
غلیم ځما دئ که زړه مي دا دئ
مین په چا دئ دَ چا آشنا دئ
دَ چا آشنا دئ مین په چا دئ

که څوک ایغر دئ که څوک اخته دئ
هر څوک په خپلي چاري اخته دئ
څوک سرَه میني شیر و شکر کړه
څوک سرَه گوره اور او پخته دئ

که ډېر دولت لَري ډېري مستیِ
دا واړه هیڅ دِي بې تندرستیِ
که پرې پوهېږې خو تندرسي ده
چه حلاوت لَرِي ستا دَ هستیِ

که هر څو ښه شي بیا دِ بادشاه شي
لښکر دولت لرِي صاحب دَ جاه شي
بیا به تنها درومي دَ گور وَخوني ته
په خپل عمل به هاله آکاه شي

که تور هاتي دئ که سور اسد دَئ
نور څه ئې مه گڼه دَ گور لحد دئ
غوښي هډُونه ئې دَ خلقو وَخوړل
پرې نه مړېږي هر گوره بد دئ

که کړم که نه کړم دواړه بلا دي
که وړم که نه وړم دواړه بلا دي
که خورم که نه خورم دواړه بلا دي
که مرم که نه مرم دواړه بلا دي

که سوختگان دِي که آموختگان دي
دَ رنګ دَ زړونو افروختگان دي
خداي ئې روزي کړه ښادي ئې خپله ده
چه دَ غمونو اندوختگان دي

که دِ راحت دئ که دِ محنت دئ
که دِ صحت دئ که دِ زحمت دئ
که خاندې خانده که ژاړې ژاړه
دا به دِ تل وِي څو دِ صورت دئ

ګلزار ته راغله ختي ګلګوني
دَ مخ شغلې ئې تر نمر افزوني
پرخه پرې نه ده پرَته له شرمه
تر هر هر ګل شوې خولې بيروني

که دَ جټانو څه برکت وَي
يا ئې څه عقل څه مصلحت وَي
دَ هندوستان سَرَه د هيچا کار نه وُ
بڼغ هم دَ دويو دَ شلطنت وَي

که دَ غلیم سره جنگ او مصاف ښه دئ
که مرد یې زړه خو ورسَرَه صاف ښه دئ
ما چه نظر وکړ چه تجربه وشوه
دَ هري چاري عدل انصاف ښه دئ

کاڼي یاقوت دي گیاه کیمیا دي
شناخت ئې هغه لري چه ځوک بنیا دي
فرق دَ سړیو تر منځ بېشماره دي
ځني سړي دي ځني چارپا دي

که فهم وکړې ستر گوته خس بس دئ
نعمت چه رد کا ورته مگس بس دئ
ایمان ډېر ښه دئ هم ډېر قوت لري
زوال ئې مه وه ورته وسوس بس دئ

گل ئې له مخه د خوبي انځور غواړي
خواږه ئې شهد له شونډُو پور غواړي
ډېر ئې په طور دَ شیخ صنعان کړه
سترگي ئې ښه ښه شیخان لا نور غواړي

که آدمزاد دئ په ښه صورت دئ
ښځي دَ سپیو په طبیعت دئ
ښې ئې ښې سپۍ دئ بدي ئې بدي
لا ترې بتري په خوي خصلت دئ

لکه ګټنه دَ مال هنر لَرِي
هسي خوړنه دَ مال هنر لَرِي
لکه بازَنه دَ مال هنر لَرِي
هسي ساتَنه دَ مال هنر لَرِي

لکه پرئ یوه سرئ
په مخ مهوشه عنبر څرئ
هار ئې پغاړه دَ سرو ګلونو
بخت کړه له ما سَرَه غاره غړئ

لیلي مجنون ته وې په بیابان تښې
ولي له خلقه یې هسي ګښُي
ویې ما څه پوښتې مګر تا نزده
تا یم له خلقه ګښُي پریښي

لکه په ونو باندِي خزان راشي
پیري هم هسي پخپل آوان راشي
خزان دَ ونو خوبي تاراج کا
پیري هم هسي په زیان دَ ځان راشي

له طبیبانو عالم دوا غواړي
له درویشانو خلق دعا خواړي
خدایه دَ هیچا محتاج ئې مکړه
هر څوک له نورُو خوشحال له تا غواړي

لوګي که هر څو دَ اور فرزند دئ
کار ئې وَ هر چا وته څرګند دئ
چه نور ئې نشته اور به باله نشِي
څه شو که پورته په باد بلند دَي

له شېره شېر زېږي له ګرګه ګرګ زېږي
له بازه باز وي له چرګه چرګ زېږي
هر څوک خپل اصل وته رجوع کا
خطا که نه وِي له بزرګه بزرګ زېږي

لوئي په خداي ښائي يو ذوالجلال دئ
څو ورته خواست کړې هونبره حلال دئ
دا نور خواستونه واړه حرام دي
که لږ و ډېر دِ وَ چا ته سوال دئ

لعل له کانه په بدخشان کښي
لو لو له بحره په لوي عمان کښي
په ځګر خون خېژِي دا دواړه توکه
که فکر وکا سړی پښان کښي

لکه کتوه په لمبو يشي
ځما دنَنه په زړه هغه شي
له چا به څه لَره مانه پزړه لرم
خوږ يم دَ خپلو ترکو په غشي

لاس مي كه هر څو په دنيا ښخ دئ
نه چه دولت مي دَ غاړي مخ دئ
زه ئې مېړه يم دنيا مي ژگه[۱] ده
زړه مي په هر څه وربانددي يخ دئ

لكه په تا كښې شته نشته په چا كښې
نه په كانونو نه په دريا كښې
درېغه خوشحاله ختټكه درېغه
چه تل به نه وې پدا دنيا كښې

لرگي چه و توږي هاله ترې تير شي
په ښكر هنر وكړي هاله زهگير شي
تر درس چه ووزي علم حاصل كا
تر سر چه تېر شي سَرِي امير شي

لگړ كه هر څو تر باز تيز پر دئ
په هَرَه چار كښې دَ باز نفر دئ
كوتړه كه هر څو تر تازي ښه زغلي
بيا خو په قدر تر تازي كمتر دئ

لوئي په خداي ښائي يو هسي لوي به وي
په ورَځ دَ حشر چه گفتگوي به وي

۱. نكاه شوې ښځه.

دَ نورو پاڼيو په شست و شوي به وي
غم به دَ ځان نکا امتي جوي به وي

لبان دِ نه دِي آبحيات دِي
آبحيات دِي صفوت صفات دِي
چا چه نوشلي هغه يَو ځاځکي
په هغه ځاځکي ديدن دَ ذات دِي

لکه چه ډېر دِي نيک بخت عاقل وي
بويه لوئي مي اوس يَو په سل وي
دېرش دِي که څو دِي دريغه ارمان دي
په هونبره زويو کښ يَو دوه قابل وي

مۀ کړه قابل شه چه څوک قابل شِي
دَ بخت و ستوريو ته مقابل شي
قابل چه نه وِي دولت که بيا مومي
بقا ئې نه وِي حال ئې څه بل شي

مۀ په هنر کړه هنر په کار دئ
مور پلار به څو کړي هنر مور پلار دئ
فخر په زر مکړه په ښه پدر مکړه
فخر په دا کړه که هنر دِ يار دئ

مزري خپل ږغ لري ګيدړ خپل ږغ لري
هر يَو دَ خپلي چاري دغدغ لري
ګداي د خپلي جونګرئ غم کا
بادشاه دَ ملک دَ حشم يرغ لري

مردان هغه دِي چه همت ناک وي
دَ ننګ په کار کښ چست و چالاک وي
کار چه آغاز کا انجام ئې فرض ګڼې
په زړه هم پاک وِي پخوله هم پاک وي

ملوک چه عدل، عقل، کرم لري
اندوه ئې کم وِي له چا څه غم لري
چه دا ئې نه وِي دَ ځان غليم دي
ځان به پخپله عالم ته ګرم لري

مرد څو غيرت لري هونبره بهتر دئ
څو صداقت لَري هونبره بهتر دئ
څو جنګيالَي وِي څو ننګيالَي وِي
څو سخاوت لَري هونبره بهتر دئ

مېړه هغه دَئ چه صبرناک وِي
دور انديشي لَري په لَمن پاک وي
چه دا ئې نه وِي په سر ئې خاوري
ګنده ئې عمر ګنده ئې ژواک وي

مېلمه په تاو راغي په لاس کښې تيږې
اول ئې غوښت[1] غوښتل اوس سپيني وريږې
دا هم لا پرېږده وَ آس ته گوره
کورې غوړې غواړې اوربشې وېږې

موړ هم هغه گڼه چه زړه ئې موړ وي
سترگې مړې لري که زوړ که ووړ وي
که ډېر دولت لَرِي چه طمعَ خواست کا
دَ گدائئِ وَ کار ته جوړ وي

مينه په هر چا چه دَ څه دَ پاره شِي
بقا ئې نه وِي زرکاره کاره شي
په حقاني وي مقصود هيڅ نلري
دَ هغې مينې به تل نندارہ شي

معشوقه کومه چه طربناکه وِي
ناز و نياز لَرِي په حسن پاکه وِي
نه دروغجنه نه قهر جنه وِي
نه بد خوراکه نه بد پوشاکه وي

مگر چه کښل کا دا کاتبان دي
واړه خوشخط کښې سَرَه يکسان دي

---

۱. يعني برېښ.

ځني مشکښي کښ ځني کنجکي
دَ چا تر دُرو حرفو نه گران دي

ملا په علم په کتاب نازېږي
حاجي دَ حج په ثواب نازېږي
غازي دَ توري په باب نازېږي
خوشحال په فضل دَ وهاب نازېږي

مهينه توره څو رنگ تمام وړي
ځني ئې گېډه يا يو اندام وړي
ځني مخ واړوي نوغي وَ نکا
دَ هغو تورو ناحق څوک نام وړي

مؤمن هغه دَئ چه جوړ يقين لري
وېره له خدايه اندوه دَ دين لري
بار دَ هر چا وړي خپل بار پچا نړدي
ښه ئې کردار وي ښه همنشين لري

مزري چه ډېر گوري ترس دِ ترې کم شي
چه درته غوړنب وَهي پځان دِ غم شي
واوري وهَلي اژدر خوړل نکا
چه نمو ئې تود کا هاله ستم شي

مرد به غیور وِي مرد به صبور وي
هم به په عفو په کرم مشهور وي
نامرد هغه دَي په حقیقت کښ
چه دا څو توک ئې له دله دور وِي

مردي دِ هیڅ ده که په زړه شېر نه یې
څخو خو وَښَه که زړه ور ډېر نه یې
تر سر چه تېر شې وېره هیڅ نه وي
وېره دِ هونبره ده چه تر سر تېر نه یې

موږه طوطیان یُو په بڼ راغلي
گلونه گورو کښلي ښاغلي
څو مو قسمت وِي پکښ به اوسو
بیا به ترې درومو زړُونه داغلي

مرگ وي هم رنځ وي هم ناتواني وي
عمر په غم کښ په پرېشاني وي
دَ ښو ښو جونو دَ دیدن دَپاره
یا سل یا دوه سوه کاله ځواني وي

مېړه دِ توره ورکره وفا لري
ښځه دِ حسن شرم حیا لري
نوري پوښتني ور ځني مه کړه
هر څه به ښه لري هغه چه دا لري

مکړه نادانه دَ نکړو کار دئ
دا چه پرې خېژي غاښي دشوار دئ
خود کمزوري زبون ليده شي
چه دِ پريښي دا هونبره بار دئ

مزري پخپله ما ته نظر لري
له بله د ده کله حذر لري
ګيدړ چه ښکار کا دَ شلانډو ملانډو
خوري ئې له ترسه نظر لربر لري

مقبول دَ خلقو په غم کښې ډوب وي
مقبول چه نه وي هر ګوره خوب وي
چه نيست ئې ځان کړ له عيبه خلاص شول
چه ځان ئې هست کړ هغه معيوب وي

مينه چه تېره دَ سړي تر هډه شي
درومي دننه په ماغزه کښې ګډه شي
دَ هغې ميني زوال هر ګز نه وي
دَ هډ دَپاسه پساعت ډډه شي

مؤمن هغه دئ چه ترس دَ خداي لري
چه ترس دَ خداي لري زړه دِ پځاي لري
مؤمن دِ غم نکا دَ ګناهونو
چه ګناهونه دَ شيطان په راي لري

مَلک دَ کلي چه دَ چا سپک وي
دَ کلي مال به ئې ښځې هلک خورِي
تل چه په کور کښې مېرمن نابوده وي
پيہ ئې پيشو خټمي غله ئې مږک وړي

منت دَ خداي ښه دَئ نه دَ وگړي
دَ خټکي نه دَ يوه زړي
که مست سنډگان دي بار به دَ چا نه وړي
غوايه تر بار لاندِي پرېږده چه رخړي

موږه مزري يو په ښکار راغلي
دَ ښکار غمونو زړونه داغلي
چه بخت ئې بد وِي ښکار ئې هم بد وي
ښه ښه ښکارونه کا په بخت ښاغلي

مغل پښتون سَرَه په پيچ و تاب دي
چه پښتانه گورم خانه خراب دي
ښه ښه ځوانان شته په پښتانه کښې
چه لاس ئې نه رسي خانه خراب دي

ملا هر گوره په ځان مغرور يې
بحث جدل کړې په هر چا سور يې
زه دِ دنَنه په حال خبر يم
ځما په پوهه يَو تش تنبور يې

نامرد به گرزي دَ پلار په نام پسي
ځوانمرد به گرزي پخپل صمصام پسي
دولت مخ څټ لري څټ ئې په نورو وي
مخ دَ دولت دئ په نیک فرجام پسي

نن بیا خپل بخت ته ځما تسلیم دئ
خورم به اوسم فال مي دَ میم دئ
چه درد و غم کښ ځما غلیم دئ
را آلوتلي دَ نصرت نسیم دئ

نصرت هورې وي هورې چه شخوند شي
دولت هورې وي چه کار په سند شي
په وخت دَ پیني[1] لستوڼي ډېر غړي
په وخت دَ توري که ښکاره مړوند شي

مردان هغه دِي چه همت ناک وي
په هَرَه چار کښ چست و چالاک وي
که غم پرې راشي پروا دَ غم نکا
خوارِه له هر چا په زیست په ژواک وي

نظر که وکړې اوُه آسمانه دي
اوُه آسمانه دي اوُه جهانه دي

---

۱. پینل یعني پخول پختن.

اسرار ئې هيڅا مونډلي نه دي
خبري ډېري په څو څو شانه دي

نه به په بيارته ځما ځواني راشي
نه به بيا دَور شاه جهاني راشي
يو زوي مي نشته دېرش دي که خو دي
چه بد پده کښې ځما خاني راشي

نفس و شيطان سَرَه يَو تين وجود دي
په دوه صورته سَرَه نمود دي
دواړه مردود دي په شريعت کښې
چه د مردود مني هغه مردود دي

نن په نظر راغله يَوَه ترئَ
زنه ئې سيب وه شونډې نرئَ
بله به نه وي هسي دلبره
نه په خشکې نه په تريَ

ناکس هغه دَئ چه اصل بد لري
دَ نيک خواهانو نصيحت رد لري
دَ حق دارانو دَ حق پروا نکا
آدم ليده شي خصلت دَ دد لري

نوکر ژوندي نه دئ کار ئې دَ مړه وي
خپل زړه ئې نه وي دَ صاحب په زړه وي
چه ورته حکم دَ خپل صاحب وي
که هر څو ګران دي هم ئې په وړه وي

ناست په ګلزار کښ يار په کنار کښي
باده ګردانه مطرب پکار کښي
دا حال چه زه لرم پخپل ديار کښي
بادشاه ئې نه لري په هندو بار کښي

نن ډېر نېکخواه وي سبا بد خواه شي
نن ډېر ګمراه وي سبا په راه شي
زړونه په حکم دَ کردګار دي
قضا ته ګوري چه څوک آګاه شي

نه به ځما غُندِي بل ننګيالَي راشي
نه به ځما غُندِي بل جنګيالي راشي
خټک لا پرېږده په درست افغان کښ
عجب که هسِي فرهنګيالي راشي

نه ئې حساب شته نه ئې څه شمار دي
خلق دَ طمع له لاسه خوار دي
سړی به څه وايې ماهي مرغونه
په دام چه بند شي د طمع کار دي

ناکس دِ وخوري دَ سترګو کسي
دا نادانان دِ وګړي کسِي
لعل ګوهر پرېږدِي له خپله لاسه
په لاس مشکني کنجکي نيسي

ني چه واهه شي وايې عذاب دئ
چه غيبتونه کړې مګر ثواب دئ
غيبت تر زنانه تېرَي يادېږي
نَي منع شَوي په کوم کتاب دئ

ناز به دِ زه وړم چه يار ځما يې
چه بد دِ ښه ګڼم ځو راته وايې
غمه هيڅ مه درومه ځما له ځانه
چه ته ځما سرَه ځنډن آشنا يې

نظر دَ هر چا پخپل بهبود دئ
په زړه دَ هر چا خپل خپل مقصود دئ
هر يَو په زېرمه دَ خپل وجود دئ
هر ځوک هغه کا چه خپل ئې سود دئ

نن مي و ځان ته دا نصيحت دئ
اميد پزړه کښې ګنده زحمت دئ
اميد چه پرې کړې له غمه خلاص شې
دَ ياس په ملک کښې عجب راحت دئ

نن شپه مي تللي له دله زنګ دئ
دَ شاه په زلفو مي وهَلَي چنګ دئ
تمامه شپه ئې په سينه پروت وم
راپوري واړه دَ زعفرانو رنګ دئ

نياز دَ بې نيازو سَرَه دَ کړونه دئ
دَ بېدردانو منت دَ ورونه دئ
طباخ که خوږ وي چه جوته شوي وي
که مرې له لوږي هم دَ خوړونه دئ

نومي پرې نه يښ فراق په کام کښي
سترِي مرغه يم نښتي پدام کښي
دَ خوښي جام مي هسي نسکور شو
چه څاڅکي پاتو نشو په جام کښي

ناسته ولاړي دِ په خرخښې دِي
ډېري فتنې دِ په سترګو کښې دي
په زړه مي واړه لکه مرهم لګي
د تا ناسازي تر سازو ښې دي

واړه مستان دِي چه مخ زېبا لَرِي
دَ خپلو تورو سترګو صهبا لَرِي
باور ئې هيچري په وعده نه بويه
په خوله به تل تل سبا سبا لَرِي

واده څوک مه کانړيَ واده بلا دئ
غصې ئې ډېري دي غم ئې والا دئ
چه دَ عيال په زنځير بندي شول
تر هره بنده دا بند بلا دئ

وجود په مثل دَ ګبينه دئ
ځواني ئې څه ده لکه خواږه دئ
خواږه چه ولاړ شي پاتو ئې ژاوله شي
قدر دَ ژاولي بې خوږو څه دئ

وايي د خوني شاهتير دِ وُل لري
کوږ دئ تنکي دئ لنډ دئ خلل لري
زه هم پوهېږم دَ زلزلې ده
تکيه دا خونه دَ عزو جل لري

وخت به دَ ژمي وي که وخت دَ ووړي
چه به را واغندِي دَ مرګ خرڅوړي
ما به په تورو خاورو کښ واچوِي
پکښ به پرېوزم زه بوډي بوړي

وَيل له باغه شي له راغه څه وايي
صفت دَ ګل شي اغزي څوک څه ستايي
رانځه زيب نکا په ړندو سترګو
که ناز کا ناز په بدرنګو نه ښايي

واده څوک مه کانږي ودونه غم دي
دَ دي غمونه له عمره سم دي
سخ دَ هغو دئ چه لونډان دي
په غم نیولي دَ یوه دم دئ

وایي په زړه دِ غمونه څونبره دي
څو دِ ناسازي را سَرَه هونبره دي
هر چه مَیَن شي ځما په پوهه
دَ قهر ولي مزري ږونبره دي

واده دِ هر هر پسرلي هر کال وي
ښځه دِ ځوانه آس دِ نیم زال وي
دا واړه توکه دَ دولتمنو دي
ځني دِ تښتي څوک چه کنګال وي

وفا به هیچري له کمذاته نه مومې
که همه عمر په زړه دَ ده درومې
ټپوس به باز نشي زاغ به طوطي نشي
په تربیت ئې که بوعلي مومې

وخت دَ زوړوالي دئ دَ ځوانئ نه دئ
که دِ دَ ځوان په یارئ زړه دئ
جور و جفا وړه ورته نفر اوسه
دا کار په عشق کښ ور سَرَه ښه دئ

ورته حيران شم که دانايئ دئ
دَ جنسَ جنسَ چه آشنايئ دئ
هر څوک چه خپل اصل سَرَه وصلت لري
له بله اصله ئې جدايئ دئ

وايې صوفي شه صوفي دِ ته شې
درومه نا اهل شپږ[١] سو سپيته شې
که يار ساقي دئ عمر باقي دئ
لا به د ميو ښېښې کړم تشې

واړه غلط دي څوک چه خپل ځان ستائي
کبر لوئي کا پرېشان پرېشان وائي
که هر څو لوي شي سړی بيا خاوري دئ
خوشحاله کبر لوئي په خداي ښايي

ونه به ولي تازه ولاړه وي
چه ويخ ئې نه وِي خوبي ئې ولاړه وي
اوبه باد خاوري ورلَره بويه
ويخ ئې قائم شي چه دا څه واړوي

هر څوک پخپله وعده قضا وژني
ومړي فنا شي نه ئې بيا بيا وژني

---

١. محشي ورته ليکي يعني خس يې، ځکه چه خس په حساب د ابجد (٦٦٠) دئ.

څو څو مرګونه را باندِي راغله
دَ يار بېلتون مي تر مرګ پخوا وژني

هغه چه کاندِي عزم کشۍ
هغه به مومي ډېري خوښۍ
خاوري شه خاوري چه ګل لتا کېږي
اور به دَر بل شي په آتشۍ

هغه چه عهد قول پيمان لري
پرې مي سلام دَي دين و ايمان لري
څوک چه دَ دين دَ ايمان سامان لري
ارمان ئې کومه دي چه به ارمان لري

هغه چه کبر خود پرسيِ لري
خداي دَي چه هونبره بالا پستي لري
کامل به هيچېري بل راي دَ زړه نکا
اشيا دَ خداي په هستي هستي لري

هغه محبوبي واړه فائقي دِي
چه په پاکي په عفت شائقي دِي
څه شو که مچ په شکوو وَګرزي
شکري کله دَ مچ لايقي دِي

هغه چه خداي بولي په هر هر ځاي دي
ځني کرگس دي ځني هماي دي
چه سري بوټي خوري هغه گرکس دي
چه وچ هډُونه خوري هغه هماي دي

همت چه لوي لري کشال ئې کم وِي
ښاد وِي آزاد وِي شاه عالم وِي
چه دُون همت وي خسيس ممسک وِي
که مال ئې ډېر دَي نصيب ئې غم وِي

هغه چه مخ لرِي خوړې وربشې واخلي
په وېش چه سر شي بخري ښې ښې واخلي
هغه چه نه کَري په وړيو گرزي
هغه چه وکرِي هغه رېشې واخلي

هندکي چه هيڅ دئ په بهار درومي
خواري له خپله شامته مومي
يَو ئې وفا نشته بل ئې حيا نشته
بل ئې خواږه ځي دَ خواست تر کومي

هغه چه توري دَ بري په وخت وهِي
هغه ئې واړه دَ بل په بخت وهِي
سپاهيان دَ طمعِ دَ خپل مقصود وِي
دَ تنگڅې توريَ ښبنتن دَ تخت وهِي

هغه چه مخ کا په خود کامیِ
پرې به ور درومي بې آرامیَ
رند یم اوباش یم عاشق قلاش یم
اندوه مي نشته دَ بد نامیَ

هنر چه نلَري که مي پسر دئ
چه څوک ئې یاد کا درد مي دَ سر دئ
چه بېگانه وِي چه یگانه وي
یا مي لېمه دَي یا مي ځګر دئ

هغه مزري ندئ هغه کفتار دئ
چه بل غم نلري غم ئې دَ غار دئ
چه ئې له ماتي ګیدړ هم وازدي خوري
که ښه دئ ښه خو دَ مزریو ښکار دئ

هوښیار به هر کله زمانه ساز وي
په دانائي به ئې دَ کار آغاز وي
نادان به هیچېري پدا خبر نه وِي
په هر هر کار به ئې بې ځایه راز وي

هوښیار به هر چېري په زړه ډرن وي
په جنګ چه ورشي نور به تورزن وي
نادان به تورو وته هوس کا
چه توري وبرېښي نور به ریخن وي

هاتي ته گوره حال ئې معلوم دئ
څلور ئې پښې دِي يو ئې خرطوم دئ
که يَو ئې نه وِي پدا پنځه کښ
که هست و مست دئ نيست دئ معدوم دئ

هسي بل هم گڼې لکه چه ته يې
هر څوک به ښه گڼې په ځان که ښه يې
که ته مؤمن يې هر څوک مؤمن گڼې
هر څوک کافر گڼې که کافر ته يې!

هر چه دَ تورو زلفو مېرمني دي
په تورو ږيرو باندي ميَنې دي
دَ سپينو ږيرو بلا په دويو شه
ولي له واره په زړه عمجنَې دي

هغه چه شرم دَ خاصو عامو دي
که زويه وروڼه دَ نيک فرجامو دي
دَ مړو په رنگ شه په مزکه ړنگ شه
چه بد نام کړوني دَ ښو نېکنامو دي

هوښيار غليم به په خوله جنگ غواړي
ډېر به تر جنگه په آشتي وياړي
عمر خو يَو دئ چه په غم درومي
دا هسي عمر دِ وبا ونغاړي

هوښيار به هر کله فهم په دم لَرِي
نظر په عين پخپل قدم لَرِي
دم غنيمت گڼه په هيڅ مغرور مشه
که دلگير کښېنې اسمان څه غم لري

هغه چه نمونځ نکا که دِ خپل پلار دئ
ادب ئې هيڅ مکړه په دين کښ خوار دئ
پرېږده چه ومري زړه سوي پرې نه بويه
که په فاقه کښ ليل و نهار دئ

هوښيار به نه وِي چه احمق ته پند وائي
خوړې خبري خرونو ته نه ښائي
خواږه دَ خرو نه دِي دَ آدم دي
چه ئې خوراک زده چه ئې مزه ستائي

هندو چه بت وته هسي نسکور دئ
مؤمن مخ يښي دَ کعبې په لور دئ
دا دواړه توکه رسم و عادت دئ
اوده عالمه! مطلب څه نور دئ

هوښيار به چشت و چالاک بيدار وي
په هرَه چاره به ژر خبر دار وي
ډېر به عمل لري، لږ ئې خبري
په هر زمان به ئې نظر پکار وي

هوښيار به هيچېري له ځانه خوښ نه وي
پخپل دانش به فضول سرکښ نه وي
چه ديرينه وِي چه تجربې لري
په کار و بار به دَ هغو بې اش نه وي

هنر په دوې ورځي ښکاره دَ کس شي
عيب ئې ورو ورو ښکاره پس پس شي
يو شان مرغۍ نشي دَ سړي له ځالي
ورځني باز او کارگان کرگس شي

هغه چه قول قرار متين لري
دولت دَ دين دَ دنيا قرين لري
چه دا ئې نه وِي نور څه ئې مه گوره
که ښې ښې چاري دَ دنيا دَ دين لري

هاتي چه وَمرِي بوي ئې پيدا شي
په لاري تلوني چه څوک پرې راشي
پوزه نيولې ځني تېريږي
خلاصي ئې نه وِي يوه بلا شي

هنر جوهر راوړه دَ لوئۍ ستوري
که دا دِ نشته ته يې کمزوري
هسي به اوسې که عقل هوښ لرې
چه د خندا نشې کاسه نسکوري

هوښيار به نه وِي چه نادان ته پند وائِي
خره ته خبره دَ قند و خوند وائِي
په هر هر ټوکي کښيده نه کيږي
ولي به هر چا ته پند خردمند وائي

هوښيار به هر چېري محتاج دَ پند وي
پند په ده باندي بهتر تر قند وي
نادان به هيچېري دَ پند پروا نکا
پند به په ده باندي د حنظل خوند وي

هنر چه نه لَري که دِ پسر دئ
سړی ئې مه بوله يَو گاَو خر دئ
که هر څو زور لرې که هر څو زر لرې
تر دا همه واړه بهتر هنر دئ

هغه استاد گڼه چه درته څه ښئي
کشر هم مشر وي چه درته ښه ښئي
په سپينه ږيره به ئې منت لرم
که ووړکي راشي راته څه وښئي

هوښيار به هيچېري بې پنده نه وي
کار او گفتار به ئې بې خونده نه وي
چه عقل نه لري بد نفس بې شرم وي
فکر ئې هيچېري بې شخونده نه وي

همیش به هیڅوک په دنیا نه وي
په وار په وار به ورځني تله وي
مرغونه راشي په باغ کښې کښېني
بیا ئې دَ باغه نه الوته وي

هر یو تر بله بهتر ځان خپل ګڼي
نشته چه ځان به کهتر تر بل ګڼي
په خپل خپل عقل هر څوک غره وي
په هره چاره کښې خپل ځان عاقل ګڼي

یو تور بورا دئ بل تور جعل دئ
قسمت دَ دواړو سرَه بېل بل دئ
بورا په بوي دَ ګلو نو پائي
تل و ګندګۍ ته جعل اړل دئ

یار دَ خوشحال دئ خوشحال دَ یار دئ
که وفا دار دئ که جفا کار دئ
دَ عاشقانو چه څه اسرار دئ
دَ رقیبانو باندِي څه کار دئ

یار که څه یار وِي له ځوانه زوړ ښه دئ
تل به دِ نیاز وړي و نیاز ته جوړ ښه دئ
بل فکر نشته دَ سوات په ملک کښې
که زوړ که ځوان وي تر وړي موړ ښه دئ

یو څه خارښ دئ چه هویدا شي
په څو څو رنګه سَرَه شیدا شي
عیب تر شا کا په لېونتوب کښې
دَ دوو په منځ کښې دریم پیدا شي

یا ښه ځوانان دئ یا ښه اسان دئ
چه ورته ګران شي مشکل آسان دئ
دَ چا چه نه وِي دا دواړه توکه
عیب ئې مه کړه که هر اسان دئ

یَو چه مَین شي دَ بل پر رخه وي
چه سَرَه بېل شي باندي ئې سخه وي
ګل که ښه نه وَي بلبل به څه کاوه
مینه په هر څه د څه دمخه وي

یَو مست دَ میو څو پیمانې لري
بل دَ جائفلو یو څو دانې لري
خبر په حال دَ مستانو نه دئ
دَ خپلي چاري سل افسانې لري

یار به دَ یار په یارۍ ویاړي
په هَرَه چار به ئې ښېګړه غواړي
که یار ئې خاندي دئ به هم خاندي
که یار ئې ژاړي دئ به هم ژاړي

یو لوي تر غرونو فکر را پېښ دئ
نه پلار نه زویه نه دَ چا خوېښ دئ
زر ګناهونه په استغفار بخښي
دا خداي هوښیار دي نه چه یو هېښ دئ

یار ئې په مهر په محبت شي
بکښ له پسه هنر حکمت شي
چه نه ئې دا وِي نه ئې هغه وي
آخر په دواړه لوریه زحمت شي

یاغي بازونه یو یو باز دار نیسي
څه چرګي نه دِي چه ئې هر خوار نیسي
دَ هري چاري اسباب پیدا کړه
افسون دِ زده کا هغه چه مار نیسي

یو دئ چه هر کله حلوا شیرینه خوري
بل دئ چه تل تل اوګره جوینه خوري
په مرګ به دواړه سَرَه یَو رنګه وي
دَ ګور چمجۍ به ئې غوښي په مینه خوري

۷۳۸

یار مي دَ سپږو تر منځ اوُم دئ[۱]
چه څوک ئې نه ستايي په حسن ګرم دئ
چه را ښکاره شِي په ما رُڼا شِي
چه مخ ئې نه وينم په ما تور تم دئ

---

۱. يعني په اوو ستوروکښ چه شپږ نور سيارات دِي، اُوم زما يار دَي چه هغه نو لمر دئ.

(٤)

قطعات
او
متفرقات

څلورَم ټوک
قطعات او متفرقات

جگي جگي نفسه ډېر در پسي ولاړم
ته هم څه خو اوس په ما پسي روان شه

چه دِ وي هغه خواږه و تا در کړه
دَ تروو دَ ترخو هم مزه چشان شه

ډېر مي ستا په رضا خوب تر ځاښته کړي
اوس راضي له ما په خوب کښ تر اذان شه

زه څلوېښت کاله لتا سرَه کافر وم
ته له ما سرَه څو ورځي مسلمان شه

حميده مي دِ بدل به ذميمه کړل
څه فساد دِ په ما وکړ کور دِ وران شه

په هرور دِ لکه سپي و درَولم
له دېِ تگه پويه منعه يَو زمان شه

په يوه خاطِر مي زر انديښني ټولي
دا همه شوميت دَ تا دَي ورک دِ ځان شه

پيماني دِ دَ هوا ځما په لاس کړې
واړه باد پرې پيمايم سوړ دِ دکان شه

کله ما وته وَيل مال و ملک کړې
چه عزت په مال و ملک کښ دي پوهان شه

هر چه پلار نيکه دِ کړي هغه کار کړه
دَ ناموس دَ ننگ پکار کښ نامي ځوان شه

کله ما وته ويل د خان او مير کړې
چه ورځه له خان او ميره همزبان شه

که دروغ دَي که رشتيا ورته ئې وايه
مسخره غنُدِي د ده سرَه خندان شه

کله ما وته وَيل کړې چه خدمت کړه
پخدمت کښ دلنشين دَ شاهجهان شه

حق ناحق خونونه کړه دا مسلمانو
پهر شان ئې خوارَوه باندي حريزان شه

کله ما وته وَيل کړې هر څه پرېږده
په جمال دَ ښو محبوبو نگران شه

په هر لوري درته کښېنوه پښنگ کښ
بهره مند ئې له صحبته په هر شان شه

کله ما وته په ياد تازي تُرکي کړې
چه دَ ښکار په هوا سپور په عراقيان شه

په صحرا ئې زغلوه هوا هوس کړه
دَ بازونو ښکار کوَه غره پځان شه

کله ما ورته وَيل دَ گل ولاي کړې
چه باني دَ عمارت باغ و بستان شه

که په مزدکه په بېگار ځايونه ساز کړه
په کښ ناست اوسه صاحب دَ ښه مکان شه

کله ما وته وَيل زري جامې کړې
چه زريني جامې آغونده رخشان شه

په حشمت دَ زلوچو دَ پاسه کښېنه
په دغه کار کښ يا فرعون يا هامان شه

مطربان دِ سرودونه درته کاندي
ته يې خوښ پصوت او غاړه په الحان شه

کله ما وته وَيل کړې شعر ښه دي
سخندانو سرَه کښېنه سخندان شه

دا شماره ډېره مجمل دَه چه مي ووې   مفصل ئې ته پخپله ترجمان شه
هر چه ته و ما ته وايې هغه کار کړم   ولي کوم په کښ حاصل دي خود گويان شه
زه چه ستا په رضا درومم سود مي کُوم دي   چه به ستا په رضا درومي سود ئې زيان شه
آواره دِ په خوښي دَ اماره کړم   له دې هسي بده خويه لړ پښېمان شه
چه دا هسي بېحسابه فرمايش کړې   پدا هسي فرمايش څه خو نادان شه
وازه کړې دِ دَ آز دَ حرص خوله ده   ستا مي مات دا قناعت په سنگ دندان شه
دَ غفلت په گَهواره کښ فراغت کړې   خداي پرېکړلي دِ د گهوارې رېسمان شه
ستا لښکرو مي پزړه ده ميشته کړې   دا لښکر دِ په تېره توره طوفان شه
که قدم په نفس کښېږدې اې خوشحاله
نور ته هاله دَ دې دوو کونو سلطان شه

په هيڅ رنگ به دَ عالم له خولې خلاص نشې   که په خوي کښ له فرښتو شې برابر
په خواني کښ که تقويٰ کړې دا به وائي   له هَوَسه وَووت خاوري ئې په سر
په پيري کښ که هَوَس کړې دا به وائي   چه په سپينه ږېره څه کا گيدي خر
له خبرُو که خوله ونيسې خاموش شې   نوم به زر کښېږدي پتا دَ غوبل ستور
که خوله پرانزې هر چا ته دا به وائي   چه گړبېږي ماغزه نلَري دَ سر
که له خلق گوښه گير شې دا به وائي   چه ځان روغ په خلق نه ويني مگر
که هر چا لَره ور درومې دا به وائي   چه سبا په بېگاه گرزي ور په ور
که دنيا ډېره گټې پځان ئې نخورې   دَ شوم نوم به پتا کښېږدي خپل پسر
که په هر چا لوسته کړې دَ خپلو زرو   دا به وائي چه د غلا ئې دِي دا زر
که توانگر شې د قارون په نام باله شې   بې شعور کم بخت باله شِي نا تونگر
که ښې ښې خبري وکړې پځواب کښ   وائي څه حرامزاده دي لنډور
که ځواب و چا ته نه وَرکړې سرکوز کړې   وائي هيڅ ندَي غولولَي بې هنر
که په توره مړَني شې گڼهَ وې ئې   ليوني جاهل دِ بولي هم ابتر
که له جنگه په ستنه اوسې وار گورې   وائي ځان ساتِي نامرد دي نه زړه ور
که زربفت ميلک آغوندې تکليف کړې   وائي دا دَ ښځو خوي دئ نه دَ نر
که ساده جامې آغوندې درته وائي   چه دَ شوم او دَ ممسک دي هسي چر
که سفر دَ هر ديار کړې درته وايي   چه حرص ئې گرزوي په هره لير
که په کور کښېنې هيڅ لوري وته نه ځې   وائي کښيناست پخپل کور لکه دختر

که لوندۀ گرزې واده ته هَوَس نکړې بیا دِ بولي حیز نامرد مُرده ذکر
که واده وکړې بیا دا درباندي وائي آزاده ښه نه وُ شو په بلا سر
دا څه زر دا هسې رنگ ملامت نور شته که ئې کښم درته به ساز کړم یو دفتر
خداي لا هم ځنې خلاص ندي که ئې گورې چه ترسا ئې دَ عیسي بولي پدر
زه او ته دَ چا په یاد په څه شمار یُو دَ عالم له خولې خلاص نه وُ پیغامبر
نیت له هر چا سَرَه ښه لَره خوشحاله
په هر کار کښې دَ سړي دئ نیت رهبر

چه صرفه کاندِي په سر یا صرفه کاندِي په زر
نه به خان نه به سلطان شي نه به خپل کاندي کشور
چه په ځان مَرَني نه وي مړنتوب نکا لښکر
یا تخت دَي یا تخته ده دَ شاهانو ځاي مقر
که ئې گورې ژوندون دئ په جهان تر مرگ بتر

قسمت څو چاري را وکړې نندارہ دَ درست جهان شوم
نه گناه نه مي تقصیر وُ دَ بادشاه په بند زندان شوم
عالمگیر چه په تخت کښیناست له قرانَ په قران شوم
له بگرامه پښې تَړَلي هندوستان لَره روان شوم
په دهلي په رنتهبور کښې درې څلور کاله حیران شوم
په آگره کښې مي پښې وا شوې بیا نوکر دَ بد سلطان شوم
دَ شجاع په شور ور شر کښې خپل وطن وته روان شوم
زړه مي درست سَرَه داغ داغ دئ په تلاښ ئې دَ درمان شوم
لنگرکوټ مغلو ساز کړ زه په ننگه دَ افغان شوم
که یوسف وُ که مندړ وُ زه دَ دواړو نگهبان شوم
دَ ایمل فتور اغاز شو دَ مهمندو همعنان شوم
د مغلو مي بلا شوه غر په غر په کوهستان شوم
خپل اولس مي مغلي شو نا امید له خاندان شوم
شوم بهرام مي دَ ځان غم شو زه هم غم دَ ده د ځان شوم
پڅو کاله دا شورش وُ په ملکونو سرگردان شوم

که اولس مي بېګانه وي　　په هر کام به زه کامران شوم
سَمَه سوات په یوسفزئي　　دَ هر چا کَره مهمان شوم
فضولي را کړله نشي　　څو همت په هسي شان شوم
په ټوله دَ یوسفزئي　　مظفر په هر میدان شوم
بیا مي سوات سمي ته شا کړه　　پخپل غره پخپل مکان شوم
نا خلف مي مخالف شو　　زه دَ ده پکار حیران شوم
په شامت دَ ده تر اوسه　　درته څه وایم څه شان شوم
په ګنُبت چه خټک ومړل　　یا چه زه زخمي پښان شوم
یا چه راغلم چوتري ته　　شاهزاده لره روان شوم
یا چه ناست په نطارمپور وم　　دَ هر کام به په ارمان شوم
چوتري دي څو بولاق دي　　نندارچي ئې دَ زبان شوم
که مي زور لکه دَ فیل دئ　　و هر چا وته تاتوان شوم
د همه شامت دَ ده دئ　　چه محتاج دَ آب و نان شوم
که مي خپل دئ که پردي دئ　　زه له واړه په افغان شوم
و هر چا وته لښکر یم　　ناخلف وته کاروان شوم
دَي لښکر را پسي بیائي　　زه له ده نه ګریزان شوم
ناخلف را پسي سر دئ　　زه په کوه په بیابان شوم
چه کوکب مي یاري نکا　　پدا څه که کوکب دان شوم
چه مي کار شو له نادانو　　که هوښیار وم هم نادان شوم
چه مي بد زوول له ځانه　　خود پخود بلا دَ ځان شوم
دا څه چرغ څه ئې ګردش دئ　　ګول په چارو د آسمان شوم
زر څلور اویا هجرت وُ　　هغه کال چه بندیوان شوم
اوس زر نوي کال دَ هجرت دئ　　چه باني د دې بیان شوم
هغه زه هغه مي زړه دئ　　په کالونو که کلان شوم
که مي بخت که مي لښکر دئ　　لا پخته په امتحان شوم
څو د به دَئ هسي ګردش کا　　چه په کام دَ دښمنان شوم
که مي آړوي له هوډه　　نه یم مرد که ترې ترحان شوم
واړه وشول شپاړس کاله　　چه پدا طور پرېشان شوم
په آته شپیته کښ زه یم　　پسرلي تېر شو پخزان شوم

دا هم هيڅ که پدا عمر — دَ آسمان په سود و زيان شوم
زيان ئې هم راته آسان دئ — چه له سودَ ئې پښيمان شوم
ځواني لاړه پيري راغله — برمنډ گل دَ گلستان شوم
که مي غاښ نشته پخوله کښ — مست هاتي يم بې دندان شوم
لکه نمر په وخت دَ عصر — په هر کار هسي ناتوان شوم
اوس نور غم را سَرَه نشته — خو په غم د عابدخان شوم
څو چه کام دَ ده دَ زړه دئ — که مامران شي زه کامران شوم
که مي دا مقصود حاصل شي
گڼه سر دَ سَرَه ځوان شوم

که پادشاه دَ درست جهان شي په تخت گښيني — ترس به کا دَ پادشاهي له زوال نه
که لوئي دَ سکندر وه خو بيا هيڅ شوه — که قصه شي دَ يوسف له ښه جمال نه
څو سکندره څو يوسف نه درته ياد کا — که خبر واخلې له نمره له هلال نه
که جمشيد وُ که کسري وُ که خسرو وُ — واړه وکړله وداع له ملک و مال نه
دَ شاهانو کپرئ دئ خاوري ندي — چه پراته دِي وکړه سوال له هر سفال نه
دا قحبه که په رنگ ښه ده خوي ئې گوره — جدائي ورځني ښه ده دَ وصال نه
که لقمان که افلاطون وُ واړه تېر شول — چه ئې داد ورکړ دَ عقل قيل و قال نه
هر کمال سَرَه زوال عاقلان ويني — ځکه تښتي دَ دنيا له هر کمال نه
دَ دنيا عيشونه واړه درگذر دي — غواړه عيش دَ عقبيٰ دَ زوالجلال نه
عاقلان که دَ دنيا په حال خبر شي — ژر به غواړي خپل خلاصي د دې جنجال نه
که طوعًا ده که کرهًا پدا هفتاد کښ — ما رخصت وکړ دَ ملک مال منال نه
دَ ايمانه سَرَه مرگ عظيم نعمت دئ — خدايه دا نعمت اوس ژر ورکړه خوشحال نه
که خوشحال به پدنيا لرې څو کاله — سکه بهرام به ته تېر نکړې تر سبړ کال نه
بد قرين لکه دوږخ دَئ پدنيا کښ — ما ئې خلاص کړه له عذابه له وبال نه
هر سړی که په دنيا کښ ژوندي گرزي — خلاص به نه وي دَ دنيا دَ ملک و مال نه
په حيات صورت هر گوره ډېر ضرور شي — لاس وکښنه دَ دنيا دَ ملک و مال نه
هر ساعت پما يَو حال دئ چه تېرېږي — چه جدا يم له اطفاله له عيال نه
خپل پردي مي څوک و نه ليدل رښتيني
چه خبر شوم دَ وگړي دَ احوال نه

یَو هسي ستوري وَخوت پدا بده زمانه   چه گز ئې دَ لمبه غنُدِي تر خوله ځي زبانه
عالم وائي چه نخښه دَ وبا دئ یا د قحط   زه دا وایم چه نه دَ قیامت ده نښانه
قیامت دا هسي رنگ نه وِي نور څه وي   چه زوي ئې بادشاهي کاپلار ئې ناست بندیخانه
دا کال مي پحساب کښې پوره عین غین هې[1] وُ   پخپله به پرې پوه شي چه سړی وي فرزانه

دَ عالم په جفا هیڅ خبر دار نه وم   نیک و بد و ما ته دواړه وفا دار وو
لکه کوڼ سړی په ډېرو نارو آروي   دا یُو اوس دَ نیک و بد و جفا آر وو
چه مي گل گڼل همه واړه اغزي وو   چه دارو مي گڼل کل واړه پرهار وو
چه همیش به ئې ځما په سر دعا کړه   چه مي ولیدل همه واړه مکار وو
بیوفا یارانو واړو راته شا کړه   ښه چه واړه لما ولاړل په څه کار وو
په زرگونو کښې مي یو سَړی بیا نموند   چه ئې ما سَرَه یاري کړه بیا کنار وو
که دَ عمر بقا نشته ساعت نیژدې دي   څوک دِ هیڅ ښادي و نکا خود به وار وو
سلم و تور غنُدِي فلک هسي پرې نښول   ډېر نا اهل دَکردار له لاسه خوار وو
چه کفران ئې دَ نعمت کاوه لیدل مي   فضیحت رسوا په خلق خوار زار وو
دې روزگار دَ هغو واړو کار تمام کړ   څوک چه ما حواله کړي په روزگار وو
آرویدل مي په غلط غلط حکمونه   روستائي قاضي دوه مله سَرَه په دار وو
هیڅ حکیم به ئې دَ رنځ علاج و نکا   دَ هر چا چه خپل خویونه لړم مار وو
چه مي مله گڼل په دواړو جهانونو   هم هغه لما پدا جهان ویزار وو
ما ډېر ولیدَل دَ بام په سر ختلي   بیا دَ بام له سره کښته نگونسار وو

یاوه سړی هغه دئ   چه ئې عینِ نه وي په واک
صحبت په هفته بویه   که هر څو یې قوت ناک
وجود لکه مایه دئ   دا اُوبه ئې دي اوتاک[2]
څو غوړ وِي هونبره بل وي   څراغ بې غوړو وي هلاک
له ځوانو صحبت ښه دئ   له زړو دِ نشي ژواک
چه تېر شي تر پنځوسو   ډېر دخول دِ گڼې باک

---

۱. ۱۰۷۵.
۲. ادراک.

صحبت دِ کا په مني — يا په حوت يا په ويساک
په باغ کښې صحبت ښه دئ — چه بلبلي کا بلغاک
چه دا هوسناکي کا — تل دِ کا گرم خوراک
په عطر کښې دِ اوسي — ښه مهين دِ کا پوشاک
تودې اُوبه دِ تلَ وي — چه په غسل کا ځان پاک
دخول دَ حيض بد دَي — يا پر مي شي يا سوزاک
له پاکي دِ صحبت کا — دَ ناپاکي په سر خاک
که خورې فلاسفه[1] خوره — هم ئې باه شته هم امساک

دَ ما مشران زويه — چه ئې کار شو امتحان
اشرف خان هم کار فرما دئ — هم کار کُن دئ هم کاردان
سدو په کار پوهيږي — که کار کُن ندي په ځان
يحيىٰ وَکار ته زغلي — کار ويران کا په زمان
عابد خان په کار کامل دئ — کار فرما دئ په ښه شان
خالد خان پکار و بار کښې — کله ښه کله نادان
ښه زوي دَ بابا دل[2] دئ — تل دِ ژوي پجهان
په باز چه نظر وکړې — په کښې شته دَ مردئ شان
که خداي ئې راته پرېږدي — ذوالفقار دئ صدر خان
بهرام هم کار فرما دئ — هم کار کُن دئ زړه پرېشان
دا نور چه غټ واړه دي — واړه ښه کړه پاک سجان
پوره په اَويه راغلم — چه مي وُوې دا بيان
زر دو نوي دَ هجرت دي — گوره څه وکا آسمان

سره وَرغلل دوه غرونه — يَو مغل دويم پښتون
رنځ شدت ئې هسي نه دئ — چه څوک صاف کا خپل لړمون
خدايه ته دانا بينا يې — هم بېچون هم بېچگون

---

۱. يعني معجون فلاسفه.

۲. محشي ورته ليکي چه مطلب عبدالقادر دئ، چه دَ خان يَو اديب او شاعر زوي دي.

ته حکیم یې پرې پوهیږې — زه پرې نه پوهیږَم چون
واړه ستا په حکم کېږِي — که گنډون دَي که شلوون
دا غمونه ته توانیږې — که له ملکه شي بیرون
که بیرون نشي له ملکه — غم لرې پکښِ زرغون
که رودونه پار پرار وو — سږ دَ وینو دي جیحون

په هر حال شکر بایده دئ
تبه ښه ده نه طاعون

دَ خوشحال خټک دَ حال پوښتنه څه کړې — په درون کښِ ئې گرومونه دي ځگر
له وجوده ئې یو هسي څیز پیدا شو — چه په خوي تر خرس و خوگه دي بتر
په دروغ په بې شرمي په بد قولي کښِ — یا جهود دئ یا ترسا دئ یا کافر
په خست په بخل لا بده بلا دئ — یو درم په پېرزو نکا نه په پدر
خو یکلخته دَ خپل ځان په شیرازي دئ — شیرازي ئې پکار نه ده دَ پسر
په خست ئې څو زرگونه سره ټول کړه — لا هم هسي ور پسې دي گیدي خر
که دَ پلار خوني ئې مري پدوه روپیه — هغه دوه روپۍ به ځار نکا تر سر
دي په مثل لکه تروړي زري پوست شول — گوره څوک به ئې له تنه کا بدر
په وسواس په نامردي په وهم وبره — لا په زړه به وِي کیدږ تر ده زړه ور
پلار نیکه ته ئې نه خوي دئ نه ئې رنگ دئ — درست په خوي په بوي پیدا دئ دَ مادر
دَ مور پلار نیکه ئې واړه پدر کُش وو — دَ چارپایو دَ ددانو په سِیَر
دَ هر چیز رجوع وَاصل وته کېږي — په فرزند کښِ زیات دَ مور کېږي اثر

پنجشنبه مي وار پرې ساز شه — څه جمعه څه پنجشنبه
یکشنبه ته ئې پرې مږده — که ته مومې گنج شنبه

ارتینې پمثال گل دئ — گل تازه ښه دئ خوشحاله
تر شل کاله تازه گل ده — بده نه ده تر دېرش کاله
چه تر دېرش کاله زیاتیږي — پرېواته ئې دِئ له خیاله
چه دَ سر وېښته ئې سپین شي — نور ئې څه له خط و خاله
که درست ځان زرو زېور کا — سود ئې کوم دَئ له جماله

زوړ چه ښه جمال ته گوري — بیا ئې ځوان شِي له وصاله

چه مرگ شته په دنیا کښ — ښادي نشته په جهان
دَ خیال مېرمني جونه — دَ دماغ څښتن ځوانان
چه راشي هسي درومي — لکه گل دَ گلستان
تله دي له جهانه — په افسوس او په ارمان
موړ لَکه لاله یُو — پدا لږ عمر خندان
شمع ته نظر کړه — چه په څو ژاړي خپل ځان
بار تړه خوشحاله — دَ جرس آروې فغان

سخاوت او شجاعت سَره زیبا دي — بهادر به خالي نه وي له سخا
بهادر څخه چه خوي دَ سخا نه وِي — خرس او خوگ غُندِي ئې وگڼي دانا
خرس او خوگ که هَرَه ورَځ کاندي خونونه — خرس او خوگ څه مَړَني نه شو پدا
په سړیو سر آسان دئ زر پرې گران دئ — سر ښندِي دَ زرُو نکاندِي عطا
هغه هسي سر چه غوړ ور سَرَه نه وي — سر دَ خره دَي چه هیڅ نلَري بها
مېړنتوب دَ دانایانو په ښه رنگ دئ — نادانان دَ کشتن نلَرِي پروا
ځوانمردي په سر ښندل په زر ښندل ده — که ځوانمرد یې راوړه خوي دَ مرتضا
نه به مال دَ چا نقصان په ورکَول شي — نه به وَمرِي چه دَ چا نه وِي قضا
نامردانو ته دا دواړه توکه گران دي — ځوانمردان دِي پدا دواړه بې همتا
مه په حلق کښ دَ مزري دَ مار پرېوزه — مه ممسک شه مه مسرف زده کړه لما
ځوانمردان تر سر دَ ننگ دَ پاره تیر شِي — ترو سکه مال په کوم حساب دي د دنیا

مصلحت لکه ټوپک دَي — ستا مراد لکه نخجیر
که د ښه گذار پکار وِي — تر اول ئې کړه ښه ځیر
په گذار کښ هَول مکړه — په خپل ځان اوسه خبیر
نور ماشه کړه باندي کوزه — لر و بر مکړه نظیر
زه خوشحال خټک ضامن یم — که خطا دِ شِي یَو تیر
چه دَ مرگ اسباب پوره شو — هم دغه گڼه تقدیر

شیطان په مثل باد دئ   څوک به خلاص نه وي له باده
سړَي دَئ لکه بوټي   دا دنیا مي لار دَ باد ده
چه بیخ دَ وُني ټینګ وي   غم ئې هیڅ نه وِي له باده
چه بیخ ئې بر سېرن وي   خلاص به نه وِي له فساده
علم څو دَ سړی ډېر دئ   عطائي وي له اوستاده
که دا وُني دِي که بوټي   واړه ټینګ دِي له بنیاده

سېږکال چه دَ عواص[1] دي   په هر لور دِي تبجن ډېر
دَ مرګ تبي یَو څېر دي   دَ ژوندُون تبي بل څېر
تر میاشتي تبجن ورشي   لا تر مایشتي تېر و بېر
بخت ناک په دوه هفتې شي   تر فاني جهانه تېر
ژوندي وُ درویشت کاله   زلمي توب شو باندي زلېر
څو ښه کښلي مخوُنه   دِي تر تورو خاورو زېر
په رنګ دَ چنبې ګل و   چه ترې تېل شي دَ اجمېر
په خوبي لکه ملک و   په تقوي په طاعت ډېر
دَ پلار په زړه ئې مرګ دئ   لکه زخم دَ شمشېر
یو څه دَ بلا غم دئ   چه آسمان کړ را برسېر
که ډېر وُ نور غمونه   پدا غم شول واړه هېر
ارمان چه په دیدن ئې   مین نه شول واړه سېر
غلیم ئې که بادشاه وي   پلار ئې کړي باندِي پېر
چه وړ به ئې له ورونو   نه وُکار دَ شر زه شېر
دَ خداي سرَه جنګ نشي   که هر څوک وِي څوک دلېر

نیژدې راغي ساعت   چه په خاورُو شي صورت
بند په بند به سرَه بېل شِي   تر مرداري فضیحت
چمجي به پرې خُټکېږي   یا به هسي شِي لت پت
صفت دَ صدف مکړه   دَ ګوهر کوَه صفت

[1] ١٠٩٧.

گوهر هغه گوهر دَي
چه يگانه دَي په قيمت

لکه مست هاتي زنځير کا ترمي ترمي
چه په خوب کښ ور ښکاره شِي هندوستان
زه هم هسي تر تقوي تر زهد تېر شم
چه را ياد شِي دَ شرابو حريفان
ساقي نن دَ ميو جام راکړه وَ ما ته
څه شيخي دَه پدا هسي ګلستان
په طاعت به تر جنتَه څوک ور نشي
څو پرې فضل وکرم نه وِي دَ سجان

دا طالع څما څه اوس ندَي ځائي دَي
چه په چا باندِي مين شم دماغي شي
چه ترې مينه پُټوم هونبره اپلي کا
چه پرې مينه ښکاره وم هونبره ياغي شي
هغه زړه به فراغت آرام په څو کا
چه دَ کښلیو دَ جمال په خال داغي شي
په هجران ئې په سنګيږ ميشته د ما وي
په وصال دَ مهوشانو زړه باغي شي

غم په زړه کښ بد غليم دئ
څو توانېږي خواره وه يې
يا تېره توره را واخله
خوچه وِي همواره وه يې
يا غمخوار چرته پيدا کړه
ورته کښېنه ښکاره وه يې
يا فرياد فرياد فرياد کړه
ژاړه تار پتاره وه يې
يا خوشحال غُندِي زړه راوړه
ځاي ئې کړه انباره وه يې

يو بيان به درته وايم که ئې آروې
څما دا خبري نه دِي دروغجني
دَغلجيو جونه سپيٖ سَره يَو ځاي خوري
همګي واړه بد پوښي دِي سپېړني
دَ شيرزادو جونه بازي دَ سپين غره دي
په شنواريو کښ هم شته پکي پمني
فيروز خيلي اکا خيلي دَ صفت دي
نوري ځيږي خربېشيٖ دِي چمجني
د مغل د پښتانه دمه پرې کېږِي
دَ کوهاټ بنګښي مشه سترګ بېښي
په بنګښ کښ بهه خيلي بدي نه دي
نوري واړي خودنمائي دِي بيازمني
د توريو د ځائيو جوني ښې دي
بلا وا چه دِي له څيلمَي لوړ زني
که جدراڼي که وزيري که سارنکي
دا خو واړه نه سرِيٖ دِي نه جني
دَ هندکيو پحساب دي عيسي خيلي
دَ سنبلو جونه څه خو سر پيزني
دولت خيلي لوهاڼيٖ دِي لوي چاري
نوري واړه پوونده دِي غوشيَني

دَ شستکیو جونه سالي پښتنې دِي
خو په ژبه په پوشاک دي برسېرني
دَ ابدالو جونه واړه کډ بني دي
که تریني دِي دَ پښین دِي دَ ستایني
دَ دَوَړُو جونه واړه لکه باغ دي
کښیده پکښ ملیِ دي دَ ستني
د خټکو جونه واړه غوبني دي
خو یوائې اکوړخېلي دِي مېرمني
دَ مهمندو جونه سرې لکه ایماغ دي
کټه سري ورې سترگي پوزي پلني
په خیلیو کښ سکنۍ پیدا کېږي
هغه هم بدي بخیلي سر کودني
دَ اوزیِ جونه چینگي خولې حیراني
دَ واده په ورَځ ودېږي سر خیرني
څو صفت دَ ککیاڼیو جونو زه کړم
واه واه واه دا ککیاڼي په یار مَینَي
مهمن زي جونه واړه لکه خرې دي
دَ سړیو په شان روغي ځني ځني
چه په خویشکیو روهاڼیو باندي راشې
دا خو واړه د بغرې دِي دَ مېچني
بانده وړي پر ملیِ بېچاره دي
نه دَ خواښي دَ ځواب دي نه دَ بني
د لازاکو جونه پټ سپاهیان پرېباسي
چه په قهر غصه راشي قهرجني
چه په ملک دَ هزاره ترین مرین دي
د سنکړي جونه داغ کښېږدي په یني
په مندړو کښ خال خال چیري پیدا شي
نوري واړه کېډوَري دي پړس بني
دَ بونیر دَ جونو نوم پخوله واخله
دود آلو دِي غوړیالیِ زیړ بخنِي
اکوزیَ جونه واړه لکه باغ دِي
مولي زيِ پکښ شته دَ چندنِ وني
په آړهنگ پړهنگ کښ هم شته اتمان خیلي
دَ سړیو په جامې جامې ریمني
دَ صافیو جوني صافي په صورت دي
ولي ډېري په روزگار کښ دي خچني
خوگیاڼیِ واړه خوکي دَ صحرا دي
په نغري ناستي ډوډیِ وهي پلَني
په جهان تر لغمانیو نوري نشته
گنده بوي گنده بغلي مچ بیزني

په جهان کښ دَ زړه غوره دي درې توکه
یو بل هم ورسره شته دَي څلورم
یو ښه حسن بل ښه ځاي دریم ئې بوي دي
بیا سړې اوبه چه زړه شي پرې خورم

یا دا درې توکه ځما له دلِه واخله
یا ئې زر و ما ته راکړه لاس په لاس
اول ښه کُښلې محبوبه چه ئې گورم
دویم باز دَ مهورې دریم ښه آس

بې صبري که ډېره ځله
دا دَ بله مخه نه شي

زار ژړا مانې ډېر ځله
واړه مینه ده بیتله

ته له خپله لوریه ښه اوسه خوشحاله
که و مښکو ته څوک ووائي چه هیڅ دي

نور دِ سل رنگه خبري ما ته وائي
لاس په لاس به مښک خپل بوي ورته نمائي

چه مرې خو هسي ومره
مه مار شه مه لړم شه

چه څوک ټاپ در پسي وکا
چه پمرگ دِ څوک زړه ښه کا

یَو چه ډېر خوري سوگندونه
آشنائي ور سرَه مکړه

بل چه ډېر کاندِي پورُونه
دا بې پته دِي خویونه

چه مَین په وسله نه وي
لاس دِ سرَه کا سترگي توري

مرد دِ نه وائي خپل ځان ته
ځان دِ وجوړوي ځوان ته

مستظهر په عفو شوي
دا کار دَ مردي نه دئ

بیا پر خاش دَ انتقام
پرې پوهېږي خاص و عام

مسلمان وَیل رب رب کا
هر یوه وته چه گوري
دَ خوشحال خټک تسبیح دي

هندو وائي چه رام رام
دواړه بولي دَ خداي نام
زنار نشي و السلام

که بادشاه شي په تخت کښیني
که حشمت دولت ئې نه وِي

هم گداي گڼه طامع
هم بادشاه گڼه قانع

مخزن دَ درویزه دَ میان نور شیخي پیري
دا درې توکه ډېر قدر ډېر غزت لري په سوات کښ

الثَالث بالخیر دَ حمزه خاني میري
و خداي وته ښکاره دي وَیل نشي په ځیري

ځما له غېږه ترب لې   خو چه وکړه ببېري ور
دَ مور ترکُس دِ تېر شي   يار چه نوينه زړه ور

دَ زړه غلا په زړه کښې غم ده   لا په تېره دَ سردار
هر سردار چه پزړه غل شي   ځان رسوا کا خلق خوار

که نظر وکړم په کاڼي   سوي زړه به ترې اخراج کړم
ته ترکاڼی لا بتر يې   کم دليله څه علاج کړم

يَو صحت بل عقل دواړه   ته په دا کښې خوبي غواړه
چه دا دواړه توکه نه وي   نوره هَرَه خوبي ولاړه

يا هرگز مکړه له هيچا سَرَه بده   که ئې وکړې نه تر تلو تر ابده
چه دَ چا سَرَه دِ کار دَ نېکۍ وکړه   نور نېکي ور سَرَه تل بويه سرمده

که هندو دَ مسلمان سَرَه رفيق شي   په رښتيا کښې ئې روزگار په ښه طريق شي
په دروغ کښې مؤمنان سَرَه زيست نکا   چه دروغ ئې مکرر سَرَه تحقيق شي

کم دليل په سترگو ړُوند شه   لکه ړوند وِي په دوو سترگو
باز په کورکښې کښېنولې   گرزِي ښکار کاندي په چرگو

ځلبلاند در پسي زه يم   که ته نه بې ځلبلانده
څو به ما په ماڼي وژنې   پلَو ليرِي که وخانده

چه مړه دِي په وفا کښې   دَ هغو ترگور ځارېږه
ژوندي چه بې وفا دي   ته دعا کړه چه خوارېږه

چي مي وليده په سترگو   نور مي زړه ور پسي ولاړ
صحيح چه دَ زړه شهر   هم دا سترگي کا اوجاړ

لکه زه وینم په سترګو — لکه زه تړم په پند
نه بتر تر شانه بین یم — نه زبون تر ژاله بند

عقل زور صورت ښه دي — چه یاري مومي له بخته
چه له بخته یاري نه وي — اور ورولګه دَ وخته

شپږ اوه میاشتي په هند په خراسان — چرته ونشه په سم په غره باران
دَ اوبو دَ وښو ډېر کمامت وشو — ځاي پځاي شول دَ غلې نرخونه ګران
چه باران په جهان وشو پس له یاسه — فتح الباب وُ په تحویل دَ سرطان
دَ اسد تر نویشتمه ورَځ په ورَځ شِي — په باران سَرَه نهال شو درست جهان
پدا کال چه شاه عالم راغي له هنده — صلح وشوه دَ مغلو دَ افغان
دا سړ کال چه ئې تاریخ رحمت[1] تم دئ — په وګړي مبارک دَي په هر شان
یَو دا کار هر ګوره سخت پکښې پیدا شو — چه هلک پکښې نه ونیو شول طوفان
ډېر دَ موړ دَ خېلخانې هلکان ومړل — داغ دَ زړه دَئ عبدالله دَ یحیيٰ خان
په نیکنام پسي که زړه دَ رانې چَوِي
دَ بهاکو خاطر خوشحال شو په کامران

کښُي کښُي ځما ځان لَره بلا شول — چه پیدا دِي همګي ځما له ځانه
که پنځوس دِي که شپېته دِي داغ د زړه دي — یو څو لا پکښې آفت شول تر دا میانه
چه ئې ورځ و شپه پما باندِي یَوه کړه — درېغه درېغه جتې و بازو صدر خانه
څو ګردش دَ زمانې سَرَه څرخېږي — زنده سر به پاتو نشي بې حزیرانه
چه دِ زه له ښو یارانو نه جدا کړم — راته وایه سود دَکوم وشو آسمانه
په یرغ په مصلحت په پرینړ[2] نه ده — آسماني بلا پرېوزِي ناګهانه
چه همېش په یَوه حال دَئ هغه خداي دئ — په سړي باندي ورځي ګرانه آسانه
دَ سړیو حال که تل په یَوه شان وي — دَ سلیمان ګُتې به نه تلَه له سلیمانه

---

۱. ۱۰۸۸.
۲. پرینړ ته محشي په یوه قلمي نسخه کښې مصلحت ترجمه کښلې ده.

دَ دهلۍ تخت که تل په یوه کس وي		تل به نه وُ باندي بې شاه جهانه
هیڅ پدا خبره ځاي دَ بلي نشته		له فاني جهانه تلَل دِي له ارمانه

وَ عالم ته خوشحال زوړ زوي ئې ځوانان دئ		دَ زاړه بلا په سر دَ دیو ځوانانو
پلار ئې درسته ورځ په ښکار وژني آسونه		په پالکۍ کښې ځي په رنگ دَ رنځوارانو
که په شمار په حساب دېرشو ته نژدې دئ		همه واړه دِي پشمار دَ نامردانو
په یوه کښې هونبره کار برکت نشته		لکه کار دَ نام و ننگ دَي دَ خانانو
دا دَ کاڼي کاک د ما دَ عابد خان دئ		دَ مغل پلاو دَ نورُو فرزندانو
که دا هونبره نا خلف واړه خلف دي		نن به ما نوبت واهه دَ خسروانو
کم کُوترِي دَ لویو سپیو هنر آخلي		پیروي کا کشران دَ مشرانو
دَ دمړیو دَ کنجکو حساب غواړي		په لیکه په جوکه[1] خیر دِي تر هندوانو
پجهان کښې چه محنت دَئ یا راحت دئ		په وار وار واړه ورځي پملوکانو
که خزان دَئ که بهار دَ نور چا ندَي		دواړه توکه دِي دَ باغ دَ صاحبانو
دَ آسمان وَگرزېدو ته نندارە ده		گُندِي وي چه پېره بیا راوړي یارانو
فلیل څوه رانځه نُکریځي ورته پېري		مشاطې غُندي خدمت کا دَ زنانو
خوي دَ پلار دَ نیکه هیڅ ور څخه نشته		په خصلت دي همگي د پراچگانو

د محنت دَ مشقت دَ تالاښ ندِي
دَ راحت دَ فراغت دي دَ ریحانو

شپږ اووه پېړي د ما وگور ته ولاړې		همگي په وینو رنگ په تېغ ورژلي
اشرفخان[2] به یَو پرهار پځان وانخلي		نه دا نور دَ ده دَ موره چه زوولي
تر څلوېښتو کالو تېر شو لا تر اوسه		دوه تېره اَغزِي پرې نه دِي څرخېدلي
خو دَ پلار په نام ئې خوري چه مشران دي		نور دَ توري دَ کار ندِي داغولي
خو حسد بخل نفاق ئې دئ په بخره		کله لویو لویو چاره وته زغلي
اکوړي شهباز په دوي پوري بد نام شول		دَ پدر په خوي و بوي ندي راغلي
مگر مور دَ دُوي باز رنگه پلار ئې باز وُ		پآشیان وُ سَرَه وداړه ورغلي

---

۱. جوکه یعني تلل، وزن کول.

۲. بهرام خان.

هيڅ تاوده ساړه په ذم په مدح ندي
دا بې شرم مي څه لَړ نه دئ غندلي
دَ پلاو دَ دوپيازو نازو نعمت دئ
دَ چووې د ارکجي دِي سپين سپيڅلي
دَ صندوق دَ بخچکۍ په غم اخته دي
دَ روپۍ داديلي خبر آَخلي
روز نامۀ ئې چه حاصل خاطر نشاط شي
بيا هاله ئې سترگي پټې شي څملي
دَ بکرۍ نه بخري پنړ پيدا کا
دَ بتي بخري ندِي چا ليدلي
حقيقت ور څخه نه تقليد دَ پلار کا
چه تر پلار تر نيکه موږ يو خوړېدلي
نه ئې مټ وي په غليم نه ئې فيروز وِي
که زرگونه ور سَرَه وِي سواره پلي
دَ دنيا به حرص غرق وِي سر تر پايه
په پدر په برادر نه دِي تړلي
د کلاغ غُندي غل خوري څانگونه هسک کا
چه څانگونه مي له غلو دي ساتلي

زه دَ غينې د لاسه چا وته فرياد کړم
نمونځ د ما له لاسه ووزي چه کُس ياد کړم
پدرست کال په مخ ناولي کُس ته پروت وم
په حيرت شم چه په ياد هغه فساد کړم
ځوانۍ حال مي ندي چه مي وَوې
دا خبره دَ پيرۍ دَ هفتاد کړم
له پرديو مي توبه واړه پخپلو
دَ ځوانۍ حال به هم درته پياد کړم
کله لس کله زيات کم کله تر شلو
دَ دخول وَيل و چا وَته تعداد کړم
چه ملا به بانگ نماز وې ما به کُس غو
دَ روژې په ښه ثواب به ئې ناښاد کړم
نه په حيض نه په نفاس لما څوک خلاص وه
څه دَ غينې ناسازي چاري په فرياد کړم
ورَځ و شپه راته مخ څټ وې لس پنځلس
گوي مگوي وَيل لړ ندي که ئې ياد کړم
په څوانۍ کښې مي کار لکه دَ ددَ وُ
په پيرۍ کښې خداي څخو آدمزاد کړم
چه مي غينې دا هسي بد دَي گمان مکړه
ځکه خداي په ډېر اولاد کښې بد اولاد کړم
له ناپاکو نه ناپاک له پاکو پاک وي
زه دا نقل دَکتاب دَ خپل استاد کړم
که څوک شته چه ئې دَ زړه په غوږو آوري
مخسرې مذاق مي ندي دا ارشاد کړم

دَکُشتن دِي د زدن دِي دَ تاختن دِي
يو وُرُکزۍ بل بنگښ دريم بولاق
دَ وُرُکزۍ دَ بنگښ دَ بولاق نشته
يَو انصاف دويم حکمت بل اتفاق
خداي د ورک دَ پښتنو کا دا درې توکه
يَو بد جهل بل بد نيت دريم نفاق
سردارۍ لَره بويه دا درې توکه
يَو همت دوهمه توره بل اخلاق
څو دا زمکه دا آسمان شته دا به هم وي
يو روزگار دويم وصال دريم فراق

دَ مغلو حال هيڅ نشته که ئې نه وِي يو دولت دويم شوکت دريم وفاق
چه له قومه نا اميد شوم ځکه زه يم يَو بې ملکه بل دلگير دريم فراق
په بد قام دِ نن دما له لوريه تل وِي يَو نفرين دويم لعنت دريم طلاق
دَ تيراه په ملک چه راغلم دا مي بويه يَو ډېر عزم بل ايلاق دريم قشلاق
په صورت په تيراه ناست زړه مي په يوټ دئ
يَو په ذکر بل په ياد دريم مشتاق

حقيقت دَ يوسفزئ راته معلوم شو کار و بار به ئې ښکاره شِي پدوه رنگه
يا به کور په کور اخته شي په ميرڅيو يا به ملک وَ مغل ورکاندِي بې جنگه
خداي چه ورک کا ښه مړونه په اولس کښ پيښوِي هغه اولس وته بيا ننگه
اوس په درست اولس کښ ښه ملک عبدل دي که ئې ژر کا خداي څهره په مرگ بدرنگه
حمزه خان هغه چمندر دَئ په جلگو کښ وړاندِي ورستو پړي پرېکا که غرزنگه
د طالي ملکي تِته آئينه دَه چه څهره پکښ ليده شي رنگا رنگه
طالي چرگه نرښځي دي پديدن کښ لوي چارخويل لکه دَ چرگ په هويو کړنگه
الهداد لکه لمځي په جيفه گرزي دَ مرداري بوي ئې ځي له دواړه چنگه
مصريخان مندړ دَ غاړي ماهي آخلي سگ لاهو غُندِي ځان ژغوري له نهنگه
مصريخان مندړ پټ شخوند کِوي په وره کښ لکه پيغله جل په حيض کښ روژه ړنگه
نوم ئې څه دَکشرانو په خوله آخلم چه ئې واړه ملکان وينم بې ننگه
مختصره وينا دا دَ بارزار سپي دي په ډوډيو پسي درومي څو فرسنگه
بس دا هونبره نور څه مه وايه خوشحاله دَ ختېکو لښکر نلرې دَ څنگه
نه حميد شته نه کجي شته نه کاچو شته څه له نورو سَرَه سر وَهې له سنگه
که دَ سوات په هوا خوښ يې پکښ ښکار کړه اوکنه روځني تښته په فرسنگه
دَ بي بي په کور ئې ووري گټ گټ کاڼي چه دَ سوات زلمي ببلېږِي له پالنگه
لس به مله سَرَه و نه وينې په ننگ کښ
که درست ملک سره پره گړې تر تورسنگه

دَ اومو خاورو کندو دئ تا زيبا کړ په څو رنگه
عجب زړه دِ په کښ کيښ تا دانا کړ په څو رنگه

دَ ثنا ژنه د ورکړه
تا گویا کړ په څو رنگه
معرفت دِ پکښِ کیښ
تا آشنا کړ په څو رنگه

وخت دَ اورنگ شاه دئ
دَ هر چا تسپې په لاس دي
خداي ځني خبر دئ
په اخلاص که په لباس دي

په هر چا دَ سپیني ږیري حرمت ډېر دئ
خو په جونو قدر نشته دَ سپین ږېري
همگي واړه خریداري دي دَ مښکو
یَوَه نشه چه کا فور په بها پیري

تفاوت دَ خپل پرَدِي ور باندِي نشته
که ئې گورې اورنگ زېب بادشاه گمراه دئ
مستجاب غریب ئې ووژي په ظلم
دَ خوشحال منصب ئې واخست کوم گناه دئ
دَ منصب په اخسته څه دلگیر نشو
د خوشحال خاطر خوشحال دئ خداي گواه دئ
په منصب پوري خوشحال خټک نوکر و
چه منصب ور ځني ولاړ شه اوس بادشاه دئ
اوه میاشتي دِي چه لار دَ کابل بند شوه
حال احوال دَ خلایق واړه تباه دئ
دا لا څه په هندوستان توره تیاره دَه
په هر ځاي دَ ده دَ خویه بویه آه دئ
دَ اورنگ پادشاه په دور آرام نشته
چا وَیل چه جهان ځاي دَ آرامگاه دئ
لکه مخ دَ پاسه تور سیاه لیده شِي
اندرون ئې هغه هسي تور سیاه دئ
که زینت وته ئې گورې بویزید دَئ
که طاعت وته ئې گورې اهل الله دئ
دَ ده خیر واړه ده وته بخښلي
خو له شره به ئې ډار کا چه آگاه دئ

په ښادئ سره شریک دِي اولسونه
غم یواځي دَ خوشحال خټک دَ ځان دئ
چه په آن و آن په مزکه په آسمان دي
په غمونو په ښادیو کښ انسان دئ
دا یوه چمچه دَ ځان ویني بلا شوې
چه سرې سَرَه ئې غم په هر زمان دئ
دَ نامرد دَ مرد پدا تفاوت وشه
په نامرد شرم آسان شه پمرد گران دئ
مست هاتیان خوني مزري توري وکښلي
که د سر تر وېره تېر شِي کار آسان دئ
کشکي ته پډېر احتیاط همیشه پایې
په احتیاط احتیاط کښ ډېرعالم طوفان دئ
که دَ ځان که دَ ایمان بدخواه مي ډېر دِي
ما پخداي باندِي سپارلي ځان ایمان دئ

ننګيالي چه دَ اخلاص توره تر ملا کا
تر اوله تر آخره چه روزګار شته

ډېر لښکر ئې تر همت پوري کاروان دئ
چه عالم باندِي غوغا کا دا جهان دئ

اته ويشت لَرم زويه
نشته يَو دَ بل په رنګ

اشرف مي لايق زوي دئ
دربغه نه وَي پخوي پړنګ[1]

صدر د نور څه نه دئ
خو ئې غواړي په پالنګ

بهرام هغه خنزير دئ
چه لايق دي دَ تفنګ

خانان هغه شاهين دئ
چه ئې سرَه په وينو چنګ

باز پلاس دَ عظيم کام دئ
يا مزري دئ يا پلنګ

نظام وربښمين رومال دئ
پوري غوټه موتي بنګ

يحيي خالد دا واړه
بوالعجب لَرِي فرهنګ

په واړو کښ آزاد دئ
هم دَ روغي هم دَ جنګ

بخت ناک هغه زلمي دئ
نشته بل دَ ده په رنګ

مالو جلو دا دواړه
ژک ژوندي پمزکه رنګ

نور غشي اغزين دي
سر اغزي دَي يا خدرنګ

د ما پلار په ګور ئې نُور شه
يَو رښتني وُ هر ګوره

تل[2] دَ خپل غزت دَپاره
تېر تر سر وُ تېر تر کوره

دَ بادشاه زياتي ئې نه وړه
سر ئې خلاص نه وُ له شوره

تل پخيال دَ مرتوب وُ
څو چه وَرَغي تر ګوره

يا ګټل يا ئې بخښل وُ
چار ئې داوه نوه نوره

څرخ ئې زر دخل ئې يو سو
تل په خلاص نه وُ له پوره

بل په غشي کم خطا وُ
دَ ښکار مينه وه پر زوره

چه دَ ده زويه نمسي دئ
دا خويونه پکښ ګوره

که دَ خپل بابا پرنګ دئ
ښه زوولي دئ له موره

---

۱. محشي پرنګ ته منافق ترجمه کښلې ده، پيس او مبروص ته هم وائي.

۲. بل.

تر اوبه ئې حلم زيات وُ　　تېر په قهر وُ تر اوره
بل دَ دين پکار مَيَن وُ　　له دنيا نه ئې خوا توره
ناروا که ښاپېرۍ وې　　پرې ئې نه وه دَ تن سيوره

اورنګ چه عدل نکا　　ظالمي ئې کړه ښکاره
که خداي پدا راضي وي　　دَ خوشحال ترو څه چاره

پځواني چه پرهېزګار شي　　دَ جنت دَ بڼ طوطا دئ
پدا وخت کښې چه لر بر شي　　ندامت ورته زيبا دئ
په پيري کښې چه بدکار وي　　که ابليس غواړې هم دا دئ
په سړي کښې هر هر خوي شته　　چه په څو رنګه پيدا دئ
دَ فرښتو خصلت پکښې دي　　دَ شيطان پکښې ماوا دئ
په ښه خوي تر فرښتو ښه شي　　په بد تېر تر شيطان لا دئ
دَ فرښتو سرَه شماره دئ　　هغه کس چه تل پارسا دئ
چه ئې تل دَ بد و خوي دئ　　هغه کس تر شيطان لا دئ
که لږ بد کاندِي ډېر ښه دئ　　سړي توب باندِي روا دئ

نه دَ سوال په هنر پوه يم　　نه طالع لرم دَ پور
نه زاهد دَ شکرانو يم　　نه ملا يم زکوة خور
نه دهقان نه سوداګر يم　　نه حرفت لرم څه نور
ځاي ګهي لرم په سر کښې　　په ميرات دَ تورو شور
و هفتادو ته نيژدې شوم　　هر نعمت راځي په کور
که پکور راشي زر ګونه　　هسي درومي لور په لور
خپل روش به اوس نور نکړم　　که مي نور کړ مخ مي تور
که د ما تر لاسه راشِي　　خزانې دَ درست لاهور
تار پتار به ئې خپرې کړم　　ځان به نکړم دَ پېغور
زر دَ نوم دَپاره ښه دي　　هيڅ په کار نه دِي په ګور

سراي هر گوره بد ولد دئ چه په حال ئې شوم خبر
دېرش د ما لس دَ قاضي[1] دئ واړه يَو تر بَل بتر
مشران مي لا بلا دِي كشران دِي لا لچر
مصطفیٰ وته وگوره په بهرام وكړه نظر
چه دا هسي ځني زوول تو په پلار هم په مادر
زه پښان كښې كه سړی يم كوټه سپي مي شول پسر
قاضي خود لكه غځكي وُ له غځكي پيدا شو خر
ښه پټي غنم غنم كا بد پټي ئې كا جودر

پدا هم لا راضي من يم له آسمانه ننداره دَ اباسيند له مير كلانه
په تيراه پسوات په خوړه دربدر شوم بيا مي كوم لوري ته ته بيائې اسمانه
لكه گوي هسي پحكم دا چوگان يم درست وجود پرهار پرهار يم له چوگانه

ښه غزت ښه اعتبار ښه ئې زيست ښه ئې روزگار
دَ نادان بخره خواري ده عزت بخره دَ هوښيار
نادان هسي څه ښكاره كا چه خپل ځان كا خواروزار

كه څما ژبه پښتو ده په پښتو وايم خبري
يَو پښتون رانه ښكارېږي چه پرې پوه شي تژدې ليري
په خوږوالي كښې ئې فرق دئ ښه تر گوړو دِي شكري
گبينه لَرِي مچۍ ډنبكَي لري بنبري
له يوه دريا به خېژي مرغچيمي مرغلري
تفاوت ئې تر منځ ډېر دئ په قيمت دِي سَرَه ليري

جهانونه څه لَبږ ندي ته ئې نه وينې نادانه
گوره څو دِ هسي زمكي گوره څو هسي اسمانه
واړه ځاي دِي ستا په زړه كښې اې تر عرش لويه انسانه

---

١. محشي ليكي چه مطلب قاضي ولي محمد دَ خان معاصر دئ.

آئينه دَ زړه صيقل کړه   چه ئې ووينې اې جانه
که دِ دا ننداره وشي   جدا نه بې له سجانه

لکه موږ دَ رزق مشتاق يو   هسي رزق دَ موږ مشتاق دئ
که څله حرص دِ نه وِي   رزق به رسي خداي رزاق دئ

چه فاضل دَ زمانې دِي پرې به پوه شي   دَ خوشحال خټک دا شعر مزه ناک دئ
سګ مګس خو سګ مګس دئ نور به نشي   که هر څو آړوې کا واک کا واک دئ
پدا شان مرد دَ درم مرد دَ درم شي   که ئې وګورې پدا رنګي بيا کاک دئ

که جمال دئ که ډېر مال دي   که ډېر علم ښه نسب
دا په هر لوري لږ ندي   هنرُونه بوالعجب
که صفت کړې دَ ښه خوي کړه   په ښه خوي کوَه طرب
دَ ښه خوي منصب باقي دئ   باقي ندَي بل منصب

دوه سر کَښ لَرم پکور کښ   چه مي تل لَري په تبهَ
که هر څو ئې جلب نيسم   نه سهېږِي بې راتبهَ
دواړه پټ ندي څرګند دئ   يو ذکر دئ دويم ژبهَ
دا راتب غواړي دَ شعر   هغه کوزه عجائبهَ

دَ بهرام له حاله څه وايم وَ چا ته   حال دَ خپل زويه ښکاره دَي وَ بابا ته
هم فضول هم مزور هم مذبذب دئ   هم يکرنګ وَيل به نکاندي و چا ته
په يوه ذره کښ پاسه په اسمان شي   په يوه ذره کښ ځِي تحت الثرا ته
دَ خپل خوي په ګردابونو کښ غوټه خوري   دا عادت به ئې رد نشي تر مماته

په ځنګلو کښې چه ګرزي | په لګهيو[1] کښې چه پرزي
په اغزيو به خوږيږي | په ژور په لوړ به پرزي
وېره کا له غور کماني | په اسمان چه مرغه ورزي

و جاهل وته چه وايې | نيمه يږيره دِ شي چاله
و احمق ته چه وَيل کړې | درسته سپينه شي خوشحاله
چه جاهل درته څه وائي | ځواب ورکړه ځما لاله
چه احمق درته وَيل کا | ورته تف کړه بې مقاله
و جاهل وته اميد کړه | ګُندي واوړي له افعاله
له احمقه طمعَ پريکړه | نور به نشي په سل کاله
جاهل درومي په تور تم کښې | ځکه چار ئې ده محاله
په احمق باندِي ورځ شپه ده | و به نه وزي له اشکاله

يَوه ښه ديني عورته | خوښ صورته خوښ سيرته
بل ښه آس بله ښه توره | بله زغره پر قيمته
پجهان کښې دا پکار دِي | نور همه وهه په لتَه
که تر دا باتو څه نور شته | نشته بې له ښه نګهته
چه بهتر تر دا همه دي | نشته بې له عبادته

چه زر لرِي په کور کښې | هاله شِي ښه سرداري
درستي ئې بده چار ده | بده نده زرداري

دَ بنګښ په توره مات نه يم باور کړه | دَ کُښت پجنګ مي ماتې آسماني وه
نه بنګښ وُ نه ئې توره نه ئې زور وُ | د ميشکو د سينو شيطاني وه
چه و غره وته ئې تيښت وکړه بې جنګه | دَ ځيني تُنبه له ځايه نقصاني وه
چه مي ښه سواره دَ ځان د وړاندي نکړل | هم پدا سبب را پېښه پښيماني وه
چه مي تهول دَ وړاندي نه تلل په جلب کښې | همګي دَ حسن خيلو ناداني وه

---
۱. لګهٔ يعني خوړه مځکه.

سل رحمت دَ مهمنديو په تُنبه شه / چه دَ ديو چار لما سَرَه جاني وه
برتويو توري لرونه په وَهل کړې / په مردي دَ هر يوه جانفشاني وه
چه په توره ئې شيرخان پرېوست له آسه / په ميدان دَعا بدخان پهلواني وه
چه سردار دَ بنگښ پرېوت خټک مات شه / پدا هسي رنگي چاري حيراني وه
عابد خان چه په مردي راغَي له جنگه / و خپل پلار وَته ئې ښه ارمغاني وه
پړوکي پړوکي ئې دَ سر شالونه ولاړل / په سرو وينو ئې څهره ارغواني وه
لاس پلاس ئې انتقام دَ بابا واخيست / پدا کار باندِي سزا ثنا خواني وه
چه ئې جنگ پميدان کړه يَو څو سپاره وه / نور دَ واړو بخره تېښت تن آساني وه
دَ خټکو په سپرو باندي لعنت شه / په يوه جلو ئې تيښته ځان ځاني وه
چه اوله ماتې گډه په سپرو کړه / په سپرو کښ چار دَ جت دَ عثماني وه
ښه ځوانان چه دَ گُنبت پميدان ومړل / دا هر ځان پزړه کښ ننگه افغاني وه
همگي ځوانان د ما دَ زړه ارمان دي / په کښ بېله دَ عبدل تانده ځواني وه
دَ غليم سره په آس غاړه غړي شو / دَ عبدل دَ مړنتوب بخره کافي وه
ما دا هسي جنگ هر گز ليدلي نه و / څو مي عمر څو خټک څو مي خاني وه
ځوانان جنگ تمامه ورځ کا نه ماتېږي / په يَوه لحظه لمحه ماتې آني وه
نه په طمعَ په اميد نه شرم ترس وُ / دَ لښکر مي سر رښته الماني وه
يا لښکر دَ نام و ننگ وِي يا دَ زرو / ځما دا ټوله دَ ننگ نه وه ناني وه
همگي په يوه سير را سَرَه ټول وه / په يوه ساعت ئې ځکه پرېشاني وه
چه نه دين وِي نه دنيا جنگونه څوک کا / مگر سهله جانبازي جانستاني وه
چه په خواست او په ضرور سَرَه ټولېږي / دَ هغو لښکرو کله وداني وه
چه مي دا ځله غليم له ډکې خلاص شو / پرې يکباره دَ فلک مهرباني وه
لکه ښاړي چه و باز وته ځان ځير کا / هغه هسي دَ غليم پر افشاني وه
که زه روغ پځاي وَلاړ وَي غليم څه وُ / دَ پرهار په کار مي درسته ويراني وه
که طالع مي په ظاهر مدد وَ نکړ / توجه ئې په ما ډېره نهاني وه
زه دَ عمر دَ ښادئ دواړه اميد کړم / دَ غليم که مي څو ورځي ښادماني وه
دا څه مړه ځما ځوانان ندي پجنگ کښ / دا ځما دَ ننگ پکار کښ مهماني وه
که مي خپل که مي دښمن مري پدا کار کښ / په هر توکي مي حاصله کامراني وه
مخالف مي په دا کار کښ پاتو نشو / چه فاسده اندېښنه ئې وجداني وه
سل څلويښت ځوانان مي قتل پميدان شول / دَ اختر په عرفه کښ قرباني وه

دَ هجرت دَ کال غفو[1] ؤ پحساب کښ — په غره واوره وريدلې نيساني وه
چه بې زحمه له ميدانه ځي نامرد وِي — زه زخمي لاړم دَ ځان نگهباني وه
يَوه تېښته نامردي بله مردي وي — و دانا وته دا دواړه عياني وه
انتقام وته مي تېښت ؤ له ميدانه — نه مي ياده دَ دنيا زندگاني وه
تل خوني مزري هم جنگ کا هم ځان ژغوري — دَ مزري دَ تېښته څه بدگماني وه
پيغمبر چه له کافرو نه فرار کړ — وَ کافر ته ئې پزړه کښ تېغ راني وه
که ظفر که هزيمت بيا مي ميدان دئ — چه دَ پلار نيکه مي بخره ميداني وه
که ژوندَي په دنيا پايم خود به گورې — چه په تيغ مي څه وراني څه وداني وه
د خوشحال اختيار تر واړه بنگښ تير دي
که څه ننگه دَ ختېک دَ کرلاني وه

---

[1] .۱۰۸٦.

یا سردار لَره خپل عقل — یا زویر صاحب تدبیر
که هر څو ئې عقل ډېر وِي — بیا هم بویه ښه وزیر
که نه دا وِي نه هغه وِي — په ژوندُون ئې بویه ویر
ښه سردار لَره دوه کاره — دایم بویه په ضمیر
یَو دِ هسي رنګ بخښښ کا — چه پکښې نه وي تبذیر
چه بېځایه تربیت شي — دَ تبذیر لري نظیر
دَ تازي دِ تربیت کا — په کوټه دِ نشي خیر
باز دَ چرګ چوګ دَدانو دئ — ښه دِ پوه شي پدا ځیر
بل چه ننګ ته تیاري کا — په دښمن دِ شي خبیر
که لښکري یګانه وِي — بیا دِ کا دَ جنګ تدبیر
کله جنګ وَته هوس کا — چه آَشتي مومي بشیر
که په صلح کښ روزګار شي — څه حاجت دَ تېغ و تیر
پدنیا دِ سر ښندل شِي — هورته هم نشي تقصیر
که نه څوک نیسي ځان تېغ ته — نه شلغم دي نه پنیر
چه نیولي په عقرب کښ — نوي باز وِي بې نظیر
یاوه میر ښکار ئې مړ کا — وائي مړ شو په تقدیر

چه لاف وهِي دَ شعر — نن په دا دور دِي ډېر
خداي دِ نکا چه به وایم — حال دَ دویو تېر و بېر
څوک پاَوي څوک نیم پاوي دئ — قلندر پکښ نیم سېر
دَ موږه په حساب دئ — هیڅ مي ندي واصل هېر
بل دولت فقیر درېِ پاوه — زه ترې څو سر شاهي تېر
چه په سراي کښ به پیدا شي — پس له قرنه پوره سېر

پدا هونبره قباحت اشرف عاق نشو — چه بهرام دا هسي عاق شو څه حکمت دئ
چه و عقل ته دَ دواړُو نظر وکړې — پروت د دواړو په وجود کښ حماقت دئ
دَ بهرام تېري پدا دَي په بدي کښ — چه لړلي دَ دنیا په محبت دئ
خداي دِ دا علت نصیب دَ هیچا نکا — دَ دنیا محبت سر دَ هر علت دئ
لکه نیتَ دَ بهرام څه وُ هسي وشو — دَ سړي دَ چاري کل مدار په نیت دئ

پدا هسي وخت چه دَور دَ فساد دئ
پلار ناحقه دَ فرزند په تربيت دئ
چه خپل پلار شړي په تورو په لښکرو
پدا هسي زويو سل ځله لعنت دئ
که څوک شته چه په دا چارُو نظر وکا
ځاي دَ پند دَ نصيحت ځاي دَ عبرت دئ
زوي له پلاره نه وېزار شي پلار له زويه
قباحت دَئ قباحت دَئ قباحت دَئ

چه مي ښه به زړه کښې فهم فکر وکړ
احمقان راته ښکاره شول پخويونو
يَو هغه سړَی احمق بللي بويه
چه باور کا دَ غليم په سوگندونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه پاړو شي دَ لړمو دَ مارونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه په سپينه ږېره خيال کاندي دَ جونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه دَ ښځو سَرَه پاځي په جنگونه
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه دَ خسر کرَه به اوسي په کالونه
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه وېښته به تورَ وِي په خضابونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه بزرگانو سَرَه خير شي په جنگونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه يکلخت به اعتبار کا په تربرونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه په هر طبيب دارُوُ کا دَ رنځونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه به بې توري دعوا کا دَ ملکونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه به جنگ وته پرېکړي ځي تر ملونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه لوئي کا په لباس په کسوتونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه به دَئ غواړي لوئي په نسبونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه دَ تېښتو گمان ورک کا له مرَيونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه به مال دَ دنيا نخوري په کورونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه بدخواه سړَی به پرېږدي په رويونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه بې ځايه زغلوَل کا دَ آسونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه پيران به کښېنوي پخپلو خونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه بېحده تکلف کا په ځايونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه خبري کا په سترگو په لاسونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه به لوړي دَ سړَيُو په سرونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه دَ غوښتو کَر به کاندي به ډاگونو

بل هغه سړَي احمق بللي بويه　　چه به سود او سودا کاندي دَ بازونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه　　چه برمنډه کونه لانبي په سيندونو
بل هغه سړَي احمق بللي بويه
چه غوږ نکا دَ خوشحال پدا حرفونو

پرېږده کور او ودانيه راته څه ستايې ته ښځه　　سر دَ هغي ښې ښځي ووږ ووږ کړي په تښځه
نيک و بد به هر څوک فکر کا دا خپلې چاري　　فهم کړه خوشحاله که څوک بد درومي ته ښه ځه
که په مينه دَ صديق وَلاړ صادق يم　　هسي ما ګڼه په مهر دَ عمر
په عثمان باندي به څه وايم چه څو يم　　په هزار رنګه مَيَن يم په حيدر
محبت دَ خاندان لرم په زړه کښ　　دولس واړه امامان مي دِي بصر
پاکيزه سني مذهب يم نور څه نه يم　　چه مي نور څه ګڼي خاوري ئې په سر
رافضي خارجي دواړه توکه ښه دي　　دَ يوه سترګي په سيخ د بل ځګر
زه خوشحال چهار ياري يم خوښ له خدايه
چه سني راغلم په دين دَ پيغمبر

پڑړا ژړا سيلاب دئ يا درياب دئ　　قراري مکړه يَو دم ځاي د ژړا وُ
سترګو تاسو پشماره څاڅکي را توي کړه　　دَ نظام دَ آشنائِي درد خو دا وُ
دَ اورنګ په تفرقه کښ چه غوغا وه　　پارمان وَمړ له پلاره نه جدا وُ
خدايه وبخښې نظام ځاي ئې جنت کړې　　که دَ پلار په رضا شي ځني رضا وُ
په دريمه خور کښ ومړ کال غفوٰ[1] وُ
شپږويشت کاله ئې دَ عمر وُ برنا وُ

په نباس نه دئ چه راغلم　　په نظر راغله سارس
په بل لوري مي نظر کړ　　راته ږغ وکړ طاوس
ويې غم ښادي خوشحاله　　دواړه توکه دي ټس پس
پرون ورَځ دِ مخ په کروه　　نن دِ بيا په خپل اولس
حکايت شو ځني پاتو　　نه ماهي شته نه يو نس

---

۱. ۱۰۸۹.

آفرين دَي په انصاف دَ عالمگير — چه پدا هنر کښ نلَرِي نظير
نه په غله نه په رهزن نه په پاسبان دئ — څوک دِ وِي چه ئې کښېنوزِي په زنځير

مور زادِي کم عقل هيڅ نه هوښيارېږي — که په ياد لولي څلور واړه کتابه
که هزار زمي صابون ور باندي مږي — دَ تورِوالي رنگ به نه ځِي له غرابه
لکه رنگ چه دَ چا ښه شِي دَ چا بد شِي — عقل هم هسِي عطا دَه له وهابه

يَو تازه دولت مونډلي — بل ځواني دريم شراب
چه دا هسي کس حاکم شِي — عالمونه کا خراب
بهتر سړی هغه دئ — چه ئې هيڅ نکا ځواب
چه خلاص کړي خداي له بنده — اوس خوشحاله څه شتاب
اعدا دِ شرمنده شوه — لوي کرم وکړ وهاب
اشرف دِ پځاي کښښاست — خداي ئې تل لره کامياب
ته ناست ئې په آگره کښ — دا هم بويه په حساب
کړ ته گرزه يَو څو ورَځِي — سير څه وکا شهاب
خو دا درې دِي بله نشته — اوس آخر دَي پېچ و تاب
يا خواه ناخواه منصب دي — يا يو کنج پلاس کتاب
يا بږغ دَ سپيني توري — کوهستان مرجع مآب

دوه پرهاره ښه دِي پر لوئي دَ مرد و زن — يَو پرهار دَ غينې بل پرهار دَ غاښ پمخ
زه خو دا يم بند شوم اوس نه دا شته نه هغه — چه دواړه ورته جوړ وِي د هغو زلميو سخ

چه له خلقه ليري ووزې — و خالق ته نيژدې کېږې
زړه له وارو خلقو پرېکړه — ايمان دا دَي که پوهېږې

پس له بند دَي دا عزم — دَ خوشحال دَ خاطر جزم
يا نيولي مخ مکې ته — يا مغلو سرَه رزم
يا يو کنج دَ غره نيولي — نمونځ روژه دَ لوستو بزم

مولینا عبدالحکیم — دَ دنیا دَ دین حکیم
دَ جوګیانو وَګروه ته — په تعظیم وُ په تسلیم
چا انکار ور باندِي وکړ — ویې هیڅ نه یې فهیم
د هر چا سَرَه سلوک کړه — دا صراط دَئ مستقیم

چا په وخت دَ ځکندن ووې مجنون ته — وخت آخر دَي پزړه یاد لَره خپل خداي
ده وې زړه مي دَ لیلي په یادو ډک دئ — پکښ نشته دَي دَ نورو یاد و ځاي

ته لا اوس دَ الف بې سبق آخلې — ټکي هم په دورغجنو غشیو ولې
بیهوده لافي دَ کنز دَ قدوري کړې — په ناحقه دَګاوزو په ښکار زغلې

که د مکر مکارت شته — خود به وَ وینې خپل حال
را ښکاره دِي ستا مکرونه — را څرګند دِي ستا پېټال
ته ګرم نه یې په سیرونو — زه ګرم نه یم په مثقال

که ښې دِي خو فرښتې دي — چه نس نلَري خوشحاله
هر چه نس ئې و چا ورکړ — خلاص به نه وِي له جنجاله
چه هر څوک سَرَه ویزار کا — دا دنیا دَه بې مآله
که پخوا تر دا اخلاص وُ — اوس څه نشته بې ټېټاله
قیامت را نیژدې کېږِي — بد ترینه کال تر کاله
باور هیڅ نشته په زویه — وایم څه دَ بل له حاله
چه پخوله کلمه لولِي — زړه ئې درست په قهر ځاله
چه احوال دَ خلق دا دَي — ولي نه پاځې دجاله
یا خو تلي له زلق تشي — یا څه نکړي بې قتاله
که شیخان که عالمان دِي — نور څه ندِي بې له قاله

نن مي وکړه له استاده نه څو سوال — سر افراز ئې پځواب کړم دَ هر سوال
وېمي څوک دَئ چه همېش په یوَه حال دئ — وَیې تل په یَوه حال دَي ذوالجلال
وېمي څوک دَي چه همېش په بل بل حال دئ — ویې خوار بني آدم لَري دا حال

ویې سر دَ فراغت دي دا درې څیزه　　　تندرستي او ایمني دَ دنیا مال
ویمي کوم سَړی لایق دئ دَ یارۍ　　　ویې هر چه دروغ نلَرِي تړتال
ویمي ځوان دِ پځواني کښ کومه چار کا　　　ویې هر زمان دَ علم اشتغال
ویمي زوړ دِ په زوړوالي کښ کوم کار کا　　　ویې جوړ دِ کا له علمه خپل اعمال
ویمي کوم سَړی به تل وِي پحرمت کښ　　　ویې هر چه له چا نکاندي هیڅ سوال
ویمي طمع قطع نه بویه له چا نه　　　ویې هر چه ښه ئې اصل ښه خصال
ویمي څه دِي دَ دنیا دا ښې ښې چاري　　　ویې واړه افسانې دِي خواب و خیال
ویمي کوم بخت و جدل دئ چه تل ښه وي　　　ویې دا دَ علم بخت دَي جدال
ویمي کوم رښتیا چه ووائِي پرې سپک شِي　　　ویې خپل هنر چه وائِي دم درحال
ویمي کوم یو بې نوا ببلي بویه　　　ویې هر چه ئې پغاړه ډېر عیال
ویمي کوم سړی نیک بخت بللي بویه　　　ویې هر چه سخاوت کا په اموال
ویمي کوم سړی لایق دَئ دَ ستاینې　　　ویې هر چه په بخښلو شي خوشحال
ویمي خلاص به شم په څه له بده یاره　　　ویې تل ځني غوښتنه کړه دَ مال
ویمي ډار او ترس له کومه شخصه بویه　　　ویې هر چه ورته یَو حرام حلال
ویمي څه څیزونه گران پمرد تر ځان دئ　　　ویې دین او بل دانش دَئ دَ رجال
ویمي څه دئ چه دانش پرې ضائع کېږي　　　ویې لافې دا دروغو قیل و قال
ویمي لافې هوډ په څه تر سره کېږي　　　ویې زر بویه ځوانان بویه قتال
ویمي څه دئ چه نښان دَ ځوانمردي دئ　　　ویې عفوه په هنگام دَ استقلال
ویمي څه رنگه به والوزم آسمان ته　　　ویې دا شي دَ همت په پر و بال
ویمي کومه چار بهتره تر هر څه ده　　　ویې هر چه نیک عمل کړې نیک افعال
ویمي څه کړم چه محتاج دَ طبیب نشم　　　ویې لږ خوره لږ دخول کړه لږ مقال
ویمي څه کړم چه هر څوک په ما مین شي　　　ویې مه وایه دروغ مه کړه جنجال
ویمي چا سَرَه تدبیر کوَم په کار کښ　　　ویې هر چه رسېدلي تر کمال
ویمي چا سَرَه نیکي دَ کړلو نه ده　　　ویې هر چه ابلهان دِي غیر سال
ویمي کوم سړي دښمن بللي بویه　　　ویې هر چه په ښادي د شي ملال
ویمي چا سَرَه خویښي دوستي دَ کړو ده　　　ویې هر چه تر تا کوز لَرِي احوال
ویمي کوم سړی مؤمن بللي بویه　　　ویې هر چه راضي نه وِي به وبال
ویمي کومه چار جنت دَه پدنیا کښ　　　ویې ژگه چه هم ئې خوي وي هم جمال

وېمي څه دي دَ خوشحال خټک خبري
ويې واړه دُرِ گوهر دِي عقيق لال

که بد گناه څوک وکا ته گناه ورته معاف کړې
نښان دَ مردئ دا دئ چه زړه درست ور سَره صاف کړې
که بيا دِ بد پزړه وِي نور ناحق دَ مردئ لاف کړې

يا زه څه لېوني شوم يا دَ خلق روش نور شو
ځوانمرد په ځوانمردي کښ دَ هر چا دَ سترگو تور شو

زر په بده ورَځ پکار وِي هوښيار ځکه ساتي زر
دَ زر دار بلا په زرُو دَ نادار بلا په سر
چه سپر وِي گذار په سپر شي چه سپر نه وِي لاس شي سپر

په بهار کښ رنگارنگ تاروگي گوره چه په گلو را پيدا شي لور دَ لوره
خود بخود له يوه لوريه را پيدا شِي نه اثر دَ ديو له پلاره نه له موره
چه دا هسي رنگه حال په سترگو وينې پدويم ژوندُون څه شک کړې ځما وروره

دا څو ښيزه که ونخورې هم څربېږي پرېږ سړَی
چه ښه جمال ته گورې بل دانا سَرَه ناستي
ښه بوي جامې مهيني چه دَ جنگ راوړي بري

سرود هورته دَي روا چه نه غاو وِي نه غوغا
سامعان ئې صاحبدل وي نه ئې نفس وِي نه هوا
اوکه نه دا هسي نه وِي آرويدل ئی دِي خطا

دَ شرع حکم دوه دي يَو جواز دَي بل افضل
که مرد بې له جوازه وَ افضل ته وهه زغل
که دواړه سَرَه نه وي سړی نه يې ته بيتل

راشه وغږوه سترګي | دَ جهان ننداره ګوره
چه ښایست لَري په ستوريو | دَ آسمان ننداره ګوره
دَ دې خپل وجود په باغ کښ | په هر شان ننداره ګوره
چه هر ګل وته نظر کړې | دَ باغ وان ننداره ګوره

ما دَ خپل بابا هڅُونه پمږو پټ کړه | په هر هڅه به ئې شل مثل دي ما غوښتلي
که دَ چا له لاسه وَمرم ګمان مکړه | چه بهرام سدر به روغ کا دَ چا څلي
چه نه ننګ نه ئې غیرت پدا حیران شوم | چه خداي څه لَره پیدا کړه دا غوولي
چه حیات پدنیا ګرزي هم اموات دي | دَ ژوندیو نه مړه لږ نِدي زوولي

په خویونو کښ ډېر فرق دئ | که سړی پرې خبردار شي
څني هسي خوي آغاز کا | چه خپل هم څني وېزار شي
څني هسي خوي آغاز کا | چه پرَدِي ئې خدمتګار شي
که څوک خپل خصلت دَ ښو کا | تر سرو زرو به رویدار شي

خپل شاګرد وته طبیب دا نصیحت کړ | رنګ ئې ګوره چه رنځور دِ دارُو خوري
دَ هغه رنځور دارو کړه چه رغېږي | دَ هغه رنځور دارو مکړه چه مري

چا ته سهل نظر مل کړه | په هر سر کښ سِر دَ خداي شته
دَ مزري څخه که زور دَي | دَ لونبړي څخه راي شته
زیرکي دَ کارګه ګوره | کروفر که دَ هماي شته
هیڅ مکان ترې خالي ندي | په هر لوري کتخداي شته

دَ هر چا دَ زړه مرهم شه | که نیکان دِي که بدان
خپل عمل وته ئې پرېږده | ته به څه کړې تر دا میان

خو چه خوله کا سرَه وازه | حال دَ دواړو شي څرګند
که جاهل دَکوهستان دئ | که دَ شهر دانشمند

په وَيَل کښ يَو پرېشان ځي   بل ويَل کا بند په بند
دَ جاهل وَيَل خوند نکا   دَ دانا وَيَل کا خوند
د جاهل وَيَل سرکه دئ   دَ دانا وَيَل دي قند
خاموشي ور لره سود ده   که جاهل مي مني پند

په باران چه دداني دَ درست عالم ده   په باران سَرَه که خونه دَ چا ځاځي
د باران په وريدلو راضي نه وي   که دا نور عالم همه په باران پاځي
په هر څه کښ دَ سړي دا خپل غرض دې   چه پزړه کښ ئې جنبش دَکار را پاځي

خبر دار شه په ابدالو   که په وينښ دِي که په ناست دي
په حواس ئې زيست روزګار دئ   تر حواس وتلي ناست دئ

بې تا واړه ودانۍ دِي ورانۍ   درېغه درېغه بيا به را نشي ځوانۍ
په پېرۍ کښ فکرونه اندېښنې دي   چرته ته ولاړې دَ ځوانۍ نادانۍ

يوه بيړه[1] دوهم قهر   په سړی پرېباسي قهر
که څوک دا خويونه ورک کا   تل به خوښ اوسي په دهر
دا هر چا لَره بلا دي   لا ملوک لره دِي زهر

اندېښنه که په غره کښېږدې   غر به هم لکه وېښته کا
خوار سړَی ملامت ندي   که په غم کښ خان اوبه کا

د ملک او دَ دولت ښنتن خطا کا   چه به مخ نيسي په خمر په خمار
چه خداي پچا دَ چا حکم روان کا   څه اسان و سهل ندي دغه کار
که يوه پېښه دَګوډ ماته شِي په لارکښ   خداي به دَی پوښتي په ورځي دَ شمار

---

۱. راحت زاخيلي بيره په معنا دَ هجوم ليکي، مګر دلته ښه نه ور سَرَه لګېږي، حل غواړي.

و هغه وته په قهر نصيحت کړه
چه پخپله سروَ ملوني وته اوړد کا
چه په نرم نرمي پندونه بند کېږِي
هغه آس مي کله بند په کمند کيږِي

هر څوک د ِ خپل يُون کا
څوک چه خپل هنر بدل کا
که کارگه دَي که کوتره
خپله چار کا نِدي اوتره

ښه ده دا خبره
داد په خروارُونو کړه
که ئې پند کړې دَ خوشحال
حساب کړه په مثقال

په هَرَه چار کښ عقل قاضي کړه
دَ هَرِي چاري چه فتوا درکا
ورچني غواړه روايتؤنه
تر خوله وباسه هغه حرفونه

څلوېښت کاله کښ چيني شي
کودي منگي په ورَځي سل شي
پرې ښندلي شي درې سپيني
خود ئې قدر قيمت ويني

خوشحال خټک زوړ شو
د آسمان په دَور نَوړِي
چه ډېر کاله پرې تېر شِي
چا پرې گوته يښې نه دَه
په هر بازار چه ورشِي
عيب ئې کوم دئ گيدي خرو
بوي دَ مښکو دَ عنبرو
بوي لا ښه شِي دَ اگرو
دَ زوړوالي په گوهرو
قدر نه ځِي دَ سرو زرو

دَ سيالانو په جرگه د ناستي نکا
چه وَنه وَهي په دواړُو لاسو توره
چه تر سر و تر مال تېر نشي په عشق کښ
چه له سياله نه ئې ندِي خپل گټلي
چا ملکونه په ميراث ندِي موندلي
څوک دَ جونو په پالنگ نه دي ختلي

چه دَ بل قاضي مفتي د کتاب نه دئ
په سولي ئې کښېنوه په اور ئې سيخه
دَ خوشحال سبق له چا دَي له منصوره
انا الحق وينا به نشي ځني دوره

دَ جهان په حال اول خبردار نه وم — دا یم اوس په سپینه بڼېره خبر دار شوم
چه هر چا به راته لافي دَ یارئ کړې — په اخلاص به تر هغه سړی ځار ځار شوم
چه مي ولیدل چه واړه دَ پل زړه دي — دَ همه واړه جهانه نه وېزار شوم
چه مي یار دَئ یا قلم دَئ یا کتاب دئ — اوس له دې یارئ پاتو به ابصار شوم
د بازونو ښکار مي هم دمه دَ زړه وه — د نظر په کمي کم دَ باز په ښکار شوم
په طاعت په عبادت که څه حاصل وي — شکر دا چه وطاعت وته وزګار شوم
زه خوشحال خټک حیران یم نه پوهېږم — چه دَ څرخ دَ لاسه څه وم په څه شمار شوم
یو ستم دَ اورنګ زیب بله پیري شوه — پدا دوه توکه دا هسي خوار وزار شوم

که دَ زویو مي لښکر دي هیڅکاره دي
لا دَ دُوي له غمه هسي تار پتار شوم

تر هغه نه به بل بد پجهان نه وي — چه ته راز دَ زړه وَ ده ته کړې آغاز
دَئ د تا په کمي پاڅي ستا بدخواه ته — یکایک واړه بیان کا هغه راز
قیامت به چه جزا د خبل عمل وي — دواره لوریه به مخ تور وِي دَ غماز

په هر کار کښ مصلحت شته — که دَ سترګو اَړَول وي
نادان پرې نه پوهېږي — پرې پوهېږي چه عاقل وي
هر چه کار په مصلحت کا — هغه هر کله خوشدل وي
کار چه کا بې مصلحته — په غمونو کښ خښ تل وي
فرض واجب سنت شته نفل — مراتب ته بې کتل وي
دَ دین کار په سرښته دئ — چه به وحي پر نازل وي
هسي کار دَ دنیا هم دئ — چه په عقل ئې موندل وي
چه ئې عقل پوهه نه وِي — دَ هغو چاري باطل وي
یا دَ نفس په هوا درومي — یا ګمراه ګرزِي جاهل وي

راته څه وایې خوشحاله
دا دِ چا وته وَیل وِي

تر مشرقه تر مغربه — درست جهان واړه خبر دي
زیست روزګار دا واړو خلقو — چه راوخېژي په نمردي

ښاپېرک ور ځني تښتي
ړوند ئې نه ویني پسترګو
دَ نمر کوم خلل خطر دي
ویني نمر چه سترګور دي

چه مغل وته مي وتړله توره
درست پښتون مي و عالم وته ښکاره کړ
خټک کله په شماره په حساب یاد وه
خټک ما دَ اولسونو په شماره کړ
اتفاق په پښتانه کښې پیدا نشو
ګنې ما به دَ مغل ګریوان پاره کړ
څه په عقل په تدبیر په توره ندَه
حواله مي مرشد کار په ستاره کړ
خپل تدبیر توره مي کښېښوه په ګندو کښې
دا دَي ځان مي له عالمه کناره کړ
اوس مي نور غمونه نشته غم مي دا دئ
چه اولاد مي خداي دا هسي هیڅکاره کړ
سرَه یو تر بله اخته دي پخپل کور کښې
په نفاق ئې غم و ما ته اجاره کړ
دَ مغل په منصوبونو غره ګرزِي
یکباره ئې مخ په نفس اماره کړ
ما دولت ورته ګټلي وُ په توره
دا ځما دَ توري نقش ئې آواره کړ
خو دَ خداي فضل و کرم وته امید دي
ګنې حال مي دَ زامنو نداره کړ
په منصب چه غلول نه کا نور په څه کا
مغل خداي و پښتنو ته بیچاره کړ

ښایسته عالم خانه ده
پرې ټکه ئې واړه ستادي
ورته ګوري حیرانېږي
چه دَ چا سترګي بینادي
په هغه مي رحم ګېږي
چه هیڅ نه ویني اعمادي

چا و ما ته نصیحت کړ چه زر ښه دي
ټولَول به کا دَ زرو چه خبر دي
چه په کور کښې خزانې لري دَ زرو
هغه کس که یک تنها دئ زورور دئ
هر بادشاه چه خزانه ور څخه نه وي
عاقبت ور څخه تار پتار لښکر دئ
هر سړی چه پنام لوي پدولت کم وي
په معنې بدرنګه ښځه سپین څادر دئ
په مثال ئې دَ هغې مرغۍ مثال کړه
چه سینه ئې کشاده تن ئې لاغر دئ
ګوره ما دَ هغه څرنګ ځواب ورکړ
چه به پوه شي هر سړی چه دانشور دئ
ما وې مرد لَره خو نام بویه نادانه
نه دَ زرو ټولول چه بد هنر دئ
که هندو څخه انبار انبار مهران وي
په مهرانو به ښه نشِي مختصر دئ
که په خره باندي دَ زرو صندوق بار کړې
خر به هیڅ په دا ښه نشي خو خر خر دئ
چه هنر ئې دَ لوئي ونیو پلاس کښې
دَ هغه وجود پارس شو واړه زر دئ

یَو دَ بلَ زده کوي دَ دنیا دود دئ   چه شاگرد نشي استاد نشي سړی
زبوني به ئې په دین کښ پیدا نشي   که زبون په اعتقاد نشي سړی
خواست دعا په آساني کله قبلېږي   دَ تقوا پکار څو را دِ نشي سړی
دَ زحمت علاج ئې کله طبیبان کا   څو په آه و په فریاد نشي سړی
که لږ خوري لږي خبري لږ دخول کا   په زحمت به هر گز یاد نشي سړی
که ئې زړه ندَي په خپلي رسوائیِ   راضمین دِ په فساد نشي سړی
مکافات دَ هر عمل شته په جهان کښ   دَ بدیِ پکار دِ ښاد نشي سړی
زمانه به ئې دَ باد یستنه نه کا   که شناځ غنُدِي پُر باد نشي سړی
په خالي وَیل به نه آدم زاد کېږِي   په عمل چه آدم زاد نشي سړی
که په عمر صد ساله شي لا آدم دئ   چه سیاح دَ هر بلاد نشي سړی
په اولاد کښ ئې اثر دَ اصل وشي   دَ بد اصلو دِ داماد نشي سړی
لکه ښه غنم چه وَکَرې جودر شي   په دنیا دِ بد اولاد نشي سړی
دَ وروریِ به ئې هیڅ حلاوت نه وِي   چه وَ ورور ته په سداد نشي سړی
چه مددِ آسماني نه وِي له بخته   لوي په اصل په اجداد نشي سړی
بیدادي به دَ هیچا باندي ونشي   پخپل ځان کښ که بیداد نشي سړی
که کوښښ کا په اخلاص زه ئې ضامن یم   که کامران پخپل مراد نشي سړی
لا به چاري دَ ځوانیِ ترې پیدا کېږي   چه په عمر کښ هفتاد نشِي سړی

بهتري دَ خوي خصلت بویه خوشحاله
خام طمع دِ په نژاد نشي سړی

که ژوندي شي افلاطون   په سوات کښ ونسي سکون
اکوزیو ته بیان کا   کتابونه دَ فنون
هدایه کفایه دواړه   په پښتو کاندِي موزون
دوي به وائِي چه دا څه دئ   مخزن[1] ښه دَي دَ اخون
نیشکر به غوایه څه کا   په واښه ئې دئ ژوندون

---

۱. د اخوند درویزه مخزن الاسلام.

چه دَ وره په ملک کښې ښه پښتون يادېږي
نن مهمند بنگښ ورک زئ ِافريدي دي
دَ مهمندو سپي بهتر دي تر بنگښ
که هزار ځله مهمند بتر تر سپي دي
چوهړي دَ آفريديو نه ورک زئ ِ
آفريدي که همه واړه چوهړي دي
هر چه ښه دَ پښتون خوا دئ حال ئې دا دئ
هغو بدو ته ئې ځوک وائي سړی دي
له ژونديو پشتنو ښېگړه نشته
هر چه ښه وُ هغه کل دَگور بندي دي
نن دا واړو پښتنو بهتر مهمند دي
هفه هم وَواړه خلقو ته څرگند دي
چه مغل ورته ووائي"دولتخواه است"
نور حرام شه که پخپله کونه بند دي
پښتانه دِ ننگه وباسي له دله
اولس تړلي دَ مغل دَ آش پخوند دي

که آزاد دي هغه مرغونه دي
چه هم بې رنگ دي هم بې الحانه
په بند که بند دي خو هم هغه دي
چه هنر ئې پاځېده له ځپله ځانه

چه تا نه وينم په کور کښې
اور به پوري په درست کور کړم
که مي لاس پځان رسېږي
ځان به هم تر بلا هور کړم

خوي دَ هاتي دا دئ
چه خروَر شِي دَ وړاندي
که نه غړېږي له ده نه
دئ ترې ځاَن کناره کاندي

يَو کاڼي دَ بېديا
تر تندي لاندِي کړ عيسٰي
چه هغه فهم ئې وکړ
هم ترې بوي ته دَ دنيا

شريعت دَ وني بيخ دئ
طريقت لکه ښاخونه
حقيقت دَ وني پاڼي
معرفت مېوه گلونه

چه کُښل کا سپيه توره
دنيا لوني بازينه
تيمرُ غُندِي که نشي
دَ عنبر غُندِي دِ شينه

که توري که توبري دئ
که مزري دئ که مارونه
دا همه واړه آفت دي
ژبه لا دَه گوناگونه

یو ښه مخ دئ بل ښه آواز دئ — چه ځان له تنَ خبرله زړه وړي
چه دا دوه توکه سره سره شي — ځان و زړه مي دواړه سرَه وړي

مجنون چه ومړ په گورکښې پرېوت — فرښتو ترې سوال کړ چه څوک دِ خداي دئ
ده وې په نور څه خبردار نه یم — دَ لیلي خیال مي پزړه کښې ځاي دئ

چه نادان چېري غلط شي — ورته ووائِي نادان دئ
خداي به واړي چاري ښې کا — دَ هر چا سرَه شیطان دئ

چه اشرف میر باز دِ هم غلوي خوشحاله — ور سرَه لا دَ یحییٰ غُندي دهن
کا دَ بلي هوښیارۍ پاتو نشو — اوس یا مرگ دَي یا مکه ده یا دکن

چه مي ولیده وگړي دَ دنیا — تر قضا پوري اَصَم دبي هم اعما
دانائي عقل دَ هر چا حبطه شي — په هر چا باندِي چه رایشي قضا

څه کم عقل نادانان دِي — دا ړانده بې بصارته
نعمتونه پخپل کور کښې — مري له لوږي له هیبته

بهرام غر دَ خیرآباد په حماقت دئ — آب سیند دَ خیرآباد دئ په دروغ
دا نړا د خرونو نده پوري خاندي — چه په څو سرَه پیوند کا روغ ناروغ
دَ خبرو ئې فروغ نشته دَکار ئې — لکه پېۀ دَ اوښانو واړه دوغ
په خبرُو کښې ئې کُچ دَ رشتیا نشته — هم پدا سبب اصلاً نشه فروغ
پدا هسي قباحت چه دی پیدا دئ — دا سړی نه به هم بل پیدا ویي بوغ[1]
دَ ده سر دَ سردارۍ دَ دستار نه دئ — دَ ده سر لَره پیدا شوي الچوغ
بېگانه غلیم پروا ور څخه نه کا — خو پخپلو باندِي دانگي دَ ده توغ
خو څما له ځانه نه وِي پیدا شوي
زه خوشحال ئې په جهان کړمه تور و روغ

---

۱. دا کلمه په یوه نسخه کښې یوغ ده، بوغ په پشتو کښې دَ لرگو ښانک او چوبي پیالې ته وائي.

چه څاربه مېږونه جُغدي کښېږدي مردان دئ
مربه اچار شربت[1] پخو څو رنګه
مرد به تل دا مېلمانه خدمت پځان کا
څوك په زور مېلمه و خوني وته بيايي

تويه وي په سپينو وريژو ژيړ غوړي
و مېلمه ته مهيا ګړي ګړي
تفقد به باندي کا ګړي ګړي
څوك په زور مېلمه له خوني نه شړي

بد خوئي را سَرَه يار شوه
چه تش وَګورم وَ چا ته
که لږ ووي وَبَله وکړم
مګر بخت په ميان کښ راشي
هيڅ ځما په رضا نه وِي
چه مَيَن شوې قبلَوه ئې
دا دِ يار ندَي خوشحاله

خداي دِ امن ځني را کا
نور د ما جزا سزا کا
په مانې شي راته شا کا
چه ئې ما سَرَه پخولا کا
څو چه شي خپله رضا کا
که هر څو جور و جفا کا
دا خپل زړه چاري پتا کا

خپل مزاج دَئ کُښي کُښي
چه قدرت لَري دَ پرونو
مجال نه رسي دَ چتي
سپی دُرمه چيچي دَ غشي

هر څوک کار پخپل انداز کا
پرنده هونبره پرواز کا
هغه ځاي چه دورې باز کا
پړانګ حمله په تير انداز کا

لکه غشي تر سپر پرېوزي
لوي مقصود به دِ حاصل شي

تر هوسۍ که هسي پريوزي
په عجب خوښي به کښېوزي

که څوک دا وينا و تا ته کا معلومه
ورته وايه نه دَ ارض نه د سما وې

چه دَ نوح دَ طوفان مأ راغي له کومه
هغه ماء دَ نوح له اوښيو وې مخدومه

چه په کور کښ دِ ګمان د مار لړم وِي
دَ دوږخ مار و لړم دِ په يادنه دي

له هيبته دِ په خوب چېري رضا شي
په قراره قراري دِ نمونځ قضا شي

---

۱. په دوهم بيت کښ ګړي ګړي يعني منګي منګي او په دريم بيت کښ په معنا دَ ساعت دئ.

دَ مجنون په نظر کښېوته ارهنډه[1] | سر تر پايه سَرَه درسته کنډه کنډه
وَ ارهنډې وته ډنگ په سجود پرېوت | په دا حال کښ دَ عالم په نظر کښېوت
ورته ووې چه دا څه کړې لېونيه | مجنون ورکړ دا ځواب چه اې زلميه
دا ارهنډه په ما ونه دَ جنت ده | که سجود کړم ورته ځاي دَ عبادت ده
يوه ورَځ په لارِي تلم له خپله کوره | ليليٰ ناسته وه د دې وني تر سيوره

سودي قرض له چا څه غوښتل | تاخت و باخت هرزني غلا
دا تا واړه ناروا کړل | ما هم پرېښول ناروا
وائې زه دَ رزق ضامن يم | خود به وگورُو چار ستا

يَو يو ځوان دَ سپيني توري حق پېځاي کا | که نه هر کيډَي ئې وتړي په ډوډې
واړه زويه برابر نه دِي زوولي | زيات[2] که وَگورې اورنگ دئ د مور چوډې
ځان دَ خلقه سَرَه خلق کړه خوشحاله | دا زياتي[3] خبري ومنډه په گوډې

ملائي په ډېر تحصيل شي | شاعري دَه له حکمته
ملکِي خو بادشاهي ده | خاني هم له سلطنته
پېري لا لويه پايه ده | دَه له ډېره رياضته
مفت آسان گڼي دا واړه | پښتانه له جهالته
هر سړی ورته ملا وي | چه په ياد کا څو آيته
چه پيرو[4] هغه شاعر دئ | قافيه غلطه کته
هغه سگ ورته ملک دئ | چه کلمې وړي له محلته
خان هغه چه تر کُس پرېوزي | په زانگو کښ وهِي لته
پير هغه چه پسي درومي | څو سر توري په دالته

---

۱. يعني دَ بېځنځير ونه.
۲. زيات که گورې رنگ دَ مور لَرِي مور چوډي.
۳. دَ حکمت خبري.
٤. يعني مقلد.

آفريدي په خوي پردَي دئ　　په يارئ ئې نفرين
څه تيراه څه ئې وګړي[1]　　څه ئې ملک څه ئې آئين
دوه درې څتې غله واخلي　　څوک چه ښه وکا سادين[2]
نه ئې نمونځ نه ئې روژه شته　　دَ شيطان لري تلقين
ځکه هسي اولجئي دِي　　چه نه رزق لَري نه دين
يَو لعنت په آفريدي شه　　سل لعنت ئې په ديشين
آفريدئ لا څه پرنګ دي　　ديشين لا دي ترې بېدين
خداي دِ دواړه قومه ورک کا　　په دا ژر ورَځې آمين

چه زړه دَ چا ژوندي وِي　　هغه مينه کا په ښکار
له ښکاره ئې څه کار دئ　　چه پزړه نه وِي بيدار
که ښکار کا دَ مرغونو　　دَ بازونو دَئ په کار
دَ سپي په ښکار هم درومه　　که ميدان دَئ که کهسار
دَ غشي ښکار ډېر ښه دئ　　که باتور وِي په ګذار
که ښکار دَئ دَ ټوپک دئ　　که پرې ته وکړې تلوار
نن خوشحال پدا دوه کاره　　په چهان کښ دَي اوڅار
دَ باز دَ توپک دواړه　　هم پدا دا دي مينه دار

لويه چار دَ پښتانه له لاسه نشي　　مګر چار ئې آسماني ده کمه کوزه
که هر څو ئې سَمَوم رانه سمېږِي　　چه کاږه دي دَ بدبختو څو وربوزه
په فساد کښ هيڅ فائده نشته خوشحاله　　دَ فساد په اور کښ سيځې واښه دروزه
هغه چار چه عاقبت لَره ښه نه وي　　دَ هوښيارو په مذهب دَه لايجوزه
يوسفزئ ننګيالي پښتانه نه دي　　دَ بې ننګو پښتنو له منځه ووزه
يا دَ بنوُ په لور درومه ټوله وکړه　　تر خوشا به پوري ملک کړه شنه ډوزه
يا په کنج کښ دَ عزلت کښينه طاعت کړه　　يا مَلې لره ځه بس دا درې رموزه

۱. څه تيراه څه ورکزئ.
۲. يعني پټې او دَکر مځکه.

دایم راغلم په دا عمر چه مي سپین شو تور وېښته
یا خاورِي دِي یا کاڼې راته واړه سپین اوسره
هیڅ کار نشي بې له زرو چه پرې وپوهېدم زه
گرم نه دي دا وگړي که پرې وباسې لېمه
چه سپین وسره پرې ورکا هغه کُښل کا سپینه خوله
هم زر دِي که ئې گورې چه به غره بیایي اونه
که هر څو لتا زړه بد وِي بیا په زر رغېږي زړه
خداي رسول سَرَه خپلېږي په زر نوري چاري څه

کُنِي کبر مزري یاره وړي هم دا دوه شهوره
صحبت مکړه له ښځي که په رنگ ده ښځه حوره
که لنده ده که ورغومي دا دوه شهره هم ځان ژغوره
چه پیدا دَ نرگس گل شي له سینې ئې مکړه دوره
څو لا گل شته په گلزار کښې ني ومَي معشوقه واړه
که دِ لاس باندِي رسېږي لحظه مشه بې سروره

ستا به څه یاد کړم تیراهَ چه دَ زړه وکړم پرینې
هر بیگاه به دِ باران وُ په شېبو شېبو ډېر گڼې
دَ ورک زیو آفریدیو په هیداد باندِي درونې
لو نښتر لوئي څیړېَ بې مېوې نابوده بڼې
دَ پوزیو کمي خوني سپی سړی پکښې سجڼې
دَ رنځړو دَ بوي ډکي پمن والي پکښې گڼې
خسي ورغومي پکښې کوپټي خاوري سري درست انگڼې
چه په شک پکښې سړی وُ یو احمد وُ بل چندڼې
واړه چڼې دَ تیراه ښې دي لا اوبه دَ بَتَهڼې

زلفي ستا نافهٔ ناب دي لب دِ شراب دِي دَ فرنگ
کښلي مخ دِ نسترن دي ستا باڼه تازه خَدنگ
په مخ ډېره ښایسته یې لږ دِي کښلي ستا په رنگ

تل تل غم بادني نایاب دئ — ځاي دَ خواب دَئ ستا پالنګ
ښاپېریه مي ګنړلې — دَ څړۍ دِ ښه ژرنګ
په تا ښائي چه آخلې — دَ پَرَیو نه قلنګ
بدن سیمه خوبا ته یې — قلب دِ نه دئ دی دي سنګ

خټک چه په آس سپور شي — درسته وَتَړي په کونه
شمله دَ دستار پرېږدي — په تندي کښ اُوږده پلَنه
سایه دَ شملې ګوري — دَ خپل اس په ترَپَونه
جنجو[1] ته کا ښکنځلي — پکو لک کاندِي پوښتَنه
دعوا دَ خانۍ واخلي — په فساد کاندِي جستنه
حسد بده بلا دئ — دَ سړی په ورکوَنه
دَ هیچا څه و نه کا — حاسد شنه کا خپله ینه

ناګاه به دِ پکور باندي غوغا شي — چه فلانه تر جهان تېر شو فلانه وخت
دَ غسل دَکفن زېرمه ئې کانې — و کفن لَره ئې راولَي ښه رخت
په ګور کښ به دِ کښېږدِي زویه ورونه — بیا به کوره وته رایشي یکلخت
حساب به دِ دَ مال کاندِي پزړه کښ — پدا کار کښ ګرفتار وِي واړه سخت
ملګیري به دِ پګور کښ څوک و نکا — که دِ مل خو به عمل وِي هغه وخت
خپل عمل به دِ په ګور کښ پکار کېږي
په عمل کښ که نیکبخت وې که بد بخت

دَ بادشاه د سره[2] لعل په ښکار کښ پرېووت — چه شغلې ئې ځلېدې تر بله اوره
ناګهانه دَ شپانه په لاس کښ کښېوت — ژر وَ مور لَره شپانه راوړ تر کوره
یو ګهوري ئې په خونه کښ عادت وُ — دَګهوري ئې په غاړه کړ اې وروره
هغه لعل دَ جوهري په نظر کښېووت — په بها ئې ځني یوړ په یوه توره
لک روپۍ دَ هغه لعل قدر قیمت وُ — نادیده عالم په توره ورکړ ګوره

۱. په واده کښ دَ ناوي پلار ګني جنجي بولي.
۲. له تاجه.

دا دَ سر په سترگو مه گوره خوشحال ته
دَ باطن سترگي پيدا کړه ته ئې گوره

سړي وباسي له کاره   پکار نه دَي ډېر څربښت
ناقابل زويه لوي مشه   لا تر ډېر څربښت دئ زښت
تربيت دَ قابل ښه دئ   په ښه مزکه سبه شي کښت
ناقابل دَ ښورې کښت دئ   تربيت ئې دئ کاهښت
چه ناکس مي تربيت کړ   ما خپل ځان ته آفت غوښت
دواړه توکه ئې بلا شوه   هم ساتَنه هم نوشت
بل علاج نشته بې صبره   اوس مي صبر دَي بالښت

څه خو شرنگ زېبا گلونه   له ديو خاورُو نه پيدا شي
بيا په څو ورځو معدوم شي   پدا خاورُو کښې فنا شي

حبش په مکه راغي   چه مکه کاندِي ويرانه
قريشو جنگ ونه کړ   تار پتار لاړل له ميانه
چه وخت دَ محمدﷺ شو   عرب سلوم شول په مړانه
مدار په ښه سردار دئ   نور څه مه وايه اې ځوانه
چه مير دَ لښکر مرد وِي   گرانه چار شي پر اسانه
که صبر که همت دَي   فتح يو سي له ميدانه

حمل ثور دا دواړه فروردين اُردي بهشت دي   پښتو به درته وايم اول وَري دويم غځکي
خوزا سرطان خرداد و تير دي پحساب کښې   پښتو ئې څينور[1] اوکني کبر حساب دئ
اسد سنبله دواړه امرداد شهريور دي   پښتو سنبله وېږي اسد وَگڼه مزري
ميزان عقرب دواړه مهرآبان سَرَه حساب کړه   پښتو تله، لړم دي دا دِ ياد لَرِي سړی
لينده ورغومي څه دي لا دا واروه درته وايم   يو قوس دوهم جدي دواړه دا دِي آذز دي

۱. دَ جوزا معنا په پښتو غبرگولي دئ، څينور ما ندَي اروېدلي، عيناً وليکل سو، تحقيق غواړي. د هجري شمسي د دريمي مياشتي نوم (درياب).

چه دلو حوت ووائِي يَو بهمن بل اسفندار کړه پښتو له ما نه واروه يو بوگه دوهم ماهي[۱]

کږو مي دَ چنار په ونه وخوت و چنار ته ئې آغاز کړه دا مقال
چه ته دَ څو کالونو يې چناره راته ووايه خپل عمر خپل احوال
چنار ووې چه دَ دوو سو کالو زه يم بحساب کښې گنُدِي کم وِي يو نيم کال
کږو ووې هاي خو ته په مدت لوي شوې دا يم زه در سَرَه سم شوم دم درحال
چنار ووې ښه چه وخت سخت دَ څله راشي زه او ته به سره زده کړو هاله حال

هوښيار به پرې پوهيږِي هيڅ باور نشته په بخت
که په بخت کله باور وَي تل به يَو ناست وُ په تخت
بخت باران دَئ چه وريږي چرته نرم چرته سخت
که وَوَرِي په کاڼي که وَوَرِي په درخت
بخت خوشحال سَرَه غليم دئ چه لري دَ هنر رخت

درست عالم تېر شو بخري حساب کړه هغه تېر سَو بخري واړه ناکسان دي
په شپېته کښې پنځوس بخري هوښياران دي پدا هونبره کښې لس بخري غازيان دي
درست جهان په پوهانو سَرَه ډک دئ ولي زيات که په کښې وگورې افغان دي
هوښياران يگان يگان په هر مکان شته چه کثرت ئې دي په ملک دَ خراسان دي
چه داخل په جمع خرڅ ندِي پدا کښې هغه واړه جتې هندکي دَ هندوستان دي

که فرزند غواړې له خدايه چه لَرى حيا وفا
چه له حيضَ پاکه نشي دخول مکړه دَ نسا
که له حيضَ پاکه نه وِي بد فرزند شي ترې پيدا
که دليل غواړې لمانه لاس په لاس دَي دليل دا
وَ بهرام وته نظر کړه هم وفا هم ئې حيا

۱. په پښتو حوت (کب) بولي، ماهي پارسي دئ.

په یَوه باران کښت ورک کا — خلقې کا سَرَه خواري
زهزنان باندِي تعیین کا — مسافر وژني په لاري
یسیران کا تندي اوړکي — چه له لوږي وهِي ناري
ناوي زښي سَرَه ښېل کا — دَ مرگوتي په چیغاري
خداي عادل دئ ظالم ندي — نه په ظلم دِي دا چاري

پډېر رنگه فضیلت شته پجهان کښ — دا یَو څو به درته یاد کړم زه خوشحال
فضیلت دَ ښه نسب دَ اصالت دئ — فضیلت دَي دَ ښه حسن دَ جمال
فضیلت دَ شجاعت دَ مړنتوب دئ — فضیلت دَ سخاوت دئ د ډېر مال
فضیلت دَ ډېر هنر دَئ دَ ډېر علم — فضیلت دَ ډېر اولاد دئ دَ عیال
نه دا کل فضیلتونه منونه منونه — نه چه بخت دَ چا څخه وِي یَو مثقال

لږ خوراک تنگي کلمې بویه دَ ښځي — مرد هغه چه ډېر خوراک کا ډېر خړي
چه څاربه مړونه جُغدي کښېږدي مردان دئ — تویه وي په سپینو وریژو ژیړ غوړي
دَ هغو دنیا نابوده نه دَه څه دَه — چه پیسې په کور کښ ږدي اوگرې لړي
مرتبې دَ هر چا راغلې ښلي ښلي — سَرَه نه دِي برابر واړه سړي
څوک په زور مېلمه وخوني لَره بیائي — څو په زور مېلمه له خوني نه شړي

په اتم دَ سنبلې — منتهي شِي دوه څیلې
اباسیند په تِه کښ کښېني — په تن وچي شِي خولې
وږي وَخېژي دَ شولو — کار ښکاره شِي دَ غلې
هونښائيِ وَ غره ته جوړ شي — دَ خپل ښکار په مشغلې
زاښي وَوهي غړنگي — لور په لور هورې دلې

که ئې کښېنوې په باغ کښ — مرد به و نکا آرام
څو پوره په غلیم نکا — هَرَه چار دَ انتقام
فراغت کا خبر نه دئ — نامردان په ننگ و نام
بهرام وته وگوره — درست بنده دئ دَ خپل کام

دَ صورت په زور قوت غر نه ماتېږي — که خبر ئې دَ کوهکن پزور قوت
چه دَ روح قوت پيدا شِي قمر شق کا — په هر لوري ئې په مخ درومي نصرت

که هر څو باندِي باران دَ بهار ووري — گل سنبل به ترې پيدا نشِي له سنگه
امتحان لَره ځان خاوري کړه وگوره — چه گلزار لتا پيدا شي پڅو رنگه

که کل واړه جهان په لاسو راوړې — دَ قارون تر خزانو دِ گنج بسيار شي
دا کل واړه مي تر دا پوري هيڅ ندي — چه له لاسه دِ ناحق سړی آزار شي

پلار هرگز په بدو زويو راضي نه وي — ولي بد زويه آخر دَ پلار بدخواه شي
چه دَ پلار په بد راضي شِي هغه زويه — په محشر به ئې ښکه مخ سياه شي

نن چه په جهان باندِي لاس ستا دئ — دَ نيکۍ تخم کرَه څو دِ پدست شِي
ستا پخوا دَ دې دنيا صاحبان نورۇ — بس لتا به هم دَ نورُو بند و بست شِي

په کوم گرداب کښې گرزې — گردابونه صد هزار دِي
په هسي درياب ډوُب يې — چه موجونه ئې خونخوار دِي
راشه ځنِي وَوزه — دا واته ځني پکار دِي
نه غم نه ئې اندوه شته — چه وَتَلي په کنار دِي

د مغلو سرَه گډ په زيست روزگار کښې — غوريه خيل دي يا ترين دَ قندهار
که سودا دَه که خوېښي که نوکري ده — نور پښتون دي له مغلوُ نه وېزار
پدا دَور چه کوټونه پکښې ساز شول — يوسفزیِ تر دا دواړُو دي مردار
کشميري به هم دا هسي رنگه نه وِي — چه تر ښځي دَ مغلو خدمتگار

دَ يوې ښيښې شراب دِي — سرَه گرزي د مست پدست
چه اصيل سړي ئې وڅښي — نه بدگوي شِي نه بد مست
سل ناسازي په لاس واخلي — چه بدذات شِي مَي پرست
دَ شرابو گناه کوم دي — گناه ستا دي هر چه هست

څو زه پایم په دنیا کښ — دا دوه خواست کوَم لتا
یَو مي روغي لَره سترګي — بل مي ټینګه لَره ملا
ښایسته ؤُو لَره غواړم — دواړه توکه هغه دا
که دا دواړه توکه نه وِي — ما هم بیایه له دنیا
هر څوک پلار دَ لونړو مشه — پلړیر غم شِي مبتلا
څو چه لونړي وِي پکور کښ — په کور وِي هونبره بلا
ځما پکور کښ دېرش دِي — که تر دېرش دي ډېرَي لا
که غم ؤُ هم دَ دي ؤُ — را سَرَه سبا بیګا
پخپله خداي واده کړي — چه له سرایه شوم جدا
چه ته کړي واړه ښه کړي — یَوَه خدایه ربّنَا
تر کار دِ نَرَسبړِي — عقل فکر دَ هیچا
که چارده هم هغه ده — هر چه پسندي وِي پتا

د زړي ښځي په کُس کښ — دَ جلاب جمال کوټه وي
بند په بند ئې سَرَه بېل کا — غوئي رغښته تر کوټه وي
په کمر دِ درد پیدا کا — په کښ دا هونبره تروټه وي
رنګ ئې مه ګوره په سترګو — که ډنګره که موټه وي

مسلمان سړی به څه لَره دروغ کا — چه په کفر کښ دروغ دئ هم ناروغ
که دِ سر ځي که دِ مال جي دروغ مه کړه — اعتبار دَ سړی لاړ شِي په دروغ
دروغجن که په دروغو په تخت کښېني — هم به نه درومي دَ ده په مخ فروغ
چېري هم دَ ده په مخ کښ روښنائي ځِي — رونګزېب په دروغ بلند کړ توغ

یو ښه باز ئې خپل بابا لَره را نغَي — دَ اشرف مرغي که ډېر دي تر ورغو
په جنګل کښ مګر ښه بازُونه لږ دي — پلار ئې دا واړه شمارلي په هغو
یا به هسي حبطه شِي په مغلو — یا به ومرِي یا به ګرزي په رغو
دَ خوشحال به دَ ګاوزو غُندِي ښکرؤُ — که ښکرونه دَ چا زو وَي په مرغو

تړې نيست وته نيژدې دئ ‌ ‌ ځکه نَلَرِي هيڅ بود
که خورم که دريش خيل دي ‌ ‌ چه په کښې دِي څوک موجود
که ورکېږي که زياتېږي ‌ ‌ نه ئې زيان شته نه ئې سود
درست ميري لکه وړي دي ‌ ‌ دَ شړیِ تار و پود

نه ئې زر ځما په کار دي ‌ ‌ دَ دنيا نه نور مالونه
په اوه کاله دا نه يم ‌ ‌ لا پخوا په ډېر کالونه
لکه هسي رنګه کار دئ ‌ ‌ سکه په څه دا جنجالونه

چه دايم په يَوَه حال دئ هغه خداي دئ ‌ ‌ په سړی باندِي وردر وي څو حالونه
دا څلور عنصره تل و بله جوړ وِي ‌ ‌ دا پنځه حواسه جوړ وِي څو کالونه
دا چه ته وايې ځما دِي دا ستا نه دي ‌ ‌ که دِ ځان دَي که دِ ملک دَي که مالونه
ښه هغه چه ئې خداي فهم فکر ښه کړ ‌ ‌ بد هغه چه ئې باطل دَ زړه خيالونه

چه په ځان سړی تورزن وي ‌ ‌ بل کار نشته تر دا ښه
که مَين دِي په تورزنو ‌ ‌ خود نامرد وِي هم لا ښه
که نه دا وِي نه هغه وِي ‌ ‌ هغه څه وِي وچ واښه
چه دَ اور لمبه پرې راشِي ‌ ‌ واښه سېځي بلا ښه

چه قضا ورباندي ورشي ‌ ‌ عاقلان به غوږ کاږه کا
که هر څو ورته وَيَل شِي ‌ ‌ و هر چا وَته غوږ نه کا
په بينا سترګو ړانده شي ‌ ‌ چه بلا باندِي خاته کا
څه سړی څه ئې بنياد دي ‌ ‌ په هر څه کښې خداي خپل کړه کا

هَرَه چار چه په تقوىٰ په فتوي نه وِي ‌ ‌ زه ئې حکم په الحاد په ارتداد کړم
دَ شيطان په بند بندي وَم پځواني کښې ‌ ‌ په پيري کښې ئې له بنده خداي آزاد کړم

در به وښَيم دَ خپل دَ پردِي رسم ‌ ‌ پدا کار کښې تجربه لَرم ښه رسم
چه په ښه دِ ئې زړه ښه شي هغه دوست دئ ‌ ‌ چه په ښه دِ ئې زړه بد شِي هغه خصم

په دوستي په غليمي کښ	پرَدِي لا ښه دِي تر خپلو
خپل که ښه ښه شه که بد شه	دَ زړه رنځ دِ شي تر تلو
پرَدِي ستا په کرم ښاد دِي	په حذر دِي له ښکنځلو
چه په ما باندِي بې خپل کا	حاجت نشته دَ وَيلو

پښتانه واړه بد خوي دِي	کور به کور کاندِي غورزي
يَو چه سر کاندِي په پورته	بل ئې ووهي مغزي
دَ مغل دَ سترگو ته يې	اې خوشحاله نن اغزي
راشه فکر کړه دَ وخته	يَو ځاي ونيسه رغزي
که دِ دا فکر ونکړ	درومه دَرَغي لغزي

ته لا ښه پرې خبر نه يې	زر کوڅې لَرِي دا ښهر
که په هَرَه کوڅه گرزې	په کښ درومې پهر پهر
لا به هم پرې خبر نشې	بې رهبرَ تله دِي زهر
که د ما په نغوته درومې	لويه لار نيسه دَ ښهر
درويشان لکه ماران دِي	هم مهره لَري هم زهر
په آزار ئې راضي مشه	چه اخته نشې په قهر

مياشت دومړۍ خور ده	چه داخل شوم په ميدان
کال څه وُ هفغ[1] وُ	بيا تحويل دَ سرطان
هسي شان ساړه وَ	لکه نرم زمستان
سرې اوربشي لَو وې	غنم ډاډه[2] تنکي شان

چه دَ پلار دَ مرگ مي تېر شو پوره قرن	دَ صفري په مياشت ومړه د ما مور
پوره زر آتيه کلونه دَ هجرت وُ	چه دَ مور پخوا مي ومړ مشر کور
چه د مور تر مرگ مي ومړه وړاندي وروستو	يَوَه لور دَ شاه بانو وه پسې خور

---

۱. ۱۰۸۵.

۲. يعني نينه.

خداي دِ باغ دَ جنت ځاي کاندِي دَ واړو　　چه به باغ دَ دنیا نه وه ویني نور

په جهان کښ څو سړی دي　　څلور قسمه دي پیدا
زده ئې زده ئې چه مه زده وي　　دا فرق دي مقتدا
زده ئې نزده چه ئې نزده　　خبر دار کړه دَ ایذا
زده نزده مي موړه نزده　　دَ تعلیمه دي پیدا
زده نزده جه زده مه　　تر شیطان بتر دي دا

حمزه خان دَ رستم باد دي　　چه پڅو رنگه پېرې کا
کله هسي خوړ را پاڅي　　چه مشکي کوڅې ډېرې کا
کله هسي را پیدا شي　　چه عالم ورته ښېرې کا
آخر باد دَئ پدا څه شِي　　که په گرد ږیري سپېرې کا

کلمې دَ سړی خوړ شي　　هم ئې نه پریوزي خړ
شوده دِ ځښي دِ مېږي　　چه په نس کښ دِ شي اړ
دارو دَ سنا بویه　　یا دِ وِي دَ حنظل جړ
که ژر دارُو ونه کا　　دَ مور رنگ به ئې شِي ژیړ
اړ چه لرغوني شي　　پرېکَوِي دَ کلمې سر

لگړ دَ ښارووینو په سیل گړ شو　　له هیبته ئې درست سړل شو تار پتار
تپوس له بله لوریه را پیدا شو　　په یَوه باندِي ده هم وکړ گذار
خوشحال ختټک حیران شو ورته پاتو　　چه ئې ولیده دا هسي رنگه کار
په څنگ کښ یَو هوښیار سړی وَلاړوُ　　دا خبره ورته وکړه غه هوښیار
چه هیڅ ورته حیران مشه خوشحاله
تل په مات لښکر سوپري کاندِي گذار

دَ تیراه په ملک کښ نشته　　دَ اذان اللّٰه اکبر
دَ خپل غین منت را باندِي　　چه مي ویښ کاندِي سحر

چه بهرام ځني پیدا شو / ما وې عینِ مي دئ کافر
هونبره ډېر کافر هم ندي / په تیراه کښ شه پچر

دَ دنیا دَ دولت وېش دَ چا پلاس دئ / چه ئې ورکا په اړاو و گیدي خر ته
که د ما پلاس و دست دَ دولت وېش وي / ما به ورکړې یَو چونگ خاوري بې هنر ته

هر فن کښ چه مي غواړې هغه زه یم / قرینه مي به بیا را نشي په قرنه
په دا هونبره ډېر هنره لکه زه یم / یَو هنر ئې فلک ور نکړ پسرنه

نادیده گواهي مله / هم له حقه نه وېزار یم
حلال نه دئ زه ئې خورمه / دَ فتنو ئې مینه دار یم
دا ځلور کارُونه کړمه / خداي دِ نکا چه بد کار یم
که په ما باندي څه وایې / زه هم تا وَته تیار یم

چه وزېږي له تا نه بیائې تاته درځي عیب / له ځانه د پیدا شي په گندگي کښي حیات
دخل دَ ساعت په طبیعت دئ دَ سړَیو / چه بد زېږي له نیکه له نیکذاته نه بد ذات
که نه دئ که ځلور دئ کار ئې چا ته ښکاره نشو / سر درگُم دریاب دئ دا آباد و امهات
قدرت دَ هغه خداي دئ چه قادر برکمال دئ / خاموش اوسه خوشحاله تر دا دم مه وهه زیات

که دِ توان رسي خوشحاله / تقوی مه پرېږده له لاسه
او که نه په فتویٰ کار کړه / مخ له شرعي مه جار باسه
که دا دواړه توکه نه وِي / سکه بتر یې تر کناسه

که بادشاه له تخته پریوزي / گدائي واخلي په لاس
که دَ خداي سرَه اشنا وِي / زړه به نه کا کوز و پاس
تر غنا نه فقر ښه دَي / نه ئې غم نه ئې هراس
دَ ژوندُون اساس په باد دئ / څه ژوندُون څه ئې اساس
که ژوندُون دَئ هم هغه دئ / چه ئې نه وِي هیڅ وسواس

ما په عمر مدح نه دَه دَ چا کړې
چه دَ مدح ښتن یَو نه وُ پیدا
په غندل مي پوست دَ ډېرُو دَي وکښلي
چه دَ هجو لایق ډېروو هویدا
په صفت مي دَ هغو کړه بړېره سپینه
چه ئې زه وم په سپین مخ باندي شیدا

خدایه مه وي هسي ذکر
جه ئې خلق سر هوا کا
دروېشان د "لا" په توره
همېش لو دَ ماسوا کا
دیو دَ "لا" توره وکښلې
پوو دَ غېلو یا دَ غوا کا

عمر ډېر وُ عقل لږ وُ
عمر لږ شو عقل ډېر شو
یَو ژوندون وُ پجهان کښ
پدا شان سَرَه تېر بېر شو
دَ ځوانۍ ساعت خوشحاله
خوب وُ ولیده شو تېر شو

زه چه زوړ یم حال مي دا دئ
دَ ځوانانو به څه حال وي
درسته شپه دَ غین له لاسه
درازي په ما محال وي
ورَځ او شپه مي دا فکرونه
که واده مي کال په کال وي
تر اویا کالونو تېر شوم
واویلا مي ښه جمال وي

راشه هونبره جور ظلم شتم مکړه
دَ دردمنو آه سرد دَ خداي بلا دئ
څوک چه درد رَسَوِي چا ته دردور درومي
چا ته مه رسوه درد دَ خداي بلا دئ
چه انصاف عدل تمیز ور څخه نه وي
رنگ ئې ورک شه هغه مرد دَ خداي بلا دي

عیسٰی یَو نادان هوښیار نکړ په عمر
په اعجاز ئې که ړانده بینا کوَل
څوک چه خداي په ازل نه وِي بینا کړي
کار دَ چا دي دَ نادان دانا کوَل
چه نادان په سبق زده کا حال ئې څه وِي
په خضاب سَرَه زاړه برنا کول

مار په مثل دَي دَ ښځې
دی په سوړه کښ بهتر
چه له سوړي نه بیرون شِي
خلاص به نه وِي له خطر
چه له سترگو ښځه وَوزِي
نور پرې وار شي دَ ذکر

دَ نوروز په دولسم — میاشت صفر کال دَ غفظ[۱] وُ
غله گرانه کښت زبون شو — په عالم نازل سخط وُ
لوي باران وشو په خلق — دَ وگړي وار غلط وُ

هیڅ ناکس به په تعلیم سَرَه کس نشِي — دا خبره دَ دانا شوه را په یاده
سر اغزي به نور څه نشي سر اغزي دئ — که په باغ کښ ئې پیوند کړې له فرصاده
اُوم دېوال به په کهگل سَرَه پوخ نکړې — که هر څو باندِي هنر کوې استاده
دَ نادان دَ غلطیِ عیب کوم دئ — غلطي خو دَ هوښیار بده بلا ده
لا دَ حرف دَ عبارت غلطي پرېږده — رسوائي په زېر او زور کښ دَ ملا ده
چه حاذق طبیب په چار کښ تېر او بېر شي — پښیماني دَ زړه اندوه ئې پدا لا دَه

ما تازه گلونه ولیده په باغ کښ — همگي به رنگ و بوي سَرَه زېبا
ما وې تاسي غُندي هسي ښه گلونه — له د یو هسي تورو خاورُو نه پیدا
وئې هر چه خپسر خاوري کا خوشحاله — مرتبه به بهَ بیا مومي تر دا

که همه عالم پعقل زیست روزگار کړي — هیڅ بدي فتنې به نه وي پدا میان کښ
حماقت جهل گنده خویونه بد دئ — شور غوغا بلا پیدا کا پجهان کښ
واړه نفس دَئ چه په موږ کا فسادونه — گنه کومه گمراهي دَه په شیطان کښ

چه سړی لَره ور دومي عیب عار — په هیڅ رنگ دِ سړي نکا هغه چار
چه سړی له عیبه ځان ساتِي که ښه کا — لا دِ وِي دَ دین پکار کښ استوار
دَ دنیا چاري فاني دِي باقي نه دِي — همېشه به تل باقي وِي دَ دین کار

بې دَ خولې دَ کلمې تفاوت کوم دئ — پدا دوَر په هندو په مسلمان کښ
سل دانې تسبیح په لاس زر گناهونه — دَ هغو به څه ښادي وِي په ایمان کښ
په توبه په استغفار په پنځه وخته — ورځ او شپه دَ معصیت فکر پځان کښ

---

۱. ۱۰۸۹.

په باین کښې زیست روزګار شي — اوس خو پاتو یو طلاق دَئ
کجي ښه دَه پحال پوه شوم — نور د ما لتا فراق دَئ
و هغه ته ورکړه کونه — چه دَي تل د تا مشتاق دئ

نن دا پند پخاطر راغَي زه ئې وایم — څوک که پند څما مني که نه مني
دَ کم ذات پآشنایۍ کښې سود نشته — په درُمي کښې کله خوند وِي دَ ګنې
دَ ټوپک ګوله پخوله خوړلې ښه دَه — نه چه وخوري څوک نمړۍ دَ دَنِي
ببوفا سړی بتر تر کوټه سپي دئ — چه ژغرۍ کا دَ روغ دَ لېوني

دَ آسمان په کجرَوي — چار په ما وه دلنشینه
غر فرهاد په تېشه غوځ کړ — خسرو بیا مونده شیرینه
یَو لاشه خوري دَ مچۍ — بل خواړه له انګبینه

یَو دولت ته رسېدل دي — بَل دولت تر سرَوَل دي
دَ نادان سَرَه ګهوډ شي — دواړه توکه دَ عاقل دي
بخت خو آس وَ سړی ورکا — ګران دَ آس تېڅل ساتل دي

په ذره کښې روغ رنځور يې — په لحظه کښې ښاد غمجن
بځن ستا په کبر خیال شه — پدا هونبره بادي من
درست غفلت خودستایۍ — لاف و شاف دَ دروغجن

بهرام ښځه دئ بدرنګه — رنګارنګ زېور پرې پوري
که زېور ور ځني واخلې — نور به نه پېري په توري
که احمق پدولت ښه شي — که ترې ولاړ شي خود به ګوري

څوک چه سپینه بږیره رنګ کا — بیا ځواني غواړي په زوره
پمثال کښې غلکي سپی دئ — په ګټَوه وربوز توره
که قوت دَ مرد پځاي وي — سپینه بږیره څه پیغوره

دَ دې دَور شیخان ډېر دِي لور پلور   اورنګزیب بادشاه دَ واړو دَي انځور
په هغه چاړه قلم ساز کا قرآن کښې   په هغه چاړه ښهرګ پریکا دَ ورور
په رکوع کښې تسبیحات دَ پلار دَ مرګ کا   په سجود کښې زوري څبله مشره خور

خدایه واخلې هسي ذکر   آلوده پړېر غفلت
خداي دَ ځان دَپاره بولي   په عالم کاندِي منت
په الله الله وَیَلو   تاخت تاراج کا درست محلت

کلیه دمنه چه لولي   دانایان ګڼي څپل ځان
که پدا کښې څه فایده وِي   بند به نه وُ شاهجهان
چه آسمان فتنې برپا کا   هورته څه کا دانایان

منجم که درته نحسه آدینه کا   یا طبیب و تا ته بدِي کا شکرِي
په جمه به و نمانحه وَته ونوزې   لکه شکرُو به هم ګرزې لیري لیري
په قرآن کښې چه شراب دِي منع شوي   ته ئې ولي لکه پيۍ دَ مور نغرې

دَ مغل په طباخ ډېر یوسف مندړ دئ   لکه وړي مچ ډېرېږي درنګ تردرنګ
که کعبه که ئې قبله ده خو ټنګه ده   په پیسه پسي به درومي تر فرسنګ
که پیسه دَ ملنګۍ په لباس مومي   مصلې به دَګیدړ کا پسي لنګ

چه ښه وخوري بیا ښه کښېني   ښه خوب وکړي په پالنګ
که په اصل نامرد نه وي   تل به لوند لري خپل لنګ
که دِ دا صحت نصیب شِي   دَ طبیب مه ګوره رنګ

کافري لکه بیزو دئ   دا مثل دئ دیرینه
چه جفتي شي له ناجنسه   ضائع کېږي قرینه
چه اولاد له بیزو وشِي   نیم آدم نیم بوزینه

چه نظر مي دَ دنیا په روزګار وکړ　　بل خصلت مي ښه و نه لیده تر جوده
ورپسې مي ښه وَیَل دَ عقل خوښ شوه　　دا هغه واړه بې ځایه دِي بې سوده
جود هغه دَي چه اسراف ور سَرَه نه وي　　ښه ویَل هغه چه نه وِي بې مقصوده

چه اُوبه په ځاي حصار شِي نو رخسا شِي　　صفائي ئې هم په دا دَه چه بهېږي
کاڼي زر که سَرَه وګورې یکرنګ دي　　فرق ئې دا دَي چه په زرُو زړه رغېږي
هغه زر تر کاڼي لوټي لاَ بتر دي　　چه ئې ومندي په مزکه نه خرڅېږي

آل اولاد چه دَ آدم دئ　　ښه ئې خوي دَي ښه ئې روي
هندکي آل اولاد دَ کوم دئ　　چه نه روي لرِي نه خوي
خو دَ طمعِ یا دَ ډار دئ　　دَ وفا ئې نشته بوي

دَ دې دَور روش دا شو　　چه په مړه پسي ټاپ نشي
نه خوېښي شته نه خپلوي شته　　په خپل سود دَ هر چا زړه شي
نه حیا شته نه وفا شته　　ټاپ په چا پسي په څه شي

که اوبه سړي په تنده په خواړه څښي　　دَ باړې اُوبه خو نر ناحقه وڅښي
پسته وني پلو سین باړه ما تري　　دَ تیراه دَ پاره غاښي ماښي ومښي
یَو جوزا دویم خرچنګ مزري بل وږي　　پکښ هوبنره مدت تېر کړي نور ترې تښي

خداي مم ذات سړی دَ علم څښتن مکړه　　دَ کم ذات دَ علم چار هسي لیده شي
چه کم ذات ته څوک ښَیَنه کا دَ علم　　په خمتا باندِي دَ زرو کښیده شِي

مَشکي چه لَږ سوري شي　　وار په وار کا اوبه توئي
په کور کښ فتنه لږه　　را پیدا کا فتنې لوئي

چه بل څراغ سړی په ساهه سَرَه وژني　　دَ ګداي دَ کچکول ټوک خوري لږ بسیار
یو اودس په چار چوبي کښ څوک چه کاندي　　درې څلور کارونه منعه دِي په شمار

نمر را وخېژي سبا بېګاه پرېوزي — چا لوئي خوبي تر سرَه نه ده وړې
چه کمال لري زوال ور لرَه تل دي — اوږمکه کله پوره کله نيمګړې

يا ياري له هيچا مکړه — يا چه يار شې دَ چا ته
ښه خو ښه دي که يار بد کا — هم ئې ونيسه په ښه

که په مال دَ مالدار زړه نه دئ ترلي — په دا څه که کوته کوته سرَه پرېوزي
تر بېړۍ لاندِې نه دي اوبه بدي — بدي دا که دَ بېړۍ په منځ کښې کښېوزي

که ملحد سړی مالدار شي — مال به خرڅ کا په فساد
مسلمان څخه مال ښه دئ — چه ئې مال شِي دَ دين زاد

که عزيز دئ که ذليل دئ — په خپل خوي کښې دئ مدار
په خپل خوي دَ باز قيمت دئ — په خپل خوي دئ ټپوس خوار
يَو په لاس دَ بادشاه ناست دئ — دويم ګرزي خوار بېکار

که دَ سر مي دستار نشته — که دَ آس مي نشته زين
هونبره مال هونبره مي زويه — دا په چا باندِې نفرين

برائي په ما آواز وشو له غيبه — چه ډېر مشه په فکرونو ممتحن
چه دَ دوست سره دِ دوست دَئ هغه دوست دئ — چه دَ دوست سرَه دښمن هغه دښمن

سړی پېري که کل توري نېزې شي — که همه واړه جهان شي د يو و دد
چه تا نه وِي دَ چا سرَه بد کړي — لتا به هم څوک نه وکاندِي بد

رسم دَ دوستۍ شرط دَ يارۍ — ندَي دا چه ته مي عيب راته هنر کړې
شرط دَ يارې دا دَي که څه عيب مي ووينې — ته به راته ووايې په غه عيب مي خبر کړې

رښتیا کړه له هیچا نه مه ویرېږه　　　رښتیا سړی له هرِي بلا خلاص کا
شب گرد دَي چه ئې ډار شي له عسسه　　　خونیان دِي چه به ویره دَ قصاص کا

اې چه دَ سرو بخملو په نهالیو پروت ئې　　　دَ ښو زربفتو په بالښتونه
پاخه له خوبه ویښ شه سر پسجود کړه　　　که دا راحت غواړې په بهښتونه

که ښه دِئ خو هغه مرغونه ښه دئ　　　چه نه ئې رنگ شته نه آواز شته نه مړانه
په بلا که گرفتار دئ خو هم هغه دئ　　　چه هنر ئې پاځېده له خپله ځانه

چه زور لَرِي دَ لېچو　　　زور دِ نکا په ناتوانو
اوکه نه تر هر چا لوي دئ　　　سیال نه دئ دَ ضعیفانو

مېلمانه وته یا شا کړه　　　یا ئې ښه وکړه خدمت
یا په تورو ورتله مکړه　　　یا ښکاره کړه شجاعت

سر مي خوړ شِي له کمینه　　　مه کمین وَي مه ئې مینه
دَ د مړیٔ ورکوَل کا　　　دَ مهرانو منت ړدینه
مگر سگ وِي سړی نه وِي　　　چه به دا منت څوک وړینه
دَ مرادانو روش ندَي　　　چه خپل ور کړه یادَوِینه

چه سبا سبا اُوبه څښي دَ انارو　　　زه حیران یم چه هغه سړی په څه مرِي
که له مرگه چاره نشته و به مرینه　　　باور وکړه پزحمت خو به و نه مري

ژبه بند کړه له گفتاره　　　لاس خوندِي کړه له آزاره
نور غم نشته نه اندوه شته　　　فراغت گرزه بې ډاره

چه تور مښک را پاتو نشول　　　سپین گوهر نشول را پاتې
نور به هیڅ نشي را پاتو　　　کیسیٔ نشته کمي زیاتې

هسي خوي مکړه خوشحاله چه خپل هم لتا وېزار شي
ولې هسي سلوک نکړې چه پرَدِي دِ خدمتګار شي

هم دا ژبه دَه چه غم دَه هم دا ژبه ده ښادي
که څوک خپله ژبه ښه کا نور ئې هيڅ نشته بدي

چه څه غم شدت را رسي همګي شامت د ما دئ
چه څه عيش فرحت موم واړه فضل و کرم ستا دئ

پخپل زړه که سازېدي د هر چا کار هيڅ حاجت نه وُ په منځ دَ کردګار
په زمان په سړی هسي چار شي پيښه چه دَ چا په فکر نه وِي هغه چار

که کيدلي پخپل زړه دَ هر جا کار سکه حاجت نه وُ په منځ دَ کردکار
چه رضا دَ کردګار وِي هغه کېږِي دَ سړي فکر تدبير ګنه بيکار

هيڅ زار دِ ځني نه کا چه له غيره څوک آزار شي
دا هم دَ ميني کار دئ چه له ياره نه ډېر زار شي
واړه سپي خوړوني بد دي چه دِ وَخوري څه بد کار شي
چه خپل سپی دِ سپينه پرېکا هغه لَا يو کوټ کوپار شي

چه په هو په نه پوهېږي پوره مرد ګڼه هغه
هو دِ هو وِي نه دِ نه وِي ياره نه وِي هو دِ نه

خواست په هيڅ توکي ښه نه دئ چه ئې زوي کاندِي له پلاره
چه په خواست سرَه څه مومي تر دا بخره نشته خواره

ته په کوم توکي دماغ کړې خپسر وګوره چه څه يې
چه ئې حيض وبول بولې هغه وينه زَوَه ته يې

چه هاتیان ساتي پیدا کا لویه خونه
چه هاتیان پرې نَنَوزِي هسي ور
گیدړ هر چرته خپل وخت ساعت بدل کا
لوي ځنگل بویه مزري لره یا غر
لوي نهنگ لَره عمان و قلزم بویه
په بېله کښې ئې تمام شِي اوبه خور
هر مهتر چه حاجت مند شي دَ کهتر
که باور کړې دغه مرگ دَي د مهتر
که حاجت ئې پوره نشِي ورته شا کا
دغه کار گڼه تر مرگه لا بتر

دَ احمق سړی زړه نه دئ په کوگل کښې
زړه ئې ځاي لري په ژبه کښې تر تلو
چه ئې څه په زړه کښې ور شي یا څه واروي
ځپل پردي وته نور سر شي په ویلو

بادامي دي را آلوزي
په هر لوري دَ بدیو
چه پخپلو زړه ښه نه شو
ښه به نشي په پردیو
ځپل پردي واړه وهلي
که یاران وي د غدیو

اصیل توب په نور څه ندئ
اصیل توب دئ په خویونه
په مریونو کښې اصیل شته
په اصیلو کښې مریونه

دَ فرعون دَ جادو ماران باطل ۇ
دَ موسیٰ دَ معجزې دَ مار دَ وړاندِي
عاقبت به فضیحت او شرمنده شِي
دورغجن چه له رښتینو حجت کاَندي

له هیچا نه طمع مکړه که هوښیار یې
چه طامع سړی تر هر چا پوري خوار دي
طمع درې حرفه لَرِي واړه بې ټکیه
هر یَو حرف ئې غړوَندي وته تیار دئ

دَ بخیل سړی کار بد دَي په دوه رنگه
که په زړه کښې فکر وکاندي یارانو
په هغه جهان حساب دَ تونگرانو
او په دا جهان معاش دَ نادارانو

عاقلان به په وَیَل کښې
زړه رهبر لَري دَ ژبي
اول فکر دَ زړه وکا
بیا کیسې کا عجائبي

دَ هوښیارو ژبه پټه وِي په زړه کښ
راز به نه وائي آشنا وَ نا آشنا ته
لړ او ډېر وَيَل به نکاندي بې ځایه
هیڅ باطل وَيَل به نه وایيِ و چا ته

دَ هندکي په زړه کښ مکر حرکت
لکه پیاز پکښ دَ پیاز گنده نگهت
لکه خوند دَ هریړې په هریړه کښ
هسي کار دئ دَ افغان دَ جهالت
که هر څو پکښ دَ نیکو بوي پیدا شِي
له مغلو نه به لاړ نشِي ظلمت

چه لښکري یگانه نه وِي پجنگ کښ
هغه کس به و دښمن ته وِي مقهور
چه لښکر ئې یگانه وِي غم دِ نکا
په غلیم باندي به دَي وي تل منصور

و ناپوهه ته ډاډ ډېر ورکړه په غم کښ
عاقلان پخپله پوهه مردانه وي
و هلک چه دلاسا ورکړې قرار شِي
بیا ئې بل زمان ژړا په بهانه وي

غم ئې هیڅ مکړه خوشحاله
که هر څو په گناه ډَک یې
آدم یې نفس در پوري
نه چه پاک پیدا ملک یې

چه دَ چا سَرَه فلک په کمي پاڅي
واړه چار په لاس واخلي بې تدبیره
دَ ترږۍ چه دَ خوارۍ ساعت راشِي
د هلکو په پړکه کښېني په ځیره

گهړیالي دَ شپې له حاله خبر نه دئ
چه گهریال وهي بې وخته بې هنگامه
د خوشحال د سترگو کړه د شپې پوښتنه
چه بې خوبه پرې ېربېږي شپه تمامه

که شیخان که زاهدان دي
توري خاوري ئې په سر
که قدم کښېږدِي بې شرع
په خلاف دَ پیغمبر

هر نعمت دَ خداي له لوریه
په سړیو عنایت دئ
تندرستان دِ شکر کاندِي
تندرستي یو لوي نعمت دئ

که شیخان که عالمان دئ　　واړه ښه راته ښکاره دئ
په هر څه کښ عشقبازي کا　　عاشقان ګرېوان پاره دئ

دوه ښادۍ د جهان دي　　یا ښه زویه یا یاران
چه دا دوه ښادۍ نه وي　　څه نر ښځه څه آسمان

هغه یار چه بېوفا وي رنګ ئې ورک شه　　تر یارۍ نه ئې ښه دَه نه یاري
سپی چه ځان سَرَه آشنا کړې لتا نه ځي　　بېوفا په لږ ماڼه کا وېزاري

که هر څو چه مړَني وي　　چه وسله نه لَرِي مرد
دَ ښځو سَرَه ناست وي　　نندارہ کا دَ نبرد

عاقلان چه دَ دنیا خصلت ووینې　　دَ دنیا دولت و دُوي ته لکه باد شي
دا دنیا لکه زندان ورته ښکارېږي　　په واته له دې زندانه پزړه ښاد شي

دَ بهرام په لښکر مه ځه　　په ورتلو کښ درنګ نکا
خو چه څخو تور برېښ وشي　　نور دَ تېښتي نه ننګ نکا
مګر هورته ئې برَی وي　　چه څوک هیڅېري جنګ نکا

هسي غله راګډ شول پدا دور آخرین کښ　　چه فیل له انبالۍ پُټَوِي پخپل آستین کښ
زر دانې تسبیح لَرِي شملې دَ وروستو پرېږدي　　لوي کتاب په لاس کښ بل سیال نه ګڼي په دین کښ

دَ پردې په پرېکونه　　دَ پردې شِي پټېدنه
یا ځما تبر پڅ نه وُ　　یا خو سخته نه وه ونه
هسي رنګ په ونه ولاړ شو　　چه ئې نه وه کشرېدنه
دا چیستان عجب چیستان دئ　　که ئې حل کړې عقل منه

په جهان کښ ګرزېدلم　　په طلب دَ یوه یار
ښه چه رنځ مي ضایع نشو　　په لاس راغي ښه نګار

دَ مزري غُندي ځان ژغوره — مه شرزه شه سرغنده
مزري ځان په وقار ژغوري — شرزه تېښت ته پړنده

ملک په مثل لکه غوا دئ — چه تېندان ور باندي جنگ کا
هر يو تېند چه زورور شي — تېند غيمه هغه تر ځنگ کا

تر ديوال دننه ښې وي — چه په کور کښې لکه خم شي
چه بيروني تر ديوال شي — ښځه نورزن دَ مردم شي
اول ښې له پسه ندي — خو د رنگ دَ واړو گم شي
دا حديث دَ پيغمبر دئ — لکه کَر هشي دروه شي
څوک چه بد ندي پخپله — هيڅ بدي به پرې و نه شي

که په ملک ځېري پيدا شي هنرور — دَ هغه په کمي سر شي بې هنر
که دَ تخت دَ پاسه کښېني بادشاهي کا — آخر بيا دَ بې هنر خاوري په سر

دَ خوشحال ديوان دوکان دَ جوهري دئ — پکښې واړه لعل و دُر ياقوت الماس دئ
دَ جوهر و قدر چا زده جوهري زده — نه هغه چه مرغچيچي ئې په لاس دئ

اور خو هونبره چه دَ چا په زيست روزگار شي — چه په هر لوري لمبې شي خير کوم دي
دَ خانانو زويه ورونه واړه اور دي — څو دَ اور لمبې ډېرېږي کار معلوم دي

چه غرېبري له بلا نه — له بلا نه امن مومي
هغه سړي داړه شي — چه په پړانگ باندي ور درومي

دَ سړي چه قضا نه وي — دَ غليم په زهرُو نه مري
چه قضا دَ سړي راشي — دَ طبيب په دارُو ومري

دَ ځوانمردئ روِش در وښَيَم — که ته ځوانمرد يې پرې به عمل کړې
چه دِ کف دِئ هغه به کف دئ — چه يَو سر بل سر شو څه پسي زغل کړې

دَ غفا[۱] په بوگه پرېوتې په غرونه
تر کابلَه تر اټکه شپیني واوري
شکر ژر به درست جهان سَرَه گلزار شي
دا بد کال په سر خو بیا شوې توري خاوري

څو ژوندي په جهان گرزِي
خوري خوړل کا دَ چېړو
دَ مزري د ستور دا ندَي
چه جوته خوري دَ گیدړو

که دعا ده که توبه ده که دارُو
و خوشحال خټک ته خداي ورکړه شفا
پدوه کاله دَ اسهال په رنځ اخته وُ
ترې خلاصي په ذوالحجه وه دَ غفا[۲]

په جهان کښ دِي دوه توکه
ښه آواز دويم ښه مخ
چه لري دا دواړه توکه
دَ هغو کسانو سخ

که ته هر څو کینه کښ یې
دَ غلیم وهې ورمېږ
و گردش وَته ئې پرېږده
سره گوره لېوه مېږ

لکه زلفي دَ دلبري پیچ در پیچ دي
په صفت ئې زه هم هسي پیچ در پیچ یم
نه پخوا دَ پښتو شعر وُ نه اوس شته
په دا کار کښ خو یو زه لغت په هیڅ یم

که یار غواړې خوشحاله
چه درست سر تر پایه ښه وي
ورځه بې یاره گرزه
سکه دا هسي یار نه نه وي

په وریځي مي کار نشته
که آسمان وریځ وریځ شي
له باران سَرَه مي کار دئ
که په شپه شي که په ورَځ شي

دَ صحرا ښه دي دوه توکه
یو ژورَه دويم لوَړَه
په لوړه کښته ننداره کړه
په ژوره کښ ئې رغړه

۱. یعني دَ ۱۰۸۱ کال د دلو په میاشت.
۲. ۱۰۸۱.

پە سپین مخ باندِي تور خال
آرایش دَئ دَ جمال
پە تور مخ باندِي چە خال وي
هغە نلَرِي هیڅ حال
دَ ښە مخ تر سیري څە دي
لکە تندرَە دَ هلال

چە پە حکم دَ حکیم کاندِي انکار
تر هغە نە بە بل نە وِي ناپکار
دَ نادان دَ هوښیار فرق وي پدوه رنگە
چە نادان بە محتاج نە وِي دَ هوښیار
دَ هوښیار څخە کە ډېرە هوښیاري وي
بیا بە دَي دَ نصیحت وِي طلبگار

خسا جوته مردار هډُونە
سپې گیدړ شرمښ کفتار خوري
دَ مزریو هنر دا دَي
چە یا صبر یا خپل ښکار خوري

چە ئې واخلې ورتە کښېنې
درتە گوري ورتە گورې
دا لذت پە جنت نشتە
چە هم ښوري هم پر ښورې

اوس دوه څیزه لتا غواړي
یو ساتنە دویم سپور
چە دا دواړه توکە نە وي
نە پە غره شە نە پە کور

ځوانە ښځە لکە باد دَ نو بهار ده
دَ بهار پە باد دَننە زړه خوښېږي
زړه ښځە پە مثال دَ مني وخت ده
چە علت او رنځوري ترې حصلېږِي

رنځوران مري پە درې رنگە
ځني وَمرِي بې طبیبە
څوک ناقص طبیبان وژني
دَ چا مرگ وِي لە نصیبە

نە پینډِي برکت شتە دَ هندکیو
بە دَ توري برکت دَ ایرانیو
دواړه توکە مسلم دِي کە ئې گورې
پدا ملک کښې پە افغان پە تورانېو

خداي دِ سترگي دَ بدخواه سړي ړندې کا
ستا گلونە بە اغزي ور څرگندېږِي
کە پە باغ کښې دِ یَو گل وِي زر خارونە
دَ نیکخواه بە دِ پە گل سترگي لگېږي

چه لباس کا چه تقلید کا چه ټېټیال
را ښکاره شو وار په وار دَ هر چا حال
که شیخان که عالمان که زاهدان دئ
له هیچا نه زړه روغ ندَي دَ خوشحال

لافي دَ هنر کړه
چه تر هر څه ښه هنر
څو وايې له زور
کاڼه مه وهه په سر

هغه یَو چه مړنتوب کا
دغه دوه دِي دَ ده ملي
یَو حیران دَي پتورتم کښ
باندِي تل وهي حملې

چه ئې ووینې په سترگو
دَ خوړوني حرص زیات شِي
چه ووَته له خوني
نور دَ ښځي اودس مات شي

ښځه چه زړه شوه
ور پلا کړه نور څمڅه
وایه چه دا ته یې
دا نغري دَي دا اوگره

صغیره کبیره هر گناه چه وشي
هر گناه لره راځِي به کار توبه
هم توبه له بدُو کړم هم گناه کړم
له دې هسي شان توبه هزار توبه

یو حریص بل دروغجن دئ
هم احمق هم ترسنده
دا څلور کسَ سړي دي
دَ یارۍ پکار گنده
که یاري ور سرَه وکړې
زر به تا کا شرمنده

دَ دې زمانې زویه
چه بې بدو نور څه نکا
که ئې وگورې له پلاره
دَ مور غوگټي که څه کا

یَو باز چه ښه آلوزي
نه گنده بازونه لس
یو باز چه ښاه آلوزي
هم هغه در لره بس

پہ قلم مي رضا ندہ چہ خبرېږي　　دَ رازمنو بہ رازونہ روبرو شي
پہ زړہ هونبرہ پرتې ندِي چہ ئې شمار شتہ　　اوس ئې بيا ورتہ سپړنہ موبمو شي

چہ اصيل سړی کم ذاتہ ښځہ کاندِي　　بہ مثال سَرَہ گډېږي غوړي تيل
بل د ليل بہ تر دا بہ در لَرہ راوړم　　دَ سرو زور سرہ ويلي سر ويل

هيڅ باور پرې نشتہ　　ترين واړہ منافق دئ
دَ پڼو شپينو تورو　　واړہ تور او سپين لايق دئ

چہ پرې رايشي حيران شِي　　داروگر دارُو دَ چا کا
دَ دې کلي رسم دا دئ　　روغ رنځور واړہ زگېروا کا

چہ ئې ټولہ کا پکور کښ　　پرېشاني بہ ئې هغہ وِي
عاقلانو نہ کړہ جمعَ　　پرېشاني بہ ئې پہ څہ وِي

بنگ شراب دربانديِ ځکہ ناروا شول　　چہ پہ بدو چارو نشي مبتلا
نہ بنگ خورې نہ شراب څښي بې مستۍ　　آلودہ يې پہ هزار اَلاّ بلا

دويم دَ محرم ورَځ دَ شنبہ کال د غفج[1]　　نہ غشي وُ نہ توري چہ مغلو وکړ بج
شنواريو آفريديو دَ ډکې خوارو مهمندو　　روپي ئې پہ خرواريو وړې مهران واړہ پہ حج

آفريديو شنواريو زړہ پہ اُلجہ ښہ کړ　　ايمل خان مهمند پہ ننگ پہ اُلجہ دواړہ
دَ خوشحال خټک پہ خبرہ خو يَو ننگ دئ　　تر نظر پوري ئې هيڅ دَہ دنيا واړہ

ما لہ عقل لہ تميزہ　　ښہ بد بيا موندل دوہ څيزہ
ښہ تر ورکړو نور څہ نشتہ　　بد تر غوښتو اې عزيزہ

---

۱. ۱۰۸۳.

واړه سرچټان دِي که واړه دي که غټان دي — شرم ننګ ئې نشته دَ لوړ دِي دَ وندري
کوم دئ چه اقرار دئ چه دَ ماشنو بې تروې دئ — څوک به هسي وايي چه وَيل مي خاوري سري
ځان په ځان وېزار دئ يا لېوان دئ يا کفتار دئ — لويه چار ئې ززده دَ اړخې دئ دَ ژوري

لنډ ورمېږ اوږدي پنډي — لويه خوړنده لکۍَ
نور به څه ګورم وَ تا ته — دَ بازونو لانکي ته يې

چه ئې سر تر پايه درست په غم کښې لېو کړم — راته وائِي اوس خوشحال اوسه څه غم کړې
دَ هجران ورځي چه کښې پشمار عمر — دَ قضا کاتبه عدل که ستم کړې

ابدال پدا څلور خويه ابدال دئ — کم ويل کا کم دَ چا سَرَه ګډُون
کم ناستي کا په خوارک کا کمه مينه — پدا شان ئې په عالم کښې وي ژوندون

هر څوک هسي وائِي — چه که ښه وي ځما کار
کار دَ هغه ښه شِي — چه خپل بخت ور سَرَه يار

نيت دَ هر چا سَرَه ښه لَره خوشحاله — دَ خپل نيت نتيجه رسَي و هر چا ته
شمشير خان ترين چه تا سَرَه بدي کړه — خپل نيت وَ جوړېده دَه ته ستا وَ تا ته

حلاوت دَي دَ جهان په ښو سړيو — حلاوت دَ جهان واخلي بد سړي
ښه کچړي لره غوړي پاکيزه بويه — دَ کچړي لذت ګنده کا بد غوړي

دَ بدانو سَرَه کم کښېنه که ښه کړې — دَ بدانو صحبت پاک سړي پليد کا
راشه نمر وَته نظر وکړه چه نمر مي — په څو يو ذره ئې ابر ناپديد کا

مېږي لا په بلا ياد دي — چه ور پوري شي وزر
هنج خو هنج دئ مښک به نشي — که څوک سل وايِي که زر
خر به نَرَسي تر آسه — که هر څو درومي ژر ژر

شیطان لکه مچان دئ
چه ناستي په چرکین ځاي کا
په پاکانو ئې کار نشته
حفظ ئې تل کرم دَ خداي کا

که بد خوي له مځکې ولاړ شي و آسمان ته
په آسمان ئې دَ فرښتو سرَه روزگار کا
نه به ځنډ نه به لارغه وِي چه بد خوي ئې
هورې هم په سل غمونو گرفتار کا

که دَ نظم که دَ نثر که دَ خط دي
په پښتو ژبه مې حق دئ بې‌حسانه
نه پخوا په کښ کتاب وُ نه ئې خط وُ
دا دَي ما په کښ تصنیف کړل څو کتابه

که هر څو دَ صفت دئ
که مخ ښه لري گلشن
دَ مور تر کُس دِ تېر شي
یار چه نه وِي مهرجن

که ته په گور دَ مهرویو راشې
بیځې ئې واخلې دَ لحدونو
نور څه به نه مومې دَ دوي پگور کښ
بې تورُو خاوره سپینو هډونه

سپی چه وړي وِي ډېر بد وِي
شو کوي واړه مرداره
څو چه موړ وِي هونبره ښه وي
بله نه کا بده غاړه

دَ مجلس ښایست په څه وي
په نغمه او په شراب
له شرابو مي تونه ده
زه ماهي یَم نغمه آب

چېرې نه وِي چه دلگیر شې وار خطا کړې
که په تا باندې محنت دَ سفر ډېر شي
که سفر دَ ډېرو کالو وِي غم مکړه
دَ سفر عمر کوتاه دَي زر به تېر شي

چه وبرېښي سپینکیَ
د لنډ پریو[۱] شورهار شي
یَو یَو مرد بویه خوشحاله
چه پځاي باندې قرار شي

---

۱. یعني غشي.

چه ږغ شي فلانه ومړ خلق ژاړي زه خندا کړم
ډېر غم مي دَ ځان وکړ څه به اوس اندوه دَ چا کړم

هغه کار چه غره توب وي ته ئغ درست پرېږده له لاسه
په خپل ځان غلطي مه کړه نور به هم وِي ستا دَ پاسه

خپل کار وَسپاره و خداي ته نور خوشحال کښېنه خوشحاله
دَ هغو چه وکيل خداي شو لاړل خلاص شول له جهانه

دوه کاره دي په سوات کښ که خفي دي که جلي مخزن دَ دروېزه دئ يا دفتر دَ شيخ ملي
دواړه نشته په سوات کښ څوک چه وائِي يا علي الصَّا لحِوُنَ لِلّٰه و الطَّالحِوُنَ لِي

چه و هر سړي ته وګورې نظر کړې چه تر واړو پښتنو ئې دي ډېر کلي
درې څلور تکبيره وَوايه ترې تېر شه دَ مرده وو هديرې دئ دَ سوات کلي

کله مار وکا حمله په سمساره ترې پيدا شي مار بځړي په انځاره[1]
ولي نه ئې مار مهري وِي نه ئې زهر نه ئې توان دَ نمر دَ باد نه دواوره
چه دَ پلار نښان ئې نه وي زوي دِ څه وي لکه مار په سمساره جوهر سپاره
عشقه ته يې که څه نور عيب و علت دي چه په مرد کړې رڼا ورځ توره تياره
لکه مار په زور په هر څه باندي سپور شي دَ خوشحال غُندي هم شته ځني سواره

مسدس

مکړه روخ دِ ندَي دَ غمزې په تېغ خونونه خون دَ عاشقانو خون بها لَرِي لکونه
ته چه را ښکاره شې په وربل يښې ګلونه تر ناحقه لافي دَ ښايست کا نوري جونه
ته چه په ګلرنګو جامو درسته شې ګلګونه
سرې لمبې کړې بلي دَ حيران عاشق پخونه

---

۱. يعني انځور او نقش.

خوله دِ غنچه گل دَه تیاربړي شگفتن ته　　تور بانه نېزې لرې دَ زړونو و سفتن ته
مه پرېږده زلفيني په عذارو آسشفتن ته　　ورځ دَ عاشقانو نژدې کېږي و خفتن ته
ته چه پَلَو واخلې دَ جمال و نهفتن ته
ولي هسي کار کړې چه بې اوره سېځې زړونه

سترگي دِ دَ باز دي و خپل ښکار ورَته نيولي　　شونډې دِ مهرې دِي و بېمار وَته نيولي
زلفي دِ زندیِ گرفتار وَته نيولي　　زنه دِ منه دَه وَ خپل يار وته نيولې
سپينې لېچي توري و گذار وَته نيولي
سرَه دِ دَ عاشق په وينو لاس تر مړوندونه

هيڅ گناه مي نشته وېره وکړه له آزاره　　واچوَه له مخه بيا پَلَو دَ خداي دَپاره
برنده راته کښېنه چه دِ ښه کړمه ننداره　　ته څه هسي نه يې چه جفا کوې له ياره
واړه غمازان دي چه بلا ئې کړه دوخاره
مه ليدي په سترگو دَ غمازو تور مخونه

ورځي دِ محراب دي دَ عاشق وره سجود دئ　　مخ دِ سپين کاغذ دَي دَ خط کښلي پر درود دئ
خال دِ چه دَ وروځيو په پيوند باندي نمود دئ　　واړه دَ آهونو په لوگيو تور کبود دئ
درست دِ سر تر پايه ننداره سره وجود دئ
ونه دَ جائفلو واړه گنج وړي وېخونه

ناز دِ عاشق کُش وُ اوس دِ خال باندي ثاني شو　　رنگ دِ وداني کا خوي دِ خير په ويراني شو
تا گيسو پرېشان کړ درست جهان په پرېشاني شو　　تا چه مخ ښکاره کړ درست جهان په حيراني شو
خلق ځان ځاني شو دَ خپل ځان په آساني شو
څوک دَي چه به آخلي دَ خوشحال ختک غمونه

ترکیب بند

دل آرامه که د ما دَ درد دوا کا[1] سکه اول دِ هم دَ مهر دارُو را کا
دَ دلدارو هوا دار له درد او دوکه د ما دم دَ آهِ سر د سَرَه وا وا کا
دَ وصال سودا سودا دَ سرو مال ده هر گدا کله دا سودا و دا سودا کا
دَ آدم دَ آل اولاد سره گُل مکر که دَ دَور رسم دا وُ اوس هم دا کا
درومه درومه گله مکَوه له دَوره کله کله دَور هم مراد ادا کا
دا مهر و ملو که وگوره له اصله
کله دې و مرد مراد ورکړه له اصله

دل آزاري که دِ څه له ربَّ ډار دئ زړونه مه آزارَوه روي دَ دا دار دئ
ته چه ژاړې په زار زار ژړا دِ آرومه دا دِ واړه درد و دوک زړه دِ آزار دئ
دواړه وروځي دِ دلداري پټه راز دئ چه دِ زار پزړه دارو شه دَ زړه زار دئ
چه اول دِ دَ زړه داغ وته آرزو وه اوس ور درومه زړه د ښه شه چه داغدار دئ
دَ زړه درد که په زاري په زور او زر وي اي دَ زړه له درده روغه پدا ډار دئ
چه دَ زړه له درده روغ دَي په زړه روغ
دا چه ژاړي ژړا ښه دَه په دروغ

تا چه کړې له هر چا سَرَه یاري ده[2] ښکاره کړې دِ له یاره طراري ده
ته چه ځان کښې دلداره اې دلداره کله چا لتا لیدلې دلداري ده
ستا دَ قهر طاقت هیڅ را څخه نشته راشه قهر له زړه لیري کړه زاري ده
دا چه کله عاشق خاندي کله ژاړي دا ئې تللې له خاطره قراري ده
که دَ سر ښندنه گرانه تر هر څه ده چه له یاره سر ساته شي اغیاري ده
ته چه سر ساتې له یاره اغیاري کړې
شیرین ځان تر آشنا ځار کړه که یاري کړې

---

۱. په دې بند کښې صنعت دَ لزوم غیر منقوط مراعات شوي دئ.
۲. په دې بند کښې صنعت دَ طباق او تقابل راوړي شوي دئ.

زه زائر یم ځانه ستا تر تَله تَله[۱]   تر تا ځار شم ځانَ ډېر ښه یې تر بله
چه د غم په ګزه دِ زه زهیر شهید یم   تل تل خانده تَل تَل خانده ته قاتله
چه تل تل په قهقه خاندې زهېرېږم   څو نا نرخه تویوې دَ خوږ وتله
یو په شله ښایسته دَ جونو خانه   تا به ستا یم تا نه ستا یم یو په شله
ته جانا ترَ تازه تر نسترنه   زه زهیر خسته جلیا یم تر بلبله
تر بلبلي جلیا زه زهیر خسته یم
چه بلبلي به غوغا زه فم بسته یم

نن ئې لوئي څڼ کج کړِ څو څو خمه[۲]   لوئي څڼ ئې خم خم تر قامت سمه
عاشق کله یَو ساعت بې جانا پائي   کجَ لوکه ماهي هم پایي بې یمه
مخ په مخ شه ما ته خانده چه خاطر مي   هوسي شِي په خوښي شي بې غمه
څو خوبۍ لري ګل بري قد عرعري   په ښه مخ لکه لاله یې لا بر نمه
ګل و مل چه مخ په مخ شي پرِحوښي شي   طوطا کله ګویایي کا بې موسمه
ګل خوښي شي په موسم ګل نرګس
څو لاله بالا لولو کا غالم کس

ترجیع بند

ستا له لوریه که هزار ځور و جفا وي   له عاشقه به سل رنګه وفا وي
په عاشق باندي معشوقه عنایت کا   ستا مدام پخپل عاشق باندي عنا وي
ښه ما ومنل چه ته بېحد زېبا یې   په جهان به کم څوک تا غندي زېبا وي
ولي خداي چه ښه جمال و چا ته ورکا   نه په دا چه دَي بې مهره کبریا وي
که قضا په ما زړه سوي کا هم به ومرم   که یو څو ورَځي دِ جنګ و فتنې دا وي
که تل ما سره غوغا جنګ و جدل کړې   خداي دِ نکا چه لتا به تله ځما وي
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

۱. په دې بند کښ صنعت دَ رقطا سته یعني یَو حرف ټکي لري بل ئې نه لري.
۲. په دې بند کښ صنعت دَ لزوم دَ دوه حرفي سته دوه حرفي ئې سَرَه نښتي دي.

هونبره ډېره بدي مکوَه بد مَوړه | هونبره ډېره جفا ښه نده بد مَوړه
کوم ملا درته ښَيلي دا سبق دئ | چه بدي کوَه له يار سَرَه بد موړه
چه مي زړه ساتي هغه ته به زړه ورکړم | تا دَ زړه ساتَنه هيڅ نزده بد موړه
خو فتنې او خرخښې دِ وي په ملک کښ؟ | که بې دا دِ هم څه نور څه شته بد موړه
دَ عاشق سَرَه تل جور هم ښه نه دئ | کله کله څه خو مهر کړه بد موړه
له هزار ځله فتنې او خرخښې کړې | زه به چرته ځمه ستا له وره بد موړه

ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه يم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه يم

په چشمانو دِ مېَن يم راته گوره | دَ زلفينو دِ هندو يم مه مي پلوره
پدا شکل شمائل چه لکه ته يې | لا عجب که څوک زوولي وي له موره
په ښايست کښ دِ مخي دَ ښائست نشته | حيف خو دا دي چه بې مهره يې هر گوره
چه زه ستا له دوکه مرم راته دِ شا کړه | مگر مينه دِ دَ زړه شوه له ما توره
ستا له درده له درباره به لاړ نشم | که هر څو مي په جفا سيځې بې اوره
که هزار جور و جفا کړې گمان مکړه | چه له تا مي به دَ زړه مينه شي نوره

ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه يم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه يم

که په ما باندِي څوک زړه سېځي ښائنه | که په حال مي رحم کاندِي ځاي لرينه
کله څوک له خپله ياره هسي کار کا | چه هلک ئې له مرغۍ سَرَه کوينه
ته ئې ولي له ازاره نه وېرېږې | مبتلا خاطر مي ستا له غمه مرينه
خبر دار دِ په جفا په جور نه يم | درست صورت مي آغشته شو ستا په مينه
په جفا په جور دِ هسي رنگ عادت دئ | چه خاطر مي ستا بې جوره نه پاينه
چه دِ زړه هسي جفا جور په ما کړه | اوس ځما ده ستا دَ ور خښته بالينه

ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه يم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه يم

زه چه تل ژړا زاري کوَم و تا ته | ته هم کله کله غبې گوره و ما ته
دا همه واړه ځما دَ بخت اثر دئ | گنې تا کله ترخه ويل و چا ته

چه به حسن په جمال تر نورو زیات وي　　　په هغه باندِي دَ زړه مینه ویي زیاته
که جفا کړې که ستم کړې که عتاب کړې　　　هر څه ستا په ما خواږه دي تر نباته
زه چه مرم څه به بل سره جفا کړې　　　جګي جګي لا ژوندَی یم ستا جفا ته
ستا په کوي کښې لکه پروت یم پروت به اوسم　　　عهد قول مه هم دا دئ تر مماته
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

ته هم څخو فهم کړه څما له آهه　　　هسي جور په ما مکړه بې ګناهه
یکباره په خپل ښایست غلطي مکړه　　　که په حسن کښې تېري لرې تر ماهه
که پتا باندِي زه نه وَي مینَ شوي　　　خلقه به په تا هم نه وه آګاهه
چه مجنون باندي مینَ شو نوم ئې وشو　　　ګڼه څه وه لیلې توره خانه سیاهه
محبت مي دم په دم په تا زیاتېږي　　　په دا حال مي دا ده زیړه ګونه ګواهه
په دربار دِ دروېزګر دَ دیدن پروت یم　　　یَو قدم به دِ وانخلم له درګاهه
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

دَ رقیب په وَیَل مه وژنه ما یاره　　　دَ یارىِ حق پتا ګڼم بېشماره
که مي وژنې بل ګناه په ما ثابت کړه　　　چه را ښه دَ رقیب زړه نشِي یکباره
که زه ستا له لاسه ومرم بختور یم　　　خو وینا دَه دَ رقیب په ما دشواره
ستا دَ مخ محبت هسي په ما ډېر دئ　　　لکه مینه دَ بلبل په ګل بسیاره
تل جفا دَ ښایسته وُ سرَه مل وِي　　　په جهان کښې به هیڅ ګل نه وي بې خاره
که ته هر څو جفاکار او دل آزار یې　　　زه خوشحال به دِ لاړ نه شم له درباره
ستا دَ در په خاورو پروت بېقدره ښه یم
په بل لوري که په تخت کښېنم ښه نه یم

مخمس

گوره موږ به خه شو هیڅ خبر نه یُو له حاله ورَځ او شپه چه درومي خالي نه یُو له جنجاله
موږ به په مرگ ومرُو که مو عمر شي زرکاله گور لَره به ورشو ډک لړلي له وباله
بله تکیه نشته خو هم ستا ده ذوالجلاله

شِي دَ مرگ له لاسه پهر لوري طوفانونه درومي په ساعت کښ دا کالونو سامانونه
پاتې شِي پرزه کښ په زرگونو ارمانونه کاڼي یُو که څه یُو بلا سخت لره ځانونه
حال مي بدل نشي نه څه کم له خپله خیاله

کله خیال دَ پولو دَ پټیو دَ باغونو کله خیال دَ دښتو د لګهیو دَ راغونو
کله خیال دَ زرو دَ گوهرو دَ لالونو کله خیال دَ عیش دَ عشرت دَ ایاغونو
کهله خیال دَ کښلیو دَ جمال له خط و خاله

لږ خیالونه نه دِي که ئې وایم پزرگونه هر زمان را زېږي واړه ستا له اندرونه
ورځ او شپه پرې درومي دَ خیالونو کاروانونه هم په بیدارۍ هم پشپه وینې خوابونه
ستا ده دَ زړه مېنه په خیالونو مالا ماله

کله کوز په مزکه کله پاس په آسمان شې کله گدائي کړې کله ځان لَره سلطان شې
کله شیخي واخلې په حلقه دَ دروېشان شې کله دانشمند ملا دانا دَ درست جهان شې
سر شې په وَیَلو په څو رنگه قیل و قاله

څو رنگه ستاینَه دَ خپل علم کړې آغازه هم له خپله علمه هم له زهده له نمازه
ته که غلیواز یې خپسر واړه کړې تر بازه نوري بازۍ څه دِي بازي خداي سَرَه انبازه
شرم حیا نه کړې نه صادم شې له افعاله

مار وِي هغه علم چه په تن دَ چا لگېږي یار وي هغه علم چه وَ زړه وته رسېږي
درست تحصیل حاصل کړه چه خصلت دِ نه بدلېږي خرې کتابونه په تا لښلي روانېږي
هیڅ دئ هغه علم چه خالي دئ له اعماله

کله دروېشان دِي چه دَ خداي پنامه غواړي در پدر جاروزي لکه خرونه هسي ناړي
هیڅ پوښتنه نکا چه څه مومي واړه نغاړي کور ته چه څه یوسي پخندا خندا وَویاړي
تش خالي چه ورشي خوب ئې نه کېږي پساله

ښه سړی هغه دئ چه ځان کم گڼي تر بله مکر دروغ نکا پرښتیا کښ وي هر کله
چار چه باندي ورشي بله لا ښه کا تر خپله شکر په نعمت کا په بلا صبر تر بله
زړه ئې خالي نه وي همېشه له اشتغاله

عقل اسماني دَي ته ئې غواړه په مزکه ځاي دَ گومي راغي په حکيم په پنډت ځکه
خپله پوهه واړه شعريعت ورته کړه ورَکه سپک به شي بې شکه څوک چه شرعَ گوري سپکه
لار دَ شريعت دَه بې آفته بې زواله
څو رنگه عالم دئ خوښ خورم پخپل روزگار کښ هر چا ته چه گورم واړه ښخ دِي پخپل کار کښ
واړه خپل مراد غواړي په صبر پتلوار کښ سود گورِي مقصود گورِي په هَرَه هَرَه چار کښ
واړه خپل قسمت خوري دَ دنيا له ملک و ماله
ولي کناس نه دئ چه مالک دَ زرو پول شي کبر لوئي واخلي عجب خيال باندِي نزول شي
دئ که نا قبول دئ په هر چا باندي قبول شي کله ئې نظر دَ چا په فرع په اصول شي
څه به درته وايم زه دَ زرو له احواله
خداي ږو که خبر وم چه دا هسي بلا دئ اوس چه پرې خبر شوم راته بد تر اول لا دئ
ځکه راته بد شول چه دَ هر سفله تر ملا وي مخ دَ هغو تور شه چه په زرو مبتلا وي
نام لره په کار دي که نه کم دِي تر سفاله
پاک دِي که ناپاک دِي دَ خپل ځان ثنا صفت کا خوښ له خپله ځانه پخپل کار کښ فراغت کا
هيڅوک محتاج ندي چه به غوږ په نصيحت کا خپل غرض ته گوري کار د زړه په مصلحت کا
ولي فضولي کړې دم پخود اوسه خوشحاله

ترکيب بند ذوالقافيتين[1]

څه دَ بدو خوب وُ چه مي وليده سحر ستړگي مه رُنې کړې ناقرار شوم په بستر
پاڅيدم له کټه لکه خوږ شي دَ چا سر هسي شان او تروَم نه مي لير[2] ليده نه ور
ولاړم تر مبرزه هسي راغلمه اوتر غسل مي په ځاي کړ په سنت دَ پيغمبر ﷺ
درست خلق اوده وه واړه خوب کاوه خرخر هيڅوک خبر نه وُ اشرفخان مي کړ خبر
هر چه نصيحت وُ لکه بويه دَ پدر ما په کتابت ورته ادا کړ مختصر
جوړ شوم پېښور ته چه را درومي خيست جمدر ونړل سرو نازه به دوه ځله مکرر
ورَځ وه دَ جمعې رجال الغيب وه برابر تله مغرب رويه وُ پدا ما نکړ نظر

۱. دا ترکيب بند حبس نامه ده، خان د خپل حبس تفصيل ټوله پکښ کړې دي.
۲. لار.

څوک به وجار باسي مبرم حکم دَ داور ډېر دِ فراست لري هنر ګنج و لښکر
ولاړم تر مسجده نمونځ مي وکړ پګه تر سپور شوم به سيلۍ نور مي واچوَوه په لير
هسي په هوا تلم لکه باد درومي صرصر ګښي تنها تله په نور ښهر وخوت نمر
نه وُ لا دوپهر چه مي ځاي شو پېښور واستاوه مغل ته ما هغه ساعت نفر
ويمي دايم راغلم ستا پخط ستا پخاطر کوم ساعت حاضر شم پما کومه لرې چر
دا ځواب ئې راغَي چه راتله دِ وُ بهتر کانده په دېوان دِ را ښکاره کړه خپل پيکر
درې ورځي شوې تېري دېوان نکړ ګيدي خر دئ په څو و ماته زه له ځانه بېخبر
شيخ دَګجرات دَ ده پېشدست وُ يو بشر سر تر پايه واړه په ديدن کريه نظر
ده وې تر ما راشه چه کنګاش کړو مقرر بيا به دِ نواب ته وَيل کړو زير و زبر
ورغلم تر ده پوري زه پاک پخپل باور ترونه مي نا اهل مغلي شوي پدا شر
لور په لور مغل تر ما چاپېر شو په هنر مفت ئې په لاس کښېوتم پحکم دَ قدر
بڼغ وشو په شهر دا خبر شو منتشر هيڅا نه پسندل پخداي پسنده وه مګر

کوز ئې کړم له کوټه چه ئې کښېوتم په حال
ژر ئې را په پښو کړې پنج سيرۍ بېړۍ کوټوال

خپور شو په ملکونو دا خبر په درست ديار درست عالم دلګير شو لا ښتون يار وا اغيار
هر چه اُمرګان وه په صوبه کښې منصبدار کل عالم حيران شو چه ئې وليده دا کار
ولاړل په سبا دَوخته ټول شول پدربار وئې وې دا هسي رنګ نېکخواه دَ شهريار
دا رنګه نيوه شي نواب ښه ګڼي دا چار چپه خوله شو پاتو هيڅ ئې ونکړ ګفتار
پاڅيدل له ځايه امرګان شول تار پتار درې ورځي شوې تيري ځما ترونه ناپکار
ورغلل مغل لَرَه قبول ئې کړ مدار آس او خلعتونه مغل ورکړه په اقرار
ملک ئې ځما ورکړل نالايق ئې کړل سردار کور او خېلخانه اولس همه شو خبر دار
درست خټک دَ ديوو کشتن ته شو تيار ورح دَ ديو والووت په بلا شو ګرفتار
ما و خېلخانې و قام ته ووې چه زنهار مرګ کشتن نه بويه نه څه نور شر و اشرار
يو به دښمن ښاد شي چه ئې ورک کړ خپل تبار بل به فساد کړه شي دَ بادشاه درومي اعتبار
دوي او درست اولس به زيارت د شيخ رحمکار ټول شول له دې کار بقريب شول توبه ګار
زويه مي نادان وُ په خطا ولاړل بسيار مرګ کشتن که نه وي ددې مه پرېښوي وقار
دوي پزړه کښې دا وې چه که سل کړو که هزار هر کله چه خلاص شي فلانه موږ يو پدار
بل فکر ئې نه وُ ور پيدا شو دَ ځان ډار مرګ وته مي کښېناسته په ليل و په نهار
تېري شوې په بند کښې ځما دوه مياشتي پشمار ملک واړه ويران شو خلقه شوه په کهسار

وغوښتې پنځوس زره روپۍ صوبدار — ما وې دربه نکړم یو پوچک نه یو دینار
دواړه لوریه وکړه سَرَه دا قول اقرار — یو مغل بې پته بل مي ترونه شرمسار
اوس خو بایده دا دئ چه ئې ځاي وي هندوبار — ژر ئې فکر بویه په تعجیل او په تلوار
زه په دا لا خوښ وم چه که ورشم تر دربار — دَ عمر دولتخواه وم دَ عزت وم طمع دار

هند ته ئې روان کړم بدرقه مي مستجاب
هم ملک هم خان هم د همه غوري ارباب

زه ئې کړم له ښهره په شتاب شتاب روان — راغلم نرم نرم په رباط دَ شابیگ خان
درسته شپه څوکۍ دَ محب خېلو پخپل ځان — بل وُ مصریخان د اووزیو ټول احدیان[1]
راغلم تر نو ښهره په سبا هم پدا شان — خلق په ژړا په ننداره راته حیران
څه به دَ نو ښهر دَ شپې زه کوَم بیان — درسته شپه زلزل وُ په هندو په مسلمان
صبح ئې کوچ وکړ پښتانه مغل لرزان — لور پلُور پَوزونه وُ ځما ټوله تر میان
ما وُ پیغام کړَي په اولس په اشرفخان — نه بویه دَ جنگ دَ خرخښې فکر سامان
موږه دَ بادشاه یُو قدیمي دولتخواهان — یَو مي نام بدېږي بل ستېږي افغانان
راغلمه تر سرایه سراي یکلخته وُ ویران — تا به وې هرگز نه وو میشته دا ځاي انسان
څه به درته وایم څه پېرې لري آسمان — څوک ورته توارنېږي چه شدت کانِدي عیان
ډېري گراني راشِي په سړیو په جهان — خداي و سړي ورکا بیا دَ هري چاري توان
گران ساعت هغه وُ چه مي ولیده عثمان — بیا راغي زینو دَ خېلخانې یَو څو ځوانان
راغله په ارمان ځله جدا شو په ارمان — زه او دوي دَ سراي حجر شجر واړه گریان
راغلو په نړې نندارځي مردان زنان — هسي رنگه ولاړ وُ لکه بې روحه بتان
راغلو په گرمي دَ خیر آباد پېچان پېچان — پوري که راپوري خلق واړه نندارچیان
هر چه را سَرَه وُ هغه واړه وُ ترسان — چا وې چه خټک به حاضر نشي په میدان
ما خو پیغام کړي وُ هم دا مي وُ گمان — اوس به را څرگند شي له یوه لوریه میدان
هسي جنگ به وشي پدا آخرالزمان — گوره څو به شمار شي دواړه لوریه کشتگان
جنگ جدل ونشو حکم دا وُ دَ یزدان — پوري شوم ترسینده په اټک شوم نگران
درست اولس مي واړه په غوغا حیران پرېشان — ویر مي په کورونو په هاي هاي مي فرزندان

راغي په خټکو باندِي هسي یَو ساعت
تا به وې نازل شو په جهان کښې قیامت

---

[1]. دا کلمه عیناً ولیکه سوه، حل غواړي.

زه ئې له اټکه نه روان کړم په دا حال / ور ئې وړم په پړه په بابا حسن ابدال
بیا له هغه ځایه په پنډۍ په استجال / بیا له هغه ځایه تر رباطه وشو چال
راغې په رباط کښې له نوابه یَو مثال / بیا ئې بیارته یووړم تر پنډې دم درحال
راغي په پنډي کښې یو خط پدا منوال / وانې ئې په وړاندي و دربار ته بې اهمال
ولاړم له پنډۍ شپه تر منځ دَ ککړتال / ولاړم تر لاهوره کوچ په کوچ پارتحال
زویه سعادت باقي میرباز پرېشان احوال / راغله په لاهور کښې را پسې دوې په دنبال
وړاندي تر ما ولاړل و دربار ته په ارغال / و ئې کړه بخښې ته له دیه حاله قیل و قال
زوي دَ میر جمله دَ میر بخښې په استقلال / ډېر مهر ئې وکړ دلاسا جوال جوال
وې ئې چه را وَرَسِې دربار وَته خوشحال / نور به سر افراز شي غم ئې نشته یَو مثقال
زه هم په وسط دَ رمضان کوچمال کوچمال / وَرَغلم دربار ته زر څلور اویه[1] وُکال
ډېر رد و بدل شو پدا منځ کښې ځواب سوال / حکم دَ خلاصۍ دَ ضمان وشو په اجمال
ځاي په حویلي کښې تر خپل څنگ راکړ کوټوال / جوړ شو ضماني ته سید شمس دَ جلال
موږ پدا فکرت وُ چه پمیاشتي دَ شوال / راغي عرضداشت دَ سید میر پدا مقال
مه پرېږده خوشحال دَ ده پرېښول دي اختلال / بیا په منځ کښې پریووت دَ خلاصۍ ډېر جنجال
ملک منصب جاگیر ځما تغیر شو مال محال / دولس منصبدار مي تاپیني شول پایمال
نر ناحق په کښل دَ بدو ویل دَ بد سگال / وپسنده ظالم بادشاه پماناندي اشکال
زه دلي په بند هورې ځما اهل عیال / تار پتار په غرونو په عذاب او په وبال
هسي چاري وشوې چه د چا نه وې پخیال / نشته دَ اورنگ بادشاه په عدل اعتدال
لور په لور خپرې شوې را لښکري دَ دجال / نشته یَو مهدي چه را ښکاره کا خپل جمال

دَور دَ اخر دئ سان گړ شو لور به لور
یَو تر بل اخته شو جهان واړه کور په کور

خداي را باندِي راووست دا همه واړه محنت / څو چاري سبب شوې درته وایم حکایت
یَو چه زه مغرور وم په راستيِ په خدمت / بل دَ مغل طمعَ ځما نه ورکړل عادت
بل مي ناشکرۍ بل دَ وروڼو حماقت / بل چه فرزندانو مي خطا کړ مصلحت
یو ځله هم نه خطا خطا کرت کرت / واړو مشرانو اشرفخان بهرام سعادت
و مي کړ اشرف وته دَ توري اشارت / هیڅ عمل ئې نه وکړ ځما په نصیحت
څه خدایار خلیل څه ئې حیا څه ئې حرمت / څه جگړام هندو څه دَ هندوانو برکت

---

[1] ۱۰۷٤.

یَو یَو ځوان پوهېږي دَ غلیم په حرکت	زهر کډوَل شيِ دَ شکرو په شربت
زویه هغه زویه چه هنر لري حکمت	پوه وِي دَ دښمنو په فریب په خدیعت
ونیسي په لاس کښې سخاوت و شجاعت	نه صرفه پېځان نه په جهان اعلي همت
درېغه اشرفخانه دستیاري هونبره قوت	درست اولس په لاس کښې هیڅ درونه شو جرأت
ورغلل مغل ته دَ اشرف وُ قباحت	هم ځما آفت وُ هم هر چا لَره آفت
څو چه ملک ویران وُ دَ مغل وُ ډېر هیبت	وشوه وداني دَ ملک پوره ئې شو حاجت
وئې کښل بادشاه ته دَ جگرام مجرا عزت	بوت ئې وکابل ته اشرفخان په شرارت
باخېده بهرام ته پدا منځ کښې یو غیرت	درست اولس ئې ټول کړ په نړۍ راوخت
تشي سر هوا غوټې دَ باز نه وي خصلت	باز نه وُ بازرنگ وُ چه ښکاره ئې شو حالت
زه وم په دهلي کښې گرفتار پدا زحمت	تېري شوې په بند کښې پنځه میاشتي زیادت
بیا دَ میر جمله زویه بادشاه نه په خلوت	عرض ئې ځما وکړ دَ میر خان په کفالت
دا ووې بادشاه فلانه به خلاص کړم سلامت	زن بچه که راولي و هند ته په سرعت

حکم ئې دا وکړ امیر خان ته وشول کښل
زه په بند بندي ځما کورُونه راوستل

واروېده دا حکم سعادت باقي میرباز	راغله یکا یک ئې حقیقت کړ را آغاز
میاشت وه دَ صفري چه درې واړه لکه باز	وئې کړ وطن ته په رخصت ځما پرواز
ولاړل تر وطنه په شل ورځي یکه تاز	یو پېځاي را نغيَ چه د موړو سره راز
غرب وته قبله وه و مشرق وَته نماز	تله وه کربلا ته دَ حج لوري و حجاز
څه به درته وایم له دې حاله دورو دراز	کوټې کوټې حال دئ مختصر بویه ایجاز
واړه لوي هلک چه مي ساتلي وُ پناز	واړه په نعمت کښې پرورده ملوک شیراز
تار پتار خواره شول مبتلا په ډېر نیاز	دَور دَ گردون کړل دَ بلا سَرَه انبار
هره ورځ فلک لري تازه تازه طراز	هیڅ باور ئې نشته په نواخت او په نواز
وَ ولي پزمکه یو ساعت کښې سرفراز	پروت پتورو خاورو پزمان کاندي ممتاز
ډُوب کا په دریاب کښې چه محکم لري جهاز	وباسِي له مینځه چه ئې نژده وي شناز
څه کړم چا ته آه کړم هیڅوک نلَرم دمساز	چا وته ناره کړم څوک مي نه اروي آواز
درومم په بل لوري په فلک راشم باز باز	نه وَي دا فلک مه ئې دا هسي امتیاز
اهل په خوارۍِ کښې نا اهل په اعزاز	څېري خت مېرمني خدمتگاري په پېشواز
هر چه ابلهان دي روغني خوري دَ خباز	هر چه دانایان دِي نان خورش نلري پیاز
نشته د رښتینو کره یو کُهنه پلاز	سره ټغر په کور کښې دروغژن لري غماز

نور مرغونه گرځي په باغونو په طناز   بندي دي هم هغه چه یا ئې رنګ نشته یا آواز
آس واړه شاخوړي په نشیب او په فراز   خر وهي خرتیزې په آخور کښې په رباز
څو به درته وایم حقیقت دي که مجاز   بس کړه دا خبره مختصره هم ایجاز

څه کړم نه پوهېږم دا فلک سفله پرور
لاس رسیدې دریغه چه پر سوړ کړلې تېر

دوه ځله سراي مات شو یو ځما په بندیدل   بل د سعادت باقي میرباز په رسیدل
یو ځله په ماتي تر هنګاله وَرَغلل   بل د اکوزیو په سیکري ننه وتل
نه ئې توره سره وه نه د سرو ماتیدل   زویه مي له ملکه له اَوَله وُوَتل
زه په هند کي بند وم اشرف خان وو په کابل   واړه زن بچه مي په سیکري کښې داغیدل
راغلل و بادشاه ته د کابل د صوبې کښل   ملک د سراي ویران شو پر بیحده وُشو زلزل
ځاي په ځاي فوجونه په څوکي کښېناستل   لار د سراي نیولې مسافر ئې چلول
جوړ شول یوسفزي خټک سراي ته په وهل   څو ټټوان ئې بوتلل په سحر تر وختل
بارې څه ختل وُ نه ختل وُ نه متل   بارې څه وهل وُ نه وهل وو نه مهل
نام ناموس مي لاړ شو چه اعتبار وُ د مغل   نوم مي د بدخواه شو چه نیک خواه وُم تل تر تل
ملک ئې وو راکړي په پنجاب کښې متصل   حکم د بادشاه وو صادر شوې په پرېښول
لیږ دئ که محنت دئ که کشتن دئ که شړل   واړه په قمست کښې په سړي باندي نازل
دا چارې چه وشوې بیا تر منځ شو فکر بل   څوک ئې په چا نه کا د سړي دي نصیحت خپل
زه دَ یوسفزي په ځان زهر وم قاتل   بل مقصود مي نه وُ په خدمت کښې د مغل
ډېر شاهان ځوانان مي یو د بله ووژل   تیر ساعت ارمان دې پشیماني نشته حاصل
دا په خیال د چا وُ یا په فکر جار وتل   خواست رضا د خداي وه په هر شان چه شوې شول
شاباش په هغه شه چه دَ ننګ وکا پالل   راغله یوسفزي لکه پېښې شو کار مشکل
یو وو بائیزې را نړیزې ور سره مل   لوئې هلک مي واړه تر دریاب پوري وتل
لاړل تر سیکري ور سره مل کورونه سل   نور خټک مي واړه په خپل ځاي ودریدل
څه بلا د خداي ده د وطن جدا کیدل   رونړه عزیزان خویشان وَ بله بیلیدل

یو هي هي هاي هاي وُ په ژړا وُ لوي هلک
درست عالم حیران شو چه څه کار شو په خټک

خداي خو خبر دار دئ که ښکاره نه دئ په چا   بند یم خلاص دِ نشم که دروغ وایم په دا
خپل وُ که پردي وُ که اشنا که نا آشنا   چا سره مي نیت دَ بدو نه وُ د جفا
هر چه مخامخ وُم هسي شان وُم پسې شا   بل فکر مي نه وُ نه د دُوي نه دریا

هیڅکله په ظلم روادار نه وم اصلا | هر چه ظلم کار ؤ له هغه مي وه بلا
هر چه رعیت ؤ څه غریب ؤ چه غربا | دا مي ؤ په نیت کښ چه آزار نشي له ما
زرکه زرینه که مال و ملک ؤ د دنیا | واړه مي پیرزو په خیلخانه ؤ د آشنا
بد وم له هغو چه مبتدع ؤ نا صفا | درست په زړه مین وم په فضلا په علَما
قصد مي له هغه ؤ چه مفسد وو بې وفا | غم مي له هغو ؤ چه غلیم ؤ د بادشا
عمر مي چه تیر شو په راستي په رښتیا | نه مي وه په کار کښ د مغلو هیڅ دغا
پلار نیکه مي ځان کړ د نمک په کار فدا | بل پښتون مي نه ؤ په راستي کښ همتا
زویه مي په بند شه له وطنه شوم جلا | څو چاري را وشوې نه گناه نه مي خطا
تار په تار مي لاړې خپلخانې کجا کجا | واړه په ډېر غم کښ مبتلا جدا جدا
ملک واړه برهم ودان ښهرونه پوپنا | تار په تار له ملکه درست عالم په واویلا
څو میاشتې په بند وم په دهلي کښ په عنا | اوس په رنتنبور کښ بندي پروت یم یکتنها
هیڅ د اورنگ زیب بادشاه په دا نشته پروا | خلق که دده له ظلمه کاندي تل ژړا
گوښي په ما نه ده ډېره وشوه په هر چا | شل صوبې د هند دئ په هر لوري ده غوغا
هر چه کتګان دئ په صوبه کښ کد خدا | څوک په بند بندي دي څوک لا گرځي ناوِیسا
یو په رنتنبور کښ دوه سو ناست دي مبتلا | څو گوټونه نور دئ پکښ بند دي بې احصا
ړومبي ئې تر داړه په خپل پلار سره کړه خوا | بیا ور پسې نور وهي چه دئ اعلیٰ ادنا

رنگ د هغو ورک شه چه آوټه وائي دروغ
نشته څوک په ملک کښ چه له ده وي په زړه روغ

ده چه له دکنه نه را هسک کړ خپل علم | ورک ئي کړ په ظلم هم په مکر ډېر عالم
ؤئې کړ اول له مراد بخش سره قسم | راغې په اُجیَّن جسونت سنگهـ ئې کړ برهم
بیا په آگره راغې په دارا ئې کړ تور تم | بند ئې شاه جهان کړ تر ئې بیل کړ درسرت حشم
بیا ئې مراد بخش د شاهجهان سره کړ سم | یوړ ئې تر ملتانه په دارا پسې پرچم
بیا راغي په بیرته په شجاع ئې وروست غم | جنگ وو په کجوه کښ چه شجاع شه منهزم
بیا دارا جنگ وکړ په اجمیر کښ بیش و کم | مخ په مغرب وتښ دارا شاه برهم درهم
ؤنیوه جیونړ پنړي په کور کښ په خپل چم | را ئې وست دهلي ته دده سر ئې کړ قلم
بیا سلیمان شکوه د دارا زویه مکرم | راوست راجپوتانو گرفتار شو په اَلَم
لاړ شو شاه شجاع ته مشر زوي شو د ده رم | بیا ئې ځني بیل کړ په ډېر مکر په ډېر دم
بیا په شاه شجاع پسې دلیر ؤ معظم | وې یوست له بنگه گوره چرته څکوي دم
را ئې وست په خونه د خپل پلار هسې ماتم | کار ته ئې حیران شو همگي عرب عجم

دا تَردد واړه په دوه کاله بیش و کم — وشه د دهلي سلطنت پر مسلم
وشوه اوه کاله زر اویا کاله دوه کم — ده چه د دهلي په سریر کیښوده قدم
یا آزار د پلار دئ یا اثر دي د قسم — یا ئې له غروره مبدل شو خوي شیم
یو هې هې هائې هائې دي په انواع انواع ستم — څو کاله له نور وي درست عالم به کا عدم
هسي په ظاهر صورت په مکر دي محکم — وایې چه پیدا شو ثاني ابراهم اَدهم
فعل ئې چه ګورې هلاکو دئ یا اظلم — چا دي ارویدلي په اولاد کښې د آدم
پلار په بند تړلې قتل کړي ذي رحم — واړه ئې د خپلي خودکامئ لا په غم
هیڅ د خوار مظلوم په حال پوښتنه نه کړم — دواړه ورته یو به تفحص کښې ګرم نا ګرم

دا هسي بادشاه دئ دا انصاف دا ئې تمیز
خداي به نا انصاف په جهان نه لري عزیز

واوره دا خبره درته وایم ممتحن — واړه کار په بخت دي په طالع دئ نور سخن
چیري دارا شاه چیري دده جاه و مخزن — چیري د دهلي زمزمه زغرې جوشن
چیري اورنګ زیب څه ئې پایه څه ئې دکن — څه د ده سامان څه ئې لښکر خچن مچن
راغي په آګره د ده په سر ایښې کفن — تار په تار فوجونه د دهلي برهم زدن
بخت چه چا ته مخ کا د هغه چمن چمن — ګل شګفته کیږي په ښوره کښې په ګلخن
بخت چه چا ته مخ یا ور دِ بند کا په آهن — ګنج ورننوزي تر دیواله تر روزن
بخت چه چا ته شا کا که دانا وي د زمن — خپله دانائي ئې سرې لمبې شي د خرمن
بخت چه چا ته شا کا مرغلرۍ د عدن — نه پیري د ده د مرغچیچو په ثمن
کار دَ دې اوو په هیچا نه دي مبرهن — دولس ځایه ګرځي په ځاي ئې نه لري ممکن
هر لوري ته ګرځي هم پاسبان دي هم زهزن — څوک تر خوف تیر کا د چا ووهي ګردن
څه به درته وایم چه ئې څو دئ مکروفن — خلاص ئې له آسیبه نه دئ هیڅ نوي اوکهن
واړه یو نفس دي نتیجه ئې ما و من — واره په ټکئي دي چه ئې وُځي له دهن
ورک شو د یزید په هغه څو کاله دیدن — باتو شه پر لعن د حسین او د حسن
تل به د اورنګ نه وي دا کروفر و فن — پاتو به په ده شي تل نفرین د مرد و زن
څه شو که دولت ئې آویزاند شي په دامن — بیا کله سفله دي دا عليٰ پائې څښتن
هر چه به فطرت کښې پیدا شوي دي خیرن — پاک اوصاف به نشي که ئې تل وینځې بدن
څه شو که د باز له ځاله والوزي زغن — بیا زغن زغن دي که هر څو دې پنجه زن

هر چه پاکیزه لري خپل اصل خپل ګوهر
مه کړه خداي چه راض شي پهٔ آزار د خپل پدر

خداي وکړې دا چاري په ما واړه وکړې زړه
څو چاري غلط شوم چه مي لوي کړ احمق تره

بل چه د ده لور مي امرا ته کړه واده
بل چه په کور کښ څه کښ نسول سپين او سره

بل مي چه کوټ محکم بنا نه کړه په غره
بل چه مي په توره په خدمت غرور کاوه

بل چه مي مغل په ورکړ مرکړه نه غلاوه
بل چه مي په وخت دينو ملک نه ولاړه

بل چه مي قوت د يوسفزيو ورکاوه
بل مي چه په اصل غوريه خيل پښتون ګاڼه

وائي چه له ځانه په اولاد وي پيرزو ښه
خداي به کا رواني په اصلي ويلو اوبه

دا يو څو خبري چه ما راوړلې په خوله
بويه چه همه واړه وکښلې شي به زړه

نرد دئ که شطرنج دئ که چوپړ دئ وايم زه
دا واړه چه ئې زده شي نو ئې لوبه شي هاله

هر چه په دا کار کښ څوک اومه دي که پاخه
وکاندي پاخه په زمان چاري په اُومه

هيڅ په خپله پوهه هنر مه شه غره ته
هر چه تر تا بهه دئ عقل زده کړه له هغه

وائي چه په پوهه بوعلي چا وُويشته
بيا په ډيري چاري خَلَقو احمق باله

هيڅ سړی هغه دئ چه به ځي په هره خوله
کار په توکل بويه نه خلقو ته کاته

يار چه هسي ښه وي چه ئې ځاي کړې په ليمه
بيا ئې ياري مه کړه هيڅ غلطيده

څه بلا ډېر ښه دئ د دوو سترګو تور باڼه
سترګي د ړندې کا مشه سترګو ته کاږه

مل هغه باله شي چه تير بير نه ځي تر مله
مل د خپل مقصود دي چه ئې وړاندي وروستله

نه وي د چا تر ستوني تير چيري ترخه
بوټي د سپلمۍ د ګنډيري ګنډې خواږه

څوک چه په لوستو لوستو ملا نه زده کا څه
څوک د مور په نس کښ زده کا وزيږي هاله

دوه سو شل بيتونه دئ يولس بنده ښه
ما په رنتنبور کښ د زړه تاو پر سړاوه

مربع

د شهي تورو سنبلو　　　په سپین مخ ئې تسلسلو
پر غوغا کانړئ بلبلو　　　تل به وخت نه وي د گلو

له ما گرځي دُوره دُوره　　　نظر نه کا له غروره
نور که مري په تیره توره　　　زه ئې مرم په تغافلو

زه هغه اخلاص لرمه　　　ستا په سترگو سوگند خورمه
چه مانړې کړې له ما مرمه　　　مخ دِ تور شي د چُغلو

راته نه خاندې غمگین شم　　　ستا له جوره په زړه خوړین شم
نه به باز نه به شاهین شم　　　نه به راشې په منگولو

خپل انداز ور لره بس دئ　　　خوښ په خپل هنر هر کس دئ
ځان ته گل وائي له خس دئ　　　هر یو ست د خپلوط ملو

که مي زړه که مي دماغ دئ　　　نه ئې باغ پکار نه زاغ دئ
په دا بوي مي زړه فراغ دئ　　　چه ئې راشي له کاکلو

همیشه ورپسې ژاړم　　　په موندنه به ئې ویاړم
که ئې مومم زه ئې غواړم　　　په اوراد د څلور قلو

شکر دا چه په پرواز یم　　　دَ ښکارونو وته باز یم
زه خوشحال د غرونو باز یم　　　چه په بند وم د مغلو

معشر

ته خپل خوب کوه بتُا   که زه درسته شپه بې تا
سترګي سرې کړم په ژړا   نارې وهم په واویلا
چه تر کاڼې سخت دي لا   هغه هسي زړه دي ستا
څو لا پایم په دنیا   که زړه سوي دِ شي پما
نور څه نه غواړم لتا
مکړه دا هونبره جفا
که تیره توره وکښلې   راشې ته قهر نیولې
رقیبانو سنده ولې   دواړه لېڅې دِ غښتلې
بیا یو څو کلې وهلې   وکشتن ته جوړېدلې
ما دِ دا جفا مَنلې   خون بها مي در بخښلې
هونبره مهر وکړه کښلي
را ښکاره کړه خپل لقا
ستا دَ مخ په ارمان مرَمه   کوک په کوک نارې وَهَمه
دا آرزو په زړه لَرمه   که تر ځایه دِ درشمه
چرته دورمم څوک پُښتمه   چه و هر لورې ته ځمه
په سرونو قدم ږدمه   په لار ستړلي ودَرَمه
تل په دا طلب کښ خورمه
دَ زړه وینې یک تنها
هغه ورَځ چه مین کېږِي   عاشقان تر سر تېرېږي
که عالم ورته ویېږي   نه ئې ننګ وِي نه شرمېږي
نصیحت پرې نه لګېږي   له کشتنه نه وېرېږي
پورې خلق حیرانېږِي
له هر چا وِي شا پشا
نور ئې هیڅ نه وِي په دل کښ   په سکوت او په وَیَل کښ
په خوړلو په نوشل کښ   په خلوت او په محفل کښ
په میدان او په ځنګل کښ   په لیدَل او په کتل کښ

په فروخت په پېرَول کښ په ولاړ په پریَوتل کښ
په آسان او په مشکل کښ
دَ خپل یار لَرِي هوا
که هجران وي که وسال وي دواړه ده وته يَو حال وي
که هزار غرُونه جبال وِي ډېر سیندونه ډېر اطلال وي
تر دا منځ پرده محال وِي ور ښکاره دَ یار جمال وي
جلوه گر ئې خط و خال وي خوښ خورم دَ یار پخیال وي
هم پدا لیده خوشحال وي
نه کا بله تمنا

مسدس

محبوبا پري رخساري سر تر پایه قلم کاري
دوه دِ سترگي دِي کټاري تل په لاس تېرې کټاري[1]
چه ئې واړوې بیماري خونرېزي کاندي خونخواري

دوه دِ ورُوځي دِي مهیني دوه دِ زلفي عنبریني
دوه دِ شونډې شکریني نازنیني مه جبیني
سر و قدي تن سیمیني جفا جوئِي دل آزاري

تور گیسو دِ مشک افشان دئ په سپین مخ دِ پرېشان دئ
تارپتار پېچان پېچان دئ په هر تار ئې اویزان دئ
که شیخان که زاهدان دئ په هر چا دِ وکړې چاري

۱. محشي حنجر ترجمه ورته کښلې ده.

ډېر پتا پسې افګار دي — په فرياد او په کوکار دي
ستا دَ وصل طلبګار دي — صبر نکا نا قرار دي
عاشقان دِ صد هزار دي — ما به چا سَرَه وشمارې

بيا دِ ولي مهر نور شو — چه نظر دِ په بل لور شو
په کوګل کښې مي بل اور شو — قراق ډېر را باندي زور شو
رود د اوښيو دي را خپور شو — زه ئې څو لرم حصاري

څخو مهر ته دلبر کړه — نه تل جور سراسر کړه
په ما خوار باندي اختر کړه — له برقع نه مخ بدر کړه
ځما اوښيو ته نظر کړه — چه په مخ ځي لاري لاري

چه مي يار ګاڼه يار نه وُ — بيهوده مي زړه پرې ښه وُ
په خپل راي وُ پخپل زړه وُ — ځما ډېر اميد په ده وُ
دئ دَ هر غماز پخوله وُ — تل پما پسندي دشواري

چه ئې بيا ترکښ پميان کړ — چه ئې عزم دَ ميدان کړ
چه سمند ئې پجولان کړ — واړه خلق ئې حيران کړ
ږغ ئې ګړ پدرست جهان کړ — خَلقې ئې کړې همواري

آرايش دَ خط و خال کا — ستايش دَ خپل جمال کا
تل تل کبر تل تل خيال کا — تل تل پېچمي تل نا خوال کا
څو ناسازي په خوشحال کا — سل فتنې لري تيارِي

مخمس

و عاشق ته دوه قدمه بحر و بر دئ — نه ئې گرد په لَمنَ پروت نه دامن تر دئ
په فرياد نارې وَهِي په نارو سر دئ — چه دَ عشق په گرانه لار کښ ډېر خطر دئ
هر قدم چه په کښ آخلي ډار دَ سر دئ
عاشقان دَ شاه دَ خولې په جامې سپيني — قلندر دِي نه لباس جامې رنگيني
اندرون مي واړه ډک شو درست په ميني — که سينه مي سَرَه چاک کړې و به وينې
چه مي ستا له غمه ويني درست جگر دئ
ښايسته چه په ښايست کښ دلنشين شي — دَ عاشق سَرَه ډېر مهر لږ ئې کين شي
نه چه تا غندي آفت دَ دل و دين شي — ستا دَ مهر باران نه ووري چه شين شي
ما پزړه کَرَلي ستا دَ ميني کر دئ
عاشقان په عشق کښ نکا دَ سر ويره — دَ سر ويره اندېښنه دَه مختصره
که دَ راز پياله دِ هر څو ده تيز تره — ستا په راز به ژبه هم نکړم خبره
تل تر ژبي رسېدلي راز سمر دئ
نتيجه ئې سوړ سوړ آه سپيني اُوبه وي — آبله دنَنَه زړه لېمه ئې سَرَه وِي
مشقت ئې هم پڅان هم ئې پزړه وي — زه خبر نه يم له عشقه چه عشق څه وي
هونبره آروم چه له حسنه ئې اثر دئ
عاشقان په غم خوشحال دلگير بې غم دي — په هوا دَ يار دَ زلفو پېچ و خم دي
فارغ شوي له وجوده له عدم دي — چه ئې عشق تر سره کړي هغه کم دي
په دا کار کښ لاف وَهَلي يَوهَ هر دئ
دَ بلبلي خوشحالي وِي په گلزار کښ — دَ عاشق دَ زړه خوښي وِي پديدار کښ
څو به عمر تېروَم په انتظار کښ — صبر مه غواړه له ما دَ عشق پکار کښ
جو دانه صبر په ما باندِي لوي غر دئ
اول مينه دَ يوسف په زليخا وه — بيا له پسه دَ مجنون او دَ ليلا وه
له غه پسه دَ وامق او دَ عذرا وه — عاشقي لا زه ته نه وُ چه پيدا وه
نه چه ما او تا گڼه کړي دا هنر دئ

که پلَو له مخه لیري محبوبا کا   بیدلان به پروا نه بخپل لقا کا
تلل له ما سَرَه فتنې جنگ و غوغا کا   خو ځما طالع ښي ندي یار جفا کا
گڼه کوم یَو په وفا تر ما بهتر دئ
یَو زمان مي خالي مه اوسه له خیاله   په خوله گنگ اوسه دَ عشق له قیل و قاله
په ناله دِ که بتر شِي تن تر ناله   دَ عشق غم له خلقه پټ لَره خوشحاله
څه ئې پټ کړم چه عالم ځني خبر دئ

مخمس

تل دِ ستایي پدرست ملک کښ کښلي سل څوک   یَو به نه وِي پدا شکل و شمائل څوک
حد دَ چا دئ چه دِ پَل ږدي په بورجل څوک   که زه نه وَي تا به ځان لَره بَلَل څوک
په پالنگ به دِ دا هسِي را ختل څوک
خداي ځما پزړه کښ ځاي محبت ستا کړ   نه چه ما پخپله زړه پتا شیدا کړ
کور پکور مي دَ زړه راز میني رسوا کړ   واړه عشق دئ چه ئې سر راته گیا کړ
گڼه زه پځان مین دَ سر ښندل څوک
عاشقان په عشق کښ خوار و بېچاره شي   لور په لوري په جهان گرېوان پاره شي
آواره دَ یار د مخ په ننداره شي   چه پتنک ته ورښنائي دَ څراغ ښکاره شي
نور له څراغه دَ ده غواړي جار وَتل څوک
که په زړه کښ مي دَ میني ذره نه وي   هونبره ستا په مهر مینه غره نه وي
لکه زر دَ اور په تاو کښ سره نه وي   بدرقه که محبت را سَرَه نه وي
یکتنها به په خونخوارُو لارُو تلل څوک
راته وائي دَ رندئ پکار کښ سست یې   دروغجن په میخوري کښ نادرست یې
ما په سر دَ دروغجنو خاوري لوستي   دَ دیو میو پیالې ډېرُو دِي آخیستي
ولي ما غُندي به نه وي لایعقل څوک
عاشقان د دَ چشمانو مي پرست دي   همېشه دَ بېخودئ پیالې په دست دي
په مستي کښ له بلا سَرَه پیوست دي   دَ زنخ په څاه دِ بند دَ شونډو مست دي
روغ هوښیار به په کوهي کښ پرېوتل څوک

چه نا ترسه بې پروا راغلې له ځایه نوري نشته لکه ته یې خود آرایه
خود آرایه خود پسنده خود نمایه ته پخپله راته وایې چه ئې وایه
گڼه زه دَ میني راز ښکاره وَیَل ځوک

دَ مجنون او دَ لیلا وَیَل یادېږي ځما ستا وَیَل په هر لوري زبادېږي
همیشه مي زړه په دا وینا ښادېږي ښه خو دا چه دَ چا نوم پکښ یادېږي
په فاني دنیا به نه وي ژوندي تل څوک

واړه تا زده درته نه وایم چه زده کړه لون لون طور طور کرشمه کړه
دَ غمزې توره لا ښه په څرخ تېره کړه ته مي وژنه دَ قصاص اندېښنه مکړه
دَ خپل خون په تور نه وَنیسم یَو بَل څوک

بې لتا به دَ نور چا هسي شمشېر وِي چه ئې بې قتل وکښتنه نور څه هېر وِي
بدا کار کښ ئې نظر تر هر چا تېر وِي دَ سرُونو شمار حساب بویه چه ډېر وِي
نور دِ مري پدا میدان کښ پردي خپل څوک

خلقه دِ همگي واړه تر پېښې شوه ما وې اوس دِ دَ غمزې توره پکښې شوه
بیا دِ جنگ وته خونرېزه شمله پرېښوه چه دِ توره دَ غمزې په غاړه کښېښوه
حق ناحق به دِ پدا توره ورژل څوک

ډېري سَمي کړې آروم ځني مرمه چا ته دم وهلي نشم غصې خورمه
چه دَ واړو ځواب وکړم توان لَرمه دَ وگړي جفا ستا دَ پاره وړمه
که نه زه دا رنگ وگړي دا زغمل څوک

پدا شکر چه ئې هونبره خوبي درکړه ته هم تل پخوار عاشق باندي نظر کړه
دَ رقیب او دَ غماز خاوري په سر کړه تا پخپله سپینه خوله خوشحال ته ورکړه
گڼه دَي دا هسي شونډي کښلول څوک

مربع

دریغه بیا مو دوه پدوه وبله راز وي
ستا له لوریه واړه ناز لما نیاز وي
لا یَو راز وَیَلي نه دَ بل آغاز وي
په مزه مزه خواږه وَیل باز باز وي

همیشه په هغه خوي کښ چه دِ خپل وُ
دا خسته خاطر مي هسي لکه تل وُ
هغه خیال چه دِ دَ زلفو دَ وربل وُ
فراغت بې غمه تا سره دمساز وي

چه به تا پیاله دَ میو را کَوَله
زه هم مست وي ته هم مسته لایعقله
ستا د شونډو دَ بوسې سَرَه مي څښله
میخوري دِ په سر تور په کرېوان واز وي

له همه واړه عالمه وَر تړلي
صراحيِ خندا کَړي شمعي ژړلي
ستا له لاسه دمادم باده خوړلي
په جهان کښ خو دا دوه توکه انباز وي

پدماغ کښ برنده ناسته وَي مخ راته
دَ ځواب پځاي چه سوال وکړي و تا ته
التفات دِ له خودئ نه کړي و ما ته
زه خسته دِ په ښکنځلو سر فراز وي

ښه آواز که دَ بربط دَ موسیقیار دئ
دَ رباب دَ چار تارې یا دَ بل تار دئ
یا دَ چنګ دَ مغني یا دَ مزمار دئ
مه وي دا ستا دَ چوړا وُ ښه آواز وي

دَ وصال پکارمرانيِ دست رس وي
په نېکخواه باندِي ښادي هوا هوس وي
لکه وه تر هغه مینه یو په لس وي
پډېر غم کښ څهره زرده دَ غماز وي

چه ئې ولیدې دَ یار پخط و خال کښ
هونبره غم بېلتانه کښېښ په خوشحال کښ
په هزار رنکه خوښئ ئې په وصال کښ
مه بیلتون وي مه ئې دا سوز و ګداز وي